بشري حقوق

(پراخه لومړنۍ ټولګه)

Ketabton.com

د لیکنې مبتکر : ډاکټر تاج الدین (ملت مل)

د چاپ کال : ۱۳۹۱ لمریز

د لیکنې ځای: جلال اباد – ننګرهار = افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب په اړه د لوستونکي د نظر لنډیز

ما(نوم) _____ دا کتاب په _____ نېټه د (ځای) _____ څخه ترلاسه کړ او په _____ ورځو کې مې ولوست. د دې کتاب په اړه ځما عمومي ارزونه داده:

الف: د کتاب د موضوع او مضمون په اړه: _____

ب: د کتاب د فصاحت، بلاغت، املاً او انشا په اړه: _____

ج: د کتاب د مؤثروالي او ټاکلې اړوندو مؤثرې ډلې په اړه: _____

د: د املا او انشا يې غلطيا پرته ليکوال ته ځما وړاندیزونه او پدې اړه اجراًت: _____

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کتاب کې ځما غوره موضوعات او مهم ریفرینسونه

موضوع	څپرکی	مخ	لنډه تبصره	د استعمال ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع	څپرکی	مخ	لنډه تبصره	د استعمال ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کتاب کې املا او انشايي ناسمي

محترم لوستونکي ته:

مونږ د دې سپارښتنه او قدر کوو چې لوستونکي د کتاب د لوستلو په وخت کې املايي او انشايي نيمګړتياوو ته پاملرنه وکړي، او د دې نيمګړتياو په پوره کولوکې با مسؤليته ونډه اداکړي. نو مهرباني وکړئ د لاندې جدول نه په ګټه اخيستنې سره، که ستاسې په فکر غلطي په نظر د رڼې هغه يادداشت کړي او بيايې مونږ ته په لاندې پته راواستوي تر څو د بيا چاپ په وخت کې ستاسې نه په مننه په نظر کې ونيول شي:

د برېښنا ليک: dawlatkhanamin@yahoo.com **د اړيکو شمېرې:** ۰۰۹۳-۷۰۰-۰۰۶-۴۵۴&۷۷۷-۳۸۲-۱۰۰

مخ	کرښه	ناسم	سم	مخ	کرښه	ناسم	سم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ	کربنه	ناسم	سم	مخ	کربنه	ناسم	سم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب د مؤثر لوستلو او د کتابتون د جوړولو او ساتلو په اړه څو ګټورې مشورې

محترمو لوستونکو!

الف: د کتاب د لوستلو په اړه:

۱. لومړی کتاب ته یوه ځغلنده کتنه وکړئ ، د هغې نوم، لیکوال، مخونه، فصلونه، لړ لیک او سریزې ولولئ.

۲. بیا د کتاب غټ غټ عنوانونه وګورئ او کتاب په ډیرې توګه ولولئ.

۳. بیا کتاب په ورو ورو ولولئ او ټول په زړه پورې ټکي او غلطیاوې یې په نښه کړئ.

۴. د درېیم ځل لوستلو په صورت کې د کتاب مهم مطالب په نښه کړئ، او د هغې په اړوند خپل نظر او خلاصه یې د ریفرنس لپاره د کتاب په هغو سپینو مخونو کې چې د همدې مطلب لپاره د کتاب په اول او اخر کې (لکه په دې کتاب کې) اضافه شوي دي وليکئ.

۵. وروسته تاسې کولای شئ چې بیا د همدې ریفرنسونو نه په ګټه دغه مواد په ډېره اسانۍ پیدا کړئ.

۶. دا به ډېره ګټوره وي، چې د کتاب د لوستلو نه پس د کتاب په اړه خپل نظر او د کتاب یو مخ خلاصه هم د کتاب په اول یا اخر کې وليکئ.

۷. دا به هم ستاسو لپاره، هم د لیکوال او هم د ټولنې لپاره ډېرګټور وي، چې د کتاب د لوستلو په وخت کې غلطیاوې په نښه او په لازم ځای کې هغه وليکئ (د دې مقصد لپاره د دې کتاب په اولو مخونو کې جدا پاڼې علاوه شوي دي) او په اخر کې هغه لیکوال ته ورواستوئ.

ب: د کتابتون د جوړولو او ساتلو په اړه:

کتاب اخیستل ګران کار دی خو ساتل یې تر دې هم لا ګران کار دی. د دې لپاره چې مونږ د خپل کتاب اخستونکو سره با مسوولیته مرسته کړي وي، نو دغه لاندې وړاندیزونه ګټور بولو:

1- د کتاب د اخستو سره سم د کتاب په غاړه خپل نوم وليکي. د دې لپاره خاصه لارښوونه دا ده چې کتاب په مخ داسې ودروئ چې بنده خوا یې لاندې او خلاصه خوا یې پاس وي. د کتاب دواړه لنډې خواوې په لاس کې ونیسئ او کتاب پاسني لنډه خوا دیوې خوا نه بل خوا ته قات کړئ، چې پاڼې یې مایلې شي، او بیا په یو مارکر خپل نوم پرې وليکئ نو چې کله مو کتاب بېرته سم کړ دا نوم به ورک شي خو که یې بیا قات کړي ستاسې نوم به پرې ښکاري.

2- خپل ځان لپاره د کتاب خانې یو راجستر جوړ، او خپل هر کتاب په هغه کې راجستر کړئ، او د دې راجستر شماره په خپل ټولو کتابونو کې په یوه ټاکلي ځای کې درج کړئ. دا ستاسو د کتاب په پېژندنه او د دې په ثابتونه کې له تاسو سره کومک کوي چې دا کتاب ستاسو دی. د کتابخانې راجستر باید دا لاندې معلومات ولري:

د کتاب د راجستر شمېره د کتاب نوم د پېرېدلو نېټه د پېرېدلو ځای قیمت

3- خپل ځان لپاره د کتاب خانې د کتابونو نه د ګټې اخیستنې او په امانت ورکړې اصولو لپاره یو څه وليکئ، او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو کاپي کړئ او هر هغه چا ته چې له تاسو نه کتاب امانت وړل غواړي، اول ورته دغه اصول نامه ورکړئ چې هغه ولولي، او د هغه د موافقې نه پس و رته کتاب د همدغو شرایطو سره برابر ورکړئ.

4- کتاب هیڅ چا ته هم تر هغو د لوستلو لپاره امانت مه ورکوئ تر څو مو چې د کتاب د قیمت پیسې ترې نه د امانت په توګه نه وي اخیستې. نو کله چې یې کتاب بېرته راوړه نو د هغه پیسې بیا بېرته ورکړئ.

5- د کتاب د امانت ورکولو په وخت کې یې د بېرته راوړلو ورځ او نېټه ورته په نښه او د ځنډ په صورت کې د هرې ورځې په مقابل کې یوه محدوده اندازه جرمانه وټاکئ، او د هغې اخیستنه کې جدي واوسئ.

6- د کتاب د امانت ورکولو نه مخکې د هغه سړي نوم، پته او د اړیکو شمېره او د کتاب د وړلو او بېرته راوړلو نېټه د خپل کتابتون د امانت ورکولو په لست کې ورسوئ، او هغه سړي ته د بېرته راوړلو نېټه او د ځنډېدو په صورت کې د جرمانې اصول ووایاست. او د ځنډ په صورت کی حتما دغه شرایط عملي کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهداء

(د بشری حقوقو پراخه لومړنۍ ټولګه) دغه غوره اثر د خپل خوږ هېواد (افغانستان) ټولو هغو خویندو او ورونو ته په پوره درناوي اهداء کوو د چا چې لومړني انساني حقوق هم په دې یویشتمې پېړۍ کې په هېواد کې دننه او د باندې د بشر د حقوقو د رنګا رنګو پایمالوونکو له خوا په خورا بې رحمۍ تر پښو لاندې شوي او کېږي، او حتی دوی د هغې نه د پلوي، او په دې اړه د شکایت کولو او د دې مجرمینو د رسوا کولو توان هم نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مننه

(د بشري حقوقو لومړنۍ پراخه ټولګه) په نوم دغه کتاب چې نن ستاسو لوستونکو په وړاندې موجود دی دا د هغه بې ساریو زحمتونو نتیجه ده چې تقریباً د دوه کالو دوامداره هلو ځلو، تحقیقاتو، لیکنو، اصلاح کونو، په عملي ډګر کې د امتحانولو او بیا اصلاح کولو نه وروسته ستاسې په خدمت کې وړاندې کېږي. په دې اړوند د هېواد او شرقي سیمې د یو شمېر توانمندو علماو او استادانو هلې ځلې او د یو شمېر ځوانانو ونډه د اوچتې ستاینې وړده.

د کتاب په اړه د تحقیقاتو او د لومړني موادو په راټولولو کې د ننګرهار د پوهنتون د حقوقو پوهنځی د ډېرو مخلصو او مجربو استادانو هریو محترم استاد پوهنمل احمدګل خان واثق، محترم استاد پوهنیار محفوظ الله عارفي، او د هېواد د یوه تکړه ځوان او په کابل کې نامتو مدافع وکیل محترم محمد سعید سعیدي، د حقوقو د پوهنځي فارغ او د مدیوتیک پخوانی رئیس محترم عبدالبصیرسباوون ، محترم څارنوال عبدالقدوس دولت زی، محترم سباوون شینواری ، محترم صیام الدین پسرلی او محترم هجرت الله اختیار صاحب هلې ځلې د ستاینې وړ بولم.

په عملي ډګر کې د کتاب نه د استفادې په وخت کې د کتاب د عملي اړخونو د څېړنې او اصلاح کولو په برخه کې، د بیا کره کتنې او اضافه کونې په برخه کې د محترم او پیاوړي شخصیت مولوي صاحب مطیع الرحمن حامد، محترم استاد پوهنمل احمدګل خان واثق، محترم استاد پوهنیار محفوظ الله عارفي او محترم صیام الدین پسرلي هلې ځلې د خاصې ستاینې وړ دي.

د کتاب د پښتو ژبې او انشایي اصلاحاتو په برخه کی د محترم سعدالله فطرت هلې ځلې او د دې تر خوا د کتاب په ټایپ لوستلو او سمونه کې دتوانمندو ځلمیانو هر یو د نوي سید جمال الدین انستېتیوت د علمي معاون داکتر ایمل خان امین، اداري مسئول استاد دولت خان امین او د انستېتیوت د استادانو محترم استاد عبدالقدیر امین ، محترم استاد شمس الدین امین او ښاغلي کامران میرزاخېل هلې ځلې، او همدا راز زما د مېرمن ګراني فریده جان (اتمر) او زمونږ د بشر د حقوقو د کورس دیوې تکړه محصلې مسعوده جان د دوامداره او نه ستړې کېدونکې هلې ځلې د خاصې ستاینې وړ دي. د دې ترخوا د ډیزاین او فصلونو د جوړونې په برخه کې هم د احسان الله منیب هلې ځلې ځانګړی ځای لري.

مونږ د شرقی زون د بشري حقوقو د کمیسون د غړو هر یوه محترم استاد مطیع لله امین، او محمد امین نورستاني صاحب د هلو ځلو څخه چې د دې کتاب د کره کتنې په برخه کې یې له مونږ سره خپلې لازمي لارښوونې او علمي مشورې شریکې کړې دي، د زړه له کومې مننه کوو او د دوی دا خدمت د خاصې ستاینې وړ بولو.

دا ښایه نه بولم چې د کتاب د شروع نه تر ختم پورې هغه هلې ځلې چې ما شخصاً د دې کتاب د ټولو امورو د پلان، نظارت، بیا بیا کتنې او تکمیل کېدو په برخه کې ترسره کړې هم د درنو لوستونکو سره شریکې کړم، او په دې اړه د خپلې میرمنې او خوږې لور (هڅاندې).او خپلې نورې کورنۍ د صبر او حوصله مندۍ نه مننه وکړم چې یې ماته د دې فرصت راکاوه چې د هغوی د قیمتي وخت نه یوه زیاته برخه د دې کتاب لپاره وقف کړم.

البته د بشري حقوقو د غسې یوه لویه او هر اړخیزه مجموعه چې په هېواد ،سیمه او حتا نړۍ کې بې مثاله ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅکله هم د دغو توانمندو ځوانانو او عالمانو د دوامدارو او هراړخیزه همکاریو څخه پرته ممکن نه وه. دا چې داسی یوه بی مثاله د بشري حقوقو مجموعه د اول ځل لپاره د افغانستان په یوه ملي ژبه (پښتو) کی لیکل کیږی، دا زمونږ د ټولو یو ګډ سرلوړی دی.

زه او د نوي سید جمال الدین انستېتیوت اداره په داسې حال کې چې د دې مجموعې د ابتکار، تکمیل او وړاندي والي په برخه کې د دې ځوانانو هلې ځلې ستایو او د دې کتاب نشریدل تاسې او دوی ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایو. هیله مند یوو چې دا کتاب به زمونږ په هېواد او سیمه کې د ځوانانو د توجه وړ وګرځي، او په دې ډول به د دې ځوریدلي هېواد د مظلومو خلکو د حقوقو نه په ساتنه او پلوی کې ځانګړې مرسته وکړي.

داکتر تاج الدین ملت مل

د نوی سید جمال الدین افغان انستېتیوت رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک لړ

د مبتکر سریزه 1
تقریظ 3
یو ادبي نوښت او د یوې علمي تشې ډکونه 4
لومړۍ ټوک 6
د بشري حقوقو ته یوه ځغلنده کتنه 6
لومړی: د بشر تعریف: 6
دویم: د حق تعریف: 6
درېیم - بشري حقوق: 7
د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه: 8
افغانستان او نړیوال کنوانسیونونه: 11
د بشري حقوقو عملي کول: 11
د بشري حقوقو نظارت : 11
دویم ټوک 13
لومړی څپرکی 13
د بشري حقوقو په اړه عمومیات 13
الف: د حقوقو تعریف: 13
ب. د بشري حقوقو تعریف : 14
دویم څپرکی 25
د بشري حقوقو تاریخچه 25
الف. تر میلاد د مخه د بشري حقوقو تاریخچه: 25
ب.ترمیلاد وروسته د بشر حقوقو تاریخچه: 25
۱: د اسلام له نظره بشري حقوق: 26
درېیم څپرکې 39
د بشري حقوقو منشور او نړیوال کنوانسینونه (ژمنلیکونه) 39
الف: د بشري حقوقو منشور: 39
ب: د بشري حقوقو نړیوال کنوانسیونونه: 39
ج: افغانستان او نړیوال کنوانسیونونه: 40
د: د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه: 41
هـ. د بشري حقوقو جامع او کُلي اصول: 42
څلورم څپرکی 52

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مدني او سياسي حقوقو نړيوال کنوانسيون 52
الف: بشري حقوق په مدني او شخصي ژوند کې: 52
اول پروتوکول: 63
پينځم څپرکی 65
اقتصادي، فرهنګي او ټولنيز نړيوال کنوانسيون 65
شپږم څپرکی 76
د بشري حقوقو ملاتړ او ساتنه 76
الف: د بشري حقوقو ملاتړ اوساتني پېژندنه: 76
ب. د بشري حقوقو د ساتنې ارګانونه: 76
ماخذونه او منابع 87
درېيم ټوک 88
د افغانستان اساسي قانون 88
لومړی څپرکی 88
د اساسي قانون مفهوم او تعريف: 88
د اساسي قوانينو تاريخچه: 89
دويم څپرکی 95
د افغانستان اساسي قوانين 95
۱. اساسي نظامنامه د لوړ دولت: 97
درېيم څپرکی 112
د افغانستان اساسي قوانين او د بشر حقوق 112
اسلامي شريعت او د افغانستان قوانين: 115
څلورم څپرکی 121
اساسي قانون او د خلکو حقوق 121
د اساسي قانون په رڼا کې حقوق او وجايب: 122
څلورم ټوک 130
لومړی څپرکی 130
ښځې او د ښځو حقوق 130
دويم څپرکی 132
د اديانو له نظره د ښځو حقوق 132
درېيم څپرکی 136
د ښځو د حقوقو په اړه نړيوالې ژمنې 136

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی 140
د افغانستان قوانین او د بشځو حقوق 140
پینځم څپرکی 144
بشځې او پر بشځو تېرې 144
الف – په افغانستان او نړۍ کې پر بشځو د تېریو بڼې: 144
ب ـ په افغانستان کې د بشځو ستونزې: 146
د ـ په افغانستان کې د بشځینه زندانونو حالت: 148
شپږم څپرکی 150
د بشځو د ستونزو د حل اساسي لارې چارې 150
اووم څپرکی 152
د بشځو د حقوقو په اړه د اسلام او بشري حقوقو موازي او متضاد اړخونه 152
پنځم ټوک 157
د ماشوم تعریف 157
په ملي او نړیوالو قوانینو کې د ماشوم پېژندنه 159
۱. د ماشوم حقوق د اسلام له نظره: 164
د افغانستان په قوانینو کې د ماشوم حقوق 168
په مدني قانون کې د ماشوم حقوق 169
دماشومانو د حقوقو نړیواله اعلامیه 177
دکوچنیانو دحمایې دپرېکړه لیک تاریخچه او د هغې بېلا بېل پړاوونه 177
د ماشومانو حقوق د نړیوالې اعلامیې په رڼا کې 178
قانون او د ماشوم حقوق 186
الف- د قانون پېژندنه: 186
مساویانه چلن: 201
د کوچنیانو د روغتیا ساتنه: 201
له لیک لوست او اصلاحي برنامو سره اشنا کول: 201
ماشومان او معلمان 205
۱. د ماشومانو دحقوقو تاریخ ته یوه لنډه کتنه 209
۴. لنډیز: 215
ماخذونه 218
دویم فصل 224
د ماشومانو د جرمونو کشف او تحقیق 224

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نیولو حالات: 224
د نیولو خبر: 225
څارنې او ساتنې ته اړ ماشوم: 243
د اظهاراتو اوربدل: 243
د محکمو له صادر شوو دستورونو څخه څارنه: 244
د مرسته ایزو روزنیزو تدبیرونو نیول: 244
پرنیول شوو تدبیرونو باندې نوې کتنه: 245
شپږم ټوک 249
د مظنون، متهم او محکوم حقوق 249
لومړۍ برخه 251
د تطبیق وړ عام حقوق دجزایي دعوې په ټولو پړاوونو کې 251
لومړې څپرکی 253
په جزا باندې ناظر اصول 253
دویم څپرکی 263
دمتهم په دفاعي حقوقو ناظر اصول 263
دویمه برخه 281
د اتلس کلنۍ نه د کم عمر اشخاصو د جزایي دعوې پروسیجر 281
درېیم څپرکی 282
عمومي معلومات 282
څلورم څپرکی 286
دارالتادیب ته د مختلفو ماشومانو د معرفۍ طرز 286
پنځم څپرکی 292
په دارالتادیب کې د مختلفو ماشومانو د ساتنې طرز او طریقه 292
شپږم څپرکی 295
په دارالتادیب کې د ساتل شوو ماشومانو شرایط 295
درېیمه برخه 300
د جزایي دعوې په ټولو پړاوونو کې د ۱۸ کلنۍ نه د زیات عمر لرونکو اشخاصو حقوق 300
اوم څپرکی 301
د محاکمې څخه مخکې مرحله 301
اتم څپرکی 313
د محاکمې پړاو 313

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم څپرکی 319
له محاکمې څخه وروسته مرحله 319
لسم څپرکی 322
دجزايي دعوې سقوط 322
يوولسم څپرکی 326
دمجازاتو دتنفيذ تعليق ، مشروطه ازادي او عفوه 326
اخذ لپکونه 329
اووم ټوک 330
لومړی څپرکی 330
د کار د حقوقو عمومي پېژندنه 330
دوهم څپرکی 344
د کار حقوق په مختلفو نظامونو کې 344
دريم څپرکی 352
د کار د حقوقو اړوند مقررات 352
څلورم څپرکی 359
د کار ګر حقوق 359
پنځم څپرکی 363
د کار د قانون او کار د ټرون ترمنځ توپير 363
شپږم څپرکی 370
د کار انضباط 370
د کار د روغتيايي او خوندي ساتلو شرايط: 372
اووم څپرکی 374
ټولنيز تامينات او د هغه ډولونه 374
ماخذونه 376
اتم ټوک 377
د معلوليت لرونکو وګړو نړيوال ميثاق (ژمنې) 377
د دې ميثاق غړي هېوادونه لاندينۍ دندې لري: 377
لومړۍ ماده موخه: 379

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مبتکر سریزه

الله (ج) په ځینې خلکو ځانګړې لورینه کوي او هغوی د ځانګړو استعدادونو سره مل پیدا کوي.

زه د دې شکر ادا کوم چې زه هم لوی خدای جل جلاله د خپلې دغې لورینې نه بهره مند زېږولی یم. د لوی خداوند جل جلاله د هغه ځانګړي لطف په برکت چې پر ما یې کړی دی، زما پام اکثراً په ټولنه هغه نیمګړتیاو ته وراوړي چې د نورو ورته پام نه وي، او بیا د هغه لوړ احساس له مخې چې یې زه د خپل هېواد او هېوادوالو د خدمت په اړه لرم د دې اراده کوم او تصمیم نیسم چې هغه تشه باید ډکه کړم. چې د دې جملې څخه یو هم د (واکسین او واکسینیشن) تر عنوان لاندې زما د یو کتاب چاپول وه چې په ۱۳۶۵ کال کې لومړی ځل په پاکستان کې چاپ شو. چې دا کتاب په سیمه او نړۍ کې د واکسینونو په اړوند تر ټولو لویه او پراخه مجموعه وه چې د اولین ځل لپاره د کتاب په شکل چاپ شوه. همدا راز د (کېمیاوي زهرجن مواد) په نوم زما یو بل په نړۍ کې په دې اړه د کتاب په شکل اولین لیکل شوی اثر وه چې په ۱۳۶۶ کال کې په پېښور کې چاپ شو. همدا راز څلور کاله د مخه مې د تربیې په اړه په پښتو کې لومړی کتاب (ځوانان او شخصیت جوړېدنه) تر عنوان لاندې ولیکه او چاپ کړ چې ګټه یې زمونږ د هېواد او خاصتاً پښتنو ځوانانو ته د ستاینې وړ بلل شوې ده.

درې کاله د مخه مې د بشر د حقوقو په اړوند معلو ماتونه راټولول خو چې مختلفو ادارو سره مې اړیکې ونیولې، په خواشینۍ سره په عامه او پراخه توګه د لاس رسي وړ ډېر لږ درسي مواد مې پیدا کړای شوه. سره له دې چې زه تقریباً د ۲۵ کالو راهیسې د بشر د حقوقو ، سولې او ټولنیز عدالت یو تبلیغ کوونکی شخص یم او په دې اړه د سولې د نړیوال سازمان له خوا د سولې د نړیوال سفیر په توګه هم پېژندل شوی او دا لقب راته راکړل شوی دی، لاکن کله چې مې درې کاله د مخه د ځان نه امتحان واخېست نو ډېر لږ د بشر د حقوقو په اړوند پوهېدم نو دا راته جوته شوه چې په دی اړوند ډېر کار ته ضرورت دی.

هسې خو د عمومي معنا په لحاظ ډېرو خلکو د بشر د حقوقو اوازې او انګازې اورېدلې او د دی نوم سره اوس تقریباً د ټولنې زیات خلک بلد دي، ولې په تفصیل او مفهومي ډول ډېر لږ خلک پدې اړوند مناسب او ضروري معلومات لري. نو ما دا تصمیم مې ونیوه چې د ټولنې دا تشه هم باید مونږ ډکه کړو.

نو د بشر د حقوقو د یو پ د اسې ساده ولې پراخه مجموعې د راټولو په تکل کې شوم. لومړی مو د دغه کتاب (د بشر د حقوقو یوه پراخه لومړنۍ ټولګه) چې همدا اوس ستاسو په لاسونو کې ده د لیکلو په تکل کې شوم. چې دا دی ستاسو په لاس کې موجود دا کتاب د همدې پراخه ژورو او نه ستړي کېدونکو هلو ځلو محصول دی.

د دې لپاره چې دا کار په ښه او عملی توګه تر سره شوی وي، نو د کتاب لیکنه په څو مرحلو کې تر سره شوه.

په لومړۍ مرحله کې دکتاب د اړوندو موضوعاتو ټاکنه، او د هرې موضوع په اړوند یو څه تحقیق او د لازم او مناسب موادو پیداکول، را ټولول او یو ځای کول وو. چې دا مرحله د ننګرهار د پوهنتون د حقوقو د پوهنځي د یو شمېر توانمندو استادانو، فارغانو او په هېواد کې د یو شمېر نورو توانمندو مسلکي خلکو په همکارۍ ترسره او د یوه پراخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحقیق په نتیجه د کتاب ټول اولي مواد په نښه، راټول او تنظیم کړای شول.

په دوهمه مر حله کې، د غه مواد ټایپ او د پښتو فصاحت له مخی د یو شمېر توانمندو مسلکي خلکو له خوا وکتل شوه او لازم تغیرات او اصلاحات په کې تر سره شول.

په درېیمه مر حله کې، دغه کتاب د چېپټرونو په توګه د بشر د حقوقو د ماسټرټرینرانو هغه ځانګړي ګروپ ته چې اکثراً غړي یې د حقوقو د پوهنځي د درېم او څلورم ټولګیو محصلین وه تدریس کړای شو. د تدریس په وخت کې استادانو ته دا دنده ور سپارل شوې وه چې دا کتاب د ساحوي او عملي تجربو لاندې راولي او د هغې عملي تطبیقي اړخ په تدریس کې وارزوي. خلاوې او مغلقې برخې یې په ګوته کړي. چې دا کار هم د همدې فوق العاده کورس په اوږدو کې تر سره شو، او یو شمیر نیمګړتیاوې یې په نښه او اصلاح شوې.

په څلورمه مرحله کې بیا دغه کتاب د بشر دحقوقو د یو کلن کورس محصلینو ته د تدریس په غرض وړاندې او وکارول شو چې پدې توګه یو شمېر نورې نیمګړتیاوې یې هم په نښه او اصلاح شوې.

په پنځمه مرحله کی، د دې لپاره چې کتاب د بشر د حقوقو د مسلکي خلکو له خوا لوستل شوی وي او پدې متیقین شو چې د کتاب محتوا او مواد د بشر د حقوقو د لارښوونو سره برابر دی، نو کتاب د شرقی زون د بشر د حقوقو کمیسو ن ته دکره کتنی په غرض ور واستول شو. مونږ د شرقي زون د بشر د حقوقو دخپلواک کمیسون د دغی علمي ډلي د هغه هلو ځلو ستاینه کوو چې یې د دې کتاب د علمي پیاوړتیا په برخه کې یې خپل علمي تبصرې او نظریې یې له مونږ سره شریکې کړې او بیا د دوی د غه وړاندیزونه هم په کتاب کې ځای په ځای کړای شول. بالاخره دا کتاب د وروستۍ کتنې لپاره د پښتو املا او انشا د اصلاح په غرض یو ځل بیا د یوه توانمند ځلمي په اختیار کې ورکړ شو، تر څو یې د پښتو د ګرامر له لحاظه هم په غور سره وګوري. نو بیا د هغوی وړاندیزونه او اصلاحات هم په کتاب کی شامل شول.

د دې کبله چې په هېواد کی د خرابو مطبوعاتو له وجې د ډېرو ښو اثارو ارزښت ته صدمه رسېږي او زه و دی ستونزی ته په ځانګړې توګه متوجه یم. نو د دې لپاره چې د دې مشکل مخه مو تر یو حده نیولي وي نو ما هم شخصاً د کتاب مواد څو څو ځلي د املایي انشایي اصلاحاتو په غرض ولوستل او یو شمېر شاګردانو ته مو هم ورکړ چې بیا بیا یې وګوري..

د ایو منلی حقیقت دی چې که یو کتاب هر څومره د ډېرو خلکو له خوا بیا بیا هم وکتل شي ځینې غلطیاوې او نیمګړتیاوې به پکې وي، خو زمونږ هیله داده چې د دې کتاب دغه نیمګړتیاوې به دومره زیاتې نه وي چې لوستونکي یې د لوستو نه بېزاره کړي.

نو دا دی دغه اثر چې په خپل ذات کې ، په هېواد ، منطقه او نړۍ کې اولینه داسې یوه پراخه علمي مجموعه ده چې د ډېرو هلو ځلو په نتیجه کې لاس ته راغلې ده ستاسې خدمت ته وړاندې کوو. طبیعي ده چې ممکن اوس هم ځېنې نیمګړتیاوې ولري، هیله ده چې هغه پیدا، په نښه او د خپلو وړاندیزونو سره یې مونږ ته راوسپارئ، تر څو په بل چاپ کې یې په نظر کی ونیسو او ستاسو نه په مننه یې چاپ کړو.

مننه

داکتر تاج الدین ملت مل

د کتاب مبتکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ

درنو لوستونکو! کوم اثر چې ستاسو په لاس کې دی د بشري علومو د تحقیق یوه نوې څانګه ده،چې په ځانګړې توګه زموږ په هېواد کې لومړني قدمونه اخلي. د ا ټولګه چې بشري حقونو پراخه لومړنۍ ټولګه ((بشري حقونو)) ترستر عنوان لاندې بیا د اسې نور واړه عناوین لکه ((بشري حقونو عمومیات)) ((افغانستان اساسي قانون)) ((ښځو حقونه)) ((کار او کارګر حقونه)) ((تورن او محکوم حقونه)) او ((معلولیت لرونکو وګړو حقونه شتون لري.

څرنګه چې تاسو ته لږ او ډېر ښکاره ده د اساسي قانون او افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون د تشکیل، دندو او واکونو د قانون د ورځې سره سم بشري حقونه هغه ذاتي او نه جدا کیدونکو صفاتو، ممیزاتو او استحقاقونو ته ویل کېږي چې انسان ته د هغې د ازادۍ او انساني کیدونکو کرامت د خوندیتوب په غرض ورکول شوي، په اساسي قوانینو کې تسجیل او مراعت کول یې د دولت ذمه واري ګرځي.

د بشري حقونو غټې نمونې او بیلګې د ژوند حق، روغتیاحق، تعلیم حق، په ټاکنو کې د ګډون حق، په ټولنو کې د ګډون حق، په سیاسي ګوندونو کې ګډون حق او داسی نور.....

د پورتنیو ټکو څخه داسی څرګندېږي، چې د ښځو حقوق، ټول بشر ته نه بلکې یوه جنسي پدیده ده د بشر یوائې یوې غټې برخې یا نمایي برخې ته، چې ښځې دي راجع ده.

د ماشوم حقونه، ټول بشر ته نه بلکې د سن او عمر په لحاظ یوې دورې ته، چې ماشومتوب ورته وایي منسوب دي، د ((تورن حقوق)) د انسان د ژوند یو خاصې او ځانګړې مرحلې ته منسوب دي چې د ډېرو انسانانو په ژوند کې امکان لري ببخي موجود نه شي یاني د تورن حقونو څخه په هېڅ ډول ګټه پورته نه کړي.

د دغو څرګندونو سره سره د ا ټولګه د بشري حقونو پوهاوي اړوندو موضوعاتو په څېړنه کې لومړنی قدمونه او هڅې دي، چې په راتلونکي کې به د دې ټولګې لیکونکي دا موقع ولري ترڅو عناوین بډای او تکمیل کړي.

ټولو شایقینو او په ځانګړی توګه د پوهنتون محصلینو، استادانو، مدني ټولنو او بشري حقونو فعالینو ته بلنه ورکوم ترڅو د دې ټولګې محتویاتو څخه ګټه پورته کړي.

په درنښت

پروفیسور دوکتور رفیع الله ((بیدار))

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ادبي نوښت او د یوې علمي تشې ډکونه

په ټولنو کې د نظریو د تطبیق لپاره ډېر کسان پیداکېږي، خو د نظر یو مبتکیرین د ګوتو په شمار وي، او خاصتاً هغوی چې بیا دا نظریې یې هم د خپل ملک ، خلکو او خپل کلتور د پرمختیا په غرض عملاً په کار واچوي .

دوه کاله د مخه ډاکټر صاحب ملت مل د ننګرهار د حقوقو د پوهنځي د یو شمېر استادانو سره په یوه ګډه ناسته کې د بشر د حقوقو په اړوند د یوه پراخه او غښتلي تعلیمي نصاب (کوریکولم) د جوړولو موضوع مطرح کړه. دې موضوع زما ځانګړې توجه جلب کړه او بې له کوم درنګه ما ورسره پدې اړوند د خپلې همکارۍ وعده ورکړه. ماته د دې موضوع په اړوند د ملت مل صاحب په خبرو کې دوه ټکي د جدي توجه وړ ښکاره شول.

لومړۍ خبره یې دا وه چې دا یو ابتکار (نوښت) دی، ځکه په دې اړه داسې کوم جامع او منظم کتاب وجود نه لري. ده دا موضوع داسې تشریح کړه چې په نړۍ کې هرکمبود یو چانس یا (Opportunity) هم وي. نو راځئ چې دا چانس مونږ ترلاسه کړو او دا علمي تشه هم ډکه کړو.

دوهمه خبره یې دا وه چې نړیوال د بشر د حقوقو د تېریو په اړوند همېشه د اعتراض ګوتې مونږ (افغانانو) ته په نښه کوي او د بشر د حقوقو په اړوند د ټولو امتیازاتو نه دوی فایدې او چتوي. نو راځئ چې دا خپل بچي په دې اړوند وروزو. یو خو به د دوی په پوهه کې پراختیا راشي او د همدې له برکته به زمونږ په هېواد کې د بشري حقوقو د تېریو کچه راټیټه شي، او د اعتراض ګوتو ته به نور ځای پاتې نه وي، او د بلې خوا به مو خپلو بچو ته هم د یوې حلالې او ښې نفقې لپاره لاره هموار کړې وي.

رښتیا چې د ده دواړه دلیلونه هم د اسلام د مقدس دین له نظره او هم د وطنپالنې له نظره معقول او علمي ول. نو بې له ځنډه مو په دې کار شروع وکړه او د یو شمېر ځوانو مسلکي وطن پال کدرونو په مرسته مو د نصاب لپاره مواد د ریسرچ او تحقیق له لارې برابر کړل. دا خو ټولو هېوادوالو ته معلومه ده چې زمونږ په هېواد کې خو د داسې علمي کارونو لپاره ډېر کم امکانات وجود لري، خو د دوی مدبرانه لارښوونو، همکاریو او په پوره حوصله مندۍ سره زمونږ په کارونو کې ونډې اخیستلو، او دوامداره هڅونو دا کار دیوه خیال نه په حقیقت بدل کړ. دا دی د دې اوږد او ستونزمن کار لاس ته راوړنه نن د داسې یو کتاب منځ ته راتلنه ده چې واقعاً په هېواد، سیمه او حتی نړۍ کې ورته یو ځانګړی کتاب ویلی شو. ځکه چې د داسې یوې خاصې مجموعې او هغه هم په پښتو ژبه کې رښتیا هم چې یوه اوچته او بې مثاله لاس ته راوړنه ده.

دکار په اوږدو کې د ملت مل صاحب هغه ځانګړې توجه چې یې د کتاب د پیاوړتیا او اصلاحاتو په باره کې یې لرله د خاصې ستاینې وړ بولم. دوی داکتاب څو څو ځله په مونږ هر یوه ولوسته او بیا یې کتاب دوه ځلې د عمل په ډګر کې د عملي تدریسي پروسې په جریان کې تر امتحان لاندې راوسته چې دې کار ته په انګلیسي کې د عملي کار اخستنې امتحان یا Field Test وایي. هو دا کتاب لومړی ځل د بشري حقوقو د ماستر ټرینرانو په کورس کې او دوهم ځل بیا د بشر د حقوقو د معلمینو په یوه کلن کورس کې تدریس شو او ډېرې نیمګړتیاوې یې په ګوته او ترممکن حده هغه بیا بیا اصلاح شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د دې کتاب بشپړونه نوی سید جمال الدین افغان انستېتیوت ته، او د هغې مشر تا به ته او همدا راز د افغانستان خلکو ته مبارکي وایم. هیله مند یم چې ښاغلې ملت مل صاحب به دغه اثر ژر په دری ژبه هم وژباړي، تر څو د هېواد نور ځوانان او ولسونه هم ترې فایده واخلي او همدا راز زه د دې کتاب ژباړنه په انګلیسي او نور ژبو کی هم خورا ګټوره بولم. زما هیله داده چې لوستونکي د دې کتاب په لوستلو کې د ملت مل صاحب هغه دوه هیلې چې یې د دې کتاب د ابتکار او منځ ته راتللو کې درلودې، هغه په پوره دقت په پام کې ونیسي.

خدای جل جلاله دې وکړي چې ډاکتر صاحب او د ده په ځېر نور په وطن او دین مین افغانان د علم او خپلې ژبې لپاره د علمي خدمتونو و دغې لړۍ ته ادامه او لاپراخوالی ورکړي

پوهنمل احمد ګل واثق

د ننګرهار پوهنتون د حقوقو د پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ټوک

د بشري حقوقو ته يوه ځغلنده کتنه

A Quick Review oF Human Rights

نوی سید جمال الدین (افغان) انستټیوت

Institute New Said Jamaluddin "Afghan"

مهتمم: ډاکتر تاج الدین ملت مل
جلال اباد، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ټوک

د بشري حقوقو ته يوه ځغلنده کتنه

څرنګه چې بشري حقوق ځانته ځانګړی تعريف لري، او بشري حقوق ټاکلي حقو ق دي، چې د هغو ذکر کول په ډېره لنډه توګه کېداي شي، خو دا زمونږ هغه اساسي هدف چې مو د دی موضوع په اړه په نظر کی دی نشي پوره کولای.

نو ددې لپاره چې مو د دې موضوع نه په بشپړه توګه او په مؤثره توګه ګټه اخيستې وي، نو مونږ لومړی په دې کتاب کې بشر تعريفوو. ورپسې د حقوقو يو لنډ تعريف کوو او بيا د بشري حقوقو د تعريف په اړه لږ ه رڼا اچوو او همدا راز د بشرې حقوقو انواع ذکر کوو. او تر هغې نه پس بيا د بشرې حقوقو په هغو اړخونو په تفصيلي ډول خبرې کوو، کوم چې ورته لازمه توجه نه کيږي، او يا هم د تېريو لاندې رائي.

لومړی: د بشر تعريف:

د بشر کلمه د دری ټکو نه جوړه شوې چې عبارت دي له: (ب ش ر) څخه. د بشر د کلمې لغوي معنی (خوښي او زېړی) دی. کله چې په چا يو زېړی وشي نو د مخ رنګ يې له خوشالۍ نه سور شي نو له همدې وجې د انسان پوستکي ته بشره وايي. نو د همدې کبله ورو ورو انسانانو ته د (بشر) کلمه وکارول شوه.

دويم: د حق تعريف:

د حقوقو منشا حق دی. حق د لغت له پلوه ډيرې معناوې لري، چې په څوارلسو مختلفو معناو استعمال شوی دی. لکه: حق د رښتيا په معنی، د حصې يا برخې په معنی، او همدارنګه د موافق، د باطل ضد او مطابق په معناګانو کارول کېږي. همدا راز حق د الله تعالی جل جلاله له نومونو څخه يو نوم هم دی، چې دلته د عدالت په معنی استعمالېږي، لکه د مصالحې او جرګې پر وخت چې جرګه ماران وايي چې (دا حق دی). دا په دې معنی دی چې د عدالت غوښتنه هم همدا ده.

په اصطلاح کې د حق تعريف ډېر ستونزمن دی. دا ځکه چې ځينې پوهان پر دې عقيده دي چې حقوق ډېرې برخې لري او داسې يو جامع او کُلي تعريف وجود نه لري چې ټولو برخو ته شامل شي. نو دوي لومړی حقوق په دوو برخو (عندي حقوق او افاقي حقوق) ويشي اوهرې برخې ته جدا جدا تعريف ورکوي.

الف - عندي حقوق:

هغه امتياز، صلاحيت او سلطه ده چې يو شخص يې د بل شخص په مقابل کې، او يا يې د يو شي په مقابل کې لري. لکه د پلار حق د اولاد په مقابل کې يا د مال د خاوند صلاحيت د خپل مال په مقابل کې. نو د دغه پيژندنې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې څو پایلې راووځي:

۱: عندي حقوق په دولت پوري اړیکې نه لري بلکې د ټولنې د هر شخص پورې په جدا جدا توګه اړیکي لري. لکه د ژوند حق، د ازادۍ حق، د کار او تحصیل حق، او همداسې نور.

۲ : د حق کلیمه د سلطې، قدرت او صلاحیت په معنی استعمالیږي نه د قواعدو او مقرراتو په معنی

۳ : عندي حقوق کېدای شي چې طبیعي وي لکه د ازادۍ حق، او یا هم اکتسابي وي لکه د تحصیل حق چې د لېسانس تردورې پورې په وړیا ډول تحصیل د افغانستان دولت هر افغان ته ورکړی دی.

ب - افاقي حقوق :

دا حقوق د قواعد او مقراراتو هغه ټولګه ده چې د انسانانو ژوند په ملي او بین المللي کچه تنظیموي چې ځانګړتیاوې یې په لاندې توګه دي.

۱ : دټولنې په یوه وګړي پورې په ځانګړي توګه اړیکې نه لري، بلکې په دولت اوټولنې پورې اړه لري.

سره له دې چې د حق کلیمه همېشه دسلطې، قدرت او صلاحیت په معنی استعمالیږي خو ځینې پوهان حقوق داسې تعریفوي چې: «حقوق د یو لړ قواعدو ټولګه ده، چې د نړۍ له نظام او یا د انسان له طبیعت څخه سرچینه اخلي او هغه څه چې په ټولنه کي عدالت وي مشخصوي.

ارسطو د حقوقو په اړه داسې وایي: حقوق هغه قواعد دي، چې د یوې ټولنې پر خلکو حکومت کوي او د قوانینو اجرا د دولت له خوا تضمینوي.

د علم له نظره، حقوق په لومړي قدم کې یو سلسله قواعد دي چې د انسانانو ژوند په ټولنه کې رهبري کوي. اوس دغه تعریف جامع دی؛ ځکه چې د انسانانو ژوند په ټولنه کې رهبري کوي. صرف نظر له دې نه چې که هغه په عندي برخه کې وي او یا هم په افاقي برخه کې، په عمومي برخه کې وي او که په خصوصي برخه کې، ملي وي که بین المللي، خو د انسانانو ژوند رهبري کوي، چې همدغه اصطلاح ته رومیان (Just) وایي، یانې په دې تعریف کې یو سلسله سلوک او قواعد وجود لري چې انسانان رهبري کوي.

حقوق دوه شرطونه لري:

۱ – حقوق باید یو قانوني موید (یا تأیدونکې منبع) ولري، چې په ټولنو کې هغه د هغې ټولنې قوانین وي.

۲- حقوق باید د دولت له خوا تضمین هم شي، که نه شي نو هغه نه تطبیق کېږي.

درېیم - بشري حقوق:

بشري حقوق د حقوقو هغه ټولګه ده چې انسانان یې د انساني طبعیوالي له وجې لري. بشري حقوق د اسې حقوق نه دي چې د کوم شخص یا دولت له خوا ورکړل شي، بلکې انسانان یې په طبیعي توګه لري او هغه د تولد سره سم تر لاسه کوي. دا حقوق د یوه شخص په تابیعیت او نه تابیعیت پورې هم کومه اړه نه لري. یعنې صرف نظر له دې نه که هغه د کوم دولت تابعیت لرونکی وي او که نه. دا په دې معنی ده چې انسان که په هر ځای کې وي، له همدغو حقوقو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه برخمن دی. نو له دې امله دې حقوقو ته انساني حقوق هم ويل کېږي. په بله اصطلاح د بشري حقوقو تعريف داسې کوو چې: (بشري حقوق ټول هغه امتيازات دي چې هر انسانان يې د انسانولې له امله لري او حق يې دی چې ويې لري). نو له پورته تعريفونو څخه لاندې پايلې راوځي:

لومړی: دغه حقوق د ټولنې په اوسېدونکو پورې اړه لري، صرف نظر له دې نه که د دولت تابعيت ولري او که نه.

دويم: د زمان او مکان تشخيص په کې نشته. يعنې هر څوک هر چېرته چې وي، هر وخت دا حقوق لري، او دا حقوق يې محفوظ دي.

درېيم: هغه حقوق او امتيازات دي چې په ټولنه کې ټول انسانان بايد ترې برخمن وي. په عمر، جنس، رنګ او نورو طبيعي فکتورونو پورې اړه نه لري.

څلورم: د انسانولې له امله انسانانو ته ورکول کېږي، ژبه، قوم، نژاد، سمت او مذهب په کې مطرح نه دي.

پينځم: دغه حقوق نړيوال دي، يعنې د هر هېواد خلک دا حقوق لري.

شپږم: دغه حقوق صرف د انسان په ذات پورې اړه لري، چې په دې وجه د انسان کرامت، شرافت او جنسيت خوندي وساتل شي. نو نور موجودات لکه حيوانات او نباتات په دې حقوقو کې نه شامليږي.

اووم: بشري حقوق د ټولو انساني کچو (معيارونو) اساس او بنياد جوړوي.

دا حقوق هر انسان ته دا اجازه ورکوي چې د دوی د دغو حقوقو څخه بايد هېڅوک هم ناوړه استفاده ونه کړي، او يا دهغې مخنيوې وکړي. نور انسانان هم اخلاقې مسؤليت لري چې پرې نږدي چې څوک د بل چا پر دی حقوقو تېری وکړي او يا ترې سو استفاده وکړي.

د بشري حقوقو نړيواله اعلاميه:

د بشري حقوقو نړيواله اعلاميه په ۱۹۴۸ ز کال کې د ملګرو ملتونو عمومي مجلس له خوا تصويب شوې چې يوه نړيواله بڼه لري او د ډېرو ملتونو له خوا استقبال شوې ده. دا يو داسې جامع او کُلي سند ګڼل کېږي چې د بشري حقوقو او ازادیو په باره کې د دې په څېر بل سند نشته. دغه سند په حقيقت کې د ټولو اعلاميو، حقوقي سندونو، ديني، اخلاقي او عقيدتي تعليمونو پايله ده.

بشري حقوقو يو جامع او کُلي اصل دي. جامعيت او کُليت يې په لاندې درې ټکو کې نغښتی دی: دا حقوق په لاندې درې اساساتو ولاړ دي؛ نو ځکه ورته کلي وايو:

۱- مساوات

۲- ازادي

۳- وروروالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامې له مخې بشري حقوق عبارت دي له:

۱- د ژوند او شخصي امنیت حق (۳ ماده)
۲- د شکنجې او بردګۍ منعه کېدو حق (۴ ماده)
۳- د حقوقي شخصیت پېژندلو حق (٦ ماده)
۴- د قانون پر وړاندې د مساوات حق (۷ ماده)
۵- پر خپل سر د توقیف او تبعید ممنوعیت (۹ ماده)
٦- محاکمو ته د رسیدې ګۍ حق (۱۰ ماده)
۷- د براة الزمه حق (۱۱ ماده)
۸ - له قانون څخه ملاتړ (۱۲ ماده)
۹- د عبور او مرور حق (۱۳ ماده)
۱۰- د مهاجرت حق (۱۴ ماده)
۱۱- د تابعیت حق (۱۵ ماده)
۱۲- د واده حق (۱٦ ماده)
۱۳- له کورنۍ څخه ملاتړ (۲ فقره ۲۰ ماده)
۱۴- د مالکیت حق (۱۷ ماده)
۱۵- د فکر ، وجدان او مذهب حق (۱۸ ماده)
۱٦- د بیان او عقیدې حق (۱۹ ماده)
۱۷- د ټولنو د تشکیل حق (۲۰ ماده ۱ فقره)
۱۸- د سیاسي مشارکت حق (۲۱ ماده)
۱۹- د ټولنیز امنیت حق (۲۲ ماده)
۲۰- د کار حق (۲۳ ماده)
۲۱- د اتحادیو د جوړېدو حق (۴ فقره ۲۳ ماده)
۲۲- د تفریح او استراحت حق (۲۴ ماده)
۲۳- د مناسب ژوند جوړولو حق (۲۵ ماده)
۲۴- د تعلیم او تربیې حق (۲٦ ماده)
۲۵- په فرهنګي ژوند کې د ګډون حق (۲۷ ماده)
۲٦- د معنوي مالکیت حق (۲۸ ماده)
۲۷- د تېري په مقابل کې د جزا حق (۸ ماده)
۲۸- په غونډه کې د شاملېدو حق (۲ فقره۲۰ ماده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۹- نړۍ ته د سفر کولو حق.

۳۰- په ملک کې د خپلې خوښې په ځای کې د اوسېدو حق.

د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې اهمیت:

د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې مهم ټکي په لاندې توګه خلاصه کوو:

اول: د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه مهمه ځکه ده چې نړۍ شموله ده. په دې معنی چې ټوله دنیا د ټولو وګړیو لپاره ده، صرف نظر له نژاد، مذهب، جنس، ژبه، کولتور، تابعیت، ټولنیز موقف، او جغرافیاوي حدودو څخه خلک ترې ګټه اخلي او دولتونه یې ملاتړ او ساتنه کوي، چې همدغه ذکر شوی مفهوم په ټولو بشري حقوقو کې موجود دی.

د ملګرو ملتونو منشور لومړۍ ماده په دې اړه څرګند وضاحت لري چې (د دې سازمان هدف د بشري حقوقو په اړه نړیوالې ټولنې سره کومک کول، او د هغې تشویقول دي او د اساسي ازادۍ په اړه او د دغو حقوقو د اجرا په اړه باید ټول انسانان بې له نژادي، جنسي، ژبني او ديني تبعیضاتو کومک او همکاري وکړي. یوازې انسان د انساني کېدو له امله له دغو حقوقو څخه ګټمن کېدای شي).

اول. دغه اعلامیه نړیواله ځکه ده چې د نړۍ ډېرو ملتونو، دولتونو او سازمانونو منلې ده؛ نو نړیواله بله کومه معنی نه لري؟

دویم: دغه اعلامیه ځکه مهمه ده چې الزامي بڼه لري. اما نورې پخوانۍ اعلامیو الزامي بڼه نه لرله.

دریم: د دغې اعلامیې اهمیت په دې کې و، چې د انسانیت اساسي غوښتنې ټولې په کې ځای پر ځای شوي دي لکه مساوات، ازادي، برات الذمه او همداسې نور.....

څلورم: دغه اعلامیه یوه ایډیالوژیکي بڼه لري، هېڅوک د دې اعلامیې له موادو څخه انکار نشي کولای.

پینځم: د دې اعلامیې اهمیت په دې کې دی چې له نورو اعلامیو څخه کُلي او جامع حیثیت لري.

د بشري حقوقو جامع او کُلي اصول:

د بشري حقوقو جامع او کُلي اصول په دوه ډوله دي.

الف: د شکلیاتو له نظره د بشري حقوقو اصول

ب: د ماهیت له نظره د بشري حقوقو اصول

د بشري حقوقو اصول د شکل له نظره ټول تطبیقي روشونه او پرنسیپونه دي. یانې د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه په دوو میثاقونو کې ذکر شوې ده، هېوادونه باید هغه میثاقونه لاسلیک کړي او کوم هېوادونه چې میثاقونه لاسلیک کړي نو د اعلامیې مواد پرې الزامي بڼه پیدا کوي او په خپلو اساسي قوانینو کې به دا د یو پرنسیپ په توګه مني، نو په دې توګه حقوقي قاعده ځانته غوره کوي او په دولت الزامي کېږي.

د بشري حقوقو اصل د ماهیت له نظره په دې معنی دي چې د بشري حقوقو اساس او ماهیت بیانوي او یو معیار ورته ټاکي چې ایا دغه معیارونه په لوړه کچه دي، که په ټیټه او که په منځنۍ توګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان او نړيوال کنوانسيونونه:

کوم هېوادونه چې د بشري حقوقو په اړه په نړيوالو اسنادو باندې لاسيلک وکړي دا په دې معنی دی چې نړيوال کنوانسيون په رسميت پېژني؛ نو د هغوی ملاتړ او ساتنه پرې هم لازمي کېږي. د افغانستان په اساسي قانون کې (اومه) ماده څرګند وضاحت لري چې د بشري حقوقو او نړيوالو کنوانسيونونو رعايت به کوي.

افغانستان لاندني کنوانسيونونه په رسميت پېژندلي دي:

۱- نړيوال فرهنګي، ټولنيز، اقتصادي او حقوقي کنوانسيون چې ټول ۳۱ مادې لري او افغانستان د ۱۹۸۳ز کال د اپرېل پر ۲۴ نېټه لاسليک کړی دی.

۲- نړيوال مدني کنوانسيون چې ۵۳ مادې لري او افغانستان د ۱۹۸۳ز کال د اپرېل په ۲۴ نېټه لاسليک کړی دی.

۳- د هر ډول نژادي تبعيض د له منځه وړلو نړيوال کنوانسيون چې ټول ۲۵ مادې لري او د ۱۹۸۴ ز کال د دسمبرپر ۲۱ نېټه افغانستان لاسليک کړی دی.

۴- د شکنجې او ناانساني حرکت منعه کېدو کنوانسيون چې ټولې ۳۳ مادې لري اود ۱۹۸۷ ز کال د اپرېل پر ۲۶ نېټه افغانستان لاسليک کړی دی.

۵- د ښځو پر وړاندې د نه تبعيض کنوانسيون چې ټولې ۳۰ مادې لري او د ۱۹۸۴ ز کال د دسمبر په ۱۸ نېټه افغانستان لاسليک کړی دی.

۶- د طفل نړيوال کنوانسيون چې ۵۴ مادې لري او د ۱۹۹۴ ز کال د اپرېل په ۲۷ نېټه افغانستان لاسليک کړی دی.

۷- د ماشومانو په اړه اختياري پروتوکول چې په مسلحانه جګړه کې به نه شاملېږي او ټول ۱۳ مادې لري د ۲۰۰۳ ز کال د سپتامبر په۲۴ نېټه تصويب شوی او په همدغه نېټه افغانستان پرې لاسليک کړی دی.

۸- د ماشومانو د خرڅلاو د منعه کېدو کنوانسيون چې ټول ۱۷ مادې لري او د ۲۰۰۲ ز کال د اکتوبر پر ۱۹ نېټه تصويب او اعلان شوی او پر همدغه نېټه پرې افغانستان لاسليک هم کړی دی.

د بشري حقوقو عملي کول:

د بشری حقوقو رعايت کول د ټولو هغو هېوادونو دنده ګرځي په کوم کنوانسينونو کې چې يو ملک امضا وکړي، نو بيا دهغه هېواد حکومت د دې ژمنه کوي چې هغوی به د دې حقوقو د ساتنې او پالنې مسؤليت هم په غاړه اخلي.

د بشري حقوقو نظارت :

په هر هېواد کی بشري حقوق د هغه خپلواک کميسون له خوا نظارت او تطبيق يی هڅول کيږي چې د هغه ملک د دولت له خوا جوړ، او د ملګرو ملتونو له خوا تمويل کيږي. دغه اداري په هر کال کې په هغه ملک کې د بشري حقوقو څرنګوالی ارزوي، او په اړوند يې يو مفصل راپور ملګرو ملتونو او د هغه ملک چارواکو او عامه رسنيو ته تقديموي. او په دې توګه ملګري ملتونه د نړۍ ټول ملکونه درجه بندي کوي.

دا وه د بشر د حقوقو په اړه لنډ او عمومي معلوماتونه. په راتلونکی برخو کی به د بشر د حقوقو په هغو برخو وغږيږو چی په زياته کچه د تېري او تجاوزونو ښکار کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم ټوک

بشري حقونه (عمومیات)

Human Rights(General)

نوی سید جمال الدین (افغان) انستټیوت

Institute New Said Jamaluddin "Afghan"

لیکوال: استاد محمد سعید سعیدي مدافع وکیل
جلال اباد، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم ټوک

لومړی څپرکی

د بشري حقوقو په اړه عمومیات

الف: د حقوقو تعریف:

د حقوقو اصلي ماده حق د حق د لغت له پلوه په څوارلسو مانا ګانو کارول کېږي لکه: حق د رښتیا په مانا، د حصې یا برخې په مانا او همدارنګه د موافق، د باطل ضد او مطابق په مانا ګانو هم کارول کېږي. حق د الله تعالی جل جلاله له نومونو څخه یو نوم هم دی، د عدالت په مانا هم کارول کېږي، لکه د مصالحې او جرګې پر وخت جرګه ماران وایي چې (دا حق دی) دا په دې مانا چې د عدالت غوښتنه همدا ده.

په اصطلاح کې د حقوقو تعریف ډېر ستونزمن دی، دا ځکه چې ځینې پوهان پر دې عقیده دي چې حقوق ډېرې برخې لري او داسې یو جامع او کُلي تعریف وجود نه لري چې ټولو برخو ته شامل شي، نو دوي لومړی حقوق په دوو برخو (عندي حقوق او افاقي حقوق) ویشي اوهري برخي ته جدا جدا تعریف کوي.

عندي حقوق : هغه امتیاز، صلاحیت او سلطه ده چې یو شخص یې د بل شخص په مقابل کې لري، او یا یې د یو شي په مقابل کې لري لکه د پلار حق د اولاد په مقابل کې یا د مال د خاوند صلاحیت د خپل مال په مقابل کې نو د دغه پیژندنې څخه لاندې څو پایلې راووځي:

۱: عندي حقوق په دولت پورې اړیکې نه لري بلکې د ټولنې د هر شخص پورې په جدا جدا توګه اړیکي لري لکه د ژوند حق د ازادۍ حق د کار او تحصیل حق او همداسې نور.

۲ : د حق کلیمه همیشه د سلطې قدرت صلاحیت په مانا استعمالیږي نه د قواعدو اومقرراتو په مانا

۳ : عندي حقوق کیدای شي چې طبعي وي لکه د ازادۍ حق او یا اکتسابي وي لکه د تحصیل حق چې د لیسانس تردورې پورې په وړیا ډول عندي حقوق کېدای شي اوهم اکتسابي لکه ازادي اویا تحصیل تر لیسانس دورې پورې په وړیا ډول د دولت له خوا ورکړل شوي دي.

افاقي حقوق : د قواعد اومقراراتو هغه ټولګه ده چې د انسانانو ژوند په ملي اوبین المللي کچه تنظیموي چې ځانګړتیاوې یې په لاندې توګه دي.

۱ : دټولنې په یو وګړي پورې په ځانګړي توګه اړیکې نه لري بلکې په دولت اوټولنې پورې اړیکې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ : د حق کليمه همېشه د سلطې قدرت او صلاحيت په مانا استعماليږي خو بيا ځيني پوهان حقوق داسې تعريفوي: حقوق د يو لړ قواعدو ټولګه ده، چې د نړۍ له نظام او يا د انسان له طبيعت څخه سرچينه اخلي او هغه څه چې په ټولنه کې عدالت وي مشخصوي.

ارسطو وايي: حقوق هغه قواعد دي، چې څوک په ټولنه کې ژوند کوي پر هغوي حکومت کوي او د قوانينو اجرا د دولت له خوا تضمين کېږي.

د علم له نظره، حقوق په لومړي قدم کې يو سلسله قواعد دي چې د انسانانو ژوند په ټولنه کې رهبري کوي. اوس دغه تعريف جامع دی؛ ځکه چې د انسانانو ژوند په ټولنه کې رهبري کوي؛ صرف نظر له دې نه که په عندي برخه کې وي او يا هم په افاقي برخه کې، په عمومي برخه کې وي او که په خصوصي برخه کې، ملي وي که بين المللي، خو د انسانانو ژوند رهبري کوي، چې همدغه اصطلاح ته روميان (Jus) وايي، يانې په دې تعريف کې يو سلسله سلوک او قواعد وجود لري چې انسانان رهبري کوي.

خو حقوق بايد يو قانوني موبد (يا تأيدونکې منبع) ولري او د دولت له خوا تضمين هم شي، که نه شي نو همدغسې هوا کې پاتې کېږي.

ب. د بشري حقوقو تعريف :

لومړي د بشر تعريف کوو او بيا د بشر د حقوقو تعريف ته ورځو.

بشر :

د بشر اصلي ماده (ب ش ر) ده چې لغوي مانا يې خوښي او زېړی دی. کله چې په چا يو زېړی وشي نو د مخ رنګ يې له خوشالۍ نه سور شي نو له همدې وجې د انسان پوستکي ته بشره وايي نو همدغسې ورو ورو انسانانو ته د بشر ويونکي وکارول شوو .

او په اصطلاح کې د بشري حقوق د حقوقو هغه ټولګه ده چې انسانان يې د انساني طبعيوالي له وجې لري او داسې حقوق نه دي چې د شاه يا دولت اويا د سيکولرستانو له خوا ورکړل شي، بلکې انسانان يې بايد خپله لري. دا حقوق انسانانو ته اجازه ورکوي چې د دوی د دغو حقوقو څخه څوک بايد بده استفاده ونکړي، او انسانان يې هم بايد دېته پرې نږدي چې څوک ترې سوی استفاده وکړي دا خبره هم مطرح نه ده چې دغه شخص د کوم دولت تابعيت لري او يا نه لري صرف نظر له دې نه که هغه د دې دولت تابعيت لرونکی وي او که نه.هغه د دې د حقوقو خاوند دی يانې په دې مانا چې انسان که په هر ځای کې وي، له همدغو حقوقو څخه برخمن دی؛ نو له دې امله دې حقوقو ته انساني حقوق هم ويل کېږي يا په بله اصطلاح د بشري حقوقو تعريف داسې کوو چې:

(بشري حقوق هغه ټول امتيازات دي چې ټول انسانان يې د انسانولۍ له امله لري او حق يې دی چې ويې لري).

نو له پورته تعريفونو څخه لاندې پايلې راوځي:

لومړی: دغه حقوق د ټولنې په اوسېدونکو پورې اړه لري، صرف نظر له دې نه که د دولت تابعيت ولري او که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم: د زمان او مکان تشخیص په کې نشته.

دریم: هغه حقوق او امتیازات دي چې په ټولنه کې ټول انسانان باید تري برخمن شي.

څلورم: د انسانولې له امله انسانانو ته ورکول کېږي، ژبه، قوم، نژاد، سمت او مذهب په کې مطرح نه دي.

پینځم: دغه حقوق نړیوال دي.

شپږم: دغه حقوق د انسان په ذات پورې اړه لري چې د انسان کرامت، شرافت او جنسیت وساتل شي. او نور موجودات لکه حیوانات او نباتات په کې نه شاملېږي.

اووم: بشري حقوق د ټولو انساني کچو (معیارونو) اساس او بنیاد جوړوي.

ج. د بشري حقوقو په اړه د فیلسوفانو نظریات:

د بشري حقوقو په اړه د فیلسفانو نظریات په دوو برخو کې لولو.

اول: له میلاد څخه وړاندې.

دویم: له میلاد څخه وروسته.

اول: بشري حقوق تر میلاد وړاندې لومړی په یونان او روم کې مطالعه کوو، ځکه چې یونان او روم د بشري حقوقو د فلسفې اساس او بنیاد جوړکړی او له دې وروسته نورو هېوادونو ته د دوی نظریات وړل شوي دي.

۱. د سقراط له نظره بشري حقوق:

سقراط بشر د طبیعي قوانینو تابع ګانې او ویل یې چې بشر باید له طبیعي قوانینو څخه پیروي وکړي او ازادي د بشر حق دی. د ده په نظر دولت باید په داسې ځای کې وي چې په هغه کې انسانان تکامل وکړي او هر سړی د لیاقت او استعداد په لرلو سره ترقي او تکامل وکړي؛ نو له همدې امله د سقراط لویه فورموله په دې کې وه چې تقوا په علم کې ده.

۲. د افلاطون له نظره بشري حقوق:

افلاطون د سقراط شاګرد و. د سقراط د لویې فورمولې (تقوا په علم کې ده) د انسانانو لپاره د یو انساني نظام وړاندوینه کوله چې افلاطون یوه سالمه ټولنه د (مدینه الفاضلة) په نوم یادوله، افلاطون پر داسې ټولنې عقیده درلوده چې په کې واکمنان باید فیلسوفیان وي او د دې ټولنې نیکمرغي یې په همدې کې ګڼله؛ ځکه چې فیلسوفان په خپل کار کې پوهېږي، په دې هم پوهېږي چې خپله ټولنه څنګه خوشحاله وساتي او دا یوازې فیلسوفان کولای شي؛ نو له دې وجې افلاطون ویل چې (یا دې واکمنان عالمان شي او یا دې عالمان واکمنان شي).

۳. د ارسطو له نظره بشري حقوق:

سره له دې چې ارسطو د افلاطون شاګرد و، اما ارسطو د انسانانو لپاره په یو جدا نظام عقیده درلوده، چې له ارسطوکراتیک او اشرفي نظام څخه عبارت و. ارسطو د بشري حقوقو په اړه مساوات ته قایل نه و. ارسطو به ویل چې انسانان په طبیعي لحاظ یو شان نه دي پیدا شوي، ځوک په طبیعت کې ازاد دي او ځوک مریان؛ نو له دوي سره چال-چلن هم باید مساوي ونه شي او قانون هم باید داسې جوړ کړل شي، چې د مریانو لپاره یو شان او د ازادو وګړو لپار بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان وي. هغه به دا هم ویل: څوک په طبیعي لحاظ خوشبخت او څوک بدبخت دی؛ نو د ارسطو نظریات د بشري حقوقو په اړه موزون نه دي، ځکه چې د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیې د لومړۍ مادې په اساس مریتوب له منځه تللی دی، انسانان ازاد پیدا شوي دي او ازاد ژوند باید وکړي.

د. د بشري حقوقو په اړه د رواقیونو نظریات:

رواقیون: رواقیون هغه فیلسوفان دي چې د ارسطو له دورې وروسته راغلي او د نړیوالې ټولنې د نظریاتو پیل همدوی کړی دی.

د بشري حقوقو په اړه د رواقیونو نظریات په لنډه توګه راخلو. دوی ویل چې ټول انسانان یو شان دنیا ته راغلي دي او یو پر بل باندې لوړوالې نه لري. تور پر سپین او سپین پر تور؛ دوی یوې نړیوالې ټولنې ته ګروهمن وو. د رواقیونو له جملې څخه سیسرون ویل: ټول انسانان د قانون پر وړاندې یو شان دي او د دولت مهم هدف هم د انسانانو تر منځ مساوات دی. همدارنګه نومورې ویل، چې یو حقیقي قانون په نړۍ کې وجود لري چې له سلیم عقل سره سمون خوري او ټولو انسانانو ته شامل دی. ابدي او فایده لرونکی یوازنی همدغه قانون دی، چې پر ټولو خلکو حکومت کوي، صرف نظر له دې نه که جمهور رئیس وي او که قاضي. دغه قانون د بشر لیکنه نه ده، بلکې په عقل او هوښیارتیا ولاړه ده. چې منشاء او منبع یې طبعي قانون دی، چې د دې په وسیله عدالت او تېری یو له بل نه جدا کړای شي. سیسرون د خپلو قوانینو په کتاب کې ویلي دي، چې قانون د طبیعت پیرو دی او همدغه فکر او عقل دی چې بشر ترې برخمن دی؛ نو له دې امله بشر د عدالت، تقوا او فضلیت لپاره وجود ته راغلی دی. نو له دې امله فطرت او طبیعت انسانانو ته حکم کوي چې له یو بل سره کومک او دوستي وکړئ.

د سیسرون نظریات د یونان د فیلسوفانو له طبیعي حقوقو څخه اخیستل شوي دي چې د روم حقوق پوهانو له خوا په درې برخو کې راټول شوي، چې عبارت دي له: (Codex) (Digest) (Institute) او د روم د حقوقو په نوم ونومول شول چې د غرب د حقوقي نظام منبع او سرچینه ګڼل کېږي. د روم حقوق پوهان د رواقیونو له نظریاتو څخه اغېزمن دي. رواقیون د مریتوب سخت خلاف ول او دا کار یې د طبیعت ضد ګاڼه.

ب: د میلاد څخه وروسته د بشري قانون وضع:

په اوولسمه او اتلسمه پېړۍ کې د بشري حقوقو په اړه نظریات:

په منځنیو پېړیو کې د یونان او روم فلسفه پرېښودل شوه، بلکې د دې پېړۍ په وروستیو کې په استبدادي حکومتونو او اشرا في حکومتونو سختې نیوکې وشوې. دا داسې دوره وه چې په تاریخ کې د تورې دورې په نوم یادېږي. د کلیسا پاپ هغه څوک و، چې هر څه یې د خپل ځان او خپلو ګټو په خاطر کول. مذهب یې د خپلو ګټو وسیله ګرځولې وه، د ګناهونو د بښلو لپاره یې قیمتونه ټاکلي ول. حتا چې د جنت ټکټونه هم د پاپانو له خوا ورکول کېدل؛ خو په دغه دوره کې لوتر، مارل، دوپا او داسې نورو مبارزینو ازادۍ ته لاره خلاصه کړه او له رسانس څخه وروسته چې کوم فیلسوفان پیدا شول ولتر، جان لاک، ژان ژاک روسو او همداسې نورو ته بیا ډېره لاره خلاصه وه. نورو خلکو به پر ازادۍ او حقوقو، ډېر تاوده بحثونه کول. د دې ټولو فیلسوفانو له جملې څخه مونږ دلته د جان لاک او ژان ژاک روسو نظریات را خلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. جان لاک:

جان لاک پر دې عقیده وه چې ټول بشر په طبیعي لحاظ یو برابر دی او هېڅوک یو پر بل باندې لوړوالی نه لري. ټول بشر یو نوعه دی او باید چې له طبیعي نعمتونو څخه یو شان استفاده وکړي. دوی له هر نوعه قیدونو او بندونو نه ازاد دي، اما یوازې د طبیعي قانون پېروي به کوي. هر فرد او شخص ځانته حقوق لري، چې هغه حقوق یوازې په ده پورې تړلي دي او دا حقوق یوازې د انسانولۍ له امله دي. له دې حقوقو څخه به هر فرد ګټه کوي، د دې ګټې بناء هم انسانولي ده، نه جسمي لوړوالی، شتمني او ټولنیز موقف.

د لاک پر نظر ازادي په هغه هېوادونو کې پیدا کېږي چې هلته قانون حاکم وي. ازادي په صبراو زور نه حاصلېږي بلکې ازادي بېدون له قانونه لاس ته نه راوړل کېږي. ازادي دې ته نه وایي چې زړه دې څه غوښتل هغه سرته ورسوه؛ بلکې ازادي دې ته وایي چې انسان په خپله اراده د خپلو اعمالو مالکیت د قوانینو تر چوکاټ لاندې په سمه توګه لاسته راوړي او قانون هغه څوک پېژندلی شي چې بلوغ ته رسېدلی وي او که نه وي رسېدلی؛ نو نورخلک یې باید رهبري کړي او نور خلک باید هغه څوک وي چې د ازادۍ قانون ته عقیده ولري او ویې مني.

۲. ژان ژاک روسو:

روسو د بشري حقوقو په اړه نظریات په خپل کتاب (ټولنیز تړون) کې ذکر کړي دي چې د لته یې په لنډه توګه را اخلو:

1) انسان یو ټولنیز حیوان دی د خپلو مصالحو او ګټو لپاره یو بل سره یو ځای کېږي او کوښښ کوي.

2) دولت هم د یو ټولنیز تړون په پایله کې وجود ته راغلی او په دولت کې حاکمیت هم په خلکو پورې اړه لري ځکه چې خلک امنیت او ازادۍ ته اړتیا لري او دغه ازادي او برابري د انسان طبیعي حق دي، او ټولنیز تړون هم یوازې په انسانولۍ ولاړ دی. په ټولنه کې د انسانیت هدف ته د رسیدلو وسیلې، دولت او سیاسي سازمانونه او احزاب دي، چې دولت په ټولنه کې ازادي ، برابري او امنیت تامین کړي. که د دولت له خوا ازادي او برابري تامین نه شوه، او توجه یې ورته نه کوله؛ نو سیاسي سازمانونه مسئولیت لري چې د ازادۍ او برابرۍ په لاس ته راوړلو کې د دولت سره مبارزه وکړي، او د انسانوالي هدف ته ځان ورسوي. نو لدي وجې ازادي او اساسي حقوق د انسانانو سره تړلې اونه بېلېدونکي دي. چې د دې ازادۍ او برابرۍ لپاره امنیت او ټولنیز نظم یو سپېڅلی حق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشر د حقوقو تعریف د افغانستان په اساسي قانون کې او د ا فغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسون له نظره:

الف : د افغانستان د اساسي قانون ۵۸ ماده داسي حکم کوي:

دولت د بشري حقوقو د رعایت کولو نه د نظار ت په غرض او د بشري حقوقو نه د پالنې او د هغې د ښه والي په منظور په افغانستان کې د بشر د حقوقو مستقل کمیسون ایجادوي. هرڅوک کولای شي چې د خپلو بشري حقوقو باندې د تیري په صورت کې دغه کمیسون ته شکایات وکړي. کمیسون کولای شي چې د دغه حقوقو نه د تیري پېښې اړونده قانوني مراجعو ته حواله کړي ا و د هغې نه د دفاع په برخه کې همکاري وکړي. د دې کمیسون جوړښت او د کړو وړو طریقه یې د قانون له مخې تنظیمیږي.

ب :د بشر د حقوقو مفهوم د افغانستان د بشري حقوقو د کمیسون له نظره :

د بشر د حقوقو مفهوم: د افغانستان د بشر د حقوقو کمیسون قانون د بشر حقوق داسې تعریفوي:

څلورمه ماده:

د دې قانون له مخې د بشر حقوق د افرادو د هغو حقوقو او ازادیو څخه عبارت دي چې په اساسي قانون، د بشر د حقوقو په ا علامیو، میثاقونو، قراردادونو، پروتو کولونو او نورو نړ یوالو اسنادو کې چې افغانستان د هغې د رعایت کولو او تطبیق ژمنه کړې ده ذکر شوي دي.

چه په دې کې د خلکو عا دلانه او مساوي لاس رسی بیموته، او هغه ورکړي او خدمتونه چې دو لت یې ترسره کوي هم د افرادو په بشري حقوقو کې شامېلیږي.

د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسون د ندې او صلاحیتونه:

د افغانستان د بشري حقوقو د خپلواک کمیسون د کمیسون د جوړیدني قانون، دندې او صلاحیتونو قانون د بشري حقوقو د خپلواک کمیسون دندې او صلاحیتونه داسې تشریح کوي.

یوویشتمه ماده :

کمیسون پدې قانون کې د مندرجه اهدافو د تحقق په غرض د لاندې وظایفو او صلاحیتونو لرونکی دی.

۱- د بشرد حقوقو حالاتو څخه نظارت.

۲ - د اساسي قانون د تطبیق د نورو قوانینو د تطبیق، مقراراتو، لوایحو، تعهداتو څخه نظارت کونه چې د بشر د حقوقو پورې اړه لري.

۳ – د ټولو هغو نهادونو لکه عدلي، قضایي، اداري سیستم د ملي او بین المللي انتفاعي او غیرانتفاعي موسساتو څخه چې په دې ملک کې کارکوي د هغوی د اجراتو او کارونو څخه نظارت کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – د هغې مراجعو دولتي او غیردولتي مقامونو د اجراتو څخه څارنه چې د خدمتونو او تاميناتو د عادلانه توضیح مسئولیت لري.

۵ – د خلکو د لاس رسي حقوقو او بشري ازادیو ته د لاس رسي د وضعیت څخه څارنه.

۶ – د هغو ځایونو څخه چېرته چې ازادي سلب شوي وي لیدنه او پدې ځایونو کې د قانون د تطبیق په اړه څېړنې د محبوسینو او توقیفیونو سره د سلوک ملا حظه د اړوند قانون او مقراراتو سره سم.

۷ – د بشري حقوقو نه د سرغړونو او تخلفاتو څخه څارنه.

۸ - د بشري حقوقو د تر پښو لاندې کېدو د پېښو څخه د اسنادو، مدراکونو او شواهدو راټولول او د بشري حقوقو د نقض په اړه برابرول.

۹- اړونده مراجعو ته د بررسې د نتایجو وړاندې کول د خلاف ورزي د مخنیوي او حل په غرض او د بشر د حقوقو د سر غړونو په غرض او د هغوی د اجراتو تعقیبول .

۱۰- د بشر د حقوقو نه د خبرتیا او پوهاوي لپاره د یوې ملي برنامې تیارول او تطبیق.

۱۱- د اړوند ادارو سره په تعلیمي نصاب کې د بشر د حقوقو د موازینو د رعایت په اړه مرستې.

۱۲- د داسې برنامو طرحې او تطبیق چې د جرایمو، جنایاتو او د بشر د حقوق نه د تیري په برخه کې د رسیدګۍ لپاره مرسته وکړي چې دا د انتقالي عدالت د پروسې یوه برخه جوړوي.

۱۳- حکومت او ملي شورا ته د بشر د حقوقو د پلوي، ښه والي او پراختیا په غرض د قوانینو د طرح، تصویب، تعدیل او لغوي په اړه د نظریاتو او مشورو ورکول.

۱۴- د افغانستان ملي شورا او حکومت ته د بشر د حقوقو په اړوند د بین المللي تعهداتو د امضاء د تصویب او یا منلو په برخه کې لازمې مشورې ورکول.

۱۵- د افغانستان حکومت ته د بشر د حقوقو په اړه د نړیوالو قولونو د لاښه تطبیق په اړه مشورې ورکول.

۱۶- د نړیوالو پرنسیپونو او طریقو د هماهنګي لپاره د ملي عقایدو، کلتور، او عنعناتو سره برابرو موثرو لارو پیداکولو لپاره عملي تحقیقات کول.

۱۷- د بشر د حقوقو د تعهداتو په اړوند د افغانستان د دولت د راپور ورکولو په برخه کې د مشورو ورکول د موادو او معلوماتو تهیه کول.

۱۸- د بشر د حقوقو د موازینو د لاښه تطبیق په اړه او په مربوطه برخه کې د لا ښه تطبیق په غرض د موسساتو دولتي او غیر دولتي مراجعو سره مرستې.

۱۹- د خپل صلاحیتونو په چوکاټ کې د بشر د حقوقو د ساتنې ښه والي او پراخه کولو په غرض د اداري اصلاحاتو د تطبیق په برخه کې همکاري.

۲۰- د خپلو صلاحیتونو په چوکاټ کې او د خپلو اهدافو او وظایفو په لړ کې د ملګرو ملتونو د سازمان او نورو منطقوي او نړیوالو سازمانونو سره همکاري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱- په هېواد کې د بشر د حقوقو د ښه والي پلوي او پراختیا لپاره د عملي لارو د لټولو په برخه کې د یوې طرحې د تهیه کولو په خاطر په ملي سطحه د مشورو ورکول او د خلکو عامه نظر غوښتنې تر سره کول.

۲۲- د بشر د حقوقو د ښه والي پلوي او پراختیا په غرض مسئول مقامونو ته، ملي شورا، ولایتي ، ولسوالیو او کلیوالو شوراګانو او مراجعو ته د نظریاتو، پشنهادانو او راپورونو ورکول.

۲۳- د بشر د حقوقو د محلي نهادونو د کاري ظرفیت د لوړ ولو او د هغوی د نقش او وظایفو نه پلوي.

۲۴- د بشر د حقوقو په اړه د عمومي اعلامیو او رسمي بیانونو نشر او خپرول.

۲۵- د مسئولو اشخاصو څخه د بشر د حقوقو د موازینو د نه رعایت په اړه د هغې د عواملو او پدې اړه د توضیحاتو غوښتنه کول.

۲۶- د بشر د حقوقو په اړه د خلکو د خبرتیا لپاره د تبلیغاتو رواجول.

۲۷- ولسمشر ته د بشر د حقوقو د وضعیت په اړه د کلني راپور وړاندې کول.

۲۸- د بشر د حقوقو په اړه د راپور او ګزارشونو نشر او وړاندې کول.

۲۹- ولسمشر ته د بشري حقوقو نه د تیري په صورت کې د اجراتو د طرز په اړه مشورې ورکول.

۳۰- د بشر د حقوقو د مرکزي دفتر د ساحوي او ولایتي دفترونو اداره او لارښوونه او د اړوندو مامورینو او کارکوونکو د اجراتو، فعالیتونو او شخصي سلوکونو اداره او لارښوونه.

۳۱- د کمیسون د فعالیتونو د پر مخ وړلو لپاره د لازمو امکاناتو او سهولتونو تامینول.

۳۲- د بشر د حقوقو د وضعیت د څرنګوالي په اړه د علمي او عملي ګټې اخستنې په غرض د ګزارش ورکولو د چارو او احصایو تنظیمول.

۳۳- د کمیسون د مامورینو او کارکوونکو د حقوقو، وجایبو، مکلفیتونو، امتیازاتو او بیمو پوري د اړوند موضوعاتو د لوایحو تنظیمول.

۳۴- د دي قانون د تطبیق مسئولیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملګرو ملتونو د کمیساری په کلنۍ جلسو کې وندې اخیستل:

دوه ویشتمه ماده:

د کمیسون رئیس یا د هغه یا صلاحیته نماینده کولای شي چې د ملګرو ملتونو د کمیساري په کلني مجلس کې چې د بشر د حقوقو په اړه دایر یږي او همدا راز په نورو منطقوي او بین المللي غونډو کې د قانون مطابق ګډون وکړي.

د شکایاتو بررسي:

درویشتمه ماده:

۱- کمیسون د بشر د حقوقو د تیري په اړه راغلي شکایتونه بررسي کوي.

۲- کمیسون راغلي شکایتونه تحلیل او ارزوي، لازم اسناد او معلومات راټولوي او په حل کولو کې یې د مربوطه مراجعو سره همکاري کوي.

۳- کمیسون کولای شي د لزوم په صورت کې د دې قانون د یوویشتمې مادې د ۹ جز په اساس موضوع مسئول مقامونو ته حواله کړي.

د کمیسون صلاحیتونه د اثبات کوونکو دلایلو په راټولولو کې:

څلورویشتمه ماده:

کمیسون کولای شي چې د شکایاتو د بر رسي په وخت کې د اشخاصو او مراجعو نه اسناد او شواهد وغواړي.

د اسنادو او مدارکو د نشر او افشا په اړوند نه مجبوریت:

پینځه ویشتمه ماده:

څوک کمیسون نشي مجبور ولای چې هغه مدارک او اسناد چې لري یې، هغه نشر کړي.

د ښځو، ماشومانو، معیوبینو او معلولینو د بشري حقوقو وضعیت:

شپږویشتمه ماده:

کمیسون مکلف دي چې د ښځو، ماشومانو، معیبوینو او معلولینو او نور ضرر مینډونکیو ګروپونو او اقشارو د بشري حقوقو د پلوي او ښه والي په غرض او دوی ته د خدمتونو، ضروریاتو او د دوی د حقوقو نه د لاښه څارنې په غرض دولت او مدني ټولنو ته طرحي پیشنهاد کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کمیسون د رئیس وظیفې او صلاحیتونه:

اوه ویشتمه ماده:

د کمیسون رئیس دلاندې وظایفو او صلاحیتونو لرونکی دی:

۱)- د کمیسون د فعالیتونو عمومي لارښوونه.

۲)- د کمیسون د جلسو ریاست.

۳)- د بودیجې د تطبیق نه نظارت

۴)- د دې قانون د احکامو د تطبیق په برخه کې د اوامرو او لارښوونو صادرول

فردي او جمعي مسئولیتونه:

اته ویشتمه ماده:

د دې کمیسون رئیس او غړي یې د خپل اړوند ساحو په پرمخ بولو کې فردي مسئولیت او د کمیسون د عمومي تصمیمونو او اجراتو په اړه دسته جمعي مسئولیتونه لري.

د بشري حقوقو طبقه بندي:



دبشري حقوقومتخصصین بشري حقوق په درېو نسلونو وېشي: اول نسل، دویم نسل او درېیم نسل.

په اول نسل کې مدني او سیاسي حقوق شامل دي، په دویم نسل کې اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي حقوق شامل دي او په درېیم نسل کې هماهنګي حقوق شامل دي چې په هماهنګي حقوقو کې چاپېریال ساتنه، پرمختیا، پراختیا او د سولې حقوق شامل دي چې په لنډ ډول هر یو تر څېړنې لاندې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. مدني حقوق (Civil rights):

دا هغه حقوق دي چې په خلکو پورې مربوط دي چې یو تربله د احترام ، پرامنه اوباثباته ټولنه رامنځ ته شي دغه حقوق د دولت له خوا نه ورکول کیږي بلکې انسانان یې په طبیعي شکل لري خو د دولت له خوا په اساسي قانون اونورو تقنیني اسنادو کې ځای پرځای شوي وي. د مدني حقوقو هدف په یوه مدني ټولنه کې د افرادو تر منځ همغږي راوستل وي، ځکه چې همغږي ټولنه د امن او ثبات ټولنه وي، چې په کې د بیان ازادي، د مذهب ازادي، له شکنجې څخه ازادي او د خلکو امنیت شامل دي؛ خو بشري حقوق د مدني حقوقو پر خلاف د دولت له خوا نه ورکول کیږي، بلکې بشري حقوق د ټولو انسانانو په طبیعت کې وي او د دولت دنده یوازې دا ده چې بشري حقوق په رسمیت وپېژني او دولت یې د لغوه کولو اوصحیح کولو حق نه لري. اګر چې د اضطرار په وخت کې دا حقوق تعلیق یا محدودولای هم شي.

۲. سیاسي حقوق(Political rights):

د بشر سیاسي حقوق د خلکو وندې په دولت او دولتداری کې راپه ګوته کوي. دغه حقوق خلکو ته اجازه ورکوي چې حکومتونو ته وړاندیزونه وکړي او په حکومت کې بدلون وغواړي. ځان کاندید کړي او بل منتخب کړي، سیاسي سازمان او احزاب رامنځته کړي.

۳. اقتصادي حقوق:

د بشر له اقتصادي حقوقو څخه موخه د یو مناسب او معیاري ژوند لرل دي، چې دومره توان لاسته راوړي چې خپل ژوند ورسره مناسب او انساني جوړکړي. په مناسب ژوند کې د خوراک لرل، صحت، ټولنیز امنیت، کار، سیاحت او د سوداګریزو اتحادیو جوړول شامل دي.

0 . 5: ټولنیز حقوق : د خلکو د ټولنیزو اړیکو څخه عبارت دي لکه د واده حق ، دکورنۍ د جوړولو حق ، داتحادیو دتشکیلولو حق اوکله کله دبشر اجتماعي حقوق د بشر دکلاسیکو حقوقو په مقابل کې هم استعمالیږي چې د بشر کلاسیک حقو ق اول نسل ته شامل دي نو په مقابل کې دویم نسل اجتماعي حقوق دي چې له اول نسل څخه ډېر پراخ دي.

1 . فرهنګي حقوق:

د بشر فرهنګي حقوق داسې یو ټولنیز تعریف نه لري چې ټولو ته دې د منلو وړ وي؛ خو په دې حقوقو کې انسانان کولای شي چې په یو فرهنګي ژوند کې قدم کیږدي. دغه حقوق په ادبي، هنري، ژبنیز، ادبیاتو او تعلیم کې د وندې اخیستلو پلوي کوي او د تعلیم حاصلولو او فرهنګي ارزښتونو ته قایل دي. تعلیم د فرهنګي حقوقو عمده برخه ده.

2 . د بشر هماهنګي حقوق :

د بشر هماهنګي حقوق عبارت دي له نړیوالې همکارۍ او نږدېوالي څخه چې ټول هېوادونه یو بل سره نږدې او همکاري وکړي لکه په اوسنیو وختوکې دسولې په برخه کې ،د محیط زېست په برخه کې او دپرمختګ په برخه کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایله:

د دنیا پر مخ باندې چې انسانان وجود ته راغلي، په طبیعي ډول یو څه اصول او قوانین هم ورسره راغلي دي، چې حتا دغه اصول او قوانین نه یوازې په انسانانو کې وجود لري؛ بلکې په حیواناتو کې هم شته. نو د بشري حقوقو تعریف مورږ هم داسې وکړ، چې بشري حقوق ټول هغه امتیازات دي چې ټولو انسانانو ته د انسانولۍ له امله ورکول کېږي او حق لري چې ورکړل شي.

د دغو امتیازاتو او طبیعي حقوقو په اړه فیلسوفان هم خپل نظریات لري، لکه سقراط بشر د طبیعي قوانینو او قواعدو تابع ګاڼه، افلاطون بیا د بشر نیکبختي په دې کې لیدله چې ټولنه کې دې فیلسوفان او علماء وي او که واکمنان هم فیلسوفان او هم علماء وي نو بیا خو طلایي ټولنه هم هغه ټولنه ده، چې عالمان او فیلسوفان په کې واکمنان وي.

رواقیون بیا یوې نړیوالې ټولنې ته قایل ول، د دوی له نظره د قانون پر وړاندې ټول یو شان دي. نژادي او نور توپیرونه په کې نشته دي. دوي یو حقیقي قانون ته غاړه کېښوده او دغه حقیقي قانون یې نه بېلېدونکی ګڼلو، چې منشاء او منبع یې طبیعي قانون دی. په اولسمه او اتلسمه پېړۍ کې په استبدادي او اشرافي حکومتونو نیوکې پیل شوې او د علم دور پیل شو، چې مختلفو فیلسوفانو لکه د جان لاک، ژان ژاک روسو او ولتر نظریات د منلو وړ وګرځېدل. جان لاک ټول بشر په طبیعي لحاظ یو برابر ګڼي او وایي، دا چې څوک پر یو بل باندې لوړوالی نه لري؛نو له نعمتونه څخه هم باید یو شان مستفید شي. روسو هم ازادي او مساوات د انسان طبیعي حق ګڼي. د ده له نظره اساسي حقوق او ازادي له انسانه نه بېلېدونکي دي.

علماء بشري حقوق په درېوو نسلونو وېشي چې لومړي نسل کې مدني او سیاسي حقوق، په دویم نسل کې اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي حقوق او په درېیم نسل کې هم محیط، سوله، پرمختیا او پراختیا شامل دي.

تمرین:

لومړۍ پوښتنه: حقوق تعریف کړئ؟

دویمه پوښتنه: د بشر حقوق تعریف کړې

درېیمه پوښتنه: د بشري حقوقو په اړه د رواقینو او ارسطو د نظرونو تر منځ اختلافات وڅېړئ؟

څلورمه پوښتنه: ژان ژاک روسو د بشري حقوقو په اړه څه ویلي دي؟

پینځمه پوښتنه: علماوو بشري حقوق په څو نسلونو وېشلي دي؟

شپږمه پوښتنه: اول، دویم، درېیم نسل کې کومې کومې برخې شاملې دي نومونه یې ولیکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم څپرکی

د بشري حقوقو تاریخچه

د بشري حقوقو تاریخچه په دوه مرحلو کې لولو:
الف: تر میلاد وړاندې
ب: تر میلاد وروسته

الف. تر میلاد د مخه د بشري حقوقو تاریخچه:

تر میلاد وړاندې بشري حقوق په لاندې څو ټکیو کې لولو:

۱- د حمورابي قانون:

دغه قانون په (۱۷۳۰-۱۶۵۸)ق م د بابل پاچا په واسطه په یونان کې منځته راغلی چې د بشري حقوقو ابتدایي موضوعات په کې ځای شوي ول.

۲- د کوروش د هخامنشیانو منشور:

دغه منشور په ۶ ق م پېړۍ کې په روم کې لیکل شوی دی، چې د حقوقو په اړه اساسي مسایل په کې څېړل شوي دي.

۳- د رومیانو دولس ګونې تختې:

د دغو لوحو (تختو) تاریخي دوره له میلاده پینځه پېړۍ وړاندې ده او د بشري حقوقو کوم موضوعات چې نن تر ستر ګو کېږي، په کې موجود ول.

هغه فیلسوفان چې د بشري حقوقو سرچینه له طبیعت او فطرت څخه نه بدلېدونکي ګڼي د دوی په نظر بشري حقوق د منلو او احترام وړ دي.

ب.ترمیلاد وروسته د بشر حقوقو تاریخچه:

تر میلاد وروسته د بشري حقوقو په اسلامي نظام او څه نا څه اسناد په بېلابېلو مرحلو او قوانینو کې موجود و، لکه د مکنا کارت د ۱۲۱۵ لوی منشور، د برتانیې د حقوقو غوښتنه، د انګلستان د حقوقو اعلامیه، د امریکا د ۱۷۸۷ اساسي قانون، د فرانسې د ۱۷۹۱ اساسي قانون، د ملګرو ملتونو منشور او د بشري حقوقو اعلامیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱: د اسلام له نظره بشري حقوق:

ځینې دا فکر کوي چې بشري حقوق د لویدیځ ذهن زېږنده ده. اما دا خبره بلکل صحیح نه ده. په اسلام کې بشري حقوق، د بشري حقوقو له اعلامیې نه څوارلس سوه کاله وړاندې موجود ول، چې په لاندې توګه یې را لنډوو.

۱- د جرم او جزا قانون، قران پاک وایي چې (ماکنا نعذبین حتی نبعث رسولاً)(الایة)
۲- د زندګۍ حق
۳- د مرییتوب لغوه کول
۴- د قانون پر وړاندې د مساوات حق
۵- د کور د خوندیتوب حق
۶- د اسلامي قانون په چوکاټ کې د بیان ازادي
۷- اسلامي عدالت
۸- د ښځو کرامت، د نجونو د وژلو منعه کول، د ښځې د نفقې او اوسېدو حق
۹- د ماشومانو ساتنه او پالنه
۱۰- د مهاجرت حق
۱۱- د یتیمانو حقوق
۱۲- د ملکیت حق
۱۳- د علم فرضیت

او همداسې نور حقوق چې مستقل کتاب پرې لیکل کېدای شي.

۲: د مکناکارت د ۱۲۱۵ منشور:

په منځنیو پېړیو کې دغه لوی منشور په انګلستان کې تدوین شو، چې په تدوین کولو سره یې وګړیو ته یو لړ سیاسي حقوق او ازادۍ ورکړل شوې؛ خو د ځینو په نظر په دې منشور کې یوازې د اشرافو ګټې نغښتي وې، مګر واقعیت دا دی چې د اشرافو د ګټو تر څنګ عمومي ګټې هم په کې رانغښتل شوې وې چې لنډه پایله یې په لاندې توګه لولو:

۱- د ناقانوني توقیف منعه
۲- پر مالیاتو باندې د پارلمان د نظارت حق
۳- په محکمه کې عمومي دعواوو ته رسیدګي کول (۱۷ ماده)
۴- له کلیسا نه ازادي (۱ ماده)
۵- دجرم په اندازه مجازات (۲۰ ماده)
۶- د دولت مامورین له چا څخه څه نشي اخیستی (۳۰ ماده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- هېڅ متهم له اسنادو پرته نه مجازات کېږي او ازاد شخص نه زنداني کېږي (۳۹ ماده)
۸- حق او عدالت باید په هېڅ قیمت خرڅ نه شي او د چا کار ونه ځنډول شي (۴۰ ماده)
۹- ټول سوداګر د انګلستان له رسم و رواج سره سم خپل اموال صادرولای او واردولای شي (۴۲ ماده)
۱۰. هغه څوک چې د ځنګل نه بېرون اوسېږي هغه باید ځنګلي محکمه کې حاضر نشي؛ مګر دا چې په دعوه کې یې نوم یاد شوی وي، یا د ځنګل د قوانینو پر خلاف د کوم عمل مرتکب شوی وي. (۴۴ ماده)
۱۱- خدای ګواه کوم چې ټول حقوق او امتیازات به چې په دې فرمان کې راغلي تطبیقوم چې ټول خلک ترې ګټه واخلي. د ټول ملت حقوق محفوظ دي.
۱۱- پروټستان د خپلې دفاع په خاطر له قانون سره سم سلاح وړلای شي.
۱۲- د پارلمان له خوښې پرته د سولې په وخت کې نظامي قواوې ساتل د قانون خلاف دي.
۱۳- د پارلمان د غړیو ټاکنه باید په ازاده توګه صورت ونیسي.
۱۴- د بیان پر ازادۍ او د پارلمان پر بحثونو به په هېڅ محکمه یا بله مرجع کې بحث نه شي کېدای.
۱۵- نقدي جریمه او ظالمانه مجازات ممنوع دي.
۱۶- د جزایي مسایلو لپاره منصفه هیئت باید په قانوني توګه وټاکل شي.
۱۷- د حکم تر صادرېدو وړاندې د خلکو د مالونو مصادره او جریمه ناقانوني ده.
۱۸- د چارو د سمون په خاطر او د قوانینو د ساتلو لپاره باید پارلمان په مسلسله توګه جلسې وکړي. دې اعلامیې د نبو ګټو تر څنګ بدې ګټې هم لرلې چې اشرافو او پانګه والو تري ګټه پورته کوله او په دونیا کې استعمار له انګلیس څخه پیل شو او د انسانانو خرڅونه او په غلامۍ نیول یې منځته راوړل.

۳ : د ۱۹۴۱ کال د ازادۍ منشور:
د غه منشور د امریکا په مسي چوتس ایالت کې تصویب شو، چې د انګلستان د حقوقو له اعلامیې څخه پرمختللی و. د دې منشور اصلي او مهم ټکي په لاندې توګه خلاصه کوو.
۱- له صلاحیت لرونکې محکمې پرته هېڅوک څوک له ژوندە نشي محرومولای او نه یې داغداره کولی شي.
۲- ټول اوسېدونکي که داخلي وي او که خارجي د قانون پر وړاندې یو برابر دي.
۳- هېڅوک توقیف او مجازات کېدای نشي او نه د چا مال مصادره کېدای شي مګر د قانون په حکم.
۴- هېڅوک په اجباري کار نشي مجبورېدلای مګر د عمومي محکمې د حکم په اجازه خو د کار په مقابل کې باید مزد ورکړل شي.
۵- هېڅوک د طبیعي عواملو له امله لکه د عمر زیاتوالي، د عمرکموالي، د ماغي ضعف یا د حواسو د کمزورۍ له امله دولتي خدمتونو ته نشي مجبورېدای.
۶- ټول اتباع (داخلیان او خارجیان) محکمې ته مراجعه کولای شي.
په دغه منشور کې قضایي اجرات، د ښځو ازادي، د اماشومانو استخدام په جدا توګه ذکر شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ : د امریکا د ۱۷۸۷ز کال اساسي قانون:

د امریکا اساسي قانون د استقلال اعلامیې او د ویرجینیا ایالت (۱۷۷۶) اساسي قانون څخه الهام اخیستی دی چې د دیارلسو ایالتونو استازیو په کې ګډون کړی و او دا قانون یې تصویب کړ. په دې سره یې د یو فدرال دولت بنسټ کېښود. په دغه قانون کې د خلکو حقوق او ازادي په لاندې توګه خلاصه شوې ده:

۱- د بیان، مذهب، عقیدې او مطبوعاتو ازادي.

۲- له ټولو حقوقو او مزایاوو څخه یو شان ګټه اخیستل.

۳- د مالکیت حق او د ژوند له نعمت څخه ګټه اخیستل.

۴- ټولنیز حق چې عمومي ګټه په کې وي.

۵- هر متهم حق لري چې د خپل اتهام له موضوع څخه خبر شي.

۶- هېڅوک نشي محکوم کېدای مګر د باصلاحیته محکمې په حکم.

۷- د ژوند ضمانت باید له متهم څخه و نه غوښتل شي.

۸- هېڅوک نه شي بندي کېدای، نه هم تبعید کېدای شي او نه یې بل څوک له مال څخه ګټه پورته کولای شي، مګر د قانون په حکم.

۹- هغه جزایي قوانین چې جزا یې سخته ټاکل شوې وي ما قبل ته رجعت نه شي کولای.

د دې قانون نیمګړتیاوې چې بشري حقوق په کې نه دي ځای شوي، دا دي:

الف- د حقوقو ازادي او چوکاټ یې وړوکی دی، ټولنیزه او اقتصادي ازادي په کې نشته.

ب- د تورن پر ضد نژادي تبعیض په کې له منځه نه دی تللی.

ج- برابري یوازې نارینه وو ته و، یوازې په شلمه پېړۍ کې مساوات په کُلي توګه په رسمیت وپېژندل شو.

د- مریان یوازې په شلمه پېړۍ کې له مریيتوب نه خلاص شول.

ه- پر ځمکو باندې تېری په دوامداره توګه روان و.

۵ : د بشري حقوقو اعلامیه او د فرانسې اتباع:

د فرانسې تر لوی انقلاب وروسته، چې د مطلقه نظام پر ضد یې وکړ او پر ځای یې مشروطه نظام راوست، د حکومت واګې له اشرافو او روحانیونو څخه واخیستل شول او خلکو ته حاکمیت انتقال شو. د دې په پایله کې د بشري حقوقو اعلامیه هم صادر شوه. له دې سره د فرانسې اتباع د فیلسوفانو لکه ولتر، منتسکو او ژان ژاک رسو تر اغېز لاندې ول او د فرانسې د انقلابیانو له خوا (۱۹۷۹ م) کال کې دا اعلامیه اعلان شوه، چې د انګلستان او د امریکې له اعلامیو څخه پرمختللې وه. د دې اعلامیې مهم ټکي په لاندې توګه خلاصه کوو.

۱- ازادي او برابري

۲- د طبیعي حقوقو ساتنه، امنیت او مقاومت

۳- د خلکو حاکمیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د ازادۍ تعریف او حدود چې باید د قانون په چوکاټ کې وي
۵- د اجباري کار ممنوع کېدل
۶- شخصیت او شخصي ازادي
۷- جرم او مجازات قانوني کېدل، د ناقانوني توقیف او زنداني کېدا ممنوع اعلانېدل
۸- د برات الذمه اصل
۹- د عقیدې ازادي
۱۰ د فکر ازادي چې نورو ته انتقال شي
۱۱- د مالیاتو په ورکړه کې د خلکو صلاحیت
۱۲- د درې ګونو قواو تر منځ تفکیک
۱۳- د مالکیت حق، د استملاک په صورت کې عادلانه قیمت ورکول

د غه اعلامیه د مشروطه نظام د (۱۷۹۱) ز کال د فرانسې د قانون د سریزې په توګه وه او بیا د لومړي او دویم جمهوریت او له هغو را وروسته په لږ بدلون سره د فرانسې د ټولو قوانینو په سر کې وه او همدارنګه دغه اعلامیه د ټولو اروپایي هېوادونو له پاره یوه بېلګه وه.

ج : د بشري حقوقو په اړه اسناد:

د بشري حقوقو په اړه ډېر اسناد شته خو موږ یې دلته د ځنو مهمو اسنادو یوه خلاصه را اخلوو:

۱. په انګلستان کې د بشري حقوقو غوښتنه په ۱۶۲۸ کال کې:

د انګلستان د پارلمان غړیو او د اول چارلز تر منځ ډېر کشمکش وو. چارلز د خلکو د ازادۍ او غوښتنو په اړه بې پروا و، د هغه پر مهال د خلکو حقوق او ازادي پایمال شوي وو. اخر د پارلمان غوښتنه په ۱۶۲۸ کې ومنل شوه چې د دې غوښتنې مهم ټکي په لاندې ډول خلاصه کوو.

۱- هېڅوک د قانون له اجازې پرته په مالیاتو ورکولو باندې نشي مجبورولای او نه ترې استفاده کولای شي او نه یې حاضرولای شي.
۲- هېڅوک یو ازاد سړی نه بندي کولای شي او نه یې توقیفولای شي.
۳- هېڅوک د صلاحیت لرونکې محکمې له حکم نه پرته نه شي محکومېدای او کوم احکام چې د یوې بې صلاحیته محکمې له خوا صادر شوي وي باید لغوه شي.

خو دغه غوښتنه د پاچا له خوا عملي نشوه. د پارلمان له تصویب نه یې څلور اوونۍ وروسته مالیه اخیستل پیل کړل. د پارلمان له خوا پرې اعتراضونه وشول، بالاخره پارلمان منسوخ شو.

۲. د انګلستان د حقوقو اعلامیه:

دغه اعلامیه په ۱۶۸۸هـ کال کې رامنځته شوه، دا هغه مرحله وه چې یوې خوا پانګوالۍ نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوی په پیل کېدو و او له بلې خوا مطلقه اشرافي نظام حاکم و چې د ډېرو کشمکشونو په پایله کې پارلماني مبارزه کامیابه او مشروطي نظام رامنځته شو. د پارلمان او پاچا تر منځ زیات کشمکش روان و، چې اخر د پارلمان د غړیو له خوا یو منشور ترتیب شو چې مهم ټکي یې په لاندې ډول دي.

الف. هېڅ مقام نه شي کولی چې قوانین او د هغوی اجرا معلق کړي مګر د پارلمان په خوښه.

ب. د قوانینو د تعلیق په اړه د لوړو مقامونو فرمانونه ناقانوني ښه لري.

ج. د مذهبي امورو لپاره چې د دولتي غړیو له خوا کومې محکمې جوړې شوي دي، هغه باید لغوه شي.

د: له دویم نړیوال جنګ نه وروسته د بشري حقوقو په اړه نړیوال نظام:

په لومړۍ او دویمې نړیوالو جګړو کې په میلونونو انسانانو خپل ځانونه له لاسه ورکړل. موږ د جګړو په تاریخچه خبرې نه کوو، خو پوښتنه داده چې د دواړو جګړو علت په څه کې نغښتی و؟ چې میلیونونو انسانانو په کې خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د دې لپاره له ډېر چون و چرا نه تېرېږو او په اسانه توګه ورته ځواب پیداکوو. کله چې جګړه پیدا کېږي په دې کې زیاتره مقابل جانب بانه کوي؛ خو علت یې هاغه باني نه وي؛ بلکې یو شمېر ملکونو خپل ځانونه د یو لړ امتیازاتو او حقوقو مستحق ګڼل او ځینې نور ملکونه یې قصداً او جبراً د امتیازاتو او حقوقو څخه محرومول.

دویمه مهمه خبره دا وه چې ځینو انسانانو خپل ځانونه په نژادي، مذهبي، قومي، ژبني لحاظ لوړ ګڼل او نورو ته به یې په ټیټه سترګه کتل. په پایله کې ځینو انسانانو د بدبختۍ او ذلت ژوند په دوامداره توګه لیده؛ نو د پښتو متل په تصدیق، چې تنګ شي نو په جنګ شي. خو پوښتنه دا ده چې د دغو جګړو مخه به څرنګه بنده کړای شي؟

د دې پوښتنې ځواب دومره ساده او اسانه نه دی؛ خو موږ د دې ځواب په مختصر ډول وړاندې کوو. د جګړې اصلي انګېزې باید وڅېړل شي، د انګېزو لپاره علاج اوس اسان دی؛ ځکه چې تر ټولو ښه او غوره لار داده چې د خشونت، جګړو او جنګونو مخه ونیول شي چې د انساني کرامت او برابرۍ په اړه ټول انسانان پوه شي او دولتونه د انساني کرامت، ازادۍ او برابرۍ په اړه لازم اقدامات وکړي. د انساني ضد عملونو مخه ونیول شي، انساني کرامت، ازادۍ، برابرۍ ته لاره خلاصه کړي. د دې اقدام په لاره کې تر ټولو لومړی سند د ملګرو ملتونو منشور و، چې د جګړې په نه کولو، په دایمي سولې، ازادۍ او برابرۍ باندې یې ډېر ټینګار کړی دی. د دې سند پر بنیاد ډېرې هلې ځلې شوې چې بشري حقوق قوت پیدا کړي او د ملګرو ملتونو سازمان او د ملګرو ملتونو منشور تصویب نه وروسته لومړني نړیوال د بشري حقوقو سند د نړیوالې بشري اعلامیې په نوم د هغو دولتونو له خوا چې د ملګرو ملتونو غړي ول، د رایو په اتفاق سره پاس کړل شو او په ۱۹۴۸ز کال کې تصویب شو.

له دې مهم سند نه وروسته دوه نور مهم سندونه چې یو یې مدني او سیاسي میثاق او بل یې اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي میثاق و، منځته راغلل، چې د دوو کنوانسیونونو په چوکاټ کې مطرح شول چې د اعلامیې ټول مواد په کې راټول شوي ول. د غړیو دولتونو لپاره منځته راغلل. دا دري واړه (د بشري حقوقو اعلامیه، مدني او سیاسي حقوقو نړیوال کنوانسیون او د بشري حقوقو اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي کنوانسیون) په ګډه د بشري حقوقو منشور جوړوي، چې وروسته په تفصیل سره پر هر یو بېل بېل بحث کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـ: په افغانستان کې د بشري حقوقو تاریخچه:

په افغانستان کې د خلکو اساسي ازادي اصلاً په شلمې پېړۍ کې د ۱۹۱۹ ز کال د استقلال له اخیستلو نه وروسته منځته راغله. د استقلال له اخیستلو نه وروسته تر ۱۳۸۲ل کال پورې په مختصره توګه د بشري حقوقو وضعیت د افغانستان په قوانینو کې ګورو.

الف. د خلکو حقوق او ازادي د افغانستان لوړ دولت د ۱۳۰۳ ل کال په نظامنامه کې:

د افغانستان په تاریخ کې نظامنامه لومړنی اساسي قانون و چې د غازي امان الله خان په وخت کې منځته راغی، چې د خلکو حقوق او ازادي یې په مساوي توګه وړاندې کړي ول. د توجه وړ خبره داده چې هغه وخت چې دغه حقوق او ازادي په نظامنامه کې درج شوي وو، هغه مهال لا بشري حقوق نه و لیکل شوي.

په افغانستان کې د بشري حقوقو او ازادۍ خلاصه:

۱- د تابعیت حق د افغانستان ټولو اتباعو ته مساوي دی. (۸ ماده)

۲- د شخصي حقوقو ازادي. (۹ ماده)

۳- د شخصیت خوندیتوب. (۱۰ ماده)

۴- د بنده ګۍ او مریییتوب لغوه کېدل (۱۰ ماده)

۵- د مطبوعاتو ازادي (۱۱ ماده)

۶- د شرکتونو جوړونه زراعت او نور (۱۲ ماده)

۷- د مامورینو د تخلف په صورت کې لوړو دولتي ارګانونو ته شکایت وړاندې کول. (۳۵ ماده)

۸- د تعلیم او تربیې حق د خصوصي مکتبونو او مدرسو حق (۱۴- ۱۵ ماده)

۹- د ابتدایي زده کړو اجباري کونه. (۶۸ ماده)

۱۰- د قانون پر وړاندې د دندو او حقوقو مساوات. (۱۶ ماده)

۱۱- په دولتي و ظایفو کې د شامېلېدو حق (۱۷ ماده)

۱۲- د مالیاتو ورکونه له شتو سره سم (۱۸ ماده)

۱۳- د ملکیت خوندیتوب (۱۹ ماده)

۱۴- د کور خوندیتوب (۲۰ ماده)

۱۵- د محکمې حق (۲۱ ماده)

۱۶- د ناقانوني مصادرو او اجباري کارونو منعه .(22 ماده)

۱۷- د ناقانوني مجازاتو اوشکنجو منعه. (۲۴ ماده)

۱۸- د مراسلات محرمیت.(۷۳ ماده)

۱۹- له دولتي وظایفو نه د دولت د مامورینو په ناقانوني توګه لرې کول.(۳۶ ماده)

۲۰- د محکمې علني کېدل.(۵۰ ماده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱- په ناقانوني شکل د مالیو اخیستلو منعه. (۱۸- ۵۸ ماده)
۲۲- د ټولو اشرافي نومونو ممنوعیت چې ټولنیز تبعیض راپیدا کوي.

په دغه دور کې تر ۷۷ پورې نظامنامې وجود ته راغلې چې په مختلفو برخو کې شاملې وې او د تعلیم او تربیې لپاره هم ډېراساسي او مهم کارونه وشول، چې۵۰ زرو نه زیات شاګردان په درسونو مصروف ول او یو څه تعداد بېرون ملکونو ته ولېږل شول. همدارنګه ازاد مطبوعات منځته راغلل چې (انیس جریده) او (شبنم) یې نښې بېلګې دي.

د نظامنامې نواقص:
سره له دې چې په دغه نظامنامه کې ګټور اصول ځای په ځای شوي ول، خو د دې ترڅنګ یې نواقص هم لرل چې په لاندې توګه یې خلاصه کوو.
۱- د درې ګونو قواو عدم تفکیک چې د ډیموکراسۍ او بشري حقوقو بنیاد جوړوي.
۲- ملي حاکمیت په خلکو پورې مربوط نه و.
۳- انتخاباتي حقوق نه ول.
۴- د خلکو پارلمان نه و.
۵- د پاچا ډېر صلاحیتونه او نه مسوولیت
۶- د سلطنت میراثي کېدل
۷- د مالیاتو له حد نه زیات زیاتوالی.
له دې نه علاوه د دولت په چوکاټ کې نور ډېر کمبوتات او نواقص هم ول، چې په دولت کې دننه رشوت خوړل، واسطه بازي، د خلکو کارونه نه کېدل، نفاق، یې نښې ببلګې وې. بالاخره د انګریزانو په دسیسه اماني حکومت له خلکو سره خدای پاماني وکړه. بچه سقاو راغی، چې د نوموړي په دوره کې مکتبونه وتړل شول، د خلکو روح او وجود له خطرونو سره مخامخ شو. خو دغه توره دوره ډېر زر له منځه ولاړه.

ب: د افغانستان په بېلابېلو قوانینو کې بشري حقوق:
۱. (د افغانستان علیه دولت اصولنامه) کې بشري حقوق:
په دغه اصولنامه کې زیاتره هغه حقوق موجود ول کوم چې په اساسي نظامنامه کې ول. ولې یوه خبره په اصولنامه کې زیاته شوې وه، چې ډېره ډیموکراتیکه بڼه او ولسي اړخ یې درلود، هغه دا وه چې لومړنی پارلمان په کې تاسیس شو. دې پارلمان دوه مجلسونه لرل، چې ولسي جرګه او د مشرانو جرګه ول. مشرانو جرګه به مکمله اختصاصي وه او ولسي جرګه به په نامستقیم ډول د خلکو له خوا انتخابېده. له دې اصولنامې سره سم به کابینې پارلمان ته مسوولیت درلوده، چې دا په خپله د ډیموکراسۍ یوه نښه ببلګه وه. دغه اصولنامه تر ۱۳۴۳ ل کال پورې نافذه وه.
په دغه اصولنامه کې هم یو لړ نواقص موجود ول چې په لاندې ډول یې خلاصه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- انتخابات او د انتخابېدو اصول په کې نه ول.
۲- د ښځو محرومیت له انتخاباتو څخه.
۳- د کار د حق نشتوالي او په ازاده توګه د کورنۍ د جوړلو نه موجودیت.
۴- د صحت ساتنه هم په پام کې نه وه نیول شوې.
۵- نور هغه ټول نواقص چې په اساسي نظامنامه کې ول، په دې اصولنامه کې هم لاینحل پاتې شول په استثناء له پارلمان څخه.

۲. د محمد ظاهرخان د پاچاهۍ د وخت (۱۳۴۳ ل کال) په اساسي قانون کې بشري حقوق:

د محمد زیانو د سلطنت په وروستیو دورو کې ډیموکراسۍ استحکام وموند او بشري حقوقو د افغانستان په درېیم اساسي قانون کې ځای پیدا کړ، چې په همدغه کال تصویب او نافذ شو. په دغه قانون کې زیاتره حقوق پوهانو برخه اخیستې وه او د اول ځل لپاره یې یو مشروطه نظام په عملي اساساتو سره برابر جوړ کړ او د درې ګونو قواوو ترمنځ وظایف او صلاحیتونه مشخص او له یو بل نه جدا کړای شول. په دغه قانون کې یو څه نوښتونه موجود ول چې په لاندې توګه یې خلاصه کوو:

۱- ملي حاکمیت په خلکو پورې اړه لرله. (۱ ماده)
۲- د دولت مکلفیت د انساني کرامت او ازادۍ پر وړاندې (۲۵ ماده)
۳- په داخل او خارج کې د سفر کولو ازادي (۲۶ ماده)
۴- د اتباعو شړل له هېواده ممنوع شول او هم به د افغانستان اتباع په کوم اتهام بل هېواد ته نه ورکول کېږي. (۲۷ ماده)
۵- د فکر او بیان ازادي (۳۱ ماده)
۶- د سیاسي ډلو او مظاهرو ازادي (۳۲ ماده)
۷- د حفظ الصحه حق (۳۶ ماده)
۸- د کار تضمین د حق په حیثیت د هر فرد فریضه (۳۷ ماده)
۹- ازاد، سري، عمومي او مستقیم انتخابات (۴۳ ماده)
۱۰- د پارلمان خوندیتوب (۵۱ ماده)
۱۱- د قانون تعریف او د لومړۍ منبع په حیث پېژندل (۶۹ ماده)
۱۲ په هغه صورت کې چې په کومه مسوده د دواړو مجلسونو (ولسي جرګې او مشرانو جرګې) اختلاف راشي؛ نو مسوده بېرته له مشرانو جرګې نه ولسي جرګې ته مستردېږي. که بیا هم دا مسوده د ولسي جرګې درې برخې تایید کړي، هغه فیصله قاطع ګڼل کېږي. (۷۴، ۷۵، ۷۶ مادې)

دغه حقوق چې په ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون کې ځای پر ځای شوي ول، یوه ډیموکراتیکه او ازاده بڼه یې لرله. اما د پاچا بې مسولیتي، واجب الاحترامي او د ملي حاکمیت ممثلتوب، هغه لوی عیبونه ول چې پورتني بڼه حقوق یې هم تر خپل تاثیر لاندې راوستي ول. هغه نوي احزاب چې منځته راغلل، ډېر ژر بند کړای شول او خپل فعالیت ته پرېنښودل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. بشري حقوق د سر دار محمد داود خان د وخت د ۱۳۵۵ ل کال په اساسي قانون کې:

د سردار محمد داود خان د دورې په وروستیو کلونو کې لویه جرګه راوغوښتل شوه او په ۱۳۵۵ ل کال کې یې اساسي قانون تصویب کړ. د خلکو ازادۍ او حقوق یې له پخواني قانون (۱۴۴۳ هـ ق کال) څخه کاپي کړي ول، خو ډیموکراتیکه برخه یې نسبت پخواني قانون ته کمزورې وه، ځکه چې:

1. یو حزبي نظام یې وړاندې کړی وه (۴ ماده)
2. پنځوس سلنه وکیلان یې د ملي انقلاب د حزب له خوا ول (۴۹ ماده)
3. جمهور رئیس هم د دولت په سر کې او هم د حزب په سر کې و. (۷۵ ماده)
4. د دولتي او حزبي امورو مختلط کېدل په کې ول.
5. د درې ګونو قواو ترمنځ په تفکیک کې خلل موجود و.
6. جمهوري نظام نه بدلېدونکی ګڼل شوی و. (٦، ۱۲، ۲۰ مادي)
7. د جمهور رئیس انتخابېدل د یوې جرګې پواسطه ښودل شوي ول. د دې تر څنګ یې یو څه نور مواد هم مسخه کړي ول او یو تقلبي اساسي قانون یې چې د خلکو له حقوقو او ازادیو سره مناقض و، وړاندې کړی و.

له دې نواقصو سره سره اولین ځل لپاره د افغانستان په تاریخ کې د جمهور رئیس مسوول کېدل د دولت په مقابل کې هغه څه ول، چې په نورو وړاندې قوانینو کې نه لیدل کېدل او دې مسوولیت ځانګړې مرحلې درلودې. چې په لاندې ډول دي:

اول: د ملي خیانت د ارتکاب په صورت کې د جمهور رئیس متهم کېدل به د ملي جرګې له خوا صورت مومي.

دویم: محاکمه به یې د لویې جرګې په واسطه کېږي. (۸۷_او ۹۵ مادې)

پر دې سربېره د سردار محمد داود خان په وخت کې مدني قوانین او جزایي قوانین هم تصویب شول چې د خلکو شخصي او مدني ازادۍ یې تنظیم کړې چې تر اوسه پورې نافذ دي.

۴. د ۱۳۵۹ ل کال د کمونستانو د واکمنۍ پر مهال په اساسي قانون کې بشري حقوق:

بشري حقوق د کمونستانو د وخت د ۱۳۵۹ل کال په اساسي قانون کې:

په دغه قانون کې له نورو مختلفو قوانینو څخه ګټه اخیستل شوې وه او لاندې حقوق په کې درج شوي ول.

1. د ژوند حق
2. شخصي ازادي
3. داخل او خارج ته د سفر کولو ازادي
4. د شخصیت خوندیتوب
5. د مسکن خوندیتوب
6. د ملکیت خوندیتوب
7. د بیان او فکر ازادي
8. د مطبوعاتو ازادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

9. د عقيدې ازادي
10. له تابعيت نه محرومېدل

خو متاسفانه چې دغه حقوق نه دا چې پلي نشول؛ بلکې په خپله د حکومت له خوا تر پښو لاندې شول لکه

1. په ټولیزه بڼه د خلکو وژنې
2. ناقانوني بندي کونې
3. د خلکو محاکمه د حزبي قاضیانو له خوا
4. د مطبوعاتو سانسور.
5. د خلکو ملکیتونو استملاکېدل.

۵. د ۱۳۶۶ل کال د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ پر مهال اساسي قانون کې بشري حقوق

1. د تابعیت حق
2. د اتباعو نه تبعیدول
3. د بهرنیو اتباعو حقوقو ساتنه چې په افغانستان کې مېشت وي.
4. د ژوند حق
5. ديني مسایلو کې ازادي
6. د شخصي خوندیتوب، د مسکن خوندیتوب.
7. د سیاسي احزابو جوړونه
8. د تعلیم او تربیې حق
9. د صحت حق
10. د بیان د ازادۍ حق
11. د مطبوعاتو ازادي د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې پر اساس او همداسې نور حقوق په دې قانون کې راغلي ول؛ خو بدبختانه چې تطبیق نه شول. د بېګناه خلکو بمبارېدنه او زنداني کېدنه هغه څه وه چې څوک ترې سترګې نه شي پټولی. تر دې پورې چې د دوي په خپل حزب کې مخالف غړي به هم بندي کېده. بالاخره دغې دورې هم سقوط وکړ.

۶. په (۱۳۷۱- ۱۳۸۰) کلونو کې بشري حقوق:

الف. د مجاهدینو په دوران کې:

د مجاهدینو په دوران کې د بشري حقوقو له ماتولو نه پرته بل څه نه ول، چې په لاندې ډول يې خلاصه کوو:

1. دوی د قدرت لېوني ول.
2. د قدرت لاسته راوړلو لپاره يې له وینو ډک جنګونه په لار اچولي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. د پخوانیو د ښمنیو بدلې یې په همدغه دوره کې واخیستلې.
4. قومي مذهبي سمتي نفاقونه او اختلافات ښه په درز کې روان ول.

د دغو جنګونو په پایله کې٦٠ زره انسانان یوازې په کابل ښار کې نابود شول. د کابل ښار له بنیاده ونړېد، په زرګونو انسانان بهرنیو هېوادونو مهاجرت کولو ته اړ شول. فقر، لوږه او پرېشاني حاکمه شوه. د بشري حقوقو هغه مواد چې په ډېره صریحه توګه مات شوي دي په لاندې توګه خلاصه کوو:

۱. په نا نظامي منطقو سخته بمباري کونه، په زرګونو بې ګناه انسانانو وژنه او معیبونه.
۲. په شفاخانو، مسجدونو، کورونو، او د ودونو پر محفلونو بمباري کول.
۳. د خلکو په کورونو کې امنیتي پوستې جوړول.
۴. خلکو ته له کورونو څخه د وتلو اجازه نه ورکول.
۵. په شهرنو کې بمونه انفجارول.
۶. د شخصي زندانونو جوړول او د خلکوشکنجه کول.
۷. بې موجبه اتهامونه، انساني کرامت تر پښو لاندې کول، لکه د لاسونو، پښو، پوزې او غوږونو پرې کول.
۸. د پیسو له امله تښتونې.
۹. د شخصي مالونو چور او چپاول.
۱۰. د فرهنګي اثارو قاچاق.
۱۱. د خلکو پر ناموس تجاوز کول.
۱۲. غلا او ډاکې.

ج. د طالبانو په دوران کې:

سره له دې چې طالبانو هم د بشري حقوقو پر وړاندې رنګارنګ جرمونه کړي دي؛ خو د مجاهدینو د دورې جنایتونو خلک دې ته اداره کول چې د مجاهدینو په مقابل کې د طالبانو طرفداري وکړي.

د طالبانو په دوره کې چې کوم بشري حقوق تر پښو لاندې شوي دي په لاندې توګه یې خلاصه کوو.

۱. د مکتبونو ټړل په ځانګړې توګه د نجونو مکتبونه.
۲. په دولتي شعبو کې ښځو ته د کار اجازه نه ورکول.
۳. جنګي بندیان په خاورو کې ښخول.
۴. په ټولیز شکل وژنه (عامه وژنه یا جینو سایډ)
۵. د سولې او طبي خدماتو ته نه توجه.
۶. له دولت څخه د کارمندانو ایستنه.
۷. مامورینو ته معاش نه ورکول.
۸. د سالم افغاني فرهنګ له منځه وړل.
۹. د بشري حقوقو په اړه ملګرو ملتونو ته غوږ نه نیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰. تروریستي اعمال پر لاره اچول.

۷. د ۱۳۸۲ ل کال په اساسي قانون کې بشري حقوق:

د ۱۳۸۲ ل کال په اساسي قانون کې بشري حقوق په کُلي توګه ذکر شوي دي. اما کومې خلاوې چې په پخوانیو قوانینو کې د بشري حقوقو په اړه موجودې وې، په دې قانون کې نه تر سترګو کېږي، چې په لاندې توګه یې خلاصه کوو:

۱. د ژوند حق
۲. د قانون پر وړاندې د ښځو او نرانو د مساوات حق.
۳. د براة الذمې حق.
۴. د شخصي خوندیتوب حق.
۵. د ملکیت او مسکن د خوندیتوب حق.
۶. د صحت حق.
۷. د بیان ازادۍ حق.
۸. د مطبوعاتو د ازادۍ حق.
۹. د تعلیم او تربیې حق.
۱۰. د ابتدایي تعلیم اجباري کېدنه.
۱۱. د فردي مسوولیت حق.
۱۲. د افغانستان په قوانینو کې د بشري حقوقو رعایت
۱۳. د تابعیت حق
۱۴. د نه تبعید حق
۱۵. د درې ګونو قواوو ترمنځ تفکیک.
۱۶. د سیاسي احزابو جوړولو حق.
۱۷. په شکنجې، جبر او زور د اعتراف اخیستلو ممنوع کېدل.

په لنډه توګه، بشري حقوقو ته په کامله توګه په دغه قانون کې ځای ورکړل شوی دی؛ خو په عملي توګه اوس هم بشري حقوق د زورواکانو له خوا په دولت کې او له دولت نه دباندې په پراخه پیمانه تر پښو لاندې کېږي، چې په لاندې توګه یې خلاصه کوو:

۱. د مسکن نه خوندیتوب، په نیمه شپه کې بهرني ځواکونه او دولتي غله د خلکو کورونو ته په خپل سر ننوځي.
۲. پر مسجدونو غیرنظامي ځایونو باندې بمباري کول.
۳. د ودونو پر محفلونو باندې بمباري کول، په دې بانه چې دلته تروریستان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. په جبر او زور له متهمینو نه اعتراف اخیستنه.
۵ په زور او جبر دولتي او شخصي ملکیتونه د جنګسالارانو له خوا قبضه کول او بې له کوم سنده په نورو خرڅول.
۶. په زور، جبر او توطیو سره د ښارونو قیمتي ځمکې په دولتي مقاماتو پورې اړونده کړیو له خوا چورول او په ناقانوني توګه د هغوی ابادول او خرڅول یې.
۷ : اداري فساد چې د یو فرهنګ په صفت بدل شوی دی.
۸ : دولت د څو کړیو په لاس چلول
۹ : د تقلبي ډیمو کراسي پلي کول چې د واقعي د یموکراسۍ مخه پرې ونیسي.
۱۰ : دخلکو دوسیو ته دقانون سره سم رسیدګي نه کول
۱۱: د قانون ترپښو لاندې کول د جمهور رئیس، وزیرانو او شورا له خوا

پایله:
بشري حقوق په افغانستان کې د غازي امان الله خان له وخت (۱۹۱۹کال) نه په ډېره ښه تو ګه په اساسي نظامنامه کې درج شوي دي. دا هغه مهال و چې خپله بشري حقوق نه ول تصویب شوي؛ خو د افغانستان په اساسي نظامنامه کې موجود ول. ولې ځینې کمۍ یې هم لرلې.
له دې وروسته په اساسي اصولنامه کې هم هماغه بشري حقوق تایید شوي ول او د ۱۳۴۳ ل کال په اساسي قانون کې یې ډېری کمۍ له منځه لاړې. د ډیموکراسۍ یو څه ښه دور پیل شو، خو په هغه قانون کې د شاهي نظام صلاحیت له عدم مسوولیت سره ملګری و. د ۱۳۵۶ ل کال په اساسي قانون کې بیا هم بشري حقوقو ته ډېره پاملرنه وشوه او د ۱۳۵۹ ل کال په اساسي قانون کې بشري حقوق په نوم موجود ول؛ خو په عمل کې په سترګو نه لیدل کېدل. د مجاهدینو او طالبانو په دورو کې بشري حقوق په ډیره کچه نه مراعات کېدل د ۱۳۸۲ل کال په اساسي قانون کې بشري حقوق په کُلي توګه په نظر کې نیول شوي دي. خو په عملې برخه کې لا اوس هم ډېرې نیمګړتیاوې او ستونزې وجود لري.

تمرین:
د نړیوالو جګړو عوامل څه ول؟
1. ایا له میلاد نه وړاندې د بشر د حقوقو نمونې وې؟
2. د ملګرو ملتونو منشور په کوم کال کې تصویب شو؟
3. د بشر حقوق په افغانستان کې د اول ځل لپاره په کوم قانون کې پیل شول؟
4. په کلي توګه د افغانستان کوم اساسي قانون د بشر حقوقو د مراعات کولو حکم کړی؟
5. په افغانستان کې په کوم دور کې د بشر حقوق په زیاته توګه پایمال شوي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېیم څپرکي

د بشري حقوقو منشور او نړیوال کنوانسیونونه (ژمنلیکونه)

الف: د بشري حقوقو منشور:

دبشري حقوقو د منشور تعریف:

(د بشري حقوقو منشور) عبارت دی د بشري حقوقو له نړیوالې اعلامیې او د مدني، سیاسي، فرهنګي، ټولنیز او اقتصادي حقوقو له کنوانسینونو (ژمنلیکونو) څخه..

دغه دوه کنوانسیونونه چې د مدني او سیاسي حقوقو او فرهنګي، ټولنیز او اقتصادي حقوقو څخه عبارت دي. په حقیقت کې د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې مواد په کې راټول شوي دي؛ خو په لږ څه بدلون او تفصیل سره. کومو هېوادونو چې د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې باندې تعهد کړی، د دغو دوو سندونو په رعایت کولو باندې هم مجبور او مکلف دي چې ویې مني او تعهد پرې وکړي، ځکه چې دغه دواړه سندونه هم د بشري حقوقو له نړیوالې اعلامیې سره ټرلي دي چې هر یو یې په تفصیل سره لوولو..

ب: د بشري حقوقو نړیوال کنوانسیونونه:

د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې نور میثاقونه او کنوانسیونونه هم شته چې مهم یې په تفصیل سره ذکر کوو:

۱- د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال کنوانسیون (ICCRP) چې په ۱۹۶۶ ز کال کې تصویب شوی دی.

۲- د اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو حقوقو نړیوال کنوانسیون چې د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال کنوانسیون سره یو ځای تصویب شوی دی.

- **د نړیوالو مدني او سیاسي حقوقو لومړنی اختیاري پروتوکول.**
- **د نړیوالو مدني او سیاسي حقوقو دویم اختیاري پروتوکول.**
- **د هر نوعه نژادي تبعیض ختمېدو په اړه نړیوال کنوانسیون چې د ۱۹۶۵ز کال د ډسمبر په ۲۱ تصویب شوی.**

۳- د هر نوعه نژادي تبعیض ختمېدو په اړه د نړیوال کنوانسیون اختیاري پروتوکول.

۴- د شکنجې، نا انساني حرکت او سخت برخورد د ختمېدو په اړه نړیوال کنوانسیون چې د ۱۹۸۴ زکال د ډسمبر پر ۱۰ نېټه تصویب شوی دی.

۵- د ماشومانو د حقوقو نړیوال کنوانسیون چې د ۱۹۸۹ ز کال په نوامبر کې تصویب شوی دی.

- **د ماشومانو د حقوقو نړیوال اول اختیاري پروتوکول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

❋ د ماشومانو د حقوقو نړیوال دویم اختیاري پروتوکول.

٦- د مهاجرینو په اړه نړیوال کنوانسیون.

۷- د ډله ییزې وژنې یا جینوسایډ ممنوع کېدو په اړه نړیوال کنوانسیون چې د ۱۹۴۸ ز کال د ډسمبر پر ۹ نېټه تصویب شوی دی.

ج: افغانستان او نړیوال کنوانسیونونه:

کوم هېوادونه چې د بشري حقوقو په اړه په نړیوالو اسنادو باندې لاسیلک وکړي دا په دې مانا دی چې نړیوال کنوانسیون په رسمیت پېژني؛ نو د هغوی ملاتړ او ساتنه پرې هم لازمي کېږي. د افغانستان په اساسي قانون کې (اومه) ماده څرګند وضاحت لري چې د بشري حقوقو او نړیوالو کنوانسیونونو رعایت به کوي، نو افغانستان لاندني کنوانسیونونه په رسمیت پېژندلي دي.

۱- نړیوال فرهنګي، ټولنیز، اقتصادي او حقوقي کنوانسیون چې ټول ۳۱ مادې لري او افغانستان د ۱۹۸۳ز کال د اپرېل پر ۲۴ نېټه لاسلیک کړی دی.

۲- نړیوال مدني کنوانسیون چې ۵۳ مادې لري او افغانستان د ۱۹۸۳ز کال د اپرېل په ۲۴ نېټه لاسلیک کړی دی.

۳- د هر ډول نژادي تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون چې ټول ۲۵ مادې لري او د ۱۹۸۴ ز کال د دسمبرپر ۲۱ نېټه افغانستان لاسلیک کړی دی.

۴- د شکنجې او نا انساني حرکت منعه کېدو کنوانسیون چې ټولې ۳۳ مادې لري اود ۱۹۸۷ ز کال د اپرېل پر ۲٦ نېټه افغانستان لاسلیک کړی دی.

۵- د ښځو پر وړاندې د نه تبعیض کنوانسیون چې ټولې ۳۰ مادې لري او د ۱۹۸۴ ز کال د دسمبر په ۱۸ نېټه افغانستان لاسلیک کړی دی.

٦- د طفل نړیوال کنوانسیون چې ۵۴ مادې لري او د ۱۹۹۴ ز کال د اپرېل په ۲۷ نېټه افغانستان لاسلیک کړی دی.

۷- د ماشومانو په اړه اختیاري پروتوکول چې په مسلحانه جګړه کې به نه شاملېږي او ټول ۱۳ مادې لري د ۲۰۰۳ ز کال د سپتامبر په۲۴ نېټه تصویب شوی او په همدغه نېټه افغانستان پرې لاسلیک کړی دی.

۸- د ماشومانو د خرڅلاو د منعه کېدو کنوانسیون چې ټول ۱۷ مادې لري او د ۲۰۰۲ ز کال د اکتوبر پر ۱۹ نېټه تصویب او اعلان شوی او پر همدغه نېټه پرې افغانستان لاسلیک هم کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د: د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه:

د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه په ۱۹۴۸ ز کال کې د ملګرو ملتونو عمومي مجلس له خوا تصویب شوې چې یوه نړیواله بڼه لري او د ډېرو ملتونو له خوا استقبال شوې ده. دا یو داسې جامع او کُلي سند ګڼل کېږي چې د بشري حقوقو او ازادیو په باره کې د دې په څېر بل سند نشته. دغه سند په حقیقت کې د ټولو اعلامیو، حقوقي سندونو، ديني، اخلاقي او عقیدتي تعلیمونو پایله ده.

د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې اهمیت:

د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې مهم ټکي په لاندې توګه خلاصه کوو:

اول: د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه مهمه ځکه ده چې نړۍ شموله ده. په دې مانا چې ټولې دنیا د ټولو وګړیو لپاره صرف نظر له نژاد، مذهب، جنس، ژبه، کولتور، تابعیت، ټولنیز موقف، او جغرافیاوي حدودو څخه خلک تر ې ګټه اخلي او دولتونه یې ملاتړ او ساتنه کوي، چې همدغه ذکر شوی مفهوم په ټولو بشري حقوقو کې موجود دی. د ملګرو ملتونو منشور لومړۍ ماده په دې اړه څرګند وضاحت لري چې (د دې سازمان هدف د بشري حقوقو په اړه نړیوالې ټولنې سره کومک کول، او د هغې تشویقول دي او د اساسي ازادۍ په اړه او د دغو حقوقو د اجرا په اړه باید ټول انسانان بې له نژادي، جنسي، ژبني او ديني تبعیضاتو کومک او همکاري وکړي. یوازې انسان د انساني کېدو له امله له دغو حقوقو څخه ګټمن کېدای شي).

اول. دغه اعلامیه نړیواله ځکه ده چې د نړۍ ډېرو ملتونو، دولتونو او سازمانونو منلې ده؛ نو نړیواله بڼه کومه مانا لري؟

دویم: دغه اعلامیه ځکه مهمه ده چې الزامي بڼه لري اما نورې پخوانۍ اعلامیو الزامي بڼه نه لرله.

درېیم: د دغې اعلامیې اهمیت په دې کې و، چې د انسانیت اساسي غوښتنې ټولې په کې ځای پر ځای شوي دي لکه مساوات، ازادي، برات الذمه او همداسې نور.....

څلورم: دغه اعلامیه یوه ایډیالوژیکي بڼه لري، هېڅوک د دې اعلامیې له موادو څخه انکار نشي کولای.

پینځم: د دې اعلامیې اهمیت په دې کې دی چې له نورو اعلامیو څخه کُلي او جامع حیثیت لري.

د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې مواد:

د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې مواد په لاندې توګه خلاصه کوو:

۱- د ژوند او شخصي امنیت حق (۳ ماده)

۲- د شکنجې او بردګۍ منعه کېدو حق (۴ ماده)

۳- د حقوقي شخصیت پېژندلو حق (۶ ماده)

۴- د قانون پر وړاندې د مساوات حق (۷ ماده)

۵- پر خپل سر د توقیف او تبعید ممنوعیت (۹ ماده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦- محاکمو ته د رسیدہ ګی حق (۱۰ ماده)
۷- د براة الزمه حق (۱۱ ماده)
۸ - له قانون څخه ملاتړ (۱۲ ماده)
۹- د عبور او مرور حق (۱۳ ماده)
۱۰- د مهاجرت حق (۱۴ ماده)
۱۱- د تابعیت حق (۱۵ ماده)
۱۲- د واده حق (۱٦ ماده)
۱۳- له کورنی څخه ملاتړ (۲ فقره ۲۰ ماده)
۱۴- د مالکیت حق (۱۷ ماده)
۱۵- د فکر، وجدان او مذهب حق (۱۸ ماده)
۱٦- د بیان او عقیدې حق (۱۹ ماده)
۱۷- د ټولنو د تشکیل حق (۲۰ ماده ۱ فقره)
۱۸- د سیاسي مشارکت حق (۲۱ ماده)
۱۹- د ټولنیز امنیت حق (۲۲ ماده)
۲۰- د کار حق (۲۳ ماده)
۲۱- د اتحادیه وو د جوړېدو حق (۴ فقره ۲۳ ماده)
۲۲- د تفریح او استراحت حق (۲۴ ماده)
۲۳- د مناسب ژوند جوړولو حق (۲۵ ماده)
۲۴- د تعلیم او تربیې حق (۲٦ ماده)
۲۵- په فرهنګي ژوند کې د ګډون حق (۲۷ ماده)
۲٦- د معنوي ملکیت حق (۲۸ ماده)
۲۷- د تیري په مقابل کې د جزا حق (۸ ماده)
۲۸- په غونډه کې د شامېلېدو حق (۲ فقره۲۰ ماده)
۲۹- نړۍ ته د سفر کولو حق.
۳۰ – په ملک کې د خپلې خوښې په ځای کې د اوسېدو حق.

هـ. د بشري حقوقو جامع او کُلي اصول:

د بشري حقوقو جامع او کُلي اصول په دوه ډوله دي.
الف: د شکلیاتو له نظره د بشري حقوقو اصول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: د ماهیت له نظره د بشري حقوقو اصول

د بشري حقوقو اصول د شکل له نظره ټول تطبیقي روشونه او پرنسیپونه دي. یانې د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه په دوو میثاقونو کې ذکر شوې ده، هېوادونه باید هغه میثاقونه لاسلیک کړي او کوم هېوادونه چې میثاقونه لاسلیک کړي نو د اعلامیې مواد پرې الزامي بڼه پیدا کوي او په خپلو اساسي قوانینو کې به دا د یو پرنسیپ په توګه مني، نو په دې توګه حقوقي قاعده ځانته غوره کوي او په دولت الزامي کېږي.

د بشري حقوقو اصل د ماهیت له نظره په دې مانا دي چې د بشري حقوقو اساس او ماهیت بیانوي او یو معیار ټاکي چې ایا دغه معیارونه په لوړه کچه دي، که په ټیټه او که په منځنۍ توګه. نو بشري حقوق په ډېره لوړه کچه دي؛ ځکه چې جامع او کُلي اصول دي، جامعیت او کُلیت یې په دوو ټکیو کې نغښتی دی:

۱- مساوات

۲- ازادي

۳. وروروليي

د بشري حقوق عمومي او کُلي اصول عبارت دي له ازادۍ ،وروروليۍ او مساوات څخه، چې هر یو یې په لاندې توګه څېړو:

اول. ازادي :(Liberty)

د ازادۍ مفهوم:

د سیاست په علم کې مهمه خبره داده چې له ازادۍ څخه مقصد څه دی؟ نو عالمانو د دې لپاره بېلابېل مانا ګاني کړي دي؛ خودا زادي فلسفه دا ده چې:

ازادۍ ته په انګریزۍ کې(Liberty) وایي او په لاتینۍ ژبه کې ورته (Libber) وایي چې وتلې مانا یې (له هر رنګ خنډونو او بندیزونو څخه انکار یانې Absence of Restriction (له کوم خنډ پرته د خپلې خوښې استعمال مکمل حق). خو سوال دا پیدا کېږي چې ایا داسې ازادي امکان لري؟ نه ځکه چې هر څوک په هر کار کې ازاد شي؛ نو بیا د دولت سیاسي ټولنې وجود نه پیدا کېږي؛ بلکې قانون به مات شي او داسې حالات به رامنځته شي، لکه چې هوبز د فطري دور په نظریه کې ویلي دي: ازادي به دومره لوړه شي چې د ازادۍ په نوم به یو بل وژني، مالونه به لوټ شي. که یو سړی غواړي پیاده لاړ شي او د سړک په منځ کې روان وي او بل په موټر کې نو دواړه د ازادۍ په نوم پر سړک روان دي؛ نو پایله به یې څرنګه وي؟ په دغه صورت کې به هر زورور له کمزوري څخه د ازادۍ په نوم بده ګټنه کوي او ټولنه به بې نظمه شي.

خو د ازادۍ لپاره اصلي خبره دا ده چې په ټولنه کې یو څه اصول او بندیزونه وي او د ازادۍ د صحیح تمثیل کېدو لپاره د بندیزونو وجود بالکل ضروري دی. ازادي د حقوقو مېوه ده او حق د ازاد کار کولو هغه قوي نوم دی چې ټولنې منلی دی او د صرف النظرو خوښیو لپاره استعمالېږي. پر ازادۍ باندې پابندي لګول دا دي چې د ازادۍ دومره خیال او فکر وکړي چې څومره یو سړی د خپل ځان په اړه کوي. د یو سړي ازادي هغه وخت ختمېږي چې له کوم وخت نه د بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادي پیلېږي.

جان ستوارټ په خپل کتاب (On Liberty) کې د ازادۍ لپاره وایي چې د انسان کړه وړه په دوه ډوله دي یو هغه دي چې په شخص پورې تعلق لري دویم هغه دي چې په خلکو پورې اړیکې لري؛ نو کوم کړه وړه چې په شخص پورې اړه لري، پر هغو کوم بندیز نه شته او کوم کړه وړه چې په خلکو پورې اړه لري، پر هغو باندې بندیز شته دی.

په ازادي باندي د بندیزونو مثبت اړخونه:

کوم څه چې په ټولنې پورې اړه لري د هغوی نه تر هغې وخته پورې خوند نه شي اخیستل کېدای چې تر څو پورې پرې پابندي نه وي؛ خو دغه پابندي باید مثبت اړخ ولري، لکه له سرقت څخه ممنوعیت، یا د ترافیکو قوانین. نو له دغو بندیزونو څخه چاته هم کوم ضرر نه رسیږي او که بندیزونه منفي وي لکه له لوړو زده کړو څخه محرومېدل یا د رشوت اخیستلو ازادي؛ نو دغسې ازادۍ چاته هم ګټه نشي ورکولی؛ بلکې په ټولنه کې بې نظمي راولي. نو وتلي لیکوال داسې وایي چې په متمدن دور کې د شخص د خوښۍ لپاره ضروري ضمانت د ټولنې صلاحیتونه او قدرونو باندې د بندیزونو لګول د ازادۍ نوم دي.

د ازادۍ ډولونه:

۱. فطري ازادي Natural Liberty
۲. ښاري ازادي Civil Liberty
۳.اقتصادي ازادي Economi Liberty
۴. سیاسي ازادي Political Liberty
۵. ملي ازادي National Liberty
۶. د بیان ازادي Freadon of speech

فطري ازادي Natul Liberty

له فطري ازادۍ څخه مراد طبیعي ازادي ده چې بې له کوم سوچ او فکر څخه ورکړل شوي وي، صرف النظر له دې نه که څوک پرې خوشحال وي یا خفه. چې په دې کټګورۍ کې روحاني ازادي هم راتلی شي او د ځینو په نظر له فطري ازادۍ څخه هم هغه ازادي مراد ده چې کوم بندیز ونه لري. نو له دې وجې فطري حقوق هم مورِ ته حاصل دي؛ نو له دې فطري حقوقواو ازادۍ څخه ګټه اخیستل پکار دي، خو له دې ګټې سره سره د دې حقوقو او ازادیو ساتل هم اړین دي. ساتل یې په هغه صورت کې کېدای شي چې د نورو حقوقو او ازادیو ته هم نقصان ونه رسیږي، ځکه چې که نقصان ورسیږي نو زمورِ ازادي هم نه پاتې کیږي نو بیا هم هماغه د هوبز د فطري دور خبره ده.

له فطري ازادۍ څخه مقصد دا دي چې انسانان څه نا څه یو شان خویونه لري، نو یو شان سلوک هم ورسره په کار دی. د سیمې او ولس تر منځ ډېر توپیر موجود دی، خو ژوند پراونو کې توپیر لري همدا راز انسانان هم په طبیعتونو او صلاحیتونو کې توپیر لري، خو ضروریتونه یې لکه خوراک، څښاک، صحت، او ارام یو شان دي. نو له فطري ازادۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقصد دادی چې په یو شان ضروریاتو کې پر چا باندې ناروا بندیز لګول نه دي پکار.

ښاري ازادي:

له دې څخه مراد هغه ازادي ده چې یوه سیاسي ټولنه یې مورِ ته راکوي په دې کې ټول هغه حقوق مورِ ته حاصلېږي چې فرد په کې له ښه نه ښه ژوند تېر کړي او ټولې اساتیاوې په کې حاصلېږي او دغو ازادیو ته د قانوني ازادیۍ ملاتړ هم حاصل وي. که څوک یې سلب کړي؛ نو دولت یې د کومک لپاره تیار وي. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه د خلافت په لومړیۍ خطبه کې په څرګنده وویل چې ستاسو توانمند تر هغه وخته ماته کمزوری دی او کمزوری توانمند دی، تر څو له توانمند څخه ورته حق وانخلم؛ نو تر دې ازادیۍ لاندې مورِ ته اصلاً د ژوند حق، د ملکیت حق، د قرارداد او تړون حق، د بیان د ازادیۍ حق، د مذهب حق، د کورنۍ جوړولو حق، د تمدن حق رائي. روسو وایي چې: انسانان اصلاً ازاد پیدا شوی دی؛ خو نن د مریيتوب په ځنځیرونو په هر ځای کې تړل کېږي. یو ځل حضرت عمر رضی الله تعالی عنه خپل د مصر والي ته وویل چې خلک له مور څخه ازاد پیدا شوي دي تاسو یې له کوم وخته مریان کوئ؛ نو ګویا د خلکو د ګټو ساتونکی دولت دی.

۳- اقتصادي ازادي:

له دې څخه مقصد دا دی چې ژوند او اقتصاد باید دومره تنګ نه کړای شي چې هر څه پرېږدي، له زندګۍ سره خدای په اماني وکړي، تریاک کوکاییینو او یا مرګ ته مخه کړي. دولت باید داسې حالات را پیدا کړي چې هر سړی په ښې طریقې سره خپل ژوند ښه جوړ کړي. د کارل مارکس په نظر، اصلي ازادي هغه چاته حاصله ده چې په ژوند کې ازاد وي، که یو څوک د خپټې له وجې نورو ته اړ وي نو دی کله د هغوی پر خلاف اقدام کولای شي. په ننني جمهوري دور کې اقتصادي ازادي ډېره مهمه ده ځکه چې سړی خپله رایه هغه وخت صحیح استعمالولای شي چې په نس مورِ وي.

د اقتصادي ازادیۍ لپاره داسې قوانینو ته اړتیا ده چې سرمایه په یو څو لاسو کې انحصار ونه کړي او هر سړی له سرمایې څخه برخمن شي، تر دې ازادیۍ لاندې د بشري حقوقو په رڼا کې کار ذکر شوی دی او دهقانان کولای شي ځانته صنفي اتحادیې جوړې کړي.

۴. د بیان آزادي:Freadon of speech

د بیان په ازادیۍ کې د عقیدې، سیاست، مذهب، د ټولنو، ښوونې او روزنې، مطبوعاتو او لاریونونو ازادیۍ شاملې دي، چې د هر یو په اړه یې جدا جدا بحثونه په نړیواله اعلامیه، مدني او سیاسي، اقتصادي او فرهنګي نړیوالو تړونونو کې شوي دي او دوباره تکرار ته یې اړتیا نشته.

۵- سیاسي ازادي:Political freedon

له سیاسي ازادیۍ څخه مقصد دا دی چې هر سړی په ملي سیاست کې داخلېداي شي. خلکو ته دا حق حاصل وي چې څرنګه حکومت خوښوي او څرنګه قانون ځان لپاره غوره کوي او څرنګه له خپلې رایې او بیان ازادیۍ څخه ګټه پورته کوي؛ خو د سیاسي ازادیۍ لپاره هم اقتصادي ازادي مهمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶: ملي ازادي:

له ملي ازادۍ څخه مقصد دا دی چې یو قوم لپاره د دولت مهم ضروري رایې او د دولت لپاره حاکمیت اړین وي په دې مانا چې کوم بل داسې طاقت او توان پیدا نه شي چې په قومي خپلواکۍ اغیزه وکړي.

د ملي او سیاسي ازادۍ تر مینځ توپیر:

په ملي او سیاسي ازادۍ کې ډېر توپیر دی. په دوی کې نسبت عموم خصوص من وجه دی. دا یوه علمي اصطلاح ده (سیاسي ازادي په یو فرد پورې او ملي ازادي په یو ملت پورې اړه لري. یو ملت ته کېدای شي چې ملي ازادي حاصله وي؛ خو له سیاسي ازادۍ څخه محروم وي، چې د دې ښه بېلګه د پاکستان هېواد دي، د دیکتاتوري حکومتونو پر مهال، چې ملي ازادي یې لرله اما سیاسي ازادي یې نه لرله. نور مثالونه یې چین او روس دي، چې خلکو ته یې ملي ازادي وه، خو سیاسي ازادي نه وه، ځکه چې ټول واکونه د کمونیست حزب په لاس کې ول. داسې هم کېدای شي چې یو ملت ته دې دواړه ازادۍ حاصلې وي، د دې ښه مثال امریکا، برتانیه او همداسې نور چې ملي او سیاسي ازادۍ دواړه لري.)

ازادي او قانون : (Liberty and Law)

ازادي د سیاست داسې موضوع ده چې تر نن پورې د انسان عقل او فکر پرې سم نه دي پوی شوي. سوال دا پیداکېږي چې ایا ازادي په قانون کې زیاتوالی راولي که کموالی؟ په دې اړه درې مکتبونه وجود لري چې هر یو یې ځانته تشریح کوو.

اول: د ډیکتاتوریۍ مکتب:

په دغه مکتب کې وایي چې په قوانینو کې څومره زیات بندیزونه وي هغومره به امن وي چې د دې نظریې بنسټګر جرمنی فیلسوف هیګل وایي، چې دولت د عقل، پوهې او صداقت یوه مجسم دی؛ نو د دې لپاره ضرور دي چې د خوښۍ او امن ژوند لپاره داسې اصول جوړ کړای شي چې دغه ټولې ښېګڼې په کې راټولې شوې وي؛ نو بې انصافي په کې له منځه ځي، خلک په کُلي توګه ازاد وي څومره چې د قانون دروازه خلاصېږي، یانې قوانین ډېرېږي، هغومره به خلک ازادېږي.

دویم: د فرد د اصالت مکتب:

دوی وایي چې خلک پر دې پوهېږي چې دولت د قدرت حاکمیت دي. قانون د ازادۍ ضد دی. قانون او دولت خلک بېلارې کوي، خو دا چې له نظم پرته ټولنه نه شي پاتې کېدای؛ نو قانون یوازې د امن لپاره مناسب دی. نور خلک ازاد پرېښودل په کار دي تر دې پورې چې د ژوند ضرورتونو کې ازاده مقابله وکړي. څوک چې د ژوند وړ وي ژوند دې وکړي او څوک چې کوښښ نه کوي؛ نو هغه به همداسې پاتې وي. د دوی له نظره قانون باید په معاملو کې داخل نشي، څومره چې قانون په معاملو کې داخلېږي هغومره ازادي سلبېږي.

درېم: د اناکېزم مکتب:

دغه مکتب له فردي اصالت څخه یو څه وړاندې ځي، دوی دولت او قانون د ازادۍ لپاره خنډ ګڼي، دوی دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختمول غواړي. د دوی له نظره حیوانات په ځنګل کې بې له قانون او دولته ازاد ژوند لري همداسې انسانان کولای شي چې بې له دولته او قانون څخه ژوند وکړي.

سمه لار:

په دې مکتبونو کې سم لاره د اعتدال لار ده. نه مطلقاً ازادي، چې ټولنه بې بندوباره کړي او نه ډیکتاتوري قوانین چې د انسان طبیعي ازادۍ هم له منځه یوسي. په جمهوري نظام کې له قوانینو سره سره خلکو ته ازادي حاصله وي. دا چې قانون پر ازادۍ باندې پابندي لګوي او که یې همداسې پرېږدي، د قوانینو په نوعیت پورې اړه لري. څه قوانین داسې دي چې د ازادۍ ساتنه کوي او څه داسې دي چې ازادي له منځه وړي. د بشري حقوقو یو عمده اصل ازادي ده، چې انسان باید په خپلو شخصي معاملو کې ازاد وي. د نړیوالې اعلامیې اوله ماده هم په دې اړه څرګند وضاحت لري چې ټول انسانان ازاد نړۍ ته راځي او د حقوقو او حیثیت له پلوه سره برابر دي، ټول د عقل او وجدان درلودونکي دي او باید یو له بل سره د ورورګلوۍ په روحیه چلن وکړي.

دویم: مساوات:Equality

د مساوات مفهوم:

د مساوات مانا برابروالی دی. د دوو کسانو تر منځ د مساوات نه مطلب دا دی چې دواړه یو شان دي. د مساوات منونکي وایي، چې په ټولنه کې هر سړی په هر لحاظ له نورو سره برابر دی. ټول خلک په یوه کچه دي، یو هم پر بل باندې برتري نه لري، نو د مکمل مساوات تصور له مکملې ازادۍ څخه لاسته راځي. د مساوات له نظره که یو سړي ته موټر ورکړل شوی وي او بل ته نه وي ورکړل شوی؛ نو دا سمه خبره نه ده. دوی داسې دلیل وایي چې ټول انسانان د پیدا کېدو، تربیې، ماشوموالي، ځوانۍ، بوډاتوب او مرګ له مرحلو څخه تېرېږي؛ ټول انسانان د بیماریو او حوادثو ښکار کېږي، ټول انسانان یو شان خوراک او خوځښتونه کوي، خپل توان مصرفوي، پیسې ګټي، خپل ضرورتونه پوره کوي او له یو بل سره کومک کوي؛ نو له دې کبله په ټولیز لحاظ د دوی مرتبه یو شان ده؛ نو د ژوند اسانتیاوې هم ورته یو شان برابرول ضروري دي.

نن د مساوات دعوه کوونکي سوسیالستي هېوادونه دي؛ خو دغسې مساوات امکان نه لري ځکه چې په پیدایښتي ډول ځینې انسانان صحت لرونکي وي او ځینې کمزوري؛ ځینې هوښیار او ځینې کمعقل، ځینو ته د ښې اب و هوا زمینه برابره وي او ځینو ته نه وي؛ ځینو ته ښه چاپېریال پیدا شي، صلاحیتونه یې وده وکړي او ځینو ته صلاحیت سره بد چاپېریال پیدا شي، چې پایله یې بده وي. له دې پرته ځینې خلک په طبعي ډول د انجینرۍ، ډاکټرۍ، وکالت او شاعرۍ ځانګړې استعداد لري، نو له دې کبله د مساوات تصور صحیح نه دی؛ نو که د یو عادي مامور او وزیر معاش او سهولتونه یو شان شي، نو بیا وزیر دومره لوی مسوولیتونه ولې پر غاړه واخلي. که د یو پولیس او والي واکونه یو شان شي؛ نو د والي خبره به څوک واوري؟ او کله به پولیس پر والي بدلیږي او والي پر پولیس، چې له دې څخه معلومېږي چې بشپړ مساوات یو ډول انارشېزم منځته راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشري حقوقو په نړیواله اعلامیه او تړونونو کې او د افغانستان په اساسي قانون کې له مساوات څخه مقصد دا دی چې:

۱: ټولو انسانانو ته د ودې او فطري صلاحیتونو د بیدارولو لپاره باید یو شان چاپېریال برابر شي.

۲: د قانون پر وړاندې مساوات یانې قانون کې به غریب او شتمن یو شان وي.

۳: د هر سړي د رایې اهمیت به یو شان وي که غریب وي او که شتمن.

۴: د رنګ، شکل او مذهب پر اساس باندې به چا ته ترجیح نه ورکول کېږي، په ټولنیز ژوند کې ټول یو شان دي.

د مساوات ډولونه Types of Equality

د مساوات ډولونه عبارت دي له:

۱: فطري مساوات

۲: ټولنیز مساوات

۳: ښاري مساوات

۴: سیاسي مساوات

۵: اقتصادي مساوات

۶: قضایي مساوات

۱. فطري مساوات:

له فطري مساوات نه مقصد دا دی چې د پیدا کېدو په لحاظ ټول انسانان یو برابر دي او د شکل، رنګ او شتو په بنسټ به له چا سره سلوک نه کېږي. لکه چې حضرت عمر رضی الله تعالی عنه فرمایي:

انسانان له میندو ازاد پیدا دي، همدارنګه ده به ویل چې: انسانان ازاد پیدا دي. د فطري مساوات مقصد دادی چې په انسانیت کې ټول انسانان یو برابر دي.

۲. ټولنیز مساوات:

له دې څخه مقصد دا دی چې په ټولنه کې هر څوک یو شان قرار لري. د رنګ، نسل، مذهب په لحاظ به له چا سره سلوک نه کېږي. په عمومي توګه داسې لیدل کېږي چې خلک انسان د کسب له نظره ګوري. یو انسان به ډېر احمق وي؛ خو د پیسو له وجې به خلکو ته محترم وي یا بالعکس یو انسان به ډېر عقلمن اوعالم وي؛ خو د غربت له وجې به یې خلک سپک ګڼي؛ خو په ټولیز لحاظ داسې نه دي پکار، بلکې ټولو انسانانو ته چې په یوه ټولنه کې ژوند کوي په درنده ستر ګه باید وکتل شي، اما هغوي چې د ټولنې پر وړاندې د جرم مرتکب شوي وي. یعني په پیدایښت سره هر انسان د یوه کرامت او شخصیت لرونکي ترهغي چې د غه انسان په خپل منفي اعمالو او د ټولنیز اصولو او مقراراتو نه په خلاف ورزې او د نورو په حقوقو د تجاوز له کبله خپل دغه حیثیت او شخصیت پخپله له لاسه ورکړي

۳. ښاري مساوات:

د یو ملک ټولو اوسېدونکیو ته د ټولنې له ټولو ټولنیزو سهولتونو څخه لکه برق، اوبه، صحت، په یو شان د ګټې اخیستلو او همدا راز د تعلیم حق، د بیان د ازادۍ حق، د فکر او عمل حق، د لیکلو حق، د کورنۍ د جوړولو حق او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیت ته د ودې ورکولو حق لپاره یو شان اسباب او وسایل برابروي او د چا مراعات په کې نه کېږي.

۴. سیاسي مساوات:

د دې مقصد دا دی چې ټول انسانان یو شان سیاسي حقوق لري. هر سړي ته د یو تابعیت ټاکنې حق حاصل وي، چې د ټاکل کېدو حق، د رایې حق، د بیان د ازادۍ حق او د ټولنو د جوړولو حق د ټولو یو شان وي. د یو ریښتوني جمهوریت لپاره سیاسي حقوق تر ټولو زیات مهم دي.

۵. اقتصادي مساوات:

د دې مقصد دا نه دی چې ټول خلک دې په سرمایه او شتو کې سره یو شان وي، بلکې له دې نه مطلب دا دی چې ټولو انسانانو ته دې بنیادي اړتیاوې پوره وي او مریبتوب دې نه وي او د خلکو د پرمختګ لپاره دې یو شان اسباب او وسایل برابر کړل شوي وي. او هر څوک د دې حق لري چې د خپل تلاش له لارې ځانته ښه اقتصادي ژوند برابر کړي او څوک باید د بل چا د اقتصادي پرمختګ مخه ونه نیسي.

۶. قانوني او قضایي مساوات:

د قانون پر وړاندې د مساوات حق په دې مانا دی چې ټول انسانان دې له یو ډول حقوقو او وجایبو څخه برخمن شي، یانې د حقوقو له پلوه یو شخص پر بل باندې لوړوالی نه لري او قوانین هم باید په عملي بڼه پر ټولو انسانانو باندې یو شان تطبیق شي؛ خو دغه مساوات یوازې په حقوقي مانا کې نه خلاصه کوو، بلکې په عملي بڼه هم باید نسبي مساوات وجود ولري، چې په ټولنیزو امورو کې د مادي او معنوي نعمتونو په اړه خلکو ته یو شان زمینې جوړې کړي، تر څو په عملي بڼه خلک تر یو برابره ګټه پورته کړي. خو د دغه نوعه مساوات حق په کتابونو او قوانینو کې په رسمیت پېژندل شوی دی، اما په عملي ډول وجود نه لري؛ ځکه چې په میلیونونو انسانان په فقر او بد بختۍ کې بې کوره او اوره ژوند کوي.

د مساوات د حق د ماتېدو مواد:

د تفاوتونو او لوړوالي په پایله کې د خلکو دغه اساسي حقوق په لاندې توګه ماتېږي:

۱- شتمن او غریب
۲- جنسیت (ښځینه او نارینه)
۳- لسان (پښتو او دري)
۴- قوم او ملت (پښتون، تاجک، هزاره)
۵- عقیده او مذهب، مسلمان، هندو، عسیوي او په اسلام کې مذهبونه (سني او شیعه)
۶- ټولنیز موقف (خان، ملک، دهقان، کارګر)
۷- اصل و نسب (پیر، سید، فقیر، روحاني، سازنده)
۸- د اوسېدو ځای (ښاري، کلیوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- رتبه او منصب (وزیر، رئیس، مامور، عسکر، جنرال)
۱۰- خپل او خپلوان (پلار، مور، ورور، ترور، زوی او نور)
۱۱- رنګ، نژاد (سپین پوستی، تور پوستی)
۱۲- اداري فساد (رشوت یا واسطه)
۱۳- کار او کسب (داکتر، موچي، هنرمند، نایي، جولا)

دغه ټول هغه مواد دي چې د هر یو برتري یې د بشر عمده اصلي مساوات له منځه وړي، نو باید په اساسي او عادي قوانینو کې پورته ذکر شوي مواد رد کړای شوي وي.

د یوې عادلانه محکمې عمده اصل دا دي چې دا مساواتونه په نظر کې ولري او د پورته ذکر شویو موادو له امله چاته کوم امتیاز ور نه کړي، د یو چا د محترم کولو لپاره ډېر مثبت دلایل ټول کړي، نه دا چې د یو چا د ټولنیز موقف او شتمنۍ لپاره احترامانه ګذشت وکړي.

د مساوات حق د اصل په اړه د افغانستان د اساسي قانون په ۲۲ ماده کې وایي چې ((د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر ډول تبعیض او امتیاز منعه دی. د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري)) او هم د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه کې د مساوات همدغه اصل په ډېر وضاحت سره داسې ذکر شوی دی. «هر څوک کولای شي چې له هر ډول توپیر پرته په ځانګړي ډول، رنګ، جنس، ژبې، مذهب سیاسي عقیدې او هره بله عقیده، ملت، ټولنیز موقف، شتمنۍ، زېږېدنه، یا د هر بل موقف په نظر کې نیولو پرته له هغو ټولو حقونو او ازادیو څخه ګټه واخلي، چې په دې اعلامیه کې ترې یادونه شوې ده. سربېره پر دې له هیڅا سره به د هغه د ملک، سیمې، سیاسي ارادې او قضایي یا نړیوال موقف پر بنسټ تبعیض ونه شي، که څه هم هغه ملک یا سیمه چې شخص ورپورې تړلی دی خپلواک، یا تر لاس لاندې (غیرمختار) او یا یې حاکمیت په یو ډول محدود وي.»

په اسلام کې هم په نژاد او ژبه کې لوړوالی نه شته؛ بلکې د لوړوالي اصل معیار تقوا او پرهېز ګاري ده. په وضعي قوانینو کې هم د لوړوالي معیار په صداقت او کار کې نغښتی دی.

د ازادۍ او مساوات اړیکې Relationship Between Liberty and Equality:

ځینې عالمان وایي چې ازادي او مساوات دوه متضاد څیزونه دي او بیا ځینې یې لازم او ملزوم ګڼي. د بېلګې په ډول لارې ریکټن وایي چې ازادي او مساوات دوه متضاد څیزونه دي. که ازادي وي نو مساوات نشته که مساوات وي بیا ازادي نه شته. چې دا په حقیقت کې د اصالت فرد د مکتب د پیروانو نظریه ده. د دوی په نظر هر چا ته دې د کار کولو پوره ازادي ورکړل شي نو څوک چې څرنګه غواړي ګټلی یې شي، نو بیا اقتصادي مساوات نه پاتې کېږي، څوک به امیر کېږي او څوک به غریب کېږي او که په زور مساوات راولي نو مقصد به یې دا وي چې د دوی ازادي سلبوي.

خو اصل خبره دا ده چې ازادي دې هم وي او پر ازادۍ باندې دې بندیزونه هم وي. د نورو د حقوقو احترام دې هم وي؛ نو په دې طریقې سره هر سړی به هم ازاد وي او هم به مساوات پیدا کېږي.

که چېرې له ازادۍ څخه مطلب سیاسي او ټولنیزه ازادي واخیستل شي او له مساوات څخه ټولنیز مساوات واخیستل شي؛ نو هر سړی پوهېږي چې ترڅو پورې ټولنیز مساوات موجود نه وي؛ تر هغې پورې سیاسي او اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادي نه حاصلېږي. پر هېواد باندې به د هغو خلکو ولکه وي چې په اقتصادي وسایلو ولکه لري. لکه چې کارل مارکس ویلي دي (تر څو پورې چې د اقتصادي انحصار بنیاد ختم شوی نه وي، ازادي او مساوات امکان نه لري).

نو له پورته خبرو څخه څرګنده شوه چې ازادي او مساوات یو له بل سره تضاد نه لري؛ بلکې دا دواړه سره تړلي دي یانې په ټولنه کې ازادي هغه ده چې په مساوي ډول ټولو ته وي او د مساوات مطلب دا دی چې ټول خلک یوشان ازاد وي.

تمرین

اول‌سوال: مساوات او ازادي څه اړیکې لري ؟

دویم سوال : ایا دبشر حقوق جامع اوکلي اصل لري ؟ که لري نو جامعیت یې په څه کې دی ؟

دریم سوال : دبشر حقوقو نړیواله اعلامیه ولي مهمه ده ؟

څلورم سوال : دبشر حقوق دمساوت او ازادۍ څخه څه مطلب لري ؟ واضح یې کړئ؟

پنځم سوال : ازادي په څو ډوله ده نومونه یې ذکر کړئ؟

شپږم سوال : د مساوات د ډولونو نومونه ولیکئ ؟

اووم سوال برات الذمه څه مانا لري واضح یې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی

د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال کنوانسیون

دغه کنوانسیون په 1966 ز کال د ډسمبر پر شپږمه نېټه په ۵۲ مادو کې تصویب شوی دی. په دې کنوانسیون کې د هغو موادو یادونه شوې ده، چې په نړیواله اعلامیه کې راغلي او غړي دولتونه یې د دې کنوانسیون د موادو پر رعایت باندې مکلف دي. دغه کنوانسیون په دوو برخو وېشل شوی دی.

الف: اوله برخه یې په مدني او شخصي ژوند پورې اړه لري.

ب: دویمه برخه یې په سیاسي برخې پورې اړه لري.

چې هر یوه برخه یې په جدا جدا توګه واضح کوو. اول د کنوانسیون هغه مواد ذکر کوو چې په مدني او شخصي ژوند پورې اړه لري او بیا هغه مواد ذکر کوو چې په سیاسي ژوند پورې اړه لري.

الف: بشري حقوق په مدني او شخصي ژوند کې:

د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال کنوانسیون هغه مواد چې په مدني او شخصي ژوند پورې اړه لري عبارت دي له:

۱- د ژوند حق [٦ ماده]

۲- د شخصي ازادۍ حق [ماده]

۳- د قانون او محکمې پر وړاندې د برابرۍ حق [۲۶ ماده]

۴- د حقوقي شخصیت پېژندل [۱۶ ماده]

۵- د بیان د ازادۍ حق [22 فقره ۱۹ ماده]

۶- د کورنۍ جوړولو حق [۲۳ ماده]

۷- د کور او مسکن خوندیتوب [۱۷ ماده]

۸- د مخابراتو او مرسلاتو د محرمیت حق

۹- د عقیدې او وجدان ازادي [۱۸ ماده]

۱۰- له دولتي مسوولینو نه د شکایت حق [۱۸ماده]۱

۱۱- د مجازاتو او شکنجې منعه [۷ ماده]

۱. د ژوند حق:

ټول حقوق له ژوند سره اړیکې لري او له ژوند پرته حق نه وي، نو ژوند ځکه اهمیت لري. هر دولت باید د هر یو شخص د ساتنې لپاره د ژوند د حق پلوي وکړي. له پخوا نه تر اوسه اکثراً چا چې د ژوند حق سلب کړی، سخته سزا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلې ده. خو پدې تېرو دیرش کلنو جګړو کې د ډیرو انسانانو ژوند تلف شوی اما مجرمین یې لا تر اوسه ندي محاکمه شوي.

خو کله کله، په خاصو استثنایي حالاتو کې د ژوند د ساتنې په اړه ملي قوانین اجازه ورکوي چې یو ممنوع کار روا کړي. لکه له خپل ځان نه د مشروع دفاع حق په خاطر، قتل کول جواز لري چې په دې اړه د جزا قانون ۵۹ او ۸۹ ماده څرګند وضاحت لري.

د ژوند اهمیت دومره ډېر دی، چې ځوک وژنه وکړي هغه ته سزا ورکوي، چې دا د دولت واک دی ځکه چې د خلکو د حقوقو ساتنه کوي. اما که دولت چاته حکم وکړي چې ځان ووژنه، نو دا شخص کولای شي چې له دې امر نه انکار وکړي، او دغه انکار کولو ته قانون اجازه ورکړې ده.

د ژوند د حق په اړه د اسلام په دین کې هم ټینګار شوی دی او قاتل لپاره د قصاص جواز ورکړی او هم یې ورته دایمي جهنم غوښتی دی.

د ژوند حق د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې (۳ماده) او د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق په (۶ماده) کې هم وضاحت لري او وایي چې ژوند د خدای لورپینه او د انسان طبیعي حق دی، هېڅوک د قانون له مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کېدای نشي.

د ژوند د حق د نقض کېدو طریقې:

په کومو طریقو سره چې د ژوند حق ماتېږي، هغه عبارت دي له:

۱- د سړي وژل په مختلفو طریقو سره.

۲- ډله ییزې وژنې او د ژوندیو ښخونې

۳- په خپله ځان وژل.

۴- په ترور یستي پېښو کې له منځه تلل.

۵- د ناعادلانه محاکمې له خوا اعدامول.

۶- چاپېریال ته د بې پامۍ له امله بېلابېل مرضونه پیدا کېدل او د هغوی په واسطه مړ کېدل.

۷- د نژادي تبعیض په پایله کې دسته جمعي مرګ او وژنې.

۸- د فقر، لوږې، تندې، یخوالي او یا هم ګرموالي له امله وژل کېدل.

۹- د نشه یي توکیو له امله وژل کېدل.

۱۰- د کیمیاوي موادو له امله ټولنیزه وژنه.

۱۱ – د ښمنۍ جنګونو کې مرګونه.

د ژوند د حق ساتنه:

لکه څرنګه چې انسان په طبیعي شکل دونیا ته راځي په همدغه شکل له دونیا څخه سترګې هم پټوي. د انسان د طبیعي وژنې مخنیوی ځوک نشي کولای، هر انسان د خپل ژوند مرحلې تېروي او د مرحلو په پایله کې دې حد ته ورسېږي چې نور یې د بدن حجرې کار پرېږدي او خپل وړ او ضروري فعالیت نشي کولای؛ نو په خپله له منځه لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، چې دې ته طبیعي مرګ وایي. دغه مهال د قران کریم له وینا سره سم نه یوه ثانیه مخکې کېدای شي او نه وروسته کېدای شي.

بل هغه وژنه ده چې د حوادثو په پایله کې منځته رائي، لکه په پورته توګه چې ذکر شول. د حوادثو په پایله کې وژل کېدل جدا جدا عوامل لري، هغه عوامل باید وپېژندل شي او عواملو لپاره باید سم علاج وشي، چې د انسانانو ژوند وژغورل شي.

اوپه کومو طریقو سره چې دانسانانو ژوند له مرګ څخه ژغوري عبارت دي له :

1. په قوانینو کې د غیرعادلانه اعدام لغوه اعلانول.

2. په قوانینو کې د هر نوع اعدام لغوه اعلانول لکه چې همدا اوس ځینې ملکونه په خپل قوانینو کې اعدام بالکل منع کړی دی.

3. جنګي جنایتکارانو ته سخته سزا ورکول.

4. د حاملو ښځو د اعدام منعه کول ځکه چې دوه انسانان وژل کېږي.

5. د فقیرانو لپاره وړیا طبي خدمات ورکول.

6. د سولې او امنیت تامینول چې د تروریستي وژنو مخه ونیول شي.

7. د زهروي او کیمیاوي موادو د ناسوله ییز استعمال منعه کول.

8. د قضاء یو سالم ارګان رامنځته کول چې د فساد او رشوت مخه ونیسي

خو د ټولو عواملو لپاره زما په نظر یو اړین اساسي او بنیادي اصل دادی چې که څوک وژل کېږي یا بل وژني، جګړه کوي او که د مختلفو امراضو له خوا وژل کېږي، که هېوادونه له نورو هېوادونو سره جګړې کوي، یا تروریستي اعمال سرته رسوي، د دې ټولو بنیادي علت اقتصاد دی. که په ملي او یا په بین الملي کچه د اقتصاد یو عادلانه او منظم نظام په ټولنه او ټولنو کې رامنځته شي د ژوند حق تر ډېره حده ساتل کېږي. په غریبو هېوادونو کې جګړې د همدغو صنعتي هېوادونو له خوا پر دوی ورتپل کېږي او د دوی له خوا کله یوه خوا او کله هم دواړه خواوې حمایه کېږي لکه په افغانستان کې د روس او امریکا جګړه او په اوس وخت کې په افغانستان کې جګړه.

۲. د ازادۍ حق:

په مخکې مخونو کې ذکر شوی دی.

۳. د شخص خوندیتوب :

د شخص خوندیتوب په اساسي ډول په درې برخو وېشل کېږي چې عبارت دی له:

۱. شخصي امنیت

۲. قضایي خوندیتوب

۳. ټولنیز خوندیتوب

چې درې واړه یو له بل سره تړلي دي.

۱: په شخصي امنیت کې، انساني کرامت، د مال او ځان ساتنه او د تېریو مخنیوی شامل دي.

۲: په قضایي خوندیتوب کې لاندې امور شامل دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف. د براة الزمې حق: د براة الزمې مانا دا ده چې تر څو یو کس د باصلاحیته محکمې له خوا په قطعي حکم نه وي محکوم شوی، هغه مجرم نه ګنل کېږي. دا موضوع د افغانستان د اساسي قانون په پینځه ویشتمه ماده کې او د جزایي اجراتو موقت قانون او د جزا قانون په څلورمه ماده کي وضاحت لري.

ب. د جرم او جزا پرنسیپ: (کوم عمل چې په قانون کې جرم نه وي د هغه عمل په کولو سره باید څوک مجازات نه شي) دا اصل د جزا د قانون په دویمه او درېیمه ماده کې ذکر شوی دی.

ج. د ناقانوني توقیف ممنوعیت: هېڅوک په ناقانوني توګه نشي بندي کېدلای مګر د جرم په صورت کې او یا د فرار په صورت کې. دا موضوع د جزایي اجراتو موقت قانون په دیارلسمه ماده کې ذکر شوې ده.

د. د محکمې له حکم پرته څوک چاته مجازات نشي ورکولای چې دغه اصل د جزا د قانون په ۳ ماده کې ذکر شوی دی.

ه. د انسان تعذیب، شکنجه، تر روحي فشار لاندې راوستل هم ممنوع دي چې دغه اصل د اساسي قانون په (۲۹ماده) کې راغلی دی.

و. د انساني کرامت مخالفه جزا هم ممنوع ده، چې دغه اصل د اساسي قانون په (۲۹) ماده کې ذکر شوی دی.

ز. په جبر او زور سره له متهم نه اعتراف او اقرار اخیستل هم ممنوع دي چې دغه اصل د اساسي قانون په(۳۰ ماده) کې ذکر شوی دی.

ح. د قرضدار کېدو له وجې د شخصي ازادۍ سلبول هم ممنوع دي چې دغه اصل د اساسي قانون په (۳۲ماده) کې ذکر شوی دی.

ط. بې مورده د خلکو تلاشي کول او کورونو ته داخلېدل هم ممنوع دي چې دغه اصل د اساسي قانون په(۳۸) ماده کې ذکر شوی دی.

ي. په زوره د خلکو رازونه افشا کول او جاسوسي کول هم ممنوع دي.

ک. هېڅوک د یوه شخص یا دهغه د ولید له اجازې څخه پرته طبي ازمېښتونه په چا نشي کولای.

د شخص خوندیتوب څرنګه ماتېږي؟

کوم حقوق چې د شخص د خوندیتوب په اړه وي د هغې ماتول د شخص خوندیتوب تر پوښتنې لاندې راولي. لکه په عدلي او قضایي ارګانونو کې د شخص خوندیتوب نقص کول دي او یا د شخصي زندانونو جوړول، یا د انساني کرامت مخالف برخورد کول او دولتي او نادولتي ارګانونو له خوا نا قانوني کارونه کول او یا په ټولنیز ډول د ټولنیز امنیت خرابول.

د یو شخص د خوندیتوب لپاره عمده ترین ارګان دولت دی چې د ټولو خلکو اساسي حقوق باید وساتي. د دې د ساتلو لپاره په دولت کې یو ښه سیستم ته اړتیا ده، چې د دغه سیستم ساتونکي باید امانتداره او په ریښتینو مانو سره خلکو ته وفادار خلک وي. بل شخصي خوندیتوب د عامه اګاهي ، تعلیم او تربیې له لارې او د نادولتي ارګانونو له خوا چې پر دولتونو باندې نظارت وکړي لکه د بشري حقوقو خپلواک کمیسون او د نړیوالې ټولنې مختلف ارګانونو له لارې ساتل کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کور او مسکن خوندیتوب:

کور او مسکن د انسانانو له لومړنیو اړتیاوو څخه دی او هر انسان باید ترې نه ګټه پورته کړي. دلته یوه د اهمیت وړ خبره دا ده چې په ټولو اعلامیو او کنوانسیونونو کې د انسان لپاره د مسکن حق ورکړل شوی دی؛ خو د مسکن د مالکیت له حق څخه په کومه اعلامیه یا کوم کنوانسیون کې کومه یادونه نه ده شوې. دا موضوع ډېره مهمه ده؛ ځکه چې هر انسان د ژوند کولو په خاطر د یو کور حق لري چې د اړونده دولت له خوا باید ورته ورکړل شي چې په اسانۍ سره په کې ژوند وکړي؛ خو که هر کور د چا په ملکیت کې وي، صرف النظر له دې چې که هغه کرایي وي یا ګرو وي، د هغه د خوندیتوب حق په کې ثابت دی او هېڅوک د دولت په شمول دې کور ته د هغه د مالک له اجازې پرته نشي داخلېدای. که کوم دولتي ارګان کورونه تالاشي کوي او ورننوځي؛ نو د باصلاحیته محکمې امر به اخلي او له مالک نه به هم اجازه اخلي. اما په مشهود جرم کې دا خبره جدا ده. هلته بیا امنیتي ارګانونه ننوتلی شي خو وروسته بیا له محکمې څخه باید امر واخلي. سوال دا پیدا کېږي چې په کومو حالاتو کې امنیتي ارګانونه د چا کور او کورونو ته ننوتلی شي؟ یو څو حالات داسې دي چې که اورلګېدلی وي، یا سیلاب راغلی وي، او یا کوم بلفعل مجرم یو کور ته وتښتي، نو پولیس او دولتي موظفین کولای شي چې هغه کور ته ورننوځي. د کور د خوندیتوب حق د اساسي قانون په (۳۸) او (۴۰) مادو کې او د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې په (۲۲)او (۲۵) مادو کې ذکر شوی دی.

۴. د عقیدې او وجدان ازادي:

عقیده او وجدان په دې مانا چې انسان په ژوند کې یو لړ نامحسوساتو ته هم عقیده او باور لري چې په دې دونیا کې پر دې خبره باندې ډېر جنګونه او قتلونه هم شوي دي. هر څوک له خپل محیط سره سم ځینو امورو ته عقیده لري. ټول انسانان یو شان عقیده او باور نه لري. د انسانانو عقیدې او باورونه مختلف دي. له همدې کبله ځینو انسانانو پر نورو باندې خپله عقیده په زوره ورمنله چې په پایله کې یې جګړې جوړې شوې. حتا په مذهبي لحاظ حکومتونه منځته راغلل چې منځنۍ پېړۍ یې ښه ښلګه ده؛ نو د بشري حقوقو اعلامیې په (۸) ماده کې د عقیدې او وجدان ازادۍ په اړه خپل وضاحت داسې بیان کړی دی: هر څوک حق لري چې له فکر، وجدان او مذهب څخه ګټمن شي. د مذهب د بدلولو او د خپل ایمان او عقیدې په څرګندولو کې پوره اختیار ولري او په دیني مراسمو او مذهبي زده کړو کې ازادي ولري. هر څوک کولی شي له دې حقوقو څخه په انفرادي او جمعي توګه ګټمن شي له دې مادې څخه څو پایلې راوځي:

1. د عقیدې لرل.
2. د عقیدې څرګندول.
3. دیني زدکړې کول.
4. دیني مراسم په جمعي او انفرادي شکل کول.
5. خپلې عقیدې ته بدلون ورکول.
6. د یوې عقیدې قبلول یا ردول او د بلې منل.

چې په دې اړه د فرانسې اساسي قانون لومړۍ ماده ښه وضاحت لري. په هغې کې وایي چې: د فرانسې دولت یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازاد، خپلواک او نه بېلېدونکی دولت دی. که څوک هرنوعه عقیده لري هغوی ته هم مورِ احترام کوو.

د عقیدې د ازادۍ په اړه دولتونه هم په خپلو اساسي حقوقو کې دغه د ازادۍ موضوع مطرح کوي. د افغانستان د اساسي قانون په دویمه او درېیمه مادو کې هم دغه خبره ذکر شوې ده چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دین د اسلام مقدس دین دی، د نورو ادیانو پیروان د خپلو دیني مراسمو په اجرا کې د قانون د حکمونو په حدودو کې ازاد دي. همدارنګه درېیمه ماده وضاحت لري چې په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي. د اسلامي تعلیماتو د زده کړو په اړه مکاتب او پوهنتونونه خپل نصاب لري، نو زمورِ حقوقي سیستم د اسلامي شریعت تر تاثیر لاندې دی. زمورِ د حقوقي سیستم تر ټولو مهمه منبع هم اسلامي شریعت دی، چې د دې پر خلاف یو قانون هم نشي جوړېدای.

خو متاسفانه مذهبي بېلتونونه زمورِ په همسایه هېوادونو کې زیات دي او د دې تاثیر مستقیماً پر افغانستان باندې دی؛ نو په پایله کې یې په افغانستان کې هم ډېرو انسانانو د مذهبي تعصباتو له امله خپل ځانونه له لاسه ورکړل. نږدې دي چې د شیعه او سُني اختلافات په افغانستان کې هم راپیدا او اوج ته ورسېږي.

۵. د مراسلاتو ازادي او محرمیت:

د خطونو، ټیلفوني خبرو، مخابراتو،او برېښنالیکونه هم محرم او پټ دي. دا د هر انسان حق دی چې بل چاته خط، برېښنالیک ولېږي، او ټیلفوني خبرې ورسره وکړي. خو د دوي راز باید څرګند نشي او شخصي تماسونه باید هماغسې پټ پاتې شي. د دولت په شمول څوک دغه رازونه نه شي ظاهرولای. خو دولت ځینې استثنایي حالات لري چې قانون پرې حکم کړی وي چې دي ته استراق سمعي وایي. استراق سمعي(په غلا د چا د مخابراتو داوریدواجازه (استراق): په غیرقانوني توګه داشخاصو د پټو مکالماتو له اورېدو څخه عبارت دي. چې دا کنټرول په غیر قانوني توګه تر سره کیږي. (۱) که چېرې څارنوالي له محکمي څخه د دې مکالمو د اورېدو استراق (اجازه اخستې وي، نو پولېس د اورېدو استراق کولی شي؛ خو که د محکمې د اجازې نه یې پرته د اورېدو استراق وکړ، دا له قانون څخه سرغړونه ده.

د مراسلاتو او ټیلیفوني خبرو نقص:

1. د خلکو خطونه خلاصول، د هغو لوستل او اسناد ترې ایستل.
2. د خلکو خبرو ته غوږ نیول او بیا یې رازونه افشاء کول.
3. اصلي سړي ته د خط نه رسېدل.
4. په ناقانوني توګه د نومونو پلټنه
5. د پوستو خلاصول:
6. او د مراسلاتو، مکاتیبو، تیلیفوني خبرو محرمیت د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې په دوولسمه ماده کې ذکر شوی دي او د افغانستان د اساسي قانون په اوه دېرشمه ماده کې داسې وضاحت لري چې د اشخاصو د مخابرې او د لیکونو ازادي او محرمیت که په لیکلي ډول وي یا د ټیلفون او تلګراف او یا نورو وسیلو له لارې وي، له تېري څخه خوندي دي. دولتي اشخاص د مخابرو او د ټیلیفونو د پلټنې حق نه لري؛ مګر د قانون له حکمونو سره سم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶. د محکمې حق:

هر څوک د قضایي ملاتړ حق لري، هم په ملي کچه او هم په بین المللي کچه. که چېرې د شخص له اساسي او یا نورو حقوقو څخه کوم یو ماتېده صرف نظر له دې نه چې هغه په فزیکي شکل وي او که په مانوي شکل، هغه شخص حق لري چې باصلاحیته محکمې ته مراجعه وکړي او په محکمه کې د خپلو حقوقو لپاره دعوه اقامه کړي. د بېلګې په توګه: که چېرې یو شخص باندې تجاوز وشي،

۱(دحقوقي اصطلاحاتوقاموس) کابل پوهنتون چاپ ۱۳۸۷

زخمي او یا مړ شي؛ یا یې په کور تجاوز وشي، مال یې غصب شي، یا د دولتي ارګانونو له خوا شکنجه شي، یا یې عقایدو ته په سپکه وکتل شي، یا یې په ناموس تجاوز وشي؛ نو دی کولای شي چې محکمې ته مراجعه وکړي او د عدالت غوښتنه وکړي. محکمه له قوانینو او اصولو سره سم په ټوله بېطرفۍ باید دې دعوې ته رسیده ګي وکړي او خپله پرېکړه صادره کړي. که متضرر شخص پر دې پوه شي چې دغه قاضي او محکمه په ټوله مانا په عدالت سره پرېکړه نشي کولای؛ نو د محکمې د بدلېدو غوښتنه کولای شي او که چېرې خپل حقوق له دې محکمې څخه نشول ترلاسه کولای، نو کولای شي چې بین المللي محکمې ته خپله دعوه نقل کړي. زموږ په قوانینو کې هم د عدالت تطبیق د قضایي ارګان دنده ده چې د حقوقو د ماتېدو په صورت کې مربوطې محکمې ته رجوع کوي او عدالت تامینوي چې په دې اړه داساسي قانون د (۱۲۰) ماده څرګند وضاحت لري چې د قضایه قوې په صلاحیت ټولو هغو دعواوو ته شامل دی، چې د دولت په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصو له خوا مدعي او مدعي علیه په حیث د قانون له حکمونو سره سم د محکمې پر وړاندې اقامه شي. محکمې مکلفې دي چې د قوانینو او اسلامي شریعت په رڼا کې پرېکړه صادره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷. د شکنجې ممنوعیت:

که څوک په کوم اتهام د جرم د تثبیت په خاطر د امنیتي ارګانونو له خوا ونیول شي، نو امنیتي اشخاص نشي کولای چې په متهم شکنجه وارده کړي او یا هغه تر روحي فشار لاندې راولي او یا ترې په جبر او زور اعتراف واخلي. په جبر ترلاسه شوی اعتراف په محکمه کې د منلو وړ نه دی. په دې اړه د افغانستان اساسي قانون (۲۹) ماده او د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې (۵) ماده څرګند وضاحت لري چې وایي:

په زور د ترلاسه شوي اعترافونو په اړه د افغانستان د اساسي قانون (۲۹) ماده څرګنده وضاحت لري چې: د انسان تعذیب ممنوع دی. هېڅوک نه شي کولی چې له بل شخص څخه حتا د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم ترتعقیب، نیونې، یا توقیف لاندې وي، او یا په جزامحکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یایې د تعذیب امرورکړي. د انساني کرامت مخالفې جزا ټاکل منع دي.

همدا راز د نړیوالې اعلامیې (۵) ماده وضاحت لري چې: نشوکولي چې هېڅوک تر ربړونې، کړاو، اویا یې د داسي چلند لاندې راولو چې ظالمانه، د انسانیت خلاف، او له سپکاوي څخه ډک وي. اوهمدا راز د فقهې یو اصل دی چې: الاقرار بالجبروالاکراه لایصح (یعنې په زور او جبر سره د اعتراف اخیستل صحیح نه دي.)

یوه خبره دیادولو وړ ده چې په اقرار اواعتراف کې فرق شته سره له دې چې د افغانستان د اساسي قانون دېرشمه ماده وایي چې : په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف دی چې په خپله پوره خوښه او د عقل په پوره روغتیا سره د یوې با صلاحیته محکمې په وړاندې ترسره کوي.

نواعتراف په جزایي موضوعاتو پورې اړه لري او د څارنوالۍ په مرحله کې وي او اقرار په مدني موضوعاتو پورې اړه لري او د محکمې په جریان کې وي.

له متهم څخه باید په علمي او منطقي لارو استنطاق وشي، د ثبوت لپاره اسناد او شواهد راټول کړای شي او بیا محکمې ته ولېږل شي.

مسوولو مقامونو ته د شکایت حق او د خسارې د جبران غو ښتلو حق:

د خسارې جبران دې ته وایي تبعه په بېلابېلو عواملو د دولت له خوا یا د ارګانونو له خوا یا د اشخاصو له خوا تاوانې شي، نو په باصلاحیته محکمه کې د خپل تاوان د اخیستلو حق غوښتلی شي، چې همدې ته د خسارې جبران وایي. دا موضوع زمونږ د اساسي قانون په ۵۱ ماده کې په صراحت سره ذکر شوې ده چې ((هر څوک چې له ادارې څخه بې موجبه زیانمن شي د تاوان د اخیستلو مستحق دی او کولای شي د تاوان د ترلاسه کولو لپاره په محکمه کې دعوه اقامه کړي. له هغو حالاتو پرته چې قانون ښودلي، دولت نشي کولای د باصلاحیته محکمې له حکم پرته د خپلو حقوقو تر لاسه کولو لپاره اقدام وکړي)). همدا راز له دولت پرته شخص کولی شي د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون ته شکایت وکړي او خپلواک کمیسیون د شخص شکایت مربوطه ادارې ته راجع کړي او په دې کې ورسره مرسته وکړي چې په دې اړه د افغانستان اساسي قانون (۵۸) ماده وضاحت لري. که بیا هم شخص ته حقوق ورنه کړل شول، نو کولی شي د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو کمېټې ته خپل شکایت وړاندې کړي؛ خو دغه شکایت په ځانګړیو شرطونو پورې اړه لري، چې د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون میثاق په اختیاري پروتوکولونو کې یې وضاحت راغلی دی؛ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدلته به يې واضح کړو.

ب: په سياسي برخه کې بشري حقوق:

سياسي حقوق هغو حقوقو ته ويل کېږي چې يو فرد يې د يو ملک د تابعيت د لاسته راوړلو له امله حاصلوي چې په لاندې ډول يې خلاصه کوو.

1. تابعيت.
2. د بيان ازادي.
3. په دولتي دندو کې ګومارل.
4. د سياسي حزبونو جوړول.
5. د مظاهرو کول.
6. په انتخاباتو کې د کانديدېدو او کانديدولو حق.
7. مهاجرت کول.
8. ملي او بين المللي قوانينو ته احترام کول.

۱. د تابعيت حق:

د تابعيت تعريف:

تابعيت، هغو سياسي، حقوقي او معنوي رابطو ته ويل کېږي، چې يو شخص يې په مشخص دولت پورې لري. په دې مانا چې شخص له هغه دولت سره په سياسي، حقوقي او مانوي لحاظ اړيکې لري. نو دا شخص کولی شي خپل ځان نوماند او يا بل وټاکي. حقوق يې په دې مانا دي چې دا شخص په حقوقي لحاظ د دولت يو فرد دی، چې له امتيازاتو او وجايبو څخه يې برخمن او مکلف کېږي. مانوي اړيکې تر ټولو مهمې دي، چې هر شخص يې د خپل دولت سره لري او د مينې اظهار په نا اختياري شکل کوي.

هر شخص چې دنيا ته سترګې غړوي له تابعيت څخه بايد برخمن شي او د افغانستان د اساسي قانون په ۱۴ماده کې راغلي دي چې (د ملت هېڅ يو فرد د افغانستان له تابعيت څخه نه محرومېږي). او همدا راز (۲۸) ماده بيا داسې وايي چې (هېڅ افغان د تابعيت په سلبېدو او په افغانستان کې دننه يا بهر ته په شړل کېدو نه محکومېږي) له دغو دوو مادو څخه دا پوښتنه راپيدا کېږي چې بيا تابعيت نه سلبېږي؛ نو يو شخص څو تابعيتونه هم اخيستلی شي که نه؟ جواب يې ډېر اسان دی هغه دا چې د افغانستان د قوانينو په رڼا کې د چا تابعيت نه سلبېږي، که چېرې يو شخص په خپله وغواړي چې د بل هېواد تابعيت لاسته راوړي؛ نو دا په دې مانا چې سياسي، حقوقي، مانوي اړيکې له خپل هېواد څخه پرېکوي، له بل هېواد سره سياسي، حقوقي، مانوي اړيکې پيدا کوي او دا کار هغه شخص په خپله کوي، کوم زور پرې نشته دي؛ نو شخص په خپله ځان له يو تابعيت څخه محروموي او بل تابعيت اخلي، اما که يو شخص د بل هېواد تابعيت هم واخلي، د افغانستان دولت د هغه نه د افغانستان تابعيت نه سلبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تابعیت لاسته راوړلو طریقې:

1. د وینې سیستم: پر یو ماشوم له پیدا کېدو سره سم د مور او پلار تابعیت تحمیلېږي.
2. جغرافیه: سړی د مور او پلار د تابعیت په پیروۍ کې د هغه هېواد تابع ګڼل کېږي، په کوم کې چې پیدا شوی وي؟
3. د قبلېدو لار: چې یو شخص په یو بل هېواد کې د هغه هېواد د غړي په صفت ومنل شي. دغه منل په بېلابېلو هېوادونو کې بېلابېل ډولونه او مراحل لري. لکه په امریکا کې هغه څوک قبلېږي چې:

الف. لس کاله عمر یې په امریکا کې تېر کړی وي.

ب. په روانه انګلیسي ژبه پوه شي.

ج. د امریکا په سیاسي سیستم پوه وي.

د. په جنایي جرمونو ککړ نه وي.

ه. د امریکا د سیستم مخالف وسله وال حزب کې شامل نه وي.

د تابعیت سلبېدل:

تابعیت په لاندې حالاتو کې سلبېږي:

- وفات
- کوم ماشوم چې دوه تابعیته ولري، د بلوغ په وخت کې یې یو تابعیت سلبېږي.
- د بڼځې تابعیت چې کله د یو بهرني ملک سړي سره واده وکړي، د بل هېواد تابعیت په اخیستو سره د خپل هېواد تابعیت یې سلبېږي.

۴. د سیاسي احزابو جوړولو ازادي:

د ډیموکراسۍ یو اصل دا دی چې په ټولنه کې سیاسي حزبونه، اتحادیې او ټولنې جوړې شي، او څوک پرې کومه پابندي ونشي لګولای. هر سړی وکولای شي چې د هغو غړیتوب تر لاسه کړي. یوه سیاسي ایډیالوژي د یو سیاسي حزب له لارې تر لاسه کړي او هم د خپلې ټولنې د برخلیک لپاره خپل زعیم او سیاسي سیستم و ټاکي، د خپلو حقوقو او ازادیو لپاره مبارزه وکړي او د صنفي اتحادیو له لارې وکولای شي چې یو تعداد هم مسلکه خلک له خپلو ګټو څخه دفاع وکړي او خپل ځانونه ورسوي. د سیاسي حزبونو، صنفي اتحادیو او ټولنو جوړونه د بشري حقوقو اعلامیې په (۲) ماده کې او د مدني او سیاسي بین المللي تړون په (۲۱-۲۲) مادو کې ذکر شوي دي. د افغانستان د اساسي قانون په (۳۵) ماده کې په تفصیل سره ذکر شوي دي، چې (د افغانستان اتباع حق لري د قانون له حکمونو سره سم ټولنې جوړې کړي په دې شرط چې:

۱: د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام سپېڅلي دین د احکامو او په اساسي قانون کې راغلیو نصوصو او ارزښتونو مخالفه نه وي.

۲: د ګوند تشکیلات او مالي منابع څرګند وي.

۳: نظامي او نظامي ډوله هدفونه ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴: له بهرنیو سیاسي ګوندونو یا نورو بهرنیو منابعو سره تړلی نه وي.

۵: د قوم، سیمې، ژبې او فقهي مذهب پر بنسټ د ګوندونو جوړول او فعالیت کول جواز نه لري، هغه جمعیت او ګوند چې د قانون له حکمونو سره سم جوړېږي، د قانوني موجباتو او باصلاحیته محکمې له حکم پرته نه منحل کېږي.

۵. د لاریونونو ازادي:

مظاهره یا لاریون د مشخصو غوښتنو او اهدافو لپاره په ټولیزه بڼه د خلکو یوځای کېدل دي، د یو لنډ وخت لپاره. یانې خلک یو ځای کېږي، عمومي سړک، بازار او ښار ته راوځي او یا یو شی غندي او یا هم مشخصې غوښتنې لري. مظاهرې هم د بیان او د فکر د ازادۍ یو اصل دی، چې دغه اصل په ډیموکراتیکو هېوادونو کې په اساسي قوانینو کې ځای پر ځای شوی دی. په عمومي شکل دغه لاندې اصول باید ولري:

1. ځای به یې معلوم وي، تر څو دولتي چارواکي په هماغه ځای کې لازم امنیتي تدبیرونه ونیسي.
2. وخت او ساعت به یې هم معلوم وي.
3. دولتي چارواکیو ته به مخکې له مخکې خبر ورکوي.

دغه حق په نړیوالو اعلامیو کې هم منل شوی دی او د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون په (۲۱) ماده کې هم ذکر شوی دی. د افغانستان د اساسي قانون په (۳۶) ماده کې په وضاحت سره وایي چې (د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سولییزه غوښتونو د تامین لپاره له قانون سره سم بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي) د مظاهرو لپاره جدا قانون هم شته.

۶. د پناه اخیستلو او مهاجرت حق:

پناه وړونکی هغه شخص ته ویل کېږي چې د نژاد، مذهب، ملت، یا سیاسي عقیدې په لحاظ تر تعقیب لاندې وي او له خپل متبوع هېواد څخه ووځي او د همدغې وېرې له وجې بل هېواد ته پناه یوسي. همدغه پدیده په شلمه پېړۍ کې د حقوقو ادبیاتو ته داخله شوه. د پورتني تعریف په رڼا کې هغه څوک کولی شي چې پناه یوسي چې د ملت، نژاد، مذهب، او سیاسي عقیدې له وجهې د مرګ له خطر سره مخامخ وي، چې دا موضوع د بشري حقوقو په نړیوالو اعلامیې کې په وضاحت سره راغلې ده.

د پناه موانع:

کله چې انسان له پورته تهدیدونو سره مخ شي پناه وړلی شي. همدا راز د پناه لپاره موانع هم شته دي چې هغه په لاندې ډول سره ذکر کوو.

1. د بشریت پر ضد جنایت کوونکي.
2. جنګي جنایت کوونکي.
3. د نشه یي توکیو قاچاقیان.
4. تروریستان.

د پناه حق د افغانستان اساسي قانون په (۴) ماده کې هم ذکر شوی چې: په تابعیت او پناه ورکولو پورې مربوطې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارې د قانون له لیارې تنظیمېږي.

د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون اختیاري پروتوکولونه:

اول پروتوکول:

له مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون سره سم په ۱۶د ډسمبر د ۱۹۶۶ز کال د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې لومړی پروتوکول تصویب کړ. دا پروتوکول یوه مقدمه او څوارلس مادې لري. دا پروتوکول خلکو ته د دې امکان ورکوي چې بشري حقوقو ته خپل شکایتونه وړاندې کړي.

د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون کې د بشري حقوقو کمېټې یوازې د غړیو هېوادونو ګذارشونه بررسي کول، د نورو پاتې هېوادونو شکایتونه او د خلکو شکایتونو ته په کې لاره نه وه؛ خو اوس کومو هېوادونو چې اختیاري پروتوکول لاسلیک کړی وي، هغه هم کولی شي چې شکایت وکړي ځکه چې د اول پروتوکول اوله ماده وایي چې: د هرغړي هېواد د خلکو شکایت چې پر حکومت باندې وي یانې چې حکومت یې مدعي علیه وي، دغه حقوق هم په رسمیت وپېژني.

دویمه ماده وایي: کله چې کوم شخص خپل شکایتونه په داخلي کچه وړاندې کړي او ټولې مرحلې تېرې کړي اما کومې پایلې ته ونه رسېږي نو بیا کولی شي خپل شکایات دې کمیسیون ته هم وړاندې کړي؛ خو پر دې شرط چې شکایات یې بې نومه نه وي او په مدني او د سیاسي حقوقو په نړیوال تړون پورې اړه ولري او بلې کومې نړیوالې ادارې ورته رسیده ګي نه وي کړې.

د پینځمې او شپږمې مادې پر اساس له متشکي عنه هېواد څخه د بشري حقوقو کمېټه د شکایاتو په اړه وضاحت غواړي، چې باید په شپږو میاشتو کې متشکي عنه هېواد ګزارش ورکړي. کله چې کمیټه موضوع برسي کړي، یو محرمانه جلسه نیسي او شکایت بررسي کوي، خپل نظرونه د متشکي مخه ته اعلانوي او کمېټه له خپلو اصولو سره سم شکایت په کلنۍ جلسه کې وړاندې کوي او ګزارش ورکوي.

دویم پروتوکول:

دویم پروتوکول د میثاق له تصویب نه وروسته د ملګرو ملتونو له خوا په ۱۵ ډسمبر د ۱۹۸۹ز کال کې تصویب شو، چې هدف یې د اعدام لغوه کول و. دغه پروتوکول یوه مقدمه او یوولس مادې درلودې.

په اوله ماده کې په څرګنده توګه وایي چې: هغه هېوادونه چې په دې پروتوکول کې یې لاسلیک کړی وي هغه نه شي کولی څوک اعدام کړي او هر غړی هېواد باید د اعدام له منځه وړلو لپاره اقدامات وکړي.

پایله:

مدني او سیاسي حقوق لکه څرنګه چې یې له نوم نه معلومېږي په دوو برخو وېشل کېږي. یو یې هغه دي چې په شخصي ژوند پورې اړه لري لکه د ژوند حق، شخصي خوندیتوب، د کور او مسکن خوندیتوب د عقیدې او وجدان ازادي د مراسلاتو او مخابراتو محرمیت، د مقاماتو پر ضد د شکایت حق او همداسې نور او بل یې هغه حقوق دي چې په سیاسي ژوند پورې اړه لري لکه د تابعیت حق، د بیان د ازادۍ حق، په دولتي دندو د ګومارنې حق، د سیاسي احزابو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړولو حق، د مظاهرو حق، د جمهور رئیس ټاکلو حق، د خپل ځان د کاندیدولو حق، د مهاجرت حق او ملي او نړیوالو قوانینو ته د احترام حق.

تمرین:

1. **د مدني او سیاسي حقوقو کنوانسیون په کوم کال او څو مادو کې تصویب شوی دی؟**
2. **د مدني او سیاسي حقوقو کنوانسیون مواد په څو برخو وېشل شوي دي؟**
3. **تابعیت تعریف کړئ او هم واضح کړئ چې یو کس د څو تابعیتونو حق لري؟**
4. **ایا د یو شخص تابعیت سلبېدای شي؟**
5. **د تابعیت د لاسته راوړلو طریقې واضحې کړئ؟**
6. **د افغانستان د اساسي قانون له مخې د ګوند جوړول څه شرطونه لري واضح یې کړئ؟**
7. **د عقیدې او وجدان مفهوم بیان کړئ؟**
8. **ایا دولتي چارواکي په کومو حالاتو کې کورته ننوتلای شي او په کومو حالاتو کې نشي ننوتلای واضح یې کړئ؟**
9. **د ژوند حق په کومو طریقو نقض کېږي او په کومو طریقو ساتل کېږي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پینځم څپرکی

اقتصادي، فرهنګي او ټولنیز نړیوال کنوانسیون

د غه کنوانسیون د مدني او سیاسي حقوقو له کنوانسیون سره یو ځای په (۱۹۶۶زکال) کې تصویب شوی، چې یوه مقدمه او (۳۱) مادې لري او د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې تصویب شوی دی.

د دې ټرون محتوا په دې ډول ده:

دغه ټرون د بشري حقوقو د اعلامیې په نسبت مفصل او ټولشموله دی، چې په اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو برخو کې حقوق په کې ځای پر ځای شوي دي، چې په لاندې توګه یې خلاصه کوو.

1. د کار حقوق (۶ ماده)
۲. د ټولنیزې بیمې حق (۹ ماده)
۳. له کورنۍ څخه ملاتړ (۱۰ ماد)
۴. د یو مناسب ژوند حق (۱۱ ماده)
۵. د ټولو لپاره د تعلیم حق (۱۳ ماده)
۶. د ټولو لپاره د صحت حق (۱۲ ماده)
۷. د کارګرۍ اتحادیو جوړولو حق (۸ ماده)
۸. په یوه فرهنګي ژوند کې د فعالیت حق (۱۵ ماده)

۱. د کار حق:

د کار حق د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې په (۲۳، ۲۴) ماده کې په تفصیل سره ذکر شوی دی. په دې مانا چې هر سړی حق لري، کار وکړي او ځانته ازاد کار وټاکي. د افغانستان اسلامي جمهوریت د اساسي قانون په (۴۸، ۴۹) مادو کې هم وایي چې «کار د هر افغان حق دی او اجباري کار ممنوع دی» له دې کبله چې د کار د حقوقو په اړه یوه ځانګړې برخه شته دې، نو د کار په اړه دلته له ډېر تفصیل نه ډډه کوو.

۲. د کورنۍ جوړولو حق:

د کورنۍ په جوړولو کې لاندې مراحل شامل دي:

۱. (کوژده)
۲. واده
۳. انحلال

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. **فسخه**
۵. **طلاق**
۶. **خلع**
۷. **تفریق**
۸. **رضاع**
۹. **حضانت**
۱۰. **مهر**
۱۱. **نفقه**

اوس دا هر یو په مختصره توګه بیانوو:

(کوژده):

د افغانستان د مدني قانون له (۶۴) مادې سره سم د واده وعدې ته نامزدي ویل کېږي. دغه دوره د پېژندګلوی دوره ده. په دې دوره کې قانون دواړو (هلک او نجلۍ) ته اجازه ورکوي چې یو ځای لاړ شي، راشي او له یو بل سره بلدیت پیدا او یو د بل په خویونو ځانونه سره سم پوه کړي. په دې دوره کې هر یو له طرفینو نه کولی شي چې له واده نه منصرف شي.

واده:

د مدني قانون له (۶۰) مادې سره سم واده یو عقد دی، چې په کې یو نر او ښځه د کورنۍ د جوړښت لپاره یو نوي او ګډ ژوند جوړوي او دواړو خواوو ته د یو بل پر وړاندې حقوق او وجایب ور په غاړه کوي. ځینې حقوق پوهان واده په داسې شکل تعریف کوي چې (واده یوه حقوقي رابطه ده چې سړي او ښځې د دغې رابطې په اساس یو له بل نه جنسي خوندونه اخلي).

اما د هېواد یو نومیالي ټولنپوه، ډاکتر تاج الدین ملت مل، په خپل اثر «واده» کې د واده لپاره یو ډېر جامع تعریف کړی دی، هغه وایي:

واده هغه ټولنیز (لفظي یا لیکلي) قرارداد دي چې د یو نارینه او ښځې تر منځ د هغوي د ټولنو د منل شویو پرنسیپونو پر اساس او د یوشمېر تعهداتو په ورکولو سره، جنسي اړیکې په ټولنه کې یوې منل شوې سطحې ته چې هغې ته د کورنۍ تشکیل وایي، پورته کوي؛ او په دې توګه له دوي څخه هر یو ته لومړی د یو بل پر وړاندې، بیا د دوي د کورنیو پر وړاندې، او بالاخره د دوي د اولادونو پر وړاندې یو لړ مسوولیتونه، صلاحیتونه ورپه غاړه، او هر یو ته ځانګړي حقوق ور په برخه کوي، چې دوی دواړه او په دوی پورې اړوند خپلوان د همدې قرارداد په اساس د دغو ټولو تعهداتو د منلو ژمنه کوي او په نتیجه کې یې دوه پردۍ کورنۍ سره اړونده او خپلېږي.

د واده لپاره اهلیت هم اړین دی چې د مدني قانون له (۷۰) مادې سره سم د واده اهلیت هلته پوره کېږي چې د نر عمر (۱۸) کلنۍ او د انجونو (۱۶) کلنۍ ته ورسېږي، په (۷۱) ماده کې د عمر یو قید اضافه کوي چې ((که جینۍ د اهلیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

سن نه وي پوره کړی واده يې يوازې پلار، بابا او باصلاحيته محکمه کولای شي)). د همدې مادې په دويمه فقره کې وايي چې ((د صغيرې جينۍ د نکاح عقد چې عمر يې له ۱۵ کلنو څخه کم وي په هيڅ وجه صحيح نه دی)).

مهر:

مهرعبارت له هغه مال څخه دي چې ښځه يې له يو چا سره د واده په سبب مالکه کېږي او مېړه يې پر ورکولو مجبور دی. د مهر په اړه مدني قانون کوم مشخص تعريف نه دی کړی، خو يوازې د مهر مواد يې ذکر کړي دي چې په (۹۸) ماده کې مدني قانون ورته اشاره کړې، هلته وايي چې (ټول مهر د وطي، صحيح خلوت، يا يو د زوجينو نه اګر چې له دخوله وړاندې، يا صحيح خلوت شوي وي لازميږي). کوم مهر چې د نکاح د ټرلو وخت کې ټاکل کېږي، د مسمی مهر په نوم يادېږي او که ونه ټاکل شي ښځه د مهر مثل خاونده کېږي. همدغه موضوع د مدني قانون په (۹۶) ماده کې ذکر شوې ده. مهر کېدای شي معجل (سمدستي) وي يا موجل (وروسته).

نفقه:

د حقوقو له نظره نفقه عبارت ده له خوراک، څښاک، مسکن او تداوۍ څخه چې د ضرورت په وخت کې او د نارينه د مالي توان په اندازه يې ترسره کول پر هر مېړه لازمي دي. د مدني قانون په اساس نفقه په دوو برخو وېشل کېږي.

1. د ښځې او اولاد نفقه
2. د والدينو او خپلوانو نفقه

د مدني قانون د (۹۰) مادې په اساس په نکاح سره يو شمېر حقوق لکه [نفقه، ميراث او حرمت مصاهره حقوقي اساس پيدا کوي. چې له دې جملې څخه يو هم د ښځې نفقه ده، چې د نکاح په کولو سره پر نر باندې لازمېږي.

۲ :دوالدينو اواولادونونفقه :

دوالدينو اواولادونو نفقې په اړه دمدني قانون د (۲۵۶) مادې نه تر (۲۶۷) مادې پورې په تفصيل سره ذکر کړی دی چې خلاصه يې په لاندې ډول ده.

دماشومانو هلکانو نفقه تر بلوغ پورې دپلار پرغاړه ده او دجينۍ تر واده کېدو پورې دپلار پرغاړه ده که دکارخاوندان وي، نو د خپلو عايداتو څخه به خپله نفقه تامينوې که نه تامينېده نو پلا ربه پې ورکوي که د دوی عايدات زيات وي له نفقې څخه زياتېږي نو پلار به يې ورته ذخيره کوي اوله بلوغ وروسته به يې ورکوي که پلار يې د نفقې قدرت نه لري نو د ده د اولادونو نفقه به د دوی ولي ته چې په پلار پسې په درجه کې وي انتقالېږي. که دکار قدرت ولري نو بيا پلار څخه نفقه نه ساقطېږي.

که کوم ماشوم پلار ونه لري او خپله سرمايه هم نه لري نو د طفل خپلوانو کې اول اصول باندې دويم د اصولو په خواشېو باندې که دواړه وي (اصول اوخواشي)نو په دواړو باندې دميراث د حق په اندازه نفقه لازمه ده اوپلار د زوی دښځې نفقې په ورکولو مکلف نه دی مګردا چې وعده يې کړې وي.

دپلرونو، نيکونو او نياګانو نفقه دکسب قدرت ولري اويا ونه لري د دوی د هغه اولاد په غاړه ده چې شتمن وي عام د دې نه که لور وي يا زوی اوکه څوک فقير وي د ذهني او جسمي مرضونو له وجې دکار اوکسب قدرت ونه لري نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میراث د اندازې سره سم د ده د شتمنو خپلوانو پرغاړه ده.

د واده انحلال:

د واده ختمولو ته د واده انحلال ویل کېږي. واده په لاندې حالاتو او طریقو سره له منځه ځي.

الف- فسخه:

فسخه د واده د دوام منعه کېدلو نه عبارت ده. دا کېدای شي له عقد څخه وړاندې او یا وروسته واقع شي. د مدني قانون د ۱۳۳ مادې په اساس د فسخې عوامل په لاندې توګه ذکر کوو.

۱. د عقد د صحت د شرایطو کمبود

۲. د یو رواني خلل موجودیت

۳. د مهر کموالی د مهر مثل له اندازې څخه

له عقد وروسته خلل په لاندې توګه دی.

۱. د مصاهرې حرمت

۲. د مسلمان سړی واده د نامسلمانې سره یا بالعکس

ب- طلاق:

طلاق په لغت کې خلاصولو ته وایي او په اصطلاح کې د واده خلاصولو ته وایي. طلاق په ځانګړیو ټکو سره تر سره کېږي. همدغه تعریف د مدني قانون په ۱۳۵ماده کې هم شوی دی. طلاق د سړي له خوا وي، خو پر دې شرط چې هغه سړی عاقل او بالغ وي. طلاق یا په شفاهي شکل وي یا په لیکلي شکل. د مدني قانون د ۱۴۱ مادې په اساس د لاندې اشخاصو طلاق نه واقع کېږي.

ج- مجنون: د مجنون سړي له خوا طلاق په هغه صورت کې صحت پیدا کوي، چې طلاق د جنون نه وړاندې شوی وي، ولې که په داسې یو شرط پورې تړلی وي چې هغه شرط له جنون نه وروسته پوره شي؛ نو دا طلاق صحت لري.

د- مکره: (په زورطلاق شوی) دا هغه حالت ته وایي چې یو سړی د زور لاندې ونیول شي چې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي.

ه. ویده (نایم): دا هغه سړي ته وایي چې ژوندی وي، ولې تنبهاتو په مقابل کي عکس العمل نه ښایي. نو که یو څوک پداسي دوامداره خوب ویده وي، د هغه طلاق نه واقع کیږي.

هـ معتوه: معتوه هغه سړي ته وایي چې عقل یې د عمر د ډېروالي او یا د مرض له وجې خراب شوی وي. همدا راز، هغه سړی چې ممیزه قوه یې د غفلت یا نورو عواملو له وجې له لاسه ورکړې وي او خبرې درک نشي کړای او په رواني ناروغیو اخته وي.

طلاق په عمومي شکل سره د مدني قوانینو په اساس په دوه ډوله دی، چې یو ته یې رجعي طلاق او بل ته یې باین طلاق وایي. باین طلاق بیا پر دوه ډوله دی، چې یو ته یې طلاق باین صغرا او بل ته یې طلاق باین کبرا وایي. د مدني قانون له ۴۶ مادې سره سم طلاق په عمومي شکل رجعي وي؛ خو په لاندې حالاتو کې باین کیږي.

۱. درېیم طلاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. طلاق له د خول نه وړاندې
۳. په عوض طلاق
۴. هغه طلاق چې په قانون کې باين وي

و. خلع:

خلع دې ته وايي چې د ښځې له خوا بېلتون صورت پيدا کړي. په خلع کې ښځه بايد هغه مهر چې مېړه ورکړی وي، بېرته مېړه ته ورکړي، اما کېدای شي چې خلع د دواړو خواو په خوښه او رضايت صورت ونيسي او دواړه بې له مهر مستردولو نه په جدايۍ راضي شي. دغه ډول انحلال ته طلاق بالمال هم وايي. خلع د مدني قانون د ۱۵۶ مادې په اساس داسې تعريف شوې ده: خلع د عقد هغه انحلال ته وايي چې مېړه يې ښځې ته ورکوي؛ خو د مال په مقابل کې.

ز. تفريق:

تفريق د واده هغه انحلال ته وايي چې که يوه ښځه له لاندې څلورو حالاتو څخه په يو کې قرار ولري، نو د محکمې پر وړاندې له مېړه څخه تفريق اخيستلای شي، دغه څلور حالته عبارت دي له:

۱. د عيب په سبب تفريق:

د مدني قانون د ۱۷۶ مادې په اساس د عيب په سبب تفريق د ښځې حق پېژندل شوی دی. ښځه په هغه وخت کې د تفريق غوښتنه کولی شي چې مېړه يې په مرض اخته وي او د صحت اعاده يې امکان ونه لري او يا اوږده موده ورته په کار وي؛ خو د مدني قانون د ۱۷۷ مادې په اساس که ښځه د عقد پر مهال يا مخکې له عقد نه له دغو عيبونو څخه خبره وي بيا تفريق نشي واقع کېدای.

۲. د ضرر په سبب تفريق:

د مدني قانون د ۱۸۳ مادې په اساس که ښځه له مېړه سره ژوند کولو کې د داسې يو ضرر ادعا وکړي چې د ژوند دايمي پاتې کېدل ورته مشکل وي، نو هغه کولی شي له محکمې څخه د تفريق غوښتنه وکړي.

۳. د نفقې له وجې تفريق:

د مدني قانون د ۱۹۱ مادې په اساس که سړی د نفقې له ورکولو څخه انکار وکړي، په داسې حال کې هم ښځه د جدايۍ غوښتنه کولی شي.

۴. د غيابت په سبب جدايي:

کله چې سړی د درېو يا زياتو کلونو لپاره بې غوره يا غايب شي او ښځه له دې غيابت نه ضرر پيداکړي، نو هغه کولی شي له محکمې څخه د تفريق غوښتنه وکړي.

نو په لنډ ډول ويلي شو چې: طلاق د سړي، خلع د ښځې او تفريق د محکمې حق دی؛ خو ښځه پر سړي باندې د باصلاحيته محکمې پر وړاندې دعوا کوي او يو له پورته څلورو شرايطو څخه به ثابتوي او چې کله دا ثابت شي نو محکمه د دواړو تر منځ د جدايۍ حکم کوي.

په واده پورې اړوند ځنې نور موضوعات:

۱. نسب:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسب (اولاد) د مدني قانون د ۲۱۸ مادې په اساس میړه ته منسوبیږي، خو په هغه وخت کې چې د حمل موده یې له میړه سره تېره کړي وي او د دواړو ترمنځ صحیح خلوت ثابت وي.

۲. رضاع:

رضاع ماشوم ته شېدو ورکولو ته وایي چې دوه کاله موده لري او د مدني قانون له ۲۳۰ مادې سره سم دې ته وایي چې اولاد ته یې بې له اجورې شېدې ورکړې وي.

۳. حضانت:

حضانت د ماشوم ساتنې او پالنې ته وایي، تر هغه وخته پورې چې ماشوم ورته احتیاج ولري. د مدني قانون له ۱۳۸ مادې سره سم، کومې ښځې چې د ماشوم ساتنه پر غاړه لري په لاندې ډول دي.

1. مور، مورنۍ نیا
2. پلرنۍ نیا
3. پلرنۍ خور
4. مورنۍ خور
5. د پلرنۍ خور لور
6. د مورنۍ خور لور
7. د علاتي خور لور
8. پلرنۍ خاله
9. مورنۍ خاله
10. علاتي خاله

۴. په ودونو کې ستونزې:

۱. جبري ودونه
۲. په ماشوم والي کې ودونه
۳. په بدل ودونه
۴. بېځایه مصارف
۵. په قصاص کې د نجونو ورکول او همداسې نور ...

له دغو عواملو څخه د کورنیو ترمنځ اختلافات پیدا کېږي، چې پایله یې وهل، ټکول، محکمې، جدایي او طلاق شي.

د واده حق د بشري حقوقو د اعلامیې په ۱۶ماده کې ذکر شوی دی او د افغانستان د مدني قانون په لومړي څپرکي کې هم د واده مسایل په تفصیل سره ذکر شوي دي. دا د هر افغان حق دی چې واده وکړي؛ خو ډېر وخت ځوانان د ټولنې د ناوړه رواجونو له کبله نشي کولای چې د ځان لپاره په خپله خوښه واده وکړي او یا هم د واده د بېځایه مصارفو او دودونو له کبله بې واده او بې برخلیکه ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج. د صحت حق:

د انسان لپاره تر ټولو مهم د ده صحت دی. که د چا صحت روغ وي، نو کولی شي چي کار وکړي او ښه ژوند وکړي. که صحت يې ښه نه وي، نو نه کار کولی شي او نه د ښه ژوند خاوند کېداي شي؛ نو له دې امله صحت ضروري دی. مخکې له دې چې سړي مريض شي، د صحت وقايه ضروري ده؛ خو د صحت په ساتنه کې يوازې فرد دومره رول نشي ادا کولی او نه يې له زياتو مصارفو نه وتلی شي. په همدې خاطر دولت د خلکو د صحت پر وړاندې ډېر مسوولیت لري. که دولت د مرضونو مخنيوی و نه کړي، نو د مرضونو خپرېدل به په ټولنه کې زيات او د ټولو خلکو صحت به په ټولنه کې خراب شي. د صحت د ساتنې لپاره بايد لاندې اقدامات تر سره شي.

۱. د صحي زده کړو موسسې، طبي متخصصين او داسې ډاکتران چې په وړيا توګه خلکو ته خدمات وړاندې کړي، بايد زياتې او زيات شي.

۲. د صحي مرکزونو جوړول، لکه شفاخانې، کلينيکونه او د اسې نور.

۳. د دوا جوړولو مرکزونه او پر خلکو يې وړيا او يا په ډېر کم قيمت وېشنه

۴. د وقايوي تدبيرونو نيونه، لکه معدني اوبه، کانالېزاسيون او د ژوند د چاپېريال ساتنه

۵. د تفريحي پارکونو، استراحت ځايونو اوسناتوريمونو جوړول

۶. غذايي باکيفيته مواد، ورزشي مرکزونه

د صحت حق د بشري حقوقو نړيوالې اعلاميې په ۲۵ ماده کې ذکر شوی دی او د افغانستان اساسي قانون په ۵۲ ماده کې د صحت حق ته قايل شوی دی.

د. د ملکيت حق:

د ملکيت تعريف: د يو شخص حقوقي سلطې ته چې منافع او اشياء په کې ولري ملکيت و يل کېږي، صرف النظر له دې نه که هغه مادي وي لکه منقول او نامنقول اموال او يا معنوي وي لکه د ليکنې ملکيت ليکوال ته، نو کله چې د يو شخص سلطه پيدا کېږي؛ نو تصرف يې همدغه شخص کولی شي.

د ملکيت لاسته راوړل:

د ملکيت لاسته راوړل د مدني قانون په اساس په ۵ طريقو سره کېږي چې:

اول: ميراث

دويم: بيعه او شرا

درېيم: هبه

څلورم: وصيت چې تفصيل يې په مدني قانون کې ذکر شوی دی.

پنځم د ملکيت متشکله عناصر:

ملکيت دري عناصر لري

1. د ساتنې حق
2. د نفعې اخيستلو حق

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. د تصرف حق

هر شخص د ملکیت حق لري صرف النظر له دې نه که نر وي او یا ښځه. ملکیت دوه ډوله دی: ټولنیز ملکیت او فردي یا شخصي ملکیت. فرد په شخصي ملکیت کې حق لري چې په مادي او مانوي لحاظ تسلط پر اشیاوو او اجناسو پیدا کړي. ټولنیز ملکیت هغه دي چې په یوې ټولنې پورې اړه ولري، لکه ملي شتمني، ځنګلونه، معدنونه، لا اباده دښتې او نور ...

هـ. د ښوونې او روزنې حق:

د ټولنیزو او فرهنګي اصولو له پلوه ښوونه او روزنه د ټولنې اساسي بنیاد او برخلیک دی. د ښوونې په ذریعه سره انسان کولی شي چې له خپلو حقوقو څخه دفاع وکړي او خلکو ته د خدمت مصدر وګرځي. نو له دې امله تعلیم او تربیه تر منځنۍ دورې پورې باید اجباري وي او لوړې زده کړې، حرفوي زده کړې هم د هر انسان حق دی او باید په مساوي توګه ترې ګټمن شي. د ښوونې او روزنې حق د بشري حقوقو په نړیوالې اعلامیې کې په رسمیت پېژندل شوی او په اقتصادي، فرهنګي، ټولنیز میثاق کې په ۴۲، ۴۳، ۴۴، ۴۵، ۴۶ مادو کې ځای پرځای شوی دی او د افغانستان اساسی قانون هم ورته په ۴۳ ماده کې ځای ورکړی دی.

عالي تحقیقات:

په ښوونه او روزنه کې مهم ایجاد تالیف او علمي اثار دي، چې هر څوک په خپل مسلک کې د زیاتو معلوماتو او کشفیانو په خاطر اثار او اختراعات کوي. دغه اثار او اختراعات د همدغه شخص حق دي. هېڅوک حتا د دولت په شمول دغه حق له مولف او مخترع څخه نشي سلبولای او نه هم ترې له خپلو غوښتنو سره سم ګټه اخیستلای شي. دغه ګټه په ده پورې ترلې ده. که بل چاته یې ښښي هم د هغه حق دی. که چېرې د ده مولف او مخترع تالیف او اختراع دولت په خپل ملکیت کې راولي؛ نو د شخص په خوښه د مادي او مانوي ګټو په بدل کې کولای شي په خپل ملکیت کې یې راولي، دغه حق د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې په (۲۷) او د افغانستان د اساسي قانون په (۴۷) ماده کې ذکر شوی دی.

و. د ژوند د چاپېریال حق:

هر سړی حق لري چې له پاک او سالم محیط څخه ګټه پورته کړي. د چاپېریال ساتنه د هر فرد حق دی، خو د لاندې عواملو له وجې چاپېریال له منځه ځي: د نفتو، ګاز او ډبرو سکرو او همداسې نورو د استعمال له وجې چې په پایله کې یې کاربن ډای اکساید تولیدېږي او هوا الوده او ګرمېږي. د دې تر څنګ د یو زیات شمېر کیمیاوي موادو استعمال، د غرونو او بوټو پرېکول، په تدریجي توګه د زراعتي ځمکو کموالي، د فضله موادو زیاتوالی هم د چاپېریال د خرابونې عمده عوامل دي. دغه کار خصوصي سکتورونه په ډېره کچه کوي.

۱. د ګازونو په پایله کې د ځمکې په شاو خوا کې د اوزون د ګاز پرده خرابېږي او د لمر وړانګې نه تصفیه کېږي، په پایله کې چاپېریال خرابېږي او مرضونه را پیدا کېږي.

۲. د کارخانو د فاضله موادو او نورو کثافاتو له وجې چې د دریابونو اوبه هم چټلېږي.

۳. د ځنګلونو وهل او د حیواناتو ښکار کول.

۴. د نفوس زیاتوالی او یو منظم تدبیر نه نیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټول هغه عوامل دي چې چاپیریال ورسره له منځه ځي او په پایله کې مختلف مرضونه پیدا کېږي، چې په میلونونوانسانان له منځه وړي. که پرمختللي صنعتي هېوادونه خپل تولیدات کم کړي، نو چاپیریال به یو څه سالم شي، که نه نو نور هم خرابېږي. د حرارت درجه کال په کال لوړېږي. د دې کار د مخنیوي په خاطر په ۱۹۷۲ ز کال ملګرو ملتونو اول په استاکهلم کې او بیا په برازیل کې کنفرانس جوړ کړ چې (۱۴۰) هېوادونو په کې ګډون کړی و او دوه ترونونه یې وکړل. له دولتونو او لوړو صنعتي موسسو څخه یې غوښتنه کوله چې د چاپیریال په اړه تلاش وکړي او د هوا، اوبو او دریابونو د ککړېدو مخه ونیسي، که ضرورت پیدا شو باید د خساړې تاوان ورکړي. دغه کنفرانس چاپېریال ساتنه د فرد لپاره اساسي حق وګڼلو او دولتونه یې پر ساتنې اړ کړل. د چاپېریال حق د افغانستان د اساسي قانون په (۱۵) ماده کې راغلی دی.

ز. د هنري فعالیتونو حق:

هنر هم د فرهنګ یوه برخه ده او هر سړی حق لري چې د هنر د حاصلولو او ساتلو په خاطر په فردي او ټولنیز شکل اتحادیې جوړې کړي. هنري فعالیتونه عبارت دي له: مو سیقۍ، شعر، انځورګرۍ، سینما، تیاتر، مجسمه سازۍ، فلم، تصویر، نندارتون او داسې نورو څخه.

دولت وظیفه لري چې هنرمندان له ښځایه مزاحمتونو څخه وژغوري او په خپلو فعالیتونو کې یې تشویق کړي. د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې په (۲۷) ماده کې او د افغانستان د اساسي قانون په (۴۷) ماده کې هم د هنر د حقوقو یادونه او پلوي شوې ده.

ح. د کسب ټاکلو حق:

هر سړی حق لري چې خپل ځان لپاره کسب او پېشه په خپل زړه خوښه کړي، په داسې شان سره چې نورو ته ضرر ونه رسېږي. له ازاد کسب سره له یوې خوا خپله شخص ته ګټه رسېږي او له بلې خوا ټولنې ته ګټه رسېږي؛ خو دغه حق ته زموږ په ټولنه کې پوره پاملرنه نه کېږي. په زور او جبر سره کار او کسب ورته ټاکي. په علمي برخو کې زیات مشکلات شته چې خپلې خوښې ته څوک ډېر نه پرېښودل کېږي. د مشرانو چې کوم څه خوښ وي پر کشرانو یې مني، که هغوي له طبعیت سره سم هم نه وي. د کسب د ټاکلو حق د افغانستان د اساسي قانون په (۴۸او۴۹) مادو کې راغلی دی.

ط. د مطبوعاتو ازادي:

د مطبوعاتو او بیان ازادي د ډیموکراسۍ یو مهم اصل دی، له دې ازادۍ څخه په ګټې هر سړی د دولت، سیاست، حکومت او د ژوند په اړه په مختلفو شکلونو لکه کتاب، مجله او یا هم د مقالې په شکل یا په شفاهي ډول خپل نظرونه په فردي او ټولنیزه توګه بیانولی شي او دولت یې د سانسور کولو حق نه لري. په دې اړه په تېرو مخونو کې په پوره تفصیل خبرې شوي دي؛ خو دغه حق د افغانستان د اساسي قانون په ۳۴ مادې کې ذکر شوی دي، چې وایي: هر افغان حق لري د قانون له احکامو سره سم خپلې لیکنې چاپ او نشر کړي، بې له دې چې وړاندې له وړاندې یې دولت ته وسپاري. د مطبوعاتو د ازادۍ ډېر حکمونه د مطبوعاتو په قانون کې چې په ۱۳۸۲ل کال کې تصویب شوي، ځای پر ځای شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ي. د ماشومانو له حقوقو څخه د ملاتړ حق:

ماشوم هغه چا ته ویل کېږي چې د ۱۸ کلنۍ عمر يې نه وي پوره کړی. ماشوم په دغه مرحله کې له ټولنیز ملاتړ څخه باید برخمن شي. دوی لومړیو مرحلو کې میندو ته اړتیا لري چې د دوی جسمي او رواني پالنه وکړي؛ ځکه چې د مور غېږ د ماشوم لپاره د مدرسې حیثیت لري. د هغو ماشومانو دې خدای مل شي، چې میندې يې د تعلیم او علم په ګاڼه سمبالې نه وي؛ خو وروسته بیا په صحي، مادي، ټولنیزو خدماتو کې او هم د تعلیم، تحصیل، د کورنیو له ترخو برخوردونو نه یو خوا کېدلو لپاره بیا ماشومان د سړیو یا د پلرونو ملاتړ ته اړتیا لري. د ماشومانو د حقوقو ساتنه د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګی حقوقو د نړیوال کنوانسیون او د افغانستان په اساسي قانون کې ځای پرځای شوی دی. همدا راز د ماشومانو لپاره یو ځانګړی قانون وجود لري او د ماشومانو د حقوقو لپاره مستقل چیپټر دی چې ورورسته به يې ولولو.

ک. په نړیواله کچه له علمي او فرهنګي حقوقو لاسته راوړلو څخه د ګټنې حق:

خلک حق لري چې په ملي او نړیواله کچه له فرهنګي او علمي لاسته راوړنو څخه ګټه من شي او باید د علمي او فرهنګي کارونو او د شخصیتونو د لوړوالي په لار کې په ګډه کار وکړي او په ګډه تري ګټه پورته کړي. د دغو لاسته راوړنو لپاره ګټمنې چارې په لاندې ډول دي:

1. سینما
2. ټلویزیون
3. راډیو
4. انټرنیټ
5. طبي وسایل
6. د کور اسباب او وسایل
7. علمي او هنري ادبي اثار
8. ورزش
9. د وړلو - راوړلو اسباب او وسایل لکه ځمکني، هوایي یا دریایي.
10. صنعت، زراعت او وسایل يې
11. او همداسې نور ...

په دغو وسایلو سره سړی کولی شي چې ټولنې ته پرمختګ ورکړي او نېکمرغه شي، چې مادي او مانوي ګټې يې خلکو ته رسېږي. دولتونه کولی شي چې په علمي، تخنیکي، فرهنګي کومکونو د بین المللي موسسو اطلاعاتو له لارې له یو بل سره کومک وکړي او نظرونه سره شریک کړي.

ل. د تاریخي اثارو ساتنې حق:

د تاریخي اثارو ساتنه نه یوازې د دولت مکلفیت دی؛ بلکې د خلکو مکلفیت هم دی، چې د خپلو نیکونو اثار وساتي؛ ترڅو چې د خلکو همکاري ورسره نه وي نو دولت هم یوازې نشي کولی چې په ټول هېواد کې د دې اثارو ساتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي. که چېرې پخواني اثار لکه، برجونه، منارونه، مجسمې او نور کوم اثار څوک خرڅوي او یا یې قاچاق کوي، باید امنیتي مقامونو ته یې وروښیي. تاریخي اثار د اساسي قانون په ۱۵ مادې کي ذکر شوي دي.

م. د دودونو رعایت کول:

دودونه د خلکو باور او عقیدې ته وایي چې پر کومو روشونو باندې عمل کوي. یانې د یوې ټولنې طرزالعمل، رفتار او کړنو ته دودونه یا عرف وایي. دودونه دوه عناصر لري، مادي او مانوي. په دې معنې چې یو خوا د خلکو کړنې او طرزالعملونه وي او له بله پلوه هماغو کړنو ته د خلکو عقیده او باور وي. نو د دودونو پر رعایت کولو باندې هم هر انسان مکلف دی، ځکه چې دودونه هم یوه ټولنیزه پدیده ده، لکه د مذهبي اخترونو نمانځل، د ملي ورځو نمانځل، د پیدایښت د ورځې نمانځل، د ملي شخصیتونو د مړینې د ورځو نمانځل، د مشرانو او د وطن په نوم ویاړنې، ودونه، د مریضانو پوښتنه کول، د قومي مشرانو د پرېکړه احترام او منل، میلمستیاوې او نور. دودونه هغه څه دي چې زموږ ټولنه یې پر کولو باندې مکلفه کېږي او هر سړی باید د دغو دودونو رعایت وکړي. که څوک یې ونه کړي له ټولنې څخه بېلېږي؛ خو که چېرې کوم یو بد عادت مروج وي د هغو مخنیوی پر ډېر مهارت سره باید وشي چې د ټولنې له خوا د سخت عکس العمل سره مخ نه شي.

پایله:

اقتصادي، فرهنګي او ټولنیز نړیوال کنوانسیون د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې په نسبت مفصل دي. چې د کار حقوقو، د ټولنیزې بیمې حق، له کورنۍ څخه د ملاتړ حق، د یو مناسب ژوند جوړولو حق (چې په دې کي نامزادي، ازدواج، مهر، نفقه، طلاق، حضانت او رضاع شامل دي)؛ د ټولو وګړیو لپاره د تعلیم حق (چې په دې کې لومړنۍ زده کړې اجباري دي)؛ د ټولو انسانانو لپاره د صحت حق، د کار او کارګرۍ اتحادیو او سازمانونو جوړولو حق؛ او په یوه فرهنګي ژوند کې د فعالیت کولو حق (چې په دې کې سینما، انټرنیټ، ټلویزیون، راډیو، اخبار، مجله او نور نشرات هم شامل دي)، او همدا راز د تاریخي اثارو د ساتنې حق او د دودونو رعایتول هم شامل دي چې په تفصیل سره پرې بحث شوی دی.

تمرین:

لومړۍ پوښتنه: اقتصادي، فرهنګي او ټولنیز نړیوال ترون څو مادې لري او په کوم کال کې تصویب شو؟
دویمه پوښتنه: په اقتصادي ،فرهنګي اوټولنیز کنوانسیون کې کوم حقوق ذکر شوي دي، په لنډه توګه یې نومونه واخلئ؟
درېیمه پوښتنه: د ملي او بین المللي قوانینو له نظره، د ملکیت حق یانې څه، تشریح یې کړئ؟
څلورمه پوښتنه: په واده او نامزادۍ کې څه توپیر دی؟
پینځمه پوښتنه: د واده انحلال په څو طریقو سره کېږي، نومونه یې واخلئ؟
شپږمه پوښتنه: د صحت په اړه د بشري حقوقو په نړیواله اعلامیه او د افغانستان په اساسي قانون کې څه ویل شوي دي؟
اوومه پوښتنه: د ملکیت متشکله عناصر تشریح کړئ؟
اتمه پوښتنه: د مطبوعاتو ازادي یانې څه، تشریح یې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم څپرکی

د بشري حقوقو ملاتړ او ساتنه

الف: د بشري حقوقو ملاتړ اوساتني پېژندنه:

د بشري حقوقو ملاتړ عبارت له یو لړ قانوني، قضایي او عملي اجراتو څخه دی، چې د یو دولت او یا دولتونو او نړیوالې ټولنې څخه یې د تخطیو او تجاوزونو په مقابل کې کوي. په دې مانا چې کله د فرد او ټولنې اساسي حقوق تر پښو لاندې کېږي؛ نو په دې موخه به نړیواله ټولنه، هغه دولت او نور دولتونه په قانوني او قضایي برخو کې په عملي توګه اقدامات کوي، چې همدغه اقدامات او مخنیوي د بشري حقوقو له ملاتړ او ساتنې څخه عبارت دی.

د بشري حقوقو د ملاتړ او ساتني طریقې:

د بشري حقوقو ملاتړ او ساتنه په لاندې درېوو طریقو سره کېږي:

۱. د نړیوالې ټولنې له خوا د بشري حقوقو ساتنه

۲. ملي دولت له خوا د بشري حقوقو ساتنه

۳. د اشخاصو له خو د بشري حقوقو ساتنه

چې هریو یې په تفصیل سره څېړو:

ب. د بشري حقوقو د ساتنې ارګانونه:

۱. نړیوالې ټولنې له خوا د بشري حقوقو ساتنه

د بشري حقوقو ساتنه په نړیواله کچه په بېلابېلو طریقو سره کېږي چې هره یوه طریقه یې په لاندې توګه خلاصه کوو:

اول: د نړیوالې ټولنې له خوا د اعلامیو او میثاقونو په رڼا کې د بشري حقوقو ملاتړ، چې د اعلامیو او میثاقونو په اړه په بېلابېلو څېړکیو کې تشریح او واضح شوي دي.

۲. د ملګرو ملتونو د بېلابېلو ارګانونو له خوا د بشري حقوقو ساتنه:

د ملګرو ملتونو له بین المللي استازیو پرته نورسازمانونه هم شته چې د ملګرو ملتونو سازمان په چوکاټ کې جوړ شوي او د بشري حقوقو د ساتنې په اړه په مختلفو برخو کې کار کوي. کله چې په یو هېواد کې بشري حقوق ماتېږي، د هغو په اړه ګزارش ورکوي او له مهاجرینو سره په علمي، فرهنګي، ټولنیز او محیطي اړخونو کې کار کوي. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سازمانونه چې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې کار کوي عبارت دي له:

د بشري حقوقو نړیوال کمیسیون

د ملګروملتونو د سلاح راټولولو (ډي، ډي، ار) کمیټه

د ملګرو ملتونو د نشه یي توکیو کمیسیون

د ښځو د وضعیت په اړه کمیسیون

د مهاجرینو لپاره د ملګروملتونو لوړه کمیشنري:

د اطفالوصندوق (یونیسف)

د ښځو لپاره تحقیقاتي نړیواله موسسه

د ملګروملتونو د جمیعت صندوق

د مګروملتونو د چاپېریال ساتنې په اړه برنامه

د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو مرکز

د کار نړیوال سازمان

نړیوال روغتیایي سازمان (WHO)

د ملګروملتونو علمي، فرهنګي سازمان (یونیسکو)

د ملګروملتونو د سولې ساتنې عملیات

دغه پورته ذکرشوي سازمانونه او موسسې د ملګرو ملتونو د قانون او اساسنامې په چوکاټ کې خپل فعالیتونه سرته رسوي؛ خو بدبختانه اوس هم بشري حقوق په ملي او نړیواله کچه ماتېږي.

۳. د سازمانونو او نادولتي خیریه موسسو له خوا د بشري حقوقو ساتنه:

د بشري حقوقو د ساتنې او ملاتړ درېیم شکل د سازمانونو، دولتونو او خیریه موسسو په وجود کې سرته رسېږي. دولتونه دوه طرفه اړیکې په شکل د اشکالو تامینولی شي. لکه اروپایي هېوادونه چې د اروپا اتحادیه یا اروپایي ټولنه یې جوړه کړې ده او د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې او نورو اسنادو څخه یې الهام اخستی دی، چې د دوی دغه حقوقي سند د بشري حقوقو د اروپایي ټرون په نوم هم یادوي. یا امریکا چې د امریکا د ایالتونو د سازمان سند چې له بشري حقوقو څخه د امریکایي ټرون په نوم یادوي. یا اسلامي هېوادونه، چې د بشري حقوقو اسلامي اعلامیه یې تصویب کړې ده او یو لړ اساسي حقوق او ازادۍ یې په کې درج کړي دي؛ نو دولتونه کولی شي چې دو طرفه قرارداد وکړي، مثلاً د بندیانو د تبادلې په صورت کې یا تجارتي قراردادونه چې خلک یې د دې قرادادونو په پایله کې له یو لړ حقوقو څخه برخمن کېږي.

نادولتي ارګانونه لکه کارګرۍ اتحادیې یا د حقوق پوهانو ټولنه یا د ژورنالیستانو ټولنه یا د ځوانانو ټولنه،یا دمدافع وکیلانو ټولنه چې په نړیواله کچه حمایه کېږي او د حقوقو د ماتولو په صورت کې خپل غږ پورته کوي. خیریه موسسې هم د اساسي حقوقو د اجرا کولو په خاطر خپل کومکونه کوي، لکه سره میاشت، او یا سور صلیب، چې د جګړو په وخت کې د جنګ ځپلو معیوبینو او مریضانو سره خپلې مرستې کوي، چې د بشري حقوقو یوه مهمه دنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرته رسوي.

۴. د رسنیو او نړیوالو عامه افکارو له لارې د بشري حقوقو ساتنه:

کله چې د افرادو، ډلګه کیو، قومونو، هېوادونو یا دولتونو حقوق تر پښو لاندې شوي؛ یا انسانان توهین، شکنجه، ناقانوني بندیان شوي؛ یا له انسانیت ضد عملونو سره مخ شوي؛ نو له یوې خوا په ټولنیز ډول د ټلویزیونونو، راډیوګانو، اخبارونو او نورو مطبوعاتو له لارې، دغه تېري افشاء شوي او تېري کوونکي د ژورنالیستانو له رنګ رنګ پوښتنو سره مخ شوي دي. بیا خلکو د دې عملونو پر ضد لاریونونه کړي دي او د حقوقو ماتوونکي یې محکوم کړي دي. همدغو رسنیو د بشري حقوقو په اړه عامه ذهنیت روښانه کړی او د لا زیات روښانه کولو لپاره یې هلې ځلې کوي.

د ترورېزم پر ضد مبارزه:

ترورېزم له دهشت او وېرې اچولو څخه عبارت دی، چې د خلکو مالونو او ځانونو ته تاوانونه رسوي، او وېره خپروي. ترورېزم په نړیواله کچه د بشر ضد یو جنایت پېژندل شوی دی. ترورېزم زموږ په ټولنه کې ډېره وده کړې ده، چې امنیت او سوله یې له ډېرو پوښتنو سره مخ کړې ده.

ترورېزم په عمومي توګه په دوو ښو څرګندېږي چې عبارت دی له:

1. سازمان لرونکی ترورېزم
2. ناسازمان لرونکی ترورېزم

سازمان لرونکی ترورېزم ډېر خطرناک دی، لکه د سپتمبر د یوولسمې نېټې پېښه. د ترورېزم پر ضد ملګرو ملتونو یو پرېکړه لیک صادر کړی، چې د امنیت شورا غړیو مثبتې رایې ورکړي دي، چې په دې کې د سپتمبرد یوولسمې نېټې پېښه او ټول تروریستي اعمال یې د سولې او امنیت لپاره تهدیدونکي ګڼلي دي.

د نړیوالې سولې او امنیت لپاره د هېوادونو فعالیت:

د نړۍ یو شمېر هېوادونه د نړیوالې سولې، امنیت، د مخدره موادو د قاچاق او د انسانانو د اختطافونو د له منځه وړلو لپاره نه هېرېدونکې هلې ځلې کوي. ترور، د نشه یي توکیو قاچاق، د انسانانو قاچاق او ناامني هغه څه دي چې هېوادونه یې له خطر سره مخامخ کړي دي او د بشري حقوقو پر ضد هغه کړنې دي چې ټولنې له سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي پلوه له سختو خطرونو سره مخ کوي. د دې په پایله کې په جنګونو کې په زرګونو انسانان له منځه ځي او کیمیاوي او ذروي مواد په کې کارول کېږي. دا ټول هغه خطرناک زهر دي چې ټولنې ورسره مخامخ کېږي او دا ټول د بشري حقوقو پر ضد عملونه دي. د دغو بشر ضد عملونو د ختمولو لپاره حل لاره، د امنیت راوستل، د سلاح ګانو هر اړخیز او مکمل راټولول او د جنګي جنایتکارانو علني محاکمه کول دي، چې دا کار پراخه، ګډې او فعالې نړیوالې مبارزې ته اړتیا لري.

۵. د ملي دولتونو له خوا د بشري حقوقو ساتنه:

نړۍ لا تر ننه پورې د بشري حقوقو د تطبیق په اړه کوم داسې سازمان او نهاد نه لري، چې د بشري حقوقو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تطبیق په برخه کې کوم قدرت او صلاحیت ورسره وي. تراوسه پورې داسې کوم سازمان او نهاد جوړ شوی نه دی، ځکه چې:

اول: بشري حقوق یوه نړیواله موضوع ده. که کوم داسې سازمان او ارګان جوړ شي چې بشري حقوق تطبیق کړي، نو ضرور به الزامي بڼه ولري او په دې برخه کي د الزامیت بڼې لپاره یو نړیوال نظام ته اړتیا ده، چې د داسې نړیوال نظام له رامنځته کېدو نه مخکې باید نړۍ یو دولت شي او درې ګونې قواوې هم په ټوله نړۍ کې یو شي؛ خو تر او سه پورې په نړۍ کې داسې یو واحد نظام نشته دی.

دویم: ځینې انسانان بشري حقوق مني او ځینې انسانان یې نه مني او یو ډول کرکه ورسره لري.

درېیم: د بشري حقوقو د تطبیق لپاره نړیوالو بڼه لار دا ګڼلې ده چې په خپلو ملي قوانینو کې به د دوو میثاقونو (د بشري حقوقو، مدني او سیاسي نړیوال ټرون، او اقتصادي، فرهنګي نړیوال ټرون) مواد ځای پر ځای کوي او له بشري حقوقو څخه به سرغړونه نه کوي. لکه د افغانستان د اساسي قانون په (۷) ماده کې په څرګنده توګه یادونه شوې ده، چې دولت به د ملګرو ملتونو د منشور، د بین المللي معاهدو او هغو نړیوالو میثاقونو چې افغانستان له هغو سره ټړاو لري او د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې رعایت کوي. نو کله چې قوانین په افغانستان کې جوړېږي د عدلیې وزارت له دندو څخه یوه هم دا ده چې داسې مسوده به تکمیلوي، چې له اسلامي شریعت، اساسي قانون او بشري حقوقو او له عرف او عنعناتو څخه به مخالفه نه وي. بناء د بشري حقوقو تطبیق د ملي دولت له خوا کېږي. د دې خبرې د لا بڼه وضاحت لپاره د خلکو د حقوقو ساتنه د ملي دولت له خوا لږه نوره هم تشریح کوو.

د خلکو د حقوقو ساتنه اول د قوانینو له لارې کېږي او قوانین د دولت په واسطه رامنځته کېږي چې په دې قوانینو کې باید حقوق او مکلفیتونه، ازادۍ او سیاسي کړنلارې واضحې شوې وي، ترڅو هر سړی خپل حقوق او د بل حقوق وپېژني، له خپلو حقوقو نه دفاع وکړي او د بل چا پر حقوقو تجاوز ونه کړي. که څوک د چا پر حقوقو تجاوز کوي؛ نو باید د قانون له لارې یې ساتنه او ملاتړ وشي او د متجاوز مخه ونیول شي. قوانین د حقوقو لپاره مهمه، ټاکوونکې او ساتونکې سرچینه او منبع ده. له دې وجې چې قوانین مهمه سرچینه ده، په دې بحث کي قوانین پر درېوو برخو وېشو.

۱. اساسي قانون:

اساسي قانون لکه څرنګه چې له نوم نه یې معلومېږي په همدغه څېر اساسي او د قوانینو مور ګڼل کېږي، چې دلته مور په لنډه توګه اول د اساسي قانون تعریف کوو. اساسي قانون هغه حقوقي مقرره ده چې د کُلي او عامو قاعدو لرونکي وي او له یوې مرجع څخه تصویبېږي. یا هم، اساسي قانون یوه ملي وثیقه یا سند دی چې د دولت او خلکو تر منځ راوبط بر قرار ساتي. یا په بله اصطلاح اساسي قانون د قواعدو او مقرارتو ټولګه ده چې د دولت ترجماني کوي او نور قوانین ترېنه الهام اخلي.

د اساسي قانون هدف د دولت د عمومي چارو تنظیمول دي. دا چې له درې ګونو قواو څخه د هرې یوې صلاحیتونه او مسوولیتونه د قانون له لارې تنظمېږي؛ نو د درې ګونو قواوو مناسبه هماهنګي هم د اساسي قانون له لارې رامنځته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. عادي قوانين:

عادي قوانين هغو قوانينو ته ويل کېږي چې له اساسي قانون څخه الهام اخلي او د اساسي قانون په رڼا کې جوړ شوي وي. د مثال په ډول، په اساسي قانون کې ذکر شوي دي چې پارلماني ټولټاکنې به په عمومي، سري او مسقيم ډول له ټاکنو قانون سره سم سرته رسېږي. نو په دې کې يې دا په څرګند ډول واضحه کړه چې ټاکنې به پټې، مستقيمې او عمومي وي او نور مسايل لکه د حوزو ټاکل، د ټاکنو لپاره شرطونه او نور جزيات يې د ټاکنو قانون ته پرېښودل شول. په اساسي قانون کې عموميات او کُليات ذکر شول، جزيات يې بل عادي قانون ته پرېښودل. دغه نور قوانين د عادي قوانينو په نوم يادېږي. عادي قوانين په حقوقي لحاظ دويمه درجه کې ځای لري، نو دا لازمي ده چې عادي قوانين له اساسي قانون سره په ټکر کې نه وي او که ټکر يې پيدا شي، اساسي قانون د اعتبار وړ دی نه عادي قانون.

په عادي قوانينو کې صلاحيت د مقننه قوې او پارلمان په لاس کې دی. عادي قوانين د جمهور رئيس له توشېح نه وروسته د اعتبار وړ ګڼل کېږي.

۳. فرعي قوانين:

هغو قوانينو ته ويل کېږي چې د حکومت له خوا صادر شوي وي لکه تقنيني فرمانونه، مقررې او لايحې. يانې فرعي قوانين هغه قوانين دي چې د اساسي قانون او عادي قوانينو د اجرا کولو لپاره يې اجرايه قوه يانې جمهور رئيس، کابينه يا وزارتونو له خوا صادرېږي، چې د قانون د اجرا او طرز العمل مشخصات بيانوي. فرعي قوانين بايد د اساسي قانون او عادي قوانينو مخالف نه وي، که وي د اعتبار وړ نه دي.

د قوانينو ځانګړتياوې:

قوانين لاندې ځانګړتياوې لري چې عبارت دي له:

۱. د يوې صلاحيت لرونکې مرجع له خوا بايد جوړ شي. لکه اساسي قانون د لويې جرګې په واسطه، عادي قوانين د پارلمان په ذريعه او فرعي قوانين د پارلمان يا حکومت په ذريعه.

۲. قانون بايد عمومي او مجرد وي، په دې مانا چې يو مشخص فرد او شخص په نظر کې نه نيسي، بلکې ټولو ته به يو شان وي.

۳. قانون بايد دايمي وي، په دې مانا چې کله يو قانون نافذ شي بايد په متواتر شکل همدغسې پاتې شي که کوم نوی قانون جوړ شي زوړ قانون بيا ملغا ګڼل کېږي.

۴. قانون بايد په ليکل شوې بڼه وي چې له دولتي مقاماتو له خوا د تطبيق او اجرا وړ وي.

د بشري حقوق د تطبيق د پروژو او پراختيا له وجې د خلکو د حقوقو ساتنه:

د خلکو د اساسي حقوقو او ازادیو تطبيق په ځانګړې توګه په اقتصادي، ټولنيز او فرهنګي برخه کي ډېر ستونزمنه ده؛ بلکې خلک ورته لاسرسی نه لري. بايد دولتونه طرحې او ټولنيز پلانونه ولري او په صنعتي، زراعتي برخو کې خلکو ته د کار زمينه پيدا کړي، چې خلک له يوې خوا د ژوند کولو لپاره يو څه مدرکونه پيدا کړي او له بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا د هېواد زیربنا هم ښه رشد وکړي؛ نو بیا د دې لپاره د اړوندو قوانینو تصویب هم اړین دی. چې د کارګرانو او کار ورکونکیو تر منځ ښه عادل مناسبات موجود وي. د دغه یو تناسب راوستل هم د دولت یوه مهمه دنده ده، چې پرې له یوې خوا فقر او بېکاري له منځه ځي او له بلې خوا پرې ټولنیز عدالت هم رامنځته کېږي. له دې پرته ازادي او د اساسي حقوقو پېژندنه په مدني او سیاسي برخه کې بې له مادي ضمانت څخه پاتې کېدای نشي.

۶. د قضایي ارګانونو له خوا د بشري حقوقوساتنه:

د یو هېواد په داخل کې تر ټولو مهمه د بشري حقوقو ملاتړ کوونکې او د عدالت تطبیق کونکې قوه قضاء ده؛ ځکه چې د اساسي قانون له لارې د خلکو د دعواوو ختمول، د متهمینو برخلیک معلومول، او د عدالت تامینول قضایي ارګانونو ته ورکړل شوی دی. د دې لپاره چې په یو هېواد کې قوانین په ښې طریقې سره تطبیق شي، په ښه وجه عدالت تامین شي او د خلکو له حقوقو او ازادیو څخه ساتنه وشي، نو ضروري ده چې:

۱. قاضیان باید د حقوقو په اړه په کامله مانا پوهه ولري، متقي او د لوړو اخلاقو څښتن وي.

۲. محکمې او قاضیان باید د رشوتونو او واسطو نه عاري وي او که د داسې عملونو کوونکي شي، نو باید په کلکله مجازات شي.

۳. محکمې باید په خپلو کارونو کې خپلواکې او یوازې د قانون تابع وي.

۴. محکمې باید په هر برخه یانې مدني، جزایي، اداري، تجارتي برخو کې یوازې د قوانینو تابع وي نه د خپل شخصي نظر.

۵. ټول خلک باید د قانون پر وړاندې مساوي وګڼل شي. د یو شان شرطونو او د یو شان جرم مرتکب که هرڅوک وي، باید یو شان محاکمه شي.

۶. ټول خلک باید د محکمو پر خلاف خپل شکایتونه اړوندو ادارو ته وړاندې کړای شي او کوم ممانعت باید په کې نه وي.

۷. محکمې باید په خپله قانوني ټاکل شوې موده کې دوسیه وڅېړي او د متهم برخلیک معلوم کړي. داسې نه لکه اوس چې په افغانستان کې محکمې په ټاکلي وخت کې فیصلې نه کوي، چې ژوندي مثالونه یې شته.

۸. محاکم باید د دوسیې ټول اړخونو وڅېړي او د محکومیت لپاره لازم او مستند دلایل تر لاسه کړي.

۹. محکمې باید علني وي.

۱۰. محکمې باید د ناتوان شخص لپاره مفته مدافع وکیل وټاکي او د دفاع لپاره ورته کافي وخت ورکړل شي.

۱۱. د کشف او تحقیق مسوولین، پولیس او څارنوال هم باید د تعلیم او تحصیل لرونکي مسلکي او دنده پېژندونکي وي، له خپل وطن او خلکو سره مینه ولري.

۷. د بشري حقوقو کمیسیون له خوا د بشري حقوقو ملاتړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشري حقوقو د ساتنې او ملاتړ په برخه کې په 1993 ز کال کې د یو پریکړه لیک 134/48 په ذریعه د ملګرو ملتونو له خوا دا خبره واضحه او لازمي شوه، چې په هر هېواد کې باید د بشري حقوقو یو کمیسیون جوړ شي. کمیسیون باید د اساسي قانون یا د عادي قانون او یا هم د فرمان له لارې جوړ شي. د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون، د افغانستان د اساسي قانون د (58) مادې له حکم سره سم جوړ شوی او په عمومي شکل د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون د (5) مادې له مخې لاندې هدفونه لري.

۱. په هېواد کې د بشري حقوقو په پام کې نیونه او وړاندې ځارنه.
۲. د بشري حقوقو تعمیمول او ورځنۍ ملاتړ کول.
۳. بشري حقوقو او ازادیو ته د وګړیو له لاسرسي، وضعیت او ځرنګوالي څخه ځارنه.
۴. له بشري حقوقو څخه د سرغړونو او د نقض د موادو څېړنه او تحقیق.
۵. په هېواد کې د بشري حقوقو د وضعیت د ښه کولو او پرمختیا په منظور د تدبیرونو نیول.

او همدارنګه د پورتني قانون له (21) مادې سره سم دا کمیسیون لاندې واکونه او دندې لري.

۱. د بشري حقوقو د وضیعت څېړنه.
۲. د بشري حقوقو په اړه د اساسي قانون، د نورو قوانینو، مقرراتو، لایحو او ژمنو له حکمونو څخه ځارنه.
۳. په هېواد کې د ملي او نړیوالو سیستمونو، انتفاعي او ناانتفاعي موسسو، د اداري، عدلي او قضایي سیستم له هغو اجراتو او کړنو څخه ځارنه کوم چې د بشري حقوقو پر وضیعت باندې اغېزمن وي.
۴. د خدمتونو او تامیناتو د عادلانه وېش او لاسرسۍ په اړه د دولتي او نادولتي مراجعو او مقاماتو له اجراتو څخه ځارنه.
۵. بشري حقوقو او ازادیو ته د وګړیو د لاسرسي له وضیعت او ځرنګوالي څخه ځارنه.
۶. د ازادۍ د سلبو شویو ځایونو (محبسونو، توقیف ځایونو او نورو) څخه لیدنه او د اړوندو قوانینو له تطبیق څخه یې ځارنه.
۷. د بشري حقوقو د سرغړونو او د نقض د موادو څېړنه.
۸. د بشري حقوقو د نقض په موادو کې د اړوند سندونو، مدرکونو، شواهدو او معلوماتو را ټولول.
۹. اړوند مراجعو ته له بشري حقوقو څخه د تېریو په اړه د څېړنو د پایلو راجع کول او تعقیبول.
۱۰. د بشري حقوقو د زده کړې او پوهاوي د ملي تګلارې طرحه کول او تطبیقول.
۱۱. په تعلیمي نصاب کې د بشري حقوقو د موازینو په پام کې نیولو برخه کې له اړوندو ادارو سره همکاري.
۱۲. د جرمونو، جنایتونو او د بشري حقوقو د نقض موادو د څېړنې له بهیر څخه چې د انتقالي عدالت په پروسه کې شاملېږي، ملاتړ او د تامینولو لپاره یې د تګلارې طرح کول او تطبیقول.
۱۳. د بشري حقوقو د ملاتړ، ښه کولو او پرمختیا په اړه د قوانینو او مقرراتو د طرح، تصویب، یا تعدیل او لغوې په منظور، ملي شورا او حکومت ته د نظر وړاندې کول او مشوره ورکول.
۱۴. د بشري حقوقو د نړیوالو ژمنو د لاسلیکولو، تصویبولو یا د افغانستان د الحاق په منظور ملي شورا او حکومت ته د لازمو مشورو ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵. د بشري حقوقو د نړیوالو تعهداتو پر وړاندې د افغانستان د ژمنو د ښه تطبیق په غرض حکومت ته مشورې ورکول.

۱۶. له ملي عقایدو، ملي فرهنګ او عنعنو سره د بشري حقوقو د پرنسیپونو او میکانیزمونو د همغږي کولو لپاره د اغیزمنو لارو موندلو په منظور د علمي څېړنو سرته رسول او په دې برخه کې د موادو برابرول.

۱۷. د افغانستان د بشري حقوقو د ژمنو په برخه کې د دولت د رپوټ د تهیه کولو په منظور دولت ته د مشورو ورکول او د لازمو مواد او معلوماتو برابرول.

۱۸. په اړوند ډګرونو کې د بشري حقوقو د موازینو د ښه تطبیق او د بشري حقوقو په پام کې نیولو د درجې د لوړولو په منظور له دولتي او نادولتي مراجعو او نورو موسسو سره همکاري.

۱۹. د بشري حقوقو د تامین، ملاتړ، ښه کولو او پرمختیا په منظور د اداري اصلاحاتو د تطبیق په لاره کې همکاري.

۲۰. د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون د هدفونو او دندو په لار کې د ملګرو ملتونو له سازمان او نورو سیمه ایزو او نړیوالو موسسو سره همکاري.

۲۱. د بشري حقوقو د ښه کولو، ملاتړ او پرمختیا لاره د علمي او عملي لارو موندلو په منظور د ملي مشورو ترسره کول او عمومي نظریې غوښتل او په دې برخو کې د طرحو برابرول.

۲۲. د بشري حقوقو د ښه کولو د ملاتړ او پرمختیا په منظور په مسئولو مقاماتو، مراجعو او ملي، ولایتي، د ولسوالۍ او کلیوالي شورا ګانو ته د نظر یو، وړاندیزونو او رپوټونو وړاندې کول.

۲۳. د بشري حقوقو د سیمه ایزو بنسټونو د کاري ظرفیت لوړول او د هغوي له نقش او دندو څخه ملاتړ.

۲۴. د بشري حقوقو د وضعیت په هکله د عمومي اعلامیو او رسمي ویناوو چاپ او خپرول.

۲۵. د بشري حقوقو د اصولو او موازینو د پام کې نیولو د علتونو په اړه د چارو له مسوولینو څخه د څرګندونو غوښتنه.

۲۶. د هېواد د اتباعو د خبرتیا په غرض د بشري حقوقو تبلیغول او رواجول.

۲۷. جمهور رئیس ته د بشري حقوقو د وضعیت په اړه د کلنی رپوټ وړاندې کول.

۲۸. د بشرد حقوقو د وضعیت په اړه درپوټونو او ګذارشونو وړاندي کول او خپرول.

۲۹. جمهور رئیس ته د بشري حقوقو له موازینو څخه د سرغړونو د څېړنو د څرنګوالي په موادو کې مشورې ورکول.

۳۰. د مرکزي دفتر، سیمه ایزو او ولایتي دفترونو د چارو اداره او د لاریونو او اړوند مامورینو او کار کوونکیو له اجراتو، فعالیتونو او فردي چلن څخه څارنه.

۳۱. د بشري حقوقو د فعالیت په ډګر کې په ملي او نړیواله سطه د اړیکو تامینول او د دې قانون د حکمونو تطبیقول.

۳۲. د کمیسیون د فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره د لازمو مادي امکاناتو او اسانتیاوو تامینول.

۳۳. د علمي او عملي ګټې اخیستنې په منظور د بشري حقوقو د وضیعت په اړه د رپوټ ورکونې او د احصایې د چارو تنظیمول.

۳۴. د کمیسیون د غړیو، مامورینو او نورو کار کوونکیو د حقوقو، وجیبو، مکلفیتونو، امتیازاتو او بیمو د اړوند چارو د تنظیم لپاره د لایحو وضع کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۵. د دې قانون له تطبیقولو څخه مسوولیت.

۸. د علمي او تحقیقي موسسو په ذریعه د بشري حقوقو ساتنه:

علمي او تحقیقي نهادونه د بشري حقوقو په اړه فعاله ونډه اجرا کوي. له علماوو، پوهانو او استادانو پرته، په ځانګړې توګه د بشري حقوقو په ساتنه او ملاتړ کې د ټولنې پرمختګ نه کیږي. ځکه چې د بشري حقوقو په اړه پوهېدنه او ملاتړ له علمي مراجعو پرته ستونزمن کار دی؛ نو له دې وجې په پوهنتونونو کې د بشري حقوقو تدریس کېدنه یو مهم کار او دنده ده، چې متخصصین و روزل شي او ټولنې ته وړاندې شي او دوي خپله ټولنیزه دنده په خپل اخلاص سره سرته ورسوي او د خلکو له حقوقو څخه دفاع وکړي.

تحقیقي نهادونه هم د بشري حقوقو په ساتنه او ملاتړ کې پوره ونډه لري؛ ځکه چې تحقیقي علمي مرکزونه د حقوقو په اړه خپل تحقیقات کوي او خپل تحقیقات او څېړنې ټولنې ته وړاندې کوي او د بشري حقوقو سازمانونه او خلک ترې ګټې پورته کوي. همداراز د بشري حقوقو ساتونکي د حقوق پوهانو او استادانو له مشورو څخه ګټه پورته کوي او د قوانینو په تصویب کې هم د استادانو له مشورو څخه ګټه اخیستل کیږي.

۹. د مکتب د درسونو په ذریعه د بشري حقوقو ساتنه:

نن سبا په نړۍ کې د بشري حقوقو په رابطه د مکتب په لومړۍ دورو کې اساسات ځای پرځای شوي دي. کله چې له ماشومتوب نه د حقوقو په اړه پوهه وشي او د ماشومانو په ذهن کې ځای ونیسي، نو بیا په اسانۍ سره کولی شي چې د حقوقو سختو مسایلو ته ځواب ووایي، د قوانینو په اړه ښه پوهه لاسته راوړي او د خپلو حقوقو او د کورنۍ له حقوقو څخه ساتنه وکړای شي. دوی بیا له نورو خلکو سره هم کومکونه کولای شي؛ خو متاسفانه چې زمونږ په ټولنه کې د بشري حقوقو د دغه نوعه اساساتو په رابطه په مکتبونو کې پوره او مکمل معلومات نه دې ځای پر ځای شوي، نو له دې امله د پوهې کچه هم ټیټه ده.

۱۰. د حقوقي تبلیغاتو له لارې د بشري حقوقو ساتنه:

خلک هغه وخت کولای شي چې خپل حقوق او ازادي لاسته راوړي چې لومړی د خپلو حقوقو او ازادۍ په ارزښت پوه شي او له اهمیت څخه یې خبر شي. د دې لپاره لومړی عامه پوهاوی ضروري دی. دغه پوهاوی یو ډول حقوقي تبلیغات دي چې د دولت او حقوقي ارګانونو له خوا د تبلیغاتو، راډیو، ټلویزیون له لارې نشرېږي.

همدا راز د کنفرانسونو او حقوقي موسساتو له خوا لکه ستره محکمه، عدلیې وزارت، لوی څارنوال، کورنیو چارو وزارت، بهرنیو چارو وزارت، د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون او مدني ټولنې له خوا یې هم پلوي او ساتنه کیږي. د بشري حقوقو د کتابونو، مجلو، رسالو د چاپ کولو په وسیله هم عامه پوهاوی راپیدا کیږي چې په دې کې د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه، میثاقونه او نور اسناد خپاره او نشر شي.

۱۱. د اشخاصو له خوا د بشري حقوقو ساتنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشري حقوقو اصلي ملاتړ او ساتنه په خپله د اشخاصو له خوا کېږي، ځکه چې حقوق نه ورکول کېږي، بلکې اخیستل کېږي. په خپله شخص باید خپلو حقوقو او ازادیو نه خبر شي او په خپله خپل حقوق لاس ته راوړي. د دې لپاره چې خلک په خپله خوښه د ازادۍ او حقوقو لپاره تلاش کوي او لاس ته یې راوړي نو ضروري ده چې:

۱. که د شخص حقوق او ازادي د دولت د خلکو له خوا نقض شي، نو کولی شي چې اداري او قضایي ارګانونه ته مراجعه وکړي او د خسارې او جبران غوښتنه وکړي.

۲. که د شخص حقوق د دولت یا داسې نورو ارګانونو له خوا نقض شي او څوک ورته غوږ ونه نیسي او د خسارې جبران ورنه کړي، نو کولای شي چې د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون ته خپل شکایت وړاندې کړي چې هغوی ورسره کومک وکړي.

۳. همدا راز کولای شي چې د نقض په صورت کې مظاهرې او لاریونونه وکړي په دې سره هم دولت اصلاح کېدای شي.

۴. د حقوقو د نقض په صورت کې چې د اشخاصو له خوا یا د دولت له خوا صورت نیسي، شخص کولی شي د مقالو، مجلو او ورځپاڼو له لارې نشرات وکړي؛ نو د دغو کارونو لپاره:

لومړي- دا ضروري ده چې شخص د هېواد قوانینو او نړیوالو قوانینو نه خبر وي او په ځانګړې توګه د بشري حقوقو کنوانسیونونه یې مطالعه کړي او په اړه یې معلومات تر لاسه کړي.

دویم: ټول خلک باید له قوانینو نه ځان خبر کړي او د بل چا پر حقوقو تجاوز او تیری و نه کړي او په دې پوه وي چې (کوم ځای کې چې د بل چا حقوق پیلېږي، د ده حقوق درپېږي) دغه اصل باید په نظر کې ونیول شي.

پایله:

د بشري حقوقو ساتنه او ملاتړ له درپوو مراجعو څخه صورت مومي.

اول: نړیواله ټولنه، دویم: ملي دولت، درېیم: په خپله د اشخاصو او افرادو له خوا.

همدا راز دغه ساتنه او پلوي د نړیوالې ټولنې له خوا د اعلامیو او میثاقونو په رڼا کې، د ملګرو ملتونو د سازمانونو او موسسو له خوا، د دولتونو، سازمانونو او خیریه موسسو له خوا او د بشري حقوقو ساتنه د مطبوعاتو او عامه افکارو له لارې صورت نیسي.

د بشري حقوقو ساتنه د ملي دولت له خوا، د ملي قوانینو په رڼا کې، د قضایي محاکمو له لارې، د بشري حقوقو د خپلواک کمیسیون له لارې او بالاخره د بشري حقوقو ساتنه په خپله د اشخاصو په ذریعه چې خپل شکایت دولت یا د بشري حقوقو کمیسیون ته ورکوي او دولت ورسره کومک وکړي، هم صورت نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمرین:

۱. **د بشري حقوقو ملاتړ او ساتنه تعریف کړئ؟**
۲. **د بشري حقوقو د ملاتړ او ساتنې د طریقو نومونه واخلئ؟**
۳. **د ځلورو هغه سازمانونو نومونه واخلئ چې د بشري حقوقو په اړه د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې کار کوي؟**
۴. **ایا بشري حقوق لازمي بڼه لري او که نه؟ او څرنګه تطبیق کېږي؟**
۵. **د قانون ځانګړتیاوې بیان کړئ؟**
۶. **د محکمې هغه خصوصیات بیان کړئ چې د بشري حقوقو ساتنه کوي؟**
۷. **د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون پینځه د ندې او واکونه تشریح کړئ؟**
۸. **د حقوقو د نقض په صورت کې شخص باید کومو مراجعو ته مراجعه وکړي چې خپل حقوق لاس ته راوړي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه او منابع

القران الکریم ترجمان القران (ابوالکلام ازاد)

د بین المللي حقوقو اسناد:

1. د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه
2. د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو قانون
3. د هرډول توکمیز توپیر د له منځه وړلو نړیوال قانون
4. د اقتصادي، ټولنیزو او کولتوري بین المللي حقوقو میثاق
5. د مدني او سیاسي حقوقو میثاق
6. په ټولو شکلونو کې د ښځو پر وړاندې د توپیر د له منځه وړلو ترون
7. د شکنجې، ظالمانه مجازاتو او انساني ضد یا سپکاوي چلند پر خلاف ترون
8. د ماشومانو د حقوقو ترون
9. د بشري حقوقو اعلامیه او د فرانسې اتباع
10. د بشري حقوقو اسلامي اعلامیه

قوانین:

11. اساسي اصولنامه د علیه دولت د جمهوري اسلامي افغانستان
12. د افغانستان د (۱۳۸۲ ل کال) اساسي قانون
13. د افغانستان د (۱۳۴۳-۱۳۶۶ ل کال) اساسي قانون
14. د افغانستان د محاکمو د تشکیل او صلاحیت قانون (۱۳۶۷)
15. د افغانستان جزایي قوانین
16. د کار قانون (۱۳۶۷)
17. مدني قانون (۱۳۵۵)
18. د مطبوعاتو قانون (۱۳۸۲)
19. دښځو دتبعیض دله منځه وړلو قانون

علمي اثار:

20. د بشري حقوقو تاریخچه
21. د سیاسي فلسفې تاریخ ((دوکتور بهاءالدین پازاد ګار))
22. حقوق اساسي و نهاد های سیاسی ((دوکتور سید ابوالفضل))

(c) ketabton.com: The Digital Library

23. مبادي حقوق ((نصرالله ستانکزي))
24. مقدمه علم حقوق ((ناصر قاتوزیان))
25. دولت او سیاست (ناچاپ) ((محمد سعید سعیدي))
26. موازین محاکمه عادلانه
27. افغانستان در مسیر تاریخ ((میر غلام محمد غبار))
28. تقابلي نظام
29. نړیوال سازمانونه
30. فرهنګ اصطلاحات حقوق بشر و حقوق بین المللی
31. تر مینو لوڑی حقوق
32. حقوق اساسی (دوکتور محمد طاهر هاشمي)
33. واده (نا خپور اثر) دوکتور تاج الدین ملت مل، ۱۳۸۸، امریکا
34. دوکالت فن (ناخپوراثر) محمد سعید سعیدي ۱۳۹۰
اسلام اوجمهوریت : ابوالکلام ازاد ژباړه محمد سعید سعیدي ناخپور

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپیم ټوک

د افغانستان اساسي قانون

Afghanistan's Constitution

نوی سید جمال الدین (افغان) انستټیوت

Institute New Said Jamaluddin "Afghan"

لیکوال: سباوون ((شینواری))

جلال اباد، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپیم ټوک

د افغانستان اساسي قانون

لومړی څپرکی

د اساسي قانون مفهوم او تعریف:

د قانون لفظ د کانون(canon) څخه اخیستل شوی، چې په پخواني یونان کې به د قاعدې او دستور په معنی تر کار اخیستل کېده. وروسته بیا په لږ تغیر سره دغه د کانون لفظ په عربي ژبه کې پر قانون بدل شو، چې اوس د پښتو او دري ژبو په حقوقي اصطلاحاتو کې ورته قانون ویل کېږی، چې عامه معنی یې اندازه، مقیاس یا تله یعنی هغه اله چې نور شیان د هغې په واسطه اندازه کېږي.

قانون په اصطلاح کې له یو سلسله اجباري قواعدو څخه عبارت دی، چې دغه قواعد د صلاحیت لرونکو مراجعو لکه پارلمان(مقننه قوه)، لویه جرګه او یا د ولسمشر له خوا وضع کېږي.

د حقوقو د علم له نظره قانون هغه قاعده ده چې یو صلاحیت لرونکی مقام (مقننه قوه) هغه وضع کوي او بیا یې ابلاغوي. دغه قانون چې د خلکو د مصلحت ضامن او د ټولو لپاره یو شان وي، په عامه ژبه دې ته اساسي قانون ویل کېږي.

اساسي قانون د یوې عامې کلیمې په معنی، هغو کلّي قواعدو، مقرراتو او پرنسیپونو ته ویل کېږي چې د یو هېواد د سیاسي بنسټ ایښودونکي وي. په دې مفهوم اساسي قانون له یوه اړخه د سیاسي مؤسساتو څرنګوالی، د هغوی د صلاحیتونو حدود او اختیارات تمثیلوي او له بل اړخه د خلکو پر وړاندې د دې مؤسساتو مکلفیتونه بیانوي او هم په دې اړوند د خلکو د حقوقو او امتیازاتو په اړه بحث کوي.

د اساسي قانون اصطلاح د یو ځانګړي قانون نظارت کوي چې د یو سیاسي قدرت په تاسیس او تطبیق متمرکزه ده. دا قانون د یوه تلفیق (جوړښت) په راجع کولو سره له حقوقي قواعدو څخه داسې قواعد ایجادوي، چې د دولت د سیاسي نظم لپاره امرانه او بهتره بڼه ولري.

اساسي قانون د یو هېواد د هغو قوانینو نظارت کوونکی دی، چې په کې دغه هېواد د خپلو اساسي تصامیمو متضمین اوسي او په نتیجه کې یو عمومي قدرت منځته راولي.

اساسي قانون په واقعیت کې د حکومت کوونکو او حکومت کېدونکو ترمنځ یو تړون دی او یا هم د قدرت لرونکو او رعیت تر منځ د یو تړون حیثیت لري. په همدې ډول دا یو ملي سند یا وثیقه ده چې د مدني ټولنې بنسټ پرې ایښودل کېږي. اساسي قانون هغه وخت سیاسي او ټولنیز ثبات رامنځته کوي او هغه وخت له عالي حقوقي بنسټونو څخه ګڼل کېږي کله چې یې مواد، دساتیر(دستورونه) او مقررات دقیقاً له حاکمو ټولنیزو روابطو څخه منشا اخیستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. داسې یو اساسي قانون کولای شي ثابت، مؤثر او د تطبیق وړ وي او ضمناً ګام په ګام د ټولنې مثبت ټولنیز پرمختګ په متوازن ډول رهبري کړي. داسې یو اساسي قانون د سیاسي ثبات د رامنځته کولو لپاره زمینه برابروي او همدا شان سیاسي ثبات په خپل وار د اساسي قانون د پلي کېدو او د قانون د حاکمیت لپاره په ټولنه کې زمینه مساعدوي. په دې ترتیب د عادلانه قانون پلي کېدل په هره ټولنه کې د سعادت، مصؤنیت او په هېواد کې د برابرۍ ضامن دی. اساسي قانون د یو تضمین شوي قدرت، چې د دولت په ټولو ارګانونو بر لاسی اوسي، مسوول دی. اساسي قانون باید د هېواد په سلسله(مرتبه وارو) موازینو او قواعدو کې لوړ مقام ولري او همداشان د اساسي قانون دتعدیل لپاره یوه خاصه او مشخصه پروسه وجود ولري، دا ځکه چې اساسي قوانین د عادي قوانینو په پرتله ډېر قوي دي، د بشر د حقوقو له نظره، د اساسي قانون عمده کار د اساسي حقوقو په واسطه د اتباعو په حمایت کې د دولت د قدرت محدودول دي. د اساسي حقوقو دغه حمایت باید د ټولو وګړو لپاره یو شان او برابر و اوسي. په همدې ترتیب اساسي قانون کولای شي چې د ټولنې د یووالي او وحدت لپاره په سمه توګه عمل وکړي.

د اساسي قوانینو تاریخچه:

په بشري تاریخ کې اساسي قوانین ډېره سابقه نه لري، یوازې په معاصره دوره کې موږ ولیدل چې د نړۍ په ځینو هېوادونو کې اساسي قوانین منځته راغلل. ساده قوانینو په کلاسیکه دوره یا له میلاد څخه پخوا هم شتون درلود. د بېلګې په ډول لکه په بین النهرین کې د حمورابي قانون، یا د میلاد په اوایلو کې په روم کې د ژوستنین قوانین، چې دا په خپل وخت کې د بشر لپاره یوه لویه لاسته راوړنه وه.

۱. په امریکا کې د اساسي قانون تاریخچه:

د اساسي قوانینو په تاریخ کې د امریکا د متحده ایالاتو اساسي قانون د نړۍ لومړنی اساسي قانون دی چې په (۱۷۸۷) میلادي کال کې د فیلادلفیا په کنوانسیون کې منظور او د (۱۷۸۹) میلادي کال د مارچ پر ۴ نیټه په ټول هېواد کې د پلي کېدو وړ وګرځېد. د متحده ایالاتو د ازادۍ اعلامیه په بیړه د ۱۷ ایالاتونو له جملې څخه ۱۱ ایالاتونو امریکا ته شکل ورکړ او په سمدستي ډول ټولو ایالتونو خپل مربوطه اساسي قوانین ځانګړي او معرفي کړل. په دې قوانینو کې هر ایالت د اول ځل لپاره دا اقدام وکړ چې باید په اساسي قانون کې د خلکو حقوق تدوین شي او په دې ډول د خلکو د حقوقو لپاره څو فصلونه منځته راغلل، چې د دولتي مراجعو قدرت یې محدود کړ او اساسي قانون د یوه هدف په سرلیک د خلکو د حقوقو د تامین په موخه اعلام شو.

په دې وخت کې یوه مشهوره بیانیه صادره شوه چې وایي ((موږ پر دې عقیده یوو چې په فرض کې سم او ښایسته اساسي قانون باید د داسې نظام او اصولو بڼه ولري چې د هغې پر بنسټ د خلکو حقوق او مزایاوې د حکومت له هر ډول تعهد څخه برخمن اوسي)).

په (۱۷۸۸) م کال کې د متحده ایالتونو اساسي قانون تنظیم شو چې په نتیجه کې یې د اتحادیو او دولت قدرت زیات شو او کنفدراسیون یې په فدراسیون بدل کړ. په کال ۱۷۸۸م کې اساسي قانون اجرا شو، چې په ډېرو کمو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعديلاتو سره تر اوسه پورې د پلي کېدو وړ دی. په کال ۱۷۸۹م کې (د حقوقو منشور) د خلکو اساسي حقوقو لپاره يو بل تعديل د متحده ايالتو په اساسي قانون کې رامنځته شو او له تصويب څخه وروسته يې په ټوله امريکا کې د اجرا قابليت پيدا کړ.

د خلکو د اساسي حقوقو د اعلان تر څنګ د امريکا د اساسي قانون لوی نقش د درې ګونو قواو تفکيک و. د درې ګونو قواوو څخه د هرې يوې قوې صلاحيت، قدرت او وظيفه ځانګړې کړای شوه. فدرال سيستم په امريکا کې فدرال دولتونو کې د قانون جوړونې او د قانون د وضع کولو انحصاري صلاحيتونه هم پيداکړل. د امريکا په متحده ايالتونو کې د فدرال په سطحه، کنګره چې له سنا مجلس او ولسي جرګې څخه متشکله ده، د قانون جوړونې ارګان دی.

۲. په فرانسه کې:

په (۱۷۹۲ م) کال کې په فرانسه کې لومړی اساسي قانون اعلان شو تر څو په دغه هېواد کې سياسي نظم راولي، چې په نتيجه کې يې داسې يو نظام راغی چې د اساسي قانون په چوکاټ کې يې شاهي نظام ته ورته والی او نږدېوالی درلود. په دواړو اساسي قوانينو کې د خلکو د اساسي حقوقو او د انساني او مدني حقوقو په اړه ډېر درناوی شوی وو، چې دا درناوی يې د بشري حقوقو له اعلاميې څخه هم لوړ وو. خو له بده مرغه د سياسي تغيراتو له کبله د فرانسې اساسي قانون د امريکا د اساسي قانون په پرتله دومره واک نه درلود. فرانسويانو د اساسي قانون پر ځای پر عادي قوانينو ډېر اتکاء وکوله. په واقعيت کې مخکې له دې چې د فرانسې اساسي قانون اعلان شي د فرانسې مجلس (پارلمان) د يو رسمي قانون په وضع کولو سره د قضايه قوې دخالت په قانون جوړونې کې منعه کړ، چې دا هم د فرانسې په اساسي قانون يو بد ګوزار وو. د فرانسې ليکل شوی اساسي قانون هېڅکله هم هغه برتری او لوړوالی د فرانسې ملت ته ورنه کړ چې د امريکا ملت ته يې ورکړی و.

۳. په افغانستان کې:

هغه وخت چې په امريکا او اروپا کې اساسي قوانين منځته راتلل، افغانستان کې شاهي نظام موجود و. ټول قدرت له پاچا سره و او د هېڅ قانون په وسيله د پاچا دا قدرت نه محدودېده.

خو له نېکه مرغه افغانانو داسې يو عوضي او عنعنوي سيستم درلود، چې د هغې پر بنسټ به ډېرې مهمې پرېکړې تر سره کېدلې، چې هغه د افغانانو لويه جرګه وه. د بېلګې په ډول د ۱۷۴۷م کال لويه جرګه چې په هغه جرګه کې افغانستان په يو مرکزي دولت بدل او احمد شاه بابا د افغانستان د خلکو امير وټاکل شو.

د احمد شاه بابا له دورې څخه تر د امير امان الله خان دورې پورې، په افغانستان کې داسې کوم ليکل شوی قانون موجود نه و او نه هم د قواو تفکيک شتون درلود. ټولې پرېکړې او نړيوال تعهدات به پاچا په خپله سرته رسول. قضايي دندې ډېری علماوو او مفتيانو پرمخ ېبولې، د مرکزي دولت له خوا هم دې علماوو او مفتيانو ته ډېر صلاحيت ورکړل شوی وو.

د افغانستان له خپلواکۍ څخه راوروسته، امان الله خان په(۱۹۲۳ م) کال کې د لومړي ځل لپاره د دولتي محاکمو او د جزا د قانون يو نوی سيستم ايجاد کړ. قضايي اصلاحات رامنځته شول، سربېره پر دې په دې قانون کې د خلکو اساسي حقوقو ته ډېره پاملرنه شوې وه. د بيلګې په ډول، فردي ازادي، د مطبوعاتو ازادي، د ملکيت حق، د اجباري

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونو او شکنجو ممنوع اعلانېدل او داسی نور. په دې اساسي قانون کې د افغانستان ټولو وګړیو ته اعلان وشو چې په مساوي ډول حکومتي څوکیو ته وړاندې کېدای شي.

د امان الله خان له دورې څخه وروسته، په ۱۳۱۰ هـ ل کال کې یو بل اساسي قانون چې هغې ته ((اساسي اصول د لوړ دولت افغانستان)) ویل کېږي هم منځ ته راغی. دغه اساسي قانون چې ۱۱۰ مادې یې درلودې، د نادرشاه په دوره کې تصویب شو. په دې قانون کې زیات تاکید د اسلام د مبارک دین په چوکاټ کې په حنفی مذهب شوی و. پاچا هم باید په همدې مذهب وای او هغه څوک چې مسلمین نه ول، د هغوی لپاره لوړې دولتي څوکۍ نه ورکول کېدې. په دې قانون کې هم اجباري کار او تعذیب ممنوع اعلان شوی و، اما د مطبوعاتو د ازادۍ په اړه په کې په صراحت سره څه موجود نه ول.

له یو سیاسي بحران څخه وروسته په ۱۳۴۳ ل کال کې لویه جرګه دایر شوه چې په همدې جرګه کې د ۱۳۴۳ ل کال اساسي قانون هم اعلان شو. د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون د افغانستان په اساسي قوانینو کې یو ځانګړی ځای لري. د ځکه چې په دې قانون کې تر حده زیات زیار ایستل شوی و، چې د خلکو اساسي حقوق په ښه توګه په قانون کې ځای پرځای شي. په دې اساسي قانون کې د قواو تفکیک منځته راغی، د خلکو نماینده ګان ولسي جرګې ته انتخاب شول او همدا شان قضایه قوې ته پوره واک ورکړل شو، چې ټول حقوقي مسایل او اختلافات په خپل ځانګړي واک حل او فصل کړي.

په (۱۳۵۵ ل) کال کې د سردار محمد داود خان په وخت کې یو بل اساسي قانون منځته راغی، په دې اساسي قانون کې د (۱۳۴۳ ل) کال د اساسي قانون پر عکس ډېر تغیرات منځته راغلل. د قضایه قوې ډېر اختیارات عدلیې وزارت ته منتقل شول. قضایه قوې خپلواکي له منځه لاړه او په دولت پورې تړلی یو ارګان وګڼل شو. د دې قانون مثبت اړخ د افغانستان اقتصادي اصلاحات وو. د سردار محمد داود خان دا هڅه وه چې د افغانستان اقتصاد قوي شي، چې افغانستان د پرمختللیو هېوادونو په لیکه کې ودروي. له یو لنډ بحث څخه وروسته لویې جرګې په دې مسوده کې ټول تغیرات رامنځته کړل او په ۱۳۵۵ ل کال کې دا قانون تصویب شو او د ۱۳۵۵ ل کال د حوت په ۲۵ رسما ابلاغ شو.

په ۱۳۵۹ ل کال کې د ببرک کارمل په وخت کې د انقلابي شورا له خوا (د افغانستان ډیموکراتیک جمهوري اساسي اصول) منځته راغلل چې په موقت ډول په ۶۸ مادو کې تصویب شو.

په ۱۳۶۶ل کال کې د ډاکتر نجیب په دوره کې د لویې جرګې له خوا په ۱۳۹ مادو کې بل اساسي قانون تصویب شو او بیا تر یوې اوږدې مودې وروسته په ۱۳۸۲ل کال کې اوسنی اساسي قانون د لویې جرګې له خوا په ۱۲ فصلونو او ۱۶۲ مادو کې تصویب او د ۱۳۸۲ل کال د دلوې پر ۶ نېټه د ولسمشر له خوا توشېح شو.

د افغانستان په دې اساسي قانون کې داسې حکم شوی چې هر هغه قانون چې د اسلام مبارک دین پر خلاف وضع شي؛ نو هغه قانون له منځه ځي یعنی هېڅ یو قانون د اسلام مبارک دین پر خلاف کېدلای نه شي. په دې قانون کې د بشر د حقوقو پوره درناوی شوی دی. همداراز د بیان ازادۍ، د درې ګونو قواو تفکیک او عمومي ټول ټاکنې د۱۳۸۲ کال د اساسي قانون لویې لاسته راوړنې ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قانون د وضع کولو صلاحيت لرونکي مراجع

په عمومي توګه د قوانينو وضعه کولو صلاحيت لرونکي مراجع يا ارګانونه په درې ډوله دي:

۱- لويه جرګه

۲- پارلمان (ملي شورا)

۳- جمهور رئيس يا ولسمشر (د دولت د رياست مقام).

۱. لويه جرګه:

د يو قانون د وضع کولو لپاره په افغانستان کې لويه جرګه يوه ځانګړې او تر ټولو مهمه مرجع ده، چې په بل هيڅ يو هېواد کې هم د قانون د وضع کولو لپاره دغه ډول ځانګړې مرجع شتون نه لري او يوازې په افغانستان کې ور څخه ګټه کېږي. د اساسي قانون په وضع کولو کې د لويې جرګې غړي اکثريت د ملت انتخابي غړي وي، چې شمېر يې معمولاً د پارلمان له غړيو څخه زيات وي. ځينې وختونو کې د لويې جرګې په ترکيب کې د هماغه وخت د پارلمان غړي جمع د کابينې غړي جمع يو شمېر نور غړي د ځانګړو ټاکنو له لارې له هر ولايت څخه ټاکل کېږي.

لويه جرګه په خاصو تشريفاتو سره د اساسي قانون مسوده تهيه کوي او که دغه مسوده مخکې جوړه شوي وي، بيا دغه مسوده لويې جرګې ته د تصويب لپاره وړاندې کېږي. پر دې مسوده لويه جرګه غور کوي، چې د رايو په اکثريت سره هغه کله تائيد شي؛ نو دې ته د لويې جرګې له خوا د اساسي قانون تصويب وايي.

له تصويب نه ورسته نومورې طرحه جمهور رئيس ته د توشيح لپاره وړاندې کېږي، چې له توشيح نه ورسته دا د اساسي قانون حيثيت غوره کوي او بيا د عدليې وزارت په رسمي جريده کې نشرېږي او د تطبيق قابليت پيداکوي.

۲. پارلمان (ملي شورا):

پارلمان د قوانينو د وضع کولو دويمه مرجع ده، چې دې ته عادي مرجع ويل کېږي.

پارلمان په ځينو هېوادونو کې لکه افغانستان يوازې د ارګانيکي او عادي قوانينو د وضع کولو مرجع ده، ولې په ځينو نورو هېوادونو کې بيا صلاحيت لرونکې مرجع ګڼل کېږي؛ ځکه چې په دې هېوادونو کې د اساسي قانون او د نورو قوانينو تر منځ په وضع کولو کې څه فرق نه ليدل کېږي. خو د اساسي قانون لپاره خاص تشريفات په نظر کې نيول کېږي، لکه د اساسي قانون پر مسوده باندې نظر غوښتنه، په داسې حال کې چې پر نورو قوانينو نظرغوښتنه نه کېږي. هغه هېوادونه چې اساسي قانون د پارلمان له خوا وضع کوي؛ نو له ريفرينډم يا ټولپوښتنې څخه هم کار اخلي.

۳. ولسمشر (جمهور رئيس يا د دولت د رياست مقام):

دا مقام هم د قانون د وضع کولو يوه مرجع ده. د ټولو قوانينو مسودې تر هغه وخته پورې چې د دولت د رئيس له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا لاسلیک نه شي، قانون نه ګڼل کېږي. د دولت رئیس دا حق لري چې د قانون پر مسودې لاسلیک وکړي، یا یې کاملاً رد کړي او یا یې د تعدیل او د اصلاح لپاره بېرته خپلې اولنۍ مرجع ته ولېږي. د دولت د ریاست مقام کولای شي چې نور قوانین لکه ارګانیک او عادي قوانین مستقیماً د تقنیني فرمانونو په واسطه وضع او نافذ کړي.

د اساسي قانون ځانګړتیاوې:

لکه څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه اساسي قوانین د خلکو د اساسي حقوقو تضمین کوونکي دي، نو پر همدې دلیل اساسي قوانین ځانته ځانګړې ځانګړتیاوې هم لري چې په لاندې ترتیب سره یې بیانوو.

1. افغانستان، چې یو اسلامي هېواد دی او ټول وګړي یې مسلمانان دي او د افاقي حقوقو اصلي سرچینه د اسلام مبارک دین دی؛ نو په دې اساس د افغانستان اساسي قانون باید د اسلام مبارک دین او د اسلامي شریعت د اصولو مخالف نه وي او که چېرته مخالف شي نو قانون له منځه ځي او باطل اعلانېږي.

۲. اساسي قوانین په خاصو شرایطو کې منځته راځي او ځانګړی ترتیبات ورته نیول کېږي. د بېلګې په توګه، لویه جرګه یا پارلمان، په دې معنی چې د اساسي قانون په وضع کولو باید ټول ولس خبر و اوسي.

۳. کله چې اساسي قوانین وضع کېږي، نو باید د خلکو د استازو له خوا وضعه شي، د خلکو استازي په دې معنی چې د خلکو او ولس له خوا انتخاب شوي وي، د دې لپاره چې د خلکو ارادې او غوښتنې په اساسي قانون کې شریکې شي.

۴- ټول قوانین که هغه ارګانیکي قوانین وي او یا هم عادي قوانین وي او یا دا چې یوه لایحه وي؛ باید د اساسي قانون تابع او سي او که چېرته اساسي قانون لغوه کېږي، نو یوازې ارګانیک لغوه کېږي.

۵- د اساسي قانون مسوده چې تر کومه ولسمشر یا صدر اعظم نه وي توشېح (لاسلیک) کړی، تر هغې پورې ورته اساسي قانون نه شي ویل کېدای.

۶- کله چې د اساسي قانون مسوده تصویب شي؛ نو په ځینو مواردو کې له خلکو (ولس) څخه د هغوی نظر اخیستل کېږي تر څو نومورې اساسي قانون وضع شي.

۷- که چېرته د اساسي قانون په کومه ماده کې تغیر یا تعدیل منځته راځي، نو باید د خلکو د استازو له خوا وربانديې پوره غور او تاکید وشي او ټول اړخونه یې باید وڅېړل شي او د خلکو اراده باید په دې کې هم موجوده وي.

د اساسي قانون ډولونه:

په نړۍ کې تقریباً ټول هېوادونه که اسلامي دي او که غیر اسلامي، د اساسي قانون له شتون څخه برخمن دي. خو د هر هېواد اساسي قانون خپلې ځانګړتیاوې لري، د بېلګې په توګه: د امریکا د متحده ایالاتو اساسي قانون د نورو هېوادونو د اساسي قوانینو په پرتله لنډ او وړوکی مدون (لیکل) شوی اساسي قانون دی، چې په عین وخت کې دا یو سخت او نه ماتېدونکی اساسي قانون هم دی چې په دې کې تغیر او تعدیل په مشکله رامنځته کېږي. د دې برعکس که مورِ د برتانیې اساسي قانون ته ځیر شو، نو د برتانیې اساسي قانون یو نامدون (نالیکل) شوی اساسي قانون دی، چې په دې کې تغیر او تعدیل په اسانۍ سره راتلای شي. دا ځکه چې نامدون اساسي قوانین عموماً نرم اساسي قوانین وي. د موضوع د ښه روښانتیا لپاره لاندې موضوعات په تفصیل سره بحث کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدون او نامدون اساسي قوانين:

د مدون او نامدون اساسي قوانينو له نوم څخه څرګندېږي چې مدون اساسي قوانين هغه قوانين دي چې هغه ليکل شوی بڼه ولري. مدون اساسي قوانين له تصويب او توشېح څخه وروسته د کتاب په بڼه منځته راځي، چې دا کتاب په څو فصلونو او هر يو فصل يې په څو مادو مشتمل وي او په هر فصل کې ځانګړې موضوع تر بحث لاندې راغلې وي. په دې ډول د هر يو هېواد مدون اساسي قوانين خپلې ځانګړتياوې لري. لکه د امريکا د متحده ايالاتو اساسي قانون چې د نړۍ تر ټولو وړوکی او يا لنډ اساسي قانون دی. مدون اساسي قوانين تقريباً ټول سخت او نه ماتېدونکي اساسي قوانين دي، چې په دې کې تغير او تعديل په سختۍ سره رامنځته کېږي.

نامدونو اساسي قوانينو ته مورِ عرفي قوانين هم ويلای شو. نامدون اساسي قوانين کوم ځانګړی متن نه لري او نه هم د کتاب په بڼه کوم ليکل شوی سند دی. نامدون اساسي قوانين له عرف، ادابو او عنعناتو څخه منځته راغلي وي. دا قوانين د عادي قوانينو په منځ کې وېشل شوی وي؛ خو بيا هم نامدون اساسي قوانين دي. دا ډول قوانين لپاره ددې رامنځته کېږي، چې د هېواد سياسي جوړښت مشخص کړي. د دې ډول قوانينو قواعد او اصول د يوې موضوع په هکله صريح او قاطع نه دي، او يوازې له عرفي او عنعنوي فکتورونو څخه په ګټې موضوعات حل و فصل کېږي. په اوس وخت کې مورِ يوازې د برتانيې مثال ورکولای شو چې يو نامدون اساسي قانون لرونکی هېواد دی.

سخت او نرم اساسي قوانين:

هر وخت چې په اساسي قوانينو کې د عادي قوانينو په څېر يو شان تجديد نظر رامنځته کېږي او يا د عادي قوانينو په څېر په اساسي قوانينو کې تغير او تعديل رامنځته کېږي، نو هغه اساسي قانون ته مورِ نرم اساسي قانون وايو. په دې صورت کې د دې قوانينو او اساسي قوانينو ترمنځ هېڅ توپير شتون نه لري. نرم اساسي قانون ډېر عرفي او نامدون وي. د اسرائيلو او انګليس اساسي قوانين د نړۍ په نرمو اساسي قوانينو کې شمېرل کېږي.

سخت قوانين هغو قوانينو ته ويل کېږي چې په کې د تجديد نظر مراسم د يوې ځانګړی قوې(پارلمان) له خوا منځته راځي او په دې قوانينو کې تغير راوستل ګران او بې مثاله وي. خو که چېرته تغير او تعديل منځته راځي نو بيا هم مقننه قوه (پارلمان) د دې مسوولیت لري. په دې صورت کې اساسي قوانين په عادي قوانينو لويه برتري لري او د سلسله مراتبو په لحاظ د قدر وړ او په لومړۍ درجه کې ځای لري. تقريباً ټول ليکل شوي يا مدون اساسي قوانين سخت او نه ماتېدونکي دي او د تجديد نظر مقررات يې په داسې ډول تدوين شوی وي، چې نه شي کولای په اسانۍ سره په هغه کې لاس ووهل شي يا په کې تغير او تعديل رامنځته شي. د امريکې، سويس، فرانسې او بلژيک هېوادونو اساسي قوانين د سختو قوانينو له ډلې څخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم څپرکی

د افغانستان اساسي قوانين

د نړۍ په ټولو هېوادونو کې اساسي قوانين له يو ځانګړي اهميت څخه برخمن دي. دا په دې خاطر چې هر اساسي قانون د اصولو او قواعدو هغه ټولګه ده، چې د حکومت شکل، سازمان، د دولت سياسي بنسټونه، روابط، وظايف او همداسې د دوی صلاحيتونه او محدوديتونه مشخصوي. سربېره پر دې، اساسي قوانين د خلکو د اساسي حقوقو او د خلکو د عمومي ازادۍ، چې دولت د هغې د رعايت او احترام مکلفيت پر غاړه لري، تضمين کوونکی دی. د هېواد په داخلي قوانينو کې اساسي قانون ته د قوانينو د مور عنوان ورکړل شوی دی، چې د تقنيني اسنادو په سلسله مراتبو کې په اوله درجه کې ځای لري.

د نړۍ د ډېرو هېوادونو تقنيني اسناد لکه عادي قوانين، مقررې او لايحې د اساسي قانون په چوکاټ کې او د اساسي قانون په مفاد کې وضع کېږي؛ نو په دې خاطر اساسي قوانينو ته د قانون د مور نوم ورکړل شوی دی.

زمونږ هېواد په شلمه ميلادي پيړۍ کې د لومړي ځل لپاره له لومړنی اساسي قانون څخه برخمن شو. د افغانستان دغه لومړنی اساسي قانون د ۱۳۰۲ ل کال د وري د مياشتې پر شلمه نېټه چې د (۱۹۲۳ ز) کال د اپرېل له نولسمې نېټې سره سمون خوري، د امير امان الله خان په وخت کې رامنځته شو. له دې لومړني اساسي قانون څخه رانيولې د شلمې پيړۍ تر پايه پورې زمونږ په هېواد کې د سياسي رژيمونو او حالاتو له ادلون بدلون، سره څو اساسي قوانين تغير، تبديل او تعديل شول؛ خو د نړۍ په نورو هېوادونو کې بيا د اساسي قوانينو دومره او ژر او په چټکه توګه نه بدلېږي، د بېلګې په توګه د امريکا د متحده ايالاتو اساسي قانون چې په (۱۷۸۹ م) کال کې تصويب شوی دی تر اوسه په کې يوازې څو تعديلونه رامنځته شوي دي او نور هماغسې پر خپل حال پاتې دی.

دلته اړينه ده چې د خپل ګران هېواد افغانستان ټولو اساسي قوانينو ته يوه ځغلنده کتنه وکړو، چې کم تر کمه د هر يوه په اړه معلومات تر لاسه کړو.

۱. (د افغانستان اساسي نظامنامه د لوړ دولت):

دا نظامنامه چې په ۷۳ مادو مشتمله وه، د ۱۳۰۱ ل کال د حوت د مياشتې په ۱۰ نېټه د جلال اباد په لويه جرګه کې چې ۸۷۲ کسانو په کې ګډون کړی وو، شروع او بيا د ۱۳۰۳ ل کال د سرطان په مياشت کې د پغمان په لويه جرګه کې چې ۱۰۵۲ کسانو په کې ګډون کړی وو تصويب شو. دا اساسي نظامنامه د امان الله خان په وخت کې رامنځته شوې وه.

۲. اساسي اصول د لوړ دولت: د ۱۳۱۰ل کال اساسي اصول:

د امير امان الله خان تر واکمنۍ وروسته هېواد د يوې لنډې مودې لپاره په اغتشاش کې وو، کله چې د نادر خان له خوا له دې اغتشاشه ووت؛ نو نادر خان غوره وګڼله چې د خپل حکومت لپاره يو داسې اساسي قانون رامنځته کړي چې د اماني دورې له اساسي قانون سره جوت توپير ولري. هماغه و چې نادر خان د ۱۳۰۹ ل کال په ميزان کې چې د ۱۹۳۱ ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال له سپتمبر سره سمون خوري په کابل ښار کې د قومونو او قبايلو مشران او سپين ږيرې راوغوښتل او يوه لويه جرګه يې جوړه کړه. دې جرګې د محمد نادر خان د پاچاهۍ پر تاييد سربېره د اساسي قانون جوړولو لپاره يو پلاوی هم وټاکه چې له يو سل او پينځو کسانو جوړ وو، دغه پلاوي، چې د (ملي شورا) په نوم ياد شو، د همماغه کال په اکتوبر کې يې د (اصول دولت عليه افغانستان) په نوم اساسي قانون جوړ کړ. دې اساسي قانون يو سل او لس مادې درلودې. دا اصول د نادر خان په وخت کې د (۱۳۱۰ ل) کال د عقرب په ۸ نېټه د ۱۱۰ مادو سره منځ ته راغلی وو.

۳- د ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون:

دا اساسي قانون د ظاهرشاه په دوره کې د ۱۳۴۳ ل کال د سنبلې په ۲۹ کې چې يوولس فصلونه او ۱۲۸مادې يې درلودې په لويه جرګه کې تصويب شو او د همدې کال د ميزان په ۹ نېټه د ظاهرشاه لخوا توشېح او پلی شو.

۴. د ۱۳۵۵ ل کال اساسي قانون:

دا قانون د داودخان په جمهوري دوره کې د ۱۳۵۵ل کال د دلوې په ۲۵ په ۱۳ فصلونو او ۱۳۶ مادو کې د لويې جرګې له خوا تصويب او د همدې کال د حوت پر ۵ د رئيس جمهور له خوا توشېح شو.

۵. - د ۱۳۵۹ل کال افغانستان ديموکراتيک جمهوري اصول:

دا اصول د ۱۳۵۹ل کال د حمل په ۲۵ د افغانستان ديموکراتيک جمهوري انقلابي شورا چې ببرک کارمل يې مشري کوله په ۶۸ مادو کې په موقت ډول تصويب شو.

۶. - د ۱۳۶۶ل کال اساسي قانون:

دا اساسي قانون د ډاکتر نجيب الله په دوره کې د ۱۳۶۶ ل کال د قوس په ۸ نېټه په ۱۳ فصلونو، او ۱۳۹ مادو کې د لويې جرګې له خوا تصويب او د همدې کال د قوس د مياشتې په ۹ نېټه د رئيس جمهور له خوا توشېح شو.

۷. د ۱۳۶۹ ل کال اساسي قانون:

دا اساسي قانون په اصل کې د ۱۳۶۶کال تعديل شوی اساسي قانون و، چې دا هم د ډاکتر نجيب الله په وخت کې په ۱۳۶۹کال کې د لويې جرګې له خوا تصويب او د ډاکتر نجيب الله له خوا توشېح شو.

۸. د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون:

دا اساسي قانون د طالبانو دورې له ختم نه وروسته د حامد کرزي په انتقالي دوره کې د تسويداو تدقيق د کميسيون له خوا ترتيب او په هغه لويه جرګه کې چې په ۱۳۸۲ کال کې راغوښتل شوې وه، د قوس له ۲۲ نه د جدي تر ۱۴په ۱۲فصلونو او ۱۶۲ مادو کې په تصويب ورسېده او د همدې کال د دلوې په ۶ نېټه د انتقالي دولت د رئيس حامد کرزي له خوا توشېح کړای شو.

دا لنډه ارزونه موږ ته دا را په ګوته کوي چې د افغانستان د تاريخ په اوږدو کې چې دا قوانين رامنځته شوي، ډېر او بېلابېل رژيمونه د دې قوانينو په ترڅ کې ازمايل شوي دي، لکه مطلقه سلطنت، مشروطه سلطنت، جمهوريت، ډيموکراتيک جمهوريت او اسلامي جمهوريت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. اساسي نظامنامه د لوړ دولت:

کله چې په ۱۹۱۹ ز کال کې امان الله خان قدرت ته ورسېد او له لوېې برتانيې څخه يې د افغانستان خپلواکي تر لاسه کړه؛ نو په دغه وخت کې افغانستان د نوي عصر لومړی خپلواک اسلامي هېواد او لومړنی مسلمان دولت وو، چې په جامعه ملل سازمان کې يې غړيتوب هم تر لاسه کړی وو. وروسته تر دې چې امير امان الله خان د يو خپلواک دولت بنسټ کېښود، نو هڅه يې وکړه چې په هېواد کې ژور اقتصادي اصلاحات هم را منځته کړي او همدا شان د زده کړې او تحصيل په برخه کې پرمختګ وشي. د ښځو پر زده کړه يې ډېر تاکيد وکړ او غوښتل يې چې د ژوند په هره برخه کې افغانان او افغانستان د مُدرنو او پرمختللیو هېوادونو په ليکه کې ځای پيدا کړي.

د امير امان الله خان د دورې يو لوی ابتکار د هغه وخت اساسي قانون يا اساسي نظامنامه د دولت وه، چې په ۱۳۰۳ ل کال کې يې په ۷۳ مادو کې په ترتيبولو سره د افغانستان پاچايي نظام د اساسي قانون په چوکاټ ځای پر ځای کړ.

له دې نظامنامې څخه وروسته يې په افغانستان کې قضايي اصلاحات د دې هدف لپاره رامنځته کړل، چې په حقوقي نظام کې تغير رامنځته شي. د دې لپاره چې د دې کار په سرته رسولو سره د افغانستان حقوقي نظام په منځنۍ اسيا کې د پرمختللیو حقوقي نظامونو له ډلې څخه وشمېرل شي.

د امير امان الله خان له خوا يو نوی نظام چې په کې د دولتي محاکمو او د جزا قانون مسلط شو، منځته راغی. په دې اساس د اساسي قانون ۲۱مادې حکم وکړ، چې په عدلي محاکمو کې ټولې قضاياوې بايد د اسلامي شريعت او د عمومي جزا او د مدني جزا د قوانينو تر حکم لاندې حل شي. د جزا دا نوی اقتباسي قانون غربي ډوله نه وو او په عوض يې ډېر اسلامي اصول او مقررات د قانون په قالب کې تدوين شوي ول. د دې نظامنامې مهمترين اړخ د هغه فهرست اعلان وو، چې په کې اساسي حقوق، لکه فردي ازادي، د مطبوعاتو ازادي، د ټولنو ازادي او د ملکيت حق په اړه پرېکړې شوې وې.

په دې نظامنامه کې شکنجه او اجباري کارونه ممنوع اعلان شول. سربېره پر دې د هېواد ټولو اتباعو ته په مساوي توګه حق ورکړل شو؛ ترڅو په دولتي پوستونو کې کار وکړي. د زده کړې او تحصيل په اړه چې د نارينه او ښځينه اتباعو لپاره يو شان تعين شوی وو او ډېر په زړه پورې او يو پرمختللی امر وو،. د اسلام مبارک دين په حواله اعلان شو، چې ډېرې غير اسلامي ډلې په دې قانون کې له مذهبي ازادۍ او مذهبي حمايت څخه برخمنې شوې. سره له دې چې دا قانون په خپل وخت کې يو مترقي اساسي قانون وو؛ خو يو څه نيمګرتياوې يې هم لرلې، لکه د درې ګونو قواو د تفکيک نه شتون. په دې وخت کې يوه دولتي شورا چې له منتخبو او او انتسابي غړيو څخه ايجاد شوې وو، هم شتون درلود؛ خو دې شورا يوازې مشورتي دندې درلودې چې د وزيرانو او منجمله د لومړي وزير (صدراعظم) انتخاب د دولتي شورا له مشورې څخه پرته وکړي. حکومت يوائې د پاچا په مقابل کې مسوول وو. په دې اساسي قانون کې په ښکاره ډول د قضايي ازادۍ لپاره کوم تضمين وجود نه درلود. سره له دې چې په ۵۴ مه ماده کې يې داسې وړاندوينه شوې وه، چې ټول عدلي محاکم له هر ډول دخالت څخه خوندي دي؛ خو دا خبره يوازې په راتلونکو برنامو پورې تړلې وه. له دې نيمګړتياو سره سره دې اساسي قانون (نظامنامې) په افغانستان کې د اساسي حقوقو د تضمين لپاره يو ستر بنسټ کېښود او د افغانستان حقوقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظام يې په سيمه کې د پرمختللي حقوقي سيستمونو يا نظامونو په بڼه را برسېره کړ.

۲. اساسي اصول د لوړ دولت افغانستان:

اساسي اصول د لوړ دولت ته د (۱۳۱۰ل) کال اساسي قانون هم ويل کېږي، چې د امير امان الله خان له دورې څخه وروسته د نادرشاه په وخت کې منځته راغی. نادرشاه ډېر له جنجال څخه ډک نظام لغوه کړ او د مذهبي قوانينو اجرا يې د مذهبي محاکمو له لارې تائيد کړل. د ۱۳۱۰ ل کال اساسي قانون په اسلام او شرعي قوانينو چې تفسير يې په حنفي مذهب وو، ډېر تاکيد کاوه. د دې قانون لومړۍ مادې دا حکم کړی وو، چې: د اسلام مبارک دين د حنفي مذهب په چوکاټ کې بايد وي، د هېواد رسمي دين دی، دولت د نورو اديانو د وګړيو نه په هغه صورت کې چې ټولنيزو قواعدو ته ضرر ونه رسوي، ملاتړ کوي. د دې قانون له مخې، هېڅ يو غير مسلم حق نه درلود چې وزير شي. د ۷۵ مې مادې د حکم پر بنسټ دلوړې او دولتي څوکۍ د مذهبي اقليتونو لپاره محدودې دي. پاچا باندې لازم وو چې اول د شريعت او بيا د قانون په مطابق حکومت وکړي. په دې قانون کې شکنجه او تعذيب منع ول؛ خو د مطبوعاتو ازادۍ په اړه صريحاً اشاره نه وه شوې.

همدا شان دې اساسي قانون د ملي مجلس د تأسيس لپاره چې هدف يې قانون جوړونه او د پاچا د رد (وېټو) د حق لپاره اقدام وکړي، په تغير سره چې په نتيجه کې ملي مجلس د يوې شورا په شکل کې منځته راغی، چې يوه برخه يې د هېواد اشرافو تشکيل کړې وه. د دې قانون (۲۷- ۵۷ – ۶۷ – ۷۰ مادو داسې تاکيد کړی وو، چې په دې مجلس کې هره مسوده بايد د پاچا د توشيح تابع و اوسي. د ۵۱ مې مادې د کم پر بنسټ، د ملي شورا غړي به له ټول هېواد څخه انتخابېدل او اشراف به د پاچا له خوا منصوبېدل. په دې اساسي قانون (اساسي اصول) کې د وزيرانو او لومړی وزير (صدراعظم) لپاره ځانګړي حقوق مقرر شوي ول. پاچا هم له ځانګړو حقوقو څخه برخمن وو، لکه د جنګ اعلامول، د وزير انتخاب، د محاکمو عفوه او د نظامي لښکر رياست. په دې (اصولو) کې قضايي خپلواکي له هر راز مداخلې څخه خوندي اعلان شوې وه.

۳. د ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون:

محمد ظاهر شاه د (۱۳۱۲) ل کال په مني کې د خپل پلار له مړينې وروسته پاچاهۍ ته ورسېد او د پلار له هماغو اساسي اصولو سره سم يې پوره دېرش کاله حکومت وکړ، په حقيقت کې د يحيیٰ خان کورنۍ په ګډه توګه حکومت کاوه؛ خو د ۱۳۴۱ل کال د حوت په يوولسمه نېټه چې د ۱۹۲۲ کال د مارچ له درېيمې نېټې سره يې سمون درلود، د صدارت له څوکۍ څخه د سردار محمد داود خان په استعفا سره محمد ظاهر شاه ډاکتر يوسف د صدراعظم په توګه وټاکه، په دې توګه محمد ظاهر شاه خپل ځان او حکومت له کورنۍ انحصاره راوويست، ډاکتر محمد يوسف هم د کابينې له اعلان څخه وروسته تر ټولو مهم کار دا وکړ چې د يو نوي اساسي قانون د تدوين لپاره يې د ۱۳۴۲ ل کال د وري په مياشت کې يو اوه کسيزه پلاوی وټاکه. دغه پلاوې د وري په يوولسمه نېټه خپله لومړنۍ ناسته وکړه چې فرانسوي کارپوه لوی فوزير يې هم ګډونوال او همکار وو، دې کمېټې په پخواني اساسي قانون کې د يو څو مادو پرتعديلولو باندې تر ډېر بحث کولو وروسته نوی اساسي قانون تدوين کړ. د اساسي قانون مسوده د دويم ځل لپاره بيا هم کمېټې ته وسپارل شو او بالاخره د ۱۳۴۳ ل کال د وږي په اتلسمه نېټه د ارګ په سلام خانې مانۍ کې د اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون د تصویب لپاره تاریخي لویه جرګه راوغوښتل شو، چې تر لسو ورځو بحثونو او مذاکرو وروسته یې د یو لړ جزوي تعدیلونو وروسته د ۱۳۴۳ ل کال د وږي پر نهه ویشتمه نېټه چې د ۱۹۶۴ز کال د سپتمبر له شلمې نېټې سره برابره وه، په نوي متن سره د (۴۵۴) کسو استازو له خوا تصویب او لس ورځې وروسته یعنې د ۱۳۴۳ل کال د تلې پر نهمې نېټې چې د (۱۹۶۴ز) کال د اکتوبر له لومړۍ نېټې سره یې سمون درلود د محمد ظاهر شاه له خوا توشېح او نافذ وګڼل شو.

په (۱۳۴۳) کال کې له یو سیاسي بحران څخه وروسته کله چې لومړي وزیر (سردار محمد داود خان) استعفا وکړه، نو د قدرت خلا رامنځته شوه چې د درې مهمو ډلو لپاره لکه روشنفکرانو، اشرافو او سلطنتي کورنۍ لپاره یوه موقع وه تر څو له یو بل سره مشارکت وکړي او نوی سیاسي قدرت رامنځته کړي.

د دې درې ډلو استازو په یوې لویه جرګه کې له مذاکراتو وروسته په ۱۳۴۳ ل کال کې نوی اساسي قانون اعلان کړ. د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون د نورو اساسي قوانیو په پرتله د مختلفو ډلو د مذاکراتو محصول و. د ۱۳۱۰ کال د اساسي قانون د اهدافو پرخلاف د دې اساسي قانون اصلي هدف د درې ګونو قواو تفکیک او تنظیم وو. په لویه جرګه کې د ۱۳۴۳ کال د اساسي قانون پر ټولو موادو باندې په کلکه بحث کېده او اکثریت غړو به نهایي متن په تصویب رساوه.

د قانون په ۲۵ او ۴۰مه ماده کې د خلکو لپاره د اساسي حقوقو یو ترکیبي فهرست ځای شوی وو. همدارنګه په دې اساسي قانون کې یو ځلې بیا پارلمان د دوو مجلسونو ترکیب یاد شوی وو، چې له اوسني پارلمان سره ورته وو. یعنی ولسي جرګه او مشرانو جرګه یې درلودل. د ۴۱مې مادې پر بنسټ به د ولسي جرګې غړي د ازادو ټاکنو له لارې په مستقیم ډول انتخابېدل او د مشرانو جرګې یو پر درېیمه برخه (یو ثلث) غړي به له ولایتی شورا ګانو څخه چې په هر ولایت کې به د هغه ولایت د اوسېدونکو له خوا ټاکل شوي ول، انتخابېدل.

د ۶۳ مادې د حکم پر بنسټ پاچا دا صلاحیت درلود چې پارلمان منحل کړي. په دې اساسي قانون کې د پاچا د صلاحیتونو د محدودیت په هکله هېڅ مواد نه و تعین شوي. پارلمان دا صلاحیت درلود چې قانون وضع کړي؛ خو د دې بر عکس پارلمان دا صلاحیت نه درلود چې د اسلامي اصولو پر خلاف کوم مواد وضع کړي. د ۸۵ مادې د حکم پر بنسټ حکومت د لومړي وزیر د ریاست لاندې وو او د ۶۵ مې مادې له مخې دا حکومت د ولسي جرګې په مقابل کې مسوول وو. د درې ګونو قواو تفکیک او همدا شان قضایي خپلواکي د دې اساسي قانون یو بڼه صفت وو. د دې اساسي قانون ۹۷ او ۹۸مواد هغه مهم مقررات ول، چې پر بنسټ یې قضایه قوه د دولت د یو خپلواک ارګان په صفت منځته راغله. د ۱۰۷ مې مادې د حکم له مخې ستره محکمه نه یوائې صلاحیت لرونکی قضایي مرجع وه، بلکې د قضایه قوې یو (برجسته ترین) لوړ ارګان هم وو.

د ۱۰۵ مې مادې د حکم له مخې د سترې محکمې ۹ قاضیان د قاضي القضات په شمول به د پاچا په واسطه منصوبېدل.

د محاکمو د تشکیلاتو او صلاحیتونو په اړه د دې اساسي قانون په ۹۰ مه ماده کې داسې حکم شوی وو: که چېرته یو قاضي د یوې سیاسي ډلې غړی اوسي یا په داوطلب ډول په پارلمان کې غړیتوب ولري، حتی که په ښارواليۍ کې په داوطلب ډول غړیتوب لري؛ نو باید له خپلې دندې څخه استعفا وکړي. د افغانستان حقوقي سیستم د ۱۳۵۰-۱۳۴۰ کلونو کې د یوې قوي او خپلواکې قضایه قوې په شتون سره ډېر څه زده کړل. قضایه قوې د رسمي قوانینو په اجرا کې ډېر صلاحیت درلود، چې په هغه وخت کې د افغانستان حقوقي نظام له پرمختللو حقوقي سیستمونو څخه ګڼل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

متاسفانه دا قانون د سردار محمد داود خان په وخت کې له منځه لاړ.

۴. د ۱۳۵۵ل کال اساسي قانون:

کله چې سردار محمد داود خان د ۱۳۵۲ل کال د چنګاښ پر ۲۶ نېټه د محمد ظاهر خان پر خلاف کودتا وکړه او واک يې ونيو؛ نو د محمد ظاهر خان د حکومت له منځه تلو سره سم د هغه د واکمنۍ پر مهال جوړ شوی او د هغه له خوا توشېح شوی د ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون هم لغوه اعلان شو. سردار محمد داود خان د جمهوريت د تاسيس په پيل کې د ۱۳۵۲ل کال د وږي پر لومړۍ نېټه په خپله بيانيه کې د رښتونې ډيموکراسۍ پر بنسټ د نوي اساسي قانون د تصويب ژمنه وکړه؛ خو د هغه دا ژمنه پوره څلور کاله له کوم دليله پرته وځنډېده. څلور کاله وروسته په ۱۳۵۵ل کال کې د اساسي قانون د مسودې جوړولو لپاره پلاوی وټاکل شو او په همدې کال د سلواغې په مياشت کې د نوي اساسي قانون جوړه شوې مسوده په جريده کې خپره شوه او د ارزونې او تصويب لپاره يې د لويې جرګې د غړو ټاکل اعلان شول.

د ټاکنو په پايله کې لويې جرګې ته ۲۱۹ کسان د ټاکنو له لارې او ۱۳۰ کسان د ولسمشر محمد داود خان له خوا د ټولنې د بېلابېلو قشرونو په استازيتوب لکه بزګرانو، کارګرانو، روڼ اندو او سځو څخه انتصاب شول. دې لويې جرګې د ديارلس ورځو په اوږدو کې په ۱۳۶ مادو کې نوی اساسي قانون تصويب کړ.

دا اساسي قانون چې ديارلس فصله او يو سل او شپږديرشو (۱۳۶) مادو باندې مشتمل و، په۱۳۵۵ ل کال کې د رئيس جمهور سردار محمد داود خان له خوا توشېح شو. په دې وخت کې په هېواد کې د لومړي ځل لپاره جمهوري سيستم رامنځته شو. سره له دې چې جمهور رئيس د ټولټاکنو له لارې نه و ټاکل شوی، بلکې د يوې کودتا په ترڅ کې يې قدرت تر لاسه کړی وو.

په دې قانون کې ستره محکمه منحل شوه او د سترې محکمې ټول اختيارات او صلاحيتونه د عدالت کمېټې ته چې د عدليې وزارت پورې تړلې کمېټه وه، منتقل شول. د عدليې وزارت چې د يو عالي قضايي ارګان په عنوان رامنځته شو، نو د قاضي القضات ټول صلاحيتونه او اختيارات هم د عدليې وزير ته منتقل شول، خو د زياتره محاکمو تشکيلات پر خپل ځای پاتې شول. په دې اساسي قانون کې د قضايه قوې خپلواکي له ګوابښ سره مخ شو او هغه ځای چې د ۱۳۴۳ ل کال اساسي قانون کې قضايه قوې ته ورکړل شوی و، ترې بېرته واخيسته او تقريباً د قضايه قوې خپلواکي له منځه لاړه. د دې قانون د ۱۰۷ مادې د حکم پر بنسټ د سترې محکمې د قاضي القضات منصوبېدل د رئيس جمهور په اختيار کې وو.

سر بېره پر دې، د دې اساسي قانون د ۴ مادې د ۱۰۴ پاراګراف پر بنسټ د افغانستان رئيس جمهور ته داسې امکانات برابر کړل چې رئيس جمهور کولای شي د قاضيانو پر انتخاب وروسته له پېنځو کالو تجديد نظر وکړي، په داسې حال کې چې دا وخت د ۱۳۴۳ کال په اساسي قانون کې لس(۱۰) کاله و. د ۱۳۵۵ ل کال اساسي قانون د هېواد په تاريخ کې نوی نوښت او د يوې قوي اقتصادي ټولنې منځته راوړل وو.

د دې قانون د ۱۳مادې د حکم پر بنسټ ټولې منابع لکه کانونه، ځنګلونه، لوی صنايع، هوايې او ځمکنی ترانسپورت، بانکونه، لرغوني او تاريخي اثار د قانون له حکمونو سره سم د ملت شتمني ده او اداره يې په دولت پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه لرله. همدا شان د ۱۴مادې د حکم له مخې د زراعتي ملکیت لوړه اندازه ځمکه به د اصلاحاتو د قانون له پلوه تثبیت او ټاکل کېږي. د ۱۳۵۵ کال په اساسي قانون کې چې د اقتصادي ودې لپاره کوم مواد ځای پرځای شوي ول، له دې پخوا په بل کوم قانون کې یې شتون نه درلود.

۵. د ۱۳۵۹ ل کال اساسي قانون:

له بده مرغه زمونږ په هېواد کې دود دا دی، چې د هر رژیم تر بدلېدو وروسته نوی رژیم په هماغو لومړیو وختو کې د تېر رژیم اساسي قانون لغوه کوي او د نوي اساسي قانون یا د نظام ودرولو لپاره نوي بنسټونه او پایې ودروي. په ۱۳۵۷ ل کال په غویي کې چې د سردار محمد داود خان د جمهوري نظام پر خلاف کودتا وشوه؛ نو کودتاچیانو هم دا دود عملي کړو، د نور محمد تره کي د حکومت درېیم فرمان چې د ۱۳۵۷ل کال د غویي پر ۲۴مه نېټه صادر شو، د سردار محمد داود خان د اساسي قانون د لغوه کولو او د نویوملکي او نظامي محکمو د بدلولو په اړه وو.

د افغانستان پینځم اساسي قانون (د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت اساسي اصول) په نوم د ۱۳۵۹ ل کال د وري پر پینځه ویشتمه نېټه د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا له خوا د ببرک کارمل په وخت کې په لسو فصلونو او ۶۸ مادو کې په موقته توګه تصویب او د همدې کال د غویي له لومړۍ نېټې څخه نافذ وګڼل شو.

دا اصول ۱۳۵۹ ل کال د حمل په ۲۵ مه نېټه د افغانستان ډیموکراتیک جمهوري انقلابي شورا له خوا د ببرک کارمل په وخت کې په لنډمهالي ډول تصویب او پلي شول، چې لس فصله او ۶۸مادې یې درلودې.

لکه څنګه مو چې یادونه وکړه، دا اصول د انقلابي شورا له خوا وضع شول، نو په هغه وخت کې به د هېواد ټولې پرېکړې د انقلابي شورا له خوا سرته رسېدلې. د دولت ډېر ارګانونونه موجود ول، لکه ستره محکمه، د عدلیې وزارت او نور، خو ولې بڼه یې سمبولیکه وه او هېڅ ډول خپلواکي یې نه درلوده. د دې اصولو په ۳۶مه ماده کې حکم شوی وو، چې تر څو لویه جرګه د خپلواکو ټاکنو لپاره شرایط برابروي، انقلابي شورا د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت تر ټولو لوړ دولتي قدرتي ارګان دی.

په دې اصولو کې ډېر اصول د انقلابي شورا په نفعه تصویب شوي ول، چې یوه لنډه نمونه یې په لاندې ډول ده.

د ۳۷ مې مادې د ۱۳بندونو په اساس د انقلابي شورا صلاحیتونه دا ول:

- د فرامینو او قوانینو تصویب
- د اقتصادي پراختیا، دولتي پلانونو او هغو په بنا د اجرا شوو راپورونو تصویب
- د دولتي بودیجې او د هغې پر بنا د اجراتو د راپورونو تصویب
- د انقلابي شورا د رئیسه هیئت په لاس د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت د وزیرانو د شورا، د سترې محکمې تشکیل او د لوی څارنوالۍ ټاکل.
- د وزارتونو تشکیل او رنګول، د وزیرانو د شورا د غړو ټاکل، بدلول او عزل.
- د کورني او باندني سیاست، اساسي مشي تصویب او د حکومت د فعالیتونو د پروګرامونو تصویب
- د ریفرېنډم اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د لويې جرګې د انتخابولو اعلان
- د تيري په صورت کې د جګړې اعلان
- له قانون سره سم د بين المللي قراردادونو تصويب او لغوه کول
- د پيسو د خپرولو اجازه
- د اقتصادي کميسون تشکيل
- د هغو موضوعاتو په هکله تصميم نيول چې د انقلابي شورا تصويب يې ايجاب کړي.

له دې څخه دا جوته شوه چې په دې اساسي اصولو کې يوه ارګان ته هم سمه ازادي نه وه ورکړل شوې. ټول اختيارات او صلاحيتونه د انقلابي شورا په واک کې ول او په هېواد کې يو قسم ديکتاتوري رژيم حاکم وه.

۶. د ۱۳۶۶ ل کال اساسي قانون:

د ۱۳۶۵ل کال په پسرلي کې له قدرت څخه د ببرک کارمل په ګوښه کېدو سره ډاکتر نجيب الله لومړی د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د عمومي منشي په توګه او وروسته د هماغه کال د لړم په مياشت کې د انقلابي شورا د عمومي رئيس په توګه وټاکل شو. ډاکتر نجيب د خپلو طرحو د پرمخبېولو لپاره، چې هماغه ملي پخلاينه وه تر سره کړه، ده د اساسي قانون مسئله رامنځته کړه، چې بايد له سره طرحه او تدوين شي.

د ډاکتر نجيب الله د دورې اساسي قانون د ۱۳۴۳ ل کال د محمد ظاهر شاه د دورې له اساسي قانون او د ۱۳۵۵ل کال د سردار محمد داود خان د دورې له اساسي قانون څخه استخراج شوی وو. ډاکتر نجيب الله له دوديز سياست سره سم د اساسي قانون د تصويب لپاره او د خپل حکومت د قانوني کولو لپاره لويه جرګه راوبلله، چې دې لويې جرګې د ۱۳۶۶ل کال د لينديې پر اتمه او نهمه نېټه د ډاکتر نجيب الله اساسي قانون په ديارلسو فصلونو او ۱۴۹ مادو کې تصويب کړ او همدرانګه يې د ډاکتر نجيب الله د افغانستان د جمهور رئيس په توګه وټاکه. د لويې جرګې له خوا تصويب شوی اساسي قانون د ډاکتر نجيب الله له خوا توشېح هم شو.

دا اساسي قانون په داسې وخت کې وضع شو چې په هېواد کې امنيتي وضع تر ډېره حده خرابه وه، چې لوی لامل يې د ببرک کارمل د وخت استبدادي رژيم وو هغه وسله واله مبارزه چې دکارمل په وخت کې د هغه د رژيم او د سر لښکر پر وړاندې پيل شوې وو، د ډاکتر نجيب الله په وخت کې نوره هم پسې ګړندۍ شوه. ډاکتر نجيب الله د دې اساسي قانون په وضع کولو سره ډېره هڅه وکړه تر څو خپل مرور شوی ولس پخلا کړي، چې تر يوه حده بريالی هم شو؛ خو له بده مرغه دغه وسله واله مبارزه ډېر شديد حد ته رسېدلې وه او د بهرنيو لاسونو خصوصاً د ګاونډيو د اغراضو او ګټو له امله د جګړې يو طرفه ختمول ناشوني شوي ول. دا موضوع هلته ښه روښانه شوه چې کله ډاکتر نجيب الله يو طرفه اوربند اعلان کړ او له ملګرو ملتونو نه يې د قدرت د انتقال غوښتنه وکړه، نو نه يوازې دا چې د انتقال پروسه چور او تالان شوه، بلکې ډاکټر نجيب الله هم د يوې توطيې په شکل د ټولو نړيوالو معيارونو پر خلاف په دار وځړول شو.

د ۱۳۶۶ کال اساسي قانون د ۱۰۷مادې په اساس اعلان وشو چې قضايه قوه به د دولت يو خپلواک او ازاد ارګان وي. د ۱۰۹مادې د حکم په اساس دا تاکيد وشو چې ستره محکمه به د يو لوړ قضايي ارګان په صفت د محاکمو په فعاليت د نظارت مسووله وي. د ۱۱۰ مادې د حکم په اساس قاضي القضات او د سترې محکمې نور غړي به د رئيس

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهور په وسیله د شپږو کالو لپاره منصوبیږي. د ۱۳۶۶ کال اساسي قانون اصلي موخه پر دولت د خلکو د بی باوری له منځه وړل او د ملي روغې جوړې لپاره د شرایطو برابرول ول، ترڅو په هېواد کې سراسري سوله رامنځته شي او کورنۍ شخړو او جګړو ته د پای ټکی کېښودل شي.

۷. د ۱۳۶۹ ل کال اساسي قانون:

د ۱۳۶۹ کال اساسي قانون هم د ډاکتر نجیب الله په وخت کې منځته راغی او په واقعیت کې دا د ۱۳۶۶ کال د اساسي قانون تعدیل و، دا قانون د ۱۳۶۹کال د جوزا پر اتمه د لویې جرګې له خوا تصویب شو. د ۱۳۶۹کال اساسي قانون په ۱۳فصلونو او یوسل او نهه څلوېښت (۱۴۹) مادو باندې مشتمل وو.

د ۱۳۶۹ کال اساسي قانون د ۱۰۷مادې د حکم په اساس قضایه قوه د دولت یو خپلواک رکن دی او د ۱۰۹مادې د حکم په اساس ستره محکمه تر ټولو لوړ قضایي ارګان په توګه د هېواد د قضایي واحد سیستم په سرکې ده. د ۷۷ مادې د حکم په اساس ملي شورا (پارلمان) د افغانستان د اسلامي جمهوریت تر ټولو لوړ تقنیني ارګان دی. په دې اساسي قانون کې د ۱۳۶۶ کال د اساسي قانون په پرتله قضایه قوې او سترې محکمې ته ډېر صلاحیتونه او اختیارات ورکړل شوي وو.

سربېره پر دې په دې اساسي قانون کې د بشري حقوقو او نړیوالو حقوقو ډېر درناوې شوی وو. د ۱۳۳ مادې په اساس د افغانستان جمهوریت د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور، د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیه او د بین المللې حقوقو نور منل شوو اصولو او موازینو درناوې او رعایت کوي.

د کورنۍ جګړو له کبله کله چې د ډاکتر نجیب الله حکومت له منځه لاړ، نو دا قانون هم له منځه ولاړ او له دې سره د مجاهدینو په لاس د ناقانونۍ یوه اوږده او دردونکې دوره شروع شوه.

۸. د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون:

د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې د امریکې پر نړیوال سوداګریز مرکز او دفاع وزارت باندې له تروریستي برېدونو وروسته امریکا او د امریکا متحدینو دا پرېکړه وکړه چې په افغانستان کې القاعده او د طالبانو د رژیم، چې د القاعدې ملاتړ رژیم اعلان شو، پر خلاف یې نظامي علمیات وکړ، ددې عملیاتو پیل پر افغانستان د امریکا له برید څخه وشو، چې له دې سره د طالبانو رژیم هم سقوط وکړ او په پایله کې یې د ۲۰۰۱ کال په وروستیو کې د بُن موافقتلیک صادر شو. په دې موافقتلیک کې تقریباً د افغانستان ځانګړو سیاسي ډلو شتون درلود. د یو شمېر سیاسي ډلو په شمول، طالبان هم له دې پروسې څخه و یستل شول. د بُن د موافقتلیک د پرېکړې پر بنسټ، افغانستان کې د حامد کرزي په مشرۍ یو انتقالي حکومت رامنځته شو. په ۱۳۸۲ل کال کې له یوې عمومي نظر پوښتنې څخه وروسته د اساسي قانون کمیسون د اساسي قانون طرحه د افغانستان انتقالي دولت ته وسپارله. او د دې قانون د پاس کولو لپاره یوه لویه جرګه راوغوښتل شوه. له لږ بحث څخه وروسته، لویې جرګې د اساسي قانون په طرحه کې جزیي تعدیلات راوستل او بالاخره د ۲۰۰۴ ز کال د جنورۍ پر ۴ او د ۱۳۸۲ ل کال د جدي په ۱۴ نېټه دا اساسي قانون په ۱۲ فصلونو کې تصویب او د ۲۰۰۴ کال د جنورۍ په ۲۶ او د ۱۳۸۲ ل کال د دلوې په ۶ نېټه دا قانون رسماً ابلاغ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون تر ډېره حده د دې اساسي قانون مرجع او منبع ګڼل کېږي. ډېر بنسټونه چې د۱۳۴۳ کال په قانون کې موجود وو، د ۱۳۸۲ ل کال په اساسي قانون کې هم موجود دي؛ خو یو مهم تغیر چې په اوسني قانون کې راغلی، هغه د پاچا نه شتون دی او د شاهي نظام له منځه تلل دي.

د دې قانون په اړه، یوه ډېره مهمه نقطه د یوه داسې حقوقي نظام لپاره چې د قانون په حاکمیت د انسان د اساسي حقوقو او د انساني کرامت ساتنه وکړای شي دا ده چې د دې قانون په سریزه او له ۲۲ مې مادې څخه تر ۴۲ مې مادې پورې د هغو موادو فهرستونه دي چې له حقوقو او ازادیو څخه په کلکه دفاع کوي. تر دې پخوا داسې مواد د افغانستان په نورو اساسي قوانینو کې نه لیدل کېدل. د ۱۳۸۲ ل کال په اساسي قانون کې سربېره پر دې چې اساسي حقوق یې په رسمیت پېژندلي او تصدیق کړي دي، د اداري جوړونې او د نظام د بنسټ ایښودلو په اړه څلور نور اساسي اصلونه داسې ارایه کوي.

د دې اساسي قانون لومړۍ ماده حکم کوي: افغانستان یو خپلواک، اسلامي، واحد او نه بېلېدونکی جمهوري دولت دی.

له پورتنیو څلورو اصلونو څخه دوه اصله په دې ماده کې ارایه شوی چې لومړۍ او دویم اصل یې عبارت دی له: خپلواک اسلامي او نه بېلېدونکی د فدرال دولت پر وړاندې. د ډیموکراسۍ اصل د درېیم اصل په صفت کولای شو د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون له ۴ مې مادې څخه استنباط کړو، چې حکم یې کړی په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پوری اړه لري چې په مستقیم ډول یې په خپله او یا یې د خپلو استازیو په وسیله عملي کوي. د افغانستان ملت عبارت دی له هغو ټولو افرادو څخه چې د افغانستان تابیعت ولري. دا ډول تشکیل د ډیموکراسۍ د مفهوم په معنی دی،چې په لغوي لحاظ د خلکو حاکمیت بیانوي. د درې ګونو قواو تفکیک او د قضایه قوې خپلواکي د ۱۳۸۲ ل کال په اساسي قانون کې یو پر ځای او ضروري حکم دی.

د بشري حقوق په رسمیت پېژندل، لکه د مذهب خپلواکي، د بیان ازادۍ، د ژوند حق او همداسې د خصوصي ازادۍ حق د ۱۳۸۲ ل کال د اساسي قانون یوه لویه لاسته راوړنه ده. د(۶)مې مادې د حکم په اساس د افغانستان دولت یې د یوې داسې ټولنې په منځته راوړلو موظف او ژمن کړی دی چې د هغې ټولنی بنسټ په ټولنیز عدالت، د انساني کرامت په ساتنه او د بشر د حقوقو حمایت، باندې ایښودل شوی وي.

ملی حاکمیت د څلورم اصل په صفت د اساسي قانون له سریزې څخه استنباط کېدای شي. په دې سریزه کې په صراحت سره د قانون اصل حاکمیت ترتیب او تنظیم شوی دی. نو پر دې اساس د دې قانون حاکمیت چې په سریزه کې وربانديې تاکید شوی دی او وایي (موږ د افغانستان خلکو.... د داسې ټولنې د منځته راوړلو لپاره چې د ظلم، استبداد، تبعیض او تیري څخه خوندي وي او د قانون پر بنسټ ټولنیز عدالت، د انساني کرامت ساتنه، انساني حقوق او د خلکو اساسي حقوق او ازادي په کې خوندي وي.... دا اساسي قانون ..... د خپلو منتخبو استازیو په وسیله..... تصویب کړو)

د افغانستان د ۱۳۸۲ل کال اساسي قانون ځانګړنې:

د افغانستان اوسنی اساسي قانون د هېواد په تاریخ کې په یوې ډېرې مهمې لسیزې کې رامنځته شوی دی. دا اساسي قانون په داسې دوران کې رامنځته شو، چې زموږ هېواد درې خونړۍ لسیزې تر شا پرېښي دي، په دې تېرو درېوو خونړیو لسیزو کې د افغانستان خلکو ډېر کړاوونه او ډول ډول عذابونه لیدلي دي؛ خو د دې اساسي قانون د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځته کېدو پر مهال زمور هېواد افغانستان یو ځل بیا له نړیوالې ټولنې سره پیوند اخیستی وو. همدرانګه په عین حال کې خلک دا نه غواړي چې نور دې همداسې له خپله ځان ورک وي، خپل هویت دې هره ورځ له لاسه ورکړي، هره ورځ دې د هېواد یوه ودانه پر ورانۍ بدله شي، هره ورځ دې یوه مور بوره شي او یوه میرمن کونډه، د افغانستان خلک هیله لري چې نوی اساسي قانون په هېواد کې ټول ارزښتونه او منل شوي دودونه په خپل ځان کې انعکاس کړي، له همدې کبله نوی اساسي قانون ته د افغانستان د زړو میراثونو، ملي ارزښتونو د ساتنې رسالت سپارل شوی او هم په کې د سبا هیلې او ستونزې په پام کې نیول شوي دي.

د نوي اساسي قانون جوړښت:

هر اساسي قانون بېلابېل عناصر لري؛ خو د نړۍ په ټولو اساسي قوانینو کې یو لړ پېژندل شوي اصول درج وي، هر اساسي قانون په واقعیت کې د یو نظام لپاره پایه او بنسټ ګڼل کېږي، چې د هماغه نظام یا حکومت ټول جوړښتونه او قانوني او حقوقي نظام پرې تکیه وي. د افغانستان د ۱۳۸۲ ل کال کې نوی اساسي قانون په دولس فصلونو او یو سل او دوه شپېتو مادو کې په لاندې توګه تدوین شوی دی.

لومړی: دولت

دولت د درې ګونو قواوو د ټولګې یا مجموعې په معنا دی، په دې معنا چې مقننه قوه، اجرایه قوه او قضایه قوه چې کله واحده تشکل واخلي دولت ګڼل کېږي. د اساسي قانون په لومړي فصل کې په دولت پورې عمومي موضوعات ځای شوي دي.

دویم: د اتباعو حقوق او وجایب:

وګړي د یو هېواد اساسي او اصلي برخه جوړوي. تر څو چې د یو هېواد وګړي خپل حقوق او وجایب ونه پېژني، تر هغې به د حکومت د کار غوټې هماغسې تړلې پاتې وي. په هره ټولنه کې په طبعي توګه داسې طبقې وګړي شتون لري چې بایده دي د حکومت، خلکو او قوانینو له خوا یې ملاتړ وشي، لکه زمور په ټولنه کې ښځې، ماشومان، معلولین او داسې نور. حکومت یا واکمنې طبقې ته په کار دي چې په عامه توګه د ټولو وګړیو او په ځانګړې توګه د هغوی چې تر لاس لاندې دي او حکومت پرې کېږي، حقوق ورته ورکړل شي، که چېرې یې حقوق تر پښو لاندې کېږي؛ نو هغوی دا حق هم لري چې محکمو او یا هم د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون ته مراجعه وکړي، تر څو هغوی ورسره د حقوقو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي. د اساسي قانون په دویم فصل کې د افغانستان د ټولو اتباعو اساسي حقوق او وجایب راغلي دي.

درېیم: جمهور رئیس (ولسمشر)

د افغانستان د اساسي قانون او اداري سیستم له مخې په افغانستان کې جمهور رئیس د اداري په سر کې ځای لري، چې د افغانستان د خلکو له خوا د ازادو، پټو، مستقیمو او عمومي ټاکنو له لارې د پنځوس جمع یو په اکثریت ټاکل کېږي. د اساسي قانون په درېیم څپرکي کې د جمهور رئیس د ټاکنې، اوصافو، د نوماندۍ شرایطو، مسوولیتونو او صلاحیتونو په اړه یادونه شوې ده.

څلورم: حکومت (اجرایه قوه)

حکومت د ولسمشر وزیرانو او د هغوی د لاندینیو ادارو ټولګه ده یا په بله معنی حکومت د ولسمشر یا جمهور

(c) ketabton.com: The Digital Library

رئیس ټولپۍ اداري ته ویل کېږي چې په سر کې یې خپله ولسمشر ځای لري. حکومت د قوانینو پلي کوونکي یا اجرا کوونکي ارګان ته هم ویل کېږي. د اساسي قانون په څلورم فصل کې د حکومت د غړیو (وزیرانو) د واکونو، له ملي شورا سره د حکومت د اړیکو او د حکومت د غړیو د دندو د اجراء په څرنګوالي باندې بحث شوی دی او په دې اړه په کې مواد ځای پر ځای شوي دي.

پینځم: ملي شورا (پارلمان)

په افغانستان کې ملي شورا یا پارلمان د دولت له درېوو ځواکونو څخه یو مهم ځواک دی، چې مقننه قوه یې هم بولي. په دې معنی چې ملي شورا په افغانستان کې د قانون جوړونې یا قانون وضعه کوونې یوازینی صلاحیت لرونکی ارګان دی. د افغانستان د اساسي قانون له مخې ملي شورا دوه جرګې لري، چې یوه یې هم ولسي جرګه او دوه همه یې هم د مشرانو جرګه ده. د ولسي جرګې غړي د خلکو د ازادو، مستقیمو، پټو او عمومي رایو په واسطه د ټاکنو له لارې ټاکل کېږي. د مشرانو جرګې یو پر درېیمه برخه غړي د ولسمشر له خوا انتخابېږي، یو پر درېیمه برخه یې د ولایتي شورا ګانو له خوا ټاکل کېږي او پاتې یو پر درېیمه یې هم د ولسوالیو شوراګانو له خوا ټاکل کېږي. ملي شورا له قانون جوړونې پرته د افغانستان د ولس د ارادې ستر مظهر هم دی. د اساسي قانون په پینځم فصل کې د افغانستان د ملي شورا د رامنځته کېدو، دندو، صلاحیتونو او مسوولیتونو په اړه مواد ځای پر ځای شوي دي.

شپږم: لویه جرګه:

لویه جرګه یو ځانګړی افغاني تشکُل دی، چې په افغانستان کې ځانګړی تاریخي ارزښت او درناوی لري. لویه جرګه د افغانستان په تاریخ کې د ډېرو ستر ملي ستونزو د حل یوازینۍ مرجع ګڼل شوې ده. د زیاترو ملي ستونزو د حل او اوارولو لپاره د افغانستان خلکو لویې جرګې ته مراجعه کړې ده او د لویې جرګې پرېکړې د افغانستان په تاریخ کې ټولو منلې او له کوم چون چرا پرته د پلي کېدو وړ دي. د همدې ارزښت له امله لویې جرګې ته په اساسي قانون کې ځانګړی فصل ورکړل شوی دی. د اساسي قانون په شپږم فصل کې د لویې جرګې د رامنځته کولو په ډول، دندو، واکونو او صلاحیتونو په هکله مواد ځای پر ځای شوي دي.

اووم: قضاء

قضایه قوه د دولت د درې ګونو قواوو څخه یوه مهمه قوه ده، چې په سر کې یې ستره محکمه، تر لاندې د استناف محکمه او تر هغې لاندې لومړنۍ یا ابتدایه محکمه ځای لري. د اساسي قانون په اووم فصل کې د قضایه قوې د درې ګونو محکمو پر تشکیلاتو، صلاحیتونو، دندو او مسوولیتونو په هکله مواد ځای پر ځای شوي دي.

اتم: اداره

د اساسي قانون په اتم فصل کې د افغانستان د اداري په اړه مواد ځای پر ځای شوي دي. په اداري لحاظ افغانستان د مرکزي اداري سیستم لرونکی دی. په دې معنی چې د ټولو ولایتونو محلي اداري به په مرکز کې د د مرکزي اداري تر نظارت، امر او کنټرول لاندې وي. د مرکزي اداري په سر کې جمهور رئیس ځای لري چې جمهور رئیس په لومړي سر کې خپله اداره په وزارتونو او خپلواکو ریاستونو وېشي، هر وزارت یا خپلواک ریاست په محلي ادارو یا ولایتونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل نماینده ګی یا کوچني ریاستونه لري. د اساسي قانون په اتم فصل کې د افغانستان په اداري سیستم باندې په کُلي کې بحث شوی دی.

نهم: اضطراري حالات

اضطراري یا بېړني حالات هغه مهال رامنځته کېږي چې د جګړې، د جګړې د خطر، سخت اغتشاش او یا هم طبیعي افاتو له امله د افغانستان د خلکو د ژوند وضعیت له عادي حالاته ووځي. د دغسې حالاتو د رامنځته کېدو پر مهال د افغانستان نظام څه ډول اداره کېدای شي؟ پر دې مهال حکومت، ولسمشر، خلکو مسوولیتونه څه دي؟ او څه ورته کول په کار دي، په دې اړه کُلي مواد د اساسي قانون په نهم فصل کې ځای شوي دي.

لسم: تعدیل

دې کې شک نشته چې د انسان په لاس جوړ شوی قانون یو مهال نه یو مهال نیمګړی او ناقص خپڼي، په دې معنا چې د زمان او حالاتو په بدلون سره شونې ده داسې موارد رامنځته شي چې د انسان په لاس جوړ شوی قانون ورته ځواب ونشي ویلای. اساسي قانون هم د خپل ځان په اړه دغه وړاندوینه کړې ده، که چېرې د وخت په تېرېدو سره د افغانستان موجوده اساسي قانون تعدیل ته اړتیا وموندې؛ نو په کې د تعدیل راوستلو لپاره لویه جرګه راغوښتل کېږي. د تعدیل په اړه مواد د اساسي قانون په لسم فصل کې ځای شوي دي.

یوولسم: متفرقه حکمونه

د اساسي قانون په یوولسم فصل کې د (متفرقه حکمونه) تر عنوان لاندې پر بېلابېلو موضوعاتو باندې بحث شوی دی.

دولسم فصل: انتقالي حکمونه

د افغانستان موجوده اساسي قانون د حامد کرزي په انتقالي دوره کې تدوین او تصویب شو. د اساسي قانون په وروستي او دولسم فصل کې هغه مواد او موضوعات ځای پر ځای شوي دي، چې د یوې منتخبې دورې پر مهال یې انتقالېدل اړین ول.

د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون اصول:

لکه چې مو پخوا د دې اساسي قانون څلور اصلونو ته اشاره وکړه، چې عبارت دي له: اسلامي جمهوریت، اصل واحد د دولت، د خلکو حکومت (ډیموکراسي) او د قانون حاکمیت څخه؛ نو د دې اصُولو پر ماهیت او اثارو باندې به مور د افغانستان د حقوقي نظام په اړه مفصل بحث وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اساسي قانون اصول



لومړی اصل- اسلامي جمهوريت:

د افغانستان په اساسي قانون کې په دې اړه لاندې مواد ارايه شوي دي:

لومړۍ ماده- "افغانستان، خپلواک، واحد او نه ېېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی."

دويمه ماده- "د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دين د اسلام سپېڅلی دين دی. د نورو اديانو پيروان د خپل دين په پيروۍ او د خپلو دیني مراسمو په اجرا کې د قانون د حکمونو په حدودو کې ازادي لري.

درېيمه ماده- "په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي."

اتلسمه ماده- "د هېواد د تقويم مبدا د پيغمبر اکرم (ص) پر هجرت ولاړه ده."

د دولتي ادارو د کار بنسټ هجري لمريز کال دی."

د جمعې ورځې، د اسد۲۸ او د ثور ۸ عمومي رخصتۍ دي، نورې رخصتۍ د قانون له لارې تنظيمېږي.

نولسمه ماده- "د افغانستان بيرغ له درېيو؛ تور، سور او زرغون رنګه ټوټو څخه جوړ دی. درېواړه ټوټې په مساوي ډول له کېڼ نه ښي لور ته په عمودي ډول سره پرتې دي او د هر رنګ سور د هغه د اوږدوالي نيمايي دی، چې په منځ کې يې د افغانستان ملي نښان ځای پر ځای شوی دی."

د افغانستان د دولت ملي نښان له سپين رنګه محراب او منبر څخه جوړ دی، چې په دوو څنډو کې يې دوه بيرغونه، او د منځ په برنۍ برخه کې يې د (لااله الاالله محمدرسول الله) مبارکه کلمه او (الله اکبر) او د راختونکې لمر وړانګې او په لاندنۍ برخه کې يې د ۱۲۹۸ هجری شمسي تاريخ او د افغانستان کلمه راغلې، چې له دوو خواو د غنمو وړي پرې راګرځول شوي دي. له بيرغ او ملي نښان څخه د استفادې څرنګوالی د قانون له لارې تنظيمېږي."

دويشتمه ماده- "د افغانستان د اتباعو تر منځ، هر راز تبعيض او امتياز منعه دی.

د افغانستان اتباع سېځې او نارينه د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري."

پينځه څلوېښتمه ماده- "دولت د اسلام د سپېڅلي دين د حکمونو او ملي فرهنګ پر بنسټ او له علمي اصولو سره سم، واحد تعليمي نصاب طرح او تطبيقوي او د ښونځيو د دیني مضمونونو نصاب په افغانستان کې د شتو اسلامي مذهبونو پربنسټ تدويني."

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورپنځوسمه ماده- " کورنۍ د ټولنې رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.
دولت د کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم د جسم او روح روغتیا د تامین، د ماشوم د روزنې او د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړلو لپاره لازم تدبیرونه نیسي."
دري شپېتمه ماده- "جمهور رئیس د کار تر پېل دمخه، له ځانګړې کړنلارې سره سم، چې د قانون له لارې تنظیمېږي، دا لاندې لوړه یادوي:

بسم الله الرحمن الرحیم

"د لوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپېڅلي دین پیروي او ساتنه وکړم، د اساسي قانون او نورو قوانینو رعایت او د تطبیق ټارنه وکړم. د افغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه او د افغانستان د خلکو حقوق او ګټې خوندي کړم او د لوی خدای (ج) له درباره ځخه د مرستې په غوښتلو او د ملت په ملاتړ د افغانستان د خلکو د پرمختګ او هوسایني په لاره کې خپلې هڅې جاري وساتم. "
څلور اویایمه ماده- "وزیران د وظیفې له پیله مخکې د جمهور ریس پر وړاندې، لاندنۍ لوړه کوي:
بسم الله الرحمن الرحیم. "د لوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام سپېڅلي دین د حکمونو حمایت، د اساسي قانون او د اتباعو د حقوقو حفاظت، د افغانستان د خپلواکۍ، د ځمکني بشپړتیا او د خلکو د ملي وحدت ساتنه وکړم او خپلې راسپارل شوې وظیفې په ریښتینولۍ سره سرته رسوم"
یوسلونولسمه ماده - " د ستړې محکمې غړي د وظیفې تر پیله مخکې د جمهور رئیس پر وړاندې دا لوړه کوي:
بسم الله الرحمن الرحیم. "د لوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام سپېڅلي دین د احکامو، په دې اساسي قانون او نورو قوانینو کې له راغلو نصوصو سره سم حق او عدالت تامین او د قضاء وظیفه په بشپړ امانت، صداقت اوبېطرفۍ اجراکړم"
دویم اصل- واحد او نه بېلېدونکی هېواد:
په دې اړه لاندې مواد ارایه شوي دي:
لومړۍ ماده - "افغانستان، خپلواک، واحد، او نه بېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی."
یوسلوشپږدېرشمه ماده - "د افغانستان د اسلامي جمهوریت اداره د مرکزي اداړې او محلي اداړې واحدونو پر اساس له قانون سره سم تنظیمېږي. مرکزي اداره پرځینو اداري واحدونو وېشل کېږي چې د هرې یوې په سر کې یو وزیر وي. د محلي اداړې واحد ولایت دی. د ولایتونو او مربوطه ادارو شمېر، ساحه، برخې او تشکیلات د نفوسو د شمېر، اقتصادي وضعې او جغرافیوي موقعیت پر اساس د قانون له لارې تنظیمېږي."
یوسلو اوه دېرشمه ماده - "حکومت د مرکزیت د اصل په ساتلو سره د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي چارو د ګړندي کولو اوښه والي او د ملي ژوند په منظور لا زیاتې وندې اخیستو په منظور ، لازم صلاحیتونه د قانون له حکمونو سره سم محلي ادارو ته سپاري."
یوسلو اته دېرشمه ماده - " په هر ولایت کې یوه ولایتي جرګه جوړېږي. د ولایتي جرګې غړي له قانون سره سم د نفوسو په تناسب، د ازادو، عمومی، پټو او مستقیمو ټاکنو له مخې د ولایت د اوسېدونکیو له خوا د څلورو کلونو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاکل کېږي.

ولايتي جرګه له خپلو غړيو څخه يو تن د رئيس په توګه ټاکي."

يوسلونهه دېرشمه ماده - "ولايتي جرګه د دولت د پرمختيايي هدفونو په تامين او د ولايت د چارو په ښه کولو کې لکه څنګه چې په قوانينو کې څرګند شوی وي، برخه اخلي او په ولايت پورې د مربوطو چارو په باب مشورې ورکوي. ولايتي جرګه خپلې وظيفې د محلي اداري په مرسته سرته رسوي."

يوسلو څلوېښتمه ماده- "د محلي اداري د چارو د سمون او په هغې کې د خلکو د فعالې ونډې اخيستو د تامين په مقصد په ولسوالييو او کليو کې د قانون له حکمونو سره سم جرګې جوړېږي. د دې جرګو غړي د ازادو، عمومی، پټو او مستقيمو ټاکنو له مخې د سيمې د اوسېدونکو له خوا د درېيو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په محلي جرګو کې د کوچيانو ګډون د قانون له حکمونو سره سم تنظيمېږي."

درېيم اصل- د ډيموکراسۍ اصل:

په دې اړه لاندې مواد ارايه شوي دي:

څلورمه ماده- "په افغانستان کې ملي حاکميت په ملت پورې اړه لري، چې په مستقيم ډول يې په خپله يا يې د خپلو استازيو له لارې عملي کوي. د افغانستان ملت عبارت دی له هغو ټولو افرادو څخه چې د افغانستان تابعيت ولري. د افغانستان ملت له پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوڅ، پشه يي، نورستاني، ايماق، عرب، قرغېز، قزلباش، ګوجر، براهو او نورو قومونو څخه جوړ دي. د افغان کليمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کېږي. د ملت هېڅ يو فرد د افغانستان له تابعيت څخه نه محرومېږي. په تابعيت او پناه ورکولو پورې مربوطې چارې د قانون له لارې تنظيمېږي."

پنځوسمه ماده- "دولت مکلف دی چې د يوې سالمې اداري او د هېواد په اداري سيستم کې د سمون د رامنځته کېدو لپاره لازم تدبيرونه ونيسي. اداره خپل اجرات په بشپړه بې طرفۍ او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي. د افغانستان اتباع حق لري چې د قانون د حکمونو په حدود کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات ترلاسه کړي. دا حق د نورو حقوقو او عامه امنيت ته له زيان رسولو پرته حدود نه لري. د افغانستان اتباع د اهليت له مخې او له هر ډول توپير څخه پرته د قانون له حکمونو سره سم د دولت خدمت ته منل کېږي."

شپږ اويايمه ماده- "حکومت د هېواد د سياست د اساسي کرښو د تطبيق او د خپلو وظيفو د تنظيمو لو لپاره مقررات وضع او تصويبوي. دا مقررات بايد د هېڅ قانون له نص يا روح سره مناقض نه وي."

يو اتيايمه ماده- "د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ملي شورا د ستر تقنيني اورګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندويه ده او د ټول ملت نماينده ګڼي کوي. د شورا هر غړی د رايې د څرګندونې په وخت کې د افغانستان د خلکو عمومي مصلحتونه اوسترې ګڼې د خپل قضاوت محور ټاکي."

يو نوي يمه ماده - "ولسي جرګه لاندې ځانګړي واکونه لري:

۱- له هر يوه وزير څخه د استيضاح په برخه کې د دې اساسي قانون د دوه نوي يمې مادې له حکم سره سم تصميم نيول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د پرمختیايي پروګرامونو او دولتي بودیجې په باب تصمیم نیول.
۳- د دې اساسي قانون له حکمونو سره سم د مقررېو تائید یا ردول.

څلور نوي یمه ماده- "قانون هغه مصوده ده چې، د ملي شوری د دواړو جرګو له خوا تصویب او د جمهور رئیس له خوا توشیح شوي وي، مګر دا چې په دې اساسي قانون کې بل ډول څرګنده شوي وي. که جمهور رئیس د ملي شورا له مصوبې سره موافقه ونه لري، کولای شي چې د وړاندې کېدو تر نېټې وروسته یې په پینځلسو ورځو کې د دلایلو له ښوولو سره بېرته ملي شورا ته مسترده کړي. د دې وخت په تېرېدو او یا دا چې ولسي جرګه یو ځل بیا هغه د ټولو غړیو له درېیو برخو څخه په دوو برخو رایو تصویب کړي، مصوبه توشیح شوې ګڼله کېږي او نافذېږي."

څلورم اصل - د قانون د حاکمیت اصل:

موږ د افغانستان خلکو.... د داسې ټولنې د منځته راوړو لپاره چې له ظلم، استبداد، تبعیض، او تیري څخه خوندي وي او د قانون پر بنسټ تولنیز عدالت، د انساني کرامت ساتنه، انساني حقوق او د خلکو اساسي حقوق او ازادي په کې خوندی وي.

دا ټکي د اساسي قانون له سریزې څخه اخیستل شوي دي. د دې اصل دقیقه محتوا نه په اساسي قانون او نه په اجرایوي مقرراتو کې په نظر کې نیول شوې، خو د مقایسوي کتنې له نظره دا یو عجیب او بې سابقه امر نه دی. په معمول ډول سره د قانون اصل حاکمیت د اساسي قانون په درست تطبیق سره منځته راځي. د پخوانۍ فلسفې په اثارو کې فیلسوفان په دې عقیده وو چې حکومت د قانون په واسطه بهتر له هغه حکومت څخه دی چې د خلکو په واسطه منځته راغلی وي. د قانون حاکمیت څرګند دی او هر وخت تر بحث لاندې وي، تر څو یوه سالمه حقوقي او سیاسي ټولنه چې اساسي حقوقو او ازادیو ته زیان ونه رسېږي رامنځته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپيم څپرکی

د افغانستان اساسي قوانين او د بشر حقوق

په افغانستان کې په تېرو څو لسيزو کې کورنۍ جګړو، ګڼ شمېر ناډيموکراتيکو رژيمونو او سخت دريزه حکومتونو د خپل وخت تړلي چاپېريال کې پر مدني ټولنو باندې سخته بده اغېزه وکړه چې له دې سره ډېر بشري حقوق تر پښو لاندې شول. افغانستان د هغو هېوادونو له ډلې څخه يو هېواد دی چې د بشر حقوق په ډېر وحشتناک ډول په کې تر پښو لاندې شوی او کېږي.

ډېر بې ګناه خلک ووژل شول، لاسونه او سرونه ترې پرې شول. ازاد خيباله او روشنفکره ماغزه وپاشېدل، د خلکو په سرونو ميخونه ټک وهل شول، چې دا ټول د نړۍ په تاريخ کې د بشر د حقوقو پر ضد يوه ستره ننګونه ده.

د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د ۱۱ نېټې له حملو څخه وروسته افغانستان يو نوي تاريخي پړاو ته ننوت، چې نړيوالې ټولنې هم د افغانستان په مختلفو برخو کې خپلې نسبي مرستې د افغانستان له خلکو سره پيل کړې. د دې مرستو له ډلې څخه يوه هم په افغانستان کې د بشري حقوقو نظريو ته پوره پراخوالی ورکول وو. ډېر مدني نهادونه منځته راغلل، د بشر د حقوقو هغه نهادونه چې له هېواد څخه يې دباندې کارونه کول، په هېواد کې دننه يې په هلو ځلو لاس پورې کړ، تر څو خلک او د هغوی اساسي حقوق له هر ډول تيري څخه خوندي اوسي.

لکه مخکې مو چې يادونه وکړه، د بل هر اساسي قانون په پرتله د افغانستان په دې نوي اساسي قانون کې د بشر حقوقو ته ډېر ارزښت او درناوی ورکړل شوی دی؛ خو له بده مرغه نن هم په افغانستان کې د بشر حقوق تر پښو لاندې کېږي،چې هېڅلکه دا د اساسي قانون ستونزه نشوګڼلای؛ بلکې ټول پر دې پوهېږي چې دا ستونزه د اساسي قانون په پلي کېدو او پلي کوونکو کې ده.

د افغانستان د ۱۳۸۲ل کال اساسي قانون ۶ ماده داسې وايي: (دولت د انساني کرامت په ساتلو، د بشري حقوقو ملاتړ، د ډيموکراسۍ تحقق، ملي وحدت د تامين او د ټولو قومونو او قبايلو ترمنځ د برابرۍ او د هېواد په ټولو سيمو کې د متوازنې پراختيا او ټولنيز عدالت پر بنسټ د يوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی).

که چېرته د اساسي قانون دغه ماده په سم ډول تشريح او بيا په سمه توګه پلې شي نو د دې شونتيا له منځه ځي چې په افغانستان کې به بيا هم د بشر حقوق تر پښو لاندې شي؛ خو له بده مرغه اوس هم په افغانستان کې د سياسي فرهنګ نشتوالې، له قانون سره د خلکو نابلدتيا او همدا شان د حکومتي چارواکو ناسم چلند، د قانون په پلي کولو کې د دې لامل کېږي چې د بشر حقوقو ته زيان ورسوي.

په افغانستان کې هغه خلک چې د حکومت وسلوال مخالفين دي هغوی هم د بشر د حقوقو په پام کې نه نيولو سره، هره ورځ بېګناه خلک وژني چې په لومړي سر کې دا کار د اسلام مبارک دين خلاف دی او بيا د بشر د حقوقو او د افغانستان اساسي قانون ته په درنه سترګه نه کتل دي. په همدې ډول د حکومتي چارواکيو له خوا د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساسي قانون بر عکس عملونو په تر سره کولو سره، ډېر بشري حقونه تر پښو لاندې کېږي چې دا هم د قانون او د بشر حقوق په سم ډول نه پلی کېدل دي.

د بشر د حقوقو نه پلي کېدل يو بل عامل هم لري، چې هغه په عامه توګه له قوانينو سره او په ځانګړې توګه د افغانستان له اساسي قانون اونورو فرعي قوانينو سره د افغان ولس ناخبرتيا،د افغانستان زياتره خلک نه پوهېږي چې اساسي قانون ورته کوم امتيازات او حقوق ورکړي دي.

د افغانستان اساسي قوانين او د بشر حقوق:

متضاد او موافق اړخونه:

د افغانستان د اساسي قوانينو لويه منبع د اسلام مبارک دين دی. د اسلام مبارک دين په نړۍ کې د انسانيت او د بشر د حقوقو په اړه ځانګړي او بې ساري اصول لري. نو په دې خاطر د افغانستان په اساسي قوانينو کې هم د بشر حقوقو په اړه په هر اړخيزه او په پراخه توګه يادونه او درناوی شوی دی.

د افغانستان په اساسي قوانينو کې د بشر د حقوقو نړيوالې اعلاميې، د ملګرو ملتونو منشور او د بشر د حقوقو اسلامي اعلاميې په هکله ځانګړي مواد ځای او خپاره شوي دي چې دا ټولې پرېکړې او ژمنې يې په درنښت منلي دي.

د افغانستان د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون ۶ ماده داسی حکم کوي چې، د ملګرو ملتونو د منشور او د بشر د حقوقو نړيوالې اعلاميې درناوی او د عادلانه سولې ملاتړ په نتيجه کې د يوې هوسا او پرمختللې ټولنې جوړولو پلوي کوي چې د انساني کرامت د ساتنې پر بنسټ ولاړ وي.

همداسې د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون په ۷ ماده کې راغلي دي چې: دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بين الدول معاهدو او د هغو نړيوالو ميثاقونو چې افغانستان له هغوی سره تړاو لري او د بشر حقوق د نړيوالې اعلاميې رعايت کوي او ورته ژمن دی. د افغانستان په ډېرو اساسي قوانينو کې د بشر د حقوقو ارزښت معلوم دی.

لکه مخکې مو چې يادونه وکړه د افغانستان د اساسي قوانينو بنسټيز منابع د اسلام مبارک دين او هغه ټولنيز افغاني روابط او هغه عرف او عادات دي چې د اسلام مبارک دين سره په ټکر کې نه وي؛ نو په دې اساسي قانون کې ځينې داسې مواد هم شته چې د بشر له حقوقو سره يې په يو متضاد اړخ کې ودروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف. متضاد اړخونه

د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیې لومړۍ ماده داسې وایي ((ټول انسانان دنیا ته ازاد رائي او د حقونو او حیثیت له مخې سره برابر او یو شان دي)).

تر ډېر حده د افغانستان په اساسي قوانینو کې د دې مادې رعایت شوی دی؛ خو د یوې استثناء له مخې او هغه دا چې په دې ماده کې یې ټولو انسانو ته هر ډول ازادي ورکړې ده، یعنی نارینه وو او ښځینه وو دواړو ته. اما هماغه ازادي تر ډېرې اندازې پورې د اسلام مبارک دین پر خلاف ده او د دې نوعه ازادۍ په ورکولو سره افغاني عنعناتو او دودونو ته زیان رسېږي،

د بشر حقوقو په اعلامیه کې ((بله څوومه؟)) ماده وایي ((هر بالغ سړی او ښځه حق لري چې د نژاد، ملیت، تابعیت او مذهب له قیودو څخه بغیر، یو له بل سره واده وکړي او ښځه او خاوند په ټولو چارو کې یو له بل سره مساوي حقونه لري.))

د افغانستان په اساسي قانون کې دا موضوع په صراحت سره نه ده بیان شوې؛ خو مور پر دې یقین لرو چې افغاني ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده او دا کار چې یوه افغانه او مسلمانه ښځه دې له یو غیرمسلم نارینه سره واده وکړي، په دې ټولنه کې به جواز ورنه کړل شي. دا ځکه چې دا د اسلام د اصولو او د افغاني ټولنې د فرهنګ یو خلاف عمل دی. د بشر د حقوقو د اعلامیې په بله ((څوومه)) ماده کې وایي ((هر څوک د خپل فکر، وجدان، مذهب او عقیدې د بدلولو، د عقیدې او ایمان د ظاهرولو او د خپلو مذهبي تعلیماتو ترسره کولو حق لري)).

دا کار ممکن په اروپا او امریکا کې پر ځای او د بشر حقوقو ته درناوی وګڼل شي؛ خو په افغانستان کې د اسلام مبارک دین یو خلاف عمل دی. که چېرته یو مسلمان له خپلې عقیدې مخ واړوي؛ نو هغه مرتد ګڼل کېږي چې له اسلامي شریعت او د افغانستان له جزا قانون سره سم باید محاکمه شي.

د بشر حقوق په بل ځای ((کوم ځای او کومه ماده کې؟ که شونې وي!)) وایي، مینديې او ماشومان د خاصې پاملرنې حق لري. ټول کمکیان که د نکاح په واسطه پیدا شوي وي او که بې نکاح، له ټولنیز ژواندانه څخه ګټه او برخه اخیستلای شي. په پورتنۍ ماده کې د بې نکاح کمکیانو په اړه یادونه شوې، اما داسې کمکیان په افغاني ټولنه کې شتون نه لري، دلته بې نکاح ماشوم ته بد نوم ورکړل شوی دی. دا ځکه چې دا د اسلامي اصولو او د افغاني عنعناتو پر خلاف کار دی.

د زده کړې په اړه د بشر حقوق وایي:((که شونې وي! چېرته او په کومه ماده کې؟)) هرڅوک د زده کړې او روزنې حق لري، باید چې لږ تر لږه په ابتدایي تعلیماتو پورې مربوطه زده کړه او روزنه وړیا او اجباري وي.

په افغانستان کې ټولو وګړیو ته په وړیا ډول زده کړه ورکول کېږي، خو په اساسي قانون کې د ابتدایي اجباري زده کړې په اړه مواد نه شته دي.

ب. موافق اړخونه:

هر څوک د ژوندانه، ازادۍ او د ځان د امن او سلامتۍ حق لري. هیڅا ته به له انسانیت او بشري اصولو څخه مخالف عذاب یا سزا نه ورکول کېږي او نه به ورسره ظلم او سپک سلوک کېږي. هر څوک حق لري چې حقوقي شخصیت یې په هر ځای کې د یو انسان په عنوان د قانون پر وړاندې وپېژندل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅوک په خپل سر بې سببه بندي کېدای او یا له هېواد نه ایستل کېدای نه شي.
هر څوک د تابیعت حق لري. که څوک په یوه جرم متهم شي، تر هغې چې د ده په باره کې یوه عمومي دعوه چې د ده لپاره په کې د دفاع ټول ضروري شیان تیار وي تر سره نه شي او دی مجرم ثابت نه کړای شي، دی بې ګناه ګڼل کېږي. په پورتنیو موادو کې د افغانستان اساسي قوانین د بشر له حقوقو سره پوره موافق دی.
(زما په اند: دلته باید د اساسي قانون د هغو مادو متن راواخیستل شي چې په کې د بشر د حقوقو پورتني اصلونه په پام کې نیول شوي دي او تر یادونه شوې ده. که څه هم پرې موضوع اوږدېږي)

اسلامي شریعت او د افغانستان قوانین:

د افغانستان د اساسي قوانینو په تاریخ کې، که موږ د اسلامي شریعت او د اسلام د مبارک دین روابط د افغانستان له اساسي قوانینو سره وڅېړو نو دا به جوته شي چې دا یوه نه بېلېدونکې اړیکه ده. د افغانستان اساسي قوانین د اسلامي حقوقو سره یوه ژوره ریښه لري او د اسلام مبارک دین همېشه د افغانستان د اساسي قوانینو بنسټګر پاتې شوی دی. د افغانستان اساسي قوانین چې اکثره یې د عنعنوي لویو جرګو په واسطه، چې ټولو غړیو یې په مکمل ډول د اسلامي شریعت د اصولو او د اسلامي حقوقو په اړه پوره معلومات درلودل، تهیه، تعدیل او تایید شوی دی. د لویو جرګو په غړیو کې په زیاته پیمانه علماوو هم شتون درلود او پوره برخه یې په کې لرله ؛ نو په دې اساس موږ ویلای شو چې تعدیل او تایید خو ډېره لرې خبره ده، د داسې موضوع یادونه هم ناممکنه ده چې هغه دې د اسلامي شریعت په خلاف وي.
د افغانستان په ټولو اساسي قوانینو کې د اسلام مبارک دین او د اسلامي شریعت اصول یو شان نه دي یاد شوي. په دې اړه دا قوانین له یو بل سره تر ډېره حده توپیر لري. د مثال په ډول: د امان الله خان د وخت د ۱۳۰۳ کال د اساسي نظامنامې دویمه ماده د اسلام مبارک دین په اړه داسې وایي ((د افغانستان پاک دین د اسلام او رسمي او عمومي مذهب د حنفي دی.....)). همدا شان د ۱۳۱۰ ل کال اساسي اصول چې د نادر شاه په وخت کې منځته راغلل، لومړی اصل یا ماده یې داسې حکم کوي ((دین د افغانستان د اسلام پاک دین او رسمي او عمومي مذهب یې د حنفي (رح) مذهب دی او پادشاه هم باید په همدې مذهب وي ....)).
په پورتنیو دواړو اساسي قوانینو کې د اسلام په مبارک دین او په حنفي مذهب سخت ټینګار شوی دی او په تېره بیا د ۱۳۱۰ ل کال په اساسي قانون کې داسې ویل شوي دي چې ((پادشاه هم باید حنفي مذهبه وي)).
د محمد ظاهر شاه د دورې په اساسي قانون کې (۱۳۴۳ ل کال) د افغانستان دین د اسلام سپېڅلی دین بلل شوی دی؛ خو دیني شعایر یې د دولت له خوا د حنفي مذهب له حکمونو سره سم ځای پر ځای کړي وو. یعنی په دې اساسي قانون کې د دیني شعایرو په رابطه د دولت دخالت کموي.
د ۱۳۵۵لکال اساسي قانون لومړنۍ مادې د اقتصادي پرمختګ لپاره ځانګړې شوې وې، نو په ۲۲ ماده کې یې داسې راغلي دي ((د افغانستان مقدس دین اسلام دی)) په دغه اساسي قانون کې یوازې دومره ویل شوي وو چې د افغانستان دین د اسلام مبارک دین دی او بس. د حنفي مذهب موضوع په پورتني اساسي قانون کې له منځه تللې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۳۵۹ کال اساسي قانون چې د ببرک کارمل په وخت کې منځ ته راغلی دی، په ۵ ماده کې يې داسې راغلي دي «د افغانستان ډيموکراتيک جمهوريت کې د اسلام دين ته درناوی شوی، رعايت او ساتنه يې تامينېږي او خلکو ته د مذهبي مراسمو د سرته رسولو ازادي تعينېږي.» په دې اساسي قانون کې د اسلام دين ته هغه ځای نه دی ورکړل شوی، چې په تېرو اساسي قوانينو کې ورکړل شوی وو.

د ۱۳۶۶ اساسي قانون چې د ډاکتر نجيب الله په وخت کې توشېح شوی دی، د دې قانون په دويمه ماده کې حکم شوی چې «د افغانستان دين د اسلام مبارک دين دی.» په پورتني اساسي قانون کې داسلامي شريعت اصول او اسلام مبارک دين د افغانستان د خلکو مبارک دين بلل شوی او هغه قوانين يې هم فسخه اعلان کړل کوم چې د اسلام مبارک دين اساساتو ته زيان رسوي؛ خو دلته يې د اسلام مبارک دين سره موجوده اساسي قانون هم ضميمه کړې ده چې په دې اړه دواړه د اسلام مبارک دين او اساسي قانون په يوه ليکه کې شتون لري.

د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون يا موجوده اساسي قانون چې په ۱۳۸۲ ل کال کې د لويې جرګې له خوا تصويب او د انتقالي دولت د رئيس حامد کرزي له خوا توشېح شو، د دې قانون دويمه ماده داسې حکم کوي «د افغانستان جمهوري دولت دين د اسلام سپېڅلی دين دی» او درېيمه ماده يې بيا داسې حکم کوي «په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دين د متعقداتو او احکامو مخالف وي» په دې اړه تر بل هر اساسي قانون د ۱۳۸۲ ل کال په اساسي قانون کې د اسلام مبارک دين او د اسلامي شريعت اصولو ته ډېره پاملرنه شوې ده او په کلکه يې هغه قوانين فسخه اعلان کړي دي چې د اسلام مبارک دين په ضرر تمامېږي.

خو دلته يوه استثناء هم موجوده ده، که چېرته مورږ د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون درېيمه او شپږمه ماده سره موازنه کړو؛ نو شايد يو څه مشکل رامنځته شي. دا ځکه چې د دې قانون درېيمه ماده حکم کوي چې «هېڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام سپېڅلي دين مقدساتو او احکامو پر خلاف وي»، په داسې حال کې چې د همدې قانون شپږمه ماده بيا دولت له بشري حقوق څخه په ملاتړ مکلف کړی دی او د بشر حقوق يې په سمه توګه منلي دي. په دې اساس د بشر په حقوقو کې داسې مواد شته چې هغه شايد د اسلامي شريعت له اصولو سره په ټکر کې واقع شي. له دې پرته د ۱۳۸۲لکال اساسي قانون ۶۳ ماده حکم کوي چې «رئيس جمهور بايد د ملي شورا په وړاندې داسې سوګند وکړي «د لوی الله (جل جلاله) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپېڅلي دين پيروي او ساتنه وکړم، د اساسي قانون او نورو قوانينو رعايت او د پلي کېدو ځارنه وکړم»

له پورتنۍ مادې څخه داسې معلومېږي چې د دې قانون نه يوازې ۲ او ۳ ماده د اسلامي شريعت په اصولو ټينګار کوي، بلکې په ۶۳ ماده کې رئيس جمهور هم مکلفوي ترڅو د اسلام مبارک دين پيروي وکړي.

د افغانستان په ټولو اساسي قوانينو کې د ۱۳۸۲ کال د قانون په شمول، د نورو ټولو اديانو او مذاهبو قدر شوی دی او د قانون په چوکاټ کې دننه يې دوی ته هر قسم مذهبي ازادي تضمين کړې ده، چې دا د اسلام مبارک دين يو ځانګړی اصل هم دی.

د افغانستان سياسي سيستم د اساسي قانون په رڼا کې: (د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان سياسي سيستم)

د افغانستان د اساسي قانون په لومړۍ ماده کې افغانستان خپلواک، واحد او نه ېېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلل شوی دی. د سیاسي سیستم د جوړښت لپاره په دې ماده کې افغانستان لومړی جمهوري دی؛ دویم دا چې واحد دی، یانی یوستوی دی، مرکب یا فدرالي نه دی. نو د افغانستان سیاسي سیستم د اساسي قانون په رڼا کې پر جمهوریت ولاړ دی.

په اساسي قانون کې د درې ګونو قواو شتون او تفکیک موجود دی او همدا شان د درې واړو قواوو صلاحیتونه او مسوولیتونه د اساسي قانون په رڼا کې ځانګړي شوي دي. اما د نړۍ د نورو جمهوري نظامونو برعکس د افغانستان په جمهوري سیستم کې یوه بله ځانګړې قوه یا غیررسمي ارګان هم موجود دی، چې هغه د افغانانو عنعنوي لویه جرګه ده، چې دا هم د افغانستان په سیاسي سیستم کې د اساسي قانون په رڼا کې پوره رول لري.

د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان سیاسي سیستم په لاندې فکتورونو (قواو) ولاړ دی.

اول: اجرایه قوه

د افغانستان د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون په درېیم فصل کې د اجرایه قوې په اړه ډېر مواد خپاره شوي، چې په لنډ ډول به د هرې مادې په اړه یو څه را واخلو.

۱. جمهور رئیس (ولسمشر)

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په سر کې دی، چې خپل واکونه په اجرائیه مقننه او قضایه برخو کې د دی اساسي قانون له حکمونو سره سم عملی کوي. جمهور رئیس دوه، لمړی او دویم ، مرستیالان لري.

جمهور رئیس د رایې ورکونکو د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو رایو له لارې په سلو کې تر پنځوسو زیاتو رایو په تر لاسه کولو انتخابېږي. د جمهوري ریاست د کاندیدېدو شرایط، د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زېږېدلی وي او د بل هېواد تابیعت ونه لري، عمر یې له څلوېښتو کلونو لږ نه وي او د محکمې له خوا په کوم جرم یا جنایت محکوم نه وي. هېڅ شخص نه شي کولای له دوه دورو څخه زیات د جمهور رئیس په حیث وټاکل شي، دا حکم د جمهور رئیس د مرستیالانو په برخه کې هم تطبیقېږي.

د جمهور رئیس واکونه او وظیفې:

- د اساسي قانون د اجرا څارل
- د ملي شورا په تائید د جګړې اعلانول او بندول.
- د ځمکنۍ بشپړتیا او د خپلواکۍ د ساتنې د دفاع په حالت کې لازم تصمیم نیول
- د قوانینو او تقنیني فرمانونو توشیح کول
- د قانون له حکم سره سم د جزاګانو تخفیف او بښل
- جمهور رئیس به خپله استعفا ملي شورا ته پخپله اعلاموي
- جمهور رئیس نه شي کولای د قانون له حکم پرته دولتي ملکیتونه او شتمنۍ وپلوري یا یې وبښي.
- د اجرائیه قوې په هکله د پوره معلوماتو لپاره د اساسي قانون درېیم فصل ته مراجعه وکړئ.

۲. حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت له وزیرانو څخه جوړ دی، چې د جمهور رئیس تر ریاست لاندې کار کوي.

څوک چې د وزیر په توګه ټاکل کېږي باید لاندې شرطونه ولري:

- یوازې د افغانستان تابعیت لرونکی وي
- لوړ تحصیلات، کاري تجربه او ښه شهرت ولري
- عمر یې تر 40 کالو کم نه وي
- د محکمې له خوا تورن یا محکوم نه وي
- کېدای شي وزیران د ملي شورا له غړیو وټاکل شي

حکومت لاندې وظیفې لري:

- د خپلواکۍ ساتل او له ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع
- د عامه نظم او امن ټینګول او د هر راز اداري فساد له منځه وړل
- د بودیجې ترتیبول، د دولت مالي وضعې تنظیمول او د عامه شتمنۍ ساتل
- د ټولنیزو، فرهنګي، اقتصادي او ټیکنالوژیکي پرمختیایي پروګرامونه برابرول او تطبیق
- ملي شورا ته د مالي کال په پای کې د سرته رسېدلو چارو او د نوي کال د مهمو پروګرامونو په باب ګزارش ورکول
- حکومت د هېواد د سیاسي اساسي کرښو او د خپلو وظیفو د تنظیمولو لپاره مقررات وضع او تصویبوي. دا مقررات باید د هیڅ قانون له نص یا روح سره مناقض نه وي.
- وزیران نشي کولای د خپل کار په دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنیو، سیمه ایزو، قومي، مذهبي او ګوندي ملحوضاتو ګټه واخلي

دا وه د حکومت په اړه لنډ مواد چې د ۱۳۸۲ ل کال د اساسي قانون څلورم فصل څخه راټول شوی دي.

دویم: ملي شورا (پارلمان)

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ملي شورا د تقنیني ارګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارووندویه ده او د ټول ملت نماینده ګي کوي.

ملي شورا له دوو مجلسونو (ولسي جرګه او مشرانو جرګه) څخه جوړه ده.

هېڅوک نه شي کولای چې په یو وخت کې د دواړو مجلسونو غړی اوسي.

د ولسي جرګې غړي، د خلکو د ازادو، عمومي، پټو او مستقیمو انتخاباتو له لارې انتخابېږي. د ولسي جرګې غړي د هرې حوزې د نفوسو په تناسب زیات نه زیات تر ۲۵۰ کسانو پورې وي.

د ملي شورا واکونه:

- د قوانینو او تقنیني فرمانونو تصویب، تعدیل یا لغوه کول
- د ټولنیزو، فرهنګي، اقتصادي او تکنالوژیکي پرمختیایي پروګرامونو تصویب
- د دولتي بودیجې تصویب او دولت ته د پور اخیستلو او ورکولو اجازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

• د اداري واحدو منځ کې د تغیراتو راوړل، تعدیل یا لغوه کول
• د دولتونو ترمنځ د ټړونونو او بین المللي میثاقونو تصدیق او یا له هغو څخه د افغانستان بېلول

د ملي شورا ځانګړي واکونه:

• له هر یو وزیر څخه د ایستیضاح په برخه کې تصمیم نیول
• د دې اساسي قانون (۱۳۸۲ ل کال) له حکمونو سره سم ،د مقرریو تائید یا ردول
• د ملي شورا په اړه ۹۴ ماده داسې حکم کوي ((قانون هغه مصوده ده چې د ملي شورا د دواړو جرګو له خوا تصویب او د جمهور رئیس له خوا توشیح شوی وي. مګر دا چې په دې اساسي قانون کې بل ډول څرګند شوې وي.
• د ملي شورا دواړه جرګې په عین وخت کې بېل بېل مجلسونه کوي

درېیم. قضایه قوه:

قضایه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپواک رکن دی .

قضایه قوه له یوې سترې محکمې د استناف له محکمو او ابتدایه محکمو څخه جوړه ده، چې تشکیلات او واکونه یې د قانون له لیارې تنظیمېږي.

ستره محکمه د ستر قضایي ارګان په توګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قضایه قوې په سر کې ځای لري.

ستره محکمه نهه تنه غړي لري، چې د جمهور رئیس له خوا د ولسي جرګې په تائید او د دې اساسي قانون د ۵۸ مادې د وروستۍ فقرې او د ۱۱۸ مادې د حکمونو په رعایت، په پیل کې په دې ترتیب ټاکل کېږي. درې تنه د څلورو کلونو لپاره، درې تنه د اوو کلونو لپاره او درې تنه د لسو کلونو لپاره. د غړیو ټاکل د دویم ځل لپاره جواز نه لري. جمهور رئیس د سترې محکمې یو غړی د سترې محکمې د رئیس په توګه ټاکي.

د سترې محکمې د غړیتوب شرایط:

• د ټاکلو په وخت کې د ټولو غړیو عمر تر څلوېښتو کلونو لږ نه وي.
• په حقوقي یا فقهي علومو کې لوړې زده کړې او قضایي نظام کې کافي تجربه ولري.
• د ښه سیرت او نېک شهرت لرونکی وي.
• د محکمې له خوا تورن یا د جرمونو په ارتکاب محکوم نه وي.

د قضایه قوې په صلاحیت کې په ټولو هغو دعواو غور کول شامل دي، چې د دولت په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصو له خوا د مدعي یا مدعي علیه په حیث د قانون له حکمونو سره سم د محکمې پر وړاندې اقامه شي.

د افغانستان په محکمو کې محاکمه په علني ډول دایرېږي او هر څوک حق لري د قانون له حکمونو سره سم په هغې کې ګډون وکړي.

محکمه کولای شي په خرابو حالاتو کې د قانون له حکم سره سمې غونډې دایرې کړي خو اعلان یې باید علني وي.

څلورم. لویه جرګه:

لویه جرګه د افغانستان د خلکو د ارادې تر ټولو ستر مظهر دی. لویه جرګه د ملي شورا له غړیو، د ولایتونو او د ولسوالیو د جرګو له رئیسانو څخه جوړېږي. وزیران، د سترې محکمې رئیس او غړي او لوی څارنوال کولای شي د لویې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرګې په غونډو کې بې له دې چې د رايې ورکولو حق ولري ګډون وکړي.

لويه جرګه په لاندنيو حالاتو کې دايرېږي:

- د هېواد د خپلواکۍ، ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او سترو مصلحتونو پورې د مربوطو چارو په باب تصميم نيولو لپاره.
- د دې اساسي قانون د حکمونو د تعديل لپاره
- د دې اساسي قانون (نهه شپيتمې) مادې له مخې د جمهور رئيس محاکمه کول
- د لويې جرګې نصاب د رايې اخيستو په وخت کې د غړيو په اکثريت سره بشرپړېږي. تر دې پخوا هم وويل شول چې، لويه جرګه د افغانستان او افغانانو يو عنعنوي ميراث دی، چې په خاصو مواردو او شرايطو کې دايرېږي. لويه جرګه د مقننه يا قضايه قوې په شکل مستقيماً د هېواد په سياسي سيستم کې رول نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی

اساسي قانون او د خلکو حقوق

لکه مخکې مو چې یادونه وکړه، اساسي قانون باید د خلکو اساسي حقوق تضمین کړي، تر څو د خلکو اساسي حقوق له هر ډول تیري څخه خوندي وي. د افغانستان اساسي قانون هم د خلکو د اساسي حقوقو تضمین کوونکی دی. د افغانستان د اساسي قانون دویم فصل د اتباعو حقوق او وجایبو ته ځانګړی شوی دی.

د دویم فصل دوه ویشتمه ماده داسې حکم کوي ((د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی. ښځینه او نارینه د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري))

د دې اساسي قانون درویشتمه او څلورویشتمه ماده د ټولو اتباعو ژوند چې د انسان طبعي حق دی او د ازادۍ حق چې دا هم د انسان طبعي حق دی تضمینوي او وایي ((هېڅوک له قانوني جواز نه پرته له دې حق څخه نه شي بې برخې کېدای. دولت د انسان د ازادۍ او د انسان د کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی.

د دې اساسي قانون اوویشتمه ماده داسې حکم کوي ((هېڅ یو عمل جرم نه ګڼل کېږي، خو د هغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب دمخه نافذ شوی وي)).

په پورته ماده کې ټینګار کوي چې هېڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبېدای، نیول کېدای او یا توقیف کېدای نه شي.

د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون د خلکو اساسي حقوق تر ډېره حده په منظم ډول تعین کړي دي. دا حقوق که د ژوند په هره ساحه کې وي، د هېواد له دننه څخه نیولې تر د هېواد دباندې پورې، له انتخابېدو څخه تر انتخابولو پورې، همدا شان د بیان ازادي، د ټولنو جوړول، د سیاسي ګوندونو جوړول، د متهم، محکوم، او مجرم حقوق او داسی نور ټول په بر کې نیسي.

خو بیا هم له بده مرغه دا اساسي قانون د پلي کېدو په ساحه کې یو څه ستونزې لري، چې لویه ستونزه یې د حکومت لوړ پوړي اعضاء په درست ډول د دې اساسي قانون رعایت نه کوي. په دې اړه باید د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون باندې د عامه پوهاوي لپاره دولتي او نادولتي موسسات داسې جدي کار وکړي چې د دې اساسي قانون یوه یوه ماده د خلکو تر غوږونو ورسوي او د افغانستان ټول خلک باید په دې پوه شي چې په دې اساسي قانون کې د افغانستان د اتباعو لپاره کوم حقوق ځانکړي شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اساسي قانون په رڼا کې حقوق او وجایب:

اساسي قوانین د نړۍ په هره ټولنه او هر هېواد کې موجود وي. د دې معنا داده چې دا په ټولنې کې د شخص تګلاره تعینوي. مور په وار وار دا خبره کړې، چې زمور ټولنه اسلامي ټولنه ده او زمور د اساسي قانون لویه منبع د اسلام مبارک دین دی، کوم چې مور ته یې زمور په ټولنه کې د ژوند لار تعین کړې ده. په تېر بحث کې مو وویل چې د افغانستان اساسي قانون د افغانستان د اساسي حقوقو تضمین کړی دی. په حقیقت کې د افغانستان خلک هم د دې حقوقو د لاس ته راوړلو په مقابل کې ځانګړي وجایب لري. چې د دې وجائیبو سرته رسول او منل په اصل کې په هېواد کې د اساسي قانون پلي کېدل دي.

د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون ۳۱ ماده حکم کوي (هر څوک کولای شي چې له نیول کېدو سره سم له ځانه د اتهام د لرې کولو او یا د حق ثابتولو لپاره مدافع وکیل وټاکي او همدا شان حق لري چې د منسوب اتهامه ځان خبر کړي ....) دلته مور ولیدل چې اساسي قانون په صراحت حکم کړی، خو که نوموړي متهم ته دولتي چارواکي دا زمینه مساعده نه کړي نو دا د دولت هغه وجیبه ده چې سرته یې نه رسوي، چې دا په خپله اساسي قانون ته زیان او ضرر دی.

یا د اساسي قانون ۳۳ ماده داسې حکم کوي (د افغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابېدو حق لري له دې حق څخه د ګټې اخیستو شرایط او لارې د قانون له لارې تنظیمېږي) په دې ماده کې مور ته اساسي قانون د انتخابولو او انتخابېدو حق راکړی، خو زمور وجیبه داده چې دا حق د قانون په چوکاټ کې سرته ورسوو. که چېرته مور د اساسي قانون د دې مادې له حق څخه ګټه اخلو نو وجیبه یې هم باید سر ته ورسوو. په دې معنا چې مور خپل اساسي قانون په سم ډول نه پلي کوو او نه یې منو.

د نړۍ پرمختللیو ټولنو کې خلک او دولت د اساسي قوانینو له حقوقو څخه زیات د اساسي قوانینو په وجایبو ټینګار کوي. ځنګه چې د اساسي قانون د وجائیبو منل د اساسي قانون پلي کېدو ته قدرت ښېي او کله چې اساسي قانون په ټولنه کې قدرت مند او حاکم شي نو د ټولنې سعادت او پرمختګ لپاره لاره هوارېږي.

د انسان د ژوند ځینې اساسي حقوق په لاندې ډول دي:

۱. د ژوند حق:

ژوند کول په دې نړۍ کې د الله تعالی جل جلاله له طرفه د انسان طبیعي حق دی. د افغانستان په اساسي قانون کې هم د ژوند له حق څخه دفاع شوې ده. د افغانستان د اساسي قانون ۲۳ ماده داسې وایي: (ژوند د خدای (ج) بخښنه او د انسان طبیعي حق دی، هېڅوک له قانوني مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کېدای نشي.) د دې مادې په اساس په افغانستان کې باید د هیچا ژوند ته کوم ګواښ و نه شي او نه باید د چا ژوند له قانوني جوازه پرته تلف شي. د قانون له مخې د انسان ژوند هغه وخت له ګواښ سره مخ کېږي کله چې محکمه د محمدي قانون د اصولو او مندرجاتو په اساس د هغه انسان په خلاف حکم صادر کړي.

۲. د ازادۍ حق:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادي هم د انسان طبیعي حق دی. د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون ۲۴ ماده د ازادۍ په هکله حکم کوي (ازادي د انسان طبیعي حق دی. دا حق د نورو له ازادي او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لارې تنظیمېږي حدود نه لري. د انسان ازادي او کرامت له تېري څخه خوندي دي. دولت د انسان د ازادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی.)

په پورتنۍ ماده کې د دې یادونه شوې چې دولت د انسان د ازادۍ او کرامت په ساتنه مکلف دی؛ خو په هغه صورت کې چې د نورو له ازادۍ او عامه مصالحو سره په ټکر کې رانشي، چې دا کار د قانون له لیارې تنظمیږي. یعنی انسان باید د ازادۍ په نوم داسې اعمال تر سره نه کړي تر څو د بل چا ازادۍ ته زیان ورسوي یا د هغه د ازادۍ دا عمل له قانون سره مخالف اوسي.

۳. د برات الذمه حق:

د افغانستان د اساسي قانون ۲۵ ماده په دې هکله داسې حکم کوي. ذمي، تر هغې چې د باصلاحیته محکمې په قطعي حکم متهم محکوم علیه ثابت نه شي، بې ګناه ګڼل کېږي.) همدا شان د دې اساسي قانون ۳۰ ماده حکم کوي (له متهم یا بل شخص څخه په زور تر لاسه شوي شواهد، څرګندونې یا اقرار اعتبار نه لري....) د دې قانون ۳۱ ماده حکم کوي (هرڅوک کولای شي له نیول کېدو سره سم د خپلې دفاع لپاره مدافع وکیل وټاکي، له منسوب اتهامه ځان خبر کړي، .... دولت په جنایي پېښو کې د بېوزلي متهم لپاره مفته مدافع وکیل ټاکي. د متهم او د هغه وکیل تر منځ مکالمات، مراسلات او مخابرات له هر ډول تعرض څخه خوندي وي. د دې قانون ۲۶ ماده بیا داسې حکم کوي (جرم یو شخصي عمل دی، د متهم تعقیبول، نیول، یا توقیفول او پر هغه باندې د جزاء تطبیق بل هېڅا ته سرایت نه کوي.

۴. د فردي مسوولیت حق:

د یوې سالمې ټولنې هر فرد د قانون پر وړاندې ځانګړي مسوولیتونه لري. د افغانستان اساسي قانون ۲۷ ماده حکم کوي (هېڅ یو عمل جرم نه ګڼل کېږي خو د هغه قانون له مخې چې د جرم ارتکاب نافذ شوی وي. هېڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبېدای او یا توقیف کېدای نشي. هېڅا ته سزا نشي ورکول کېدای مګر د باصلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکاب مخکې نافذ شوی وي) په دې اساس دا د هر فرد وظیفه او مسوولیت دی؛ تر څو له قانون نه خبر وي، او داسې کوم عمل اجرا نه کړي چې هغه د قانون له مخې منعه وي. همدا شان د حکومتي چارواکو مسوولیت هم ذکر شوی دی چې د قانون له حکمونو پرته له هیڅا سره تېری ونه کړي.

۵. د تابیعت حق:

تابیعت هغه وثیقه یا سند دی چې د فرد رابطه له دولت سره ثابتوي. د افغانستان اساسي قانون ډېرې مادې د هغو افرادو د حقوقو د ساتنې په اړه لیکل شوي، کوم افراد چې د افغانستان تابعیت لرونکي وي. نو په همدې اساس د افغانستان اساسي قانون د ۲۸مادې دویم بند داسې حکم کوي (هېڅ افغان د تابعیت په سلبېدلو او په افغانستان کې دننه یا بهر په شړل کېدو نه محکومېږي.) په دې بند کې دوه موضوعات دي اول دا چې په هېڅ حالت کې هم له یو افغان څخه تابیعت نه اخیستل کېږي. دویم دا چې یو افغان هم له هېواد نه دننه او یا بهر ته په زوره نه شي شړل کېدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې داسې هېوادونه شته چې کله بهرنیو اتباعو ته خپل تابعیت ورکړي، نو د غټ جرم په مقابل کې هغه تابعیت بېرته ترې اخیستل کېږي او شړل کېږي.

۶. د نوماندیدو او انتخابولو حق:

انتخابېدل یا انتخابول د واقعي ډیموکراسۍ یو اصلي جز او برخه ده، چې د دې پواسطه مشروع سیاسي نظام رامنځته کېږي. د افغانستان اساسي قانون ۳۳ ماده په دې هکله داسې حکم کوي (د افغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابېدو حق لري چې له دې حق څخه د ګټې اخیستنې شرایط او لارې د قانون له لیارې تنظیمېږي.) په دې ماده کې دا حق یوازې هغه چا لپاره ورکړل شوی دی چې هغه د افغانستان تابعیت لرونکی وي. هېڅ خارجي نه شي کولای په خپله ځان انتخاب کړي او نه هغه ته دا حق ورکول کېږي تر څو چاته رایه ورکړي او که چېرته افغان په خپله ځان انتخابوي یا بل چا ته رایه ورکوي هغه به د قانون په چوکاټ کې داخل دا پروسه پر مخ بیایي.

۷. دبیان ازادۍ حق:

په مطلقه شاهي یا ډیکتاتوري نظامونو کې د بیان ازادۍ حق زیاتره تر پښو لاندې کېږي؛ نو څرنګه چې د بیان ازادي د ډیموکراتیکو او جمهوري نظامونو یوه مهمه برخه ده او همدا شان د قانون په چوکاټ کې داخلي د بیان ازادي د هېوادونو په پرمختګ کې مهم رول لوبوي. د افغانستان د اساسي قانون ۳۴ ماده د بیان د ازادۍ په اړه داسې حکم کوي (د بیان ازادي له تېري څخه خوندي ده، هر افغان حق لري چې خپل فکر د وینا، لیکنې، انځور او یا نورو وسیلو له لارې په دې اساسي قانون کې د راغلیو حکمونو په رعایت څرګند کړي. هر افغان حق لري چې د قانون له حکمونو سره سم مطالب بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقامونو ته وښیي خپاره او نشر کړي. د مطبعو او راډیو او تلویزون، د خپرولو او د جمعي ارتباطاتو په نورو وسایلو پورې مربوطه حکمونه د قانون له لارې تنظیمېږي.) په عام ډول مطبوعات هغه څرګندونې دي چې په هغې کې د حکومت ضعف د خلکو غوږونو ته رسول کېږي. مطبوعات باید یوائې د ټولنې د اصلاح او پرمختګ لپاره کار وکړي.

۸. د سیاسي ګوندونو جوړولو حق:

سیاسي ګوندونه په هېواد کې د سیاسي فرهنګ په خپرولو کې د هېواد په سیاسي نظامونو کې او د حکومت په خلاف د یوه سیاسي اپوزسیون په څېره کې د هېواد سیاسي بنسټیز پرمختګ کې مهم رول لوبوي. د افغانستان د ۱۳۸۲ ل کال د اساسي قانون پینځه دېرشمې مادې داسې حکم کړی دی (د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو مادي یا معنوی غوښتنو د تامین لپاره د قانون له حکمونو سره سم ټولنې جوړې کړي، د افغانستان اتباع حق لري چې د قانون له حکمونو سره سم سیاسي ګوندونه جوړ کړي، په دې شرط چې:

- د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د سپېڅلي دین د ا حکامو او په دې اساسي قانون کې د راغلیو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ګوند تشکیلات او مالي منابع یې څرګندې وي.
- نظامي او نظامي ډوله تشکیلات او هدفونه باید و نه لري.
- له بهرنیو سیاسي ګوندونو یا نورو بهرنیو منابعو سره تړلي نه وي.
- د قوم سیمې، ژبې او فقهي مذهب پر بنسټ د ګوند جوړول او فعالیت جواز نه لري.
- هغه جمعیت او ګوند چې د قانون له حکمونو سره سم جوړ ښکاري، د قانوني موءجباتو او باصلاحیته محکمې له حکمه پرته نه منل کېږي.

۹. د ملکیت حق:

د ملکیت حق په اړه د افغانستان د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون ۴۰ ماده داسې حکم کوي (ملکیت له تېري څخه خوندي دی، هېڅوک د ملکیت د تر لاسه کولو او په هغه کې له تصرف څخه نشي منعه کېدای، مګر د قانون د احکامو په حدود کې، د هیڅا ملکیت د قانون د حکم او باصلاحیته محکمې له پرېکړې پرته نه مصادره کېږي.)

د شخصي ملکیت استهلاک یوازې د عامه ګټو د تامین په مقصد د مخکني او عادلانه بدل په ورکولو د قانون له مخې مجاز دي. د شخصي شتمنیو پلټنه او اعلان یوازې د قانون په حکم کېدای شي. د افغانستان د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون ۴۱ ماده د بهرنیو اشخاصو د ملکیت په رابطه داسې حکم کوي (بهرني اشخاص په افغانستان کې د عقاري مالونو د ملکیت حق نه لري، د عقار اجاره د پانګې اچونې په منظور د قانون له حکمونو سره سم جواز لري. د بهرنیو ملکونو پر سیاسي نمایندګیو او پر هغو بین المللي موسسو چې افغانستان په کې غړیتوب لري د عقاري مالونو پلورل په کې د قانون له حکمونو سره سم جواز لري.

۱۰. د تعلیم حق:

د افغانستان اساسي قانون ۴۳ ماده د تعلیم په اړه حکم کوي (زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی، چې د لیسانس تر درجې پورې وړیا د دولت له خوا تامینېږي. دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عاملو او د منځنیو اجباري زده کړو د تامین لپاره اغېزمن پروګرام ایجاد، اصلاح او تطبیق کړي او د مورنیو ژبو تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پرې خبرې کېږي لاره هواره کړي.)

همدا شان د دې اساسي قانون ۴۴ ماده بیا داسې حکم کوي (دولت مکلف دی د ښځو د زده کړو د پراختیا او توازن د ایجاد په منظور، د کوچیانو د زده کړې د ښه والي او په هېواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره اغېزمن پروګرامونه طرحه او تطبیق کړي.

۱۱. د کار حق:

د افغانستان اساسي قانون ۴۸ ماده د کار د حق په اړه داسې حکم کوي (کار د هر افغان حق دی. د کار د ساعتونو ټاکل او بامعاشه رخصتي، د کار او کارګر حقوق او له هغه سره نورې اداري چارې د قانون له لارې تنظمېږي. د قانون د حکمونو په حدود کې کار او کسب ازاد دی. د دې قانون ۴۹ ماده د جبري کار او پر ماشومانو د کار په اړه بیا داسې حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي (د جبري کار تحميل منعه دی. جبري کار د جګړې، افتونو او نورو داسې حالاتو په وخت کې چې عامو خلکو ژوند او هوساينه تهديد کړي، له دې امر څخه مستثنا دی. فعاله برخه اخيستنه د هر افغان ملي وجيبه ده. پر ماشومانو د کار تحميل جواز نه لري.

۱۲. د صحت حق:

د افغانستنان اساسي قانون ۵۲ ماده د صحت په اړه داسې حکم کوي (دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغيو د مخنيوي او د وړيا علاج وسيلې او روغتيايي اسانتياوې د قانون له حکمونو سره سم تامينوي. دولت د قانون له حکمونو سره سم د خصوصي طبي خدمتونو او روغتيايي مرکزونو جوړول او پراختيا هڅوي او ملاتړ يې کوي. دولت د سالمې بدنې روزنې د پياوړتيا او د ملي او سيمه يزو ورزشونو د پراختيا لپاره لازم تدبيرونه نيسي.

۱۳. د نرو او ښځو د مساوات حق:

په ټوله نړۍ کې د ښځو او د نارينوو مساوي حقونو موضوع ډېره ګرمه او هر وخت د نړيوالې مېډيا او نړيوالو حقوقي سازمانونو او ټولنو په سرکې څرخېږي. په دې کې هيڅ شک نشته چې د نړۍ په ډېرو هېوادنو کې د ښځو حقوق تر پښو لاندې کېږي، چې ځانګړی عامل هم نه لري؛ خو ولې د نړۍ هغه هېوادونه چې په اقتصادي لحاظ پياوړي دي داسې ګومان کوي، چې په کومو ټولنو کې د ښځو حقوق تر پښو لاندې کېږي او هغوی ته د نارينه وو په شان مساوي حقوق نه ورکوي، ددې لوی عوامل مذهبي، عنعنوي اوکولتوري دي.

تر يوه حده د دوی ګومان هم درست دی، ځکه چې په نړۍ کې داسې ټولنې شته چې په مذهبي، عرفي او يا په عنعنوي لحاظ د ښځو حقوق غصبوي لکه د هند طبقاتي ټولنه، يا دا چې پخوا به په هند کې له مېړه سره ښځه هم سوځول کېده او اوس هم په هند، نيپال او د سويلي اسيا په ځينو هېوادو کې د کوچنيو نجونو ودول رواج لري.

خو که څوک د اسلامي اصولو په هکله دا فکر وکړي، نو دا نا سم فکر دی، ځکه چې د اسلام مبارک دين ښځو ته هغه حقوق ورکړي دي کوم چې د نړۍ هيڅ يو بل مذهب، نظام او سيستم کې تر اوسه نه دي ورکړل شوي. د اسلام مبارک دين له نظره ښځه او نارينه برابر حقوق لري؛ خو د دوی د کار او د عمل دايره يو شان نه ده. په اسلام کې د ښځې او نارينه کار کړنه لازم او ملزوم حيثيت لري، نه دا چې يو بل سره په ټکر او تعارض کې وي، بلکې ښځه اونارينه يو له بل سره د معاون او همکار حيثيت لري.

ترکومه ځايه پورې چې د ښځو د حقوقو خبره ده، نو د اسلام مبارک دين دا حقوق په شپږو غټو برخو وېشلي دي.

۱- ديني او رو حاني حق
۲- اقتصادي حق
۳- ټولنيز حق
۴- د ليک لوست حق
۵- قانوني حق
۶- سياسي حق

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په اساسي قانون کې هم د بشځو او نارينه وو حقوق په مساوي ډول ترسيم شوي دي او د دې اساسي قانون پر وړاندې بشځې او نارينه مساوي حقوق او وجايب لري، په دې اساسي قانو ن کې داسې ماده نشته چې ګويا نارينه ته دې حق ورکړی وي او بشځه دې تري محرومه وي؛ بلکې ټول هغه حقوق لکه قانوني حق، سياسي حق، د ليک لوست حق، د صحت حق او نور چې دا ټول حقوق د بشځو او نارينه و لپاره برابره بڼه لري.

خو ولې لويه ستونزه زموږ په ټولنه کې له قانون څخه د خلکو ناخبرتيا ده، چې زياتره دوی لاتر اوسه هم نه پوهيږي چې اساسي قانون او نورو قوانينو دوی ته کوم حقوق ورکړي دي. د بشځو د حقوقو په اړه يوه بله مکمله برخه ليکل شوې ده، چې وروسته به يې ولولي.

حقوق او وجايب د بشر د حقوقو په رڼا کې:

د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه چې د ۱۹۴۸ ل کال د ډسمبر په لسمه تصويب شوه، نن هم د يو نړيوال بشري حقوقي سند په حيث په ټوله نړۍ کې له بشري حقوقو څخه دفاع کوي. د بشر حقوق په ټوله نړۍ کې او د نړۍ په هره ټولنه کې د خلکو حقوق خوندي کوي او پر خلکو باندې تاکيد کوي تر څو هغه وجايب هم سرته ورسوي کوم چې په دې اعلاميه کې ذکر شوي دي.

د بشر د حقوقو له اعلاميې څلورمه ماده داسې حکم کوي (هېڅوک په غلامې او مرييتوب کې نشي ساتل کېدای او د مريانو پلورنه او پېرودنه په هر شکل منعه ده. همدا شان د دې اعلاميې شپږمه ماده وايي چې (هر څوک حق لري چې حقوقي شخصيت يې په هر ځای کې د يو انسان په عنوان د قانون پر وړاندې وپېژندل شي.) شپږويشتمه ماده په بل ځای کې حکم کوي او وايي (هر څوک د زدکړې او روزنې حق لري. بايد چې ابتدايي تعليماتو پورې مربوطه زده کړه او روزنه وړيا وي. ابتدايي بشوونه به اجباری وي. بايد چې د کسب او کار زده کړه عاموالی وموميږ. بنايي چې د عالي زده کړې لار به کاملاً مساوات سره د هر چا لپاره خلاصه وي، چې هر څوک ترې له خپل استعداد سره سمه ګټه واخيستلای شي. همدارنګه د دې اعلاميې نهه ويشتمه ماده وايي:

۱: هر څوک د هغې ټولنې په مقابل کې مکلف دی چې ده ته يې د خپل شخصيت ازاد او کامل رشد ميسر وي.

2- هر څوک د خپلو حقونو او ازاديو په اجرا کولو او فايده اخيستلو کې يوازې د هغو محدوديتونو او قيوداتو تابع دي چې د قانون په وسيله د نورو حقونو او ازاديو د مراعات او پېژندنې په غرض او د بشو اخلاقو د تقاضا او د عمومي نظم او بشګنې د رعايت لپاره يوې ډيموکراتيکې ټولنې په شرايطو کې دننه وضعه شوي دي.

3-دا حقونه او ازادي په هېڅ وخت کې د ملګرو ملتونو د اصولو او مقصدونو پر خلاف نشي اجرا کېدای.

پورته درې مادې د يو مثال په توګه راوړل شوي، ترڅو معلومه شي چې د بشر د حقوقو په رڼا کې حقوق او وجايبو ته کوم مقام ورکړل شوی دی.

سره له دې چې د هر هېواد په اساسي قانون کې د بشر حقوقو او نړيوالو اعلاميو او سندونو ته ځانګړی ځای ورکړل شوی دی او پوره درنښت ورته شوی؛ خو ولې داسې ټولنې شته چې د دې اعلاميو ځانګړي وجايب او حقوق تر پښو لاندې کوي. موږ په دې پوهيږو چې د بشر حقوق د انسانيت او بشريت لپاره کوم معيارونه ټاکلي او د انسانانو د حقوقو او وجايبو لپاره يې چې کومې يادونې کړي دي هغه په پوره ډول د قدر وړ دي؛ خو دا چې نن د نړۍ ډېر با فرهنګه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختللي خلک دا حقوق او معیارونه تر پښو لاندې کوي، دا د ټول بشریت لپاره د شرم ټکی دی.

حقوق او وجایب د مدني او سیاسي کنوانسیون په رڼا کې: د مدني او سیاسي حقوقو کنوانسیون په رڼا کې حقوق او وجایب

د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق د ۱۹۶۶ م کال د دسمبر په ۱۶ نېټه منځته ته راغی، چې موخه یې د نړیوالو اصولو په پام کې نیولو سره د بشر د ذاتي حیثیت او د انساني کورنۍ د ټولو غړیو د اساسي حقونو لکه ازادۍ، روغه جوړه او عدالت یو شان تامین دی.

د دې میثاق د دویمې مادې په دویم بند کې داسې ویل شوي دي: د دغه میثاق هر غړی هېواد تعهد کوي چې:

الف: غړي هېوادونه په دې ډاډمن شي چې د دې کنوانسیون له پېژندل شویو حقونو او ازادیو څخه د هر چا پر خلاف چې سرغړونه شوي وي، د هغې د پوښتنې کولو ډاډمنه وسیله برابره کړي، ولو که دا سرغړونه د داسې خلکو له خوا هم ترسره شوي وي چې هغوی په رسمي مصروفیت کې بوخت وي.

ب: دا باوري کړي چې، صالح عدلي، اداري یا مقننه مقامونه او یا هر بل مقام چې د هغه هېواد د قانون له اصولو سره سم د دې واک ولري چې دغه غوښتونکي حق تر سره کړي او همدارنګه قضایي مقامونو ته د ظلم د بندولو امکانات پراخه کړي.

ج: دا باوري کړي چې مصالحه (صلاحیت لرونکي) مقامونه (د تیریو د رېښوي کړنلارو مخنیوي په سمه توګه وکړي.)

د دې میثاق درېیمه ماده د ښځو او د نرو د مدني او سیاسي حقوقو په اړه داسې څرګندونه کوي (د دغه میثاق غړي هېوادونه تعهد کوي چې د ښځو او سړیو لپاره له مدني او سیاسي حقونو څخه، د کومو په اړه چې په دغه میثاق کې وړاندوینه شوې ده د برابرې ګټې اخیستل تامین کړي.

د دې میثاق د اتمې مادې په درېوو بندونو کې دې میثاق هېوادونو باندې غږ کړی دی چې: هېڅوک د غلام په شکل نه شي ساتل کېدای او د غلام پېرل او پلورل په هر بڼه بند دی. هېڅوک په غلامۍ نشي ساتل کېدای. هېڅوک به په زور سخت کار کولو ته نه هڅول کېږي.

د دې میثاق ۱۱ ماده په بل ځای کې داسې ټینګار کوي (هېڅوک له دې امله چې د قرارداد، لوظ په اجرا کولو بې وسی دی، بندي کېدای نشي.)

شلمه ماده داسې حکم کوي:

۱. د قانون له مخې جنګ لپاره هر ډول تبلیغ منعه دی.

۲. ملي، مذهبي او نژادي کینې او کرکې چې د تېري، دښمنۍ یا زور د عملي کېدو د هڅوني سبب کېږي منعه دي.

پورتنۍ لنډې مادې له دې میثاق څخه رااخیستل شوی دی، چې هر یو د دې میثاق په ټوله نړۍ کې د افرادو له حقوقو څخه کلکه دفاع کړې ده؛ خو له بده مرغه، کله کله دغه خبرې یوازې د کاغذ پر مخ پاتې کېږي او عملي بڼه نه پیدا کوي. د نړۍ سیاسي بحران او سیاسي اړیکې همېشه همداسې استثنات رامنځته کوي چې په ترڅ کې د دولتونو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا د افرادو دغه حقوق تر پښو لاندې کېږي.

حقوق او وجایب د اقتصادي او فرهنګي اجتماعي کنوانسیون په رڼا کې:(د اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي کنوانسیون په رڼا کې حقوق او وجایب)

د اقتصادي، ټولنیزو، کولتوري بین المللي حقونو میثاق د ۱۹۶۶ م کال د ډسمبر په ۱۶ د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې له پرېکړې سره سم اعلام شو. چې هدف یې د ملګرو ملتونو له منشور سره سم د بشر د حقوقو د ازادیو ترویج او په نړیواله سویه درناوی کول دي.

د دې حقیقت په پام کې نیولو سره چې هر وګړی د هغې ټولنې، کوم چې دی په کې اوسېږي، د هغې ټولنې د نورو وګړیو په وړاندې دندې او مکلفیتونه لري چې د دغه میثاق په واسطه پېژندل شوي حقوقو مراعات او په ترویجولو کې زیار وباسي. په دې اړه د دې میثاق درېیمه ماده داسې حکم کوي (د میثاق غړي هېوادونه لوظ کوي چې په دغه میثاق کې له اقتصادي، ټولنیزو او کولتوري ټولو حقوقو څخه د ښځو او سړیو برابره مساوي ګټه اخیستنه به تامینوي. د دې میثاق اتمه ماده داسې حکم کوي: (د میثاق غړي هېوادونه د کار له مساعدو او عادلانه شرطونو څخه ګټه اخیستل چې لاندې مراتب په کې خوندي وي په رسمیت پېژني:

الف: داسې اجوره چې د هر کار کوونکي لپاره تر لږه ضرورتونه تامین کړي:

د انصاف له مخې د مساوي کار په بدل کې د مساوي مزد تر لاسه کول د ارزښت لرونکي مساوي کار لپاره په خاصه توګه که کار کوونکې ښځې وي، نو د کار اجوره یې باید له هغه کاره چې ور څخه استفاده کېږي کمه نه وي.

د دغه میثاق له مقرراتو سره سم دوی او د دوی کورنیو ته د هغې پوره ښېګڼې.

ب: په کار کې سلامتیا او روغتیا ساتنه:

ج: د خدمت کولو په اوږدو کې هر چاته مساوي موقع برابرول چې له هر ډول تبعیض نه پرته د خدمت د مودې او لیاقت په اساس لوړو درجو ته پورته شي.

د: د کار د ساعتونو مناسب محدودیت، فراغت او استراحت، د ورځې رخصتۍ او همدارنګه د رسمي رخصتیو په ورځ معاش لرل.

د بیمې په اړه د دې میثاق نهمه ماده داسې وایي (د دغه میثاق غړي هېوادونه د هرچا د ټولنیز تامین حق چې له هغې جملې څخه یوه هم ټولنیزه بیمه ده په رسمیت پېژني.)

دا میثاق یا (کنوانسیون) په ۳۱ مادو او څلورو برخو کې ترتیب شوې ده، چې ډېر تاکید یې په غړیو هېوادنو کې په اقتصادي، ټولنیزو او کولتوري برخو کې پرمختګ دی. که چېرته غړي هېوادونه په ربښتیني د دې میثاق دا مواد عملي کړي نو زیاتره هغه هېوادونه چې اقتصادي حالت یې خراب دی او یا په کې د بشر حقوق تر پښو لاندې کېږي ډېر بدلون او تغیر رامنځته شي. باید په یاد ولرو چې د بشر حقوق ډېر په هغو ټولنو کې له ګوابښ سره مخامخ دي چېرته چې د بېوزلۍ کچه لوړه وي او همداراز چېرته چې ټولنیز کولتور په داسې معیار کې شتون لري چې هغه په مکمل ډول د بشر له حقوقو سره په مخالفت کې وي.

ریفرنسونه: (ماخذونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. **قوانين اساسي افغانستان**
۲. **حقوق اساسي افغانستان (رهنمود انستيتيوت، ماکس پلانک)**
۳. **مبادي حقوق و عدالت جزايي در افغانستان**
۴. **حقوق اساسي و نهاد های سياسي (داکتر سيد ابوفضل قاضي)**
۵. **مبادی حقوق (استاد اسدالله دانش)**
۶. **د افغانستان د ۱۳۸۲ اساسي قانون**

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم ټوک

د ښځو حقوق

Womans' Rights

نوی سید جمال الدین (افغان) انستټیوت

New Said Jamaluddin "Afghan" Institute

لیکوال: سباوون ((شینواری))
جلال اباد، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم ټوک

لومړی څپرکی

ښځې او د ښځو حقوق

د ښځې پېژندنه:

د نړۍ له پیدایښت څخه تر اوسه پورې ښځو د ټولنې له نیمایي نه زیاته برخه تشکیل کړې ده. په حقیقت کې ښځه د بشري نسل سازګاره ده؛ نو په دې اساس دا ممکنه نه ده چې د ښځې شتون دې په یوې ټولنه کې نا لیدلی وګڼل شي. خو ډېر نارینه پر دې باور دي چې ښځه د عقل او جسماني قوت په برخه کې له نارینه وو سره برابره نه ده او دوی په دې برخه کې کمزورې دي، نو تل یې ور ته د یو کمزوري قوت په حیث نظر کړی دی. خو که په ربښتیا سره موږ د نړۍ ځینې ښځې د مثال په توګه یادې کړو، لکه د انګلستان (ملکه الیزابت) د هالینډ ملکه (مېرمن ییاتریکس) مېرمن اندراګاندي یا پېغله ملالۍ، کله یې چې د زړورتیا او مېړانې بیرغ پورته کړ؛ نو خپل ملت ته یې د الله جل جلاله په مرسته فتحه ور نصیب کړه او په ټولنه کې یې د زړورتیا او مېړانې مثال جوړ کړ.

د تاریخ په اوږدو کې په زرګونو ښځو داسې کارونه او ابتکارات لاسته راوړي دي چې په هېڅ ډول له نارینه وو څخه کمې نه دي او دا یې ثابته کړې ده، چې ښځې د نارینه وو په شان کولای شي په هره برخه کې ښکېلې شي. د یادولو وړ ده چې نن هم ښځې د ژوند په مختلفو برخو کې لکه: طبابت، ساینس، نظامي برخه، په عدلي ارګانونو او داسې نورو برخو کې له نارینه وو څخه کمې نه دي او که اکثراً د ښوونځیو په امتحانونو کې ولیدل شي؛ چې نجونې د هلکانو په نسبت ډېرې نمرې تر لاسه کوي.

ښځې او نجونې په کورني ژوند کې د نارینه وو په نسبت ډېرې پاکې او حساسې وي. که چېرته نجونې له وړکتوب څخه سم فزیکي تربیت ومومي؛ نو ښایي په پېغلتوب کې دوی د هر ډول دروند کار قابلیت ولري. د بېلګې په ډول په چین او جاپان کې عموماً نجونو ته له وړکتوب څخه د تورې وهل او د کراتې لوبه زده کوي، چې په پېغلتوب کې دا نجونې ډېرښه توره وهوونکي او کراته کونکې وي. نن هم په نړۍ کې داسې ښځې شته چې ډېر نارینه یې له ځان څخه شاته پرېښې دي او دا یې په ثبوت رسولې ده چې ښځې په یو ډګر کې هم له نارینه وو څخه کمې نه دي.

انګلاموکل د المان لومړۍ وزیره چې د نړۍ د ټولو ښځو لپاره د خوښۍ ځای دی چې یوه ښځه د یو داسې ستر اقتصادي هېواد مشري کوي چې په اقتصادي حالت د نړۍ دویم هېواد دی. مېرمن موکل د CN 8 صنعتي غونډې مشري هم کړېده او همدا شان د اروپایي ټولنې په پرمختګ کې یې ستر رول لوبولی دی.

میرمن (وئئي) چې د چین رئیس جمهور مرستیاله ده، د چین په اقتصاد کې لوی مثبت رول لري او ښایي د مېرمن وئیي په کوښښ چین د المان پر ځای د نړۍ دویم ستر اقتصادي هېواد شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېسترن یونین په نړۍ کې د پیسو د انتقال تر ټولو لوی شرکت د میرمن (کریستنیاګولډ) په مشرۍ خپل کارونه پر مخ بیایي.

د پیپسي کولا نړیوال شرکت د مېرمن (ایندرا نوئیي) په مشرۍ ډېرې لاسته راوړنې لري (ایندرانوئي) په کال ۲۰۰۵ میلادي کې د کولمبیا په اقتصاد پوهنتون کې د یوې غونډې په ترڅ کې د امریکا د متحده ایالاتو خارجي سیاست په سختو ټکو وغانده.

مېرمن سونیا ګاندي د نړۍ یوه بله پیاوړې او د ستاینې وړ ښځه ده، چې د هند حاکم ګوند یعنی کانګریس مشري پر غاړه لري، مېرمن سونیا ګاندي سره له دومره قدرت او توانه بیا یې هم په خپله خوښه د هند لومړی وزیر ښاغلی من موهن سنګه ټاکلی دی چې په اصلیت کې هدایت او مشري د مېرمن ګاندي په لاس کې ده.

مېرمن شېنمة القاسمي: د قطر د اقتصاد وزیره ده چې د قطر په اقتصادي سیستم کې یې ډېر مثبت بدلون راوستې ده، څه موده وړاندې د یو سفر په ترڅ کې مېرمن القاسمي ته د ایټالیا په هېواد کې د (استلاره) په نوم یوه جایزه ورکړل شوه. همدا راز مېرمن بینظیر بوټو چې د پاکستان غوندې په یوه وروسته پاتې هېواد کې جمهوري ریاست ته ورسېدله. همدا نن د امریکا د بهرنیو چارو وزیره مېرمن هیلري کلنټن د نړۍ یوه صلاحیت لرونکې ښځه ده.

خو مور ویلی شو چې ښځو هم په نړۍ کې د نارینه وو په شان ډېر څه کړي دي او لا یې هم کوي؛ خو له بدمرغه د نړۍ په ډېرو ټولنو کې ښځې اوس هم له ځینو بنسټیزو حقوقو څخه محرومې دي لکه (د لیک لوست حق، د کار حق او داسې نور) ځینې اوس هم داسې فکر کوي چې ښځه بې له دې چې د کور په څلوردېوالۍ کې وساتل شي، یوازې خپل اولاد را لوی کړي، نور نه څه حق لري او نه څه کولای شي. په همدې سبب دا ټولنې نن هم په ډول ډول بدبختیو اخته دي، چې ستر علت یې همدا دی چې د ښځو ونډه په دې ټولنو کې په نشت حسابېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم څپرکی

د اديانو له نظره د بڼځو حقوق

ټول الهي اديان د بشر د ژوند په اړه يعنې هم د نارينه وو او هم د بڼځو د حقوقو په اړه عادلانه او انساني تګلارې ته قايل دي. الله تعالی جل جلاله په مختلفو وختونو کې پيغمبران عليهم السلام اجمعين د دې لپاره را لېږلي دي، چې په ټولنه کې خلکو ته د وروروليۍ، سولې، عدالت او د بڼو اړيکو د ساتلو درس ورکړي؛ خو له بده مرغه د ځينې خود خواه افراد ديني او مذهبي حقوق چې الله جل جلاله انسان ته وربښلي دي، د خپلو ګټو د ساتلو په خاطر له منځه وړي او په هغه ډول چې الله تعالی جل جلاله حکم کړی دی، نه پلي کوي.

په ډېرو مذهبونو او اديانو کې بڼځې ته يو لوړ مقام ورکړل شوی دی، خو هغه مقام او حيثيت چې د اسلام مبارک دين بڼځې ته ورکړی دی، په بل مذهب يا دين کې نه ليدل کېږي.

الف: د زردشت په مذهب کې د بڼځې حقوق:

د زردشتو په مذهب کې بڼځو له نارينه وو سره مساوي حقوق درلودل او زردشتو به ويل (د بڼځې تحقير چې په حقيقت کې يو انساني وجود دی، ډېر بد او ناوړه عمل دی) زردشت د بڼځې او نارينه مساوي حقوق اعلان کړي ول او د زردشت په مذهب کې يو نارينه له يوې بڼځې څخه، د زياتو د نکاح کولو حق نه درلود. د زردشت په مذهب کې طلاق يو ناجايزه عمل ګڼل کېده او که چېرته يوې بڼځې يا نارينه د طلاق غوښتنه کوله نو شرايط به يې ډېر سخت ول او طلاق به چې کومې هغې بڼځې ته ورکول کېده هغې ته به يې (جهيګا) ويله يعنی بدکاره بڼځه، او که چېرته نارينه يا بڼځه لېونۍ وه، نو هغه وخت به د دوی طلاق جايز ګڼل کېده.

ب ـ د هندوانو په مذهب کې د بڼځو حقوق:

د ماشومو نجونو ودول د ډېر وخت راهيسې په هند کې رواج دی. د ميلاد څخه پخوا هندوانو د کورنۍ لپاره ځانګړی قانون درلود چې د هغه قانون په اساس بايد هره نجلۍ مخکې له دې چې د بلوغ سن ته ورسېږي، بايد يوځای والی ورسره اختيار کړي، چې دا قانون تر ۸۰۰ کاله پخوا پورې موجود وو. په دې سبب دوی هڅه کوله چې د نجونو او هلکانو مينه بايد له کوچنيوالي څخه پيل شي او يا دا چې هغه ټولنه يوه طبقاتي ټولنه وه او هر چا به هڅه کوله چې د يوې لوړې طبقې نجلۍ يا هلک پيدا کړي.

دا نجونې به عموماً د اووه کلنۍ يا اته کلنۍ په عمر د خاوند کورته بيول کېدې ددې لپاره چې له همدغه کوچنيوالي څخه له دې کور او کورنۍ سره اشنا شي، خو که چېرته به د دې نجونو خاوندان مړه شول؛ نو دوی حق نه درلود چې له بل چا سره واده وکړي او ټول عمر به دوی د يوې کنيزې په شان د خاوند په کورنۍ کې ژوند کاوه.

له دې نه علاوه داسې نور ناوړه رسمونه چې هندوانو به ورته مذهبي بڼه ورکوله لکه د مېړه له مړي سره سم د هغه د بڼځې ژوندۍ سوځونه يا دا چې د مېړه له مرګ سره سم به يې د بڼځې د سر وېښتان تراشل، هغې ته به يې سپين

(c) ketabton.com: The Digital Library

کالي ورپه غاړه کول او د يو حيوان په حيث يې ورسره سلوک کاوه.

د هند د ټولنې ډېر غلط رسمونه او رواجونه هغه وخت له منځه لاړ کله چې د اسلام مبارک دين هند ته ورسېد، له دې سره ټول هغه غيرانساني اعمال په کلکه بند شول، چې د اسلام مبارک دين له راتللو پخوا به تر سره کېدل. د کوچنيوالي واده په هند کې تر شلمې پېړۍ پورې رواج درلود، اخر دا چې په کال (۱۹۳۰م) کې دا عمل د هند په قانون کې د يو ناوړه او بد عمل په ځېر منعه اعلان شو.

ج – په مسيحيت کې د بښو حقوق:

د معتدلو عيسويانو شعار د بښو او نارينه د حقوقو په اړه مساوي دي، معتدل عيسويان په دې باور دي چې کوم حقوق نارينه لري، له هغې څخه بښه هم په مساوي توګه ګټه اخيستی شي؛ خو د دوی په مقابل کې دوه ډلې نورې وجود لري، چې د هغو له جملې څخه يوه ډله وايي چې د بښو حقوق له نارينه وو څخه زيات دي او بله ډله په دې عقېده دي چې د نارينه وو حقوق د بښو پر حقوقو باندې زيات دي. يعنی د عيسويانو دا هره ډله ځانته نظرونه لري او په يوه مشترک نظر سره موافق نه دي.

دا چې د عيسويت ټول کتابونه په جلا جلا وخت کې ليکل شوي دي او د عيسويانو خپل منځي مذهبي اختلافات هم زيات دي؛ نو په همدې اثارو کې چې له حقيقت څخه لرې دي، د بښو حقوق هم تلف شوي دي.

په منځنيو پېړيو کې په ټوله اروپا کې د هغه عيسويت په چوکاټ کې چې اشرافو په خپل لاس جوړ کړي وو او خپلې شخصې ګټې يې په کې وې، د بښو حقوق يې په مکمل ډول تر پښو لاندې کړي وو. عيسويان بښو ته د هېڅ ډول ارزښت قايل نه وو، مثلاً کله چې به د يوې بښې زوی پيدا شو، هغه به يوه اوونۍ نجسه ګڼل کېده او که چېرته به يې لور پيدا شوه هغه به دوه اوونۍ نجسه ګڼل کېده او هر راز اړيکه ورسره ناروا وه. په کال ۵۷۶ م کې په فرانسه کې يوه ټولنه تشکيل شوه او د بښو په رابطه يې بحثونه کول چې ايا بښه انسان دی او که بل څه شی؟ چې په اخر کې دا ټولنه په دې سره موافقې ته ورسېدل چې بښه انسان دی؛ خو د نارينه د خدمت لپاره پيدا شوې ده او بس.

دا چې نن په نړۍ کې عيسوي مذهبه خلکو پرمختګ کړی او ځان ته د بښو د حقوقو مدافعين وايي نن هم د بښو حقوق تر پښو لاندې کوي. رښتينی عيسويت هېڅکله هم د بښې حق له منځه نه دی بيولی خو په لاس جوړ شوي عيسويت د بښو ډېر حقوق تر پښو لاندې کړي دي. نن که عيسويان وايي چې مسلمانان بښو ته حقوق نه ورکوي، دا درسته خبره نه ده، او د هغه يو ثبوت دا دی چې الله تعالی جل جلاله په قران عظيم الشان کې د بي بي مريمې په نامه باندې يو مکمل سورت (مريم) نازل کړی دی.

د – په يهوديت کې د بښو حقوق:

د يهودو د نوم په اړه مختلفې نظريې مو جودې دي او په دې اړه مشهور نظر دا دی چې (يهود) يو عبراني کليمه ده چې (هدايت شوي) ته وايي. يهود د عربو په ځېر خواص لري، په ابتدا کې دوی د کوچيانو په ځېر خلک ول چې په دښتو او رغو کې به يې ژوند کاوه او اهلي حيوانات به يې ډېر ساتل.

په لومړنيو پېړيو کې د يهودو ټولنه بښو رهبري کوله يعنی بښې به يې د قبيلې مشراني وې، پر اولاد باندې به يې د نوم اېښودلو حق بښو ته ورکاوه. بښه به چې واده شوه نو خپل پلار کره به وه او خاوند به يې په موقتي ډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بښنې لېدلو لپاره تللو او حق يې درلوده چې له خپلې بښنې سره ژوند وکړي. د پردې کولو حق په بښنو پورې اړوند وو. له يو څه وخت تېرېدو وروسته په دې قوم کې چې د بښنو مشري په مزه مزه له منځه تلله؛ نو د بښنو قدرت هم محدود شو او ټول اختيارات د سړيو لاس ته ولوېدل، حتی د يهودو په قوم کې داسې يو حالت هم راغی چې پلار ته دا حق حاصل وو تر څو خپل اولاد اعدام يا خرڅ کړي.

په يهوديت کې (د يهوه) فرمان بښنې لپاره دا دی (سترګې دې باېد خپل خاوند ته وي او هغه بايد پر تا حکومت وکړي.)

د يهودو متعقدينو تر ډېره وخته بښنه له بدبختۍ او مصيبت نه ډکه ګڼله او کله به چې د يهودو نارينه وو لمونځ کاوه؛ نو ويل به يې (خدايه! ستا ډېر شکر کوونکي يوو، چې مور دې کافر او بښنې نه يو پيدا کړي. د يهودو په قوم کې پيغمبري په نارينه وو پورې منحصره نه وه؛ بلکې په بښنو کې هم پېغمبران وجود درلود، لکه د حضرت ابراهيم عليه السلام بښنې بي بي ساره (رضی الله) تعالی عنها به هم د ابرهيم عليه السلام په شان بښنو ته تبليغ کاوه.

همدا شان بي بي مريم د عيسی عليه السلام مور هم خلکو ته تبليغ کړی دی. دبوره بله بښنه وه، چې د قضاوت دنده يې هم تر سره کړی دی او د اسريل د مور په نوم يادېږي، د سمويل يا همون شموئل مور چې نوم يې ځناوره وه، د يهودو يوه مشهوره بښنه وه او ګائيل د داود عليه السلام بښنه چې په جنګ کې له حضرت داود عليه السلام سره يوځای وه. حلده د شاتوم بښنه د يو شاه په زمانه کې د يهودو پيغمبره وه. استر د خشايا د شاه ملکه او د ابيجال لور يوه بښکلې پېغله چې په پادچاهۍ کې يې ډېر نفوذ درلود.

د يهودو مذهبي مشرانو پر جزايي احکامو باندې سخت تاکيد کاوه. د يهودو ملايانو چې په خپله يې په راحت سره ژوند کاوه؛ خو جزايي احکام يې ډېر سخت ول، لکه د بدکارې بښنې او بدکار سړي سنګسار او داسې نور، په دوی کې چا که بښنه يا کنيزه وتښتوله هغه به د نوموړي سړي بښنه ګڼل کېده. يهودو به د نجونو پر سر پيسې اخيستې او د لور په ورکولو به د پلار رضايت شرط وو.

ه –په بودايي مذهب کې د بښنو حقوق:

پخوانی يونان چې په هغه وخت يو ډېره حقوقي، قانوني او متمدنه ټولنه وه او د ډيموکراسۍ او ازادۍ سمبول ګڼل کېده؛ خو يونانيان هم بښنې ته د يو بې ارزښته موجود په ځېر قايل ول. کله چې بودا د تبليغ په کار پيل وکړ؛ نو د بښنو په اړه يې سکوت اختيار کړ او د يوې اوږدې مودې تر تېرېدو وروسته يې تصميم ونيو چې بښنو ته هم دعوت ورکړي.

و – په اسلام کې د بښنو حقوق:

د اسلام مبارک دين څوارلس سوه کاله پخوا نازل شوی دی. د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم لومړنی هدف دا و تر څو بښنو ته د هغوی انساني حقوق ورکړي چې دې سره حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د بښنو مړې شوې هيلې راژوندۍ کړي. حضرت محمد صلی الله عليه وسلم به د نارينه وو په ځېر بښنو ته هم يو شان دعوت ورکاوه او بښنې به هم د ده مبارک تر څنګ ولاړې وې، چې دې سره د بښنو د حقوقو په تاريخ کې يو نوی باب خلاص شو. د اسلام له مبارک دين څخه پخوا به عربو خپلې لونې ژوندۍ خښولې. خو کله چې حضرت محمد صلی الله عليه دوی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی حقوق ورپه ګوته کړل نو په لږه موده کې ډېرې بښنې له ایمان، عقیدې او علم څخه برخمنې شوې لکه: حضرت بي بي خديجة الكبرى، بي بي ام سلمة، بي بي عايشه، بي بي فاطمة الزهرا، بي بي زينب، بي بي سوده، بي بي صفيه او بي بي حبيبه رض الله تعالى عنهما. د بښنو په اړه په قران پاک کې ډېر رحم شوی او د بښنو د حقوقو په اړه ډېر تاکید شوی دی.

د اسلام مبارک دین مونږ ته درس راکوي چې دا حقوق دالله تعالی له طرفه بښنو او نارینه و ته ورکړل شویدي نه دشخص له طرفه. که چېرته څوک دا حقوق تر پښو لاندې کړي نو هغه د اسلامي اصولو نه خلاف ورزي او د الله تعالی جل جلاله نافرماني يې وکړله. د اسلام مبارک دین په لاندې ډول د بښنو حقوق معرفي کوي:

۱. بښنه واقعي یو انسان دی چې د یوې جفتې جوړې بښنې او نر څخه پیدا شوې، انساني خصوصیت لري او د انسانیت په مفهوم کې نارینه پر بښنه هېڅ راز امتیاز نه لري.

۲. بښنه د نارینه په څېر د ټولنې د حقوقو کامل شخصیت لرونکې ده.

۳. لور هم د زوی په څېر اولاد دی، د دوی په منځ کې هېڅ نوعه فرق نه شته. لور د خدای تعالی جل جلاله رحمت دی او زوی د خدای تعالی جل جلاله برکت.

۴. بښنه د فکر د ازادۍ پوره حق لري، کولای شي چې د شریعت په چوکاټ کې په خوښه نکاح وکړي، زده کړه وکړي او کار وکړي.

۵. د ټولنې هر راز شرعي او قانوني حکم د نارینه وو په څېر په مساوي توګه په بښنه هم د تطبیق وړ دی. بښنه د یو دیني او مانوي شخصیت لرونکې ده او له اخروي سعادت څخه محرومه نه ګڼل کېږي.

دا احکام د بښنو په اړه د اسلام مبارک دین په هغه وخت کې تطبیق کړي چې په نوره نړۍ کې خلکو بښنې ته د انسان حیثیت نه ورکاوه او په دې عقیده ول، چې بښنه یوازې د تولید او د نارینه وو د شهوت له پاره پیدا شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېیم څپرکی

د بښنو د حقوقو په اړه نړیوالې ژمنې

۱ ـ د بښنو پر وړاندې د ټولو توپیرونو له منځه وړلو تړون:

د بښنو پر وړاندې د ټولو توپیرونو له منځه وړلو تړون د ډسمبر په ۱۸نېټه په ۱۹۷۹م کال کې د ملګرو ملتونو سازمان په عمومي غونډه کې منځته راغی. د دې تړون پر اساس غړیو هېوادونو پرېکړه وکړه او دې ته ژمن شول چې بښنې او نارینه د خپلو بنسټیزو، ټولنیزو، فرهنګي، مدني او سیاسي حقوقو څخه برخمن شي. په دې زیاتونې سره، چې د بښنو پر وړاندې توپیر نه ډک عملونه د بشري حقوقو برابرۍ او د بشر شخصیت ته نه درناوی دی. د دې تشویش په یادولو سره چې د بښنې د فقر او لوږې په شرایطو کې څه نا څه د زده کړې، خوراکي موادو تر لاسه کولو او د کار موندلو په وسیله کموالی راشي. غړیو هېوادونو دا یادونه وکړه، چې د هېوادونو بشپړ پرمختګ، د سولې ټینګښت او د نړیوالو هوساینه، په مساوي شرایطو کې له نارینه وو سره یو ځای په ټولو چارو کې د بښنو ګډون ضروري دي.

د بښنو پر وړاندې د ټولو توپیرونو د له منځه وړلو تړون په دېرشو مفصلو مادو کې خپور شوی دی. دا به دلته ګرانه وي چې ټولې مادې یادې شي خو په لنډ ډول به یې له اساسي ټکیو یادونه وکړو.

د بښنو پر وړاندې د هر ډول توپیر او تبعیض د له منځه وړلو په هکله:

- غړي هېوادونه باید د بښنو په اړه د هر ډول توپیر پر وړاندې روښانه سیاستونه تر لاس لاندې ونیسي.
- غړي هېوادونه د بښنو او نارینه وو حقوق باید په مساوي توګه په خپلو اساسي قوانینو کې ځای پر کړي.
- د بښنو پر وړاندې د توپیر د مخنیوي لپاره د ځانګړیو قانوني تدبیرونو نیول او ان د بندیزونو لګول.
- د ټولو ملي واک لرونکو مراجعو له لارې له نارینه وو سره په برابرو شرایطو کې د بښنو له حقوقو څخه ننګه او ملاتړ.
- د بښنو پر وړاندې د توپیر د کارونې د مخنیوي او ډاډ ترلاسه کولو په اړه د غړیو هېوادونو ژمنه.
- د بښنو پر وړاندې د توپیر کارونې د مخنیوي په اړه د نویو قوانینو وضع او یا د موجودو مقرراتو او قوانینو چې د بښنو پر وړاندې تبعیض ته اجازه ورکوي، اصلاح او یا د باطلولو د تدبیرونو نیول.
- د هغو قوانینو له منځه وړل چې د بښنو پر وړاندې توپیر په کې ځای په ځای دي.
- د بښنو د پرمختګ د تامین لپاره د قوانینو په جوړولو سره په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې د دوی د شرایطو برابروالی.
- د ځانګړیو تدبیرونو نیول، دا د بښنو له حقوقو څخه ملاتړ باید تبعیض یا توپیر ونه ګڼل شي.
- د میندو د ملاتړ لپاره د غړیو هېوادونو له خوا د ځانګړو تدبیرونو نیول کوم توپیر یا تبعیض نه دی.
- د بښنو په پرتله باید د نارینه وو د لوړوالي د انګېرنو بڼې اصلاح شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ماشومانو د روزنې او تربيې لپاره د بشځو او نارينه وو ګډ مسئوليت.
- له بشځو نه د ناوړه ګټې اخيستنې د مخنيوي لپاره د قوانينو وضع کول.
- بشځو ته په انتخاباتو کې د ټاکلو او ټاکل کېدلو حق ورکول.
- په نادولتي سازمانونو کې د ګډون حق ورکول.
- په نړيواله کچه د فعاليت او رول لوبولو لپاره بشځو ته د برابرۍ حق ورکول.
- له يو بهرني وګړي سره د واده کولو په ترڅ کې د خپل مليت د ساتلو لپاره بشځو ته د برابرۍ حق ورکول.
- د شغل او زده کړې په برخه کې بشځو ته هم له نارينه وو سره د برابرو شرايطو تامينول.
- د کار له وسايلو او تجهيزاتو سره د بشووني په برخه کې له نارينه وو سره د برابر حق ورکول.
- د درسي کتابونو د اصلاح کولو لپاره هڅې، د ګډو زده کړو هڅونه او درسي کتابونو او ميتودو ته بيا کتنه.
- بشځې حق لري چې په تفريحي، فرهنګي او ورزشي برخو کې ګډون وکړي.
- غړي دولتونه بايد د کليوالو بشځو ستونزو ته توجه وکړي.
- لازم اجرات بايد ترسره شي تر څو کليوالې بشځې بې له کوم توپير څخه د کليو د ودانولو په برخه کې فعال ګډون وکړي.
- بشځې بايد د ټولو رسمي او نارسمي لوستنو او زده کړو حق ولري.
- د تعاوون ډله (ګروپ) د جوړولو حق او هم په دولتي او ازادو برخو کې د دوی فعال ګډون.
- بشځو ته دې په ټولو مدني برخو کې لکه د نارينه وو په شان مساوي حق د قانون له مخې ورکړل شي.
- غړي هېوادونه بايد په مطلق ډول هغه څه چې د بشځو د حق په برخه کې ځنډ پيدا کوي لغوه او ناقانوني اعلان کړي.
- بشځې حق لري چې د نارينه په شان د ژوند لپاره په ازاد ډول د خوښې ځايونه وټاکي.
- د بشځو په برخه کې د هر ډول توپير له منځه وړل، خصوصاً د واده په برخه کې داسې اجرات وشي چې د بشځې حق د نر په شان خوندي پاتې شي.
- مور او پلار ته د اولاد په برخه کې يو شان حق ورکول.
- داسې اجرات بايد ترسره شي چې د هغې په وسيله د کار او شغل په برخه کې د بشځو په هکله توپير له منځه يوړل شي.
- د شغل په ټاکلو کې د يو شان ډسپلين د رعايت حق.
- بشځې حق لري چې د ورته کارونو په کولو سره له نارينه وو سره مساوي يا يو شان اجوره تر لاسه کړي.
- بشځې حق لري چې د ناروغۍ، بېکارۍ او د عمر په اخر کې له بيمې څخه ګټه تر لاسه کړي.
- هېڅوک يا هېڅ موسسه دا حق نه لري چې بشځې د اولاد راوړلو په سبب له کار څخه بې کاره کړي.
- دولت بايد يو داسې پروګرام جوړ کړي چې د هغه له مخې مينديې کار کولو ته تشويق کړي، چې په دې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی وکولای شي خپل ټولنیز مسوولیت وپېژني.

- بشځې باید داسې کارونو ته ونه ګومارل شي چې هغه د دوی سلامتي او روغتیا ته ضرر رسوي.
- هغه قوانین چې د بشځو له حقوقو څخه دفاع کوي باید د زمانې له پرمختګ سره نور هم پرمختللي او مترقي شي.
- باید ضروري اجرات تر سره شي تر څو د بشځو د سلامتیا په هکله توپیرونه له منځه ولاړ شي او د دوی سلامتي وساتل شي.
- بشځې حق لري چې د اولادونو د راوړلو په هکله ازاد تصمیم ونیسي، چې څومره اولادونه ولري او د اولادونو د زېږېدلو تر منځ موده موجوده وي.
- بشځې د نارینه وو په شان حق لري چې د اولادونو سرپرستي وکړي او د اولادونو ګټو ته د لومړیتوب حق ورکول د مور او پلار صلاحیت دی.
- بشځې ته د نارینه وو په شان له واده څخه وروسته د خپلې کورنۍ نوم ساتلو حق لري.
- د کوچنیانو واده کول باید منعه کړای شي د واده لپاره باید قانوني سن وټاکل شي.

پورته مواد په لنډ دول (د بشځو پر وړاندې د ټولو توپیرونو له منځه وړلو ټرون) څخه را ایستل شوي دي، چې دا مواد د غړیو هېوادونو د پرېکړې پر اساس منځته راغلي دي.

۲ - د بشځو د نړیوالې ورځې(د مارچ اتمې)حیثیت:

په (۱۸۵۷م) کال د نیویارک د بنار د نساجي فابریکې بشځو ته د خپل انساني کرامت او انساني حقوقو د لاسته راوړلو لپاره په لاریونونو او تظاهراتو لاس پورې کړ، چې د دوی دا هڅه او قرباني به هېڅکله د نړۍ بشځې له یاده ونه باسي. دې کار د نړۍ بشځو کې یو نوی روح را بیدار کړ، په حقیقت کې دا ورځ د بشځو پر وړاندې د ظلم، استبداد، استثمار او نژادي تبعیض پر خلاف د مبارزې د پیل ورځ وه.

په کال (۱۹۰۸ م) یعني پوره ۵۱ کاله پس د نیویارک د کتان نساجي فابریکې بشځو یو ځلې بیا د خپلو انساني حقوقو او په ټولنه کې د بشځو پر وړاندې د ظلم پر خلاف غږ پورته کړ او یو ځلې بیا یې په لاریونونو او تظاهراتو لاس پورې کړ، چې په دې دوران کې دغو بشځو ته درنه مرګ ژوبله هم ور په برخه شوه او ۱۳۰ بشځو په کې خپل ژوند له لاسه ور کړ، دا بشځې عملاً د فابریکې د مالکینو له خوا په فابریکه کې وسوځول شوې، د دې سوځولو او وژلو عمده سبب دا و، چې په ټوله نړۍ کې د بشځو غږ پورته نه شي او بشځه همېشه د ظلم او تېریو لاندې ونیول شي؛ خو د نیویارک په بنار کې د یوې فابریکې بشځو کار کوونکو داسې قرباني ورکړه چې ټول عمر به یې د نړۍ انسانان په یاد ساتي.

په کال (۱۹۱۰م) کې د نړۍ بشځو دا دردناکه واقعه هېره نه کړه او د دوی جرئت او زړورتوب ته یې نوره هم وده ورکړه چې په همدې سبب د نړۍ له ولسونو هېوادونو څخه له سلو نه زیاتې بشځې د دوی د حقوقو لپاره په ډنمارک کې سره را غونډې شوې او د بشځو د انساني حقوقو ساتنې لپاره یې یو پرېکړه لیک صادر کړ.

په کال (۱۹۱۱) کې د اول ځل لپاره د نړۍ مبارزو بشځو په امریکا او اروپا کې د مارچ اتمه نېټه د بشځو نړیواله ورځ په داسې حالاتو کې ونمانځله، چې په میلونونو بشځو او نارینه وو په کې برخه درلوده. د دې لپاره چې د بشځې انساني حقوق لکه، په ټاکنو کې د بشځو برخه، بشځو ته په سمه توګه د هغوی د کار پیسې ورکول، د کار وخت ۸ ساعته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بڼځې د ناروغتیا (لنګوال) په وخت کې هغوی ته بامعاشه رخصتي ورکول او داسې نورو ستونزو د حل لپاره دا یو ټاکل شوې ورځ وه او د مارچ اتمه نېټه یې د بڼځو نړیواله ورځ ونمانځله.

په کال (۱۹۷۵م) کې نړۍ دې ته غاړه کېښوده، چې د مارچ اتمه نېټه د بڼځو د نړیوالې ورځ په مناسبت په رسمیت وپېژني او د نیویارک د نساجي فابریکې پېښه هېڅکله له یاده ونه باسي.

په کال ۲۰۰۰م کې د ملګرو ملتونو له خوا د میلونیم ژمنلیک تصویب شو، چې د دې معاهدې اصلي هدف د بڼځو او د نارینه وو برابر حقوق په هره برخه کې دي او د بڼځې پر خلاف د هر راز تاوتریخوالي منعه اعلان شوې ده.

۳ - د بشري حقوقو د اعلامیې په چوکاټ کې د بڼځو حقوق:

د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه چې د دسمبر په ۱۰ په ۱۹۴۸ کال کې د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي غونډې په ترڅ کې منځته راغله چې موخه یې د نړۍ ټولو خلکو او ملتونو ته دا پیغام دی چې ټول خلک د بڼووني او روزنې له لارې دغو حقوقو او ازادیو ته درناوی، پراختیا او وده ورکړي.

د بشري حقوقو په اعلامیه کې د بڼځو حقوق څرګند دي، د دې اعلامیې ټول مواد د ټولو افرادو لپاره یو شان دي، یعنې د دې اعلامیه حقوق او وجایب د نارینه او بڼځو لپاره یو شان دي. د بشر د حقوقو د اعلامې د اولې مادې د حکم په اساس (ټول انسانان ازاد نړۍ ته رائې او د حقوقو له پلوه سره برابر دې .....) همداسې د دې اعلامیې پنځلسمه ماده ټولو انسانانو ته د تابیعت حق ورکوي. یعنی بڼځې او نارینه دواړو ته،

د بشر د حقوقو د اعلامیه د شپاړسمې مادې په اساس هر بالغ نارینه او بڼځینه کولی شي چې له هیڅ ډول محدودیت لکه (ملیت او دین) نه پرته د یو بل سره واده وکړي او کورنۍ جوړه کړي، او هم دواړه بڼځه او نارینه د واده په کولو او فسخ کولو کې مساوي حق لري. او واده باید د دواړو په بشپړ رضایت او خوښۍ سره ترسره شي.

د اعلامیې نو لسمه ماده ټولو افرادو ته د بیان او عقیدې د ازادي حق ورکوي، چې دا حق د نارینه او د بڼځو تر منځ مساوی دي، یعنې بڼځې ته یې پوره حق ورکړي تر څو خپل نظر او عقیده بیان کړي.

د بشري حقوقو اعلامیې د اوولسمې مادې د حکم پر اساس هر وګړی د ځانګړي یا ګډ ملکیت درلودلو حق لري او هېڅوک د ملکیت د لرلو له حق څخه نه شي محرومېدای. د دې مادې تفسیر بڼځو ته د ملکیت د لرلو حق ورکوي.

د دې اعلامیې دوریشتمه ماده ټولو افرادو ته د کار او ټولنو د جوړولو حق ورکوي، باید د بڼځو او نارینه وو ترمنځ هېڅ ډول تبعیض موجود نه وي، بڼځه او نارینه بې له کوم تبعیضه د مساوي اجورې حق لري.

سره له دې چې د بشري حقوقو د اعلامیې ډېر مواد د افغانستان په څېر یو اسلامي هېواد ته د منلو وړ نه دي، خو دا هم باید له پامه ونه غورځول شي چې دا یوه نړیواله اعلامیه ده او په ځانګړي ډول د یوې ټولنې یا مذهب په رڼا کې نه ده ترتیب شوې، خو د انساني اړیکو په بڼه د دې اعلامیې احترام د نړۍ پر ټولو افرادو باندې لازم دي که هغه له هر ملیت او مذهب څخه هم وي او دا درس موږ ته د اسلام مبارک دین هم راکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی

د افغانستان قوانین او د بښځو حقوق

۱ –د افغانستان د قوانینو په چوکاټ کې د بښځې حقوق:

د افغانستان اساسي قوانین چې له تاریخي لحاظه ډېره اوږده سابقه نه لري او مدون اساسي قوانین د شلمې پېړۍ په پیل کې منځته راغلل، سره له دې چې په هغه وخت کې دا قوانین دومره پرمختللي هم نه وو، او دا قوانین په شاهي نظامونو کې تصویب شوي وو او د بښځو لپاره په کې ځانګړي حقوق نه ول ترتیب شوي. د ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون چې د محمد ظاهر شاه په وخت کې منځته راغلی دی، د ټېرو قوانینو په نسبت ډېر پرمختللی قانون دی، خو په دې اساسي قانون کې هم د بښځو په هکله څه ځانګړي مواد نشته، د ۱۳۴۳ل اساسي قانون درېیم فصل چې د خلکو اساسي حقوقو او وظیفې په نوم یاد شوی په عمومي ډول د افرادو د حقوقو ملاتړ کوي.

د (۱۳۵۵ل کال) اساسي قانون چې د سردار محمد داود خان په وخت کې تصویب شوی وو او اوه ویشتمه ماده یې داسې حکم کوي: (د افغانستان ټول وګړي بښځې وي او که نر بې له تبعیض او امتیاز د قانون پر وړاندې یو شان حقونه او وجیبې لري) د دې مادې تعبیر مورږ ته دا را په ګوته کوي چې نارینه او بښځینه افراد یو ډول حقوق او وجایب لري، خو په پورته قانون کې هم داسې ځانګړي مواد نشته، چې په اساس یې د بښځو حقوق په پوره ډول تضمین شوی وي.

د (۱۳۵۹ل کال) اساسي قانون چې د ببرک کارمل په وخت کې د انقلابي شورا له خوا را منځته شو او یو داسې اساسي قانون وو، چې قدرت یې یو ځانګړی مرجع ته ښبلی وو، چې هغه مرجع انقلابي شورا وه. په دې قانون کې چون هر څه په همدې انقلابي شورا پورې مربوط وو، نو د بښځو حقوق هم په همدې انقلابي شورا پورې تړلي وه او بښځو هغه وخت او په هغه صورت کې چې د نوموړې شورا اطاعت وکړي، په مرموز ډول لاسته راوړلی شول.

د ۱۳۶۶ اساسي قانون د ډاکتر نجیب الله د وخت اساسي قانون وو، چې تر یو حده اصلاح شوی قانون وو او نه یوازې د بښځو په اړه یې یادونه کړې بلکې د ټولو افرادو یقین د تر لاسه کولو لپاره یې هڅه کړې وه، د دې قانون ۳۸ ماده حکم کوي (د افغانستان د جمهوریت اتباع بښځه وي که نر د ملیت، نژاد، ژبې، قبیلې، دین، مذهب، سیاسي عقیدې، زده کړې، شغل، نسب، ټولنیز دریځ، د اوسېدو او اقامت د ځای له تعلقاتو پرته د قانون پر وړاندې برابر حقوق او مکلفیتونه لري.) همداسې د دې قانون ۴۸ ماده ټولو اتباعو ته د انتخابېدلو او انتخابولو حق ورکوي. په دې اساسي قانون کې د ټېرو قوانینو په پرتله ډېر بدلونونه راغلي وو؛ خو له بده مرغه په دغه وخت کې کورنیو جګړو د هېواد وضعیت دومره ویجاړ کړی وو، چې د دې قانون د پلي کېدو په برخه کې ټول هېواد کې ډېرې ستونزې درلودې.

د سپتمبر د۱۱پېښې څخه وروسته کله چې د بُن پرېکړه ترسره شوه او په افغانستان کې انتقالي حکومت منځته راغې، له دې سره سم د افغانستان نوی اساسي قانون په (۱۳۸۲ ل کال) کې تصویب شو، چې له دې سره سم د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړي هيلې راژوندۍ شوې، په ټبره بيا ښځې چې د نارينه وو په پرتله يې ډېرې ستونزې ګاللي دي او لا تر اوسه هم ډېرې ستونزې لري، ډېر هيله مندي شوې ده.

خو د ۱۳۸۲ل کال اساسي قانون هم د ښځو د حقوقو په اړه داسې کوم نوی ځانګړی بدلون منځته را نه وړ. په دې اساسي قانون کې هم د ټبرو قوانينو په څېر د ټولو افرادو د تابعيت حق، د قانون پر وړاندې د ښځو او نرو مساوي حقوق او وجايب، د انتخابېدو او انتخابولو حق ذکر شوی دی. يوازې د ۴۴ مادې لومړی بند وايي (دولت مکلف دی د ښځو د زده کړې د پراختيا او توازن د ايجاد په منظور اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبيق کړي) له نوي رژيم څخه خلکو ډېرې هيلې او اميدونه درلودل او په ټبره بيا ښځو خو له بده مرغه د ښځو ستونزې په افغانستان کې يوه ورځ تر بلې زياتېږي.

۲ ـ د افغانستان په اساسي قانون کې:

له دې حقيقت څخه انکار نشي کېدای چې افغانستان کې سياسي او حقوقي بنسټونه تر حده زيات ضعيف دي، چې لوی عامل يې کورنۍ جګړې او اقتصادي ستونزې دي. د دې عواملو په ترڅ کې همېشه د خلکو حقوق له منځه تللي، چې لويه برخه يې د ښځو حقوق دي. ښځه د ټولنې په پرمختګ کې لويه ونډه لري او بې د ښځې د ونډې يوه ټولنه نشي کولای چې سالم پرمختګ وکړي. د نړۍ هغه هېوادونه چې د هر اړخيزه پرمختګ په ډګر کې دي، ډېره هڅه کوي چې تر څو د اساسي قانون له لارې د ټولنو په پرمختګ کې د ښځو ونډه زياته کړي. افغانستان چې د ډيموکراسۍ له پلوه يو ځوان هېواد دی او د دې نه علاوه د دې ټولنې کولتوري او مذهبي اصول هم دا اجازه نه ورکوي؛ تر څو د نورو هېوادونو په څېر دوی هم ښځو ته ټول حقوق ورکړي. د افغانستان د ۱۳۸۲ ل کال اساسي قانون کې د ښځو بنسټيزو حقوقو ته ډېر پام شوی دی او هغه حقوق او وجايب چې نارينه وو ته ورکړل شوي دي، لکه د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجايب، د تابيعت د ورکولو حق، د صحت حق، د زده کړې حق، د بيان د ازادۍ حق، د انتخابېدو او انتخابولو حق، ښځو ته هم ورکړل شوي دي؛ خو لکه چې موږ تر مخه يادونه وکړه په دې هېواد کې د ښځو حالت د نرو په پرتله ډېر خراب دی، نو په دې قانون کې هم د ښځو لپاره داسې ځانګړي مواد نشته چې د ښځو په ژوند کې په عملي ډول بدلون راولي، ولې يوازې د دې قانون په ۴۴ ماده په اول بند کې په زده کړه ټينګار شوې ده او د ۵۴ مادې په دويم بند کې د مور او ماشوم د صحت په اړه ټينګار کړی دی.

۳ - د افغانستان په مدني قانون کې:

د افغانستان په مدني قانون کې د ښځو د ژوند د حقوقو په اړه مفصل مواد خپاره شوي دي، چې دا مواد د دې قانون له شپېتمې مادې څخه تر دوه سوه شپاړسمې مادې پورې ځای پر ځای شوي دي، چې په لنډ ډول يې موږ دلته را اخلو.

ازدواج يو شرعي عقد دی، د فاميل د تشکيلولو په مقصد د ښځې او سړي تر منځ، چې د دواړو خواوو حقوق او وجايب تنظيموي. دا عقد په رسمي نکاحنامه کې د مربوطې اداري په وسيله په دري نقلو کې، چې دوه نقله يې دواړو طرفينو ته او بل يې په مربوطه اداره کې ثبتېږي، توزيع کېږي. کوژده له هغې ښځې سره جواز لري چې د بل چا په نکاح او عدت کې نه وي. که د ازدواج په عقد کې داسې کوم شرط چې د قانون او ازدواج له هدفونو څخه مخالف وي، عقد صحيح او شرط باطل ګڼل کېږي. د ۷۱ مادي په دويم بند کې د صغيرې (نابالغه) نجلۍ نکاح عقد چې عمر يې له ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونو څخه کم وي په هیڅ صورت جواز نه لري.

که عاقله او رشیده بې د ولي له موافقې څخه ازدواج وکړي، د نکاح عقد نافذ او لازم دی. ښځه کولای شي چې د ازدواج د عقد په وخت کې دا شرط کېږدي چې که مېړه د دې قانون د ۸۶ مادې د درج شویو حکمونو په خلاف له بلې ښځې سره ازدواج وکړي، د طلاق واک به هغې زړې ښځې ته نقلېږي، خو دا شرط هغه وخت اعتبار لري چې د نکاح په وثیقه کې درج شوی وي.

ښځه د مسمیٰ مهر مستحقه ګڼل کېږي که مهر د عقد په وخت کې نه وي ټاکل شوی او یا منل شوی نه وي، نو مهر مثل لازمېږي. مهر د ښځې ملکیت دی، ښځه کولای شي په خپل مهر کې هر نوعه تصرف وکړي. پلار نه شي کولای چې د لور ټول یا یوه حصه مهر هبه کړي.

مېړه به له خپل مالي قدرت سره سم د خپلې ښځې لپاره د اوسېدلو مناسب ځای برابروي. که یو سړی له یوې څخه زیاتې ښځې ولري، نه شي کولای چې د هغوی د رضا نه غېر د اوسېدلو په یوه ځای کې هغوی اوسېدو ته مجبورې کړي. د ښځې نفقه مشتمله ده په خوراک، لباس، د اوسېدلو په ځای خو ښځې په لاندنیو حالاتو کې د نفقې حق نه لري.

۱. که ښځه بې د مېړه له اجازې څخه یا د جایزو مقصدونو نه به غیر د اوسېدلو له ځای څخه ووځي.

۲. که ښځه د زوجیت په امورو کې اطاعت ونه لري.

۳. که د مېړه کورته د ښځې د نقلولو مانع موجود وي.

د افغانستان په مدني قانون کې د طلاق په اړه لاندې څرګندونې شوي دي.

طلاقه شوې له طلاق نېټې څخه تر د عدت پای ته رسېدو پورې د نفقې حق لري.

طلاق عبارت دی د صحیح زوجیت د رابطې له منحل کولو څخه په حال یا راتلونکي وخت کې د مېړه او ښځې تر منځ، په داسې الفاظو سره چې په صریحه توګه ور څخه طلاق افاده شي. د دې قانون له حکمونو سره سم طلاق د مېړه له خوا او یا د صلاحیت لرونکي محکمې له خوا د ښځې په غوښتنه صادرېږي. طلاق یوازې په هغه ښځه واقع کېږي چې په صحیح نکاح یا د رجعي طلاقونو په عدت کې وي. د نېشې په وخت کې طلاق نه واقع کېږي.

خلع عبارت ده د ازدواج له عقد منحلولو څخه د هغه مال په بدل کې چې ښځې یې مېړه ته ورکوي. خلع په صریح لفظ یا بل هر لفظ چې د خلع مفهوم افاده کړي صورت نیسي.

ښځه هغه وخت کولی شي چې د جداوالي غوښتنه وکړي، چې مېړه یې په داسې مرض اخته وي چې بېرته جوړېدل یې ممکن نه وي، یا د هغه د معالجې لپاره اوږده موده لازمه وي.

عدت له یوې ټاکلې شوې مودې څخه عبارت دی، چې د هغې په تېریدو سره د ازدواج ټول مراتب اثار له منځه ځي. د هغې ښځې لپاره چې صغیره وي یا یې حیض قطع شوی وي یا منکوحه چې د بلوغ عمر ته رسېدلې وي او نه حایضه کېږي، په طلاق یا فسخه کې یې عدت پوره درې میاشتې دي.

د حاملې ښځې عدت د حمل له پوره زېږېدو سره پوره کېږي، په دې شرط چې د حمل اعضاوو تشکیل پوره یا یوه حصه یې ظاهره شوي وي.

۴. د افغانستان په جزایي قانون کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د جزا قانون د تطبیق په ساحه کې وایي: دا قانون له حکمونو سره سم پر هغو اشخاصو تطبیقېږي چې د افغانستان د جمهوري دولت په ساحه کې د جرم مرتکب شي. له پورته حکم څخه معلومېږي چې دا قانون د بنځو او نارینه وو لپاره یو شان دی خو بیا هم په ځینو مادو کې یې د بنځو په باره کې ځانګړې څرګندونې کړې دي.

د افغانستان د جزا قانون په څلور سوه دویمه ماده کې داسې حکم کوي: (که څوک د حاملې بنځې جنین د وهلو یا د هر نوع بل اذیت له لارې اسقاط کړي، پر اوږده حبس چې له اوو کالو څخه زیات نه وي، محکومېږي).

د جزا قانون په څلور سوه څلورشپېمته ماده کې داسې حکم شوی: که شخص یوه بنځه چې د اتلس کلنۍ عمر یې پوره کړی وي، په خپله یا د بل شخص په وسیله اختطاف کړي پر اوږده حبس محکومېږي. که اختطاف شوې مړوخه بنځه وي یا له اختطاف شوې بنځې سره نامشروع فعل تر سره شي، ارتکاب کوونکی د ټاکل شوې جزا په اکثري اندازې محکومېږي.

د جزا قانون په څلور سوه پینځه ویشتمه ماده کې وایي: (که شخص یوه بنځه چې د ۱۶ کلنۍ عمر یې تکمیل کړی وي، د واده په منظور د هغې د اولیاوو د اوسېدلو له ځای څخه له ځان سره یوسي، په هغه صورت کې چې په رضا او رغبت له قانون سره سم له هغې سره واده وکړي دا عمل اختطاف نه شمېرل کېږي.

همدا شان ۵۱۷ ماده حکم کوي: (که څوک کونډه بنځه یا نجلۍ چې د اتلس کلنۍ عمر یې پوره کړې وي د هغې د رضا او رغبت په خلاف مېړه ته ورکړي له قانون سره سم په لنډ حبس محکومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پینځم څپرکی

بښنې او پر بښنو تېري

الف – په افغانستان او نړۍ کې پر بښنو د تېریو بڼې:

کله چې د بښنو له ازادۍ او مساوي حقوقو څخه یادونه کېږي دا خبره په دې معنا ده، چې بښنو ته مساوي حق نه دی ورکړل شوی. دا چې بښنې له ازادۍ او برابرۍ پرته د نارینه تر څنګ د ټولنې فزیکي برخه تشکیل کړې ده او د بښنې رول د نارینه په شان د ټولنې په تمدن او پرمختګ کې په پوره انساني موقعیت لا تراوسه انساني بڼه نه لري. په ډېرو هېوادونو کې د لسګونو کلونو را په دېخوا د بښنو حقوق یوازې د هغو هېوادونو په اساسي قوانینو کې تصویب شوي دي؛ اما تر اوسه یې عملي بڼه نه ده ورکړل شوې. افغانستان هم د داسې هېوادونو په لیکه کې دی.

په بښنو تېری کول یا د تېریو بڼې یوازې د یو هېواد او یا په یوې ټولنې پورې مربوطه او محدوده ستونزه نه ده. بښنه چې په فزیکي لحاظ له نارینه څخه ضعیفه ده او بل دا چې په ډېرو هېوادونو کې بښنو ته دا حق نه ورکول کېږي؛ تر څو د خپل حق په برخه کې په خپله پرېکړه وکړي، چې دا عوامل د بښنو په ژوند کې مشکل پیدا کوي. پر بښنو د تېریو بڼې په مختلفو ډولونو دي لکه:

۱ - د بښنو قاچاق او خرڅول:

یو تحقیق دا ثابته کړې ده چې په کامبوډیا کې ډېرې نجونې له خرڅلاو څخه وروسته وهل او شکنجه کېږي چې د دې نجونو لپاره یې ځانګړي زندانونه جوړ کړي دي او یا ژوندي په تابوت کې اچول کېږي. ډېرې نجونې په همدې حالت کې مرې هم. دا نجونې د خرڅ پر مهال ناوې کوي او له هغې وروسته یې د ډېرو اخیستونکیو پر وړاندې د لیلام په بڼه وړاندې کوي. سریل وودون په خپل کتاب نیم اسمان کې، چې د بښنو په باره کې لیکل شوی دی، د یوې هندۍ بښنې په هکله چې د مینا په نوم یاده شوې ده لیکي چې د نوموړې بښنې دوه لورګانې ورکې شوي او هغوی د ژغورنه د فاحشه خانو څخه د ستونزو او عذاب سره یې مخ کېږي.

پر دې خرڅو شویو بښنو باندې هر ډول تیري کېږي، حتی چې زیاتره وخت په دې ناوړه حالاتو کې د زجر او وهلو په نتیجه کې دوی خپل ژوند له لاسه ورکوي.

۲ - پر بښنو جنسي تېري:

پر بښنو د جنسي تېریو پېښې تقریباً په ټوله نړۍ کې یو شان دي، خو دا په هغو هېوادونو کې د جنسي تېریو اراقام زیات وي چې هلته د جنګ حالت وي. لکه په سوډان کې چې د کورنۍ جنګ په وخت په ډېرو بښنو جنسي تېری شوې و ه او یا لکه په افغانستان کې چې د اسلامي انقلاب څخه وروسته د کابل په ښار کې بښنې د مختلفو ډلو له خوا پرې تر سره شوي وو. اوس هم د جنسي تېریو پېښې په افغانستان کې زیاتې واقع کېږي. په دې وروستیو کې حتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې د جنسي تېري پېښې ثبت شوي دي چې په ډېرو پېښو کې دولتي افراد تورن پېژندل شوي دي.

۳ - کورنۍ ناوړه چلند:

زیاتره خلک فکر کوي چې پر ښځو تاوتریخوالی د مېړه او یا د مېړه د نږدې خپلوانو له خوا یوازې په فزیکي تاوتریخوالي پورې مختصر پاتې کېدای شي، خو هغه څه چې ښکاره دي، هغه تاوتریخوالی د وهلو ټکولو، سپکاوي او تحقیرولو، د ښځې تهدیدول، چې دا ټول د ښځې په حق تېری دی او دا ټول د تاوتریخوالي او تېریو په ډله کې شمېرل کېږي. ډېری هغه ښځې چې د ځانوژنې هڅه یې کړې ده، عامل یې فزیکي تېری نه دی بلکې د کورنۍ بده رویه او د کورنۍ د مختلفو افرادو له خوا تهدیدېدل دي.

۴ - فزیکي تاوتریخوالی:

په افغانستان کې د ښځو ۴۶% د مېړه او د مېړه د کورنۍ له خوا تاوتریخوالي په لاندې ډول دی چې د دې تاوتریخوالي معمول ډولونه له څپېړې وهلو او د هغو وهلو او ټکولو چې حتی د بدن د غړیو په ماتولو، زخمي کولو، د جنینو د سقط کولو او د ښځو د مړینې لامل هم کېږي. له واده څخه وروسته چې د ښځو پر وړاندې په کورنۍ کې ناوړه چلند رامنځته کېږي د هغوی انساني حقوقو او کرامت ته زیان رسوي او ښځو ته ناوړه پایلې لکه د بدن د غړیو نیمګړیتوب او عیبجنېدل چې په ټولنیز ژوند کې د هغوی د سرخوړې او ستړتیا سبب ګرځي.

له کورني تاوتریخوالي څخه راپیدا شوې روانې ناکرارۍ د کورنۍ په مدیریت کې د کفایت د نشتوالي، د کار په چاپېریال کې د هغوې د ودې فرصتونو د کمښت، په ټولنیزو چارو کې له ګډون څخه د تېښتې او د کار د انګیزې او تحرک د لاسه ورکولو سبب ګرځي. په کورنۍ کې تاوتریخوالی داسې یوه پدیده ده چې په ځانګړې جغرافیایي ساحه کې محدوده نه ده؛ نو په دې اساس کورني یو نهاد دی چې تر بل هر ځای په کې د اړیکو او تعاملاتو ژوروالی زیات وي، نو د کورنۍ نهاد هغه مهال د امن او مهربانۍ مکان کېدای شي چې له خواشینۍ او ناخوالو سره مخامخ نه وي.

۵ - پر زده کونکو انجونو باندې تاوتریخوالی:

د امرېکی په متحده ایالاتو کې یوه څېړنه ښیي چې په سلو کې ۸۳ نجونې د عامه ښوونځیو د ۸-۱۱ ټولګیو پورې یو ډول جنسي ځورونه تجربه کړې ده. په همدی ډول په افغانستان کې د ښوونځیو سوځول په تېره بیا د نجونو ښوونځي او د هغو تهدیدول او توهینول چې ښوونځي ته په لار کې وي، د ۲۰۰۶ م کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ښوونځیو په نجونو لږ تر لږه د تاوتریخوالي ۱۷۷ پېښې ترسره شوې وې.

په ښوونځیو کې تاوتریخوالی د افغانستان د ښوونې او روزنې په سیستم کې یوه لویه ستونزه ده. زده کونکې انجونې په ښوونځیو کې دلته په متداول ډول له جدي تاوتریخوالي سره مخ دي. دا تاوتریخوالی د ښوونځي په لاره کې مزاحمت، د نجونو پر مخونو تېزاب شیندل، وېره ناامني، د ښوونځي له تګ څخه د مور و پلار مخنیوی چې دا ټول موضوعات د دې زده کوونکو په تحصیل ناوړه اغېزه کوي او نجونې له لیک لوست څخه بې برخې پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب ـ په افغانستان کې د بشځو ستونزې:

وروستیو څېړنو دا ثابته کړې ده چې افغانستان د میندو په مړینه کې د نړۍ په سطح د لومړنیو هېوادونو په لیکه کې ده. د روغتیایي کلینکونو یو شان نه شتون په ټول هېواد کې، درستې روغتیایي لارښوونې او روغتیایي پوهنې نه موجودیت او د ابتدایي توکیو کموالی د دې باعث شوې ده چې په افغانستان کې د میندو او ماشومانو د مړینې کچه ډېره لوړه ده.

(پیټر ګراف) د نړیوال روغتیایي سازمان رئیس په کابل کې له یونیسف سره په شریکه ناسته کې اعلان وکړ، چې په افغانستان کې د میندو مړینه یو خطرناک حد ته رسېدلې ده چې په یو کال کې په هرو ۱۰۰۰۰۰ بشځو کې ۱۶۰۰ بشځې د حامله ګۍ او زېږېدنې په وخت کې خپل ژوند له لاسه ورکوي.

په یوې جلا څېړنه کې د افغانستان د صحت وزارت وایي په هر نیم ساعت کې یوه بشځه د ماشوم د پیدا کېدو په سبب مړه کېږي. جنګ او ناامني لویه ستونزه ده چې په افغانستان کې زیاتره ناروغې بشځې د لنګون په وخت کې روغتون ته نه شي رسېدلای او دا ناروغانې د روغتون په لاره یا روغتون ته له رسېدو سره سم مړې کېږي.

د ملګرو ملتونو سازمان اعلان وکړ چې افغانستان تر نایجیریا وروسته د نړۍ دویم هېواد دی چېرته چې د بشځو د مړینې کچه لوړه ده. په یوه بله څېړنه کې چې د نړیوال روغتیایي سازمان له خوا ترسره شوې، ویل کېږي چې د بشځو د مړینې یو بل عمده سبب د هغو بشځو زیاتوالی دی چې عمر یې د ماشوم د پیدا کېدلو په وخت کې له ۱۸ کالو څخه کم وي. د اقتصادي ستونزو په اړه د ملګرو ملتونو نړیوال صندوق خبرداری ورکړی چې په کابل بښار کې د۵۰۰۰۰ کونډو بشځو له جملې څخه ۶۵% بشځې ځانوژنې ته لومړیتوب ورکوي. د بشځو د نړیوال صندوق (UNIFEM) مسوولې (مریم اسلن) په یوه کنفرانس کې وویل له دې (۶۵%) بشځو څخه ۶۱% بشځو عملاً د ځانوژنې هڅه کړې ده.

همدا شان د افغانستان په لویو بښارونو کې ځوانې بشځې خیرات ټولوي، داسې موارد شته چې ګواکې دا بشځې د خپلو کورنیو له خوا دې کار لپاره مجبوري شوي وي. په داسې حال کې چې ځینو نورو بشځو په سختو یخو او ګرمو ورځو کې خپل ماشومان نېشه کړي او خیرات غواړي. د افغانستان د بشځو لویه ستونزه اعتیاد او نیشه هم ده. اکثره میندې کله چې خپل ماشوم ویده کوي نو د دې لپاره چې ماشوم ژر ویده شي نو په غیر ارادي ډول نیشه یې توکي ورکوي چې وروسته همدا ماشومان معتاد رالوییږي. د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون وایي چې زیاتره بشځې هم په افغانستان کې په نشه یې توکو روږدې شوي دي. د یوې سروې له مخې چې د افغانستان په ۲۱ ولایتونو کې ترسره شوې ده، ویل کېږي چې د معتادینو بشځو شمېر ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو دی. د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون وایي چې په حاضر وخت کې تر ۲۰۰۰۰ بشځو پورې په نشه یې توکو اخته دي چې لوی عوامل یې فقر، بې سوادي او بې کاري ده.

عدالت ته نه لاسرسی یوه بله عمده ستونزه ده. په افغانستان کې ډېری بشځې عدالت ته د لاسرسي په برخه کې ستونزې لري. د کورنۍ او ټولنې له وېرې دا بشځې نه شي کولای عدالت او قضایي ارګان ته مراجعه وکړي. له بل پلوه د عدلي او قضایي ارګانونو په کار کې نه ګرځېدلای دی، چې بشځه ورته زړه نه بښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي. په افغانستان کې په سلو کې ۴۶% ښځې د خپلو میړونو او کورنیو له وړې قضایي ارګانونو ته مراجعه نه کوي او په سلو کې ۴۲% فیصده ښځې د قضایي او عدلي ارګانونو د سستوالي له امله چې د یو حکم په حدودو باندې شپږ میاشتې وخت لګوي مراجعه نه کوي. د دې فیصدې په تناسب یعنی یوازې ۱۲% فیصده ښځې عدلي او قضایي ارګانونو ته مراجعه کوي، چې هغوی دولتي مدافع وکیل ته لاس رسی نه لري.

د ښځو ستونزې یوازې په جسمي سزاګانو پورې محدودې نه دي، بلکې د افغانستان په ډېرو برخو کې که چېرته ورور ګناه وکړي؛ نو کفاره یې خور ادا کوي او خور په بدو کې ورکول کېږي. که چېرته یوه ښځه د ډېرو لورګانو مور وي او بله ښځه یوازې یو زوی هم ولري نو دویمې ښځې ته په کورنۍ کې زیاته ترجیح ورکول کېږي. په افغانستان کې له ۷۸% څخه زیاتې ښځې د کورنۍ شخړو له امله له ستونزو سره مخ دي. د یو نړیوال حقوقي سازمان (ګلوبل رایټس) چې په کال ۲۰۰۶ م کې یې سروې کړې ده وایي چې په افغانستان کې د کورنۍ بد چلن، په زور ودونه، جنسي تېري، روغتون او ښوونځي ته له تللو څخه ممانعتونه، د سختو او درنو کارونو کول او له میراث څخه محرومول د ښځو د ستونزو عمده عوامل دي.

د افغانستان ښځې په ټولنیزو چارو کې هم له ډېرو ستونزو سره لاس و ګرېوان دي. په ښارونو کې ډېرو نجونو ته دا زمینه مساعده ده تر څو ښوونځي ته لاړې شي، ولې په اطرافو کې د نجونو ښوونه او روزونه له یو لوی تهدید سره مخ ده. همدا شان په دولتي پوستونو کې هم د ښځو شتون له نشتوالي سره مخ دی او یوازې په سمبولیک ډول ښځې په دولت کې کار کوي. د ښځو چارو وزارت په وینا په ډېرو ادارو کې ښځې د وزیرانو، معینانو، والیانو او سفیرانو په سطحه نه دي مقررې شوې.

ج ـ په نړۍ کې د ښځو ستونزې:

په نړۍ کې لویه ستونزه د ښځو د مړینې د کچې لوړوالی دی، چې په ټوله نړۍ کې په زرګونو ښځې د زېږون پر وخت خپل ژوند له لاسه ورکوي. د روغتیایي خدمتونو نه شتون، د حمل په وخت کې د مناسبو خوړو کموالی او همدا شان د حمل په دوران کې له استراحت او ارام څخه د ښځې بې برخې کېدل هغه عوامل دي چې په لومړي قدم کې د ښځې ژوند تهدیدوي او په دویم قدم کې د ماشوم د مرګ د خطر سبب ګرځي.

د ښځو د مړینې پېښې زیاتره د افریقا او اسیا د لویو وچو په ځینو هېوادونو کې لکه هند، چین، افغانستان، پاکستان او داسې نورو هېوادونو کې چې د نفوسو په لحاظ هم ډېر ستر هېوادونه دي، صورت نیسي.

د ښځو یو بله لویه ستونزه په نړۍ کې د ښځو قاچاق کېدل دي. په ۲۰ او ۲۱ پېړیو کې د ښځو قاچاق اوج ته رسېدلی دی. دا ښځې له چین، روسیې، هند او شرقي اروپا څخه غربي هېوادونو ته لېږدول کېږي او هلته دوی د غلامانو په شکل ساتل کېږي، چې دا غلامي له پخوانۍ غلامۍ څخه په تفاوت سره یوازې جنسي بڼه لري او دا د جنسي غلامۍ په نوم یوه نوې غلامي ده. د جنسي تجارت په وسیله دا ښځې په مختلفو مقاربتي ناروغیو لکه ایډز او نورو وژونکیو ناروغیو باندې اخته کېږي او خپل ژوند په داسې حال کې له لاسه ورکوي چې دوی ډېر یوازې او هېڅوک نه لري. یو تحقیق ثابته کړې ده، چې په کال کې له ۶۰۰۰۰۰- ۸۰۰۰۰۰ پورې نجونې د قاچاقو په وسیله په نړۍ کې له یو ځای څخه بل ځای ته وړل کېږي، چې په حاضر وخت کې لس میلونه ماشومان د غلامانو په څېر (بې پلاره) زېږېدلي دي. په یوې نظرپوښتنې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۰% بد کاره بشځو ویلي دي چې دوی د قاچاقو په وسیله دلته دې کار لپاره راوړل شوي دي.

په کمبودیا کې د فاحشو نجونو عمر عموماً له ۱۷ کالو څخه کم دی او په تایلینډ کې د بشځو بدکاري او فحشا۵۰% دولتي بڼه لري. د یونیسف په یوه څېړنه کې دا معلومه شوې ده چې په هند کې د فاحشو بشځو تعداد له ۸۰ میلونو څخه زیات دي.

اقتصادي ستونزې لکه بېوزلي د خوړو کمښت او د ژوند ابتدایي توکو ته نه لاسرسی د بېوزله افرادو او دولتونو لپاره یو بله لویه ننګونه ده، چې د دې بد تاثیرات نېغ په نېغه بشځو باندې کېږي او د دوی ستونزې دوه چنده کوي. ویل کېږي چې د نړۍ ۲/۳ برخه یعنې یو میلیارد بېوزله افراد په اسیا کې ژوند کوي چې د بېوزلۍ له امله بشځې او نجونې نشي کولای خپل بنسټیز حقوق تر لاسه کړي او دوی له بېشمېره حقوقو څخه لکه د بشوونې او روزنې حق، د صحت حق، د سیاسي فعالیت حق او داسې نورو حقوقو څخه بې برخې پاتې کېږي. د بشځې او نارینه تر منځ د تبعیض ستونزه چې د بشر په تاریخ کې دا د بشځو یوه لویه ستونزه ده او لا تر اوسه هم دې ستونزې ته د پای ټکی نه دی اېښودل شوی. په ډېرو ټولنو کې اوس هم کله چې نجونې پیدا کېږي؛ نو د کورنۍ غړي پرې نا خوښه وي او لا زیاتې کورنۍ د نجونو مور هم تهدیدوي، چې ولې یې لور زېږولې ده؟ دې نجونو ته عموماً د کورنۍ له خوا هېڅ پاملرنه نه کېږي مثلاً د دوی بشوونه، روزنه، صحت او نور. حتا په کوچنیوالي کې د دې نجونو هر ډول مخه نیول کېږي،او په دی عمر کې چې هلکان دی له ټولو حقوقو څخه ګټه اخلي، لکه بشوونه او روزنه، لوبې او داسې نور نو دا نجونې بس تر یو وخته په کور کې کار کوي او تر یوې کمې مودې وروسته دوی واده کېږي چې د کم عمرۍ واده هم یوه بله ستونزه او د انسانیت خلاف کار دی.

د ـ په افغانستان کې د بشځینه زندانونو حالت:

په افغانستان کې تقریباً په ټولو زندانو کې تر حده زیاتې ستونزې او مشکلات موجود دي، که هغه د نارینه وو زندانونه وي او که د بشځینه وو. له یو طرفه د افغانستان د زندانونو ویجاړ او خراب حالت چې نه په کې زندانیان په سم ډول ارام کولای شي او نه په سم ډول هغوی ژوند کولای شي. د بشځو حالات لکه په هره برخه کې چې له ګوابښ سره مخ دی. د افغانستان په بشځینه زندانونو کې بشځې له هر ډول مشکلاتو او مصیبتونو سره مخ دي. د افغانستان په ټولو زندانونو کې اوس هم ناقانوني شکنجې، جسمي او فزیکي وهل معمول دي. په دې زندانونو کې د محبوسینو یو ډول حقوق هم نه مراعاتېږي. اداري فساد، رشوت او په لوړه سطحه پېژندنه د ستونزو او مشکلاتو یو بل عمده عامل دی. په افغاسنتان کې د ملي امنیت ټول بشځینه او نارینه زندانونه د هر ډول حقوقي ادارو له کتلو څخه منعه دي او هېڅوک نه شي کولای په دولتي زندانو کې د محبوسینو حالات وګوري. په افغانستان کې په ځانګړې توګه د بشځینه محبوسینو لپاره په زندانونو کې هېڅ ډول ضروري او اړین امکانات نه دي برابر شوي. په بشځینه زندانونو کې له بشځو سره د هغوی ماشومان هم ژوند کوي چې د هغوی لپاره هم ځانګړې پاملرنه وجود نه لري. د زندانونو خراب حالت چې عموماً په یخو ولایتونو کې د یخوالي په سبب همدا شان د لومړنیو جنسي ضرورتونو د نه پوره کېدو په صورت کې ډېرې بشځینه محبوسینې په ډول ډول ناروغیو اخته شوي دي. په دې وروستیو کې فوزیه کوفي چې له بدخشان ولایت څخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پارلمان کې وکیله ده او په یوه څېړنه کې چې د پلچرخې په زندان کې یې ترسره کړې وه، وویل: نوموړي زندان کې د ښځو حالت ډېر خراب دی. د دولتي چارواکو له خوا لکه د پولیسو منسوبین او پولیسو له خوا پر دې ښځو جنسي تېري شوي دي. مېرمن کوفي چې کله له ښځینه محبوسینو څخه پوښتنې کړې وې نو محبوسینو ورته په ځواب کې ویلي وي چې (د دې چارواکیو له خوا به دوی ته د سمو درملو پر ځای نیشه یې درمل ورکول کېدل چې له هغې وروسته به دوی په خپل حال ناخبره وې چې په همدې حالت کې به له دوی سره ناوړه جنسي عمل اجرا کېده. حتی داسې شواهد هم موندل شوي دي چې ډېری محبوسینې ښځې په زندان کې د لویو منسوبینو اطاقونو ته وړل شوي دي چې هلته پرې جنسي تېري صورت نیولی دی. ښځینه محبوسینې د پولسیو او دولتي چارواکو د زیات تشدد له وېرې څه نشي ویلای او تر اوسه دولت هم داسې جدي اقدامات نه دي تر سره کړي، چې د محبوسو ښځو حالت ښه کړي. نړیواله میډیا، کورنۍ میډیا او د ښځو د حقوقو مدافعو ټولنو تر اوسه پورې داسې موثر او عملي اقدامات نه دي ترسره کړي چې د ښځینه محبوسینو په ژوند کې ښه والی راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم څپرکی

د ښځو د ستونزو د حل اساسي لارې چارې

افغانستان یو جنګ ځپلی هېواد دی او تېرو څو لسیزو جګړو د دې هېواد پر ښځو ډېرې بدې اغېزې کړې دي. کورنۍ جګړې، بېوزلي، مهاجرتونو او د ډېرو ښځو بې سر نوشته پاتې کېدل چې د کورنۍ نارینه غړي یې په جنګونو کې له لاس ورکړي دي او اوس هم د لازیاتو ستونزو سره لاس و ګرېوان دي چې د دې ستونزو له لاسه دوی نشي کولای خپل ماشومانو ته سالمه تربیه ښوونه او روزنه پرې وکړي او ورکړي ټولنې ته یې وړاندې کړي. د دې ستونزو د له منځه وړلو او یا کمولو لپاره یو څه بنسټیز اقداماتو ته ضرورت دی، چې کېدای شي په لاندې ډول ژمنو او پرېکړو سره دا ستونزې تر یو حده کمې شي.

الف: په ټول هېواد کې د ښځو لپاره د ښوونې او روزنې زمینه برابرول:

د افغانستان ښځې چې تر ۵ % کمې د ښوونې او روزنې له حق څخه برخمنې دي او نن هم د هېواد ۸۰% زیاتې نجونې د مختلفو عواملو پر بنسټ له دې حق څخه محرومېږي. ښوونه او روزنه چې د هر افغان دیني او قانوني حق دی خو د افغانستان په ډېرو برخو کې د نجونو ښوونه او روزنه عیب ګڼل کېږي. حتا داسې ولسوالۍ هم شته چې هلته د نجونو ښوونځي شتون نه لري، که شتون لري نو یوازې تر درېیم او څلورم تولګي پورې نجونې ښوونځي ته لاسرسی لري، چې له هغې وروسته د کورنۍ په خوښه دوی له ښوونځي څخه ایستل کېږي. د ښځینه ښوونځیو سوځول، پر ښځینه زده کوونکو تېزاب شیندل او له کور څخه تر ښوونځي پورې د ښځینه زده کونکو ازارول هم د دې لامل کېږي چې دوی ښوونځي ته لاړې نه شي.

دولت ښایي د مذهبي، ملي او نړیوالو ذمه واریو له مخې چې په دې اړه یې لري، باید باور حاصل کړي چې د هېواد ماشومان په تېره بیا نجونې په برابره او باکیفیته توګه ښوونې او روزنې ته لاس رسی ولري.

دولت باید په دې اړه هر اړخیزه تدابیر ونیسي، تر څو د هېواد ښځینه زده کوونکې په یوه ارامه فضا کې د ښوونې او روزنې له حق څخه برخمنې شي او په اینده ژوند کې له پوره هوښیارتیا سره د هر راز ننګونو مقابله وکړي.

ب: د بېوزله او بې سر پرسته ښځو لپاره د کار زمینه برابرول:

د افغانستان زیاتره نارینه داسې فکر کوي چې ښځې له اقتصادي پلوه استهلاک کوونکې او مصرفوونکې دي. دوی په دې باور دي چې په اقتصاد کې د ښځو ونډه ډېره کمه ده، دا چې د ښځو کورنۍ چارې عاید نه لري د زیاتو خلکو له سترګو پناه وي او د هغوی برخه اخیستنه د کورنۍ او ټولنې په سوکالۍ کې نه محسوسېږي. زمور د هېواد ډېرې ښځې په کلیو او باندو کې د خپلو کورنیو له نارینو سره یو ځای کار کوي او په تولید کې هم برخه اخلي، خو دوی ته د داسې کار زمینه مساعدول، چې دوی په مستقیم ډول خپل عاید په خپله تر لاسه کړي، ډېر ګټور وي او ښایي چې د ښځو په ستونزو کې کمښت رامنځته کړي. دولت پر دې مکلف دی چې د ښځو د کار موندنې لپاره ځانګړې پانګونه وکړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په شخصي پانګونه کې د بڼځو پر جذب او استخدام په يوې مسوولانه فضاء کې ټينګار وکړې. همدا شان په ټول هېواد کې د لاسي صنايعو او حرفوي زده کړو ځانګړي مرکزونه پرانېستل شې او بيا په نړيواله کچه دغو توکو ته بازار موندل چې له دې سره به د بېوزلو او بې سرپرسته بڼځو په ژوند کې اقتصادي تغير رامنځته شي او د اقتصادي تغير په منځته راتلو سره به په خپله د بڼځو د ستونزو کچه هم کمه شي.

ج: د ديني علماوو په واسطه د هغو د ځينو حقونو بيانول:

کوم حقوق چې په قران کريم او احاديثو کې د بڼځو په اړه راغلي دي زمونږ په ټولنه کې داسې ډېر عرفي او عنعنوي رسمونه شته چې يا ورته ناسم مذهبي رنګ ورکول کېږي او يا هم ورته تاريخي، قومي رسم و رواج ويل کېږي چې له دې سره د بڼځو هغه اسلامي بنسټيز حقوق له منځه ځي. د هېواد په ډېرو برخو کې د لورګانو او خويندو په واده کولو کې پيسې اخيستل او يا هم لورګانې او خويندې د هغوی په ناخوښه ځای کې واده کول دود دی، چې له همدې ځای څخه د دوې ستونزې پيلېږي. که چېرته ديني علماء په رېښتنولې هغه حقوق چې د اسلام مبارک دين بڼځو ته ورکړي دي، د خلکو تر غوږو ورسوي دا به د بڼځو په ډېرو ستونزو کې کمښت رامنځته کړي.

د: د قانوني مراجعو په سمه توګه برخورد:

لکه د پوليسو او قضايي ارګانونو په سهي توګه د موضوع په اړه پلټنه او هغه بې باوري چې خلک يې د پوليسو او نورو قضايي او دولتي ارګانونو په اړه لري له منځه يوړل شي او په تېره بيا بڼځې پر دې باوري شي چې دولت د دوی ستونزو ته جدي پاملرنه کوي او د دوی حق د قانون پر وړاندې په سهي ډول تثبيتوي، دا به ډېر ګټور وي. زمونږ په هېواد کې ډېرې بڼځې له دې امله دولتي ارګانونو ته مراجعه نه کوي، چې دوی وروباندې بې باوره دي. بڼځې په دې وپرېږي چې ممکن له دې سره د دوی ستونزې لا نورې هم زياتې شي.

هـ: د دولتي او نادولتي سازمانونو له خوا د عامه پوهاوي کورسونو پرانېستل:

تر څو پورې چې بڼځې له خپلو هغو حقوقو څخه خبرې او ورسره اشنا نه شي، چې دوی ته مذهب او قانون ورکړي ده، تر هغې پورې بڼايي دوی ته نارينه د دوی حقوق ورنه کړي. له دې سره سره بايد د ټولنې نارينه هم پر دې وپوهول شي چې د اسلام مبارک دين او د افغانستان اساسي قانون بڼځو ته کوم حقوق ورکړي دي. که چېرته دا حقوق د دوی بڼځو خويندو او لورګانو ته ورکړل شي نو کومه د عيب او شرم خبره نه ده.

و: د هېواد په درسي سيستم کې د بڼځو د حقوقو تدريس:

بايد د کورنۍ ټول حقوق او بيا د بڼځو حقوق په اساسي ډول د بڼوونکو په واسطه په پوره تاکيد سره زده کونکو ته وښوول شي. همدا شان د بڼځو د حقوقو په اړه ورکشاپونه او علمي سيمينارونه جوړ شي او د هېواد ټول وګړي پر دې باوري کړل شي، چې د يوې سالمې او پرمختللې ټولنې لپاره د بڼځو بنسټيز او اساسي حقوق څومره ضروري دي. له دې سره ممکن ګام په ګام د بڼځو په اړه ناوړه دودونه، تهديد او تاوتريخوالی له منځه لاړ شي او د بڼځو اساسي حقوق به بڼځو ته ور په برخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم څپرکی

د بښنو د حقوقو په اړه د اسلام او بشري حقوقو موازي او متضاد اړخونه

سیاسي حقوق په حقیقت کې د اسلام په مبارک دین کې بښنو ته ورکړل شوي دي. د اسلام مبارک دین په پوره اختیار سره بښنو ته د انتخابولو او انتخابېدلو حق ورکړی دی. همدا شان د بیان ازادي په اسلام کې د یو اصل په څېر منل شوې ده، چې همدا حق بښنو ته هم ورکړل شوی دی. کله چې د ثلعبه لور د سرور کاینات حضرت محمد صی سره بحث او مجادله وکړه نو د مجادله سورة نازل شو. د اسلام مبارک دین په سیاسي او ټولنیز ډګر کې پوره حق بښنو ته ورکړی دی. حتا د سرورکاینات (ص) په وخت کې مسلمانانو بښنو هم سیاسي تشکیلات درلودل. پیغمبر (ص) چې کله په مکه مکرمه کې وو دری اویا تنه نارینه او بښینه وو ورسره بیعت کړې وه، چې د هغوي له جملې څخه د دوه تنو بښنو بیعت د نارینوو په څېر قبول شوی. او بیا دوې نارینه او بښنو ۱۲۲ تنه خپل نماینده ګانو په څیر وټاکل تر څو په مختلفو مسائلو د سرور کاینات سره خبری اتري پرې وکړي.

د بشر حقوق هم په هر ډګر کې بښنو ته حقوق ورکړی دی او په کلکه د هغې څخه دفاع کوي. خو د بشر حقوق د یوه ځانګړې دین او ځانګړې ملت لپاره نه دی وضع شوې بلکه د ټولې نړۍ د افرادو لپاره وضع شوی دی. خو د دې حقیقت څخه سترګې پټول نه دي په کار چې د بشر د حقوقو ډېر مواد یې د اسلام د مبارک دین څخه استنباط شوي دي. د اسلام مبارک دین د نن څخه ۱۴۰۰ کاله پخوا دا حقوق بښنو ته ور ښلې دي، او بښې ته یې د هغې ځای په ټولنه کې ورکړی چې له دې څخه پخوا یې نه درلوده. لاندې به په لنډ دول د بشر حقوقو مساوي او متضاد اړخونه وڅېړو.

الف: موازي اړخونه:

د بشري حقوقو د اعلامیې درېیمه ماده حکم کوي (هر څوک د ژوندانه، ازدای او د ځان د سلامتی حق لري.)

د اسلام مبارک دین هم ټولو انسانانو ته نه یوازي دا چې د ژوندانه او د ځان د سلامتی پوره حق ورکړې دې بلکه د دې حقوقو څخه پوره دفاع هم کوي. په اسلامې ټولنه کې که چېرته غیر مسلم افراد ژوند کوي نو د اسلام مبارک دین هغوی ته هم د ذمی او مستامئن حق ورکوي چې د دې حق پر بنسټ د هغوی ژوند، ازادي او سلامتي حقوقو څخه دفاع کېږی او خوندي پاتې کېږي.

د بشري حقوقو ۴ ماده د غلامې او مرئي توب او همدا شان د مریانو پلورنه او پیرودنه منع کړي دي. د بشر د حقوقو د دې اعلامیې څخه تراوسه یوه پیړۍ نه کیږي، خو د اسلام مبارک دین څوارلس سوه کاله پخوا کله چې پیغمبرص باندې نبوت نازل شو، او په دغه وخت کې په ټولنه کې بښځې او نارینه په مرېتوب نیول کېدل او د مریانو دخرڅلاو بازارونه موجود وو، نو پیغمبر ص په تدریجې ډول د مریې توب په خلاف مبارزه شروع کړه، او دا یې یو بد کار وباله. بیغمبر ص به د مریانو سره بښې اړېکې درلودې، او خلکو ته به یې ددي کار نه په لاس اخستنه نصیحت کاوه. همدا وو چې په کراره د اسلام په مبارک دین کې د مریانو ساتل پیرل او پیرودل منع شول.

د بشر د حقوقو اعلامیه په اولسمه ماده کې هر چاته د شریک او ځان له مالکیت حق ورکوي، او همدا شان تاکید

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوی چې هېڅوک پخپل سر د ملکیت څخه نه شي بې بر خې کېدلای.

د اسلام مبارک دین هم د ملکیت حق په پوره ډول ښځو او نارینه وو ته ورکړی دی. د نړۍ په ډېرو مذاهبو او کلتورونو کې ښځې ته د ملکیت حق نه ورکول کېږي، خو د اسلام مبارک دین ښځې ته هم د پلار په کورکې او هم د خاوند په کور کې د ملکیت حق ورکوي.

د اعلامیې په څلورویشتمه ماده کي هر چا ته د تفریح، استراحت او هوسایۍ حق ورکول په ټېره بیا د حقونو اخیستلو د کار په ساعتونو کې د معقول محدودیت او وخت په وخت رخصتیو حق دار ګڼل کېږی.

د اسلام په مبارک دین کې د جمعی په ورځ رخصتي یو ضروري امر دی. همدا شان د استراحت او تفریح په اړه نه دا چې مخالفت نشته او ټولو ډلو لکه بزګر او کارګر ته دا حق ورکوي. په یوه حدیث شریف کي راځي چې وایي:

ترجمه: (په تا د سترګو حق دی، چې خوب وکړې؛ په تا د ښځي حق دی، چې هغه خوشحاله او ارامه وساتې؛ په تا د ملاقات کونکو حق دی، چې هغوي سره وخت تېر کړې. د اسلام مبارک دین کې هر ډول جبري او سخت کارونه منع دي او د کارکونکو د ټولو حقوقو څخه دفاع کوي.

د اعلامیې ۲۱ ماده هرچاته په خپل ملک کښې د انتخابېدلو او انتخابولو حق ورکوي، او په مساوي شرطونو سره باید د خپل ملک په عمومې چاروکې برخه واخلې، او په همدا شان په مساوي ډول د حکومت په قدرت کې د خلکو اراده شریکه شي.

د اسلام په مبارک دین کې د سیاسې ټولنې بنسټ په انتخابولو او انتخابېدلو اېښودل کېږي چې دې حق ته په عربې ژبه کې بیعت وایي. خلفاء راشدین د همدې بیعت له لارې قدرت ته رسیدلي وو.

ب. متضاد اړخونه:

د بشري حقوقو اعلامیې شپاړسمه ماده وایي (هر بالغ سړی او ښځه حق لري چې د نژاد، ملیت، تابعیت او مذهب له قیودو څخه بغیر یو له بل سره واده وکړي، ښځه او مېړه د ازدواج پر مهال په مساوي ډول حقونه لري.

د اسلام مبارک دین د مسلمانې ښځې واده له نامسلمان نارینه سره منعه کړی دی او همدا شان د مسلمان سړي واده یې د نامسلمانې ښځه سره تر څو چې هغه اسلام قبول نه کړي، منعه کړی دی. د نکاح په چارو کې ښځې لپاره وکیل (نکاح پلار) نیول کېږي چې دلته هم د بشري حقوقو له اعلامیې سره په تضاد کې راځي.

د بشري حقوقو په اتلسمه ماده کې هر چاته حق ورکړل شوی دی چې خپل مذهب او عقیده په ازاد ډول یعنې په خپله خوښه بدله کړي.

دا کار د اسلام په مبارک دین کې جواز نه لري. او هغه څوک چې له خپل مذهب او عقیدې څخه مخ واړوي هغه ته مرتد ویل کېږي او په اړه به یې اسلامي شریعت پرېکړه کوي.

د ښځو حقوق د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالې د منعې قانون په چوکاټ کې:

د ښځې پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون د افغانستان د اساسي قانون د ۷۹ مادې د حکم له مخې، د وزیرانو د شورا د ۱۵/۴/۱۳۸۸ نېټې د ۱۶ ګڼې مصوبې پر بنسټ، په ۴ مادو کې تاییید او د رئیس جمهُور ر له خوا توشېح شوی دی. د دې قانون شلمه ماده حکم کوي (هغه شخص چې ښځې ته اور واچوي یا یې پر بدن کیمیاوي یا زهري مواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یا نور خطرناک مواد چې د ټپي کېدو یا معلولیت موجب شي استعمال کړي او یا زهري مواد پر هغوی وخوري او یا یې پر بدن کې ور زرق کړي. نو له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي محکومېږي.)

د دې قانون یووشتمه ماده حکم کوي (که چېرې ښځه د تاوتریخوالي له امله په ځان سوځولو یا ځانوژنه او یا د کیمیاوي او یا زهري موادو او یا ځانته د نورو ضررناکو موادو په استعمالولو سره مجبوره شي، د تاوتریخوالي عامل د مدعي علیه د مړینې په صورت کې، له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه زیات نه وي محکومېږي.)

د دې قانون د دوه ویشتمې مادې په بل حکم کې وایي چې (هغه شخص چې ښځه تر ضرب او جرحې لاندې ونیسي، له احوالو سره سم او د جرم شدت او خفت په پام کې نیولو سره د جزا قانون د ۴۰۷ څخه تر ۴۱۰ مادو کې د درجو شویو، اټکل شویو جزاګانو مطابق مجازات کېږي.)

که چېرې د دې مادې په اوله فقره کې درج شوي اعمال د مدعي علیه پر مړینه تمام شي، مرتکب له احوالو سره سم د جزا قانون له ۳۹۵ څخه تر ۳۹۹ مادو پورې په درج شویو اټکل شویو جزاګانو محکومېږي.)

د وهلو او ټکولو په اړه د دې قانون درویشتمه ماده حکم کوي (هغه شخص چې ښځه تر وهلو او ټکولو لاندې ونیسي خو په ټپي کېدو او یا معلولیت یې تمامه نه شي، له احوالو سره سم په لنډ حبس چې له ۳ میاشتو څخه زیات نه وي محکومېږي.)

دښځې د پېرلو او یا پلورلو په هکله د دې قانون ۲۴ مه ماده حکم کوي (هغه شخص چې ښځه د واده په منظور یا بهانه وپلوري یا یې وپېري یا په کې وساطت وکړي، له احوالو سره سم په اوږد حبس چې له لسو کالو څخه زیات نه وي محکومېږي.)

د ښځو په بدو کې ورکول زمور د ټولنې یو ناوړه عمل دی او په دې هکله د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون په ۲۵ مه ماده کې داسې حکم شوی دی (هغه شخص چې په بدو کې د ورکولو په نوم ښځه په نکاح ورکړي او یا یې نکاح کړي، په اوږده حبس چې له لسو کالو څخه زیات نه وي محکومېږي.) د دې مادې په اوله فقره کې په درج شوي حالت کې دخل اشخاص (شاهد، وکیل مصلح او عاقد) هر یو له احوالو سره سم په متوسط حبس محکوم او د نکاح عقد په بدو کې د ورکړل شوې ښځې د غوښتنې په صورت کې د قانون د حکمونو مطابق فسخه کېږي.

د اجباري نکاح په هکله د دې قانون شپږویشتمه ماده داسې حکم کوي: (که چېرې یو شخص، هغه ښځه چې د واده قانوني سن یې پوره کړی وي، د هغې له رضایت پرته کوژده یا یې واده کړه، له احوالو سره سم په متوسط حبس چې له دوو کلونو څخه لږ نه وي محکوم او کوژده او نکاح د قانون د حکمونو مطابق فسخه کېږي.)

د واده له حق څخه د مخالفت په اړه د دې قانون اوویشتمه ماده داسې حکم کوي: (که چېرې شخص د ښځې د واده خنډ وګرځي یا د مېړه (زوج) د غوره کولو حق له هغې څخه سلب کړي، له احوالو سره سم، په لنډ موده یې حبس محکومېږي.)

دغه قانون په عمومي ډول د هغو ټولو ستونزو، تېریو او مشکلاتو مخنیوی کړی او د ښځو اګا او ډېرو حقوقو تضمین یې هم کړی دی، خو تر اوسه د افغانستان په سلو کې لس ښځې له دې قانون څخه په پوره توګه خبرې نه دي او که چېرته خبرې هم شي نو د ناقصو قضایي ارګانونو په سبب دې ته جوګه نه دي چې د دې قانون په چو کاټ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل حقوق تر لاسه کړي.

د بڼځو د حقوقو په اړه د اوسني سیستم خلا ګاني:

د بڼځو د حقوقو په اړه که مورږ دا اوسنی سیستم له دوو اړخونو وڅېړو، نو دا به عجیبه نه وي چې له یوه اړخه په اوسني سیستم کې د بڼځو د حقوقو په اړه کمبود او خلاوې کمې لېدل کېږي، لکه د اوسني سیستم تقنیني فرمانونو پرېکړه لیکونه، د مختلفو ملي سازمانونو ملي اثار، سمییناروونه او ورکشاپونه؛ خو متاسفانه دا هر څه یوازې د کاغذ پر مخ دي. له بله اړخه دې ټولو اثارو او موادو ته عملي جامه نه ده اغوستل شوې چې له همدې کبله نن هم بڼځې له ډېرو ستونزو سره مخ دي.

زما په نظر نور باید د دې خبرې تکرار بند شي چې افغانستان په ۳۰ کلن کورني جنګ کې ډېر څه له لاسه ورکړل، باید په دې خبره ټینګار وشي چې افغانستان به څنګه له سیاسي، حقوقي او اقتصادي پلوه د نړۍ د پرمختللیو هېوادونو په لیکه کې ودرېږي. سره له ډېرو ستونزو او ننګونو په تېرو ۹ کلونو کې د افغانستان دولت او مختلفو سازمانونو سره ډېرې مرستې وشوې خو له بده مرغه پر ځای مصرف نه شوې، چې په نتیجه کې د ټولنې یوه لویه برخه بڼځې اوس هم له ډېرو ستونزو سره مخامخ دي.

د اوسني سیستم عمده او روښانه خلاوې په لاندې ډول دي:

۱. بېوزلي:

دا یو له هغو روښانه بدو عواملو څخه شمېرل کېږي، چې د انسان پر ژوند بده اغېزه کوي. بېوزلي کولای شي په ناقانونه فعالیتونو کې په ګډون باندې مثبته اغېزه ولري.

۲. بېکاري:

په اوسني سیستم کې د بڼځو لپاره د کار نه شتون یوه لویه ستونزه ده. تر اوسه پورې دولت داسې کوټلي ګامونه نه دي اخیستي چې په ترڅ کې یې د بڼځو د کار لپاره یوه موثره ستراتیژي جوړه کړي. په دې اساس د بڼځو د میاشتني عاید نشتوالی په کورنۍ کې د تاوتریخوالي سبب کېږي، چې په نتیجه کې کورنۍ جګړې، بدکاري، غلاوې، قتل له کور څخه تېښته، تښتونه یا اختطاف او داسې نور جرایم منځته راځي، چې په عمومي ډول دا د بڼځو پر ورځني ژوند ډېره بده اغېزه کوي او دا ستونزې او مشکلات ممکن خطرناک حد ته ورسېږي چې په سبب یې نوره ټولنه هم متاثره شي. په دې توګه بېکاري هم د بېوزلۍ سبب کېږي. د بېوزلۍ په لامل ډېرې داسې بڼځې شته چې عدالت ته په سمه توګه لاسرسی نه لري او د دوی وړې وړې ستونزې په غټو ستونزو بدلېږي او ټول ژوند یې له ګوابښ سره مخامخېږي.

۳. د بڼوونې او روزنې نشتوالی:

بڼوونه او روزنه د بڼځو د حقوقو او قانون په اړه د هغوی د پوهې د کچې په لوړولو کې مهم او اساسي رول لوبوي. په افغانستان کې ډېرې بڼځې له خپلو هغه حقونو څخه ناخبره دي، کوم چې د دولتي نافذو قوانینو او شریعت له خوا په رسمیت پېژندل شوي دي. د پوهې د کچې نشتوالی کولای شي د مدعي علیه بڼځې تر منځ پر خپل ځان باور له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسي او د هغوی د لا کمزورۍ لامل وګرځي. د ښوونې او روزنې نشتوالی د دې لامل کېږي چې ښځی په اسانۍ سره په جرایمو او بدکاریو لاس پورې کړي. همداسې کومې ښځې چې د ښوونې او روزنې له حق څخه برخمنې وي، هغوی ته د کار زمینه هم پیدا کېږي نو په ژوند کې یې مثبت اقتصادي بدلونونه راتللای شي. دا چې زموږ په هېواد کې د ښوونې او روزنې کچه ډېره ټیټه ده، په تېره بیا ښځې چې د تعلیم له حق څخه په زیاته کچه بې برخې دي او د هغو بې تعلیمو ښځو لپاره د دولت له خوا داسې پروګرامونه هم نه شته چې د ښځو تعلیمي سطحه لوړه کړي چې دا هم د دې سیستم یوه نیمګړتیاده.

۴. د عدلي سیستم نواقص او نیمګړتیاوې:

ډېرې هغه ښځې چې هغوی په دولتي توقیف کې دي د هغوی دوسیې ژر تر ژره نه څېړل کېږي. حتا داسې هم راغلي دي چې له درېوو میاشتو څخه تر نهو میاشتو پورې د دوی دوسیې نه پرانیستل کېږي او دا ښځې بې سرنوشته په زندانونو کې ساتل کېږي.

د دې لپاره چې په خپل سر د افرادو ناقانونه توقیف او زنداني کېدو مخه نیول شوې وي او د ازادۍ له حق تر پښو لاندې کېدلو څخه مخنیوی شوی وي؛ باید هر ډول توقیفي زنداني کېدل د قانون له احکامو سره سم تر سره شي او عدلي او قضایي ارګانونه او مراجع باید د دې کار جدي کنټرول او څارنه وکړي؛ خو له بده مرغه په اوسني سیستم کې دا کار له ډېرو ننګونو سره مخ دی، چې عدلي او قضایي ارګانونه دومره توان او ظرفیت نه لري چې د دې مخنیوی وکړي.

۵. د افرادو ناقانونه توقیف:

د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې له ۹ مې مادې سره سم (هېڅوک حق نه لري پر خپل سر او په نا قانونه توګه یو شخص توقیف یا زنداني کړي) خو ولې په افغانستان کې ښځې په ناقانونه توګه توقیف او زنداني کېږي. که چېرې هغوی له خپل کور څخه وتښتي او یا د چا پور وړې وي، نو زنداني کېږي. وروستني ثبت شوي اطلاعات او معلومات دا ښیي چې د توقیف شویو ښځو ډېر شمېر هغه ښځې دي کومې چې خپل کورونه پرېښي او تښتېدلي دي. د دې حقیقت نورو اړونده قوانینو او مقرراتو سره سم کوم جرمي عمل نه ګڼل کېږي؛ خو بیا هم نوموړې ښځې په توقیف کې ساتل شوي وي. دا د پام وړ ده او لیدل کېږي هغه ښځې چې خپل کورونه پرېږدي او تښتي، د کورني تاوتریخوالی قرباني شوي دي.

د عدلي سیستم خراب او بد مالي حالت په عدلي سکتور کې د بدلونونو او اصلاحاتو بهیر د سیاسي ارادې پر پیاوړتیا، مالي او تخنیکي مرستو پر چمتو کولو باندې ولاړ دی.

د هېواد د عدلي سکتور مالي ستونزو او د ماهرو کارپوهانو او کارکونکیو له کمښت سره مخامخ دی. د غیرمسلکي کارکونکیو او د ښو کارپوهانو نه شتون د دې لامل کېږي چې دوی له خلکو څخه د پیسو او رشوت غوښتنه کوي چې دا خپله د ښځو ستونزې نورې هم زیاتوي؛ ځکه چې توقیف شوې ښځې زیاتره مالي امکانات نه لري چې دوی ته یې ورکړی او ځان ور باندې خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم ټوک

د ماشومانو حقوق

Children's Rights

نوی سید جمال الدین (افغان) انستټیوت

Institute New Said Jamaluddin "Afghan"

لیکوالان: عبدالقدوس ((دولت زاي))/ صیام الدین پسرلی
جلال اباد، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم ټوک

د ماشوم تعریف

ماشوم هغه کمزوری زورور دی، چې نن د فرعون ږیره شکولی شي او سبا ته ئې خدایي ور ړنګولی شي.

په اسلامي شریعت او نړیوالو قوانینو کې منل شوی تعریف دا دی، چې ټول هغه انسانان چې د ۱۸ کلن څخه کم عمر ولري د ماشوم په نوم یادیږي.

ماشومتوب د عمر یو له ډیرو مهمو او اساسي برخو څخه ګڼل کیږي، دغې دورې ته د انکشاف دوره هم ویلی شو. په دغه دوره کې ماشوم د مشرانو په پل روان وي، د مشرانو څخه تقلید کوي، که زمونږ کورنۍ او ټولنه ښه او سالمه و اوسي، پر ماشوم ډیر مثبت تاثیر کوي او که برعکس وي نو ماشوم په ډیرو منفی لارو سوق کیږي.

ټول هغه انسانان چې د کوچنیوالي له عمر څخه اوښتي وي ماشوم او ماشوتوب پیژني، ځکه چې یو مهال دوی په خپله ماشومان ول، او د کوچنیوالي پړاو یې لیدلی دی، خو له دې سره سره د ماشوم د تعریف او پیژندنې په اړه ډول ډول علمي معلومات شته. د اسلام مبارک دین د ماشوم او د ماشومتوب پړاو په اړه خپلې څرګندونې لري، په ملي او نړیوالو قوانینو کې هم د ماشوم پیژندنې په اړه یو لړ څرګندونې شته او د ارواپوهنې علم بیا کوچنیان د خپل لید لوري له مخې راپیژني، مونږ هم دلته ماشوم د اسلامي شرعیت، قوانینو او ارواپوهنې له مخې څېړو.

په اسلامي شریعت کې د ماشوم پیژندنه:

علامه ابن اثیر په اسلام کې ماشوم داسې راپیژني: " په عربي ژبه کې ماشوم ته (طفل) وایي، چې اطفال، طفله، طفل او نور د نومونړې کلمې د ډیرګړي (جمع) له پاره کارول کیږي. طفل په لغت کې (صبي) (ماشوم) ته وایي، چې د صبي کلیمه د نارینه او ښځینه (مذکر او مونث) او د دواړو د جمعې لپاره هم راځي، او د شرعیت په اصطلاح کې صبي (ماشوم) هغه چاته ویل کیږي، چې د ځوانۍ پړاو ته نه وي رسېدلی، یعنې بالغ شوی نه وي، چې دا پړاو د مور له ګېډې څخه له زیږېدنې نه نیولی او ځوانۍ ته تر رسېدو پورې وي."

د ځلمیتوب او بلوغ پړاو په انسانانو کې سره لږ څه توپیر لري، په دې مانا چې انسانان نارینه او ښځینه له نهه کلنۍ څخه نیولې تر شپاړلس کلنۍ پورې د ځلمیتوب او بلوغ پړاو ته رسېږي، یعنې چې ځینې یې ژر او ځینې یې په ځنډ سره. بل توپیر دا دی، چې نجونې تر هلکانو ژر بلوغ ته رسېږي. په اسلام کې هغه انسانان چې بلوغ ته نه وي رسېدلي ځانګړي حقونه او وجایب لري، لکه:

په جزایي برخه کې عادي محبس ته استول کیږي، نه محکمې ته، په جنایي جرمونو کې یې په خپل ځان ګواهي او اقرار نه منل کیږي، همدارنګه په نورو ډیرو برخو کې هم ورسره د ماشومانو د قوانینو له مخې چال چلند

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي؛ خو کله چې مسلمان بالغ شي، نو د اسلامي شریعت له مخې ټول هغه حقونه ترلاسه کوي، چې نور بالغ مسلمانان يې لري، خو که جرم، جنایت او ګناه وکړي، نو د ماشومانو د قانون او حقوقو له مخې ورسره پرېکړه نه کېږي، بلکې شرعي حد پرې پلی کېږي، په دغه صورت کې د عادي محبس پرځای محکمې ته استول کېږي او د اسلامي محکمې له پرېکړې سره سم به ورته سزا ورکول کېږي. پوښتنه داده چې د اسلام په مبارک دین کې د عمر کوم پړاو کې يعنې په څو کلنۍ کې انسان بالغ ګڼل کېږي، چې د عمر هغه برید ته په رسېدو يې د کوچنیوالي دوره پای ته رسېږي؟ د ماشوم پېژندنی په اړه د علامه ابن اثیر تعریف له قرانکریم څخه اخیستل شوی دی، په دې اړه د قران کریم د (نور) سورت په نهه پنځوسم ایات کې راغلي دي:

"و اذا بلغ الاطفال منکم الحلم فلیستاذنوا کما استاذن الذین من قبلهم ".

ژباړه: (کله چې ستاسو ماشومان بلوغ (ځوانۍ) ته ورسېدل نو اجازه دې واخلي لکه څنګه چې له دوی نه مخکې کسانو اجازه اخیستله).

ډېری دیني علما د (الحلم) کلیمه (ځوانۍ ته د رسېدو) په مانا تفسیروي، د ځوانۍ مرحلې ته د رسېدو نښې نښانې په نجونو کې دا وي، چې میاشتنۍ ناروغي ورته پیدا شي او په هلکانو کې دا وي چې له احتلام سره مخامخ شي (په خوب یا په ویښه کې انزال وکړي او غسل پرې واجب شي.) لکه وړاندې مو چې یادونه وکړه په نجونو او هلکانو کې ځوانۍ ته د رسېدو عمر توپیر لري، په نجونو کې له نهه کلنۍ څخه نیولې تر دیارلس کلنۍ پورې او په هلکانو کې له دیارلس څخه نیولې ترشپاړلس کلنۍ پورې د ځوانۍ نښې څرګندېږي.

د ماشوم له پیدا کېدو څخه وروسته د عمر پړاوونه په پینځو برخو ویشل کېږي:

۱. کوچنیوالی
۲. هلکتوب
۳. ځواني (ځلمیتوب، پېغلتوب)
۴. لویوالی
۵. زوړوالی

" حضرت محمد (ص) د انسان د ودې لومړي پړاوونه په درېو مهمو برخو ویشي او فرمایي: "

الولد سید سبع سنین وعبد سبع سنین و وزیرسبع سنین".

يعنې ماشوم په لومړیو اوو کلونو کې پاچا او سرخېل وي، په دویمو اوو کلونو کې مطیع او مریه وي او په وروستیو اوو کالو کې وزیر او مسوول وي. د حضرت محمد (ص) د دې وینا له الهام سره تر یوویشت کالو د انسان د ودې او لوېدا پړاوونه په درېو پړاوونو وېشل کېږي، پاچاهي، اطاعت او وزارت. دا درې پړاوونه له وړوکوالي، هلکتوب او ځلمیتوب سره سمون خوري".

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ملي او نړیوالو قوانینو کې د ماشوم پېژندنه

د ملګرو ملتونو د کوچنیانو د کنوانسیون په لومړۍ ماده کې راغلي دي چې:

"د دې کنوانسیون په نظر هر انسان چې له اتلس کلنۍ څخه ټیټ عمر لري ماشوم ورته ویل کېږي. "د افغانستان په قوانینو کې هم د ماشومتوب عمر په اتلس کلنۍ کې پای ته رسېږي، چې دغه عمر د ایران او پاکستان په قوانینو کې هم په همدغه عمر پای ته رسېږي.

په یو شمېر نورو اسلامي هېوادونو کې هم د ماشومتوب او تنکې ځلمیتوب دوره تر اتلس کلنۍ پورې ده، چې موږ یې د بېلګې په توګه لاندې هېوادونه یادوو:.

لبنان: د (۱۹۳۲) کال د قانون د(۲۱۵) مادې پر بنسټ

سوریه: د (۱۹۴۹) کال د مدني قانون د (۴۶) مادې د دویم بند پر بنسټ

عراق: د (۱۹۸۰) کال د ماشومانو د ملاتړ په برخه کې د دغه هېواد د قانون د درېیمې مادې د لومړي بند پر بنسټ.

اردن: د(۱۹۷۶) کال د مدني قانون د (۴۳) مادې د دویم بند پر بنسټ

مراکش: د قانون د (۲۰۹) مادې پر بنسټ.

او دې ته ورته په نورو هېوادونو کې د ۱۸ کلنې څخه ټیټ عمر د ماشومتوب د پراوونو په نامه یادوي.

خو په لاندې هېوادونو کې د ماشومتوب دوره فرق کوي په دغه هېوادونو کې د ماشومتوب دوره تر ۲۱ کلنی پورې ټاکل شوې ده.

مصر: د (۱۹۴۸) کال د مدني قانون د (۴۴) مادې د دویم بند پر بنسټ.

لیبیا: د (۱۹۵۳) کال د مدني قانون د (۴۴) مادې د دویم بند پربنسټ.

کویټ: د (۱۹۸۰) کال د مدني قانون د (۹۶) مادې د دویم بند پر بنسټ

د ماشومتوب او تنکې ځلمیتوب دوره په (۲۱) کلنۍ کې پای ته رسېږي.

دغه دوره په تونس کې د دغه هېواد د شخصیه احوالو د قانون د (۱۵۳) مادې پر بنسټ (۲۰) کاله، د الجزایر د مدني قانون د (۴۰) مادې پر بنسټ (۱۹) کاله ټاکل شوېده "

د اروا پوهنې له مخې د ماشوم پېژندنه

د اروا پوهنې ډېرې علماوو له ماشومتوب څخه تر ځلمیتوب پورې عمر په بېلابېلو برخو وېشلی او د خپلو فکرونو له مخې یې دغه دورې تحلیل کړی، چې یو ډول وېشنه یې په لاندې ډول ده .

۱ ـ له زېږېدنې څخه تر درې کلنۍ پورې.

۲ ـ له درې څخه تر شپږ کلنۍ پورې.

۳ ـ له شپږ څخه تر دولس کلنۍ پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ له دولس څخه تر شپاړلس کلنۍ پورې (نوی ځلمیتوب).

۱. له زېږون څخه تر درې کلنې پورې دوره :

په دې دوره کې ماشوم خپل ژوند له ځړا او حرکتونو سره پیلوي، د چاپېریال له څېزونو سره د لمس له لارې اشنا کېږي، د حرکت او خوځښت قوه ورسره مله وي، خو د کوم کار کولو شیمه او توان نه لري د نورو (لویانو) مرستې او ساتنې ته اړ وي. د چاپېریال شته څېزونه د بدن د حرکاتو او جنسي غړو په مرسته درک کوي، خو ځینې مهارتونه، لکه: د څېزونو نیول، کېناستل، په لاره تګ او نور زده کوي، له نورو سره د اړیکو ټینګولو له پاره وړې وړې خبرې زده کوي او له فزیکي اړخه یې فکر او بدن وده کوي.

۲. له درې څخه تر شپږ کلنۍ پورې دوره :

په مخکې دوره کې مو ولوستل چې ماشومانو خپلې اړتیاوې او غوښتنې د نورو (لویانو) په مرسته ترسره کولې او ورو ورو د خپلواکه کېدو په لور روان وو، په دې دوره کې د ماشومانو تجربې او د چاپېریال په اړه یې معلومات ډېرېږي، د کونجکاوۍ حس یې غښتلی کېږي، پوښتنه کول زده کوي، سلګونه او زرګونه پوښتنې ورته پیدا کېږي، خو ځوابولی یې نه شي. په دغه دوره کې ماشوم خپل ځان هم پېژني، خپل کړه وړه، فکر او حس پیاوړی کوي، هڅه کوي چې خپل فردي شخصیت پیدا کړي. په دغه دوره کې له ماشوم سره خیال هم ملګری کېږي. د هر څه په اړه منطقي فکر نه شي کولی، هر څه د خیال په مټ په واقعیت بدلوي. د دې دورې بله ځانګړتیا دا ده چې له لوبو سره د ماشومانو مینه پیدا کېږي، چې په لوبو کې یې شخصیت وده کوي، ژبه او اخلاق زده کوي. د دې دورې ماشوم پېښې (تقلید) زده کوي، د مشرانو د وینا او کړو وړو پېښې کوي، په پای کې دغه دوره ښوونځي ته په ورتګ سره پای ته رسېږي. دا دوره تر زیاته حده د ماشوم په خپل ذهني انکشاف پورې اړه لري، او ټولې زده کړې یې غېر فعالې وي یعنې زده کړې یې په لیدو او تقلید ولاړې وي. ټولنپوه ډاکټر ملت مل پخپل کتاب (ځوانان او شخصیت جوړیدنه) کې داسې کښلي دي:

(دا دوره د ماشومانو د زده کړې او د عامه ټولنیزو پورې د اړونده شیانو د زده کړې لپاره ډېره مساعده دوره ده. نړیوالو تحقیقاتو دا په ګوته کړې ده، چې که ماشوم ته مناسب چیلنجي محیط برابر کړای شي، دوی پدې دوره کې په خورا ډېره چټکۍ سره اجتماعي موضوعات لکه د نورو ژبو زده کول په خورا اسانی او بیړه تر سره کولای شي.)

۳. له شپږ څخه تر دولس کلنۍ پورې دوره:

دې دورې ته د ماشوم د جسمي، فکري، عاطفي او رواني ودې دوره هم ویل کېږي، چې له رسمي زده کړو سره پیلېږي. کوچنی ورسره له ماشومانه فکر کولو څخه د منطقي فکر کولو په لور درومي، له کورنۍ څخه په ټولنه کې د ازاد ژوندانه په لور ګامونه اخلي، پوښتنې یې له استدلال سره ملې وي، د ښوونځي له چاپېریال او رسمي زده کړو سره اشنا کېږي او ټولنیز ژوند پیلوي. په دې دوره کې د تېرې دورې ډېرو هغو پوښتنو ته چې د خیال په مټ یې ورته ځوابونه پیدا کول، اوس یې د منطق او استدلال په زور ورته ځوابونه پیدا کوي هغه هم د خپل فکر په چوکاټ کې. د دې دورې ماشوم ورو ورو د منطقي فکر کولو پر ځای د انتقادي فکر کولو په لور ګامونه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. له دولس څخه تر شپاړس کلنۍ پورې دوره :

په دې پړاو کې په انسان کې جسمي، فکري او عاطفي بدلونونه راپيدا کېږي، په دې مانا چې خپل عواطف کنټرولولې نه شي، خپل ځان نه پېژني، له مشرانو سره يې چال چلند په ټکر بدلېږي، د ماشومتوب تجربې او فکر يې د دې دورې د جسمي، عاطفي او عقلي بدلونونو ستونزې نه شي حل کولی، د مشرانو پر ځای ورته خپل منګه (همزولی) ښه ښکاري او د همزولو د کړو وړو پېښې کوي. د دې دورې ځلمي ډېرې نيوکې کوي، تند عواطف يې د مخالف جنس لوري ته مخه کوي، خيال پرې ډېره غلبه کوي، هغه څه چې په حقيقي عالم کې نه پېښېږي د خيال په زور پې را منځته کوي. د دی پړاو بل ستر بحران چې ځلمي ورسره لاس او ګرېوان وي د بلوغ د مرحلې رامنځته کېدل دي، بلوغيت يوائې جسمي بدلون نه وی، بلکې جسمي بلوغ له فکري او عاطفي بلوغ سره يو ځای وي. د دې دورې په پای کې د جسمي بدلونونو چټکه وده بېرته کمېږي، چې نښې نښانې يې له ورايه په ځلميانو کې تر ستر ګو کېږي، چې خپل عواطف کنټرولوي، فکر کوي او له مشرانو سره په خپل تېر چال چلند باندې بيا غور کوي، په خپل نفس اعتماد پيدا کوي، خو دغه بدلونونه په خپل سر نه رامنځته کېږي، بلکې ښوونې او روزنې ته اړتيا وي، د ځلميانو حقونو ته درناوی او هغوی ته په ټولنيز ژوند کې ازادي ورکول يې غوره لاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بشري حقوق پراخه لومړنۍ ټولګه پـــــنځم
ټولټـــــــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لومړيو اوو کلونو د پراو په پای کې چې ماشوم هلکتوب ته ننوځي احساس کوي، چې په يوازې تن، ټول معلومات او خواوشا پراخ اطلاعات او پوهه لاسته نه شي راوړلی، بلکې ځان هغه چا ته ارمن ګڼي، چې د ده پرې باور وي او ده ته پام کوي، چې دې ترې د رامنځته شويو پوښتنو ځواب تر لاسه کړی شي.

اوس نو د ماشوم ذهن وده کړې وي، غوښتنې او اړتياوې يې تر يوه بريده معقولې شوې وي، او دې ته چمتو وي، چې له نورو تجربې او علم زده کړي. په دې عمر کې لکه څنګه، چې امام صادق عليه السلام فرمايي: و تعليم الكتاب؛ يانې ماشوم په دې عمر کې زده کړه کولای شي. نور نو نه ښايي چې ماشوم خپلواک پرېښودلی شي، بلکه د مختلفو وختونو لپاره يې بايد مهال وېش او پروګرامونه جوړ کړای شي، تر څو منظم او با انضباطه عادت شي. همدا راز په دې عمر کې بايد ورو ورو ماشوم د عبادي او ديني اعمالو کولو ته هم وهڅول شي او د عبادت زده کړه يې هم پيل کړي.

د اسلامي دودونو، ادابو او ټولنيزو دودونو د زده کړې مهمه دوره

د ښوونې او روزنې له نظره د عمر دويم اووه کلونه د ذهني ودې، د حافظې او فکر د چمتووالي له امله د زده کړې تر ټولو مهمه دوره ده. په همدغه وخت کې ماشوم بايد اسلامي اداب او عبادتونه زده کړي، لکه څنګه چې امام صادق عليه السلام فرمايي:

مروا صبيانكم بالصلواه اذا كانو سبع سنين و يودب سبع سنين؛

يانې ماشوم، چې د اوو کالو شي بايد لمونځ او نور اداب ورته وښودل شي.

هغه اداب او ښوونې، چې په دې مهال کې بايد د مور و پلار او ښوونکيو له خوا ماشوم ته وروښودل شي، په دغو اوو کلونو کې ورو ورو د ماشوم په شخصيت او جوړښت کې ځای نيسي او د هغه د راتلونکي شخصيت په جوړښت کې مهم رول لوبوي. په لويوالي کې د ماشوم ټول حرکات، کړه وړه او د احساساتو او جذباتو کنټرولول په دويمو اوو کلونو کې د هغه ښوونې او روزنې او د هغه د کړو وړو او شخصيت د چوکاټ جوړولو ته پاملرنه ده، ځکه چې له اوو څخه تر څوارلسه کلونو عمر د ماشوم د ودې او د هغه د حافظې يادښت او ذهن د خلا ډېر ښه دوره ده، په دې عمر کې د ماشوم د زده کړې چلند ډېر تېز او پياوړی وي. هغه اسلامي دودونه، اداب او لارې چارې، چې په حديثونو او روايتونو کې راغلي، ښوونکي او مور او پلار بايد په ډېر ښکلي او روان بيان، خوږه ژبه او د خوږو او په زړه پورې کيسو په چوکاټ کې ماشومانو ته بيان کړي، چې په طبيعي او سمه توګه يې ياد شي.

۳- د نوي بلوغيت دوره:

دا دوره له ديارلس کلنۍ څخه شروع کېږي او تر اتلس کلنۍ پورې دوام کوي چې په دې مرحله کې ماشوم له کور څخه بهر ماحول سره زياته اشنايي پيدا کوي او په پوره توګه د ښو او بدو تفکيک کولی شي.

دغه دوره ډېره خطرناکه او سرکشه دوره وي، په دغه دوره کې ماشوم ته هر څه چې خپله او همزولي يې کوي ښه ښکاري، د مشرانو خبرو ته هم اهميت نه ورکوي فکر کوي، چې زه په هر څه پوهېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشوم د ادیانو له نظره

۱. د ماشوم حقوق د اسلام له نظره:

دماشوم د حقوقو په اړه ډېر څه ځوارلس سوه کاله وړاندې داسلام د مبارک دین له خوا وضع شوي دي، نو اسلامي نظام ماشوم ته په حق ورکولو کې د نورو نظامونو نه وړاندې دی. د دې هر څه پیل د یوې صالحي مور په ټاکنه، دحمل په دوران کې پاملرنه، دماشوم سقط حرامول، حاملې ښځې ته دروژې خوړلو اجازه، د حاملې ښځې تر ولادت د کوروالي ځنډول او بیا د ماشوم په راتګ خوشحالېدل، په غوږ کې یې اذان کول، ویښتان ئې خریل او د ویښتانو په وزن یې صدقه ورکول، ښه نوم وربانډی ایښودل، د شودو ورکولو موده یې پوره کول، د ماشوم سنتول، نفقه یې ورکول، او په اسلامي تربیه باندې یې روزل پکې شامل دي. لکه څرنګه چې اسلامي تربیې دیوې سالمې تربیې مهم اړخونه په نظر کې ساتلي، چې دا عبارت دي له، ایماني او عبادي تربیه، بدني تربیه، اخلاقي تربیه، عقلي تربیه او اجتماعي تربیه او کومې لارې، چې اسلام د تربیې لپاره ځانګړې کړې عبارت دي له، په اشاره سره تربیه، په نصیحت سره تربیه او لاره ښودنه، په عادت، تشویقولو او ډارولو تربیه.

ماشومان په اسلام کې د دنیاوي ژوند ښکلا او ګلان دي. دوی د سترګو نور او د زړونو ارام دي. د راتلونکي ورځې هغه ځوانان دي، چې د نړۍ ټول امېدونه په دوی پورې تړلي دي.

کله چې د انسان عقل بشپړ، بدن یې قوي او د توپیر کولو صلاحیت پیدا کړي، نو په اسلامي اوامرو باندې مکلف شي.

دا هغه مهم حقوق دي، چې اسلام ماشوم ته ورکړي، او د هغه د ژوند هرې مرحلې ته یې قوانین او مقررات په نظر کې نیولي دي، د مور په نس کې، د مور دشیدو د رولو، ماشومتوب، نیمچه ځوانۍ، ځوانۍ او بالاخره چې د سړیتوب مرحلې ته رسېږي، اهمیت ورکړي. او دا هر څه د دې لپاره دي تر څو وکولای شي ټولنې ته د چارو د سمون لپاره پوه، مدبر، متفکر او غښتلي اشخاص وړاندې کړي. چې مورږ دلته د لاندې مهمو حقوقو څخه بحث کوو.

الف- د ماشومانو له وژلو څخه مخنیوی کول:

د اسلام په مبارک دین کې یو لړ قوانین موجود دي، چې د بشر ژوند د ارزښت ښودونکي دي. په دې قوانینو کې داسې را غلي دي، چې هر نوع بې فکري او بې پروایي د ماشوم د روزلو په باره کې لویه ګناه ده. لکه په قران کریم کې چې فرمایي:

ژباړه: ((خپل ماشومان د غریبۍ او ولږې له ویرې مه وژنئ. مورږ هغوي او تاسې ته رزق درکوو؛ ځکه چې د دوی وژل لویه خطا ده.))

(سوره اسرا ایه ۳۱)

د اسلام مبارک دین مور او پلار د ماشوم د روزولو لپاره نومولي دي او پر همدې اساس ماشوم یو امانت دی، چې د مور او پلار په وا سطه باید د هغه پالنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب- د ماشومانو قبلول:

دا د ماشوم یو مهم حق دی. ماشوم یو مېلمه دی چې مور او پلار په خپل ژوند کې دعوت کړی دی او د دې په پیدایښتې ډول لکه د جنسیت، سلامتۍ او معیوبیت کې کوم رول نه لري.

د دې مېلمه نه قبلول او ورسره بې پروایي کول ظلم دی. باید هغه چې په هر شکل دی، سالم یا معیوب، بدرنګ یا ښکلی، نجلۍ وي که هلک، باید قبول شي او د سالمې تربیې لپاره یې کوښښ وشي، چې دا د ماشوم پر شخصیت باندې خاصه اغېزه لري، تر څو ماشوم د کمتریۍ احساس و نه کړي.

ج- د احترام حق:

ماشوم د خدای جل جلاله مخلوق دی، او له مور او پلار سره د خدای (ج) امانت دی، د دې امانت باید احترام وشي. لکه څرنګه چې په قران کریم کې فرمایي.

((و لقد کرمنا بنی ادم)) (سوره اسرا ایه ۷۰) ترجمه: موږ انسان پر ټولو مخلوقاتو باندې باعزته وګرځاوه.

بناً دی هغه څوک دی چې د خدای جل جلاله د تکریم عنایت لاندې دی، باید د نورو د بې احترامۍ لاندې را نشي او حتی مور او پلار هم دا حق نه لري. په حقیقت کې ماشوم ته احترام د هغه حق دی.

د- د غذا حق:

د ماشوم جسماني نمو له مادي وسایلو سره تړلې ده. پر مور او پلار دا لازمه ده، چې د هغه بدني غوښتنې پوره کړي. د ماشوم رشد او نمو په غذا، کافی حفظ الصحي، اوبو، هوا، د اوسېدو ځای، خوب، استراحت، لوبو او داسې نورو پورې اړه لري. هر ماشوم نظر د هغه سن ته په هماغه اندازه غذا ته ضرروت لري. د ماشوم د غذا ضرورت د وخت په تناسب سره فرق کوي، چې په لومړي وخت کې څومره غذا ته ضرورت لري، په وروستیو کې دا ضرورت فرق کوي.

دا یو حقیقت دی د ماشوم د بدني ودې او نمو ضرورتونه، د هغه غریزه او تمایل په غذا سره روښانه کېږي. او د هغه سلوک د دې احتیاج په واسطه ښکاره کېږي. د غذا له نظره ماشوم پر مور او پلار حق لري چې ضرورتونه یې پوره کړي.

و- د لوبو حق:

فزیکي فعالیت د انسان له ضرورتونو څخه دی او د هغه د بدني رشد د تکامل اساس دی. اکثره علماء په دې عقیده دي چې سالم ماشوم ښه خوري، ښه خوب کوي او ښه مستي کوي. د لوبو په اړه زیات تعریفونه شوي دي خو له هغو څخه یو هم دا دی:

لوبې هغه ډول فعالیت ته ویل کېږي چې ماشوم یې د خوند اخیستلو لپاره سرته رسوي، بغیر له دې څخه چې د هغې نتیجې ته نظر وکړي او یا دې ته منتظر وي چې یو څه لاسته راوړي. ماشوم بېدون له اجبار څخه په خپلې خوښې سره صرف د خپلې مستۍ په خاطر او د خوند اخیستلو په خاطر د غریزې په امر لوبې کوي.

ز – د نوم لرلو حق:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولینه نیکي او احسان د مور او پلار د ماشوم پر وړاندې دا ده چې د هغه له زېږېدو څخه وروسته پر هغه باندې یو ښه نوم کېږدي. که چېرته پلار د ماشوم لپاره بد نوم غوره کړي، په رښتیا سره پر ماشوم بده اغېزه کوي او د هغه شخصیت ته ضربه رسوي؛ ځکه چې ښه نوم د ماشوم حیثیت او اعتبار زیاتوي. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایي: د اولاد له حقوقو څخه پر پلار باندې درې شیان ډېر ضروري دي: ښه او نېک نوم، لیک و لوست ور زده کول او کله چې بالغ شي واده ورته کول.

له دې څخه معلومېږي چې ښه او نېک نوم د یو ماشوم پر مور و پلار باندې یو مسلم حق دی.

ح – ترحم او محبت:

د اسلام په مبارک دین کې پر ماشوم د مینې او ترحم په باره کې زیاته توصیه موجوده ده او خپل پیروان یې پر ماشوم باندې ترحم او محبت ته تشویق او ترغیب کړي دي، چې پر ماشومانو باندې رحم وکړي.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

(له خپلو ماشومانو سره مینه وکړئ او پر هغوي باندې رحم وکړئ.) په بل ځای کې فرمایي:

(خپل ماشومان ښکل کړئ، ځکه چې پر ښکلولو باندې تاسو ته داسې مقام او مانۍ درکول کېږي چې د هرې مانۍ په مینځ کې به پینځه سوه کاله منزل وي.)

نو له دې څخه معلومېږي چې نه یوازې له خپل ماشوم سره باید زیاته مینه وشي، بلکې له هر ماشوم سره باید مینه وشي.

ط – د ښوونې او روزنې حق:

له هغه ځایه چې د ماشوم اولینه روزنه د مور او پلار په لاس کې ده. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ماشوم با سواده کول د مور او پلار له اساسي دندو څخه شمېرلي دي. د دې لپاره چې ماشوم باید پر ژوند باندې غالب اوسي او د خپل ژوند په اوږدو کې د مبارزې لپاره باید مسلح وي، نو له علم څخه هېڅ قوي سلاح وجود نه لري.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هم لومړنۍ زده کړې د سلاح په نوم یادې کړي دي، نو له همدې وجې نه په ټولو اسلامي هېوادونو کې لومړنۍ زده کړې اجباري دي او د ماشوم حق ګڼل کېږي.

په دې باره کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي.

ژباړه: ((پر پلار باندې د ماشوم له حقوقو څخه یو هم دا دی چې خپل اولاد نېک او با ادبه وروزي.))

ک- د روغتیا د پاملرنې حق:

اسلامي شریعت کې نظافت او روغتیا د خاصې پاملرنې وړ ګرځېدلې ده، او په مختلفو ځایونو کې ترې یادونه شوې ده. لکه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

(پاکوالی د لمونځ کونجي ده او همدارنګه په حدیث شریف کې راغلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پاکوالی نیم ایمان دی.)

له دې څخه داسې معلومېږي چې د روغتیا لپاره پاکوالی ډېر مهم دی او خصوصاً د ماشوم په روغتیا کې باید ډېر پام وشي، تر څو ماشوم د سالمې روزنې او سلیم عقل خاوند شي.

ل – د مراقبت او ساتنې حق:

د اسلام مبارک دین د ماشومانو مراقبت او ساتنه واجب ګڼلي ده او اسلامي علومو کې د حضانت په نوم یادېږي. که چېرې ماشوم ته سمه پاملرنه و نه شي، نو ماشوم به له مینځه لاړ شي. له همدې وجې نه د اسلام په مبارک دین کې د ماشوم ساتل او د هغه ښوونه او روزنه تر څو چې ماشوم ورته ضرورت لري واجب ده.

حضانت: په شرعي اصطلاح کې حضانت عبارت دی، د ماشوم له هغې ساتنې، روزنې او پالنې څخه چې د هغه چا په واسطه، چې پرې مکلف وي، سر ته رسېږي.

م – د امنیت حق:

امنیت د وېرې په مقابل کې د هر انسان حق دی. انسان له هر څه څخه زیات امنیت ته ضرورت لري. د ماشوم د امنیت تامین چې بې له هر نوعه وېرې ژوند وکړي، یو مسلم حق دی.

امنیت د ماشوم په روح او روان باندې ډېر تاثیر لري، که ماشوم په یوه جنګي ماحول کې لوی شي، طبعاً ماشوم سره به جنګي فکرونه وي او که ماشوم په یوه سوله ییزه فضا کې لوی شي، نو د ماشوم ذهن، فکر او روح به ارامه او خوشاله وي، چې دغه حالت د دې باعث ګرځي چې ماشوم باید د خپل کورنۍ، ټولنې او هېواد په هکله تعمیري فکر وکړي.

ن – د عدالت حق:

څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه چې کله ماشوم دنیا ته راشي نو د یو سلسله حقوقو درلودنکی وي او دا حقوق باید ورته ورکړل شي تر څو ماشوم په یو عادلانه ماحول کې ژوند وکړي او ماشوم پر دې پوه شي چې په کوم ماحول کې ژوند کوي، عادلانه دی. ماشوم ته د ماشومتوب حقوق په پوره توګه ورکول، هغه ته د عملی عدالت یو ښه سبق دی، چې په نتیجه کې یې دغه ماشوم هم بیا د ټولنې په یوه عادل غړي بدلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په قوانينو کې د ماشوم حقوق

د افغانستان په مختلفو قوانينو کې د ماشوم له حقوقو څخه يادونه شوې او هر يو په خپل ځای تر څېړنې لاندې نيولي دي، چې موږ يې هر يو په جدا جدا ډول مطالعه کوو.

الف: په اساسي قانون کې د ماشوم حقوق:

افغانستان داسې يو هېواد دی چې په دغه برخه کې لا دومره پرمختګ نه دی کړی بلکې د پرمختګ په حال کې دی.

د افغانستان په اساسي قانون کې د ماشوم په اړه داسې کوم خاص څه نشته ولې په مجموعي ډول د افغانستان د افرادو په اړه صراحت لري، چې ماشومان هم په دې جمله کې شاملېږي، هغه په لاندې ډول سره دي.

۲۲ ماده: هر نوعه تبعيض او امتياز د افغانستان د اتباعو تر مينځ ممنوع دی.

د افغانستان ټول اتباع نارينه وي او که ښځينه د قانون پر وړاندې د مساوي حقوقو او وجايبو درلودونکي دي.

۲۳ ماده: ژوند يوه الهي تحفه ده او د انسان طبيعي حق دی. هېڅوک بغير له قانوني مجوزه له دې حق څخه محرومېدای نه شي.

۲۴ ماده: ازادي د انسان طبيعي حق دی. دا حق بغير د نورو له ازادۍ او عامه مصالحو څخه، چې د قانون په واسطه تنظيمېږي، حدود نه لري.

ازادي او انساني کرامت له تعرض څخه مصئون دي.

دولت انساني ازادۍ او کرامت ته په احترام او حمايت مکلف دی.

۵۴ ماده: کورنۍ د ټولنې اساسي رکن تشکيلوي او د دولت تر حمايت لاندې ده.

دولت د کورنيو د جسمي او روحي سلامتيا په منظور، په خاص ډول د ماشوم او مور، د ماشوم تربيه او د اسلام مبارک دين سره د مغايرو رسمونو د له مينځه وړلو په خاطر لازم تدابير نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مدني قانون کې د ماشوم حقوق

د افغانستان د مدني قانون په لومړي ټوک کې هم یوازې د ماشوم د نفقې په برخه کې یادونه شوې ده او په دې برخه کې یې مسئوولیت پلارته ور په غاړه کړی دی، خو دغه مسئوولیت د خصوصي حقوقو په چوکاټ کې لیکل شوی دی ولې څنګه چې قضایي تګ لار ده، نو د خصوصي حقونو د نشتوالي په صورت کې زیان رسیدونکي باید د دعوا مدعي او محرک وي او دغه کار د ماشومانو لپاره امکان نه لري. سره له دې د وضع شوې نفقې په حق باندې د محدودیتونو شته والی هم وجود لري. مثلاً که چېرې ماشوم کار وکړي او یا شتمني ولري پلار د هغه د نفقې په تامین باندې مکلف نه دی. یو بل په زړه پورې ټکی چې په مدني قانون کې شته دا دی، چې د بلوغ تر عمر لاندې د ماشوم کار کول په رسمیت پیژندل شوي دي لکه څنګه چې د ۲۵۸ مادې په دوېم بند کې داسې لیکل شوي دي (که چېرې د اولاد د کار او کسب عواید د هغه د نفقې له لګښت څخه زیات وي، اضافي اندازه د پلار له خوا ذخیره او له بلوغ څخه وروسته ورته ورکول کیږي).

د مدني قانون له مخې د نفقې مصارف، خوراک، پوښاک، د استوګنې ځای او د تداوي لګښت دي. دا له هغو بر داشتونو را پورته کیږي، چې په پخوا وخت کې د یو فرد له حیاتي اړتیاوو څخه شمېرل کیدې، خو نن ښوونه او تحصیل د خوراک او پوښاک په څېر د هېواد د راتلونکي نسل لپاره حیاتي ارزښت لري. دغه موضوع هم د نفقې په برخه کې تعریف شوې نه ده او د قانون له مخې پلار د تعلیم د لګښت په تامین باندې مکلف نه دی. دغه قانوني نیمګړتیا د دې لامل کیږي، چې حتی د اساسي قانون د ۴۳ مادې په ډول قانوني اټکلو نه چې د هېواد د ټولو اتباعو لپاره ترمنځني دورې پورې زده کړه جبري ده، اجرایي زمینه ورته برابره نه شي او په عمل کې پلي نه شي. په مدني قانون کې سر پرستي هم د نفقې په څېر د ماشوم مصلحت په پام کې نیول شوی نه دی، یوازې له پلار یا مور سره د ژوند تېرولو لپاره د ماشوم عمر قید شوی دی. په داسې حال کې چې د ماشوم مصلحت ته باید د لومړیتوب حق ورکړ شي. د سر پرستۍ لپاره د ماشوم عمر ډېر کم دی. د معیشت لږ تر لږه لګښت د حاضن حق الزحمه او د مور تر سر پرستۍ لاندې د ماشوم نفقه هم په هېڅ یوه قاعده کې ذکر شوې نه ده. البته مدني قانون پلار د دغو لګښتو په تامین باندې مکلف کړی دی، خو د ډیرو نورو ستونزو په څېر د څارنې د ارګانونو د نشتوالي له امله اجرایي برخه یې کمزورې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب. د افغانستان په جزايي قوانينو کې د ماشوم حقوق

په ځينې هېوادونو کې د هغوی په جزايي قوانينو او په امنيتي تدابيرو کې د ماشومانو لپاره سن تعين شوی او ماشومان له هغې عمر څخه په کم عمر کې د جرم د ارتکاب په وخت کې غير مسئوول شمېرل کېږي.

د مثال په ډول د امريکا، سويس او پرتګال هېوادونو کې تر اووه کلنۍ پورې ماشوم غېر مسئوول ګڼل کېږي، او جزائي مقررات وربانديې نه تطبيقېږي. همدارنګه په انګلستان او هالينډ کې دا سن لس کاله دی او په يونان کې دولس کاله، په لهستان يا پولينډ کې ديارلس کاله دی؛ خو په اطريش، بلژيک، د چک جمهوريت او سلواکيا، ايټاليا، المان او يوګوسلاويا کې حد اقل سن څوارلس کاله تعين شوي دی.

فرانسوي حقوق پوهانو اول کې اووه کلني قبوله کړې وه، ولې په اخر کې يې تجديد نظر وکړ او ديارلس کلني يې په رسميت وپېژندله.

زمور د ګران وطن افغانستان د جزا قانون (چې په ۱۳۵۵ ه ش کال کې نشر شوي او تر اوسه پورې مرعي الاجرا دی) په درېيم باب، اول فصل کې د جزا او د هغې موانع ، نوم لاندې په ۲۳ ماده او له اوياومې مادې څخه تر ۹۳ مې مادې پورې د ماشومانو د تخلفاتو په اړه داسې توضيح راغلې ده.

اويايمه ماده:

د صغير اطلاق پر هغه کوچني کېږي چې د پوره اووه کلنۍ او ديارلس کلنۍ په عمر کې واقع وي.

يو اويايمه ماده:

مراهق په هغه شخص اطلاق کېږي چې د ديارلس کلنۍ عمر يې پوره کړی وي او اتلس کلني يې نه وي پوره کړي.

دوه اويايمه ماده:

هغه ورکوټی چې د اووه کلنۍ عمر يې نه وي پوره کړی، پر هغه جزايي دعوه نه شي اقامه کېدلی.

درې اويايمه ماده:

د عمر تثبيت د تابعيت د تذکرې پر اساس صورت مومي. که د صغير ظاهري حالت د تابعيت په تذکره کې له درج شوي عمر سره تفاوت ولري، نو محکمه کولی شي د طبي هيئت نظريه حاصله کړي.

څلور اويايمه ماده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

که صغیر د قباحت ارتکاب کوونکی وګرځي، محکمه کولی شي، چې په دې قانون کې د درج شوو جزاګانو په عوض صغیر د قضاء په مجلس کې توبیخ کړي، یا د هغه د تسلیمېدلو په باره کې والدینو ته یا هغه شخص ته چې پر نفس یې د ولایت حق لري، او یا یو امین شخص ته چې په راتلونکې وخت کې د هغه د ښې تربیې متعهد شي، د حجز حکم وکړي، یا دا چې په دارالتادیب یا په خیریه موسسو یا په هغو مدرسو کې چې د دولت له خوا په دې منظور تاسیسېږي د هغه د حجز حکم صادر کړي.

پینځه اویایمه ماده:

که صغیر د جنحې ارتکاب کوونکی وګرځي، محکمه کولی شي چې د هغه په باره کې له لاندې تدبیرونو څخه له یوه څخه استفاده وکړي:

۱- د دې قانون د (۷۴) مادې مندرجو اشخاصو ته د هغه تسلیمول، په دې شرط چې ذکر شوې موده له درې کلونو څخه زیاته او له شپږو میاشتو څخه کمه نه وي، او تسلیمېدونکی شخص به په لیکلې توګه تعهد کوي، چې په راتلونکې وخت کې به د صغیر ښه تربیه کوي.

۲- د هغه حجز په دارالتادیب یا په یوه اصلاحي مدرسه کې، چې له شپږو میاشتو څخه تر درې کلونو پورې وي.

شپږ اویایمه ماده:

۱- که صغیر د داسې جنایت ارتکاب کوونکی شي چې جزا یې اعدام یا دوام لرونکی حبس وي، محکمه کولی شي چې د هغه حجز په دارالتادیب یا خیریه موسسو کې او یا په اصلاحي مدرسو کې حکم وکړي، په دې شرط چې د هغه د حجز موده له پینځو کلونو څخه زیاته نه وي.

۲- که د جنایت ټاکل شوې جزا اوږد حبس وي، نو حجز له یوه کال څخه کم او له څلورو کلونو څخه زیاتېدلی نه شي.

اووه اویایمه ماده:

که صغیر متعهد ته له تسلیمېدو وروسته د تعهد د مودې په اوږدو کې د جنحې یا جنایت ارتکاب کوونکی شي، محکمه کولی شي، چې متعهد په لاندې ترتیب په نغدي جزاء محکوم کړي.

۱- د جنحې د ارتکاب په حالت کې له یو زر افغانیو څخه تر دوه زرو افغانیو پورې نغدی جریمه ټاکل شوې ده.

۲- د جنایت د ارتکاب په حالت کې له یو زر افغانیو څخه تر پینځه زرو افغانیو پورې نغدي جریمه ټاکل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته اوویایمه ماده:

که صغیر له خپلوانو څخه غیر، یو بل چاته تسلیم شوی وي، د محکمې له خوا خپلوانو ته د هغه اعاده کول په خپله د هغه ماشوم او یا د هغه د یوه خپلوان د غوښتنې پر اساس صورت مومي، په دې شرط چې د تسلیمېدو د حکم د تنفیذ له وخته کم تر کمه یو کال تېر شوی وي. که یو ځل د ماشوم اعاده رد شوه، نو د اعادې بیا غوښتنه د هغې د ردولو له نېټې څخه تر شپږ میاشتو پورې جواز نه لري. که محکمه حکم وکړي چې صغیر دې د هغه خپلوانو ته اعاده شي، دا حکم د صغیر د تسلیمېدو په مانا دی.

نهه اوویایمه ماده:

هغه صغیر چې په دارالتادیب یا خیریه موسسو او یا په اصلاحي مدرسو کې تر حجز لاندې نیول کېږي، د مدرسې د امر په پیشنهاد، د مربوطه څارنوال په موافقه او د لوی څارنوال په منظوري له مدرسې څخه ایستل کېدای شي.

نومورې صغیر په هېڅ صورت په پورتنیو موسسو کې له پینځو کلونو څخه زیات یا د اتلس کلنۍ عمر له پوره کېدو څخه وروسته نه شي پاتې کېدای.

اتیایمه ماده:

که یو شخص د صغیر د تسلیمېدو له حکم څخه وروسته هغه پټ او یا یې فرارېدو ته مجبور کړي، یا په نورو وسیلو د هغه په فرارېدو کې مرسته وکړي، د حبس په جزاء تر شپږ میاشتو یا په نغدي جزاء تر شپږ زره افغانیو پورې محکومېږي.

یو اتیایمه ماده:

متعهد ته د تسلیمېدو حکم د اتلس کلنۍ د عمر په پوره کېدو ساقطېږي.

دوه اتیایمه ماده:

که مراهق د قباحت ارتکاب کونکی وګرځي، محکمه کولی شي هغه د دې قانون په ټاکلې جزا محکوم کړي او یا یې له والدینو څخه یوه ته د هغه د تسلیمېدو یا هغه چا ته چې د هغه پر نفس د ولایت حق لري یا یو امین شخص ته چې په راتلونکې وخت کې د هغه د ښې رویې تعهد وکړي، حکم وکړي.

درې اتیایمه ماده:

که مراهق د جنحې مرتکب کوونکی وګرځي، محکمه کولی شي د دې قانون د ټاکلو جزاګانو په عوض د دې قانون د (۷۶) مادې درج شوي تدبیرونه اتخاذ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور اتیایمه ماده:

۱- که مراهق د داسې جنایت ارتکاب کوونکی وګرځي، چې جزا ئې اعدام یا دوام لرونکی حبس وي، محکمه کولی شي، چې په دارالتادیب کې د هغه پر حجز چې له دوه کلونو څخه کم او له پینځلسو کلونو څخه زیات نه وي حکم وکړي.

۲- که د جنایت ټاکلې جزا اوږد حبس وي، په دارالتادیب کې د حجز د مودې کمه اندازه له یو کال څخه کمه او د هغې زیاته اندازه د اوږد حبس د زیاتې مودې له نیمایي څخه چې د هغه جنایت لپاره ټاکل شوې، نه شي زیاتېدای.

۳- که د جنایت زیاته اندازه جزا له لسو کلونو څخه کمه وي محکمه کولی شي، چې په دارالتادیب کې له یو کال څخه په کمه موده د هغې جنایت لپاره ټاکل شوې وي حکم وکړي.

پینځه اتیایمه ماده:

۱- د صغیر او مراهق عمر د جرم د ارتکاب په وخت کې د مسئوولیت د ټاکلو اساس پېژندل کېږي.

۲- که صغیر د جرم ارتکاب کوونکی وګرځي او د حکم د صادرېدو په وخت کې د مراهق عمر ته ورسېږي د صغیر په څېر ورسره معامله کېږي.

شپږ اتیایمه ماده:

۱- که مراهق د جرم ارتکاب کوونکی وګرځي او د حکم صادرېدو په وخت کې د اتلس کلنۍ عمر پوره کړي، د مراهق په څېر ورسره معامله کېږي.

۲- که هغه جرم چې مراهق یې ارتکاب کوونکی ګرځېدلی دی، جنایت یا جنحه وي چې په قانون کې د هغې جزاء اوږد حبس یا متوسط حبس ټاکل شوی وي، محکمه کولی شي چې په دارالتادیب کې د حجز د مودې په عوض په جنایت کې په متوسط حبس او په جنحه کې په لنډ حبس حکم وکړي.

۳- په پورتنۍ فقره کې په درج شوو مواردو کې د محکومیت موده په هیڅ صورت سره له هغه مودې څخه چې په دارالتادیب کې د حجز لپاره د ارتکاب شوي جنایت یا جنحې په مقابل کې ټاکل شوې، نه شي زیاتېدای.

۴- په دې قانون کې د اوږده حبس او متوسط حبس د ټاکل شوو جزاګانو نه غیر، نورې جزاګانې په نغدي جزاء چې له پینځه زره افغانیو څخه زیاته نه شي، تعویضېدلی شي.

۵- که مراهق په دارالتادیب کې د حجز په موده کې د اته لس کلنۍ عمر پوره کړي د محکوم بها حجز نورې پاتې مودې د پوره کېدو لپاره مربوط محبس ته انتقالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه اتیایمه ماده:

که صغیر یا مراهق له یو څخه د زیاتو جرمونو په ارتکاب تورن شي د هغه محاکمه د یوې دعوې په ضمن کې د ټولو جرمونو له پلوه جواز لري، په دې شرط چې محکمه یوائې د هغه جرم پر اساس حکم وکړي چې جزا یې په قانون کې زیاته شدیده ټاکل شوې وي.

اته اتیایمه ماده:

د صغیر او مراهق د جرم تکرار په دې قانون کې د مجازاتو د تکرار او د ټاکل شوو تدبیرونو د اتخاذ مانع نه ګرځي.

نهه اتیایمه ماده:

که صغیر یا مراهق په کراتو پر حجز محکوم شي په اصلاحي مدرسه کې د محکوم بها حجز ټوله موده له پینځو کالو څخه او په دارالتادیب کې له پینځه لس کلونو څخه نه شي زیاتېدای.

نوي یمه ماده:

۱- هغه مراهق چې د اته لس کلنۍ عمر یې نه دی پوره کړی، که دوه ثلثه محکوم بها جزاء په دارالتادیب کې تېره کړي، محکمه کولی شي، چې د مراهق یا له والدینو څخه د یو یا د هغه شخص په غوښتنه چې د هغه پر نفس د ولایت حق ولري د هغه د خوشې کولو حکم صادر کړي، په دې شرط چې دارالتادیب د ذکر شوي مراهق ښه سلوک د یو راپور په ضمن کې تصدیق کړي او څارنوالي یې تاییید کړي. په دې صورت کې مراهق د دې قانون د (۷۴) مادې له درج شوو اشخاصو څخه یوه ته تسلیمېږي.

۲- که مراهق د اته لس کلنۍ عمر پوره کړی وي او په دارالتادیب کې یې دوه ثلثه محکوم بها جزاء تېره کړي وي، هغه وخت خوشې کېدای شي چې په راتلونکې زمانه کې د خپل ښه سلوک تعهد په لیکلې توګه ورکړي.

یو نوي یمه ماده:

هغه حکمونه چې د جرم تکرار، تبعي، تکمیلي جزاګانو او امنیتي تدابېرو پورې مربوط دي، په صغیر او مراهق د تطبیق وړ نه دي. مصادره، د ځای بندول او له هغو ځایونو څخه منعه کول، چې د اخلاقو د انحراف باعث ګرځي له دې حکم څخه مستثنا دي.

دوه نوي یمه ماده:

پر حبس باندې د نغدي جزاء تعویض د صغیر او مراهق په باره کې جواز نه لري.

دري نوي یمه ماده:

هغه شخص چې د جرم د ارتکاب په وخت کې یې د اتلس کلنۍ عمر پوره کړی او د شل کلنۍ عمر یې نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره کړی، پر اعدام نه شي محکومېدای. په دې حالت کې دوام لرونکی حبس د اعدام قایمقام ګرځي.

د ماشوم په هکله د افغانستان د دولت رسمي مقرري

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت یو لړ مقررې د ماشوم په هکله وضع کړي دي، چې دا مقررې په لاندې ساحو کې وضع شوي دي، چې یوه مقرره یې د مور په شیدو سره د ماشوم د تغذیې د ملاتړ او پیاوړتیا مقرره، او بله یې د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونو د چارو د تنظیم مقرره ده، چې هره یوه یې په جدا جدا ډول مطالعه کوو.

لومړۍ مقرره:

د مور په شیدو سره د ماشوم د تغذیې د ملاتړ او پیاوړتیا مقرره:

د مور په شیدو سره د ماشوم د تغذیې د ملاتړ او پیاوړتیا مقررې مواد خورا ډېر زیات دي او مور نشو کولی چې ټول یې دلته رانقل کړو، ولې هغه خاص مواد یې چې مور ته لازم ښکاري، رانقلوو چې په لاندې ډول دي:

لومړۍ ماده:

دغه مقرره د عامې روغتیا قانون د دري دېرشمې مادې په (1) فقره کې د درج شوي حکم په رڼا کې وضع شوې ده.

دویمه ماده:

د دې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د ماشوم او مور د جسمي او روحي روغتیا او سلامتۍ تامینول.

۲- د مور په شیدو سره د تغذیې د ملاتړ او پیاوړتیا له لارې د ماشوم خوندي او کافي تغذیه.

۳- له مشخصو محصولاتو څخه د مناسبې ګټې اخیستنې یقیني کول.

۴- د مور په شیدو د ماشوم تغذیې ته د مور هڅول.

۵- د مور د شیدو په متممو خوړو د ماشوم تغذیه.

۶ - د ملي او بین المللي معیارونو مطابق، له روغتیایي موادو څخه په ګټې اخیستنې سره د ماشوم لپاره د سالمو خوړو تامینول.

نوټ: د لا زیاتو معلوماتو لپاره دې نومورې مقررې ته مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويمه مقرره:

د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونو د چارو د تنظيم مقرره

د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونو د چارو د تنظيم د مقررې مواد ډېر زيات دي، مونږ نشو کولی چې ټول دلته رانقل کړو، صرف دومره څه را اخلو چې موضوع راته روښانه شي.

لومړۍ ماده:

دغه مقرره د ماشومانو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د قانون د پيښځلسمې مادې د (۲) فقرې د حکم له مخې، د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونو د چارو د نبه تنظيم په منظور، وضع شوې ده.

دويمه ماده: د دغې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د ديني ارزښتونو او بشري حقوقو د موازينو په پام کې نيولو سره د مظنون، تورن يا پر حجز د محکوم ماشوم د حقوقو تامينول.

۲- د مظنون، تورن او پر حجز محکوم ماشوم نبه او ډاډمنه ساتنه.

۳- د ټولنې د سالمو افرادو په توګه، د هغوي د بېرته ستنېدو لپاره د مظنون، تورن يا پر حجز د محکوم ماشوم نبوونه او روزنه.

۴- د څارنوالۍ او د ماشومانو د اختصاصي محکمو د قراردادونو او فيصلو تطبيقول.

۵- پر حجز د محکوم ماشوم د بيا روزنې په کار کې د ماشومانو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د ادارو ونډه زياتول.

(۷)

نوټ: په دې اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره دې نومورې مقررې ته مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دماشومانو د حقوقو نړیواله اعلامیه

دکوچنیانو دحمایې دپرېکړه لیک تاریخچه او د هغې ببلا ببل پړاوونه

د اولې نړیوالې جګړې له ختمېدو وروسته ډېر ماشومان یتیمان پاتې شوي وو. دوی بې سرپرسته ول، درانده او ملا ماتوونکي کارونه به یې کول، له دوی څخه به ناوړه ګټې اخیستل کېدې. د دې ستونزو په پام کې نیولو سره په سویډن کې یوه ښځه چې هلن واګنر نومېده، او په انګلستان کې یوه ښځه چې اګلنتین جب نومیده د کوچنیانو د ساتنې او حمایې په فکر کې شول.

په ۱۹۱۹ میلادي کال کې اګلنتین جب دا شعار پورته کړ: «*مونږ باید د کوچنیانو او کار ګرانو له حقوقو څخه دفاع وکړو*».

اګلنتن جب د کوچنیانو د حقوقو لپاره په اول کې ۷ مادې وړاندې کړې چې په لاندې ډول دي:

۱. ماشومانو ته باید روغتیایي خدمات برابر شي.
۲. ښوونه او روزنه ورکړ شي.
۳. دخپلو اړتیاوو دلرې کولو په خاطر دکار کولو حق ورکړ شي.
۴. دمخدره موادو له استعمال او قاچاق نه وساتل شي.
۵. له ناوړه ګټې اخیستنې څخه وساتل شي.
۶. په جنګونو کې له برخې اخیستنې وساتل شي.
۷. دوباره بیا په خپل ځای شي.

یا هم:

۱. پرته له دې چې د کوچنیانو عقیدوي، توکمیز، او قومي توپیرونه په پام کې ونیول شي د دوی ساتنه او محافظت وشي.
۲. کوچني باید دلازم احترام سره دیو موجود په صفت د کورنۍ په واسطه تر څارنې لاندې ونیول شي.
۳. کوچنیانو ته داسې وسائل برابر شي چې له مادي، اخلاقي، او معنوي پلوه د ده د طبیعي ودې او انکشاف لپاره ضروري وي.
۴. هغه ماشوم چې وړی وي باید خواړه ورکړ شي. هغه ماشوم چې ناروغ وي د هغه پالنه او درملنه وشي. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشوم چې په ذهني يا جسمي لحاظ معيوب وي بايد تربيه يې وشي. او هغه کوچنۍ چې يتيم او بې سرپرسته وي بايد ساتنه يې وشي.

۵. دمصيبتونو په وخت کې ماشوم ته د اولیت او لومړيتوب حق ورکړشي.

۶. ماشوم بايد له هغه خدماتو څخه چې د رفاهی ټولنو له خوا برابريږي په پوره ډول ګټه واخلی. ده ته ښوونه تعليم ورکړل شي ترڅو ځانته دښه ژوند په برابرولو وتوانيږي. بايد دهرډول ناروا ګټې اخيستنې څخه وژغورل شي.

۷. کوچنۍ بايد د داسی پوهی او دانش په پام کې نيولو سره انکشاف وکړي، چې استعداد يې د خپلو همنوعو دخدمت لپاره پکار ولويږي.

په ۱۹۲۳کال کې د کوچنيانو د ساتنې د حقوقو يادې شوې مادې نړېوالي اتحاديې ته وړاندې شوې.

په۱۹۲۴کال کې د نړيوالې اتحاديې له خوا ومنل شوې. دا د کوچنيانو د ساتنې اولنۍ نړيواله اعلاميه وه.

په ۱۹۴۸کال کې د ملګرو ملتونو اداره منځته راغله. د بشر د حقوقو اداره جوړه او د کوچنيانو د حقوقو مسله د دې سره ضميمه او په نړيواله سطحه ومنل شوه.

په ۱۹۵۹کال کې د کوچنيانو د حمايې د حقوقو ۱۰ ماده يي اعلاميه د ملګرو ملتونو د ادارې له خوا تائيد او ومنل شوه. چې تشريح يې په لاندې ډول ده.

د ماشومانو حقوق د نړيوالې اعلاميې په رڼا کې

د ۱۹۵۹م کال د نومبر په ۲۰ نېټه د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي مجمع د ماشوم حقوق تصويب کړل. دې اعلاميې د ماشوم د شخصيت او مقام او همدارنګه د داسې اقداماتو په اړه خبرې وکړې چې د ماشوم د فکري او بدني روزنې او د هغوي د اخلاقي مسئوليت د احساس د پورته وړلو په اړه پکې زياته توجه شوې وه.

دې اعلاميې د ټولو مورګانو، پلرونو، داوطلبو افرادو، ملي او محلي مقاماتو او همدارنګه دولتونو ته دعوت ورکړ، چې په دې اعلاميه کې مندرج مواد په رسميت وپېژني او د رعايت لپاره يې لازم هڅې تر سره کړي او د هغې لپاره قوانين وضع کړي.

دا اعلاميه د لسو اصولو په لرلو سره د دې هدف لپاره چې د ماشومتوب دوره د خوشبختۍ دوره ده او په خوشبختۍ سره بايد سرته ورسېږي او ماشومان له خپلو حقوقو او ازادیو څخه برخمن شي، چې خپلې ټولنې ته په راتلونکي کې ګټور تمام شي، تنظيم شوې وه او رسماً ترې ټولو ته خبر ورکړل شو، چې دا اصول په لاندې ډول بيانېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی اصل - د تبعیض په اړه:

ماشوم باید د دې اعلامیې له ټولو مندرجو حقوقو څخه برخمن وي. ټول ماشومان بغیر له استثنا او تبعیض څخه او بغیر د نژاد، ژبې، رنګ، دین، سیاسي عقیدې او د ټولو عقایدو په نظر کې نیولو سره باید د دې اعلامیې له ټولو مندرجه احکامو څخه برخمن شي.

دویم اصل: له ماشوم څخه د خاص حمایت په اړه:

ماشوم باید له خاص حمایت څخه برخمن شي. ټول ضروري وسایل او امکانات د ماشوم د فکري، اخلاقي او ټولنیزې روزنې د هغه په سالمه او په طبعي توګه په ازاد محیط کې د قانون او یا کومې بلې ذیربط مرجع له خوا ماشوم ته په اختیار کې ورکړ شي. ماشومان باید د لویانو په پرتله زیات حمایت شي.

درېیم اصل: د نوم او ملیت لرلو حق په اړه:

ماشوم باید له پیدایښت سره سم د نوم او ملیت خاوند وي.

څلورم اصل: د ماشوم د سالمې روزنې او امنیت په اړه:

ماشوم باید له ټولنیز امنیت څخه برخمن وي، او په یو سالم محیط کې روزنه واخلي. په دې اړه باید ماشومان او میندې دواړه د هغه خاص حمایت او مراقبت چې له تولد څخه مخکې او وروسته په کې دوي ته خاصه پاملرنه په کې شاملېږي، ګټه واخلي. ماشوم باید تر ممکنه حده ښه تغذیه، مسکن، تفریح او مناسب صحي خدمتونه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم اصل: د معیوبو ماشومانو په اړه:

ذهني او جسمي معیوب ماشومان باید تر خاصې پاملرنې لاندې وي او د هغوی له وضعې سره مناسبه روزنه او مراقبت ورته تهیه کړای شي.

شپږم اصل: د مینې او پوهاوي په اړه:

ماشوم د شخصیت د ودې په اړه مینې او پوهاوي ته ضرورت لري او حدالامکان باید د مور او پلار د خاصې توجه او سر پرستۍ لاندې او په هر صورت د مینې او محبت په فضاء او اخلاقي امنیت کې روزنه وګوري. کم عمره ماشومان بغیر له استثناء څخه باید له موره جدا نه شي. ټولنه او ټولنیز مقامات پر دې موظف دي، چې بې کسه او بې کورنۍ ماشومانو ته خاصه پاملرنه وکړي.

دولت د نغدي مرستو او نورو اسانتیاوو د برابرولو مسوولیت د ډېر نفوس لرونکو کورنیو د ماشومانو د ساتلو لپاره لري.

(ماشومان د متعادل شخصیت د رشد لپاره مینې او محبت ته ضرورت لري)

اووم اصل: د روزنې او تفریح په اړه:

ماشوم باید له ابتدایي زده کړې څخه مفت او اجباري برخمن شي. ماشوم باید له هغې زده کړې نه برخمن شي، چې د عمومي فرهنګ د مخکې وړلو سبب شي، او ورسره موازي وي. چې په مساوي شرایطو کې وتوانېږي استعداد، فردي قضاوت ، اخلاقي او اجتماعي مسوولیت درک ته تربیه ورکړي او ټولنې ته ګټور واقع شي.

د ماشوم د زده کړې او رهبرۍ په اړوند باید د ماشوم مصالح د امورو د مسئولینو لارښود وي او دغسې مسئولیت په لومړي قدم کې د والدینو پر غاړه وي. ماشوم باید د تفریح لپاره له ټولو هغو امکاناتو څخه، چې د تفریح لپاره یې په خپله زده کړه کې لاسته راوړي دي، برخمن شي. ټولنه او ټولنیز چارواکي باید هڅه وکړي، تر څو له دې حقوقو څخه استفاده رایجه کړي.

(ماشوم باید له ابتدایي زده کړې څخه وړیا او اجباري برخمن شي، تر څو ټولنې ته ګټور واقع شي. ماشوم د جسمي او فکري ودې لپاره د لوبې او تفریح حق لري.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم اصل: د اولیت حق:

ماشوم باید په هرو شرایطو کې له لومړنیو کسانو څخه وي چې له تسهیلاتو او حمایت څخه برخمن شي.

نهم اصل: د استثمار، غفلت، ظلم او ثقیلو کارونو په وړاندې د حمایت په اړه:

ماشومان باید د هر نوعه غفلت، ظلم، شقاوت او استثمار پر وړاندې حمایت شي. ماشوم باید په هیڅ شکل تر مبادلې لاندې رانشي. ماشوم باید د حد اقل سن له پوره کېدو نه مخکې د کار لپاره استخدام نه شي او په هیڅ وجه باید ماشوم ته اجازه ورنه کړل شي، چې په سختو کارونو کې استخدام شي په داسې کارونو کې چې د ماشوم د ذهني او جسمي ودې مانع وګرځي.

(ماشوم باید د هر نوعه غفلت، ظلم، شقاوت او استثمارڅخه حمایت شي او باید داسې کار و نه وکړي چې د هغه د تحصیل، جسماني او ذهني رشد مانع نه شي.)

لسم اصل: د تبعیض د زیاتوالي پر وړاندې د حمایت په اړه:

ماشوم باید د هر نوع عمل پر وړاندې چې د نژادي، مذهبي او نورو تبعیضاتو باعث ګرځي، حمایت شي. ماشوم ته باید د پوهې، ګذشت او خلکو سره په دوستۍ اعتماد، سولې او نړیوالې وروروليۍ او د دې خبرې، چې پوره توانایي لري چې د خپلو همجنسو خدمت وکړي، زده کړه ورکړل شي. له پورتینو لسو اصولو څخه وروسته ۱۹۷۹کال دکوچنیانو د کال په نوم ونومول شو.

د ۱۹۸۹کال د نومبر د میاشتې په ۲۰ نېټه د دې پرېکړه لیک مسوده د ۱۹۱ملکونو دنماینده ګانو له خوا ترتیب اوپای ته ورسېده، چې تشریح یې په لاندې ډول سره ده.

د کوچنیانو د حقوقو په اړ وند د ملګروملتونوپرېکړه لیک

دا پرېکړه لیک په ۱۹۸۹ کال کی تصویب او په ۱۹۹۰ کال کې خپورشو. د دې پرېکړه لیک په اساس د توکمیز توپیر، جنس، مذهب او رنګ نه پرته د ټولې نړۍ کوچنیان د ژوند، پرمختګ، ساتنې/محافظت، په فردي او ټولنیزژوند کې د فعالې ونډې اخیستنې او د مساوي حقوقو لرونکي دي. دا پرېکړه لیک د هغه حقوقو حفاظت کوي، چې د ټولو هېوادونو له خوا تصدیق شوی دی. ځکه چې د نړۍ ټولو هېوادونو د کوچنیانو د حقوقو په اړوند مشخص معیارونه وضع کړي دي.

دوی ژمن دي چې ملکونه یې دکوچنیانو لپاره د روغتیایی خدمتونو، ښوونې اوروزنې، د فردي اوټولنیز ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو زمینه برابره کړي. دا پرېکړه لیک د دولتي اشخاصو، مذهبي پوهانو، قانون دانانو، د ښوونې اوروزنې دکار پوهانو، د عامې روغتیا د پوهانو، دکوچنیانو د حقوقو څخه د دفاع ګروپ، ټولنیزو کارمندانو، او د ټولې نړۍ څخه دغیردولتي موسساتو د نمایندګانو د لسو کالو د بحثونو نتیجه ده.

د ډېرو هېوادونو له خوا تصویب، تایئد او منل شوې، چې دا مسله د دې پرېکړه لیک د ډېر اهمیت څرګندونه کوي. دکوچنیانو دحقوقو پرېکړه لیک د نورو ټولو تاریخي پرېکړو په نسبت د نړۍ دا پرېکړه لیک تر اوسه پورې د نړۍ د ۱۹۳ ملکونو له خوا تصویب او منل شوي دي. افغانستان هم دا پرېکړه لیک په۱۹۹۴ میلادي کال کې لاسلیک او د دې غونډې غړیتوب یې تر لاسه کړی دی.

داپرېکړه لیک ۵۴ مادې لري د لومړۍ مادې څخه تر ۴۱ پورې دکوچنیانو په حقوقو پورې مربوط او هره ماده یې دکوچنیانو په یوه حق دلالت کوي. ۱۳مادې یې په هغه دولتونو پورې مربوط دي، چې دا پرېکړه لیک یې لاسلیک کړی او هغه دا ښیي، چې د کوچنیانو د حقوقو ۴۱مادې به په څه ډول سره په خپل ملک کې تطبیق کړي.

په ټوله نړۍ کې ۲۱۶ ملکونه موجود دي، چې ۱۹۴ ملکونه یې دملګرو ملتونو غړیتوب لري. د دې ۱۹۴ ملکونو څخه سومالیه او امریکا دا پرېکړه لیک نه وه لاسلیک کړی. تېر کال شرقي تیمور او سومالیې هېوادونو هم لاسلیک کړ، خو امریکا لا تر اوسه پورې نه دی لاسلیک کړی. د اوس لپاره د نړۍ ۱۹۳ملکونو دا پرېکړه لیک لاسلیک کړیدی.

افغانستان هغه هېواد دی چې د کورنۍ جګړې په پیل کې یې د ماشومانو د حقونو ترون لاسلیک کړی او دغې ترون ته ژمن افغانستان دا ترون په کال ۱۳۷۳المریز چې دعیسوي ۱۹۹۴کال سره سمون خوري لاسلیک کړ.

دا د هېوادونو دنده ده چې د لاسلیک څخه دوه کاله وروسته ملګرو ملتونو ته د خپل هېواد د ماشومانو د وضعیت په اړه یو لنډ راپور ورکړي او بیا هر پنځه کاله وروسته په منظم ډول خپل رپوټ په ژنیو کې د ماشومانو د کنوانسیون د څېړنې کمېټې ته و سپاري تر څو ملګرو ملتونو د ماشومانو په اړه خپله تګلاره د هغو هېوادونو د ماشومانو وضعیت په اړه طرح کړي، کوم چې د ډېرې ستونزو سره مخامخ دي. افغانستان د ترون له لاسلیک څخه تر اوسه په خپل وخت ملګرو ملتونو ته رپوټ نه دی ورکړی. په داسې حال کې چې باید په ۱۹۹۶- ۲۰۰۱ - ۲۰۰۶ او ۲۰۱۱عیسوي کال رپوټ استول شوی وای. د بله خوا د ترون په اصولو کې راغلي دي؛ چې له دولته پرته د ماشومانو د حقونو د ملاتړ خپلواک بنسټونه او مدني ټولنې هم کولای شي چې دغه راپور ملګرو ملتونو ته واستوي.

دغه رپوټ باید د شپږو برخو په ګډون وي:

۱- ښوونه او روزنه
۲-روغتیا
۳- خاص ملاتړ
۴- د مور، ماشوم او کورنۍ څرنګوالی
۵- تفریح، سپورت

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- وندې او وده

دا هغه فکتورونه دي چې باید په هېواد کې د ماشومانو د حقونو د ټرون له مخې ډېر څه ورته شوی وای خو د دې ترڅنګ چې څه نه دي شوي یو لړ نورې اندیښنې هم رامنځته شوي دي. د بېلګې په توګه:

د ماشومانو د حقونو ټرون چې دولت ورته متعهد دی ۱۳مه، ۱۷مه، ۱۵ مه، مادې داسې وایي: ماشومانو د بیان د ازادي حق لري. دوي حق لري چې مطبوعاتي ډلې جوړې کړي. په مطبوعات کې کار وکړي. اخبار مجله، ورځپاڼه وچلوي او وندې پکې واخلي. خپل نظر په کې څرګند کړي. خو اوس اوس داسی اوازی اورېدل کېږي چې د ډله ییزو رسنیو کې دا موضوع تر بحث لاندې ده، او دوی د دې مسالې سره بل ډول چلند کړی چې تر اتلس کلنو ښکته ماشومان به د مطبوعاتی ډلګیو د جوړولو څخه به بې برخې وي. هیله ده چې داسی نه وي.

همدارنګه د ماشومانو د تخلفاتو قانون چې د عدلیې وزارت لخوا تدوین شوی په هغه کې د اتلسو کالو ښکته ماشوم ګڼل کېږي چې د هلک او نجلۍ دواړو په ګډون دي، خو کله چې قانون د تصویب لپاره پارلمان ته استول کېږي د موظف کمیسیون د پرېکړې له مخې د نجونو لپاره د 17کلنۍ او هلکانو لپاره د 18کلنۍ عمر د ماشوم په توګه بلل شوی او دا په دې مانا ده، چې نجونې د سرغړونې یا تخلف په صورت تر هلکانو د مخه ځارنوالیو له خوا محکوم او زندانونو ته واستول شي، په داسی حال چې له 18 کلنو ټیټ باید د اصلاح او روزنې مرکزونو ته واستول شي چې په حقیقت کې داسی بدلون پخپله د ماشومانو د حقونو نه رعایت کېدل دي.

وایي چې که یوه نارینه وروزل شي ګواکې چې یوکس روزل شوی دی او که یو ښځینه وروزل شي یا باسواده شي یعني چې ټوله کورنۍ روزل شوې ده. که یو نجلۍ خپل لوست تکمیل کړي او تر اتلسو کالو وروسته واده وکړي ښایي خپله کورنۍ او خپل ماشومان وروزي. دلته دا وړه رامنځته کېږي چې خدای مه کړه پارلمان، دودونو، اقتصادي وضعیت او نا امنیو د ماشومانو د حقونو څرنګوالی ترخپل سیوري لاندې راوستی نه وي. هیله ده چې مدني ټولنې چارواکي قانع کړي چې ماشومان د دې جوګه دي چې په فرهنګي ښوونیزو او مطبوعاتي چارو کې په خپلواکه توګه ګډون وکړي او هغه پرمخ بوزي. خداي دې وکړي چې د فرهنګ او قلم په ډګر کې زموږ ګران هېواد نورو هېوادنو د ماشومانو جوګه او سیال شي.

د ماشومانو د حمایې د حقوقو د اعلامیې ۱۰ اصلي مطلبونه:

۱. ماشوم باید د والدینو او دکورنۍ د نورو غړو سره په مینه او محبت او داسې فهم سره لوی شي چې د ده په هر اړخیزه وده او پرمختګ کې ګټور واقع شي.
۲. ماشوم ته باید داسې خواړه ورکړ شي، چې کم له کمه په جسمي لحاظ هغې ته اړتیا ولري.
۳. د ماشوم روغتیا اوپرمختګ باید بهبود او ښه والی ومومي.
۴. ماشوم باید د سر د پټیدو/سرپناه مناسب ځای ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. ماشوم باید حد اقل له لومړنیو زده کړو برخمن شي.
۶. ماشوم باید داسې پرمختګ وکړي، چې له ژوند څخه خوند واخلي. هویت یې معلوم اوخپل ملي میراث وساتي.
۷. ماشوم ته باید داسې پوهه اوتعلیم ورکړ شي، چې د ده د استعدادونو، قابلیتونو او دلچسپیو له اماده کېدو سره مناسب وي.
۸. ماشوم ته باید دخپلو نظریاتو او قابلیتونو د بیانولو لپاره فرصت او وخت ورکړ شي.
۹. ماشوم باید حکومتي او غیر حکومتي اساسي خدماتو ته لاس رسی ولري.
۱۰. ماشوم باید د دی فرصت ولري، چې خپل اساسي علایق او حقوق حفظ کړي.

د ماشومانو د حقوقو پربېکړه لیک یو لړ هغه حقوق ذکر کړي چې د ټولې نړۍ ماشومان یې مستحق دي.
- داپربېکړه لیک په ببلا ببلو پراوونو کې د ماشومانو د نېه ژوندانه اساسي معیارونه وړاندې کوي.
- هغه هېوادونه چې دا پربېکړه لیک تصویب کړي په قانوني ډول خپل ځان هغې ته متعهد ګڼي.
- د بشر په تاریخ کې د ماشومانو د حقوقو دا لومړنۍ ټولګه ده، چې د ماشومانو په اړوند مسائل یې ټول جمع بندي کړي، او یو پربېکړه لیک یې ترېنه ترتیب کړی دی.
- دا پربېکړه لیک له امریکا پرته د ملګرو ملتونو د نورو ټولو غړو له خوا لاسلیک شوی او یو قانوني شکل یې غوره کړی دی.

هغه هېوادونه چې دا پریکړه لیک یې لاسلیک کړی درې مکلفیتونه لري:
اول. د خپل هېواد د قانون په چوکاټ کې باید دې ته ځای ورکړي تر څو قانوني بڼه غوره کړي.

دوهم. د دې پربېکړه لیک د تطبیق راپور وروسته له دوو کلونو د ملګرو ملتونو اداري ته وسپاري.
درېیم. د دې پربېکړه لیک هره ماده، چې د هغه هېواد له مذهب او کلتور سره مغایرت ولري، حق لري، چې هغه قبوله نه کړي. د دې پربېکړه لیک ۱۴ او ۲۱ مادې د اسلامي هېوادونو له خوا نه دي قبولې شوي.
۱۴ ماده: ټول لاسلیک کوونکي هېوادونه د ماشومانو د دین، وجدان او اندېښې ازادۍ ته درناوی لري، مګر هغه چې د قانون له مخې ور باندې محدودیتونه لګول شوي وي.
۱- د کنوانسیون غړي هېوادونه باید د دین، وجدان او اندېښې د ازادۍ په اړه د ماشوم د حق درناوی وکړي.
۲- د کنوانسیون غړي هېوادونه د مور او پلار مکلفیتونه، حقوق او د ماشوم د سرپرست د غوښتنې په صورت کې د ماشوم لپاره د لارښود د برابرولو حق، چې د ماشوم د استعداد سره مرسته وکړي، د هغه دغه حق ته درناوی وکړي.
۳- د عقایدو او دین په اړه ازادي امکان لري په هغو محدودیتونو پورې اړه پیدا کړي، کوم چې په قانون کې په پام کې نیول شوي وي او د عامه نظم او امنیت یا روغتیا او عمومي معنویت او نورو بنسټیزو ازادیو او حقوقو لپاره ضرورت وګڼل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتنۍ ماده کې په صریح ډول یادونه شوې، چې ماشوم د عقیدې ازادي لري، مګر که په قانون کې په بل ډول په پام کې نیول شوې وي.

افغانستان یو اسلامي هېواد دی او اساسي قانون یې د اسلام د مبارک دین څخه سرچینه اخلي. د اساسي قانون په درېیمه ماده کې راغلي چې:

درېیمه ماده

په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي تطبیق شي.

نو د افغانستان د اساسي قانون له پورتنۍ مادې څخه څرګندیږي، چې د ماشومانو د حمایې د حقوقو ۱۴ ماده په افغانستان کې د عملي کېدو وړ نه ده.

بله ماده چې په د افغانستان په اسلامي هېواد کې د تطبیق وړ نه ده، هغه د ماشومانو د حمایې د حقوقو ۲۱ ماده ده.

۲۱ ماده: د کنواسیون ټول غړي هېوادونه په ځویتوب سره د نیولو سیستم په رسمیت پېژني، دولتونه باید د دې تضمین وکړي، چې د ماشوم ګټې نه کمزوري کېږي او له مینځه نه ځي.

د پورتنۍ مادې د نه منلو دلیل د ځوی والي په رابطه دی، چې دا ډول ځوی داسلام په مبارک دین کې د میراث مستحق نه ګرځي. مګر په نورو هېوادونو کې دا نوع ځامن د پلار د مال په میراث کې مستحق شمېرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون او د ماشوم حقوق

الف- د قانون پېژندنه:

د قانون کلمه له یوناني کلمې څخه اخیستل شوې چې له (canon) څخه عبارت ده، دا کلمه د قاعدې او دستور په مانا سره کارېدلې ده.، چې بیا په تدریجي توګه په عربي ژبه کې په قانون بدله شوې ده. په افغانستان کې هم په همدې نوم یادېږي. په عربي کې قانون د اشیاوو د اندازې او مقیاس په مانا ده او په بل ځای کې قانون د رسم، قاعدې، روش او د ائین په مانا استعمال شوی دی. د افغانستان حقوقي فرهنګ هم همدا قبوله کړې ده. د حقوقو د علم له نظره، قانون له هغې قاعدې څخه عبارت دی چې صلاحیت لرونکي مقامات (مقننه قوه) یا جمهور رئیس، او په افغانستان کې سربېره په شورا، لویه جرګه هم قوانین وضع کوي او ابلاغ کوي یې. چې قانون د خلکو د مصلحت متضمن دی او پر ټولو باندې قابل د اجراء دی.

لکه څنګه چې مخکې مورِ یادونه وکړه، چې د قانون کلمه د یوناني له Canon کلمې څخه اخیستل شوې چې د قاعدې په مفهوم کارول شوې ده، غواړم چې دغه موضوع لږ څه نور هم روښانه کړم، نو د روم په حقوقو کې د قانون پر ځای Lex کلمه کارول کېده، چې وروسته بیا د فرانسې په حقوقو کې Loi کلمه چې د ویلو په مانا وه وکارول شوه لوه یا لکس له هغې حقوقي مقرري څخه عبارت وه، چې لیکل شوې او لوستلو وړ وه، دغه اصطلاح معمولاً د عرف او عادات پر وړاندې کارېده د لرغوني روم په حقوقو کې عرف د حقوقو د یوائیني سرچینې په توګه پېژندل کېده، ترمیلاد ۴۵۰ کاله وړاندې د لکس یا قانون اصطلاح د روم په حقوقو کې ور دننه شوه، خو بیا هم دغې اصطلاح خپل حقیقي مفهوم نه وه تر لاسه کړی، تردې چې د روم د امپراطوری په دوران کې دوه ډول قوانین چې یوه ته یې Leges وایه او دا له هغو مقرراتو څخه عبارت وه، چې د اعیانو یا اشرافو د مجلس له خوا تصویبېدل او بل یې Plebes it چې د عوامو د مجلس له خوا به تصویب کېده، چې د هغې د تطبیق ساحه یوازې پر عوامو وه، په داسې حال کې چې لیګس پر ټولو وګړو او د روم پر اوسېدونکو تطبیقېده.

دا چې قانون ډیر لوړ ارزښت لري، پراخه مفهوم لري او د دې شتون په ټولنه او هېواد کې دومره اړین دی، لکه د یو انسان په بدن کې وینه، اما تر اوسه یې په پېژندلو پوره څوک نه دي بریالي شوي نو ښه به وي، چې د قانون څو لنډ تعریفونه وړاندې کړم.

۱- قانون په یوه ټولنه کې هغه کلي او لازمي قواعد دي، چې په ټاکلي وخت کې دانسان په ټولنیز ژوند حکومت کوي، چې د دی تطبیق د دولت لخوا تضمین شوی وي.

۲ - قانون له هغه معقول اوصریح تجویز څخه عبارت دی، چې د دولت د واکمنو مقاماتو له خوا وضعه کېږي.

۳ - قانون هغه صریح او الزامي امر دی، چې په لیکلي ډول د واکمنو مقاماتو له خوا وضعه او تدوین کېږي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه موخه د ټولنې د راتلونکي ژوند لارښوونه ده.

۴ - قانون د یو شي اصل او اندازه کولو په مانا دی، همدارنګه هغه دودونه، مقررات، او احکام، چې د دولت او ملي شورا مجلس لخوا د ټولنې د نظم او اداره کولو په خاطر وضع شوي وي قانون بلل کېږي او قوانین جمع د قانون ده.

۵-قانون د یو هېواد او ټولنې هغه مقررات ،اصول ،قاعده ،نورمونه ،پرنسیپونه ،او اساسات دي چې د وګړیو ټولنیز او نور ېپلاېپل حقونه تثبیت او تامینوي .او همدغه قانون دي چې د ټولنې هېواد لپاره او د وګړیو د ټولنیز ژوند د تامین او تثبیت لپاره یو اساسي چوکاټ وړاندې کوي .

٦ - قانون هغه حقوقي قواعد او مقررات دي، چې د یوې ټولنې د یوې طبقې هوښیارو، پوهو خلکو لخوا، د قانون پوهانو، حقوق پوهانو، د حقوقو او قانون مسلکي اشخاصو له خوا جوړېږي او د تطبیق، تنفیذ او پلي کېدو لپاره خلکو ته وړاندې کېږي. زه فکر کوم د قانون په هکله همدومره معلومات کفایت کوي، که تاسو زیاتو معلوماتو ته ضرورت لرئ، نو بیا نورو حقوقي او قانون پورې اړوند کتابونو ته مراجعه وکړئ.

ب. د ماشوم د حقوقو په اړه د امنیتي ارګانونو رول:

افغانستان د ملګرو ملتونو د غړي په حیث د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه امضاء کړې ده او نور بین المللي مدني او سیاسي میثاقونه او خاصتاً د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون یې هم قبول کړی دی. نو بناً ټول امنیتي ارګانونه او دولتي اداري پر دې مکلفې دي چې د دې میثاقونو او کنوانسیونونو څخه پیروي وکړي. خاصتاً پولیس د قانون د حاکمیت او تطبیق په وخت کې له ماشومانو سره ښه سلوک وکړي او دا سلوک باید دومره صمیمانه وي لکه د یو ښوونځي او مدرسې د معلم په شان سلوک، باید له تشدد، سپکاوي او بدني شکنجو څخه ورسره کار وا نه خیستل شي.

همدارنګه، نن په نړۍ کې د ماشومانو د تخلفاتو د ارتکاب په وخت کې له هغوی څخه د تحقیق، تعقیب او د حجز په وخت کې له هغوی سره خاص برخورد صورت نیسي، په دې مانا چې د لوي عمر لرونکو خلکو په خلاف له دوی سره خاص صمیمانه برخورد صورت نیسي.

د نړۍ په حقوقي سیستمونو کې د تعقیب او کشف، او د ماشومانو لپاره جدا محاکم تاسیس شوي دي او هر ارګان چې له داسې مسایلو سره سروکار لري، باید هر نوعه شرایط د ماشوم د روزنې لپاره ایجاد کړي او د هغې په مورد کې فکر وکړي. په پایله کې د هغوی د اصلاح لپاره له خاصو مراجعو او تربیتي مرکزونو څخه استفاده وکړي. اوس هم په نړۍ کې ټولنپوهان پر دې عقیده دي چې د ماشوم د ضمیر لوحه د یوې پاکې هیندارې په شکل ده، چې هر نوعه نېک او بد تصویر په خپل ځان کې قبلوي.

ج. پولیس او ماشومان:

په هره ټولنه کې د هغې د لارښوونې او نېکمرغۍ لپاره یو سلسله قواعد او مقررات وضع شوي دي، تر څو له ډېرې بې نظمۍ څخه مخنیوی وشي. دا قواعد او مقررات پر دوه ډوله دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. الهي قواعد او مقررات:

دا هغه قواعد او مقررات دي چې د الله جل جلاله له خوا د خپلو بندګانو د لارښوونې او نېکمرغۍ لپاره نازل شوي دي، چې انسانان د خپل ژوند ټول امور د دې الهي قواعدو او مقرراتو په رڼا کې تېر کړي او د دې په واسطه د دنيا او اخرت دواړو نېکمرغي لاسته راوړي. چې دا مقررات په اسلامي هېوادونو کی د نورو وضعې او مدني قوانينو تر خوا د اعتبار او صلاحيت لرونکي وي.

۲. انساني يا وضعي قواعد او مقررات:

دا هغه قواعد او مقررات دي چې د انسانانو له خوا جوړ شوي دي او وضع کېږي، دې ته وضعي قواعد او مقررات هم وايي. دا هم د يوې ټولنې د اجتماعي نظم د قايم ساتلو لپاره وضع کېږي، چې په ټولنه کې د ګډوډۍ مخه ونيول شي.

۳. دودونه او ولسي قوانين په ځينې هېوادونو کی بيا د اسلامي قوانينو او وضعي قوانينو برسيره دودونه او عرفي قوانين هم خپل ځانګړی ارزښت لري. چې افغانستان هم د همدې ملکونو په جمله کې يو ځانګړی هېواد دی، چې دودونه او ولسي قوانين پکې خاص ارزښت، اهميت او ځانګړی ځای لري.

نوموړي حقوق چې پورته مو ترې يادونه وکړه د يوې ټولنې د ټولنيز ژوند د ټولو ساحو لپاره وضع کېږي، که هغه ټولنيزې برخې وي او که خصوصي ژوند پورې اړه ولري؛ خو دا چې زموږ د بحث موضوع د ماشوم حقوق دي او د ماشوم حقوق هم د دغو پورته قواعدو له جملې څخه دي او دا قواعد او مقررات د ماشوم د حقوقو د خوندي ساتلو لپاره وضع شوي دي چې په ټولنه کې له نورو سره په مساوي توګه ژوند وکړي.

اوس شايد داسې سوال مطرح شي چې دا قواعد د چا يا د کوم ارګان له خوا وضع کېږي او څوک يې د تطبيق چارې په وړاندې بيايي؟

د دې سوال په ځواب کې بايد ووايو چې دا قواعد او مقررات د يو دولت د مقننه قوې له خوا وضع کېږي، او د تطبيق چارې يې اجرايه قوه پر مخ وړي.

اوس رائځو دې ته چې د اجرايه قوې د ارګانونو له جملې څخه يو ارګان د پوليسو ارګان دی، چې له قانون څخه په حمايت، تطبيق او رعايت کې زيات رول لري. دا چې زموږ عنوان ماشوم او پوليس دی يانې ماشوم هم د دې ټولنې د افرادو له جملې څخه دی او خامخا د پوليسو او ماشوم تر مينځ يوه رابطه موجوده ده او دا رابطه کېدای شي په مختلفو برخو کې وي، چې له هغې څخه يو هم د پوليسو روزل د ماشومانو د حقوقو د رعايت په برخه کې دي. چې دا برخه به يې په تفصيل سره تر مطالعې لاندې ونيسو.

۱. پوليس او د ماشوم د حقوقو رعايت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه ځایه چې معلومېږي زمونږ د بحث موضوع د ماشوم د حقوقو رعایت په امنیتي ارګانونو کې دی. نو بناً پر دې د ماشوم د حقوقو رعایت په امنیتي ارګانونو کې تر بحث لاندې نیسو. پولیس باید له متخلفو ماشومانو سره د برخورد په وخت پدی پوه او دغه لاندی ټکي په نظر کې ونیسي، چې په دې اړه د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون مواد رانقلوو.

الف- د شکنجې منعه:

د ماشوم د حقوقو کنوانسیون ۳۷ ماده داسې وایي چې ماشوم باید تر شکنجې لاندې و نه نیول شي او نه هم باید د ظالمانه عمل، نا انساني او یا له انساني کرامت سره د مغایرو مجازاتو لاندې راوړل شي. همدارنګه د اعدام او حبس ابد مجازات ورنه کړل شي. پخوا به د اقرار د اخیستو په خاطر له متهم سره نا انساني سلوک کېده او شکنجه کېده دا کار له ډېر پخوا څخه دوام درلود او په بعضو هېوادونو کې به د ناقانوني عمل د تطبیق او تنفیذ لپاره د نا انساني سلوکونو څخه کار اخیستل کېده.

ب- د ازادۍ سلب یا له ازادۍ څخه محرومیت:

د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د ۳۷ مادې په (ب) بند کې داسې راغلي دي:

هېڅ ماشوم باید په خپل سر او په نا قانوني توګه د خپلې ازادۍ څخه محروم نه شي. د ماشوم نیول، توقیفول او زنداني کول باید د قانون مطابق وي او دا باید اخرینه چاره وي او باید د لږ وخت لپاره صورت ونیسي. منظور د ازادۍ له محرومیت نه هر نوع بازداشت ، توقیف او یا محبوسیت دی.

ج- د توقیف منعه:

توقیف عبارت د ازادۍ له موقت سلب څخه دی، چې د قانون مطابق او د ذیصلاح مراجعو له خوا په معین محل کې صورت نیسي. د تردید ځای نه دی چې د شخص توقیف د یوې ذیصلاح مرجع له خوا صورت ونیسي او ذیصلاح مرجع په مخصوصو احوالو کې د یو شخص د توقیف صلاحیت لري، چې دا ذیصلاح مراجع د قانون له خوا تعینېږي او بغیر له هماغو مراجعو او اشخاصو څخه بل څوک حق نه لري چې څوک توقیف کړي.

د - د ناقانوني توقیف مشدده حالت:

بعضې وخت علاوه له دې څخه چې د یو شخص ازادي سلب شوي وي او په عین ګرفتاری او یا د توقیف په مرحله کې د هغوی پر وړاندې له زور زیاتي، شکنجې او نورو جسمي او روحي فشارونو څخه کار اخیستل کېږي. یا د خپلو اعمالو د مشروع ښودلو لپاره فاعل له خپل یونیفورم او د پولیس له لباس څخه استفاده او خپل ځان د عامه خدماتو موظف معرفي کوي. په داسې حال کې چې دا د واقعیت خلاف وي. دغه حالات مشدده حالات پېژندل شوي او زمونږ د ګران هېواد په جزایي قانون کې ورته مجازات مشخص شوي دي.

۱. کله چې یو شخص په عادي حالت کې د توقیف په جرم مرتکب شي، یانې یو شخص ونیسي او له کار څخه یې منعه کړي، د پینځو کالو په جزاء محکومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. کله چې د نیونې او ناقانوني توقیف په وخت کې له جعلي یونیفورم څخه استفاده وشي.

۳. که له جعلي لقب څخه کار اخیستل شوی وي او یا دولتي امر جعلي امر معرفي کړي او یا د ګرفتارۍ او توقیف په وخت کې له جبر او اکراه څخه په کار اخیستلو سره یې هغه شخص په مرګ تهدید کړی وي. دغه اعمال مشدده احوال پېژندل شوي دي او که احیاناً مرتکبین یې دولتي رسمي موظفین وي، په طویل حبس تر لسو کالو پورې محکومېږي.

ه- د توقیف شویو او محبوسینو حقوق:

د ماشوم د حقوقو کنوانسیون د ۳۷ مادې د (ج) فقره داسې صراحت لري:

هر هغه ماشوم چې ازادي یې اخیستل شوې وي، باید انساني چلند ورسره وشي او بشري او فطري کرامت ته یې باید احترام وشي. له هغه سره باید داسې رفتار وشي چې د سن او سال له پلوه د هغه ټول ضرورتونه پوره شي او په نظر کې ونیول شي. ماشوم باید له لویانو څخه جدا وساتل شي، په دې شرط چې د هغه په کې ګټه وي او ماشوم ته باید له خپلې کورنۍ سره د لیدنې حق ور کول شي.

و- له خپلې کورنۍ او دوستانو سره د اړیکو حق:

یو له هغو مجازاتو څخه چې زاندانې یې متحمل کېږي، هغه د هغه عدم ارتباط دی له خپلې کورنۍ او دوستانو سره په طول د حبس کې د ملګرو ملتونو د قواعدو او فیصلو په اساس د هغو ځوانانو په باره کې چې له ازادۍ څخه محروم دي، د توقیف له محل څخه له بهر خلکو سره اړیکې لرل دي. د دې پورته قواعدو پر اساس متخلفو ماشومانو ته چې توقیف شوي وي، اجازه ورکول کېږي، چې له کورنۍ او دوستانو، ملګرو او د سازمانونو له نماینده ګانو سره مفاهمه او مکاتبه وکړي. هر ماشوم حق لري، چې د منظمو لیدو لاندې قرار ونیسي، او دا لیدنه باید په هره هفته کې اصولاً یو ځل وي او په میاشت کې باید له یو ځل څخه کمه نه وي او هر ملاقات کې باید د ماشوم محرمیت رعایت شي

ز- د توقیف په وخت کې حقوقي مشورو ته د لاس رسي حق:

په دې باره کې د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د ۳۷ مادې په (د) بند کې داسې ذکر شوي دي:

هر هغه ماشوم چې له ازادۍ څخه محروم شوی وي، حق لري چې حقوقي مشورو او ټولو کومکونو ته لاسرسی ولري. همدارنګه هغه حق لري چې د ازادۍ د محرومیت د قانوني والي په صورت کې د محکمې پر وړاندې او نورو ټولو ذیصلاح او مستقل او بې طرفه مقاماتو پر وړاندې اعتراض وکړي، او حق لري چې په دې مورد کې چټک تصمیم ونیول شي.

۲. د پولیسو برخورد له سرغړونکېو ماشومانو سره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولیس باید له سرغړونکو ماشومانو او نورو ټولو متهمینو سره د برخورد په وخت کې لاندې ټکې په نظر کې ونیسي.

الف - له سر غړونکېو ماشومانو سره د برخورد په وخت کې د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون له لارښودو موادو څخه باید استفاده وشي او د هغې پر تطبیق باندې اقدام وشي.

ب - له قانون څخه سرغړونکېو او متهمینو سره زشته رویه ونشي او د حرمت حق او انساني کرامت ته یې احترام وشي.

ج - پولیس مکلف دي چې د خلکو د قانوني او بشري حقوقو د تبعیض په اړه او د هغې نور قسمونه د تفرقې په اړه، د نفاق او شقاق، د وروړو تر مینځ کورني جنګونه او هر ډول تخریباتو د رعایت لپاره اقدام وکړي.

د - د پولیسو د مداخلې او اقدام په موقع او مورد نظر شخص باید ملتفت شي او د مداخلې او اقدام علت ورته ښه توضیح شي.

ه - پولیس مکلف دي چې د رسمي و ظیفې د اجراء په وخت کې خپل شخصي امور په جدي توګه یو له بل څخه تفکیک کړي او و یې ساتي.

و - مهم اقدامات لکه تالاشي، د اشیاوو ضبط او ثبت باید د دې لیکنې د مندرجو موادو مطابق اجراء شي او د هر نوع ناقانوني عمل څخه ځان وساتي.

ز - د حوادثو او یا مداخلې په وخت کې پولیس باید ارام اوسي، مضطرب باید نه وي او فکري سنجش باید له لاسه ور نه کړي او نه باید د خپل مقابل لوري د تحریکاتو او تهدیدونو پر وړاندې عصباني شي.

ح - د پولیسو له لوري اهانت کول په کلي ډول ممنوع دي.

ط - ټول خلک او خاصتاً ماشومان له پولیسو څخه دا توقع لري چې علاوه د امنیت له تامین څخه او درستو قانوني اجراتو څخه له هغوی سره په حیاتي معاملاتو کې کومک او همکاري وکړي.

ی - پولیس باید له ماشومانو سره د یو مهربانه پلار په شکل برخورد وکړي، له نېک سلوک او معقولې رویې څخه کار واخلي.د له رټلو او سپکاوی څخه مخنیوی او همدارنګه د سر غړونکېو ماشومانو د نوې تربیې په وخت کې باید فکر وکړي چې له هر نوعه بدنی ځوروني څخه پرهېز وکړي.

ک - پولیس باید له سرغړوونکېو نجونو سره د برخورد په وخت کې د موضوع حساسیت په نظر کې ونیسي او په دې مورد کې له ښځو پولیسو څخه کار واخیستل شي.

ل- پولیس باید د سرغړوونکېو نجونو د احضار په وخت کې له ښځینه پولیسو څخه کار واخلي او که ښځینه پولیس نه وي نو د محل له سپین ږیري یا متعهد شخص څخه استفاده وکړي او د هغه له همکارۍ څخه د پولیسو بعدي اجراتو کې هم استفاده وکړي.

م - په هغه صورت کې چې سرغړونکي نجونې د معاذیرو او مشکلاتو په وجه خپل د سکونت ځای ته ازادې نشي، د هغوی د حفاظت لپاره یې پولیس باید د ښځو په نظارتخانه کې په موقت ډول وساتي او یا یې د محل یو امین شخص ته وسپاري.

ن - د ښځینه قشر د اوسېدو ځای ته د لېږلو په وخت کې د پولسیو امر مکلف دی چې د اعتماد وړ محافظین چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دوه تنو څخه کم نه وي موظف کړي او حتالامکان له خپل ترانسپورت او یا له اتحادیو څخه استفاده وکړي.

س - د ښځینه قشر د هغوی د کورنۍ غړیو ته د تسلیمۍ په وخت کې له هغوی څخه د یو رسمي سند له اخیستلو څخه وروسته هغوی ته تسلیم شي. په هغه صورت کې چې ښځینه اقارب ونه لري رسماً هغوی خیریه موسسو ته او یا هم د وړو نجونو تربیوي مرکزونو ته سپارل کېږي.

خ - پولیس باید ټول مناسب تدابیر ونیسي تر څو د ماشومانو د اختطاف، خرڅلاو او د ماشومانو د قاچاق چې په هر شکل او مقصد وي، مخه ونیول شي.

پولیس باید له ماشومانو څخه د استثماري استفادې، چې د فحشاء او نورو ناقانوني جنسي اعمالو په منظور وي، مخنیوی وکړي.

د – ماشومان او محاکم

۱. د قاضي او څارنوال رول د سرغړونکېو ماشومانو په اړه:

قضاوت یو عظیم کار او پېشه ده او هر څوک نشي کولی چې قضاوت وکړي. همدا وجه ده، چې خدای جل جلاله دا منصب خپلو اولیاوو او پېغمبرانو ته تخصیص کړی دی، لکه په قران کریم کې چې فرمایي:

ای داود! ته مونږ پر ځمکه باندې خپل جانشین وټاکلې، خو باید د خلکو ترمینځ په عدالت حکم وکړي. وروسته له پیغمبر او د هغه له جانشینانو څخه هغه څوک توانېدلي دي، چې دې منصب ته ورسېږي چې پر قران او احادیثو باندې ښه پوهېږي او پوره علم یې ترلاسه کړی وي او په ښه صورت سره عدالت تامین کړي.

څارنوال او قاضي باید له سرغړونکېو ماشومانو سره داسې رویه وکړي، چې ماشوم تر تهدید لاندې رانشي او د یو مهربان پلار په شان رویه ورسره وکړي، له مینې او محبت نه ورسره کار واخلي.

له حقوقو څخه د حراست مسولین او خاصتاً قضات او څارنوالان چې د ماشومانو په تادیبي محاکمو کې کار کوي، باید پر دې پوه شي چې څرنګه کولی شي د کوچني نسل یانې د سرغړونکېو ماشومانو مشکلات حل کړي او څرنګه یې تادیب کړي چې د حقارت احساس و نه کړي.

د ماشومانو په روزنه کې د والدینو رول

د یو شخص په رفتار او کردار کې ډېر موثر عامل د هغه کورنۍ ده. کورنۍ محیط لومړنۍ او تر ټولو دوامداره محیط دی چې د افرادو د شخصیت په رشد کې ځانګړي اهمیت لرونکي دي. په دې کې شک نشته چې ماشومان ځینې خصوصیات له خپلو والدینو څخه په میراث اخلي. د ماشوم ژوند په کورنۍ ژوند کې د کورنۍ تر تاثیر لاندې رائي او خاصتاً د مور او پلار کړه وړه پر ماشوم مستقیم تاثیر لري. کور هغه ځای دی چې هلته ماشوم مختلف امور زده کوي او همداراز مور او پلار په اګاهانه ډول ماشوم ته یو څه ور زده کوي.

له بلې خوا څخه ماشومان پر مور او پلار باندې ډېر ګران وي. پلار او مور نه یوازې له خپلو ماشومانو سره مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، بلکې له نورو ماشومانو سره هم مینه او محبت کوي او کله چې لازم وي له هغوی څخه حمایت کوي.

خلاصه دا چې د ماشوم اینده سرنوشت د والدینو په لاس کې دی. د ماشوم له اساسي ضرورتونو څخه یو د مور او پلار مینه او محبت دی. هغه ماشوم چې د زېږېدو په لومړي وخت کې له دې محبت څخه محروم وي، په کور کې د نا امنۍ احساس کوي. باید ووایو چې ماشوم پر خپلو والدینو یو څه حقوق لري چې په لاندې ډول دي:

۱- د مراقبت او ساتنې حق:

د ماشوم یو ضرورت د هغه ساتنه او مراقبت دی چې د والدینو په واسطه سرته رسېږي. د اسلام په مبارک دین کې دا حق د خدای جل جلاله د امانتدارۍ په نوم نومولی دی، چې ماشوم له شر او خطر څخه لرې وساتل شي او په امن او امان کې ژوند وکړي، دا دوره داسې وخت وي چې ماشوم په خپل کړه وړه، خو او بد، ګټه او تاوان باندې نه پوهیږي او د خپل راتلونکي لپاره هم ډېر ژور فکر نه شي کولای، دلته د مور او پلار پاملرنه او ساتنه ډېره ضروري او د ماشوم پر شخصیت موثر واقع کېدای شي.

۲- د غذا حق:

غذا د ماشوم لپاره حیاتي اهمیت لري او ماشوم له ټولو څخه قوي او ګټورې غذا ته ضرورت لري چې هغه باید ورته برابره شي. د مور شیدې هم په دې کې شاملې دي او له دې حق څخه باید څوک محروم نه شي.

د انسان د ژوند د بقا لپاره درې شیان مهم دي، هوا، اوبه او غذا، له دغه درېو عناصرو څخه که یو هم انسان ته ونه رسیږي، ژوند ته دوام نه شي ورکولای، ماشوم ته په طبعي ډول اوبه او هوا پیدا کېږي، یوائنی عنصر چې د ماشوم په جسمانی رشد کې مهم رول لري ښه غذا ده. کورنې (مور او پلار) د ماشوم د روغ صحت لپاره باید ماشوم ته مناسب غذا برابره کړي. د ماشوم لومړنۍ غذا د مور شیدې دي، په دغه مرحله کې باید ماشوم ته په کافي اندازه د مور شیدې ورکړ شي، ساینس دا ثابته کړې، هغه کسانو ته چې د ماشومتوب په دوره کې په کافي اندازه د مور شیدې نه وي رسیدلي په جسمي، روحي او نورو ناروغیو اخته کېږي، نو د ماشوم د زیرکتیا او روغتیا لپاره باید په ماشومتوب کې ماشوم ته په کافي اندازه شیدې ورکړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د لباس حق:

بل حق چې ماشوم یې د والدینو پر وړاندې لري هغه د لباس حق دی، چې ماشوم ورته ډېر سخت ضرورت لري، لباس په اول کې د ماشوم لپاره له ګرمۍ او یخنۍ څخه د ساتلو دنده لري ولې وروسته له ۳ کلنۍ څخه د هغه شوق ګرځي.

ښه لباس پاک او نظیف ګرځېدل د ماشومانو په شخصیت مثبت تاثیر لري.

۴- د لوبو او تفریح حق:

یو له هغو حقوقو څخه چې ماشوم یې پر والدینو لري هغه د لوبو او تفریح حق دی، چې ماشوم ورته د ماشومتوب په دوره کې ډېر زیات ضرورت لري او مور و پلار باید پر دې پوه شي او د هغوی ذوق باید درک کړي تر څو ماشومان له دې حق څخه محروم نه شي.

ماشومانو ته باید د لوبو مناسب لوازم واخیستل شي او د لوبو ځایونو یا پارکونو ته یوړل شي.

۵- د ښوونې او روزنې حق:

دا هم د ماشوم له حقوقو څخه یو حق دی، چې یو ماشوم یې پر والدینو لري. والدین باید د ماشوم لپاره د ښوونې او روزنې ټول امکانات برابر کړي، تر څو په ښه توګه ښوونه او روزنه تر لاسه کړي. دا حق د ماشوم یوازې پر مور و پلار باندې نه دی، بلکې پر دولت او ټولنه هم حق لري. (۱۳)

د افغانستان اوسنیو شرایطو ته په کتو سره تر ټولو مهمه موضوع د ماشومانو ښوونه او روزنه ده، چې که دغه ماشومان ښه و روزل شي په راتلونکي کې به د هېواد لپاره د خدمت مصدر وګرځي، د دې موضوع د اهمیت لپاره به زه تاسو ته د جاپان یوه بیلګه وړاندې کړم.

کله چې په جاپان اتومی تیری وشو، جاپان په کلی شکل وران وو، د جاپان دبیا جوړولو لپاره د دی هېواد خلکو پریکړه وکړه چې زمور لومړنی کار به مکتب جوړول وي تر څو زمور ماشوم و روزل شي. چې د همدې کار په نتیجه کی نن جاپان یو له پرمختللي هېوادنو څخه شمېرل کېږي. دلته یو بل مهم ټکی ته اشاره کول اړین او لازمی دي، او هغه د ماشوم د حقوقو د ساتنې تر خوا ، ماشوم ته د ښې او مناسبې تربیې ورکول دي. دا کار ایجاب کوي چې کله کله ماشوم ته کلکې او جدي سپارښتنې وشي. مثلاً که یو ماشوم د لوبو په وخت کی د خطرناکه ځیزونو سره لاس وهي، او یا ځینې خطرناک کارونه تر سره کوي، نو هغوی باید په سخته ژبه او جدي توګه منع کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماشوم د روزنې اصول

ننني روانپوهنې دا په ثبوت رسولې، چې د انسان د بریالیتوبونو او ناکامیو راز د هغه د ماشومتوب په پېر (دور) پورې تړلی دی، راځئ، چې د خپلو ماشومانو لپاره دا پېر داسې برابر کړو، چې دوی د بریالیتوب لوري ته بوځي، نه د پرلپسې ناکامۍ په لور. مینه، ثابت پاتې کېدل، د ښه والي نمونه جوړېدل، د باور وړ کېدل، صابر، ځان نه خوښوونکی او فعال اوسېدل دي، چې مور خپلې موخې ته رسوي، مور باید خپلو ماشومانو ته ځانونه د دغو ښېګڼې وګرځوو او وروسته بیا هغوی یې ترسره کولو ته وهڅوو.

مینه د خدای جل جلاله له لورې هغه بې جوړې نعمت دی، چې د ټولو اړیکو بنسټ دی، هرڅومره، چې نورو ته مینه ورکوئ، په بدل کې به یې هماغومره مینه ترلاسه کوئ او زما پر اند د ژوند تر ټولو لوړترینه ډالۍ مینه ده، چې مور او پلار یې خپلو اولادونو ته ورکوي.

ستاسې یا هم ستاسې د ماشوم په ژوند کې قاعده، نظم او مشخص محدودیتونه کولای شي، چې د باور وړ فضا رامنځته کړي، دا هغه څه دي، چې ستاسې ماشومانو ته د ارامتیا د احساس لپاره اړین دي.

که غواړئ، چې ستاسې ماشومان ستاسې په زړه پورې ځانګې ته لېوالتیا پیدا کړي؛ نو ځان ورته داسې ښېګڼه وګرځوئ، چې هغوی له تاسې څخه په ناغوښتې ډول زده کړه وکړي، ځکه چې هغوی داسې یو چا ته اړتیا لري، چې ورنه زده کړه وکړي.

دروغ مه وایاست او زیار وباسئ، چې له ځانه جوړې شوې کړنې مه ښایاست، ستاسې ماشومان باید ستاسې اصلیت او رښتینی حالت ویني او وپېژني.

کوښښ وکړئ، چې له خپلو ماشومانو سره ډېر وخت تېر کړئ او په تېره هغه وخت، چې تاسې ته اړتیا لري د هغو غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړئ. مه پرېږدئ، چې ځینې نور مسایل ستاسې او ستاسې د ماشومانو ترمنځ راشي او واټن جوړ کړي.

هغوی ستاسې له کړنو سره سم بدلون کوي، هڅه وکړئ له هغوی سره ښه چلند وکړئ او راتلونکي ته خوښ اوسئ، ځکه چې هغوی به هم همداسې را لوی شي او د خپل ژوند څخه به خوند اخلي.

له خپلو ماشومانو سره په ورو او سړه سینه چلند کوئ، ځکه چې ژوند خپله په بېړه روان دی او مه غواړئ، چې خپلو ماشومانو ته په بېړه هرڅه ور وښایاست، د خپلو ماشومانو سره د لارښوونې یا د هغوی د روزنې په برخه کې هېڅکله هم مه ستړي کېږئ، ځکه چې رښتیا هم د ماشومانو روزنه ډېرې حوصلې او نرمښت ته اړتیا لري.

له ځان ساتنې څخه ځان وژغورئ او په دې ژغورنې کې خپل ماشومان هم د ځان ملګري کړئ، ځکه چې له دې لارې خپله انرژي نورو ته په ګټې رسولو کې مصرف کړئ، چې دا دود ستاسې تر ماشومانو ورسېږي او دوی هم په خپل ژوند کې یوه هوسا او ټولنیزه ټولنه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلې هرې خبرې عمل کوئ او له دې لارې به ستاسې ماشومان دا هم زده کړي، چې د ښه ژوند کولو لپاره یوازې فکر او خبرې کول نه؛ بلکې عمل کول یې اصل دی.

هر انسان د ښه ژوند کولو لپاره یو لړ اصولو او قانونو ته اړتیا لري، چې د هغو له لارې د ښو او بدو ترمنځ توپیر او تشخص وکړي. تاسې باید پر دوی د باور وړ فضا رامنځته کړئ او دوی به هم له دې لارې په تاسې ډېر باور ولري او ستاسې پلوي وکړي.

تاسې کولای شئ، چې د نویو شیانو زده کړه، د نویو شیانو ترلاسه کول، بېلابېل لید لوري له خپلو ماشومانو سره شریک کړئ، چې هغوی له ماشومتوبه داسې ټولنیز اخلاق لرونکی انسان جوړ شي، چې راتلونکی ژوند یې خوښ او بریالی وي.

هر هغه کار چې موږ یې ترسره کوو، زموږ په ماشومانو نېغه په نېغه او یا غیر مستقیمه اغېز لري؛ نو موږ باید د یو بل ملامتولو او بهانه کولو څخه تېر شو او خپله لاس په کار شو، یانې خپل ډېری وخت د خپلو ماشومانو په ښې روزنې کې مصرف کړو.

د مور او پلار همغږي د ماشومانو د ښې روزنې په اړه یو مهم او ضروري اصل دی. هر هغه موقف چې د دوی څخه یو یې د ماشوم په وړاندی غوره کړي، باید د زېرنوالو د بل یوه له خوا هم تایید او پلوي یې وشي. دا کار په ماشومانو مثبت اثر اچوي. خو که زېرنوال د ماشومانو د کړو وړو پر وړاندې متضاد او مشاجرتي موقفونه غوره کړي، دا د ماشومانو په تربیه ډېر منفي اثر غورځوي. او ماشومان ډېر ژر دا زده کوي چې څرنګه د زېرنوالو د دغه اختلاف نه په خپله ګټه نا سالمه فایده اوچته کړي.

د ماشومانو بریالیتوب یوازې په دې کې نه دی، چې هغوی دې په ښوونځي کې پوره نمرې ترلاسه کړي او یا هم لوړې زده کړې ولري او یا هم په خپلو کارونو یا سوداګرۍ کې بریالي وي. د هغوی بریالیتوب دا دی، چې په دې ستړې نړۍ کې د خوشاله ژوند کولو او له خلکو سره د ټولنیز ژوند جوړولو په چارو کې تر بل هر چا مخکښ اوسي.

په پای کې غواړم دا ووایم، چې زاځئ، په خپلو اولادونو پانګه اچونه وکړو، ځکه چې تر ټولو غوره پانګه اچونه همدا د خپلو ماشومانو ښه روزنه ده، نو زاځئ چې له همدې ځایه یې پیل کړو او د خپلو ماشومانو په ښه روزنه کې ډېر کوښښ وکړو

د اولادونو روزل تر زېږه ولو مهم او ګران دي.

د انسان لپاره د الله تعالی له سترو نعمتونو څخه یو هم بچیان دي. هغه انسان ډېر نېکمرغه دي چې د بچیانو له نعمت څخه برخمن وي. کوچنیان د راتلونکې هیلې او امیدونه دي. دوی زمونږ د سترګو نور، د کور ښایست او د راتلونکي معماران دي.

هر انسان د اوږده ژوند، د خپل نوم د پا تیوالي او د هغه د لرې یا ډیرې ګټلې شتمنۍ له پاره د وارث درلودنې فطري هیله لري.

دی هیلې ته رسېدنه یوازې د نیک اولاد په وسیله کیدای شي. نیک عمله ماشومان زمونږ وارثان، زمونږ د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ولس د راتلونکي واکمنان او زمونږ د ولس ساتونکي دي.

همدا لامل دی، چې په قران کریم او نبوي لارښوونو کې د کوچنیانو ښوونې او روزنې ته د پام کولو او له هغوی څخه د غوره مسلمانانو او غوره انسانانو جوړونې په اړه ټینګار شوی. له الله (ج) څخه د نیک عمله او منونکي اولاد غوښتنه د مؤمنانو په ځانګړتیاو کې شمېرل شوې ده:

وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ○ (الفرقان ۲۵:۷۴

(او هغه چې دا دُعا کوی چې ای زمونږه ربه، زمونږ په ښځو او بچیانو زمونږ ستر ګې یخې کړه او مونږ د پرهیزګارانو مخکښ وګرځوه.)

دا ډول نورې دُعاګانې هم شته چې انسان یې په خپله هم کوي او له نورو څخه یې هم غواړي. دا یو منل شوی حقیقت دی چې کله ماشوم پیدا کېږي نو د سپین کاغذ په څېر پاک، سوچه او د سالم فطرت لرونکی وي، چې د حال په ژبه د خپل پیدا کوونکي د خالقیت شاهدي ورکوي.

الله تعالی فرمایي:

فِطْرَةَ اللّهِ الّتِي فَطَرَ النّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللّهِ – الروم، ۳۰.

ترجمه:

دی حقیقت ته رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې اشاره کړې:

هر کوچنی په (سالم) فطرت پیدا کیږي، بیا یې وروسته مور او پلار یهودي، نصراني یا مجوسي کوي. (بخاری او مسلم)

دا هم یو حقیقت دی چې تر ټولو ستونزمن کار د ماشوم ښوونه او روزنه ده. دا کار د څه لنډې مودې کار نه دی، بلکې د کلونو، کلونو او مودو، مودو هلو ځلو ته اړتیا لري. لکه څرنګه چې د کلونو موده کې یوه ملغلره جوړیږي، په همدې ډول کلونه پرله پسې هلو ځلو ته اړتیا ده څو د انسان شخصیت پکې بشپړ شي.

یو کوچنی له ښوونځي څخه له راتګ وروسته د شپې ورځې نږدې په څلورو کې درې برخې په کور کې تیروي. له خپلې مور، خویندو او وروڼو، خپلو او خپلوانو سره وي او یو څه وخت له کوره دباندې له خپلو همزولو سره هم تیروي، ځکه نو د روزنې مسؤلیت تر ډېره بریده د ماشوم د مور، پلار، خویندو او وروڼو په غاړه وي.

د دې تر څنګ د روزنیز مسؤلیت یوه برخه د ښوونیزې اداري او ښوونکو په غاړه هم وي. ماشومان له خپل چاپېریال څخه ډېر ژور اغېزمن کېږي. له دې کبله د کوچنیانو له پاره د ښه چاپېریال چمتو کول او له ناوړه چاپېریال څخه یې خوندي ساتنه لازمي ده. که دا کار له یوه لوري ډېر اړین دی، له بل لوري ستونزمن هم دی، او اوږده موده غواړي. په لاندې توګه د کوچنیانو د روزنې په اړه څو سپارښتنې وړاندې کیږي:

- لومړنی ښوونځی: د ماشوم تر ټولو لومړنی ښوونځی د هغه کور او هلته تر ټولو لومړی ښوونکی د هغه مور ده. ماشوم چې د خپلې مور هر کار ګوري، دی هم کټ مټ هماغسې کوي. مور یې چې څه ډول غږیږي، کوچنی هم هماغه شان خبرې کوي. لنډه دا چې مور هر کار کوی، بچی یې هم هماغه کار کوي.

له کوره وروسته د روزنې دوهم ځای د هغه ښوونځی دی، او هلته د کوچني له پاره بېلګه د هغه ښوونکي دی. کله کله خو د ښوونکي په خبره دومره باور کوي چې د هغه پر خلاف د بل هیچا خبرې ته غوږ نه ږدي، او وایي چې زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد را ته داسې ویلي دي. ځکه نو په کار ده چې ښوونکي باید په خپل مسؤلیت پوه شي.

دا چې کوچنی ډېر وخت په کور کې تېروي، همدا لامل دی چې الله تعالی او رسول الله د کوچني د روزنې مسؤلیت اساساً د هغه په مور او پلار اچولی. د پورته ذکر شوي حدیث الفاظ بیخي څرګند دي چې وایي هر انسان په (سالم) فطرت پیدا کېږي، بیا یې وروسته خپل مور او پلار یهودي، نصراني یا مجوسي کوي. که دې حدیث ته ژور فکر وشي، ترې څرګندیږي چې د اولاد د روزنې دروند مسؤلیت د مور او پلار په غاړه دی. په ښه ډول د دغه مسؤلیت د تر سره کولو له برکته مور او پلار د اخرت د خوښیو، سوکالۍ، ښادۍ او خوشالۍ وړ ګرځي.

ماشوم معمولاً له درې لارو څخه زده کړه کوي چې له دوی څخه د دوو مسؤلیت یې د مور په غاړه دی:

1. تقلید
2. لارښوونه
3. تجربه

د مور او پلار د هر عمل کتنه د کوچني په ذهن کې د کاپي د کرښې په څیر ځای نیسي. د همدوی په لاره ځي او له دوی څخه لارښوونې اخلي او ورو، ورو د ژوند له تجربو څخه زده کړه کوي.

د کوچنیانو په هکله دا ګومان کول چې دوی ناپوه دي، او نه پوهیږي، بیخي ناسم کار دی. الله تعالی جل جلاله هغوی له ټولو اړینو وړتیاوو څخه برخمن کړي. مګر دا وړتیاوې ورو، ورو راڅرګندېږي. کوچنی چې هر څه ګوري څه ناڅه یې په خپل ذهن کې خوندي کوي. تجربو په ډاګه کړې ده، چې د ژوند په لومړیو وختونو کې د ماشوم په شخصیت تر ټولو زیات اغېز لرونکي کسان دوه دي، چې یو یې مور او بل یې پلار دی. ماشوم د مور او پلار له فطري پاملرنې او زړه سوي څخه برخمن وي. له همدې کبله کوچنی د هغوی د شخصیت هر اړخ د ځان له پاره بېلګه ګڼي.

په دغه معصومانه عمر او دغه پړاو کې، چې ماشوم د سم او ناسم تر مینځ توپیر نه شي کولی او لا تر دې دمه یې د تمیز قوې وده نه وي کړی، هغه ته هره هغه خبره سمه ښکاري چې مور او پلار یې ور ته ویلي وي چې دا سمه ده، او هره هغه خبره ور ته ناسمه ښکاري، چې دوی ور ته ویلي وي چې ناسمه ده. کوم کار چې مور او پلار کوي، کوچنیان یې هم کوي. که مور او پلار یې اشارې کوي، ماشومان یې هم کوي، څه ډول چې دوی کښیني، بچیان یې هم هماغسې کښیني. مور او پلار، مشران وروڼه او خویندې او د کورنۍ نور غړي د کوچنیانو له پاره لومړنۍ بېلګه وي. که دی حقیقت ته وکتل شي، په ډاګه به شي، چې د مور او پلار په اوږو د خپل کوچني د روزنې څومره ستر بار پروت دی او دې بار ته اوږه ورکول څومره ستونزمن کار دی.

- **د خبرو بڼه:**

له کوچنیانو سره د خبرو پر وخت باید ټول هغه ټکي په پام کې ونیول شي چې له مشرانو او غټانو سره د خبرو پر وخت په پام کې نیول کېږي.

له هغوی سره له ناوړو او خرابو خبرو څخه باید ډډه وشي، که نه هغوی به هم بیا هماغه خبرې کوي که مونږ له هغوی سره له درناوي ډکې خبرې وکړو، هغوی به هم هماغسې خبرې کول زده کړي او بیا به له درناوي ډکې خبرې کوي. ځکه نو په کار ده چې له ماشومانو سره په پوره پاملرنه خبرې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوی په مخکې له بېهوده خبرو، بې ځایه ټوکو، ښکنځلو، او بې ادبه خبرو څخه په کلکه ځان وژغورئ. له هغوی سره په نرمه ژبه خبرې وکړئ، مه یې رټئ، ځکه چې له دې کبله د کوچنیانو په زړونو کې ډار لویږي او په شخصیت یې ناوړه اغېز ښندي.

تاسې د کور ښوونکی او معلم یئ، نه د کوم عسکري کنډک مشر. په کار ده چې کوچني ته په حکمت سره د ښو او بدو تر مینځ توپیر وروښیئ. چېرته چې اړتیا وي، په قهرېدل هم ورته په کار دي مګر هغه باید په دې خبره پوه کړل شي چې په کومه ګناه هغه ته په غوسه شوی یې. په دې کار سره ماشوم خپله تېروتنه هم پېژني او په هغه کې د مسؤلیت احساس هم راویښیږي.

د ماشومانو خبرو ته پام کول:

د کوچنیانو خبرې باید پاکې، مهذبې او په غوره اخلاقو بنا وي. په دې برخه کې هغه ته لارښوونه کول په کار دي تر څو د نن کوچنی وکولی شي سبا د لویوالي پر وخت د ښو او غوره خبرو توان ولري او په خپلو غوره خبرو نور هم تر اغېز لاندې راولي. زمونږ په ټولنه کې د ښکنځلو او چټیاتو ویلو رواج دی. د انسان په ښوونه او روزنه کې ژبه ستره ونډه لري. له دې کبله د ماشوم د خبرو ځارنه په کار ده. که چېرې یې په کومه ښکنځل یا بده خبره ژبه اوښتي وي، باید پرېښودلو ته یې اړ کړل شي. ځینې ښکنځل، کفري کلمې او ګناه وي، لکه په چا لعنت ویل، په دروغو قسم خوړل او نور چې په کار ده کوچنیان ترې خوندي وساتل شي. د ماشومانو په مخکې غوره بېلګه او معیار ساتل اړین دي. که ماشومانو ته بېلګې او مثالونه راوړل کیږي، نو باید د دیني، اخلاقي، ټولنیزو او له علمي پلوه اوچتو شخصیتونو بېلګې ور ته راوړل شي. دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم سُنت دي.

له دروا غو څخه ډډه کول :

د بچیانو په مخکې د درغلې، تیر ایستنې او بې ایمانۍ خبرې کول نه دي په کار، او نه هم باید له هغوی څخه غوښتنه وشي چې دروازې ته لاړ شي او پوښتونکي ته ووایي، چې پلار مې په کور کې نه شته. دا دروغ او بده لاره ده. ماشوم باید په ریښتیا ویلو بلد کړای شي. په اسلام کې د درواغو د غندنې ارزونه له هغه حدیث څخه په ښه ډول کیدای شي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې مؤمن دروغجن او خائن کیدای نه شي.

- ادب او اخلاق:

هڅه وکړئ چې د ورځې او شپې یو وخت ډوډۍ د کور ټول غړي په ګډه او یو ځای وخورئ. له دې سره مینه زیاتیږي، بې تکلفي رامینځ ته کیږي او د ډوډۍ سلیقه جوړیږي. په ډوډۍ کې برکت هم پیدا کیږي. د غټو او وړو روزنه پکې کیږي او د کمترۍ او برترۍ احساس پکې له مینځه ځي. خپلمنځي مینه پکې غوړیږي، د دین او دُنیا په اړه پکې څه ناڅه خبرې هم کیږي. د نن سبا د کورنیو د نسلونو تر مینځ واټن او خپلمنځي لرېوالي یو لامل دا هم دی چې غټ او واړه یو ځای نه سره کښیني، بلکې له یوه بل څخه لرې لرې کیږي. ګډه او یو ځای ډوډۍ خوړل نورې هم ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګټې لري، له ګډو او یو ځای کښیناستو څخه د مشرانو ادب او پر کشرانو د زړه سوي خوی پیدا کیږي. ماشومان د لویانو درناوی او په غوره لاره د خبرو کولو چل زده کوي. سربېره پر دې اسلامي خویونه او اداب هم زده کوي.

- د پاکوالي او نظافت په برخه کې روزل:

د مور او پلار له سترو مسؤلیتونو څخه یو هم خپل بچیان له پاکوالي او نظافت سره عادت کول دي. په هغوی کې د حلال او حرام، پاک او ناپاک، روا او ناروا، سوچه توب او چټلې تر مینځ د توپیر د حس روزنه په کار ده. هغوی ته دا شعور ورکول په کار دي چې که په تشو یا ډکو متیازو یا کوم بل نجس شي یې لاسونه چټل شي باید پاک یې کړي، په اوبو او صابون یې وویني او په لاس وچې یې وچ کړي. په کور کې باید د هر چا لاس وچې جلا وي، او ماشومانو ته هم باید جلا لاس وچې ورکړل شي. په دې توګه له کوچني سره د خپل ملکیت احساس پیدا کیږي. همدا راز باید ورته له ډوډۍ څخه مخکې او وروسته لاس مینځلو په اړه روزنه ورکړل شي او په اهمیت یې پوه کړل شي.

د چاپېریال له بدو اغېزو څخه خوندي ساتل:

له کورونو څخه بېرون چاپېریال ته په کتلو سره باید د هغه له شر څخه د ځان ساتلو په موخه خپل ځان او خپل بچیان (زیاتره وخت) د کور د ننه وساتئ، خو دا مو په پام کې وي چې له کومې بوختیا او مصروفیت پرته د کور د ننه ساتنه غیر فطري او ضررناکه کار دی.

ځکه نو د هغوی د بوختیا له پاره ګڼ شمېر کارونه په پام کې نیول په کار دي، د بېلګې په ډول په ښوونځي کې د ورکړل شوې کورنۍ دندې تر سره کول، که ماشوم کوچنی وي د هغه له پاره د لانځکو او لوبو د وسایلو شتون، د کور د ننه لوبو انتظام کول، رسامي، اخلاقي او معلوماتي کیسې کول، نارینه کوچنیان له پلار یا مشرانو وروڼو سره جومات ته لېږل او لمونځ پرې کول، د روا ساتیرۍ ځایونو ته بیول، د تلویزون معلوماتي او تفریحي پروګرامونه (لکه انځوریزې کیسې) ور ته ښودل او نور. همداراز ماشومانو ته د ښو ګاونډیانو له ښو ماشومانو سره د لوبو او ساتیرۍ کولو محدوده او د سترګو له کونجونو لاندې اجازه ورکول هم په کار دي. له لمر لویده وروسته یې مه پرېږدئ چې له کوره بېرون لاړ شي. په حدیث شریف کې له دې څخه د ځان ساتنې امر شوی. ماشوم ته جیب خرڅ لږ ورکول په کار دي او که زیات ورکړل شي، نو هغه په څه ډول له بچت سره عادت کول په کار دي. په دې توګه کوچنی له مسؤلانه لګښت او له بدخرڅۍ څخه ځان ساتنې سره عادت کیږي.

- د ورځنیو مسنونه دُعاګانو ورښوونه:

ماشومانو ته ورځنۍ دُعاګانې له سم تلفظ سره ور زده کړئ، د هغو په معنی یې هم پوه کړئ او په خپل ځای کې لوستلو سره یې هم عادت کړئ. د بېلګې په ډول له خوب څخه د راویښېدو دُعا، سلام اچول، تشناب ته د تګ او بېرته راتګ دُعا، له اوداسه وروسته دُعا، په سمه توګه بسم الله ویل، له ډوډۍ خوړلو وروسته دُعا، د درس ویلو او په علم کې د زیاتوالي دُعا، الحمد لله ویل، د شُکر دُعا، د ویده کېدلو دُعا او نورې دُعاګانې ور زده کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مساویانه چلن:

کوچنیان هلکان وي که نجونې، مساویانه او یو ډول چلن ور سره په کار دی. دا ډول مساویانه چلن په خوراک، څښاک، پوښاک، خبرو اترو او راشه درشه کې د اسلامي تهذیب او لارښوونو روح دی.د لوړو او زامنو تر مینځ مساویانه چلن نه کول جاهلانه دود او د جاهلیت د وخت نښه ده چې اسلام یې په اړه ډاګیزې لارښوونې لري.

د کوچنیانو د روغتیا ساتنه:

د ماشومانو د روغتیا ساتنې مسؤلیت د مور او پلار په غاړه دی. ځکه نو د هغوی د ناروغه کېدو پر وخت یې په خپله درملنه نه ده په کار بلکې کوم وړ او پوه ډاکټر باید وښودل شي.د خوراک، څښاک په شیانو کې باید د ماشومانو روغتیا په پام کې ونیول شي. داسې خوراک باید هېڅکله هم هغوی ته ور نه کړل شي چې روغتیا ته یې تاوان رسوي.د روغتیا ساتنې اصول تل په پام کې نیسئ او خپلو ماشومانو ته یې هم وروښیئ.

له لیک لوست او اصلاحي برنامو سره اشنا کول:

د ماشومانو د روزنې په اړه یو مهم اړخ له مطالعې او لوست سره د هغوی مینه پیدا کول دي. دا چې تر ټولو لومړی ښوونځی کور دی، نو ځکه له کتاب سره د هغوی د لېوالتیا پیدا کولو بنسټ باید له کوره کېښودل شي. په پیل کې مور یا پلار خپلو بچیانو ته د ویده کېدو پر وخت د کیسو، د انبیاوو علیهم السلام د کیسو، او نورو زړه راښکونکو کیسو په اورولو سره په هغوی کې د دې مینې بنسټ ایښودلی شي. کېدای شي، چې مور یا پلار له کتابونو څخه د کوچنیانو په لېوالتیا برابرې کیسې ولولي. په کور کې د ماشومانو له پاره د لیکل شویو کتابونو شتون هم دا لېوالتیا ډیرولی شي. کله کله باید سړی کوم داسې کتاب پلورنځي ته لاړ شي، چې د کوچنیانو له پاره لیکل شوي کتابونه لري، ویې پېري او د ښوونځي له ازموینو څخه له بریالۍ راوتنې وروسته یا له کومې بلې لاس ته راوړنې څخه وروسته یې خپلو کوچنیانو ته د جایزې په توګه ورکړي. هڅه وکړئ چې د ماشوم او د کتابتون تر مینځ اړیکه جوړه کړئ. کوم نړدې کتابتون ته خپل بچیان له ځان سره بوځئ. همداراز کولی شئ چې د ښوونځي له کتابتون سره یې اشنا کړئ. په کار ده چې دې ټکي ته ښوونکي هم پاملرنه وکړي. کولای شئ په دې سره د ماشومانو په ذهن کې له کتاب سره ملګرتوب او دوستي ورو، ورو پیاوړې کړئ کتابونو ته مخه کول او د رسالو او کتابګوټو مطالعه د خپلو کوچنیانو اړتیا وګرځوئ داسې چې خپل ماشومان د ادبي بنډار په شان پروګرامونو کې ورګډ کړئ. ماشوم نور په خپله له خپلې لېوالتیا سره سم د کیسو ویلو، وینا کولو، قران او حدیث څخه د ځانګړو موضوع ګانو ټاکنې، زرینو ویناوو، معماګانو او سیالیو له پاره د پوښتنو او ځوابونو چمتو کولو له پاره کتابونو ته مخه کوي. په دې سره د کتاب لوستنې مینه هم زیاتیږي او په تعمیري

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرګرمیو کې د ونډې اخیستنې له برکته د کوچني د شخصیت پټ جوهر هم برسېره کېږي. که په خپله د کتاب دوستۍ څرګندونه وکړئ، کتابونه وپیرئ، مطالعه وکړئ او نورو ته یې د مطالعې له پاره ورکړئ، او د خدای د مخلوق خدمت وکړئ نو په فطري ډول به مو ماشومان هم له دې کارونو سره وټرل شي. که غواړئ دا کار په پوره نظم او پرله پسې والي سره تر سره کړئ، له یوې داسې ټولنې سره خپلې اړیکې جوړې کړئ چې د اسلام او انسانیت له پاره منظم، پرله پسې، هراړخیز، او د عیني واقعیتونو په پام کې نیولو سره په پوره هوډ او له ټاکلې برنامې سره سم کار کوي.

- له تعلیمي ادارو سره اړیکې ساتل: *چیرې چې ستاسې اولاد غټیږي، کوم کسب زده کوي، د هغه ځای له مسؤل یا څارونکي اُستاذ سره کله کله ګورئ، انښتنه پوښتنه یې کوئ.*

کله نا کله ور ته زنګ وهئ، کله په خپله ورځئ، کله د کور کوم بل غړی ورلیږئ او اړیکه ور سره ټوندۍ ساتئ. خپل ماشوم هره ورځ نښوونځي ته لیږئ او که چېرې یې رخصت ته اړتیا وي د نښوونځي اداري ته په خپله خبر ورکړئ.

د ماشوم نښوونیزه، دیني، اخلاقي او ټولنیزه روزنه وکړئ، دین او ایمان یې پوخ کړئ په دې توګه به داسې اولاد په دې دُنیا او هغې دُنیا کې ستاسې د سوکالۍ لامل شي.

د هغوی له نښو کړو وړو څخه به تاسې ته د ګور په تیارو او یوازېتوب کې ګټه در رسېږي او د حساب په ورځ به مو د هغوی شفاعت په برخه شي. ماشوم نښوونځي ته په داسې ډول ولیږئ چې د درس پر وخت په ټولګي کې موجود وي. کوچنی له پوره چمتووالي سره او په ټاکلو کالیو پوښلی پاک، سوچه نښوونځي ته ولیږئ.

دا څو خبرې نښوونځي، مدرسې یا کومې بلې نښوونیزې اداري ته د تلونکو ماشومانو په هکله وړاندې شوې. په دې کې د اولاد ټول حقونه نه دي بیان شوي. یوه سپارښتنه دا ده چې مور او پلار باید د کوچنیانو د نفسیاتو او په ځانګړې ډول د کوچنیانو د تعلیمي، عمومي او فطري نفسیاتو په هکله دوه، درې کتابونه خامخا ولولي او د د عملي کولو هڅه یې وکړي.

له الله تعالی څخه غواړو چې زمونږ بچیان زمونږ د سترګو یخوالی او غوره ځای ناستی وګرځوي، هغوی نیک صالح لوی کړي، هغوی له دیني او دُنیاوي پرمختګ څخه برخمن او د ګران هېواد غوره بچیان وګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومان او صحت :

د یو ماشوم په ودې او روزنه کې روغ صحت د پام وړ رول لري. له روغ صحت سره ماشوم کولی شي سالمه وده او انکشاف وکړي، یعني که یو ماشوم روغ صحت ونه لري له یو پلوه به د هغه بدن له کمزورۍ سره مخامخ وي او له بلې خوا به له پرمختیا څخه بې برخې وي، لکه د تعلیم، کسب او کار او یا هم د ټیکنالوژۍ په برخه کې به بې برخې وي. په نتیجه کې به یې د خپل ځان بار پر بل اچولی وي او نه به شي کولی چې د یو سالم ماشوم په شان وده او نمو وکړي.

د یو ماشوم د ښه صحت په برخه کې د هغه موراو پلار ډېر رول لري، چې وخت په وخت یې ډاکتر ته وښیي. نو ویلای شو چې ډاکتر هم د ماشوم په ښه صحت کې ډېر رول لري چې وروسته به یې د هغه په رول رڼا واچوو.

د ماشوم د صحت او سلامتۍ په اړه د ماشوم د کنوانسیون مواد:

د دې په خوا کې چې ماشوم ډېر حقوق د خپل ژوند د تېرولو لپاره لري، یو هم د هغه د صحت حق دی چې د ماشوم د حقوقو کنوانسیون پر هغې باندې تاکید کړی دی.

د دې کنوانسیون ۲۴ مادې پر غړو دولتونو باندې د ماشوم د صحت د حق په اړه تاکید کړی دی او د هغې رعایت ته یې رابللي دي.

د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په ۲۴ ماده کې داسې راغلي دي:

د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون غړي دولتونه متعهد دي چې تر ټولو لوړو صحي معیارونو او تسهیلاتو برابرول، د ناروغیو درملنې، توانبخشۍ او د ماشومانو د سلامتۍ حق په رسمیت وپېژني.

او دا متعهد دولتونه کوشش کوي چې هېڅ یو ماشوم دې خدماتو ته د لاس رسي له حق څخه محروم نه شي.

د ۲۴ مادې په (ح) فقره کې راغلي دي: د دې کنوانسیون متعهد دولتونه به د دې حق د اجراء په برخه کې ځارنه کوي او لاندې مناسب تدابیر به اتخاذ کوي.

الف: د نویو پیدا شویو ماشومانو د مرګ او میر په کچې کې کموالی.

ب: د ټولو ماشومانو لپاره طبي لازم کومکونه او طبي مراقبتونه برابرول او تاکید پر دې کوي چې طبي اولیه مراقبتونه پراخوالی ومومي.

ج: د سوء تغذیې پر وړاندې مبارزه د اولیه صحي مراقبت په چوکاټ کې د تقویې د غذاء په برابرولو او پاکو اوبو د تهیه کولو له طریقه او د محیط د الودګۍ خطراتو ته د توجه له لارې.

د: له ولادت څخه مخکې او وروسته د مورګانو لپاره د صحي مراقبت تضمین.

ه: د دې تضمین چې ټولې اجتماعي ډلې، خصوصاً والدین او ماشومان د ماشوم د صحت او تغذیې په برخه کې، د مور د شیدو امتیازات او د محیط نظافت او حفظ الصحه او له تصادماتو څخه د مخنیوي په اړه اطلاعات او لږ تر لږه په عمل کې له ابتدایي پوهې څخه استفادې ته لاسرسی ولري.

و: د اولیه صحي مراقبتونو توسعه او وقایه، د والدینو لپاره د کورنۍ د تنظیم زده کړې او لارښودونکي خدمات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صحت او سلامتی اهمیت:

صحت او سلامتي څه په فردي ډول او څه په ټولنیز ډول د ژوند له مهمترینو مسایلو څخه دي، چې له تاریخ څخه وړاندې نه تراوسه پورې بشر د هغې د لاسته راوړلو لپاره کوششونه کړي دي.

معاصر اړوپوهان پر دې عقیده دي چې د یوې سالمې ټولنې په منظور د هر فرد بدني صحت او سلامتي د هغه پر شخصیت او ذهني انکشاف باندې مستقیم تاثیر لري. لکه چې وایي (سلیم عقل په سالم بدن کې دی) نو وړاندې نه ثابته شوې ده چې بغیر له دې څخه چې په رواني سلامتیا کې د بدن سلامتي بې اهمیته وشمېرو؛ نو له دې اصل څخه چې سالم بدن د سالم عقل صم دی، غافل شوي به یو.

له دې څخه معلومېږي چې یو ماشوم بغیر له سالم بدن څخه سالمه ذهني روزنه لاسته نشي راوړی. سلامتي او صحت د خدای جل جلاله لوی نعمت دی چې چا ته یې ورکړی وي، باید د دې نعمت شکر اداء شي او حفاظت یې وشي.

ب- ماشومان او کار:

یو له ډېرو مهمو مسایلو څخه چې په جهان کې مطرح دی او تر جدي بحث لاندې دی، هغه د ماشومانو د کار موضوع ده.

د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون ۳۲ ماده د دې کنوانسیون متعهدو هېوادونو د مکلفیت په اړه د اقتصادي استثمار د مخنیوي او د هغه بدې اغېزې او د هغو کارونو په اړه چې د ماشومانو له توان څخه پورته وي او د هغوی پر صحت باندې د دې مادې په ۱ فقره کې داسې بیان کړی دی:

اول: دې کنوانسیون ته متعهد دولتونه د ماشومانو د حمایې د حق په مقابل کې، اقتصادي استثمار او د خطرناکو کارونو د اجراء، یا هغه کارونه چې د هغوی د تعلیم د اخلال سبب شي او یا د هغه صحت، جسمي رشد، فکري او معنوي او اخلاقي او اجتماعي رشد ته تاواني وي په رسمیت ونه پیژني.

دویم: د دې مادې په دویم بند کې راغلي دي: دې کنوانسیون ته متعهد دولتونه باید د دې مادې د اجراء لپاره لازم قانوني، اجرایوي، اجتماعي او روزنیز تدابیر ونیسي. نورو بین المللي قراردادونو ته چې په دې اړه موجود دي توجه وکړي، او دې کنوانسیون ته متعهد هېوادونه لاندې اقدامات باید تر سره کړي.

الف: د استخدام لپاره د حد اقل سن تعین.

ب: د کار د ساعتونو او شرایطو لپاره مناسبو لوایحو ترتیب.

ج: د دې مادې د عملي تضمین لپاره د مجازاتو او تعزیراتو تعین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومان او معلمان

کله چې ماشوم دنیا ته سترګې و غړوي نو له خپلې مور او کورنۍ سره مخامخېږي او تر هغې پورې له خپلې کورنۍ سره د کور په داخل کې سر و کار لري؛ تر څو چې دی د دې جوګه شي چې پر خپلو پښو ودرېږي او بهر ته لاړ شي، تر هغې پورې چې دی ښوونځي ته د تګ جوګه شوی نه وي ؛ خو په دغه دوره کې د ده پالنه او روزنه د مور او پلار پر غاړه وي. کورنۍ ورته غذا برابروي، جامې ورته برابروي، صحي مشکلات يې رفع کوي او تر يو حده تربيه هم ورته ورکوي. ولې کله چې ماشوم د دې جوګه شي چې ښوونځي ته لاړ شي او په ښوونځي کې د والدينو تر څنګ له يو بل داسې شخص سره مخامخېږي چې د ده ښوونه او روزنه د هغه پر غاړه کېږي.

معلم د مانوي پلار حيثيت لري، هغه د دې اصل پر اساس چې ښوونه او روزنه د انسان د ژوند يو مهمه برخه ده او د انسان لپاره ډېر اهميت لري. نو ويلای شو چې معلم د ماشوم په ښوونه او روزنه کې له خاص رول او اهميت څخه برخورداره دی او بايد قدر او احترام يې وشي.

الف- د معلم نقش د ماشوم د حقوقو د کنوانسيون په رعايت کې:

مهمترين او موثر ترين فرد په هره تربيتي موسسه کې معلم دی او نه شو کولای چې د راتلونکو نسلونو د شخصيت په تشکيل کې د هغه له رول څخه سترګې پټې کړي. ماشومان چې د نړۍ زياته برخه تشکيلوي او په راتلونکي کې د جامعې د ښځې او نر په عنوان د ټولنې سرنوشت په لاس کې اخلي. نو د دوی ښوونې او روزنې ته لاسرسی راتلونکې نړۍ ته زيات اهميت لري او خصوصاً زمونږ په شان جنګ ځپلي هېواد ته.

له هغه ځايه چې زمونږ موضوع د ماشوم د حقوقو يانې د شاګرد د حقوقو رعايت د معلم په وسيله دي په دې مورد کې د ماشوم د حقوقو کنوانسيون ۲۸ او ۲۹ مادو کې داسې صراحت موجود دی:

۲۸ ماده :

۱- د ماشوم د حقوقو د کنوانسيون متعهد هېوادونه د ماشوم د تعليم او تربيې حق په رسميت پېژني. او د دې حق د عملي کېدو لپاره د خپلو امکاناتو په اندازه بايد دا لاندې تدابير ونيسي.

الف: د ټولو لپاره اجباري او وړيا لومړنۍ زده کړې او روزنه.

ب: د ثانوي تعليماتو تشويق او پراختيا د هر ماشوم لپاره او د مناسبو تدابيرو اتخاذ کول د وړيا زده کړو او تربيې لپاره او د لزوم په صورت د مالي کومک ورکول.

ج: لوړو زده کړو ته د ټولو لاس رسي د استعداد په بنياد له ټولو و سايلو څخه په استفادې سره.

د: د ټولو ماشومانو د تعليمي او حرفه يې رهنماوو برابرول او د هغوی ميزان کول کوم چې له مکتب څخه اخراج شوي دي.

۲- دې کنوانسيون ته متعهد هېوادونه بايد مناسب تدابير ونيسي تر څو د مکتب انضباط او دسپلين په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکل تطبیق کړي چې د ماشوم له انساني مقام سره سازګار وي او له دې کنوانسیون سره مطابقت ولري.

۳- د دې کنوانسیون متعهد هېوادونه باید بین المللي همکاري ولري. د ښوونې او روزنې د مربوطو موضوعاتو په برخه کې، خاصه توجه په نړۍ کې د بې سوادۍ او جهل کچه کمه کړي او د تدریس نوې طریقې تشویق او هغو ته پراخوالی ورکړي او په دې لار کې باید نویو پرمختګ کونکو هېوادونو ته خاصه توجه وشي.

۲۹ ماده:

دې کنوانسیون ته ژمن هېوادونه موافقت کوي چې د ماشوم ښوونه او روزنه باید په لاندې عرصو کې ترتیب شي.

الف: د ماشوم د شخصیت رشد، جسمي او فکري توانایي او استعداد تر پوره حده.

ب: د احترام د حس رشد، د بشري حقوقو، سیاسي ازادیو او همدارنګه د ملګرو ملتونو د منشور اصولو ته احترام.

ج: د ماشوم والدینو ته د احترام د حس رشد؛ خپل فرهنګي هویت، ژبې او د هغه هېواد ملي ارزښتونو ته په کوم کې چې ژوند کوي او خپل اصلي وطن ته او خپلو مختلفو تمدنونو ته احترام.

د: ماشوم په یوه ازاده ټولنه کې د یو با مسولیته ژوند لپاره تیارول او همدا راز د ټولو خلکو تر مینځ او د قومي ډلو او مذهبي ډلو ترمینځ د همکارۍ روحیه ورکول.

ه: طبعي محیط ته د احترام د حس رشد، او دوستي کول.

د یو معلم صفات:

معلمي یوه مهمه او سخته مسئله ده او دې مقام ته رسېدل څه اسان کار نه دی؛ بلکې په خاصو شرایطو پورې اړه لري او هر څوک د دې وړ هم نه دی، ځکه چې تدریس کول خاص کرکتر ته ضرورت لري او ځانته ځانګړی شخصیت لري، چې باید یو شخص ور باندې پوه شي.

څوک چې وغواړي د معلمۍ دا مقدسه وظیفه په واقعي توګه سرته ورسوي، باید دا لاندې صفات ولري.

الف: د بدن له اړخه: ضروري ده چې معلم د بدن له خوا روغ او سلامت اوسي، په ساري ناروغیو باید اخته نه وي، تر څو شاګردان پرې اخته نه شي.

ب: رواني اړخ: یو معلم باید له رواني سلامتۍ نه هم برخمن وي، یانې باحوصله وي، د سالم روح او روان درلودونکی وي او د مسایلو په پوهېدو قادر وي او دایمي رواني ناروغۍ چې هغه کیدای شي د ماشومانو د سالمې روزنې په برخه کې ستونزې او تشویشونه پیدا کړي ( ) خاصې جنسي ناروغۍ او ( ) چې په هغه غیر صحي او غیر اجتماعي دي ونه لري.

ج: د مدیریت اړخ: معلم باید مدیر وي، د صنف د اداره کولو قدرت باید ولري.

د: د اګاهۍ اړخ: معلم باید د درس پر موضوع باندې مسلط وي او د هغه اطلاعات او عمومي معلومات باید وسیع وي او د علم څراغ په لاس کې ولري، ترڅو نور رهنمایي کړای شي.

ه: د مطالعې او تحقیق له اړخه: لازمه ده چې د معلم د معلوماتو دایره پراخه وي اوپه دوامداره توګه هغه پراخه کړي، خپل افکار امتحان کړي او همېشه د پرمختګ، تحقیق او تجربې لاسته راوړلو په هڅه کې وي.

و: د روش او فنونو له اړخه: معلم باید د زده کړې او روزنې پر روشونو باندې ښه پوه شي او د اخلاقي مشکلاتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حل په لاره کې توانایي ولري.

ز: د بېنش له اړخه: معلم ته لازم دي چې له اجتماعي بېنش څخه برخورداره وي. فرهنګی مسایل، ملي او بین المللي مسایل باید وپېژني او له تحولاتو څخه خبر وي او اجتماعي فکر ولري او چتل شاګردان په ښه ملي مفکوره وروزي.

ح: د عقیدې او ایمان له اړخه: معلم باید پر خپل دین او مذهب باندې قوي عقیده ولري او پابند وي.

ط: د اخلاقو له اړخه: یو معلم باید د ښو اخلاقو خاوند وي او له بد اخلاقۍ څخه ځان وژغوري.

ی: د شاګردانو په رابطه: معلم باید شاګرد وپېژني، د هغوی د کورنیو له وضعې نه، له طرز فکر نه، د هغوی له رفتار او استعداد څخه باید خبر وي او هغه ماشومانو ته ځانګړې توجو وکړي کوم چې په کورنۍ کې نیمګړتیاوې لري مثلاً یتیم یا یسیر وي یانې والدین یې بې سواده وي

ک: د عمل له اړخه: معلم باید عامل د عمل وي، د ویلو او کولو او افکارو تر مینځ یې باید وحدت موجود وي، عمل او قول یې باید درواغ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديرش کلنه جګړه کې د افغان ماشومانو حقوقي وضيعت

د نړۍ په وروسته پاتې هېوادوکې او په تېره بيا په هغو ټولنو کې چې سياسي وسله وال کړکېچونه اوجګړې روانې دي د ماشوم حقوق تر پښو لاندې شوي او لاندې کېږي. په داسې حال کې چې ماشوم د خپل د زېږېدو له مهاله بيا تر ماشومتوب د دورې تر تېرولو پورې په ټولنه کې ځينې خاص ځانګړي بڼستيز حقوق لري. دماشوم حقوقو ته بايد د کورنيو او اړوند دولتي ادارو له خوا په ټولنه کې خاصه پاملرنه و شي. په دغو حقوقو کې دماشومانو ځانې، روحي او د بڼوونې او روزنې حقوق شامل دي، د مسوولو کسانو له خوا بايد د ښه والي او ودې لپاره شرايط برابر کړای شي. ماشومان زمونږ د ټولنې يوه خورا حساسه او زيانمنيدونکې برخه ده. ماشومان د نورو حقوقو د لاس ته ورکولو تر څنګ زياتره د سودا د پلار د وژنې او لومړنۍ سرليکه د دوی د مينې او تربيې ورکولو څخه محرومېږي چې دا تر ټولو لويه او کورنۍ ده چې د وسله وال کړکېچونو دروند بار په خپلو اوږو وړي. ۹۰ سلنه د جګړې قربانيان ملکيان دي، له دغې جملې څخه ۴۰ سلنې قربانيان ماشومان دي. ماشومان د جګړې اصلی بايلونکي دي. ماشومان نه يواځې له دې امله ځوږېږي چې دوی دجګړې په حالت کې د ملکي وګړو يوه خوږمنه برخه ده، بلکې د ننني جګړو په جوړښت او بهير کې پر ماشومتوب باندې بريد هم د جګړه مارو ډلو له خوا د جګړو په پلانونو کې پلانېږي . په وسلوالو کړکېچونوکې تل د ماشومانو په حقوقو باندې د انساني، اسلامي، او مدني معيارنو خلاف تيرې شوی دی . دا غير انساني تېری دماشوم په ژوند کې يو تور روحي داغ وي تر څو چې دی ژوندی وي .

په ټوله نړۍ کې اټکل يو ميليارد کوچنيان په هغه هېوادو کې لويږي چې هغه کې وسله وال کړکېچونه روان دي. دا د نړۍ هر دويم ماشوم دی. په ټوله نړۍ کې د ځلوېښتو ميليونو څخه ډير خلک او ماشومان دنورو هېوادو کډوالۍ ته مجبور شوي دي. د دوی له حقوقو څخه هلته هم سمه ساتنه نه کيږي. د دوی حقوق دجدي ګوابښ سره مخامخ دي .

زمونږ په جګړه ځپلي هېواد کې د درېو لسيزو را پدېخوا د انسان يا افغان وژنې او وينې بهېدو بهير په ډير شدت سره روان دی. تر اوسه په زرګونه بې ګناه ملکي افغانان، ماشومان، سپين ږيري او ښځو په ګډون په دې نا پايه جګړه کې وژل شوي او وژل کېږي. د جګړې دواړه غاړې په دې روان جګړه ييز بهير کې د بې ګناه ملکيانو په تېره بيا د ماشومانو ژوند ته هېڅ پاملرنه نه کوي .

دنن ورځو جګړو په پراخه کچه ماشومانو ته جسمي، روحي، مادي او معنوي تاوانونه اړولې دي.

مونږ څنګه لارې چارې موندلی شو، چې د جګړې په حالت کې د ماشومانو حقوق خوندي کړو. يونيسف د ملګروملتو يوه څانګه ده، چې په وسله والو کړکېچونو کې د ماشونانو له حقوقو څخه غږ پورته کوي.

د يونيسف يوه ستراتيژي دا هم ده، چې د جګړو په حالت کې د ماشومانو د حقوقو ساتنه وکړي.

دملګرو ملتونو په يو منشور کې د ماشومانو په اړه چې د ټولې نړۍ له خوا منل شوی هم دی داسې راغلي دي، دټولنې مسوولیت په جګړه او په سوله کې دا دی چې لارې چارې وموميي تر څو د ماشومانو اړتياوې پوره کړي او دحقوقو ساتنه وکړي او خوندي يې کړي. دغه چاره کومه اسانه دنده هم نه ده او تل له خنډونو سره مل وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ . د ماشومانو دحقوقو تاریخ ته یوه لنډه کتنه

له حقوقي اړخه لویدیځ کې د نولسمې پیړۍ تر پیله په کورنۍ چاپېریال کې ماشوم ته د کور یو حیوان په ځېر کتل کېده. ماشوم د خپل پلار یو مطلق ملکیت وو. هیڅ ډول قانوني حقوق یې نه درلودل او د دولتونو له خوا پاملرنه، ساتنه او پالنه یې هم نه کېده. کله چې په ۱۹مه پیړۍ کې ښوونځي جبري شول، دولتونه مجبور شول یتیمو ماشومانو لپاره د روزنتونو چارې په غاړه واخلي. اروپایي هېوادو ته دماشومانو ناوړه حالات یو ټکان وو، دوی مجبوره شول، چې د تنکي ځوانانو پالنې لپاره قوانین رامنځته کړي. په شلمه پیړۍ کې د ماشوم ټکي یو شي د ځان ساتنې لپاره ګڼل کېده، دماشومانو حالت داسې وه، چې دوی باید ځان د راتلونکي لپاره د یو بالغ انسان په ځېر په خپله ورسوي .

د دوهمې نړیوالې جګړې د پای څخه را وروسته د ماشومتوب په اړه د نوې پوهې په رامنځته کېدو سره نوې لارې چارې خلاصې شوې. ماشومانو ته د نامکمل لویانو په ځېر نه کتل کېده، بلکې د یو انسان په ځیر چې هغه د ژوند په یو خاص او ارزښتمن پړاو کې قرار لري کتل کېدل. ماشومان د خپلې ارادې او حقوقي معاملاتو په سرته رسولو کې محدود حقوق لري. دوی خاصې پالنې ته اړتیا لري، له دې سره باید د دوی شخصیت ته درناوی وشي او جدي وګڼل شي. ماشومان دحقوقو خاوندان دي. دوی یوائې د لویانو د پرېکړو او د معاملاتو شیان نه دي. دا د حکومتونو دنده او مسوولیت دی، چې ماشومانو ته انساني درنښت او د ښه، سوله ییز ژوندشرایط برابر کاندي .

دماشومتوب په اړه دغې نوې تاریخي پوهې پر بنسټ په نړۍ کې سوکه سوکه د ماشومانو لپاره نړیوال ستندردونه، معیارونه او د کوچینیانو د حقوقو کنوانسیونونه رامنځته شول .

د ماشوم د نړیوالې ورځې تاریخ د تېرې پیړۍ له شلمو کلونو څخه پیل کېږي. دا کوم اروپایي لویدیز هېواد نه، بلکې د ترکیې هېواد وو، چې په ۱۹۲۰ کال کې په نړۍ کې د لومړي ځل لپاره د ماشوم ورځ ونمانځله.

دېرش کاله ورسته په ۱۹۵۴ ملګرو ملتونو د ماشومانو نړیوال مرستندویه ورکشاپ وړاندیز وکړ، چې د نړۍ هر هېواد باید دماشوم نړیواله ورځ ونمانځي.

دماشومانو د حقونو نړیواله اعلامیه د ۱۹۵۳ کال د نوامبر په شلمه نېټه د نړیوالې ټولنې لخوا تصویب شوه .

ملګرو ملتونو هر کال په رسمي توګه د ماشوم نړیواله ورځ د نوامبر په شلمه نېټه نمانځي. دا تاریخ د ملګرو ملتونو له خوا په ۱۹۵۹ کال کې د ماشومانو د حقوقو د بیان په اړه او په ۱۹۸۹ کال کې د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون له خوا ټاکل شوی دی. دغه ورځ باید لویانو ته په یاد ورکړي، چې ځان د ماشومانو دحقوقو او اړتیاو سره بلد کړي. د ماشومانو نړیواله ورځ د ماشومانو د ژوندانه حالت زموږ مخې ته ږدي. دغه ورځ د نړۍ پر ټولو ولسونو غږ کوي، چې د تاسو په هېواد کې د ماشومانو حقوق شته؟ دماشوم حقوق څومره پلي شوي او څومره نه دي. دغه ورځ نمانځل دماشومانو حالت ته د ټولنې او دولت پام اړولو په مانا ده .

د نړۍ هرهېواد لپاره دماشوم نړیواله ورځ نمانځل په دغه پاس یاد شوي تاریخ کې حتمي نه ده. ډېر هېوادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان ته یوه د ماشوم نړیواله ورځ لري. اوس د نړۍ په ۱۹۲ هېوادونو او ډیرو ملتونو کې په کال کې یو وار د ماشوم نړیواله ورځ نمانځل کېږي.

په افغانستان کې د د ولت له خوا د غبرګولي په یولسمه نېټه د ماشومانو نړیواله ورځ نمانځل کېږي. که څه هم دماشوم نړیواله ورځ د یو شمېر نورو ورځو په څېر نمایشي بڼه لري خو د دغې ورځ نمانځل د ماشومانو په روحیه او روزنې باندې ښه اغیز درلودلې او په دې توګه ماشوم په ټولنه کې دیو شخصیت احساس کولی شي. په ټولنه کې د ماشوم دنړیوالې ورځې نمانځل د بشري حقوقو په اړه د سیاسي مبارزو یوه ورځ ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ . د نړۍ د ماشومانو حقوقي حالت

د ماشوم حقوق د بشر حقوق دي او ټولو ماشومانو ته یوشان دي، دا مهمه نه ده، چې د ماشوم پوستکی کوم رنګ لري، په کومه ژبه خبرې کوي، کوم مذهب او کولتور پورې اړه لري، مور او پلار یې بې وزله او که شتمن دي. ماشوم معیوب، معلول او که روغ رمټ دی. د نړۍ ټول ماشومان مساوي حقوق لري .

په ګرده نړۍ کې تر دوه میلیاردو څخه ډیر ماشومان اوسیږي چې ډېر یې په درندو کارونو بوخت دي د زده کړو څخه محرم دي، د روغتیایي اسانتیاوو نشتوالی، د خوار ځواکۍ، تشدد او ناوړو استفادو سره مخامخ دي.

مورِ اوس د نړۍ په سوله ییز پېر کې ژوند نه کوو، د ځمکې پر مخ اټکل ۵۰ کړکېچنې سیمې شتون لري، چې په هغه کې خلک له یو بل سره وسله واله مبارزه کوي. د جګړو ډېره برخه په افریقا، اسیا او سویلي امریکا کې تر سره کېږي. ان د اروپا په بالکان او پخواني شوروي اتحاد په جمهوریتونو کې وسله وال کړکېچونه شته دي. د جګړو اکثره قربانیان ملکیان دي. ماشومان په جګړو کې بالکل بې ګناه انسانان دي. په جګړو کې کوچنیان سره له دې د نورو خاصو ګوابښونو سره مخامخ دي. دېرش میلیونه ماشومان په جګړه ییزو سیموکې ژوند کوي. دوه میلیونه ماشومان په دا وروستۍ یوه لسیزه کې وژل شوي اوشپږ میلیونه ماشومان ډیرسخت ټپي شوي دي، بې شماره ماشومان خپل ټول عمر د جګړو په ناوړه روحي اغېزو او خاطرو کې، په روحي وېره کې ژوند کوي. دوی د جګړو څخه زړه بوږنوونکې تجربې او خاطرې لري. ماشومان د جګړو پرمهال د جګړه ییزو عملیاتو او بې رحمه بمبارۍو له ګوابښ سره هم مخامخ دي. ډېرې ماشومان په جګړو کې وژل شوي یا سخت ټپي شوي دي او د ډېرو کوچنیانو مور او پلار او د کورنۍ نور غړي وژل شوي دي .

د نویو اټکلونو پر بنسټ تر ۱۵۰ میلیونه انجونې او تنکي ځوانان د ۵ څخه تر ۱۴ کالونو درانده کارونه کوي .

په ۱۹۸۹ کال د نوامبر په شلمه نېټه ملګروملتونو په یوه عمومي غونډه کې د ماشومانو حقوق په یوه کنوانسیون کې سره راغونډ کړل. دغه کنوانسیون دولتونه مجبور کړل چې په خپلو ملي قوانینو کې د ماشومانو نړیوال منل شوي قوانینو او حقوقو ته درناوی وکړي.

د ملګرو ملتونو له خوا د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون چې ۵۴ مادې لري، د نړۍ ۱۹۲ هېوادو لپاره اټکل دوه میلیارده ماشومان په کې اوسیږي تصویب شوي .

د ماشوم د حقوقو کنوانسیون په خپلو ۵۴ مادو کې هڅه کړې چې د ماشوم د سیاسي مدني حقوق، کولتوري، اقتصادي، ټولنیز حقوق په یوه نړیوال ترون کې سره تنظیم کړي. د ماشومانو سره مرسته او ساتنه له یوې خوا له بلې خوا حکومتونه مسوول ګڼي چې هره هڅه وکړي ترڅو ماشومانو ته یو انساني سوله ییزه ژوند اسانتیاوې برابرې کړي .

په ۱۹۸۹ کال کې اټکل د نړۍ ټول هېوادونه د ملګرو ملتونو د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون لاسلیک کړ.
د ملګرو ملتونو د کوچنیانو د حقوقو ترون یو له هغو ترونونو څخه و، چې ډېر ژر د نړۍ هېوادو لخوا تصویب شو .
سومالیا او امریکا د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون نه دی لاسلیک کړی، لومړۍ هیواد د کورنیو جګړو له امله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم هیواد یعنی امریکا له دې امله چې ماشومانو ته د مور او پلار په کچه ډیر حقوق ورکړل شوي، نه ئې لاسلیک کوي
د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون په لومړۍ ماده کې داسې لیکلې شوي دي چې هر هېواد په خپله دا ټاکي تر کومه عمره یو انسان ماشوم دی. همدا ماده بیا لیکي چې نورمال له اتلس کلن څخه د ټیت عمر انسان ماشوم دی. اټکل ۲۵۰۰۰۰ کوچنیان په ۲۵ هېوادو کې په وسله والو ډلو او پوځونو کې دنده تر سره کوي .
جنسي تېری، د ماشومانو تښتونه او قاچاق په دغه کړکېچنو سیمو کې د ورځې یوه نورمال خبره ګرځیدلې ده .
دماشومانو د حقوقو کنوانسیون په اته دېرشمه ماده کې لیکل شوي، یو ماشوم چې جګړې ته لېږل کېږي او یا اجازه لري، لږ تر لږه باید پینځلس کلن وي. په ۲۰۰۰ کال د مې په ۲۵ نېټه د ملګرو ملتونو عمومي غونډه کې د یو بل خاص پروتوکول له لارې تصویب شول، چې ماشومان د اتلس کلنې ټېټه عمر څخه اجازه نه لري، چې جبري پوځې خدمت ته جلب شي .
په نویمو کلونو کې ماشومان او تنکي ځوانان په جګړو کې ډېر زورېدلي دي او له دوی څخه جګړه مارو په وسله والو کړکېچونو کې د مرستندویه او یا د لویانو په جګړو کې د سرتېرو دنده ترسره کړي ده .
د نویو څېړنو پر بنسټ په ټوله نړۍ کې ۱۰۱ میلیونه ماشومان له ښوونځېو څخه بې برخې دي. بیا هم د دوی له دریو څخه دوه برخې ماشومان په هغه هیوادو کې چې د وسله وال کړکېچونه سره مخامخ دي اوسیږي لکه په افریقا او اسیا کې .
د نویو شمېرو له مخې هر کال ۸،۸ میلیونه کمکیان دعمر په لومړي کال کې مړي. د ماشومانو د مړینې اصلي لاملونه تداوي کېدونکې ناروغي لکه د انتې بایتیک نشتوالې، د سینه بغل او نس ناستي ناروغۍ دي. دکتلوي معافیت پروګرامونه او واکسینونه د ډېرو نور ناروغیو په مخنیونه کې ستره ونډه لري، دېبلګې په ډول د ګوزڼ یا پولیو د ناروغۍ په مخنیوي کې د عامه پوهاوي له لارې ستر رول لوبولی شي. یوائې په صابون دلا سونو مینځلو سره شل په سلو کې د ناروغیو مخنیوی کېدای شي .

۳ .د افغان ماشوم حقوق په ورستیو درې لسیزو کې

د افغان ماشومانو د بشري حقونو وضعیت تر بل هر هېواده او هرې ټولنې څخه ډېر ناوړه لیدل کېږي .
د افغان ماشومانو حقوقي، ښوونې او روزنې، ټولنیز او اقتصادي ناوړه وضعیت د هرې ورځې په تېرولو سره په خرابېدو دي. په ټولیز ډول د نورو هېوادونو د ماشومانو په پر تله د افغان ماشومانو وضعیت ډېر خراب دی .
ماشومانو زمونږ په ټولنه کې خپل ارزښت، درناوی او حقوق چې دوی ورته سخته اړتیا لري لا تر اوسه نه دي تر لاسه کړي. زمونږ په ټولنه کې ماشومانو ته درناوی، د دوی غوښتنو او حقه حقوقو ته هېڅ ځای نشته .
د ماشومان د ژوند حق، د روغتیا حق، د زده کړې حق، د ناوړو استفادو او له زور زیاتي څخه په امن کې ساتنې حق، دبیان ازادۍ حق، دمالوماتو لاسته راوړل او په مهمو پرېکړو کې دبرخې در لودلو حق لري.
هېڅ اجازه نشته چې ماشومان جبراً هغو کارونو ته وهڅول شي چې دوی ته جسما او روحاً زیان رسوي. افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومان له دغو حقوقو څخه بې برخې دي او دوی له دغو ټولو ګوابنونو سره مخامخ دي. همدا غوټۍ د سبا ورځې ګلان دي او زمونږ راتلونکی د دوی په لاس کې دی. د افغانستان راتلونکی د یو جګړه ځپلي نسل په لاس کې لویږي، د داسي یو جګړه ځپلي نسل پرېکړې عواقب به زمونږ راتلونکي لپاره ډېر ګران تمام شي.

د ملګرو ملتونو د ماشومانو د اداري یونیسف یو مامور افغانستان یې د یو ماشوم لپاره د نړۍ تر ټولو ناوړه ځای وبالله.

دا مهال په افغانستان کې لسګونه زره ماشومان د ژوند له سختو جګړه ییزو شرایطو سره لاس او ګرېوان دي. دوی دراندە او شاقه کارونه ترسره کوي، له زده کړو څخه لرې ساتل شوي دي او دغه راز په ځینو مواردو کې له نورو تاو تریخوالو او زور زیاتي سره هم مخامخ کېږي. هغه کوچنیان چې په زده کړه بوخت دي د دوی د زده کړو کمیت او کیفیت تر پوښتنو لاندې دی. په زرهاو ملکي بېګناه افغانان د ناټو ځواکونو له خوا د بې رحمه ډندو بمباریو له کبله د هېواد په مختلفو سیمو کی په شهادت رسیدلي دي، چې ډیری یې کوچني ماشومان او ښځې دي.

په افغانستان دکومو ماشومانو حقوق د خاصې پاملرنې او ساتنې لومړیتوب لري، په خواشینۍ سره باید وویل شي، چې افغانستان د یتیمانو کور دی، افغانستان یو بې شمېره لښکر د بې وزلو، معصومو یتیمانو لري. یتیم هغه څوک دی چې مور او پلار یې مړه شوي وي.

دافغان ولس شهیدانو ته په کتو سره ښایي دیتمیو ماشومانو شمېره ډېره لوړه وي تر هغې چې مونږ یې اټکل کوو. دیتمیو ماشومانو او د غیر یتمیو ماشومانو سره چلند په ټولنه کې باید د خاصو مسلکي میتودونو له لارې ترسره شي. ټولو ماشومانو ته باید په درنه سترګه وکتل شي اومساوي حقوق ورته ومنل شي، تر څو د یتمیو کمکیانو دمایوسۍ پولې رنګې شي. د افغانستان دکوڅې ماشومانو ستونزې او همداسې د نا لوستو او کارګرو ماشومانو او هغه ماشومان چې پر دوی د ښوونځي لارې بندې شوي دي د لومړیتوب ربنته لري.

په هېواد کې بېوزلي او خوندیتوب د نشتوالي له امله ماشومان له میندو سره په محبسونو کې ژوند کوي. د بندي میندو کوچنیانو له محبسه د باندې په ټولنه کې په ډیره سپکه سترګه کتل کیږي. دغه کوچینیان په محبس کې له مجرمانو او قاتلینو سره یو ځای او د دوی په منځ کې لویږي.

په افغانستان کې د کوچني عمرونو انجونو او هلکانو ودول، درانه کارونه، د ښوونې او روزنې څخه محروم، د امنیت له لوري نه خوندیتوب له دغو ټولو ناوړو حالاتو څخه افغان ماشومان ډېر سخت کړیږي او ځوریږي.

په اروپا، استرالیا او امریکا کې د مېشتو افغانانو کوچینان چې د نسبي حقوقو څخه برخمن هم دي. دوی بیا د خپلو کوچنیانو د راتلونکي په اړه اندېښنه لري. د دوی ماشومان د مورنۍ ژبې له لیک او لوست، د افغان کولتور او تاریخ له زده کړې څخه لرې پاتې دي. ماشومان د خپلو سالمو دودونو او د افغانیت منلی شوي ارزښتونو څخه لرې پاتې شوي دي. افغان ماشومان د لویدیځ ډېرېدونکي ځایي کولتور خپلولو ته اړ ویستل شوي دي.

افغانستان د نړۍ تر ټولو یو خوار هېواد دی. دلته ډېر ماشومان مجبوره دي چې د خپلو کورنیو لپاره یو مړی ډوډۍ او پیسې راوګټي. د دولت ظرفیتونو ته په کتو سره دولت لپاره ډېره ګرانه ده چې د ماشومانو د حقوقو ساتنه وکړي. په دغه هېواد کې هسې هم خلک بې کچې د دولت له پامه غورځېدلي دي په ټېره بیا ماشومان. په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د بېلابېلو لاملونو له امله ګڼ شمېر ماشومان له ډېرو ستونزو سره لا س او ګرېوان دي .

د بشر د حقونو د دفاع اداري په ځانګړي ډول د ماشومانو د حقونو څخه د دفاع اداري وايي، چې په وسلوالو او ځان وژونکو حملو کې سلګونه افغان ماشومان وژل شوي او ډېر نور يې هم ټپيان شوي دي. ملګری ملتونو وايي، تېر ميلادي کال په افغانستان کې د جګړو په بهير کې تر۱۰۰۰زيات ماشومان وژل شوي او يا هم ټپيان شوي دي.

د ماشومانو لپاره د ملګری ملتونو د مرستو څانګه يونيسف له خولې، په افغانستان کې د شاوخوا يو ميليون ماشومانو او نيم ميليون مېندو ژوند له ګوابښ سره مخامخ دی. يواځې په پاکستان او ايران کې د افغان کډوالو ۱،۵ميليونه برخه ماشومان جوړوي .

د ملګرو ملتونو دماشومانو اداري د شمېرو له مخې، په افغانستان کې په هرو زرو زېږېدلو ماشومان کې ۱۶۵ يې د زېږېدنې پرمهال مري او له هرو پينځو ماشومانو څخه يو د پينځه کلنۍ عمر ته د رسېدو څخه مخکې مري .

د لندن ميشتي واچ ليست يا د وسلوالو پېښو او جنګ ځپلو ماشومانو د خوندیتوب د څار اداري يو رپوټ خپور کړی ليکي په ۲۰۰۹ کال کې ۱۰۵۰ ماشومان په جګړه ييزو پېښو کې وژل شوي دي او همدارنګه ۳۴۶ نور يې يوازې د بهرنيو ځواکونو د شپې او هوايي عملياتو په نتيجه کي وژل شوي دي. په دغه رپوټ کې راغلي دي، چې دوه لکه نور افغان ماشومان په جګړو کې معيوب شوي دي.

رپوټ زياتوي، په جګړه ييزو سيمو کې په سلو کې ۴۳ ماشومان له روغتيايي او ښوونيزو اسانتياوو څخه بې برخې دي.

د افغانستان په قانون کې د ماشومانو د ژوند په خوندیتوب ټينګار شوی او په دې لاره کې په وروستيو کابو لسو کلونو کې، دولتي او غيردولتي موسسو يو لړ پروګرامونه هم پيل کړي او له زرګونو بې کوره او بې وزلو ماشومانو سره يې، د زده کړې او کار په برخه کې مرستې کړي دي، خو د دولتي ارګانونو رسمي شمېرې وايي، چې په هېواد کي د وزګارو ماشومانو شمېر ميليونونو ته رسيږي او دوی په لږ وخت کې نه شي کولی، چې له ټولو سره مرستې وکړي خو هڅې يې پيل کړي دي، چې په مرکز او ولايتونو کې د دوی له کورنيو سره مرستې وکړي، ترڅو ماشومانو ته د قانوني کار او زده کړې شرايط برابر شي .

د افغانستان قوانينو د ماشومانو د حقونو ساتني پالنې په اړه ټينګار کوي، خو په خواشينۍ سره دغه قوانين يوازې د کاغذ پر مخ ليکل شوي دي. د قوانينو د عملي کېدو لپاره اراده نشته. د قانون د عملي کېدو لپاره کومه پرېکنده پرېکړه او پياوړی غورځنګ نشته .

له درې لسيزو جګړو ورسته ډېری زمور ماشومان اغېزمن شوي دي، نو په کار ده چې زمور ټولنه او دولت ماشومانو ته جدي پاملرنه وکړي. ترڅو د ماشومانو روح او روان نوره اغېزمن نه شي، ماشومان د هېواد د راتلونکي جوړوونکي دي، مور ټول بايد په ګډه هڅه وکړو، دماشومانو د حقوقي وضعيت د ښه کولو لپاره عملي ګامونه پورته کړو.

ډېرو ماشومانو ته د جګړو څخه ورسته ګوابښ لا هم شتون لري، د دوی ژوند او روغتيا د پاتې شويو وسلو، ګلولیو او پټ خښ شويو ماينونو له ګوابښ سره مخامخ دي. دوی تل په ډار او وېره کې ژوند کوي، کله چې دوی د ډوډۍ موندلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبه راوړلو پسې وځي او یا کله چې دوی لوبې کوي او ښوونځي ته په لاره کې وي، په ناڅاهانه توګه وژل کېږی.

د افغانستان په پلازمېنه او د ولایاتو په ښارونو کې چې هلته نسبي سوله شته، په سلګونه داسې کوچنیان تر سترګو کېږي، چې دوی هره ورځ په درندو او سپکو کارونو بوخت دي. ځینې ماشومان سر لوڅي او تورې پښې په واټونو، لارو کوڅو کې په سوال کولو یا د سپیلنې په دودولو بوخت دي، ځینې د کثافاتو او بې کاره او چټلو شیانو او توکیو په راټولو بوخت دي، ځینې ماشومان د سړکونو په واټونو کې موټرې مینځي. ځینې د ښځتو په بټیو کې سوځي، نورې د غالیو اوبدلو په کارخانو کې کار کوي، له ځینو څخه د نشه یې توکو په قاچاق کې ناوړه ګټه اخیستل کېږي، د کوچنیانو قاچاق او تښتونه. داسې نورې بېلګې شته چې دهېواد راتلونکی نسل هره ورځ ګوابې. په افغانستان کې د بېلابېلو لاملونو له امله ګڼ شمېر کمکیان له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

ماشومان په جګړه ییزو سیموکې له ټولو حقوقو څخه محروم دي. د دوی ښوونځي سوځېدلي او یا د جګړو له امله ټړلي دي. د هېواد په دننه کې د جګړو له امله کورنۍ له ماشومانو سره بې ځایه شوي دي، د دوی اکثرا د مخالفینو له وېرې ښوونځي پرېږدي.

یونیسف د ۲۰۱۰ کال راپور، چې د سلواغې میاشتې په شپاړسمه نېټه خپور کړی، دا شمېر یې د ټول افغانستان په کچه برابر کړی دی. په افغانستان کې د وچکالۍ او د خوراکي موادو د کمښت له وجې شاو خوا یو میلیون او دوه لکه هغه ماشومان چې عمرونه یې له پینځو کلونو ټیټ دي او دغه راز پنځه لکه او پنځوس زره امیند وارې میندې له کم خوراکۍ او نورو ناروغیو سره لاس او ګرېوان دي.

۴. لنډیز:

زمور مدني ټولنې ته په دې وروستیو دریو لسیزو کې بې شمېره مادي او معنوي زیانونه د رسېدو په لړ کې ماشومانو ته تر هر چا زیات زیانونه ور اوښتي دي. موږ باید د بې ګناه افغان ماشومانو د حقوقو ساتنه د جګړو په لمبو کې هم وکړو. د افغانستان خلک او دولت باید د هېواد په کچه د بې وزلو ماشومانو حقوقو او زده کړو ته په ډېرنۍ توګه خاصه پاملرنه وکړي. تر څو دوی له خپلو بنسټیزو، انساني او ټولنیزو حقوقو څخه برخمن شي.

زمور ماشومان د هېواد په دننه او بهر کې دکډوالۍ ډېرې ستونزې ګاللي دي، د جګړو په بهیر کې ډېر ماشومان د میندو او پلرونو له مینې، پاملرنې او دخپل پلرني هېواد څخه بې برخې شوي دي، د زده کړې او لوبو له حق څخه جګړه ییزو حالاتو بې برخې کړي دي.

د دېرش کلنې جګړې په بهیر کې د پرله پسې تکرارېدونکي جګړه ییزو ناورینونو ژورې اغېزې او تاوانونه زمور د راتلونکو نسلونو لپاره سترې ستونزې ساتلي دي.

همد اوس په افغانستان کې د وسله وال مقاومت جګړه ییزه کرښې د دېرش کلنې جګړې له لومړني نسل ماشومانو څخه ډکې دي. دا اوسني لویان د افغان ولس د حقوقو او خپلواکۍ د بېرته لاسته راوړلو لپاره یواځینۍ لار جګړه بولي. د سولې او دخبرو اترو په سوله ییزه لار کې یو لامل یا خنډ همدا د دېرش کلنې جګړې ماشومان کېدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي . د دوی فکرونه او کړه وړه او ټولنیزې اړیکې له ماشومتوب څخه د کلاشینکوف په کولتور کې وده کړې.

د افغانستان د ژغورنې اوږد مهال موخو لپاره زده کړه یوه کونجي ده، زده کړه یوه ښه نړۍ رامنځته کوي. په افغانستان کې په میلیونو زده کوونکي د جګړو له امله د زده کړو څخه بې برخې دي. زده کړه د لوړې اوفکرې بې وزلۍ پر وړاندې یوائښنۍ لاره ده .

په خواشینۍ سره باید وویل شي چې هېڅوک نه شي کولی او د حقوقي پلوه هېڅ کومه داسي قانوني لار او توکي نشته چې د هغه حکومتونو پر وړاندې حقوقي دعوا پیل کړي، دا هغه حکومتونه دي چې د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون هر پنځه کاله لاسلیکوي او لاسلیک کوونکې دولتونه د ماشومانو د حقوقي وضعیت په اړه خپل رپوټ د ملګرو ملتونو یونیسف اداري ته هم وړاندې کوي، سره له دی بیا هم دولتونه د ماشومانو حقوقو ته پام نه کوي او پرلپسي د ماشومانو حقوق تر پښو لاندې کوي .

زما په اند دهغو حکومتونو پر وړاندې چې د ماشومانو حقوقو څخه سرغړونه کوي او یا لږ څه تر سره کوي یوائې د فشار توکي د خلکو فکرونه او عام ولس دی، چې د ټاکنو ځواک ورسره دی. تر څو چې د ماشومانو حقوق پلي کړي او د دوی د روزنې، پالنې او ساتنې مسوولیت په غاړه واخلي. لکه خپلواک اورګانونه، اینجیوګانې، دیني علما، د بشر د حقوقو فعالین، ډله ییزې رسنۍ، ملي او نړیوال موسسات دي، چې په حکومتونو باندې فشار راوستی شي. په ټولیز ډول یوه سالمه ملکي ټولنه کولی شي په دې خورا مهمه برخه کې مهم رول ولوبوي. د ماشومانو د حقوقو لپاره باید ولسي غورځنګونه رامنځته شي. تر څو دولسي جرګې له لارې د ماشومانو دحقوقو قانون تصویب شي او د ماشومانو د حقوقو څخه دفاع مستقله اداره رامنځته شي او همداسې د هېواد په اساسي قانون کې د ماشومانو حقوق نور واضح تعریف، تصویب او ځارنه یې وشي. دولت او ټولنه باید هڅه وکړي تر څو د ماشومانو حقوق په اساسي قانون کې خوندي وساتي او پلي یې کړي .

یوازې اقتصادي پرمختګونه نه شي کولی چې هرڅه ته بدلون ورکړي، زموږ ټولنه د ماشومانو د حقونو د ساتنې، پالنې او روزنې په برخه کې ښېستیزو بدلونونو ته اړتیا لري .

ماشومان له دومره ستونزو سره سره څنګه کولای شي، چې په راتلونکي کې د جګړه ځپلي افغانستان په بیارغونه کې لکه څنګه چې تمه کېږي ګټور تمام شي.

افغان دولت باید د افغان ماشومانو د ژغورنې او ساتنې لپاره جدي او اوږد مهالي پروګرامونه پیل کړي .

دهېواد په لرې او جګړه ییزو سیمو کې باید د افغان کوچنیانو د ژغورنې او ملاتړ لپاره افغان دولت مخکې له دې چې ناورین وروستۍ کچې ته ورسېږي، پر ښه مېکانیزم او پروګرامونو باندې کار پیل کړي .

هېڅوک د افغان ماشومانو ګونګه چیغه نه اوري، دا مشوره نه ده چې دغه چیغه همداسې غلې پاتې شي.

الف. قباحت: هغه جرم ته ویل کېږي چې جزا یې له څلورویشت ساعتو څخه تر درې میاشتو پورې بند وي او یا هم تر درې زره افغانیو پورې نغدي جریمه ولري.

ب. جنحه: هغه جرم دی چې جزا یې له درې میاشتو څخه تر پینځو کالو پورې بند وي او نغدي جریمه یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې زره افغانيو څخه زياته وي.

ج. جنايت: هغه جرم دی چې جزا يې له پينځو کالو بند څخه تر ابدي بند او يا هم اعدام وي.

د. حجز:

ه- متعهد: هغه څوک دی چې د محکمې له خوا ورته د يو تعهد په مقابل کې يو ماشوم ورسپارل کېږي.

و. صغير: هغه ماشوم چې عمر يې له ۷ کالو څخه کم وي.

ز. ماشوم. هغه ماشوم چې عمر يې له ۷ کالو نه زيات او د ۱۳ کالو څخه کم وي.

ح. مراهق: هغه ماشوم چې عمر يې له ۱۳ کالو څخه زيات او له ۱۹ کالو څخه کم وي.

ط. د نفس د ولايت حق:

ظ. مصدره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه

۱- مشوانی، عبدالقیوم زاهد، زاهد پښتو. پښتو سیند، ۱۳۸۵ل کال، دانش خپرندویه ټولنه، پیښور، مخ ۸۴۶.
۲- انصاف پور، غلام رضا، کامل فرهنگ فارسی، ۱۳۸۴هـ ش تهران، ناشر گلشن، ص ۸۱۹.
۳- عظیمي، شرف الدین، ټلویزیون یک برنامه تصویر زندگی، سال ۱۳۸۹هـ ش.
http://yaddashthayeman.parsiblog.com/-475008.htm
۵- منصوري، اعظم، بهترین روشهای ارتباط و تربیت کودک، ناشر شهید حسین فهمیده، نوبت چاپ خزان ۱۳۸۵ هـ ش ص ۲۶ـ۲۷.
http://www.taranehaykoodakan.blogfa.com
۷- لـه (http://www.irna.ir/fa/news) ویبـاپې سـره د روان پـوهنې د چـارو د ایرانـي کارپوهـانو ډاکټـرې نرګس کچوئی او ډاکټر محمود رسالتي د مرکې ځینې برخې.
8- www.tebyan.net
9- http://www.taranehaykoodakan.blogfa.com
۱۰ اعلامه ابن الاثیر، النهایه في غریب الحدیث والاثر، ۵۶۵ مخ.
۱۱ قرانکریم، نور سورت، ۵۹ ایات.
۱۲ درانی، عبدالرحیم، د کوچنیانو روزنه، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۰ کال، ۲۰ مخ. (مکارم الاخلاق ۲۲۲ مخ .
۱۳_ پوهندوی دوکتورغلام دستګیر حضرتي او پوهنمل عبدالحق، اموزش حقوق طفل، کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان، ۱۳۸۲، ۳۳، مخ.
۱۴_ کعبه راستین تهراني او ډاکټر نجما یساري، کتاب درسي ماکس پلانک برای حقوق فامیل افغانستان، دویم چاپ، ۱۳۸۸ کال، ۱۶۱ مخ.
۱۵- رفیع الله ستانکزی لیکنه taand وېب پاڼه
www.taand.com
۱۶- *لیکنه: مولانا امیر الدین مهر ژباړه: ډاکټر غنچه ګل ارمان*
۱۷- دافغانستان دحقوقي خدماتو موسسه
۱۸- *بښنوا - نټټه : ۱۴.۱۱.۲۰۱۰*

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان اسلامي جمهوريت
د عدليې وزارت

رسمي جريده

فوق العاده ګڼه

د اطفالو د سرغړونو د رسيدګۍ قانون

د چاپ نېټه: د ۱۳۸۴ هـ ش کال د وري د مياشتې (۳) ـ پرله پسې ګڼه (۸۴۶)

د افغانستان اسلامي جمهوريت

ګڼه: (۷۶۵)

نېټه: ۱۹/۱۲/۱۳۸۳

د عدليې وزير محترم سرور دانش!

د اطفالو د سرغړونې د رسيدګۍ قانون چې په (۸) فصلونو او (۶۶) مادو کې د وزيرانو د عالي مجلس له خوا تصويب شوی او زمونږ له لوري د ۱۹/۱۲/۱۳۸۳ نېټې د (۴۶) ګڼې فرمان په اساس منظور شوی دی، تاسې ته در واستول شو چې په رسمي جريده کې يې په خپرولو اقدام وکړئ.

حامد کرزی

د افغانستان د اسلامي جمهوريت

جمهور رئيس

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اطفالو د سرغړونو د رسیدګۍ د قانون د انفاذ په باب د افغانستان د اسلامی جمهوریت د جمهور رئیس فرمان

ګڼه: (۴۶)

نېټه: ۱۹/۱۲/۱۳۸۳

لومړۍ ماده:

د اطفالو د سرغړونو د رسیدګۍ قانون (۸) فصلونو او (۶۶) مادو کې د ۲۶/۱۱/۱۳۸۳ نېټې د (۱۰) ګڼې مصوبې په اساس، د وزیرانو د عالي مجلس له خوا تصویب شوی دی، توشېح کوم.

دوه یمه ماده:

دا فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او له قانون سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

حامد کرزی

د افغانستان د اسلامی جمهوریت جمهور رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماشومانو د سرغړونو د رسیدګۍ قانون

لومړی فصل

عمومي حکمونه

مبنی :

لومړۍ ماده:

دغه قانون د اساسي قانون په څلورپنځوسمه ماده کې د درج شوو ارزښتونو په نظر کې نیولو او د بشر د حقوقو د ملاتړ د نړیوالو کنوانسیونونو، په خاص ډول د اطفالو د ګټو په پام کې نیولو سره، له قانون څخه د سر غړونکو اطفالو د جرمونو، له خطر سره د مخامخ اطفالو او څارنې او ساتنې ته اړو اطفالو د رسیدګۍ د ډول او د تحقیق او محاکمې په بهیر کې د هغو د حقوقو د تامینولو په منظور وضع شوی دی.

هدفونه:

دوه یمه ماده:

د دې قانون هدفونه عبارت دي له:

۱- له قانون څخه د سرغړوونکو اطفالو اصلاح کول او بیا روزل.

۲- د ټولنې په جوړولو کې د اطفالو د بنسټیز نقش محترم ګڼل او د هغو د جسمي، اخلاقي، معنوي او ټولنیزې هوسایني څخه ملاتړ.

۳- د اطفالو د والدینو، سرپرست او قانوني وکیل د مسوولیت مشخص کول.

۴- د تحقیق په بهیر او له محاکمې څخه وروسته د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په پام کې نیول.

۵- د تحقیق او محاکمې په وخت کې د اطفالو د ویناوو او نظریو اوربدل په خپله د دوی یا یې د قانوني ممثل لخوا.

۶- د اطفالو د سرغړونو د مخنیوي په منظور نظارت ته د غیر دولتي ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي موسسو هڅول.

۷- د هغو اطفالو چې له خطر سره مخامخ وي او څارنې او ساتنې ته اړ دي، ساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلند ډول:

درېیمه ماده:

هغه طفل چې تر تور لاندې راشي، له قانون څخه د سر غړونې مرتکب شي یا له خپل ځان څخه غیر عادي اعمالو ښیي او یا دا چې ساتنې او څارنې ته اړوي، د دې قانون د حکمونو مطابق له هغه سره چلند تر سره کېږي.

اصطلاح ګانې :

څلورمه ماده:

په دې قانون کې لاندې اصطلاح ګانې لاندینۍ معناوې لري:

۱- ماشوم: هغه شخص چې د اتلس کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړی.

۲- غیر ممیز ماشوم: هغه شخص دی چې د اتلس کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی.

۳- ممیز ماشوم: هغه شخص دی چې د اووه کلنۍ سن یې بشپړ او د دولس کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی.

۴- ځوانکی ماشوم: هغه شخص دی چې د دولس کلنۍ سن یې بشپړ او د اتلس کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی.

۵- حجز: د ماشومانو د اصلاح او روزنې په مرکز کې د محکوم ماشوم د ازادۍ له تهدیدولو څخه عبارت دی.

۶- په کور کې حجز: په کور، خصوصي یا عمومي ځای او د ټولنیزو خدمتونو په اختصاصي موسسو کې د ټاکلې مودې لپاره د ماشوم مقید کول دي.

۷- قانونی ممثل: د ماشوم له والدینو، اولیاو، اوصیاو، خپلوانو، قیم، وکیل یا قانوني سرپرست څخه عبارت دی.

نه مسوولیت:

پینځمه ماده:

(۱)- هغه شخص چې د دوولس کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی، د جرم د ارتکاب په صورت کې ورته جزایي مسوولیت نه راجع کېږي.

(۲)- که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې ارتکاب شوی جرم د والدینو د غفلت له امله وي او د مادې زیان سبب شي، والدین د هغه په جبرانولو مکلف کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سن تثبیت:

شپږمه ماده:

(۱)- د ماشوم سن د تحقیق او محاکمې په بهیر کې د هغه د تابعیت د تذکرې پر بنسټ تثبیتېږي.

(۲)- که چېرې ماشوم تذکره ونه لري یا یې ظاهري حالت د تابعیت په تذکره کې له درج شوي سن سره مطابقت و نه ښیي، په دې هکله د عدلي طب نظریه غوښتل کېږي.

(۳)- په هغه مواردو کې چې د سن ټاکل د عدلي طب د ډاکټر یا بل طبیب د نظر پر بنسټ د قضیې د سوابقو او د ماشوم د ظاهري حالت سره مغایر وي، د سن د بیا ټاکنې موضوع، هغه طبي هئیت ته چې له درې تنو ډاکترانو څخه لږ نه وي، راجع کېږي.

(۴)- د ماشوم مجازات حتی د اصلاح او روزنې په منظور په سخت ډول او له سپکاوي سره جواز نه لري.

د حجز د مودې حد اقل ټاکل:

اتمه ماده:

د ماشوم حجز د هغه د اصلاح او روزنې د وروستنۍ لارې په توګه ګڼل کېږي. محکمه د حجز د مودې په ټاکلو کې د دې قانون د حکمونو مطابق د هغه د شونې (ممکنه) حد اقل مو ده په پام کې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم فصل

د ماشومانو د جرمونو کشف او تحقیق

اختصاصي څارنوالي:

نهمه ماده:

(۱) د ماشومانو د جرمونو کشفول د پولیسو لخوا او څېړنه، تحقیق او تعقیب یې د ماشومانو د اختصاصي څارنوالی لخوا صورت مومي. پدې منظور د ماشومانو اختصاصي څارنوالی په مرکز او ولایتونو کې جوړېږي.

(۲)- د ماشومانو اختصاصي څارنوالۍ د رئیس او مسلکي او اداري غړو څخه جوړه ده چې د ماشومانو د اړونده جرمونو په هکله د دې قانون د حکمونو مطابق اجرآت کوي.

(۳)- د ماشومانو د اختصاصي څارنوالۍ مسلکي غړي په اړوند قانون کې د درج شوو شرایطو د لرلو برسېره د ماشومانو په مسایلو کې د استعداد، مسلکي پوهې او خاصې تجربې لرونکي هم وي.

(۴)- د ماشومانو اختصاصي څارنوال نه شي کولای مستقیماً، د هغو ماشومانو پر علیه چې د جرم مرتکب شوی وي، قانوني اقدامات پیل کړي، خو دا چې شخص یا کومه مرجع په دې هکله څارنوال ته لیکلی شکایت وړاندې کړي.

د نیولو حالات:

لسمه ماده:

(۱)- د جنحې یا جنایت د جرم د ارتکاب په هکله د علني شواهدو د موجودیت په صورت کې، پولیس واک لري ماشوم په یو له لاندې حالاتو کې و نیسي.

۱)- د ماشوم د تېښتې د امکان په صورت کې.

۲)- له اتلس کلنۍ عمر څخه کم شخص ته لاس ترونی (ولچک) نه ور اچول کېږي. خو دا چې د هغه د تېښتې د پېښېدو یا ځان یا نورو ته د زیان رسولو امکان موجود وي.

۳)- د ماشومانو اختصاصي محکمه واک لري چې له محاکمې څخه د مخه د توقیف د حکم د صادر ولو په وخت کې د ماشوم د توقیف کولو په عوض کې د حل نورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مناسبې لارې چارې مطالعه کړي.

۴)- تر توقیف لاندې ماشومان له لویانو څخه جلا ساتل کېږي.

د نیولو خبر:

یوولسمه ماده:

۱)- پولیس مکلف دي د ماشوم د نیولو او هغه د څارنې د ځای په هکله د نیولو له نېټې څخه په څلېرویشت ساعتونو کې د ماشوم قانوني ممثل او د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسو ته خبر ورکړي. په نوموړي موده کې د نه خبر ورکولو په صورت کې پولیس مکلف دی د موضوع لیکلي رپوټ د ځنډ (تاخیر) د دلایلو له وړاندې کولو سره اړوندې څارنوالۍ ته روښانه کړي. که چېرې پولیس د دلایلو په وړاندې کوو قادر نه وي، موضوع د عدلي تعقیب وړ ګڼل کېږي.

۲)- قانوني ممثل کولای شي د ماشوم له نیولو څخه وروسته پرته له ځنډه، د ضمانت په قید سره د هغه د ایله کېدو غوښتنه وکړي. پولیس او څارنوال مکلف دي د څلېرویشت ساعتونو په موده کې د ماشوم د ایله کېدو د غوښتنې په هکله خپل تصمیم و نیسي او اعلام یې کړي، د تصمیم د نه نیولو په صورت کې، قانوني ممثل کولای شي لوړ (مافوق) څارنوال ته شکایت وکړي.

۳)- څارنوال او قاضي کولای شي، ماشوم د ضمانت په قید سره له مالي تضمین پرته ایله کړي، خو دا چې د هغه حالت د توقیف غوښتنه وکړي.

۴)- قانوني ممثل کولای شي چې د توقیف شوي ماشوم ایله کېدل د ضمانت په قید سره او یا ئي تمدېدول د تحقیق یا محاکمې په بهیر کې له محکمې څخه غوښتنه وکړي، په هغه صورت کې چې محکمه د ماشوم زیات توقیفېدل لازم و نه بولي، کولای شي چې له ضمانت څخه پرته د ماشوم د ایله کولو حکم صادر کړي.

د ساتلو ځای:

دوولسمه ماده:

نیول شوی مظنون ماشوم په یوه خاص ځای کې په موقت ډول تر توقیف لاندې نیول کېږي. د توقیف اداره مکلفه ده د تر توقیف لاندې ماشوم لپاره د هغه د سن او جنس د غوښتنې په نظر کې نیولو سره ورته د ټولنیزو، روزنیزو، حرفوي، روحي او روغتیایي خدمتونو ته لاس رسېدنې زمینه برابره کړي.

د محضر ترتیب:

دیارلسمه ماده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)- پـــولیس مکلـــف دي د کشـــف د نېټـــې څخـــه د څلېرویشـــت ســـاعتونو پـــه مـــوده کـــې هغـــه پـــاڼې چـــې د محضـــر او مظنـــون ماشـــوم پـــه اړونـــد د ټولـــو لازمـــو معلومـــاتو لرونکـــي دي، برابـــر او د ماشـــوم اختصاصي څارنوالۍ ته يې د تحقيق د بشپړولو لپاره راجع کړي.

(۲)- کـــه چېـــري د محضـــر او د اړونـــدو لازمـــو معلومـــاتو لرونکـــي ټـــولې پـــاڼې د څلېرویشـــت ســـاعتونو پـــه مـــوده کـــې بشـــپړې نـــه شـــي، د ماشـــومانو اختصاصـــي څـــارنوال واک لـــري چـــې د پولیســـو د لیکلـــې غوښـــتنې وروســـته د پـــاڼو او لازمـــو معلومـــاتو د ســـپارلو مـــوده د اتـــه څلوېښـــت ســـاعتونو لپـــاره تمدید کړي. همدارنګه څارنوال واک لري چې ماشوم د هغه قانوني ممثل ته وسپاري.

د تحقیق د بشپړولو موده:

ځوارلسمه ماده:

(۱)- د ماشـــومانو اختصاصـــي څـــارنوال مکلـــف دی، د دوســـیې د رســـېدو لـــه نېټـــې څخـــه وروســـته تحقیـــق د یـــوې اونـــۍ پـــه تـــرڅ کـــې بشـــپړ کـــړي. پـــه هغـــه صـــورت کـــې چـــې تحقیـــق پـــه نومـــوړې مـــوده کـــې بشـــپړ نـــه شـــي، څـــارنوال مکلـــف دی چـــې لـــه اړونـــدې محکمـــې څخـــه د نـــورو درېـــو اونېـــو لپـــاره د مـــودې تمدیـــدل و غـــواړي. د ماشـــومان محکمـــه مکلـــف ده د څلېرویشـــتو ســـاعتونو پـــه مـــوده کـــې خپـــل تصمیم د توقیفولو یا نه توقیفولو په هکله ونیسي.

(۲)- ماشـــوم یـــا دهغـــه قـــانوني ممثـــل یـــا مـــدافع وکیـــل کـــولای شـــي چـــې پـــه هـــر وخـــت کـــې د محاکمې څخه د مخه د توقیف د حکم څخه محکمې ته شکایت وکړي.

د دعوی د صورت د برابرولو موده:

پنځلسمه ماده:

د ماشـــومانو اختصاصـــي څـــارنوال مکلـــف دی چـــې د تحقیـــق لـــه بشـــپړېدو او د دې قـــانون پـــه اوولســـمه مـــاده کـــې د درج شـــوو معلومـــاتو د راټولولـــو وروســـته د یـــوې اونـــۍ پـــه مـــوده کـــې د دعـــوی صـــورت برابـــر او رســـماً یـــې محکمـــې تـــه وړانـــدې کـــړي. پـــه هغـــه صـــورت کـــې چـــې د دعـــوی د صـــورت وړانـــدې کـــول بـــه نومـــوړې مـــوده کـــې ممکنـــه نـــه شـــي، څـــارنوال کـــولای شـــي لـــه اړونـــدې محکمـــې څخـــه د دریو اونیو لپاره د مودې تمدېدل و غواړي، په دې شرط چې ماشوم تر توقیف لاندې نه وي.

د دوسیې ساتل:

شپاړسمه ماده:

د ماشـــوم د محـــاکمې لپـــاره د الـــزام دلیلونـــو د نـــه موجودیـــت پـــه صـــورت کـــې، څـــارنوال دوســـیه ســـاتی او بهیـــر (جریـــان) د یـــوې اونـــۍ پـــه مـــوده کـــې، مجنـــی علیـــه او حـــق العبـــد مـــدعي تـــه ابلاغـــوي. حـــق

(c) ketabton.com: The Digital Library

العبد مدعي کولای شي د خپل زیان د جبران غوښتنلیک اړوندې محکمې ته د دېرشو ورځو په موده کې وړاندې کړي.

د الزام د دلیلونو د برابرولو لپاره معلومات:

اوولسمه ماده:

(۱)- د ماشوم اختصاصي څارنوال مکلف دی د ماشومانو د اړوندو جرمونو د تحقیق په وخت کې د الزام د دلیلونو د برابرولو لپاره لاندې ټکي په نظر کې ونیسي:

۱)- سن، د زېږېدنې ورځ، میاشت او کال.

۲)- د روحي سطحې پرمختیا.

۳)- شخصیت او لیاقت.

۴)- د جرم د ارتکاب علتونه او انګېزې.

۵)- د جرم د ارتکاب په وخت کې د ښوونې سطح.

۶)- د جرم د ارتکاب په وخت کې د ژوندانه د چاپېریال شرایط.

۷)- د جرم شدت او خفت.

۸)- جرمي سابقه.

۹)- د جرم د ارتکاب په وخت کې او له هغه نه وروسته د سلوک ډول.

۱۰)- د جرم ډول، شواهد، وسایل، قصد، زمان او مکان.

۱۱)- زیانمن شخص ته د ور او ښتو زیانونو اندازه.

۱۲)- د جرم د شریکانو، عاملینو او محرکینو شته والی.

(۲)- څارنوال مکلف دی د ماشومانو د جرمونو د تحقیق او د هغو د قضیو د تثبیتولو په وخت کې له پولیسو، والدینو، مربي، ښوونکي، اهل خبره و او نورو هغو اشخاصو څخه چې د هغو په هکله خبرتیا لري، معلومات تر لاسه کړي.

(۳)- څارنوال مکلف دی د تحقیق جزئیات او سوابق په محرمانه توګه وساتي، یوازې اړونده محاکم او د هغه مدافع وکیل کولای شي جرمي سوابقو ته لاس رسی ولري.

اړونده مراجعو ته د تر اتلسو کلونو څخه زیات د تورن د قضیې راجع کول:

اتلسمه ماده:

(۱)- که چېرې د ماشومانو څارنوال یا محکمې ته د تحقیق یا محاکمې له پیل څخه وروسته ثابته شي چې د تورن سن د جرم د ارتکاب په وخت کې له اتلسو کلونو څخه زیات و، هغوی مکلف دي قضیه اړوندو مراجعو ته وسپاري.

(۲)- که چېرې تورن د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي تصمیم قناعت ونه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای شي له لوړو مقاماتو څخه استیناف غوښتونکی شي. لوړ مقامات موضوع د شپږمې مادې په (۳) فقره کې درج شوي طبي هیئت ته وسپاري او د وروستنۍ فیصلې صادرول ځنډول کیږي. که چیرې تورن تر توقیف لاندې وي، طبي هیئت مکلف دی د یوې اونۍ مودې په ترڅ کې خپل نظر وړاندې کړي.

د ساتنې د موقتو تدبیرونو نیول:

نولسمه ماده:

(۱)- د ماشومانو اختصاصي محکمه کولای شي د هغو تورنو ماشومانو په هکله چې غیر عادي رفتار لري، د څارنوال یا د هغه د قانوني ممثل په غوښتنه د ساتنې موقت تدبیرونه ونیسي.

(۲)- په روانې ناروغیو اخته تورن ماشوم د درملنې لپاره روانې روغتیائي موسسو ته ورپیژندل کیږي، په دې صورت کې په روغتیایي موسسه کې د هغه د اوسېدو موده د طبي متخصصینو د سپارښتنې په نظر کې نیولو سره د قاضي لخوا ټاکل کیږي.

قانوني ممثل ته د ماشوم سپارل:

شلمه ماده:

(۱)- د عقل او پوهې خاوند ماشوم چې د دولس کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی، د جنحې یا جنایت د جرم د ارتکاب په صورت کې د تحقیقاتو د بشپړولو لپاره ترحجز لاندې نه نیول کیږي، څارنوال هغه د څارنې لپاره قانوني ممثل یا خپلوانو ته د درجو له په پام کې نیولو او ضمانت اخیستلو سره سپارلی شي.

(۲)- هغه ماشوم چې د دولس کلنۍ سن یې بشپړ کړی، د جنحې د جرم د ارتکاب په صورت کې د تحقیقاتو د بشپړولو لپاره د اړوند څارنوال په وړاندیز او د واکمنې محکمې له استیذان وروسته د هغه قانوني ممثل یا خپلوانو ته د درجو له په پام کې نیولو او ضمانت اخستلو سره سپارل کیږي.

(۳)- که چیرې د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي ماشومان، قانوني ممثل یا خپلوان و نه لري، د ساتنې لپاره د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونو یا نورو ښوونیزو او روزنیزو موسسو ته سپارل کیږي.

(۴)- هغه ماشوم چې د دولس کلنۍ سن یې بشپړ او د اتلس کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی، د جنایت د جرم د ارتکاب په صورت کې د تحقیق د بشپړولو لپاره د اړوندې څارنوالۍ په وړاندیز او د واکمنې محکمې په استیذان د حجز لپاره د اصلاح او روزنې مرکزونو ته سپارل کیږي.

(۵)- د ماشومانو څارنوال مکلف دی، د دې قانون په (۳) فقره کې د درج شوي ماشوم پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیه د قانوني تصمیم له نیولو د مخه موضوع د اصلاح او روزنې له مرکزونو یا د ټولنیزو خدمتونو له اختصاصي موسسو سره شریکه کړي.

روغې جوړې ته سپارښتنه او هڅول:

یوویشتمه ماده:

(۱)- څارنوال کولی شي د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونه او د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسې راوبلي تر څو ماشوم قانوني ممثل او زیانمن هغې روغې جوړې ته چې د قانون خلاف نه وي، سپارښتنه وکړي او ویې هڅوي، په دې شرط چې ماشوم د جنحې یا جنایت د جرم مرتکب شوي نه وي. په نورو مواردو کې څارنوال مکلف دی د دې قانون د څوارلسمې مادې د حکم مطابق، تحقیق بشپړ او دوسیه اړونده محکمې ته حواله کړي.

(۲)- په روغې جوړې او د غرامت په ورکړه باندې د ماشوم د قانوني ممثل او زیانمن د موافقې په صورت کې، څارنوال کولای شي د دوسیې په ساتلو (حفظ کولو) اقدام و کړي.

د مدافع وکیل د لرلو حق:

دوه ویشتمه ماده:

(۱)- ماشوم د تحقیق او محاکمې په ټولو پړاونو کې د مدافع وکیل دلرلو او د ژباړونکي د غوښتنې حق لري. د مدافع وکیل یا ژباړونکي د استخدامولو په هکله د ماشوم د والدینو یا د هغه د قانوني ممثل د مالي توان د نه لرلو په صورت کې، د ماشومانو اختصاصي محکمه د دولت په لګښت ماشوم ته مدافع وکیل یا ژباړونکی موظف کوي.

(۲)- د ماشوم قانوني ممثل، مدافع وکیل یا یې ژباړونکی حق لري چې د قانوني اجراتو په ټولو پړاوونو کې چې د څارنوال یا محکمې لخوا عملي کېږي، ګډون وکړي.

(۳)- د تحقیق په وخت کې د ماشوم د قانوني ممثل نه ګډون، د تحقیق د بهیر خنډ نه ګرځي، خو دا چې څارنوال د هغه حضور حتمي و بولي.

د قانوني ممثل د شکایت څېړل:

درویشتمه ماده:

د ماشوم قانوني ممثل حق لري د تحقیق له بهیر څخه د معلوماتو له لاس ته راوړلو وروسته، لوړ څارنوال ته شکایت وکړي. لوړ څارنوال مکلف دی، شکایت په ډېرنې توګه و څېړي او په هکله یې تصمیم و نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فورمو راټولول:

څلیریشتمه ماده:

(۱)- څارنوال مکلف دی د تورن ماشوم د نسبتي دوسیې د بشپړولو لپاره، هغه مخصوصې فورمې چې د دې قانون په اوولسمه ماده کې درج شوي دقیق معلومات ولري، راټولې کړي.

(۲)- په هغه صورت کې چې ماشوم له اتلس کلنۍ څخه د لوړ سن شخص سره په ګډه د جرم مرتکب شوي وي، د هغه پر علیه قانوني اقدامات په جلا ډول د دې قانون د حکمونو مطابق صورت مومي.

د ماشوم احضارول:

پنځه ویشتمه ماده:

(۱)- تورن ماشوم د تحقیق یا محاکمې لپاره د هغه د قانوني ممثل له لارې احضارېږي په هغه صورت کې چې قانوني ممثل د احضارولو په وخت کې له ماشوم سره همدلاري توب (همراهي) ونه کړي. د محکمې په حکم پنځه سوه افغانیو جریمه کېږي.

(۲)- که چېرې ماشوم د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې تر توقیف لاندې وي، د اړتیا په صورت کې د تحقیق د بشپړولو یا محاکمې لپاره د هغوی جلبول د نومورو مرکزونو له لارې صورت مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپیم فصل

د ماشومانو د محاکمې ډول

اختصاصي محکمه:

شپږویشتمه ماده:

(۱)- د ماشومانو د جرمونو څېړنه د ماشومانو د اختصاصي محکمې لخوا صورت مومي. په دې منظور د ولایتونو په مرکزونو کې د ماشومانو اختصاصي ابتدائیه محکمې جوړېږي.

(۲)- د ماشومانو اختصاصي ابتدائیه محکمه له رئیس، غړو او اداري کارکوونکو څخه جوړه ده.

(۳)- د ماشومانو د اختصاصي محکمې قاضیان د محکمو د تشکیلاتو او واکونو د قانون په حکمونو کې د درج شوو شرایطو د لرلو برسېره د ماشومانو د محاکمې په اړونده مسایلو پورې د استعداد، مسلکي ښوونې او خاصې تجربې لرونکي هم وي.

د څېړنې پړاوونه:

اوویشتمه ماده:

د عدالت د ښه تامین په منظور له قانون څخه د سر غړوونکو ماشومانو اړوندې قضایاوې، په درېو پړاوونو (ابتدائیه، استیناف او فرجام) کې تر رسیدګۍ لاندې نیول کېږي.

حوزوي واک:

اته ویشتمه ماده:

(۱)- د ماشومانو اختصاصي محکمه د اړونده ولایت د حوزې د ماشومانو لخوا ارتکاب شوي جرمونه رسیدګي کوي.

(۲)- که چېرې د جرم دارتکاب ځای مشخص نه وي، موضوع د هغه محکمې لخوا چې ماشوم یې په حوزه کې میشت وي رسیدګي کېږي، د ماشوم د استوګنې د ځای د تثبیتېدو د نه امکان په صورت کې، موضوع د هغه محکمې لخوا چې ماشوم په هماغه حوزه کې نیول شوی یا توقیف شوی وي، رسیدګي کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رسیدګۍ ماده:

نهه ویشتمه ماده:

د ماشومانو اختصاصي محکمه د دې قانون د حکمونو مطابق لاندې قضیې چې په وړاندې اقامه کېږي، رسیدګي کوي.

۱- د ماشومانو جرمونه.

۲- د هغو ماشومانو غیر عادي کړه وړه چې د والدینو یا هغه شخص چې پر نفس یې ولایت لري او یا د مروجو روزنیزو تدبیرونو په نیولو سره د اصلاح وړ نه وي.

۳- د هغو ماشومانو قضیې چې له خطر سره مخامخ وي او ساتنې او ملاتړ ته اړتیا لري.

<u>د حکم د صادرېدو موده:</u>

دېرشمه ماده:

(۱)- د ماشومانو اختصاصي محکمه دوسیه د ورسېدو له نېټې څخه په درې ورځو کې مطالعه کوي. په هغه صورت کې چې په دوسیه کې نیمګړتیاوې و لیدل شي، هغه د تحقیقاتو د بشپړولو او د نیمګړتیاو د لرې کولو لپاره د ماشومانو اختصاصي څارنوالۍ ته مستر دوي. څارنوال مکلف دی، پرته له ځنډه له موضوع څخه د تورن قانونی ممثل ته خبر ورکړي.

(۲)- څارنوال مکلف دی د یوې اونۍ په موده کې د دوسیې نیمګړتیاوې لرې او دوسیه بیا اړونده محکمې ته وسپاري.

(۳)- د ماشومانو اختصاصي محکمه مکلفه ده د دوسیې له بیا رسېدو وروسته د لسو ورځو په موده کې په دې هکله خپل حکم صادر کړي.

د لا اجراء دوسیو د رپوټ ورکول:

یو دېرشمه ماده:

د ماشومانو د اختصاصي محکمې قضایي هیئت یا قاضیان مکلف دي، په هرو پنځلسو ورځو کې د لا اجراء دوسیو رپوټ له دلایلو سره یې یو ځای د محکمې رئیس ته وړاندی کړي. د محکمې رئیس مکلف دی پدې هکله ډېر ژر لازم تدبیرونه ونیسي.

د څېړنې محرم والی:

دوه دېرشمه ماده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)- د ماشومانو د سرغړونو څېړنه په پټه (سري) توګه او د حکم ابلاغ په هر حالت کې په علني توګه صورت مومي.

(۲)- د ماشومانو د محاکمې د بهیر د سندونو خپرول د شاهدانو د شهادت او د اهل خبره و د نظر په شمول په ټولنیزو رسنیو کې جواز نلري.

(۳)- د ماشوم د شخصیت په مکله د معلوماتو افشاء کول او یا هغه اطلاعات چې د ماشوم د هویت په کشف کېدو باندې منجر شي، تر هیڅ عنوان لاندې جواز نه لري.

(۴)- د محاکمې د غونډې بهیر ثبت او ساتل کېږي.

د فیصلې ابلاغ:

دري دېرشمه ماده:

(۱)- د ماشومانو د اختصاصي محکمې قاضیان د ماشوم، شاهدانو، قانوني ممثل،څارنوال، مدافع وکیل، د ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي موسسو کار کوونکو او د اهل خبره و د نظریو له اورېدلو وروسته خپله فیصله د ماشوم په حضور کې ابلاغوي.

(۲)- که چېرې محکمې ته ثابته شي چې د تر توقیف لاندې ماشوم پر علیه تورونه په ځای (وارد) نه دي، محکمه د هغه په ایله کولو باندې حکم کوي. دغه حکم د مجنی علیه او زیانمن د حق العبدي ادعا خنډ نه ګرځي. څارنوال کولای شي د دغه حکم پر علیه د استیناف غوښتنه وکړي.

(۳)- که چېرې د محاکمې په بهیر کې د بحث وړ موضوع ګاني ماشوم روحاً زیانمن کړي، محکمه د ماشوم په غیاب کې د محاکمې بهیر ته ادامه ورکولی شي، په دې شرط چې د محاکمې لنډ بهیر وروسته هغه ته توضیح کړي.

د محاکمې په غونډو کې ګډون:

څلور دېرشمه ماده:

(۱)- ماشوم، قانوني ممثل، مدافع وکیل حقوقي مساعد، شاهدان، قضایي هیئت، مجني علیه او څارنوال د محاکمې په غونډه کې ګډون کولای شي، که چېرې د قانوني ممثل حضور د ماشوم په مصلحت نه وي یا د محاکمې د بهیر د اخلال موجب و ګرځي، محکمه کولای شي د محاکمې له غونډې څخه د هغه د ویستلو امر ورکړي.

(۲)- محکمه کولای شي د ماشوم د روزنې او هوساینې په چارو کې مسلکي او اهل خبره و اشخاصو ته اجازه ورکړي تر څو د محاکمې په غونډه کې ګډون وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)- محکمـــه نـــه شـــي کـــولای هـــیڅ شـــخص د ماشـــوم د روحـــي وضـــعیت د پرمختیـــا او د هغـــه د شخصـــیت او د اســـتوګنې د چاپېریـــال پـــه هکلـــه د معلومـــاتو د وړانـــدې کولـــو پـــه اړه پـــه محکمـــه کـــې د شهادت له ورکول څخه منع کړي.

د تصمیم نیول:

پنځه دېرشمه ماده:

محکمـــه واک لـــري د تـــورن ماشـــوم پـــه هکلـــه د حـــالاتو د پـــه نظـــر کـــې نیولـــو ســـره یـــو لـــه لانـــدې تصمیمونو څخه ونیسي:

۱- د ټولنیزو خدمتونو په بر سپره کولو باندې مکلف کول.

۲- د ټولنیزو خدمتونو موسسو ته لېږل.

۳- د اخطار يې صادر ول.

۴- د محاکمې ځنډول.

۵- د مجازاتو مشروط تعلیقول.

۶- په کور کې حجزول.

۷- یو له والدینو یا هغه شخص ته يې سپارل چې د هغه د سرپرستۍ حق لري.

۸- د تر حجز لاندې نیولو لپاره د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونو ته لېږل.

د حکم صادرولو په وخت کې د معلوماتو په پام کې نیول:

شپږدېرشمه ماده:

د ماشـــومانو د اختصاصـــي محکمـــې قاضـــیان مکلـــف دي د حکـــم د صـــادر ولـــو پـــه وخـــت کـــې د دې قانون په اوولسمه ماده کې درج شوي ټکې په پام کې و نیسي.

د لیکلې ژمنې اخیستل:

اووه دېرشمه ماده:

(۱)- کـــه چېـــرې ماشـــوم د محکمـــې د حکـــم پـــه اثـــر، قـــانوني ممثـــل تـــه وســـپارل شـــي، هغـــه مکلـــف دی د ماشوم د سلوک او چلند څخه څارنه وکړي او څارنوال په دې هکله لیکلې ژمنه اخلي.

(۲)- کـــه چېـــرې د ماشـــوم قـــانوني ممثـــل خپلـــې دنـــدې د دې مـــادې پـــه (۱) فقـــره کـــې د درج شـــوې ژمنـــې مطـــابق پـــه صـــحیح صـــورت ســـره تـــر ســـره نـــه کـــړي، محکمـــه واک لـــري چـــې بـــل ممثـــل پـــه موقـــت ډول وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)- د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي حکمونه د ماشوم د اتلس کلنۍ سن په بشپړولو سره ساقطېږي.

رواني روغتیایي موسسوته د ماشوم ورپېژندل:

اته دېرشمه ماده:

که چېرې ماشوم د قضیې د څېړنې په وخت کې غیر عادي په نظر راشي، څارنوالي او محکمه کولای شي د قرار په صادرولو هغه د تشخیص او درملنې لپاره اړوندو روانې روغتیایي موسسو ته وروپېژني.

مجازات:

نهه دېرشمه ماده:

(۱)- د تورن ماشوم د جزا د ټاکلو په وخت کې لاندې مراتب په پام کې نیول کېږي:

۱- د هغه ماشوم مجازات چې د دولس کلنۍ سن یې بشپړ او د شپاړس کلنۍ سن ئې نه وي بشپړ کړی، د عین ارتکاب شوی جرم د حد اکثر د یو پر درېیمې (۱/۳) له مجازاتو څخه چې له اتلسو کلنو زیات، اشخاصو لپاره د جزاء په قانون کې اټکل شوي دي، زیاتېدی نه شي.

۲- د هغه ماشوم مجازات چې د شپاړس کلنۍ سن یې بشپړ او د اتلس کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی، د عین جرم د حداکثر د نیمایي (۱/۲) له مجازاتو څخه چې له اتلسو کلنو زیات اشخاصو لپاره د جزاء په قانون کې اټکل شوي دي، زیاتېدی نه شي.

۳- ماشوم د دوام داره حبس یا اعدام په مجازاتو باندې محکومېدای نه شي.

(۲)- هغه موده چې ماشوم یې په توقیف کې تېروي، د محکوم بها حجز له مودې څخه کمېږي.

تعلیقي او تنفیذی حجز:

څلوېښتمه ماده:

(۱)- که چېرې د ماشوم د حجز موده له دوه کلونو څخه زیاته نه وي، محکمه کولای شي، د محکوم بها حجز د مودې د تېرولو لپاره، هغه د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسو یوې ته یې وروپېژني. برسېره پر دې محکمه کولای شي د لاندې قیود څخه یو په یوه یا له یوه څخه په زیات هم حکم وکړي:

- په ټاکلي وخت کې استو ګنه.
- د ټاکلو کارونو تر سره کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ په خاصو ځایونو کې ګرځېدل را ګرځېدل.
ـ د ټولنې بیا رغونې د پروګرامونو لرونکو موسسو په یوه کې د نوم ثبتول.
ـ عذر غوښتلو ته اړ کول او د زیانمن د زیان جبرانول.

ـــ د ماشوم سپارل یو له والدینو یا هغه شخص ته چې قانوناً د هغه د سرپرستۍ حق لري، په دې صورت کې محکمه د ماشوم د ساتنې په هکله لازم هدایتونه هم صادروي، د هغو په واسطه د ژمنو او وجایبو د نه تر سره کولو په صورت کې، محکمه کولای شي، ماشوم د ټولنیزو خدمتونو یوې اختصاصي موسسې ته تسلیم کړي.

ـــ د نه اصلاح کېدو په صورت کې، له اصلي جزاء څخه د ډېرو شدیدو مجازاتو د ټاکلو د اخطار صادر ول.

(۲)- که چېرې ماشوم د داسې جرم مرتکب شوی وي چې مجازات یې له دوه کلونو حجز مودې څخه زیات او د دریو کلونو څخه لږ وي، محکمه کولای شي د هغه په تعلیقي حجز حکم ورکړي، که چېرې ماشوم د حکم د تنفیذ د تعلیق په موده کې د بل جرم مرتکب و نه ګرځي، د حکم اثار له منځه ځي او داسې ګڼل کېږي چې اصلاً حکم ندی صادر شوی. د تعلیق د تنفیذ د حکم لغوه کول د هغې محکمې لخوا صادر ېږي چې د تعلیق د تنفیذ حکم یې صادر کړی وي. که چېرې ماشوم د تعلیق د مودې تر پای ته رسېدو د مخه په یوه ډول د تعلیق د حکم شرایط نقص او بیا د جرم مرتکب شي، محکمه کولای شي چې ماشوم د تعلیقي حجز د مجازاتو په اوږدو کې، د خیریه کارونو د تر سره کولو لپاره د ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي موسسو یوې ته یې وروپېژني.

(۳)- محکمه واک لري چې د دعوي له اوږدلو وروسته، د محاکمې بهیر د ماشوم د شخصیت د زیاتې څېړنې لپاره وروسته کړي، د محاکمې د وروسته والي موده حد اکثر د جنایت د جرم د ارتکاب په صورت کې درې کاله او جنایې په جرم کې یو کال ده. په دې صورت کې ماشوم د کتنو، درملنې او ملاتړ (حمایت) لپاره د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسو ته تسلیمېږي. محکمه واک لري چې د جرم د عواقبو د اصلاح او له زیانمن یا مجني علیه سره د مصالحې د هڅولو لپاره نور اضافي مکلفیتونه هم په خپل حکم کې تصریح کړي. د محاکمې وروسته کول د هغه د شرایطو د بیا نقضولو په صورت کې، باطلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعليقي حجز موده:

يو څلوېښتمه ماده:

(۱)- محکمه واک لري چې تنفيذي حکم د هغه ماشوم په هکله چې د جنحې د جرم مرتکب ګرځېدلی وي، تریو کال او د جنایت په هکله تر دریو کلونو پورې له شرط سره یا له هغه پرته تعلیق کړي.

(۲)- د تعلیق حکم د خاصو روزنیزو یا ټولنیزو خدمتونو د پروګرامونو د نشتوالي په صورت کې نه شي صادرېدلی. د تعلیق حکم د محاکمې له پای ته رسېدو د مخه صادرېږي. څارنوال کولای شي د حکم له ابلاغ وروسته د درې ورځو په موده کې، د استیناف غوښتنه وکړي او د ماشوم قانوني ممثل له موضوع څخه خبر کړي.

استیناف غوښتنه:

دوه څلوېښتمه ماده:

(۱)- محکوم علیه ماشوم، دهغه قانوني ممثل یا څارنوال کولای شي د ابتدائیه محکمی د فیصلې پرعلیه د استیناف غوښتنه وکړي.

(۲)- د استیناف غوښتنې واکمنه مرجع، د استیناف محکمې ریاست دی. د استیناف غوښتنې غوښتنلیک د حکم د صادروونکې محکمې د تحریراتو دفتر یا د استیناف محکمې د تحریراتو دفتر ته د یوویشت ورځو په موده کې تسلمېږي. دغه موده د لاندې حالاتو په پام کې نیولو سره محاسبه کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې محکمې د فیصلې متن او د هغه دلایل د محکمې د جلسې په پای او د تورن ماشوم یا دهغه د مدافع وکیل په حضور کې لوستلی وي.

۲- په هغه صورت کې چې محکمې د حکم د صادرېدو دلایل له حکم سره یوځای نه وي لوستلي او تورن ماشوم یا د هغه مدافع وکیل ته یې بیا ابلاغ کړي، پدې حالت کې د پیل موده د دوه یمې ابلاغیې له نېټې څخه محاسبه کېږي.

۳- په هغه صورت کې چې په عین فیصلې کې له یوه ماشوم څخه زیات محاکمه وي د مودې پیل د وروستنۍ ابلاغیې له نېټې څخه محاسبه کېږي.

(۳)- د نه قناعت په صورت کې، ماشوم، د هغه قانوني ممثل یا څارنوال کولاي شي د صادرېدو له نېټې څخه د یوویشت ورځو په موده کې د ماشومانو د اختصاصي محکمې د فیصلې پر علیه د استیناف غوښتنه وکړي او له موضوع څخه مقابل لوري ته خبر ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴)- ماشوم نه شي کولای د قانوني ممثل له موافقي پرته د خپلې استیناف غوښتنې له حق څخه ټپر شي.

(۵)- که چېرې ماشوم یا دهغه قانوني ممثل د محکمې د صادرې شوې فیصلې پر علیه استیناف غوښتنه وکړي، د لوړې محکمې په فیصله کې درج شوې جزاء د ابتدائیه محکمې له فیصلې څخه سختېدلی نه شي.

(۶)- د نه قناعت په صورت کې ماشوم، د هغه قانوني ممثل یا څارنوال کولای شي د صادرېدو له نېټې څخه د دېرشو ورځو په موده کې د استیناف د محکمې د فیصلې پر علیه له ستړې محکمې څخه فرجام غوښتنه وکړي. د فرجام غوښتنې غوښتنلیک د حکم صادروونکې محکمې د تحریراتو دفتر یا د ستړې محکمې د اړوند دیوان د تحریراتو دفتر ته تصمیم ورکول کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم فصل

د ماشومانو د اصلاح او روزنې د مرکزونو او ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي موسسو دندې

د رپوټ وړاندې کول:

دري څلوېښتمه ماده:

د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونه او د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسې مکلفې دي چې د دوی د ترحجز لاندې ماشومانو د مجازاتو د تطبیق په وخت کې، په هرو درېو میاشتو کې او یا د غوښتنې په وخت کې اړوندې څارنوالۍ او محکمې ته رپوټ وړاندې کړي. د ماشومانو اختصاصي څارنوال او قاضي لږ تر لږه په میاشت کې یو ځل د ترحجز لاندې ماشومانو له ځای څخه لیدنه کوي.

د حکم له تطبیق څخه څارنه:

څلور څلوېښتمه ماده:

د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسې مکلفې دي چې د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې د حجز د حکم او نورو هغو لارښوونو له تطبیق څخه چې په دې هکله د محکمې لخوا صادر شوي وي، څارنه وکړي او د ماشوم د اصلاح کېدو په هکله رپوټ په هرو درېو میاشتو کې او یا د قاضي د دستور مطابق اړوندې محکمې ته وړاندې کړي.

د اصلاحي پروګرامونو نوې کتنه:

پنځه څلوېښتمه ماده:

د ماشوم قانوني ممثل، د ماشومانو د اصلاح او روزنې د مرکز رئیس یا د ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي موسسې رئیس چې ماشوم ورسره تر حجز لاندې دی، کولای شي هر وخت د ماشومانو د اختصاصي محکمې څخه پر اصلاحي پروګرامونو یا نورو سپارښت شوو تدبیرونو باندې د نوې کتنې غوښتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ترحجز لاندې ځایونو کې لیدنه:

شپږم څلوېښتمه ماده:

د ماشوم قانوني ممثل حق لري چې له هغه سره په تر حجز لاندې ځایونو کې لیدنه وکړي، په دې شرط چې د هغه ځایونو مقررات رعایت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم فصل

د غیر عادي چلند او سلوک لرونکو ماشومانو سره د چلند ډول

د حقایقو وړاندې کول:

اووه څلوېښتمه ماده:

(۱)- کـــه چېـــرې ماشـــوم غیـــر عـــادي چلنـــد لـــه ځانـــه وښـــيي، د ماشـــومانو اختصاصـــي څـــارنوال یـــا د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسې کولای شي د موضوع حقایق اړوندې محکمې ته وړاندې کړي.

(۲)- د ماشـــومانو اختصاصـــي محکمـــه د دې مـــادې د (۱) فقـــرې د حکـــم پـــه پـــام کـــې نیولـــو ســـره، د ماشـــوم د شخصـــیت پـــه هکلـــه معلومـــات د دې قـــانون پـــه اوولســـمه مـــاده کـــې د درج شـــوو اړونـــدو معلوماتو په ګډون، بشپړوي او یو له لاندې تصمیمونو څخه نیسي:

۱- د ټـــولنیزو خـــدمتونو د اختصاصـــي موسســـې پـــه یـــوې کـــې د هغـــه د تســـلیمولو پـــه هکلـــه د هدایت صادر ول.

۲- د دولتي روزنیزو یا روغتیایي موسسو په یوه کې د هغه د شاملولو په هکله د هدایت صادرول.

د محکمې تصمیم:

اته څلوېښتمه ماده:

(۱)- د ماشـــومانو د اختصاصـــي محکمـــې قضـــایي هیئـــت د دې قـــانون د اووه څلوېښـــتمې مـــادې پـــه (۲) فقـــره کـــې درج شـــوي تصـــمیمونه د ماشـــوم یـــا د هغـــه د قـــانوني ممثـــل پـــه حضـــور کـــې د څـــارنوال د نظر له په پام کې نیولو سره په سري جلسې کې نیسي.

(۲)- کـــه چېـــرې محکمـــه د ټـــولنیزو خـــدمتونو د اختصاصـــي موسســـو یـــوې تـــه د ماشـــوم د تســـلیمولو پـــه هکلـــه تصـــمیم ونیســـي، پـــه دې صـــورت کـــې د ماشـــوم د ښـــوونې، مســـلکي روزنـــې، اســـتخدام، د بیکـــارۍ پـــه ســـاحو کـــې د بوختیـــا او روغتیـــایي درملنـــې د جزیـــاتو او شـــرایطو شـــرح هـــم پـــه تصمیم کې په پام کې نیول کېږي.

(۳)- د ماشـــومانو د ټـــولنیزو خـــدمتونو اختصاصـــي موسســـه مکلفـــه ده چـــې د ماشـــوم د ســـلوک او چلنـــد څارنـــه وکـــړي او ټـــولنیز عـــادي ژوندانـــه پـــه د ماشـــوم د بیاورتـــګ پـــه منظـــور لازمـــې اســـانتیاوې برابـــرې کـــړي او پـــه دې هکلـــه د ماشـــوم لـــه کـــورنۍ ســـره دوامـــداره تماســـونه تـــامین کـــړي او لـــه موضـــوع څخـــه اړونـــدې محکمـــې تـــه د ماشـــوم د اصـــلاح کېـــدو او سپارښـــت شـــوو د ســـتورونو د تطبیـــق پـــه اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت په وخت رپوټ وړاندې کړي.

(۴)- د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسه کولای شي، لازمي نظرې او وړاندیزونه د محکمې په حکم کې د جزایي تعدیلاتو د راوستلو په هکله چې د ماشوم په اصلاح کېدو او ټولنې ته په بیا ورتګ کې اغېزمن واقع شي، محکمې ته وړاندې کړي.

د اسانتیاو برابرول:

نهه څلوېښتمه ماده:

(۱)- د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسه مکلفه ده چې له کورنۍ او چاپېریال سره یې د ماشوم د لیدنو کتنو لپاره لازمي اسانتیاوې برابرې کړي.

(۲)- د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسه مکلفه ده چې د ماشوم په هکله د محکمې د سپارښت شوو د ستورونو له تطبیقېدو څخه ځارنه وکړي او په هره میاشت یا د غوښتنې په وخت کې د ماشومانو اختصاصي محکمې ته رپوټ وړاندې کړي.

د حکم تعدیل:

پنځوسمه ماده:

د ماشومانو اختصاصي محکمه واک لري چې د ماشوم د ګټو د ساتنې په منظور د هغه د روزنې او ټولنې ته د بیا ورتګ په هکله عندالاقتضا، خپل حکم تعدیل کړي.

د ماشوم د ساتنې لګښتونه:

یو پنځوسمه ماده:

د ټولنیزو خدمتونو په اختصاصي موسسو یا روزنیزو او روغتیایي موسسو کې د ماشوم د استو ګنې لګښتونه، د هغه د قانوني ممثل په غاړه وي. که چېرې قانوني د هغه د ورکړې توان و نه لري، دغه لګښتونه د دولت د بودجې څخه تمویلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم فصل

څارنې او ساتنې اړو ماشومانو ته مرسته او هغوی ته د رسیدګۍ ډول

څارنې او ساتنې ته اړ ماشوم:

دوه پنځوسمه ماده:

(۱)- څارنې او ساتنې ته اړ ماشوم هغه شخص دی چې:

۱- د هغه جسمي، روحي، عاطفي او ساتنیز (حفاظتي) سلامتیا له خطر سره مخامخ وي.

۲- د هغه ښوونیزې ګټې او شرایط له خطر سره مخامخ شوي وي.

۳- د لوړ عمر لرونکي یا هغه شخص چې پرې تسلط لري ترتېري لاندې راغلی وي.

۴- والدینو، هغه پرېښې وي.

(۲)- د ماشومانو اختصاصي محکمه د ماشوم، قانوني ممثل، څارنوال یا نورو واکمنو مراجعو د غوښتنې په صورت کې کولای شي، د دې مادې د (۱)- فقرې په درج شوو حالاتو کې لازم تصمیمونه ونیسي.

د اظهاراتو اورېدل:

دري پنځوسمه ماده:

(۱)- د ماشومانو اختصاصي محکمه د ماشوم ویناوې (اظهارات) اوري، خو دا چې قضایي جلسه د سن، روغتیا او عقلي پیاوړتیا له املـه د ماشوم روحي یا جسمي وضعیت ته د زیان رسولو موجب وګرځي.

(۲)- د ماشومانو اختصاصي محکمه د ماشوم د قانوني ممثل اظهارات اوري او هغه تر غور لاندې نیسي.

(۳)- قانوني ممثل کولای شي له اړوند محکمې څخه غوښتنه وکړي چې د متحصصینو او اهل خبره وو له نظریو څخه د هغه ماشوم په اړه چې تر جنسي، فزیکي یا روحي تېري لاندې راغلی وي، ګټه واخلي.

(۴)- د ماشومانو اختصاصي محکمه کولای شي چې متخصصین او اهل خبره د ماشوم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وضعیت په هکله د معلوماتو د وړاندې کولو لپاره محکمې ته احضار کړي.

د محکمو له صادر شوو دستورونو څخه ځارنه:

څلور پنځوسمه ماده:

د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي موسسې مکلفې دي چې د ماشومانو د اختصاصي محکمو له صادر شویو دستورونو څخه ځارنه او د ماشوم د اصلاح کېدو رپوټ په میاشتني ډول اړوندو محکمو ته ورکړي.

د مرسته ایزو روزنیزو تدبیرونو نیول:

پنځه پنځوسمه ماده:

(۱)- د ماشومانو اختصاصي محکمه واک لري، د دې قانون د دوه پنځوسمې مادې د (۱) فقرې په حکم کې د درج شوي ماشوم په هکله له لاندې مرسته ایزو زوزنیزو تدبیرونو څخه یو ئې ونیسي:

۱- ماشوم دې په خپل اوسني چاپېریال (محیط) کې پاتې شي. پدې حالت کې محکمه مکلفه ده چې د هغه لپاره قانوني سرپرست وټاکي تر څو د محکمې د حکم له مخې ماشوم خلاصو روزنیزو موسسو ته واستوي.

۲- ماشوم دې په خپل اوسني چاپېریال کې پدې شرط پاتې شي چې په دوامداره توګه روغتیایي او مسلکي ښوونیز یا روزنیزو موسسو ته مراجعه وکړي.

۳- ماشوم د خپل اوسني چاپېریال څخه جلا او د قانوني سرپرست تر څارنې لاندې دې راشي، ترڅو د محکمې د حکم په صورت کې ماشوم روغتیایي او مسلکي ښوونیزو یا روزنیزو موسسو ته واستوي.

(۲)- د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې روغتیایي، ښوونیزې او روزنیزې موسسې او د ماشوم قانوني سرپرست مکلف دي چې د ماشوم له چلند او سلوک څخه څارنه وکړي او دهغه د اصلاح کېدو په هکله د لارښوونې مطابق لیکلی رپوټ، محکمې ته وړاندې کړي.

(۳)- د دې مادې د (۱) فقرې په (۱ او ۲) اجزاوو کې درج په حالاتو کې، قانوني سرپرست مکلف دی چې د ده د سرپرستۍ د عزل کېدو یا د اوسني محیط څخه د ماشوم د جلاوالي په هکله د ماشومانو د اختصاصي محکمې د ثاني حکم تر وخته، پورې ماشوم وساتي.

(۴)- د دې مادې د (۱) فقرې د (۳) جزء په درج شوي حالت کې، قانوني سرپرست مکلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چې د ده د سرپرستۍ د عزل کېدو یا کورنۍ ته د ماشوم د بېرته ستنېدو په هکله د محکمې د ثاني حکم تر وخته پورې، ماشوم وساتي.

(۵)- ماشوم د دې مادې د (۱) فقرې په درج شوو حالاتو کې، هر وخت کولای شي د ماشومانو له اختصاصي محکمې څخه غوښتنه وکړي چې له خپلو والدینو او قانوني سرپرست سره لیدنه کتنه وکړي.

پرنیول شوو تدبیرونو باندې نوې کتنه:

شپږم پنځوسمه ماده:

(۱)- د ماشومانو اختصاصي محکمه واک لري چې د دې قانون د یوپنځوسمې مادې په (۱) فقره کې درج پرنیول شوو تدبیرونو باندې د ماشوم د چلند، سلوک او اصلاح کېدو په پام کې نیولو سره، عندالزوم نوې کتنه وکړي.

(۲)- د ماشومانو اختصاصي محکمه واک لري د دې قانون د پنځه پنځوسمې مادې په (۱) فقره کې درج پرنیول شوو تدبیرونو باندې د والدینو، قانوني سرپرست یا د ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي موسسو د غوښتنې له مخې په هرو شپږو میاشتو کې نوې کتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم فصل

د ماشومانو سرپرستي

قانوني سرپرست:

اووه پنځوسمه ماده:

(۱)- هغه ماشوم چې د اتلس کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی، والدین یې قانوني سرپرست ګڼل کېږي.

(۲)- په هغه صورت کې چې ماشوم قانوني ممثل و نه لري، محکمه هغه ته سرپرست ټاکي.

(۳)- د قانوني سرپرست د ټاکلو لپاره د قضایي واک حوزه، هغه قلمرو ګڼل کېږي چې ماشوم په هغه کې استوګنه و لري یا هغه ځای چې ماشوم په هغه کې حاضر وي او پر علیه یې قانوني اقدامات پیل شوي وي.

د سرپرستۍ غوښتنلیک:

اته پنځوسمه ماده:

(۱)- هغه شخص چې د ماشوم هوسایني ته علاقه ولري، کولای شي چې د سرپرستۍ غوښتنلیک چې د لاندې معلوماتو لرونکی وي، اړوندې محکمې ته وړاندې کړي:

۱- پېژند ګلوي او بشپړ ادرس.

۲- د ماشوم نوم، سن، د اوسېدو ځای او ادرس.

۳- له ماشوم سره د اړیکو او علایقو څرنګوالی

۴- د ماشوم د اصولو، فروعو او نږدې خپلوانو پېژند ګلوي او ادرس.

۵- د ماشوم د ښې سرپرستۍ په هکله د وړتیا دلایل.

۶- د سرپرستۍ ډول او حدود.

(۲)- د ماشومانو اختصاصي محکمه د دې مادې په (۱) فقره کې درج د سرپرستۍ غوښتنلیک د څېړنو د تر سره کولو او لازمو معلوماتو د وړاندې کولو لپاره ټولنیزو اختصاصي موسسو ته لېږي او اړوندې موسسې مکلفې دي چې د څېړنو رپوټ محکمې ته وړاندې کړي.

(۳)- د ماشومانو اختصاصي محکمه د ماشوم، والدینو، غوښتنلیک ورکوونکي شخص او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي موسسو د استازي په حضور د قانوني سرپرست د ټاکلو په هکله تصمیم نیسي.

د سرپرست واک:

نهه پنځوسمه ماده:

(۱)- هغه شخص چې د قانوني سرپرست په توګه ټاکل شوی دی، د بیا حکم تر صادرېدو پورې واک لري چې له ماشوم څخه ساتنه وکړي.

(۲)- قانوني سرپرست د ټولو هغو واکونو او مسوولیتونو لرونکی دی چې والدین یې لري. د ماشوم لپاره د نفقې برابرول او درېیم شخص ته د اوښتي زیان جبرانول له دې حکم څخه مستثنی دي.

د سرپرست مسوولیت:

شپېتمه ماده:

د ماشوم قانوني سرپرست په مدني قانون کې د درج شوو مکلفیتونو برسېره د لاندې مسوولیتونو لرونکی هم دی:

۱- د ماشوم د شخصي منقولو او غیر منقولو شتمنیو څخه ساتنه او پدې هکله د لازمو ساتنیزو (حفاظتی) تدبیرونو نیول.

۲- د ماشوم د منقول او غیر منقولو مالونو نه پلورل، خو دا چې محکمه د هغه په پلورلو باندې تصمیم و نیسي.

۳- د هغو پیسو یا اجناسو تر لاسه کول چې د ماشوم د نفقې لپاره د والدینو، ولي یا د هغه د قانوني وکیل په نامه رالېږل شوي دي، پدې شرط چې قانوني سرپرست تر لاسه شوې پیسې یا اجناس یوائې د ماشوم د اوسنیو اړتیاوو د لرې کولو لکه نفقې، ښوونې یا د هغه د ساتنې لپاره ولګوي او اضافي پیسې د هغه د راتلونکې لپاره زېرمه کړي.

۴- د ماشوم له پیسو او شتمنیو څخه شخصي ګټه نه اخیستل، خو دا چې محکمې د هغه د خدمتونو د ترسره کولو په مقابل کې یو مبلغ ټاکلی وي.

۵- د هغو اشخاصو پر علیه د قانوني اقداماتو نیول چې د قانوني ژمنو په ترسره کولو یا د ماشوم د ټولنیزې هوساینې په تر سره کولو ژمن وي.

۶- د ماشوم د تحصیلي، ټولنیزو او نورو تعلیمونو د اسانتیاوو د برابرولو په هکله د قانوني اقداماتو نیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- محکمې ته د ادرس د بدلون په هکله تر څوارلس ورځو پورې د خبر ورکول.
۸- د ماشـــومانو اختصاصـــي محکمـــې تـــه د ماشـــوم د چلنـــد، ســـلوک او اصـــلاح کېـــدو د حـــالاتو د ټولـــو جـــز يـــاتو پـــه هکلـــه پـــه هـــرو درېـــو مياشـــتو کـــې د رپـــوټ ورکـــول. رپـــوټ بايـــد د ماشوم د رواني او روغتيايي انکشافاتو لرونکې وي.

د سرپرستۍ د موضوع څېړل:

يو شپېتمه ماده:
(۱)- محکمـــه د دولـــس کلنـــۍ څخـــه د لـــږ ســـن لرونکـــو ماشـــومانو د قـــانوني سرپرســـتۍ موضـــوع په مياشت کې يو ځل او له دولس کلنۍ سن څخه پورته په هرو دريو مياشتو کې څېړي.
(۲)- محکمـــه د دې مـــادې پـــه (۱) فقـــره کـــې د درج شـــوي ماشـــوم د سرپرســـتۍ د موضـــوع د څېړنې په وخت کې لاندې ټکي په پام کې نيسي:
۱- د سرپرست لخوا ماشوم ته د ټولنيزې هوسايني د لازمو اسانتياوو برابرول.
۲- د سرپرستۍ د دوام اړتيا.
۳- د ماشوم د ټولنيزې هوسايني د برابرولو د دوام لپاره د قانوني سرپرست اشتياق او توان.
۴- د سرپرست لخوا د ماشوم پر ټولنيزې هوسايني باندې د سرپرستۍ د دوام اغېزه.
۵- د سرپرستۍ په هکله د محکمې د نظر وړ نور عوامل.
(۳)- د ټـــولنيزو خـــدمتونو اختصاصـــي موسســـې مکلفـــې دي چـــې د محکمـــې د لارښـــوونې مطـــابق د دې پـــه (۲) فقـــره کـــې د درج شـــوو مطـــالبو پـــه هکلـــه لازمـــې کتنـــې تـــر ســـره کـــړي او پـــدې اړه خپـــل رپوټ اړوندې محکمې ته وړاندې کړي.
(۴)- د ماشـــومانو اختصاصـــي محکمـــه کـــولای شـــي د دې مـــادې پـــه (۲ او ۳) فقـــرو کـــې د درج شوو څېړنو له بشپړېدو وروسته د سرپرستۍ د دوام يا لغوه کولو په هکله تصميم و نيسي.

د سرپرستۍ د حکم لغو:

دوه شپېتمه ماده:
کـــه چېـــرې والـــدين يـــا يـــو لـــه هغـــو څخـــه د سرپرســـتۍ د ځـــای ناســـتي پـــه هکلـــه د محکمـــې لارښـــوونې پـــه بشـــپړه توګـــه رعايـــت کـــړي وي، پـــدې صـــورت کـــې محکمـــه کـــولای شـــي، سرپرســـتي لغـــوه او والـــد يـــا والـــدينو تـــه يـــې د ماشـــوم د بيـــا ورتـــګ پـــه هکلـــه د سرپرســـتۍ د وخـــت د ختمېـــدو څخـــه شپږمياشتې د مخه حکم صادر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم فصل

وروستني حکمونه

د حکم تنفیذ:

دري شپېتمه ماده:
د ماشومانو په اړه د محکمو وروستني او قطعي حکمونه واجب التنفیذ دي، هر هغه څوک چې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه له هغه څخه اطاعت و نه کړي یا د هغه په تطبیقولو کې، خنډ را منځ ته کړي او یا د هغه په قانوني اجراتو کې مداخله وکړي، دقانون د حکمونو مطابق مجازات کېږي.

د نورو نافذو قوانینو د حکمونو رعایتول:

څلور شپېتمه ماده:
په هغه صورت کې چې د ماشومانو د قضیو د رسیدګۍ په هکله پدې قانون کې کوم حکم نه وي اټکل شوی، موضوع د نافذه قوانینو د حکمونو مطابق تر رسیدګۍ لاندې نیول کېږي.

مؤقت مدافع وکیل:

پنځه شپېتمه ماده:
تر هغه ځایه چې په اوسني وخت کې په هېواد کې مدافع وکیلان په کافي شمېر کې وجود نه لري مظنون یا تورن ماشوم کولای شي تحصیل لرونکو اشخاصو ته چې په حقوقي قضا یاوو کې عالم وي، مراجعه وکړي. پدې منظور د هرې محکمې رئیس د شرایطو لرونکو اشخاصو لست چې په مرکز کې د عدلیې وزارت او په ولایتونو کې د دولت د قضایاو د ادارو لخوا، د استیناف محاکمو ته ور پېژندل کېږي، برابروي.

د انفاذ نېټه:

شپږ شپېتمه ماده:
دغه قانون د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي او د هغه په نافذېدو سره مغایر حکمونه لغوه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ISLAMIC REPUBLIC OF AFGHANISTAN MINISTRY OF JUSTICE

OFFICIAL GAZETTE

THE LAW OF INVESTGATION ON CHILDREN'S VIOLATIONS

ISSUE NO: 846
Date: 23rd *MARCH 2005*

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم ټولګی

د تورن حقوق

Accusi Rights

نوی سید جمال الدین (افغان) انستټیوت

Institute New Said Jamaluddin "Afghan"

لیکوال: استاد احمد ګل واثق ((دُرانی))
جلال اباد، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم ټوک

د مظنون، متهم او محکوم حقوق

دا څرګند حقیقت دی چې انسان یو ټولنیز مخلوق دی او هغه نه شي کولای چې په انفرادي او د نورو څخه په منزوي ډول ژوند وکړي. یعنې په ټولنیز ژوند کې د بشریت تقاضا دا ده چې ټول انسانان یو د بل سره په ګډه او اوږه په اوږه او بې له کومې اندېښنې څخه ژوند وکړي. په داسې شکل چې خپل احتیاجات او ضروریات پوره کړي او د نورو خلکو لپاره هم د ګټې رسولو کوښښ وکړي. خو د دې خبرې یادونه هم باید وکړو چې د انسانانو کړنې هم بې له قید او شرط نه وي. په دې معنی چې د انسانانو کړنې باید د قانون په چوکاټ کې وي، او که چیرې داسې ونه شي نو بیا به د انسانانو کړنې یو د بل سره په مخالفت کې واقع شي او په نتیجه کې به په ټولنه کې بې نظمي، او ګډوډي را منځ ته شي؛ د امن، سکون، او اطمینان ژوند به له منځه لاړ شي او هم به د پرمختګ مخه ونیول شي.

چې دغه نوعه ګډوډیو ته جرم، او د دغه ګډوډیو مرتکبینو ته مجرمین وایي. نو هر څوک چې دغه د ګډوډۍ اعمال ترسره کوي (د قانون) (او په افغانستان کې داسلامي شریعت پر وړاندې) خلاف اعمال تر سره کوي نوموړي اعمال د جرمي اعمالو په نوم نومول شوي دي. یعنې جرم ورته وائي. متاسفانه په انساني ټولنو کې جرایم او مجرمین د تاریخ په مختلفو دورو کې موجود ول. یعنې په هر وخت او هر ځای کې جرایم واقع شوي دي، اوس هم جرایم واقع کېږي، او مجرمین وجود لري؛ او په غالب ګمان په اینده کې به هم جرایم او مجرمین موجود وي.

کله چې مونږ د جرایمو او مجرمینو سره مخامخ کېږو، دې ته احتیاج او ضرورت پیدا کېږي چې دغه جرایمو او مجرمینو ته لاس رسی وشي، او مجرمین د قانون منګولو ته وسپارل شي، او د خپل عمل په مقابل کې مجازات ورکړل شي. چې د همدغه ضرورت په اساس یو لړ قواعد او مقررات د قدرت لرونکي مقاماتو له خوا وضعه کېږي، تر څو په لومړي قدم کې جرمي او غیر جرمي اعمال یو دبل څخه جدا کړي، او هم د جرایمو نابودۍ- او منحل کېدو او له منځه وړلو لارې او طریقې په نظر کې ونیول شي، او د ټولنې دفاع او حمایې لپاره او د مجرمینو اصلاح او تربیې لپاره لازم ټولنیز عکس العملونه پیش بیني کړای شي. په لنډ ډول باید ووایو چې داسې قواعد او مقرارت وضعه شي چې جرایمو او مجرمینو ته لا رسی وکړل شي، لیکن د لاس رسي په وخت کې د مظنون، متهم او محکوم ټول حقوق هم رعایت شي.

دې لپاره چه په دې موضوع باندې ښه پوه شو چې د مظنون، متهم او محکوم حقوق څه شی دي او په کوم حالت کې نوموړي حقوق ښه رعایت کېدای شي (ان شاءالله) په دې لیکنه کې به روښانه شي.

پورتني توضیحات په لاندې برخو کې را لنډولی شو:

په لومړۍ برخه کې به په عمومي ډول د جزایي دعوې په ټولو پړاوونو کې د پام وړ عام حقوق تطبیق او وڅېړو، چې دغه برخه به د نورو وړو او فرعي سرلیکونو په ترڅ کې روښانه شي. په دوهمه برخه کې به هغه اشخاصوته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسیده ګي پروسیجرونه چې د (۱۸) کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړی او په درپیمه برخه کې هغه اشخاصو ته د رسیده ګي پروسیجر چې د (۱۸) کلنۍ عمر یې بشپړ کړی وي و ځپړل شي. دغه دواړه هر یو په خپل وار سره په درپو عمده برخو وپشل کېږي چې هغه عبارت دي: د محاکمې څخه مخکې مرحله کې دمظنون حقوق، د محاکمې په مرحله کې د متهم حقوق، او د محاکمې څخه وروسته مرحله کې د محکوم حقوق دي. او دغه هر یو فصل به د جدا، جدا سرلیکونو په ترڅ کې روښانه شي، مخکې له دې نه چې په دغو موضوعاتو باندې بحث وکړو بهتره به وي چې په دغه مقدمه کې په لاندی سرلیکنو باندې رڼا واچوو.

د مظنون، متهم او محکوم تعریفونه:

۱. مظنون (شکمن):

د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو لنډمهاله قانون چې په ۱۳۸۲\۱۲\۱۴ کې توشیح شو او د کب د میاشتې په ۲۶ نېټه د رسمي جریدې په ۸۳۰ ګڼه کې نشر شو، مظنون دا رنګه را پېژني:

پینځمه ماده لومړۍ فقره: شخص هغه وخت مظنون ګڼل کېږي چه د تحقیق په مرحله کې د جرم ارتکاب هغې ته نسبت ورکولی شي.[۱]

یعنې تر هغه وخت پورې یو شخص ته مظنون ویل کېږي چې د څارنوال له خوا په هغه اتهام نامه نه وي اقامه شوي. د اتهام نامې نه اقامه کېدو وجه ممکن د الزام د کافي دلایلو نه موجودیت وي.

۲. متهم (تورن):

د جزایي اجراتو لنډ محاله قانون د پینځمې مادې د دویمې فقرې د حکم په اساس متهم عبارت دی له؛ هغه شخص څخه چې د څارنوال لخوا د نهه دېرشمې مادې د (۴) فقرې د حکم مطابق د هغه پر ضد دعوه اقامه شوې وي.[۲] یعنې (تورن) شخص عبارت دهغه شخص څخه دی چې د څارنوال له خوا د الزام د کافي دلایلو په صورت کې دهغه پر ضد د دعوې اقامه وشي. اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې شخص تر کوم وخت پورې تورن پاتې کېږي؟ دې پوښتنې ځواب لپاره هم غوره ده چې د قانون د حکم په اساس ځواب ورکړو. په دې اړه د جزایي اجراتو لنډ مهاله قانون پینځمې مادې درېیمې فقرې د حکم له مخې داسې توضیح شوې ده:

شخص تر هغه وخته پورې تورن پاتې کېږي چې:

۱ - محکمې د هغه په برات حکم نه وي کړی.

۲ – د محکمې دوروستي حکم پر اساس محکوم علیه ګڼل شوی نه وي.

۳. محکوم:

محکوم هم د جزایي اجراتو موقت قانون مونږ ته را پېژندلی او هغه داسې تعریفوي چې: محکوم عبارت له هغه شخص څخه دی چې د محکمې د وروستني حکم پر اساس محکوم علیه وګڼل شي. نو که یو مظنون د محکمې د ورستني حکم په اساس محکوم علیه نه وي ګڼل شوی محکوم نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ برخه

د تطبیق وړ عام حقوق دجزایي دعوې په ټولو پړاوونو کې

ټول هغه حقوق چې په دې برخه کې پرې بحث کېږي، د قضایي بهیرد ټولو پړاوونو پورې اړه لري چې دغه حقوق باید د محاکمې څخه په مخکې پړاو کې، د محاکمې په پړاو کې او له محاکمې څخه په وروستي پړاو کې په پام کې و نېول شي. د دغه حقوقو مراعاتول په وروستنیو جریاناتو باندې اغېز لري، د مثال په ډول که چېرې د تورن اعترافات یا د شاهدانو څرګندونې د شکنجې هغه اصل د نه مراعاتولو په نتیجه کې د محاکمې څخه په مخکې پړاو کې تر لاسه شوي وي ناجایزه ګڼل کېږي، یا دا چې د پولیسو نیولو څخه وروسته مظنون حق لري چې مدافع وکیل ولري، نو که نوموړي شخص ته مدافع وکیل نه وي ټاکل شوی؛ یا دا چې د تحقیق په جریان کې تورن د سکوت حق لري، که چېرې نوموړي شخص ته دا حق نه وي ورکړل شوی؛ یا دا چې هر وخت د یو جرم په شک یو شخص نیول کېږي، هغه باید د خپلو ټولو حقوقو څخه خبر شي، نو که هغه نه وي خبر شوی؛ همدا رنګه د حقوقو یو منل شوی پرنسیپ وجود لري چې بې له قانون څخه نه جرم شته او نه مجازات، یعنې دا چې که یو کار په قانون کې د جرم په توګه نه وي ذکرشوی، د هغه په کولو یا نه کولو څوک مجرم نه شي بلل کېدای.

همدا راز یو بل پرنسیپ هم موجود دی چې جرم یو شخصي عمل دی، او د بل چا د جرم په اساس څوک نه محاکمه او نه مجازات کېدای شي؛ نو که چېرې جرم یو چا کړی وي او د هغه په عوض بل څوک نیول شوی وي، په دې صورت کې وروستي ټول اجرات باطل دي. که چېرې د جزایي دعوې په هر یو پړاو کې دغه اصول په نظر کې نه وي نیول شوي، هغه متهم کولای شي چې اعتراض پرې وکړي (هغه هم د قانون د حکم مطابق) دجزایي اجراتو موقت ۱۵مه او ۱۶مه ماده)

د افغانستان د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون ۱۶ ماده

۱. فقره په پینځلسمه ماده کې له درج شوو حکمونو څخه هر ډول متفاوتي اجرایوي سر غړونې په هغه صورت کې بې اعتباره ګڼل کېږي چې زیدخل اشخاص پر هغې باندې اعتراض وکړي.

(۲). فقره که چېرې اعتراض د تحقیق په وخت یا د محکمې په بهیر کې مطرح شي، واکمنه محکمه کولای شي، د اجراتو د بیا کتنې په هکله تصمیم ونیسي.

(۳). فقره په هره قضیه باندې اعتراض مرافعې محکمې یا سترې محکمې ته وړاندې کېدلای شي.

(۴). فقره مرافعه محکمه یا ستره محکمه د اجراتو بې اعتبار والی هغه وخت اعلاموي چې یقین یې راشي چې اجرایي سرغړونې د دوسیې د تصمیم نیولو په وخت کې د انحراف باعث ګرځیدلی دی.

(۱۵ ماده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاندې حالاتو کې حتی قاضي ته د غوښتنلیک د وړاندې کولو پرته جزایي اجرات باطل ګڼل کېږي.

۱- هغه شخص چه د څارنوال یا قاضي په توګه دنده تر سره کوي د قانوني اهلیت لرونکی نه وي.

۲- په هغه صورت کې چې اجرات د څارنوال په غیاب کې تر سره شوي وي او د څارنوال حضور د قانون مطابق حتمي وي.

په خلص ډول دا هغه اصول دي چې د محکمې په هر پړاو کې یې رعایت کول ضروري دي، او که چېرته رعایت نه شي نو محاکمه د انتقاد لاندې رائي. د دې لپاره چې د نوموړو اصولو (حقوق) په رابطه نور معلومات هم تر لاس کړو. نو ښه به دا وي چې په لاندې څو سر لیکو نو کې یې تر بحث لاندې ونېسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ څپرکی

په جزا باندې ناظر اصول

په حقوقي جزا باندې ناظر اصول په لاندې توګه د بېلا بېلو مطالبو په ضمن کې تر بحث لاندې نيسو.

لومړی بحث:

د جرايمو او جزا ګانو د قانونيت اصل او ما قبل ته د عدم رجعت اصل:

زمونږ د هيواد د ۱۳۸۲ ل کال داساسي قانون ۲۷ ماده داسې وايي:

ددې اصل څخه هدف دا دي چې هيڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي مګر د قانون په اساس کوم چې د عمل له ارتکاب څخه مخکې نافذ شوی وي. هيڅوک نيول کېدای، تعقيب کېدای يا توقيف کېدای نه شي مګر دبا صلاحيته محکمې په حکم، او د هغه قوانينو په رڼا کې کوم چې د جرم د ارتکاب څخه وړاندې نافذ شوي وي.

همدا رنګه د افغانستان اسلامي دولت د ۱۳۵۵ ل کال د جزا د قانون د دويمې مادې د حکم په اساس، هيڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي مګر دقانون په موجب.

د افغانستان د جزا د قانون درېيمه ماده وايي:

هيڅوک مجازات کېدای نشي مګر د هغه قانون د حکمونو سره سم چې د تور د واردېدلو پيل د ارتکاب څخه تر مخه نافذ شوی وي.

د افغانستان د جزا قانون ۲۱ ماده:

۱- د جرم ارتکاب کوونکی د هغه قانون په موجب مجازات کېږي چې د عمل د پيل د ارتکاب په وخت کې نافذ وي. مګر دا چې د قطعي حکم د صادرېدو تر مخه نوی قانون چې د تورن په ګټه وي نافذ شي.

۲- که د قطعي حکم د صادرېدو وروسته داسې قانون نافذ شي چې دهغه په موجب هغه فعل چې تورن پرې په جزا محکوم شوی دی د مجازات وړ نه ګڼي، د حکم تنفيذ متوقف کېږي، او پر هغې جزايي مُراتب اثرونه له منځه ځي.

دا فغانستان د جزا د قانون ۲۲ ماده:

که يو شخص د يو عمل د ارتکاب له امله د موقت قانون په موجب چې نفاذ يې په ټاکل شوې نېټې پای ته نه رسېږي په جزا محکوم شي، د موقت قانون د نفاذ د نېټې پای ته رسېدل د محاکمې جريان او د جزا تطبيق مانع ګرځي.

د افغانستان د اساسي قانون ۱۳ ماده:

د محکمې تر غور لاندې قضايا کې داساسي قانون او نورو قوانينو حکمونه تطبيقوي. که د غور لاندې قضايا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جملې څخه د کومې قضیې لپاره اساسي قانون او نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفي فقهې د احکامو له مخې، او په هغه حدودو کې دننه چې اساسي قانون ټاکلي؛ قضیې باید په داسې ډول حل او فیصله کړي چې عدالت په ډیره ښه توګه تامین کړي.

د مدني او سیاسي حقونو بین المللی میثاق (۱۵) ماده:

۱- هېڅوک د داسې کړنې له کبله چې د هغې د ترسره کېدو په وخت د ملي او بین المللي قوانینو له مخې مجرم و نه ګڼل شي، محکوم کېدای نه شي. همدا رنګه دا ډول سزا ورکول کېږي چې د جرم په وخت کې د ورکولو وړ ګڼل کېده. که چېرې د جرم د سرته رسولو وروسته نوموړي جرم په اړه سزاورکولو کې کمښت راغی د هغه څخه ګټه پورته کولای شي.

بهرني قوانین:

دمصر د اساسي قانون ۲۶ ماده: (مجازات شخصي امر دی، هېڅ جرم او سزا نه شته مګر دقانون په اساس هېڅ جزا پرته له قضایي حکم څخه نه نافذېږي.

مجازات یوائې دهغو اعمالو په هکله دپلي کېدو وړ دي چې، وروسته دقانون دنافذېدو څخه تر سره شوي وي.)

دایران اساسي قانون ۱۶۹ اصل: (هېڅ یو فعل اجرا یا د فعل پرېښودل د هغه قانون پر استناد چې وروسته تر هغې وضع شوي وي جرم نه شمېرل کېږي.)

دلبنان د اساسي قانون ۴ ماده، درېیمه فقره: (قانون دملت د ارادې تر ټولو لوی بیانونکی دی چې، هغه ټول رعایتوي. قانون خپل ماقبل ته رجعت نه کوي.)

د پاکستان داساسي قانون ۱۲ ماده: (هېڅ قانون د شخص مجازات:

ا فقره: د فعل په موجب یا د فعل د ترک له امله چې د ارتکاب یا پرېښودو په وخت کې مجازات نه وي.

ب بند: د هغه جرم په موجب چې د هغه جزا نسبت هغه قانوني جزا ته چې د جرم د ارتکاب په وخت کې سخته یا په یو بل ډول بدلون ولري نه تجویزوي.

م: د دغې مادې دوروستۍ فقرې حکم او همدارنګه د دغه قانون ۲۷۰ مادې حکم هغه قوانینو ته نه شاملیږي چې د پاکستان د اساسي موضوعي قانون د نقص یا تخریب عمل چې ۱۹۶۵ کال دمارچ د ۲۳ مې نېټې څخه راپه دېخوا هغه جرم ګڼي.

همدارانګه دکویټ د اساسي قانون ۳۲ ماده، د بحرین د اساسي قانون ۲۰ ماده او د متحده عربي اماراتو د اساسي قانون ۲۷ مادو ته دي مراجعه وشي.

ب: د جزا قانون ماقبل ته نه رجعت کول او د جرائمو او جزاګانو د قانونیت د اصل په اړه تبصره:

د جزا د قانون ماقبل ته د نه رجعت کولو اصل د ټرایمو او جزاګانو د قانونیت د اصل د اړخونو څخه شمېرل کېږي، او د قضایي کړۍ په ټولو پړاونو کې دپلي کیدو وړ دي. د دغه اصل له مخې یوائې هغه عملونه جرم ګڼل کېږي چې د هغه قانون په موجب چې د جرم د تر سره کېدو په وخت کې نافذ دي دجرم په توګه تعریف شوي وي. په دې توګه په دغه اصل کې دوه عنصره نغښتي دي.

۱ – هغه عملونه چې قانون د جرم په توګه نه وي پیژندلی د څېړنې، عدلي څار، حکم د صدور او جزا د تصنیف اساس نه شي ګرځېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ــــد قانون د اصلاحاتو او بدلونونو په ساحه کې، هیڅ یو شخص د هغه عمل له مخې تر عدلي څار لاندې نه شي راتلای چې د جرم دترسره کېدو په وخت، نومورې عمل (فعل) جرم نه وي پېژندل شوی، حتی که وروسته د نوي قانون پر بنسټ جرم هم پېژندل شوی وي. د همدې امله کله چې جزا وضعه کېږي. نو لومړی د قانون جوړونکي ارګان لخوا د انفاذ څخه وړاندې نشر ته سپارل کېږي او د نشر تاریخ او انفاذ د تاریخ تر منځ یو معین وخت د مهلت په حیث ټاکل کېږي تر څو خلک ورڅخه خبر شي. د دې څخه وروسته د انفاذ مرحله شروع کېږي، چې بیا نوی قانون نافذ او د تطبیق وړ ګڼل کېږي. دا په دې معنی چې جزایي احکام او جزایي قوانین همیشه په ټولو هغو اعمالو او واقعاتو باندی تطبیق کېږي چې هغه د جزایې قوانینو دانفاذ څخه وروسته واقع کېږي.

دغه اصل په نړیواله کچه د مدني او سیاسي حقوقو د بین المللي میثاق په ۱۵ ماده کې په رسمیت پېژندل شوی دی چې د وړاندوینې د قابلیت او د قوانینو وضاحت تامینوي. دا د قانون د واکمنۍ یو مطلق شرط دی، هغه واکمنۍ چه پر بنسټ یې د دولت د بې ځایه او تر خپل لاس وهنو په وړاندې د فردي ازادیو ملاتړ کېږي، دغه امر نه یوائې په محدود مفهوم د رجعي جزایي قوانینو مخه نیسي، بلکې ټولو دولتي مقاماتو ته دنده سپاري چې ټولې جرمي سرغړونې دحقوقي وضاحت په ګټه په پوره توګه تعریف کړي او اجازه ورنه کړي چې د جزایي قوانینو کارول د تشبیهي قیاس پر بنسټ صورت وموميي. په هر ملي قانون کې د یو جرم تعریف باید یا د یو قانون څخه او یا هم د یوه عام قانون په مفهوم د غیر کتبي قانون معادل یا Common Law څخه الهام اخستی وي. چې ټول اړوند اشخاص هغه ته لاس رسی ولري.

د جرایمو او جزاګانو دقانون پرنسیپ ټولې هغه جرمي سرغړونې که دفعل په ډول وي که دفعل دپرېښودولو په ډول یو شان احتوا کوي.

اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې د دغه اصل پرنسیپ منطق او دلایل څه شی دي؟

داچې جزایي قوانین ماقبل ته رجوع نه کوي دا ځانته دلایل او منطق لري، چې په لاندې ډول ورته اشاره کېږي:

۱ دعدالت له مخې: دعدالت تقاضا داده چې، لومړی خلکو ته جرمي او غیر جرمي اعمال وروښودل شي، او ترهغې وروسته پری قانون تطبیق کړای شي.

۲ نو که چیرې دقانون دانفاذ او هم دجرمي او غیر جرمي اعمالو ورپېژندلو څخه وروسته یو څوک دقانون داحکامو څخه سرغړونه وکړي او جرمي اعمال ترسره کړي نو پدی صورت کې دابه عادلانه وي چې دغه اشخاص محاکمه شي. ځکه چې هغوی ذهناً او فکراً دجرم دترسره کولو نیت او اراده کړې، او په شعوري فکر دجرم مرتکب ګرځېدلي دي؛ نو باید دارنګه اشخاص مجازات او دخپلو ناوړه اعمالو په سزا ورسیږي. او که چېرې خلکو ته جرمي اعمال نه وي مشخص کړای شوي، او دیو شخص عمل جرم وګڼل شي، او هغه مجازات کړای شی، نو دابه غیر عادلانه وي.

۲ د ګټورو اعمالو داجر دمخنیوي له مخې:

که چېرې قوانین ماقبل ته رجعت وکړي یعنې جزایي قوانین په ماقبل حوادثو او واقعاتو باندې تطبیق شي، نو دلته به خلک ډیر احتیاط کوي چې دبعضې مفیده اعمالو دترسره کولو څخه ډډه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ دمحاکمو دفیصلو دعدم استقرار او عدم ثبات له مخې:

معمولاً فیصلې باید یو ډول استقرار او ثبات والی ولري، یعنې شوې فیصلې باید قطعي وي او د قطعیت وروسته په کې باید بالعموم کوم تغیر او تبدیل رانه شي.

مثلاً: که چېرې یو شخص دیو جرم مرتکب وګرځي او بیا دهغه په ارتباط محکمې دقطعي حکم په اساس په یو کال حبس محکوم شي مګر وروسته بل قانون رامنځته شي چې په هغه کې دهمدغه جرم لپاره دوه کاله حبس تعین شوی وي نو دلته که چېرې قانون ماقبل ته رجعت وکړي نو باید چې قاضي د دوی په هکله بله فیصله وکړي چې په دې صورت کې د پربکړو ثبات او استقرار له منځه ځي.

دویم بحث:

دقانون په وړاندې برابري او دقانون له مخې دبرابرۍ اصل:

دقانون پر وړاندې برابري او د قانون له لارې برابر چلند په دې معنی دی چې په ټول قضایي بهیر کې دمحاکمې څخه په وړاندې پرله، د محاکمې په پرله کې، او د محاکمې څخه وروسته، هر ډول تبعیض او امتیاز منع دی. په داسې حال کې چې قضات او د قضا کارکوونکي باید په تبعیضي ډول عمل ونه کړي او هڅه دې وکړي د ټولو حقونه دښځو او نرانو په ګډون باید دمحکمې له خوا په برابره توګه وساتل شي. دغه امر حتماً په دې معنی نه دی چې دټولو سره دې له توپیره پرته او یو شان چلند وشي بلکې د هغه توپیرونو څخه چې پر منطقي او عیني معیارونو ولاړ نه وي ګټه پورته نه شي. لکه د افغانستان اسلامي جمهوریت د ۱۳۸۲ ل کال داساسي قانون ۲۲ ماده کې داسې تبصره شوې چې: د نورو چارو ترڅنګ، دمحکمې په بهیر کې دجنس معیار نه شي کولای چې متفاوته چلند توجیه کړي، دبرابرۍ دغه اصل همدارنګه په مساوي توګه محاکمو ته دافغانستان اسلامي دولت دټولو وګړو د لاس رسي په حق کې هم شامل دی نو ځکه نارینه وو او ښځو ته باید دهغوی دحقونو دلاسته راوړلو لپاره اغیزمن او یو شان اسانتیاوې ورکړل شي، له همدغې امله محکمې ته دښځو دحقونو ایتلاف قانوني بڼه نه لري. پدې موضوع او په ځانګړي ډول په هغه ستونزو چې تراوسه ښځې ورسره مخ دي باید ټینګار وشي.

دجرمي قضایاو په برخه کې مدافع او څارنوال باید یو شان امکانات ولري چې دمحاکمې په بهیر کې دمطالبو په برابرولو او وړاندی کولو لاس پوری کړي. تر شک لاندی (مظنون) او تورن (متهم) حقونه دهغه دجرم له څرنګوالي پرته باید تضمین شي. پردې برسیره ترشک لاندې کس (مظنون) او یا تورن دا حق لري چې له هغه سره لکه دنورو تورنو کسانو په شان ورته چلند وشي. په چلند کې بدلون که هغه له محاکمې څخه وړاندې وي یا د محاکمې په بهیر کې وي یا دا چې دمحاکمې څخه وروسته وي باید عیني حقایقو پربنسټ توجیه شي. له دې جملې څخه هغه حقایق چې نه شي کولای متفاوت چلند وکړي توجیه کړي.

جنس، مذهب یا سیاسي عقیده او طایفه دغه امر دمظنون په اړوند له محاکمې وړاندې او دمحاکمې په بهیر کې یا له هغه څخه وروسته دپولیس یا څارنوال او قاضي په چلند پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمذهبي عقيدې پربنسټ متفاوت چلند لکه دمسلمانانو او نا مسلمانانو سره متفاوت چلند دافغانستان په اساسي قانون کې په عام ډول منع دي. لکه ۲۲ ماده کې چې تصريع شويدي.

د دې لپاره چې دغه موضوع نوره هم ښه روښانه شي بهتره به وي چې په دې اړوند دقوانينو احکام او مواد دلته ذکر کړو.

په دې اړه اړوند حکمونه:

دافغانستان داساسي قانون ۲۲ ماده: (دافغانستان داتباعو ترمنځ هر راز تبعيض او امتياز منع دی. دافغانستان اتباع ښځې او نارينه دقانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري).

دجزا قانون ۱ ماده: (دا قانون تعزيري جرمونه او جزاګانې تنظيموي، دحدود، قصاص او ديت دجرمونو ارتکاب کوونکي داسلامي شريعت دحنفي فقهې دحکمونو سره سم مجازات کيږي).

۲ د محاکمو لپاره دجزايي اجراءتو موقت قانون ۲۲ مه ماده:

۱. ابتدايه څارنوال مکلف دی چې دخپلواک تر حوزې لاندې دجرمونو دپېښېدو څخه دخبرېدو يا د راپور تر لاسه کولو په صورت کې د ټولو جرمونو د تعقيب په خاطر د جزايي دعوې په تحريک کولو پيل وکړي مګر دا چې قانون صراحتاً بل ډول حکم کړی وي.

۲. دجزايي دعوا پرېښودل يا ردول (متوقف کول) او د هغه د بهير ځنډول دڅارنوال له خوا جواز نه لري، مګر په هغو حالاتو کې چې قانون تصريح کړی وي.

دمحاکمو دتشکيلاتو او واک قانون ۱۴ مه ماده: محکمې دقضيو دځېرنې په وخت کې خپلواکې دي، او دحکم په صادرولو د قانون او محکمې په وړاندې داړخونو د تساوي د اصل پربنسټ او دعدالت او ناپلوی په پام کې نيولو سره صورت مومي.

دمخدره موادو سره دمبارزې د قانون ۵۰ مه ماده درېيمه فقره: پټ همکاران نشي کولای دقضايي ضبط له مراجعو څخه د هغه د اجازې له اخيستلو پرته، دجرمي تحقيقاتو په غرض دمخدره موادو د قاچاق په جرمونو کې ګډون وکړي. هغه پټ همکاران چه مسئولو مراجعو ته دلارښود په ضد دسرغړونې مرتکب شي يا په هغو کې ګډون وکړي، د خپل هر ډول ارتکابي جرم پر وړاندې د قانون د حکمونو مطابق تر عدلي تعقيب لاندې نيول کيږي.

دغه حکمونه چې تر دې ځايه ذکر شول د افغانستان د وضعي قوانينو له مخې وو. نو بهتره به دا وي چې دنړيوالو ميثاقونو او همدارنګه د يو تعداد نورو اسلامي هېوادونو ځينې قانوني مواد يا اړوند حکمونه هم دلته ذکر کړو.

د مدني او سياسي حقوقو بين المللي ميثاق ۲ مه ماده: د دغه ميثاق لوري هېوادونه ژمنه کوي چې دغه تړون کې ټول پيژندل شوي حقونه د خپل حاکميت د واکمنۍ په پولو کې د استوګنو وګړو د پاره د توکم، نژاد، رنګ، جنس، ژبې، مذهب، سياسي عقيدې يا نورو عقيدو د ټولنيزې او ملی منشا، پانګې، نسب او يا نورو حالاتو په پام کې نيولو نه پرته، او دهر ډول توپير څخه مبرم ګڼي، تضمينوي يې او دهغوی درناوی کوي.

۱۴ مه ماده: لومړۍ فقره: (ټول د محکمو او د يوانونو پر وړاندې سره مساوي او برابر دي.)

۲۶ مه ماده: ټول وګړي د قانون پر وړاندې برابر دي، او په برابره توګه د دې حق لري چې د قانون له خوا پرته له

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپیر څخه حمایت کړای شي. له همدې کبله باید د هر نوعه تبعیض مخنیوی وکړي او د ټولو وګړو لپاره د رنګ، جنس، توکم، ژبې، مذهب، سیاسي عقیدې، د ټولنیزو او ملي منشا، نسب یا بل کوم حالت د نه پام کې نیولو سره په برابره توګه د قانون حمایت وکړای شي.

دمصر داساسي قانون ۴۰ م اصل: (بی له کوم ژبنی، قومي، توکمیز، مذهبي او عقیدوي تبعیض څخه، ټول وګړي قانون پر وړاندې برابر دي او د ټولنیزو حقوقو او مکلفیتونو څخه برخمن دي).

دایران اساسي قانون: ۲۰ م اصل: دهېواد ټول وګړي سُنځي او نارینه دقانون له برابر ملاتړ څخه برخمن دي. له ټولو بشري، سیاسي، اقتصادي،ټولنیزو او فرهنګي حقونو څخه له اسلامي معیارونو سره سم برخمن دي.

دایران داساسي قانون ۱۴ م اصل: د دغه مبارک ایات پر بنسټ:

''لاینهاکم الله عن الذین لم یقاتلوکم فی الدین ولم یخرجوکم من دیارکم ان تبرو هم وتقسطو ان الله یحب المقسطین''

ژباړه دالله تبارک و تعالی تاسو له هغه کسانو سره له مهربانۍ ډک او عادلانه چلند څخه نه منع کوي چې ستاسې د مذهب لپاره ستاسې پر وړاندې نه وي جنګېدلی، او تاسې یې د خپلو کورونو څخه نه وئ شړلي، هغه کسان چې سُبه چلند کوی د پاک خدای(ج) خوښ دي.)

دایران اسلامي جمهوریت حکومت او ټول مسلمانان دنده لري چې له نامسلمانو سره داخلاقي موازینو او اسلامي اصولو او عدالت سره سم چلند وکړي او دهغوی بشري حقونو ته درناوی وکړي دغه اصل دټولو هغو کسانو په هکله چې داسلام او د ایران اسلامي جمهوریت پر ضد توطئه یا فعالیت ونه کړي صدق کوي.

دایران داساسي قانون ۱۹ م اصل: (دایران ټول خلک دقومي اوقبیلوي اړیکو پرته له برابرو حقونو څخه برخمن دي او دپوټکي رنګ، توکم، ژبه او نورو ورته شیان د امتیاز سبب نه شمېرل کېږي).

دلبنان داساسي قانون ۷ مه ماده: (ټول لبنانیان دقانون پر وړاندې برابر دي. هغوی د هر ډول توپیر پرته له برابرو سیاسي او مدني حقونو څخه برخمن دي، خپلو وجایبو او مکلفیتونو پر وړاندې په برابره توګه ژمن دي.)

دمراکش اساسي قانون ۵ مه ماده: (د مراکش ټول وګړي دقانون پر وړاندې برابر(مساوي) دي.)

دپاکستان داساسي قانون ۲۵ مه ماده: (ټول وګړي دقانون پر وړاندې برابر دي او دقانون له مساوي ملاتړ څخه برخمن دي).

درپیم بحث: دجرایمو او جزاګانو دشخص والي پرنسیپ:

په جزایي ساحه کې د حقوق جزا یو مهم پرنسیپ وجود لري چې هغه ته د جرایمو او جزاګانو د شخص والي پرنسیپ ویل کېږي. د دې پرنسیپ اهمیت عیناً د جرایمو او جزاګانو قانونیت د پرنسیپ په څېر دی، چې مفهوم یې په لاندې ډول تر مطالعې لاندې نیسو.

جرم یو شخصي عمل ګڼل کېږي او د جرم ټول عواقب او نتایج یعنې جزاګانې بې له هغه چا څخه چې هغه په جرمي عمل کې تقصیر او مسئولیت ولري، بل چاته نه راجع کېږي. یعنې د یو جرمي عمل نتایج د قرابت دوستۍ یا داسې نورو روابطو په واسطه بل چاته نه متوجه کېږي، بلکې نتایج یې همیشه اصلي مقصر او مسئول ته متوجه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ددې پرنسیب پر اساس جزاګانې معمولاً په هغه چا تطبیق کېږي چې هغه په جرمي عمل کې مسئولیت ولري. او په جرمي عمل کې هغه څوک مسئولیت لري چې هغه د جرمي عمل په ارتکاب کې تقصیر ولري، او تقصیر په جرمي عمل کې هغه څوک لري چې د جرمي عمل په اجرا کې یې اراده دخیله وي. برعکس هغه څوک چې په یوه جرمي عمل کې یې اراده دخیله نه وي نو هغه په حقیقت کې د جرمي عمل په ارتباط تقصیر نه لري او څوک چې دجرمي عمل په اجرا کې تقصیر ونه لري نو په هغه باندې جزا نه شي تطبیق کېدای.

چې دجرائمو او جزاګانو دشخص والي پرنسیپ داسلام مقدس دین او وضعي قوانینو قبول کړی دي چې په اړوند یې په لاندې دلایل ذکر کوو.

الله تبارک و تعالی دقرانکریم دبني اسرائیل سورت په ۱۵ نمبر ایت کې داسې فرمایی:

من اعتدی فانما یعتدی لنفسه ومن ضل فانما یضل علیهاط ولاتزر وازرة وزرَ اخری ط وماکنا معذبین حتی نبعث رسولا.

ژباړه:(څوک چې په سمه لاره راغی نو دخپل خیر لپاره راغی، او څوک چې ګمراه شو، نو ګمراه پاتې شو دخپلو بدو لپاره. په چانه غورځیږي پیټی دبل چا. مونږ څوک نه مجازات کوو، تر څو چې رسول مو نه وي ورلېږلی.)

دایوه عقیدوي موضوع هم ده او هغه داسی چې انسان چېرته او په څه حال کې وي خپله عمل نامه به ورسره وي، او په هغې کې د دې عمل لیکلی شي چې مړ شي نو عمل نامه یې خوندي کېښودلی شي. او د قیامت په ورځ به خپله عمل نامه ورکړل شي، چې خپله یې ولولي. او د خپل ځان په هکله فیصله وکړي، چه دا د ثواب حقدار دی که دعذاب. په تفسیر مظهري د ولاتزر وازرة و وزرَ اخری په اړه داسې راغلي چې د دې ایات کریمه څخه داهم ثابتېږي چې دمشرکانو هغه اولاد به د قیامت په ورځ په عذاب کې نه وي کوم چې نابالغه مړ شوی وي، او دا ځکه چې کفر یې مور او پلار کړی دی، او اولاد خو یې کفري عمل نه دی تر سره کړی. همدارنګه دافغانستان د اسلامي جمهوریت په اساسي قانون کې هم په دې هکله صراحت موجود دی، چې وایي:

۲۶ ماده: جرم یو شخصي عمل دی. د متهم تعقیبول، نیول یا توقیفول او پر هغه باندې دجزا تطبیق بل هیچا ته سرایت نه کوي.

ولی د جرایمو او جزاګانو په دغه پرنسیپ کې هم ځینې استثناوې موجودې وې یعنې کله، کله د یو شخص د اعمالو څخه بل شخص مسئول ګڼل کېږي. لکه په لاندی مثالونو کې: دمطبوعاتو په ساحه کې: د اکثره هېوادونو د مطبوعاتو د قانون په اساس کله چې یوه غیر قانوني مقاله یا مطلب په یوه خپرونه کې نشر شي د دې غیر قانوني مطلب دنشر اصلي مسئول طبعاً لیکونکی دی ولې نظر د مطبوعاتو قانون ته د خپرونې مدیر یا د امتیاز خاوند، هم مسئول دی.

د یوې مغازې مالک په خپله مغازه کې بعضې اشخاص توظیفوي ترڅو د مغازې اموال په معین قیمت خرڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي. خو که هغه شخص دا اموال په لوړ قیمت خرڅوي او یا یې په وزن کې غلطي کوي، نو د دې عمل اصلي مسئول دغه توظیف شوی شخص دی، او هم د مغازې مالک ته مسئولیت راجع کېږي.

د دې لپاره چې مونږ په جزایي ساحه کې د نورو اعمالو څخه د مسئولیت په موضوع ښه پوه شو، نو غوره به دا وي چې په لاندې درې موضوعاتو باندې جلا، جلا رڼا واچوو.

د جرایمو دشخصي والي پرنسیپ او د جزاګانو دشخصي والي پرنسیپ ترمنځ توپیرونه:

ډېر حقوق دانان د جزایي مسئولیت دشخصي والي پرنسیپ او د جزاګانو د شخصي والي د پرنسیپ ترمنځ توپیر ته نه قایلېږي او دواړه عینې شی ګڼي. خو د دې حقوق دانانو د عقیدې برعکس، حقیقت دا دی چې دا دواړه پرنسیپونه دوه بېل او جلا، جلا پرنسیپونه دي، او یو د بل سره فرق لري. نو د دې لپاره چې په دې فرق مونږ ښه پوه شو غوره به دا وي چې مونږ دا دواړه پرنسیپونه جلا جلا تر مطالعې لاندې ونیسو.

لومړی مطلب: د جزاګانو د شخصي والي پرنسیپ:

د جرایمو او جزاګانو د شخصي والي پرنسیپ یوه برخه د جزاګانو د شخصي والي پرنسیپ دی. دا په دې معنی دی چې: جزاګاني په حقیقت کې شخصي او انفرادي جذبه لري. چې د پرنسیپ په لحاظ جزاګاني په حقیقت کې یوائې په هغه کسانو قابل د تطبیق دي چې د جرمي عمل مسئول او مقصر ګڼل شوی وي، او هغه کسان چې جرمي عمل کې مقصر نه وي په هغه باندې جزاګاني نه تطبیق کېږي. خو د جزاګانو په پرنسیپ کې ښکاره ځینې استثنات لیدل کېږي چې متاسفانه په ځینو اوقاتو کې جزاګاني په هغه اشخاصو هم تطبیق کېږي چې هغوی په جرمي عمل کې هېڅ قسم تقصیر نه لري. مثلاً: یو شخص د یو جرمي عمل په نسبت د محکمې لخوا محکوم شوی دی، خو د محکمې د حکم د تطبیق څخه تر مخه دغه سړی وفات کېږي، نو د دې د فوت سره د محکمې حکم هم سقوط کوي، یعنې (حبس، جزا طبعاً په دې شخص نه تطبیق کېږي.)

نوبیا کله کله د ځینو جزاګانو په متعلق دا حالت نه لیدل کېږي مثلاً: یو شخص د حبس په جزا نه بلکې په نقدي جرم محکوم کېږي، نو د محکمی د حکم څخه وروسته او د جزا د تطبیق څخه تر مخه هغه فوت کېږي، لکه چې مونږ پوهیږو چې د متوفي (مړ شوي) مال ټول ورثې ته پاتې کېږي، نو سره د دې چې د دې مال ورثوو ته انتقالېږي، خو د ده ورثه مکلفه ده چې دغه نقدي جریمه دولت ته ورکړي.

چې دلته په شکل داشکالو د هغه جرمي عمل عواقب له مجرم څخه د کورنۍ نورو غړو ته چې په جرم کې یې هېڅ نوعه ونډه نه لرله، انتقال کېږي، او نتایج یې یعنې جزا یې د مجرم ورثې ته انتقال کوي. همدارنګه کله چې په یو مجرم مالي جزا تطبیق کېږي نو د دې جزا اثرات هم یوائې مجرم ته نه راجع کېږي، بلکې د هغې ټولې کورنۍ ته چې د هغه مال او دارایي څخه استفاده کوي راجع کېږي. په دې مواردو کې مونږ ولیدل چې استثنات قبول شویدي، او د حقوقو له خوا د اعتبار وړ ګڼل کېږي. خو په دې استثنا کې یوه ډېره مهمه نقطه دا ده چې ځینې وختونو کې جزاګاني په غیر مسئولو اشخاصو باندې تطبیق کېږي خو په هېڅ صورت غیر مسئول اشخاص نه محاکمه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم مطلب: دنورو د اعمالو څخه دجزایي مسئولیت اساس او بنسټ:

ځینې وختونو کې یو شخص د نورو د اعمالو څخه مسئول او قابل د محاکمې ګڼل کېږي، نو د دې موضوع اساس او منطق به څه وي؟

د دې سوال د ځواب لپاره دوه نظریې موجودې دي: دریسک Risque او د تقصیر نظریه:

لومړی جز د ریسک نظریه: د دې نظریې طرفداران په دې عقیده دي چې د یو تعداد اشخاصو داعمالو څخه مسئولیت هغه چاته راجع کېږي چې د دې اشخاصو د کار او فعالیت څخه ګټه ترلاسه کوي. لکه د فابریکې مالک چې د فابریکې د کارګرانو څخه ګټه تر لاسه کوي. چې دغه مسئولیت په مدني ساحه کې لکه د یو کار ګر مرض یا د لاس یا پښې پرېکول، یا په جزایي ساحه کې لکه د فابریکې مزدور کثافات په اوبو یا ویالو کې اچوي او نورو خلکو ته ترې ضرر رسېږی دلته مسئولیت مالک ته راجع کېږي او دا ځکه چې دې کارګر نه مالک ګټه اخلي. دغه د رسک نظریه وه او دغه نظریه نن ورځ نه یوائې په مدني ساحه کې هم د تطبیق وړ ګڼل کېږي. په دې اساس د دې نظریې طرفداران د نورو د اعمالو څخه د جزایي مسئولیت اساس او بنیاد د ریسک په نظریه کې وینې.

خو داسی فکر کېږي چې دا ډول استدلال به ډېر دقیق نه وي، او دا ځکه چې په جزایي ساحه کې بالعموم د یو جرم په ارتباط د درې عناصرو موجودیت ضروري دی، نو که چېرې حد اقل یو د دې دریو عناصرو څخه نه وي موجود، نو بیا یې اجرا کوونکی شخص مسئول او قابل د مجازاتو نه ګڼل کېږي. نو د ریسک د نظریې په اساس د معنوي عنصر موجودیت په نظر کې نه نیول کېږي بلکې ټوله توجه دې ته کېږي چې هر سړی چې د بل چا د کار او فعالیت څخه ګټه اخلي نو د هغه د جرمي عمل څخه هم باید مسئول وګڼل شي، اګر چې اراده یې په جرمي عمل کې بالکل دخیله هم نه وي.

نو واقعیت دادی چې که په یو جرمي عمل کې د انسان اراده دخیله نه وي نو دابه ممکنه نه وي چې مونږ هغه مسئول او قابل د مجازاتو وګڼو بناً مونږ فکر کوو چې په دې نظریې اتکاء کول په جزایي ساحه کې د ریسک نظریه قابل د تطبیق نه ده، بلکې د تقصیر نظریه د تطبیق وړ ګڼل کېږي.

دویم جز: د تقصیر نظریه:

د دې نظریې په اساس د نورو څخه جزایي مسئولیت یو چاته د دې لپاره نه راجع کېږي چې دا شخص د اعمالو څخه ګټه اخلي، بلکې د دې لپاره راجع کېږي چې خپله د شخص هم د نورو د جرمي اعمالو څخه تقصیر لري یعنې دغه شخص خپله وظیفه په ښه توګه نه ده اجرا کړې، ځکه که چېرې ده خپله وظیفه په ښه توګه تر سره کړی وای، نو دغه جرم به نه وای واقع شوی. بناً دا چې جرم د دغه شخص د وظیفې د نه اجرا له امله واقع شوی دی، دا په دې معنی دی چې په غیر مستقیم ډول د ده اراده په دې جرمي عمل کې دخیله ده، نو کله چې د ده اراده دخیله شي، نو طبعاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی شخص جزایي تقصیر لري، نو بیا جزایي مسئولیت ورته هم راجع کېږي، او په نتیجه کې جزا ورباندې تطبیق کېږي. البته د تقصیر نظریه د ریسک د نظریې څخه مرجع او منطقي معلومېږي.

نود دې نظریې په اساس هم مشکل په دې کې دی که چېرې مونږ یو شخص د نورو د اعمالو څخه نه بلکې د خپل تقصیر په اساس مسئول وګڼو نو بیا ولې دا موضوع د نورو د اعمالو څخه مجرم تر عنوان لاندې مطالعه کېږي. حال داچې که یو شخص خپله تقصیر ولري نو د نورو د اعمالو څخه باید مسؤل ونه ګڼل شي، او دغه موضوع د نورو د اعمالو څخه مسئول یا مجرم تر عنوان لاندې مطالعه نه شي. بلکه بهتره به دا وي چې دا موضوع د معنوي فاعل تر عنوان لاندې مطالعه شي.

خو دلته د معنوي فاعل په ارتباط درې واړو عناصرو موجودیت ضروري دي، تر څو یو جرمي عمل مطرح شي. نو په دې پورته مثالونو کې معنوي عنصر وجود لري (اراده) قانوني عنصر وجود لري او مادي عنصر وجود نه لري. نو کله چې مادي عنصر نه وي موجود نو څنګه مونږ دغه شخص ته جزایي مسئولیت راجع کوو او وایو چې دغه معنوي فاعل دی.

ځواب: د جرم د معنوي عنصر په مورد کې مونږ وویل چې: د جرم معنوي فاعل په حقیقت کې د جرم، مادي عنصر د جرم د اصلي یا مادي فاعل څخه د قرض په شکل اخلي او بیا حکماً دی مجرم ګڼل کېږي. نو دلته هم په حقیقت کې دغه معنوي فاعل مادي عنصر د جرم د اصلي فاعل څخه د قرض یا عاریت په شکل اخلي یعنې همغه د مادي فاعل مادي عنصر د معنوي فاعل لپاره هم حکماً قابل داعتبار ګڼل کېږي. البته د جرم د دې ډول معنوي فاعل فرق د جرم د هغه معنوي فاعل سره چې دمخه مو مطالعه کړ، دا دی چې د معنوي فاعل جرم غیر قصدي دي حال دا چې په هغه تېرو مثالونو کې د معنوي فاعل جرم قصدي دی. دافغانستان د جزا قانون بالعموم د تقصیر نظریه قبوله کړې ده، خو که ضرر حیواناتو یا اشیاوو څخه چاته رسېږي نو بیا یې د ریسک نظریه هم منلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم څپرکی

دمتهم په دفاعي حقوقو ناظر اصول

مونږ دغه موضوع په لاندې برخو کي جلا، جلا تر بحث لاندې نيسو:

لمړی مبحث: د برات ذمي اصل:

دبرات ذمې اصل په اسلامي قوانينو کې، دافغانستان په قوانينو کې، او هم په نړۍ کې د نورو هېوادونو په قوانينو او هم نړېوالو ميثاقو قبول کړي، او هغه داسې چې د ذمي برائت اصلي حالت دی تر هغې چې د باصلاحيته محکمې په قطعي حکم متهم محکوم عليه ثابت نه شي بې ګناه ګڼل کېږي. ښکاره ده چې دافغانستان داساسي قانون پر بنسټ برات ذمه اصلي حالت دی، چې د جزايي محاکمو په ټولو پړاوونو کې اعتبار ولری له محاکمې څخه په مخکې پړاو کې د برات ذمې حالت داسې غوښتنه کوي هغه ټول اقدامات چې د تورن کس په وړاندې تر سره کېږي د هغې پر ضد د تورونو د دروندوالی سره متناسب او د دغه اقداماتو موخه وي. په مشخصه توګه ويلی شو هر ډول اجباري اقدام چې د محاکمې څخه پر وړاندې تر سره کېږي دهغې پر وړاندې پړاو کې د شخص پر ضد کېږي بايد د هغه اړتيا احساس شي او متناسبه وي نو له دې امله وقايوي يا له محاکمې څخه مخکې توقيف يو استثنايي حالت دی، بايد په قانع کوونکو دلايلو سره توجيه شي لکه: د پلان د درلودلو يا دتيښتې خطر. سره له دې چې افغانستان د محاکمو لپاره جزايي اجراتو موقت قانون په ٦مه ماده – ٣٥ مه ماده –او ٣٦ مه ماده کې دا ښايي هغه شخص چې جرم يې نه دی تثبيت شوی په ازادۍ يې عملاً محدوديت نه شي راتللای. د محاکمې په بهير کې د برات الذمه د اصل لومړۍ غوښتنه د قاضي بې پرې والی دی. د برات ذمه حق دا غوښتنه کوي چې قاضيان او نور دولتي مامورين دې له يوې قضيې وړاندې له قضاوت کولو ډډه وکړي. دا په دې معنی ده چې عدلي چارواکي په تېره بيا څارنوالان او پوليس نه بايد چې د محکمې د وروستۍ پايلې څخه مخکې د شخص تقصير يا بی ګناهي اعلام کړي. نو له دې کبله دولتي چارواکي دنده لري چې ديوی قضيې د ريښتنې پايلې د معلومولو لپاره دې د رسنيو او نورو پيلاوړو ټولنيزو ډلو د نفوذ او لاس وهنې مخه ونيسي. که چيرې احساس شي خلک د قضيې په هکله له وړاندې قضاوت کوي او يايې غندي. د محکمې د بهير مطبوعاتي ثبت بايد اداره شي د بېلګې په توګه د ډله ييزو رسنيو کارکوونکو ته بايد د ستور ورکړل شي چې د محکمې تصويرونه ښکاره نه کړي، يا د تورن کس له نوم اخيستلو څخه ډډه وکړي. پردې سربېره نه يوائې دا چې ترشک لاندې کس(مظنون) يا تورن د بې ګناهۍ يا تقصير په اړه له وخته مخکې د جزايي بياناتو اړخونه په پام کې ونيول شي. دا خبره هم مهمه ده چې د محکمې د حکم څخه وړاندې تر شک لاندې (مظنون) يا تورن شخص مجرم ګڼل ښايي د دې سبب شي چې د نوموړي په ټولنيز ماحول کې د عيب يا بد نامۍ داغ پرې ولګېږي. چې د دې بدنامۍ د داغ اغېزه ښايي که نوموړی شخص د محکمی لخوا بې ګناه هم اعلان شي ، دهغې اثرات په بشپړه توګه له منځه لاړ نه شي. همدارنګه د برات الذمې د اصل د غوښتنې له مخې دعدلي څار اداره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثبات مسئولیت هم پرغاړه اخلي.

څرنګه چې ټولو ته معلومه ده چې برات الذمه حقوق ډېر اهم او ضروري اصل په حقوقو کې قبول شوی دی، او په دې اړوند په قوانینو کې دلته صراحت وجود لري چې مونږ د قوانینو اړوند حکمونه دلته ذکر کوو.

اړوند حکمونه:

۱. د افغانستان د اساسي قانون ۲۵ ماده: د ذمي برات اصلي حالت دی. تر هغې چې متهم د با صلاحیته محکمې په قطعي حکم محکوم علیه ثابت نه شي، بی ګناه ګڼل کېږي. د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو د موقت قانون ۴مه ماده کې د جزایي دعوې داقامه کولو له پیل څخه د جرمي مسئولیت تر تثبیت پورې چې شخص د محکمې په وروستي حکم محکوم علیه بلل کېږي، بی ګناه ګڼل کېږي. که چېرې فیصله د شخص د بشري حقونو د مخنیوي یا محدودیت باعث کېږي باید پرهغو قانوني دلایلو بناء وي چې له حقیقت په کشف پورې محدود وي. د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون ٦مه ماده:

۱. له نیونې وروسته د تحقیق په بهیر کې د موقت توقیف موده د ۳٦ مادې مطابق ټاکل کېږي.

۲. ابتدایه محکمه کولای شي د محاکمې په وخت کې د توقیف موده د دوو یا زیاتو میاشتو لپاره تمدید کړي. او بیا د مرافعې محکمه کولای شي د محکمې په وخت کې دغه موده د نورو دوو میاشتو لپاره تمدید کړي. ستره محکمه د محاکمې په وخت کې واک لري چې دغه موده د نورو پنځو میاشتو لپاره تمدید کړي. که چېرې د دې مادې په دویمه فقره کې د تمدیده موده د محاکمې په بهیر کې منقض شي، توقیف شوی شخص له حبس څخه خلاصېږي.

د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون ۳۵ مه ماده: ۱. ابتدایه څارنوال کولای شي د تحقیق په بهیر کې د هغه شخص د نیولو په وخت کې چې د جنایت یا جنحي په داسي جرم چې جزایي متوسط حبس وي مرتکب شوی وي، د جرم پورې د مرتبط شیانو د ضبطولو امر صادر کړي.

۲. نیول شوی شخص باید د ۴۸ ساعتو په موده کې استنطاق لاندې ونیول شي. د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون ۳٦ مه ماده (که چېرې د شخص نیول د پولیسو له خوا ترسره شوی وي او د څارنوالۍ له خوا تائید یا د توقیف قرار صادر شوی وي، او دغه قرار په خپل قوت باقي پاتې وي او څارنوال د نیولو د نېټې څخه په ۱۵ ورځو کې دننه صورت دعوی محکمې ته وړاندې نه کړي، تورن ایله کېږي، مګر دا چې څارنوال په دغه وخت کې د تمدید د غوښتنې په اثر، د توقیف موده د نورو (۱۵) ورځو لپاره تمدید کړي وي، او دا تمدید د محکمې له خوا منظور شوی وي.

د افغانستان د جزا قانون ۴ مه ماده: ۱. برات الذمه اصلي حالات دی.ترڅو چې متهم د صلاحیت لرونکي محکمې په قطعي حکم محکوم علیه واقع شوی نه وي بې ګناه ګڼل کېږي.

د مدني او سیاسي حقوقو د بین المللی میثاق ۱۴مه ماده: ۱. هر څوک چې د یوې ګناه په کولو تورن شوی وي، تر هغې باید بی ګناه وپیژندل شي تر څو چې ګنا هکاري یې د قانون په اساس ثابته شي.

د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق ۱۰ مه ماده:

۲. الف: تورن کسان د محکومو کسانو څخه یوازی په ځانګړی حالاتو کې بېل ساتل کېدای شي، او د داسی بېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظام لاندې چې د غیر محکومو کسانو د حالت سره مناسب وی ساتل کېږي.

لومړی پرګراف بهرني قوانین:

دمصر داساسي قانون ٦٧ مه ماده: یو متهم تر هغه وخته چې د یوې قانوني محکمې له خوا چې هغه له خپل ځان څخه د دفاع حق ولري مجرم نه وي پیژندل شوی بی ګناه دی.

دایران د اساسي قانون ۴۷ م اصل:

اصل برات دی،او هیڅوک دقانون له نظره مجرم نه پیژندل کېږي، ترڅو چې د هغه جرم په صالحه محکمه کې ثابت نه شي.

د پاکستان د قضایي رویې څخه: د پاکستان د ۱۹۹۷ کال د تروریزم ضد قانون د پاکستان د اساسي قانون د روحیې خلاف دی. ځکه د برات الذمی داصل سره په ټکر کې رائي.

دویم مبحث: دمدافع وکیل درلودلو حق:

د مدافع وکیل درلودلو حق چې د مدافع وکیل سره د خبرو کولو حق هم په کې شامل دی، د عادلانه محاکمې د حق له مهمو عناصرو څخه ګڼل کېږي. له بده مرغه دا حق یو له هغې حقوقو څخه دی چې اکثراً نقض کېږي، تورن یا مظنون زیاتره وخت له ټولو حقونو څخه بی برخې وي. او همدا وجه ده چې زیاتره وخت له څېړندویه چارواکو سره ستونزه لري. دا ډېره مهمه ده چې مظنون یا تورن باید ډېر ژر یو مدافع وکیل ته لاس رسی ولري. تر څو پوه شي چې د څومره مودې لپاره د پولیسو په توقیف کې پاتې کېږي. د لګول شوو اتهاماتو معنی څه ده؟ د اظهاراتو نه بیان به څه پایلې او عواقب ولري او داسی نور...

دمدافع وکیل درلودل د مناسب دفاعي ترتیب له حق سره نه شلېدونکي اړیکي لري، او دا ډېره مهمه ده چې، مظنون یا تورن وکړای شي چې دخپل مدافع وکیل سره له ویرې او هرډول پایلو څخه پرته په ازاده توګه خبرې وکړي. د دغه بنسټیز شرط څخه پرته دفاعي ترتیب به شونی نه وي او ان تر دې چې مدافع وکیل درلودل به یې بې محتوا پاتې شي. له همدې امله دي چې دافغانستان داساسي قانون د ۳۱ مادې په ۴ فقره کې له ټولو هغه اړیکو څخه چې د تورن او مدافع وکیل ترمنځ شته ساتنه کوي او د عدلي او قضایي چارواکو هر ډول تعرض ممنوع ګڼي.

داساسي قانون ۳۱ ماده څلورمه فقره: «د متهم او د هغې د مدافع وکیل ترمنځ مکالمات، مراسلات او مخابرات د هر ډول تعرض څخه خوندي دي» لکه څرنګه چې زمونږ د بحث موضوع د مدافع وکیل د درلودلو د حق څخه عبارت دی، نو مخکې له دې څخه چې په دې موضوع باندی بحث وکړو غوره به دا وي چې لومړی مدافع وکیل وپېژنو، او همدارنګه د مدافع وکیل د لرلو په منطق باندې رڼا واچوو.۱

مدافع وکیل:

د هغه قانوني اشخاصو څخه عبارت دي چې د متهم (مدعي) یا مدعي علیه سره مرسته کوي، او نیابتاً د هغوی نه د غیر رسمي وکالت په ډول په محاکمو کې دفاع کوي.

وکالت: وکالت په لغت کې مطلق ساتلو ته وایي چې جمع یې وکلا رائي. د فعل په وزن د مفعول په معنی دی، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د فاعل په معنی راځي.

وکالت په اصطلاح کې دیو شخص د نایب کېدلو څخه عبارت دی له بل شخص څخه، په شرعي امورو او د ده د ژوند په حالت کې چې هغې ته د هماغې موضوع په اړه د تصرف کولو اجازه ورکوي.

ځینې علما وایي چې وکالت د حفیظ په معنی دی او د سپارلو اطلاق پرې کېږي یعنې یو شخص ته دبل شخص له خوا دیو کار سپارل او په هغې باندې اکتفا کول. امام شافعی (رح) وکالت داسې تعریف کړی دی: [وکالت عبارت دی د سپارلو د مال او کار د یو شخص نه په نیابت سره، د ده د ژوندون په حالت کې پدې شرط چې هغه یې قبول کړي.]امام ابو حنیفه (رح) وکالت داسې تعریف کړی دی: [وکالت عبارت دی درلودلو د یو شخص نه چې په خپل ځای په مالي تصرفاتو کې چې روا او معلوم وي او په خپلو تصرفاتو کې یې وکیل ونیسي.]

اما د مدافع وکیل د چارو د تنظیم قانون مدافع وکیل داسې تعریف کړی دی: [مدافع وکیل یو حقوقي شخص دی، چې د قانون د احکامو سره سم په محکمه او نورو مراجعو کې دخپل مؤکل د حق څخه دفاع کوي او دعوه اقامه کوي.]

اما د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال د مدني قانون په ۱۵۵۴ ماده کې وکالت دارنګه تعریف شوی دی: (وکالت هغه عقده ده چې د هغه په اساس مؤکل یو بل شخص په قانوني اوښکاره تصرفاتو کې قایمقام ګرځولی وي[2].)

دلته یو پوښتنه مطرح کېږي چې د وکیل د درلودلو په حق کې څه دلیل او منطق دی؟

ځواب: لکه څنګه چې مونږ او تاسې ګورو په جزایي یا مدني دعوه کې دوه خواوې وجود لري، چې یو طرف ته پولیس، څارنوال او قاضي او حتی قضایي هیئت او بل طرف ته یې مظنون یا متهم قرار لري. چې د دوي تر منځ دا لاندې تفاوتونه وجود لري:

۱. پولیس، څارنوال او قاضي لاندې ځانګړتیاوې لري:

الف: علمي او مسلکي زده کړې

ب: کاري تجربه

ج: دولتي صلاحیت یا اتوریته، مقام او منصب لري

د: د پېښې له وجې په دوی باندې د هیڅ قسم روحي فشار نه موجودیت

۲. د مظنون او متهم ځانګړتیاوې: د پولیس څارنوال او قاضي په مقابل کې مظنون او متهم برعکس دي. یعنې کوم امتیازات چې د قضیې یو لوری لري، دا بل لوري چې د متهم او مظنون څخه عبارت دی نه لري لکه:

۱. مظنونین او متهمین اکثره بې تعلیمه وي.

۲. که چېرې مظنون یا متهم زده کړه هم ولري هغه بیا مسلکی نه وي.

۳. د پېښې په هکله چې څرنګه رسیده ګي به ورته کېږي، هیڅ قسم کاري تجربه نه لري.

۴. متهم او مظنون د خپلو حقوقو څخه پوره اګاهي نه لري.

۵. هیڅ قسم دولتي، مقام، منسب او اتوریته نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶. معمولا د ارنګه اشخاص د خپل سرنوشت په هکله چې څه نوع تصمیم به نیول کېږي او څه عواقب به ولري په تشویش او پریشانۍ کې وي.

پورته ذکر شوي تفاوتونه مونږ ته دا په ګوته کوي چې په داسې حالاتو کې یو طرف په هر لحاظ ډېر غښتلی او بل طرف د هر لحاظه ډېر ضعیف وي، د دعوې په نتیجه کې به عدالت منځته را نه وړل شي، او ښایي چې یو طرف ضعیفه دی، د هغی حقوق به تلف شي، او د هغه په هکله به عدالت ونشی، او هم به هغه مناسبه او کافي دفاع د خپل ځان څخه ونه شي کولای.

اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه داچې:

د دې لپاره چې عدالت تامین شي او مظنون یا متهم ته د کافي او مناسبې دفاع لپاره پوره زمینه برابره شي څه باید وشي؟

ځواب: د دغه۹ پورته تفاوتونو د رلودلو له مخې، هر یو سلیم عقل په صراحت سره داحکم کوي چې د دوی ترمنځ هیڅ قسم برابري وجود نه لري، نو دلته ضرورت دی چې د مظنون او متهم په خوا کې هم باید یو څوک مسلکي، باتجربه، صلاحیت لرونکی او د روحي فشار څخه ازاد شخص موجود وي ترڅو د هغه د حقوقو څخه کافي او مناسبه دفاع وکولای شي. او په نتیجه کې عدالت تامین شي. نو د همدې منطق له مخې دا یو مبرم ضرورت دې چې مظنون او متهم باید یو پوه، عالم، تجربه لرونکی شخص چې مسلکی زده کړې ولري د وکیل په توګه و نیسي، تر څو د نومورې شخص څخه مناسبه او قانوني دفاع وکولای شي. چې دغه د مدافع وکیل د لرلو حق اسلامي شریعت او وضعي قوانینو قبول کړی دی. د لا ښه پوهېدلو لپاره لومړی داسلامي شریعت له مخې د مدافع وکیل د لرلو د حق دلایل او په دویم قدم کې د وضعي قوانینو له مخې د مدافع وکیل د لرلو د حق دلایل دلته په ډېر مختصر ډول وړاندې کوو.

لومړی مطلب: په اسلامي شریعت کې د مدافع وکیل د لرلو د حق مشروعیت:

لکه څرنګه چې لیدل کېږي د دفاع موضوع په اسلامي شریعت کې دومره دقیقه مطرح شوې ده چې اوسني وضعي قوانین د هغې سره برابر نه دی. او دا ځکه چې نومورې موضوع په قرانکریم، او د نبي کریم(ص) په احادیثو او د فقهې په کتابونو کې لکه کتاب الوکاله تر بحث لاندې نیول شوې ده.

داسلامي شریعت علماوو وکالت دالله تبارک تعالی د صفاتو څخه یو صفت ګڼلی چې د خپلې خبرې د ثبوت لپاره د الله (ج) دا قول دلیل راوړي. حسبناالله ونعم الوکیل. ژباړه: کافي دی مونږ ته الله تعالی چې خاوند د نعمت او وکالت دی. همدارنګه په بل ځای کې فرمایي:

انی توکلت علی الله ربی وربکم ژباړه: بې شکه مونږ توکل کړی په الله تعالی، چې زمونږ رب دی، او ستاسې رب دی. همدارنګه الله تبارک و تعالی په سورة کهف کې داسی فرمایي: ژباړه [او ولیږي خپل یو کس دې ښار ته، او دا وکالت ورکړي، بیا دې دا وګوري چې کومه یوه خوراکه ستره او غوره ده، نو را دي وړي تاسې ته د هغې خوراک څخه] یعنې دا هغه وکالت وو چې دوی یو کس خپل وکیل اطعام او خوراک داخستلو لپاره لېږلی وو. همدارنګه د حضرت محمد(ص) په وخت کې به حضرت محمد(ص) په ډېرو مواردو کې د ضرورت په خاطر صحابه کرامو ته د تعلیم او درس ورکولو لپاره د هغوی څخه به یې وکیلان انتخابول، ترڅو د خپل موکل څخه دفاع وکړي. او

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه په زیاتو مالي او حقوقي موضوعاتو کې رسول الله (ص) وکیلان ټاکلي وو. لکه حضرت رسول اکرم (ص) سعادة (رض) د زکات اخستلو لپاره لېږلی و او همدارنګه اودافع (رض) د حارث (رض) د لور حضرت میمونه (رض) په نکاح کې وکیل نیول شویدی، او د ده په وکالت یې نکاح روا شوېده. په بل حدیث شریف کې راځي چې: دحضرت عروه ابن الجعد البارقی (رض) په باره کې نقل دی چې رسول اکرم (ص)هغه ته یو دینار ورکړ چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دپاره یو چیلۍ واخلي، هغه په یو دینار باندې دوه چیلۍ واخیستې، یوه یې بېرته په یو دینار باندې خرڅه کړه، دغه رنګه هغه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یوه چیلۍ او یو دینار ورکړ. رسول الله د هغې داسی ذهانت نه خوشحاله شو او هغې ته یې په معاملاتو کې د برکت دوعا وکړه چې بیا به هغه خاوره هم اخیستله نو په هغه کې به ورته فایده کېدله.

همدارنګه فقهاو په دې رابطه ډېر توضیحات ورکړي دي او هغه داسې چې وکالت په کومو امورو کې کېدای شي او په کومو امورو کې وکالت نه شي کېدای. چې د دې له مخی یې وکالت په دوه برخو تقسیم کړی دی: وکالت په حقوق الله کې د وکالت په هکله د علماو ترمنځ اختلاف دی نو ځکه مونږ هم د هغه د توضیحاتو څخه په دې ځای کې صرف نظر کوو. او حقوق العباد په هکله علماو په زیاتو موضوعاتو باندې بحث کړی دی لکه وکالت په اخستلو او خرڅولو کې، د قرض په ادا کولو کې وکالت په اقرار کولو کې وکالت، د ګواهانو په ګواهۍ کې وکالت، د غایب وکالت، د ماشوم وکالت او شرایط یې، وکیل په ازدواج کې، او حکمي وکالت په طلاق کې، وکالت په خلع کې، تعداد د وکیلانو، د وکیلانو موضوعات، د وکالت حکمونه، د وکالت اقسام د وکالت د وکیل صلاحیت، د وکیل وظایف، د وکالت شرایط او ارکان او داسې نور زیات موضوعات په اسلامي شریعت کې فقهاو په ډېر تفصیل سره بیان کړي دي چې مونږ د دغه موضوعاتو د توضیح څخه صرف نظر کوو. او یوائې د دې موضوع یادونه کوو چې په اسلامي شریعت کې د وکالت موضوع په ډېر ښه شان سره بیان شوې ده.

دویم مطلب مدافع وکیل په وضعي قوانینو کې:

په وضعي قوانینو کې د مدافع وکیلانو په اړه هر اړخیزه توضیحات په ټولو قوانینو کې شته، چه مونږ یې په لاندی سرلیکونو کې جدا جدا تر مطالعې لاندې نیسو.

لومړی جز: د افغانستان په اساسي قوانینو کې د مدافع وکیل احکام:

دافغانستان د (۱۳۴۷ ل) کال د اساسي قانون په درېیم فصل کې په دې اړه ډېر احکام شته. همدارنګه د افغانستان د (۱۳۵۵ ل) کال اساسي قانون په ۳۱ مه ماده کې په دې هکله صراحت شته دی. او د افغانستان د (۱۳۵۹ ل) کال داساسي قانون په ۳۰مه ماده کې د دې صراحت شته چې تورن د دفاع حق لري. د افغانستان د (۱۳۶۶ ل) کال د اساسي قانون په ۴۱مه ماده کې صراحت موجود دی، او هغه داسې چې تورن حق لري چې خپله یا د مدافع وکیل په واسطه د ځان څخه دفاع وکړي.

او په نهایت کې دافغانستان د (۱۳۸۲ ل) کال دسلواغې دمیاشتې داساسي قانون په ۳۱مه ماده کې داسې صراحت موجود دی: (هرڅوک کولای شي چې دنیول کېدو سره سم د ځان څخه د اتهام د لرې کولو او یا د حق د ثابتولو لپاره د ځان لپاره مدافع وکیل وټاکي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم جز: د مدافعو وکیلانو د چارو تنظیم د قوانینو احکام:

اول: د مدافع وکیلانو د چارو د تنظیم لپاره د (۱۳۴۳ ل) د سلواغی د میاشتې قانون چې د همدغه کال د سلواغې د میاشتې په (۱۷) مه نېټه د عدلیې وزارت د رسمي جریدې په ۱۹ ګڼه کې نشر شوې وه، چې (۷) فصله او (۵۰) مادې یې درلودې.

دویم: د مدافع وکیلانو د چارو د تنظیم لپاره د ۱۳۵۱\۱\۱۱ نیټې قانون دعدلیې وزارت رسمي جریدې په (۲۰۶) مخ کې نشر شو، پنځه فصله او یو څلوېښت مادې یې درلودې.

1. د (۱۳۶۵ ل) کال قانون چې په ۴۲۷مه ګڼه رسمي جریده کې نشر شو.
2. د (۱۴۲۰ ل) کال قانون چې په ۷۸۶مه ګڼه مجله کې نشر شو
3. هغه قانون چې اوس هم مری الاجرا دی په (۱۳۸۶) کال دجدي په (۲۶) ماخذ شوی او په ۹۳۴ ګڼه مجله کې نشر شوی پنځه فصله او ۴۴ څلور څلوېښت مادې لري.

د رېم جز: دجزایي اجراتو موقت احکام:

1. د تحقیق نه مخکې د نیول کېدو په وخت کې د مدافع وکیل د لرلو حق چې د پینځمې مادې په اوومه فقره کې ذکر شوی دی.
2. د مدافع وکیل اوصاف او په ټولو حالاتو کې د مظنون او تورن څخه دفاع کول د (۱۸) مې مادې په دویمه او درېیمه فقره کې ذکر شوي دي.
3. د مدافع وکیل مالي موضوعات په نولسمه ماده کې په لومړي فصل کې ذکر شوي.
4. مدافع وکیل باید دتحقیق په ټولو حالاتو کې موجود وي چې دا موضوع په (۳۸) مه ماده کې ذکر شوې ده.
5. د غایب لپاره وکیل په ۴۱مه ماده کې ذکر شوی.
6. د ماشومانو د سرغړوني د رسیده ګی قانون چې په (۱۳۸۴\۱\۶) نشر شوی په (۲۲) مه ماده کې صراحت وجود لري.
7. د محاکمو د واک او تشکیلاتو د قانون په ۱۱مه ماده کې صراحت موجود دی.

د دغه قوانینو ترڅنګ ځنې نور داخلي قوانین لکه مدني قانون، د جزا قانون او په نورو قوانینو کې د مدافع وکیلانو په اړه صراحت موجود دی.

د رېیم جز: د بشري حقوقو نړیوالو سندونو له مخې د مدافع وکیل د لرلو حق:

دبشري حقوقو په ځانګړو نړیوالو سندونوکې د مدافع وکیلانو په اړه احکام شته چې په مختصر ډول ترېنه په لاندې کرښو کې یادونه کوو.

لمړی جز: د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه چې د (۱۹۸۴) د ډسمبر په لسمه چې د (۱۳۲۷\۹\۱۹ ل) سره سمون خوري په یوولسمه ماده کې صراحت وجود لري او هغه داسې چې: (هرڅوک حق لري د ځانه دفاع وکړي) که چېرې په هغه تېرې کېږي د دفاع کولو حق لري. که چېرې محکمه دایرېږي حق لري خپله او یایې وکیل دهغه د حق څخه دفاع

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي.)

دويم جز: د بشري حقوقو اسلامي اعلاميه: د (۱۴۱۱ د ۱۲\۱۹۹۰) اګست(۱۳۳۹) زمری) داسلامي کانفرانس سازمان د بهرنيو چارو وزيرانو غونډه: د دغې(۱۹) مادې د(ه) بند د دفاع په هکله داسې صراحت لري:

(ه) تورن بې ګناه دی تر هغې پورې چې د عادلانه محکمې له خوا يې د ده د دفاع لپاره ټول تصميمونه په کې برابر وي، ورباندې جرم ثابت شي چې دغه ماده د برات الذمه د اصل د قانونيت لپاره هم دليل دی.

درپيم جز: په مدني او سياسي بين المللي ميثاق کې: د مدني او سياسي حقوقو بين المللی ميثاق (۱۴) مه ماده د (د) بند: محاکمه دې د تورن په مخکې دايره شي او شخصاً يا د هغه د مدافع وکيل له خوا دې د ځانه دفاع وکړي، او که چېرې وکيل ونه لري د وکيل د درلودلو د حق څخه دې هغه ته اطلاع ورکړل شي، او که چېرې د محکمې مصالح وغواړي راساً هغه ته وکيل ټاکل کېږي او که چېرې متهم د حق الوکالې د ورکړې څخه عاجز وي دهغه مصارف د محکمې په غاړه دي.

۷ بهرني قوانين:

د مصر اساسي قانون: (٦٧) مه ماده ۵ پاراګراف: هر شخص چې په جرم متهم وي هغه ته بايد مدافع وکيل وټاکل شي.)

د ايران اساسي قانون۳۵م اصلا او د پاکستان اساسي قانون لسمه ماده هم د وکيل د درلودلد حق مني.

په دې اساس داسې حکم کوي چې داسلامي شريعت، افغانستان وضعي قوانين نړيوال ميثاقونه او دنورو هېوادونو په قوانينو کې چې مونږ يې پورته مثال ذکر کړ. چې هر څوک دځان څخه د دفاع حق لري او د مدافع وکيل لرل يو ضروري او لازمي امر دی.

درپيم مبحث د شکنجې د ممانعت حقوق:

د انسان تعذيب منع دی ،او هېڅوک نه شي کولای چې د يو چا د تعذيب امر وکړي، يا يې تعذيب ته اقدام وکړي. په همدې ډول متهم او مظنون د هيڅ ډول جسمي او روحي فشار لاندې نه شي راتلای.

شکنجه: د شکنجې او ظالمانه مجازاتو پر خلاف د ټرون په لومړۍ ماده کې، شکنجه داسې تعريف شوې ده: شکنجه هغه عمل دی چې د هغې له امله يو چا او يا درپيم ګړي ته د اطلاعاتو او يا اقرار اخستلو لپاره جسمي يا رواني سخت درد ورته ورسېږي. ۱ هېڅوک بايد ونه ځورول شي او هېڅوک بايد د ظالمانه، نا انساني او د سپکاوي وړ چلندونو سره مخامخ نه شي. دغه حق مطلق حق دی، او هيڅ وخت د لغوې وړ نه دی. دا د ټولو خلکو حق دی. هيڅ وخت ان د جګړې په حالاتو کې دجګړې دګوابښ په حالاتو کې دکورني سياسي بې ثباتي او يا هم بېړنيو حالاتوکې دځنډ وړ نه دي. دنړيوال ټرون څلورمه ماده د امريکا کنوانيسيون ۲۷ (۲) د اروپا کنوانسيون ۱۰ مه ماده.

په هيڅ ډول شرايطو، کې ځورونه، ظالمانه، او نا انساني او دسپکاوي وړ ناوړه چلندونه توجيه کېدای نه شي. دغه حق په تېره بيا دهغو مهمو کسانو لپاره چې له ازادۍ څخه بې برخې شوي دي د قانون د انفاذ مامورين له ځورونې او نورو ظالمانه جزاګانو او د نا انساني او سپکاوي وړ ناوړه چلندونه دکارونو، هڅولو او اجرا کولو څخه منع دي. ځورونه په دې پلمه چې دلوړ پوړ له خوا حکم شوی، توجيه کېدای نه شي. په حقيقت کې د قانون د انفاذ مامورين د نړيوالو معيارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مخې مکلفوي چې دغه حکمونه قبول نه کړي او دهغی رپوټ ورکړي (ځوروني ضد کنوانسیون) ۲ او ۳مه ماده.

د ځوروني، ظالمانه، نا انساني او د سپکاوي وړ چلندونو په بندیز کې ټول هغه عملونه ګډون لري چې د تعذیب شوي کس د جسمي او دماغي عذاب سبب ګرځي.

د ځوروني ترسره کول څرنګه چې په بین المللي او ملي قوانینو کې تعریف شوی، دا دی چې د قوې نا مناسبی کارونې چې د قانون اجراکوونکو له خوا ترسره شي لکه:

۱ دوامداره انفرادي حبس: ۲ په توره تیاره کوټه کې اچونه ۳ دتحقیق په بهیر کې جسمي فشار لکه دمخ پټول دوامداره لوړه موسیقي، ښورول، دخوب څخه محرومول، په مرګ ګواښل، په اوبو یې دسر منډل، اوداسې نور.

لکه مخکې چې مو ولوستل دغه حق هم یو مطلق امر دی او هیڅ وخت دلغوې نه دی. دا خبره درسته ده، خو ځینې حالات شته چې هلته ښایي قانون پلي کوونکی دا واک ولري، چې د جرم د مخنیوي لپاره د زور څخه کار واخلي البته دغې قوې کارونه یو استثنایي حالت دی، چې حداقل په اندازه جواز لري. د مظنون یا متهم د مقاومت له امله چې د رسمي مامور په وړاندې، یا هغه خطر چې مصونیت ته پېښېږي د قوې د حد اقل وسیلې څخه باید ګټه واخلي. له هغه څخه د ډیري قوي استعمال ته اړتیا نشته، او جواز نه لري. د هېواد قوانین قهریه قوې ته مخ کول، د قانون د ساتونکو له خوا د تناسب پر اصل محدود وي. نو باید پوه شو چې د تناسب نوموړی اصل دهېواد په قوانینو کې داړوند حکمونو په هکله باید په پام کې ونیول شي. هیڅکله باید دا احکام داسې تفسیر نه شی چې د قوې څخه ګټه اخیسته له مشروع موخې سره نا متناسب نه وي. که نا متناسبه وي، په هغه صورت کې هغه مامور ته جزا ورکول کېږي. یعنی د قانون د انفاذ مامورین یوائې په هغه حالاتو کې د زور او فشار څخه کار اخیستلای شي چې زیات اړین او ضروری وی، او بېدون د زور او فشار څخه ممکنه هم نه وي، ولی فشار باید ډیر کم وې، او د شرایطو سره سم وي. د مثال په ډول د توقیف شوو په وړاندې یوائې هغه وخت باید د زور څخه کار واخستل شی چې د توقیف د امنیت او نظم لپاره اړین وي، یا دا چې متهم د قانوني نیونې پر وړاندې مقاومت کوي. یا داچې د یو شخص امنیت ته قوي خطر متوجه وي، یا دا چې د یو شدید مجرم فرار متصور وي، او داسې نور. یوځل بیا داخبره تکرار وو چې د فشار څخه یوائې په هغه حالت کې باید ګټه واخستل شي چې د عدم تشدد لارې چارې ګټورې نه وي. (د قانون د انفاذ د مامورینو له خوا وسلې او زور څخه د کار اخستنې په اړه د اساسي اصولو ۱۵ اصل هیله ده چې ټول قضایي او عدلي مامورین له مظنونو او تورنو کسانو سره د تحقیق په ټولو پړاونو کې هر قسم ممنوعیتونه مراعت کړي. ولې متاسفانه چې کله ناکله داسې پېښې لیدل کېږي چې په هغه کې قانوني مواد نه رعایت کېږي. چې د زور چلونې او سپک چلند پر وړاندې د افغانستان قوانین، بین المللي میثاقونه، او د نورو هېوادونو قوانینو مبارزه کړي ده، چې اړوند احکامو څخه یې په لاندې سرلیکونو کې یادونه کوو.

د افغانستان د ملي قوانینو اړوند احکام:

د افغانستان د اساسي قانون ۲۹مه ماده:

د انسان تعذیب منع دی، هیڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وی، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي او یا یې د تعذیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

امر ورکړي. د انساني کرامت مخالفې جزا ټاکل منع دي.

د افغانستان د اساسي قانون ۳۰مه ماده: له متهم یا بل شخص څخه په زور ترلاسه شوی څرګندونې اقرار یا شهادت اعتبار نه لري. په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وایي چې په بشپړه خوښه او د عقلی روغتیا په حالت کې یي د باصلاحیته محکمې پر وړاندې کړې وي.

د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون ۵ مه ماده: ۴ مظنون او تورن اشخاص تر هیڅ ډول روحي او جسمي فشار لاندې نیول کیدای نه شي.

۵ د مظنون او تورن اظهارات په بشپړه ازاده فضا کې اخیستل کېږي.

د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون ۷ مه ماده: هغه دلایل او شواهد چې د قانون د حکمونو په پام کې نیولو پرته راټول شوی وي اعتبار نه لري. محکمه نه شي کولای د هغوی په استثنا حکم وکړي.

د هغه جزا ټاکل چې د انساني کرامت په خلاف وي روا نه ده. د محابسو او د توقیف ځایونو د قانون ۳مه ماده: د محبسونو او توقیف ځایونو کارکوونکي، څارنوالان، قاضیان او نور هغه اشخاص چې په یو ډول نه یو ډول محبسوو او تر توقیف لاندې اشخاصو سره سر او کار لري، مکلف دي د دندو د اجرا په وخت کې له محبوسینو او تر توفیف لاندې اشخاصو سره بشري حقوق رعایت کړي، او له هغوی سره د قوم، ملیت، مذهب، دین، توکم، رنګ، جنس(نارینه او ښځینه)، ژبې، ټولنیز یا سیاسي موقف، او نورو تبعیضي ملاحظو په پام کې نیولو پرته په بې پلوه توګه چلند وکړي.

د مدني او سیاسي حقوقو د بین المللي میثاق ۷مه ماده: هیڅ چاته نه شي کولای چې په زور زیاتي، زورونې یا د انساني کرامت خلاف ظالمانه چلند له مخې سزا ورکړل شي.

د مدني او سیاسي حقوقو د بین المللي میثاق ۱۰مه ماده: ۱. د هغه ټولو کسانو سره چې له خپلې ازادۍ څخه محروم شوی وي، باید د انسان د ذاتې حیثیت سره سم یې درناوی وشي، او په سړیتوب چال چلند ور سره وشي.

د مدني او سیاسي حقوقو د بین المللي میثاق ۱۴مه ماده: ۳. هر شخص کولای شي د جرم د تثبیت په بهیر کې هر ډول تور چې د هغه په نسب شتون لري له لاندینیو حد اقل تضمیناتو څخه په بشپړه او پوره برخمن کېدای شي (ز) مجبور نه کړای شي چې خپل ضدت شهادت ورکړي، یا په خپل جرم اعتراف وکړي. د نوموړي موضوع په هکله د مصر د اساسي قانون ۴۳مه ماده، د ایران د اساسي قانون ۳۸م اصل، او د همدې قانون ۳۹م اصل؛ د پاکستان د اساسي قانون ۴مه ماده، او د پاکستان د اساسي قانون ۱۴مه ماد،ه او د نورو قوانینو، اساسي قوانینو او نور عادي قوانینو ټول دا خبره قبوله کړېده چې هر قسم زور، فشار او ځورونه منع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم مبحث د خپل سرو توقیفونو څخه د ازادی حقوق:

ازادي د ټولو انسانانو یو طبعي او بنسټیز حق دی، او هیڅوک هم نه شي کولای چې بې د قانون څخه د چا ازادي سلب کړي. چې د دغه حق د حفاظت لپاره هم په ملی سطحه او هم په بین المللي سطحه قواعد او مقررات وضعه شوی دی. د ازادی حق د ټولو څخه مهمه پایله دا ده چې د نا قانونه او خپل سرو توقیفونو په وړاندې د وګړو ساتنه وشي. او دا پدې معنی ده چې هیڅ څوک باید د خپل سره نیونې او توقیف سره مخامخ نه شي. هیڅ څوک باید له ازادی څخه بې برخې نه شي، مګر د قانون په رڼا کې د وضع شوو مقرراتو په چوکاټ کې. اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې د یو فرد نیونه او توقیف په کوم حالت کې قانوني ده؟

ځواب: مرتکب یوائی هغه وخت د خپلې ازادی څخه بی برخی کیدای شي چې نیونه یې د قانون د مقرراتو پر اساس وي، او دا باید یوائې ملی قوانینو په اساس نه، بلکې د نړیوالو معیارونو سره هم سمون ولري، او دا ځکه چې د ازادی حق په دواړو یعنې په ملي قوانینواو هم په بین المللي معیارونو کې قبول شوی دی. د افغانستان د اساسي قانون ۲۴مه ماده کې ازادي د انسان طبعي حق ګڼل شوی دی. دا د دې ښکاروندویچې کوي چې د خپل هر تو قیفونو څخه ازادي د افغانستان په حقوقي نظام کې له څومره اهمیت څخه برخمنه ده.

د افغانستان د اساسي قانون ۲۷مه ماده څخه چې دهغې سره سم هیڅ شخص د قانون د احکامو پرته څارل کېدای، نیول: کېدای او توقیفېدای نه شي، دا ښکاره ده چې په خپل سر توقیفونه د محاکمې څخه دمخه، د محاکمې او د محاکمې څخه په وروسته پړاونو کې جواز نه لري او منع دي، چې دغه اصل د برات داصل سره ډیر نژدی اړیکي لري.

لکه څرنګه چې پورته روښانه شو چې ازادي دانسان طبعي حق دی، او بې د قانوني جواز څخه هیڅوک نیول کیدای، توقیفېدای، او بندي کیدای نه شي، نو د دې لپاره چې مونږ ته دا موضوع ښه روښانه شي باید پدې ځای کې اړوند احکام ذکر کړو. کوم حالات قانون قبول کړي چې هلته توقیف او نیول جواز نه لري او دغه په کوم شکل او څومره وخت لپاره تر سره کېږي.

اړوند احکام:

د افغانستان د اساسي قانون ۲۴مه ماده: ازادي د انسان طبعي حق دی، دا حق د نورو له ازادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لارې تنظیمېږي حدود نه لري. دولت د انسان د ازادۍ کرامت په ساتنه او درناوی مکلف دی. د افغانستان د اساسي قانون ۲۷مه ماده: هیڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبېدای، نیول کېدای او توقیفېدای نه شي، هیچا ته سزا نه شي ورکو کیدای مګر د باصلاحیته محکمې په حکم او دهغه قانون داحکامو سره سم چې داتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي.

د افغانستان د اساسي قانون ۳۱مه ماده: متهم حق لري چې له نیولو سره سم له منسوبه اتهامه ځان خبر کړي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې مودې څخه خبر شي د کومې چې دننهقانون يې ټاکي او دی باید محکمه کې حاضر شي د پورته موادو څخه په ډېر صراحت دا خبره معلومه شوه چې ازادي د انسان طبعي حق دی، او د دغه حق حفاظت د دولت مکلفیت دی. خو په هغه صورت کې بیا نیول جواز لري چې حکم يې د باصلاحیته محکمې له خوا تر سره شوی وي، هغه هم د قانون د حکم سره سم. وګورو چې د جزایي اجراتو موقت قانون او ځنې نورو قوانینو بیا دغه موضوع ډېره زیاته توضیح کړې چې هغه ټول مواد مونږ دلته رانقلوو.

د جزایي اجراتو موقت قانون:

د جزایي دعوې اقامه کولو د پېل څخه د جرمي مسئولیت د تثبیت پورې چې شخص د محکمې د وروستۍ حکم پر اساس محکوم علیه بلل کېږي، دا شخص بې ګناه ګڼل کېږي. که چیرې فیصله د شخص د بشري حقونو د سلب یا محدودیت باعث ګڼل کېږي، باید پر هغه قانوني دلایلو بناء وي چې د حقیقت په کشف پورې محدود دي.

د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون ٦مه ماده: ١. له نیونې وروسته دتحقیقق په بهیر کې د موقت توقیف موده د ٣٦ مادې د حکم مطابق ټاکل کېږي.

پدې ځای کې ښه به دا وي چه د ٣٦ مادې احکام دلته ذکر کړو. په شپږ دیرشمه ماده کې داسې صراحت موجود دی چې: نیول که د پولیسو له خوا تر سره شوی وي او د څارنوال له خوا تائید یا د توقیف قرار د څارنوال په واسطه صادر شوی وي، او دغه قرار په خپل قوت باقي پاتې وي او څارنوال د نیولو د نیټې په ١٥ ورځو کې صورت دعوه محکمې ته وړاندې نکړي. تورن ایله کېږي مګر دا چې څارنوال د وخت غوښتنی په اثر، د توقیف موده د نورو ١٥ ورځو لپاره تمدید شوی وي.

دهمدې قانون د ٦مې مادې دویمه فقره: ٢. ابتدایه محکمه کولای شي د محاکمې په وخت کې د توقیف موده د دوو زیاتو میاشتو لپاره تمدید کړي. مرافعه محکمه کولای شي د محاکمې په وخت کې دغه موده د دوه نورو میاشتو لپاره تمدید کړې. ستره محکمه د محاکمې په وخت کې واک لري دغه موده د نورو پنځو میاشتو لپاره تمدید کړي.

٢. که چیرې د دې مادې په ٢ فقره کې د تمدید موده د محاکمې په بهیر کې منقض شي، توقیف شوی شخص له حبس څخه خلاصېږي.

چه د دغه پورته موادو څخه داسې معلومېږي چې د توقیف قانوني موده ١٠ میاشې کېږي، او دا پدې حساب ١٥ او بیا١٥ ورځې د څارنوال موده، دوه، مېاشتې دابتدایه محکمې، دوه میاشتې د مرافعې، او پنځه میاشتې د سترې محکمې چه ټولې ١٠ میاشتې کېږي.

دلته اوس یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې د پولیسو دقانون له مخې چې پولیس ٧٢ ساعته وخت لري چه مظنون دځارنې لاندې وساتي. ایا دغه ٧٢ ساعته پدې لسو میاشتو کې شامل دي او که نه؟

ځواب: لومړی باید د پولیسو د قانون ٢٥مه ماده دلته ذکر کړو.

٢٥مه ماده: پولیس کولای شي چې د جرم او مجرم د هراړخیزه کشف لپاره نیول شوی مظنون تر ٧٢ ساعتونو مودې پورې تر څارنې لاندې ونیسي.

او ځواب يې په لنډو ټکو کې ورکوو. چې اکثره حقوق دانان په دې اتفاق کوي چې دغه ٧٢ ساعته د څارنوال د ١٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځو څخه اخیستل کېدای شي. او دا په دې معنی چې ۷۲ ساعته وخت چې پولیسو ته ورکول شوي دي، دا باید د څارنوال د اولو پنځه لسو ورځو څخه کم شي، چې څارنوال ته ۱۲ ورځې پاتې کېږي.

اوس په دې ځای کې یو پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې په کومو حالاتو کې پولیس یو شخص نیولی شي؟ او د نیولو څخه وروسته باید کوم اجرات تر سره کړي؟

ځواب: د دې لپاره چې زمونږ ځواب دقیق اوسي، بهتره ده چه دغه ځواب هم د قانون په رڼا کې روښانه کړو.

۱. عدلي پولیس کولای شي چې په خپل واک په لاندې حالاتو کې شخص ونیسي:

الف: د جنایت یا جنحې د جرم د ارتکاب په وخت کې چې جزا یې متوسط حبس وي.

ب: هغه شخص چه د جنایت د جرم په ارتکاب قلمداد شوی وي او د غاییېدو امکان یې متصور وي.

۲. په نورو حالاتو کې د پولیس په واسطه نیول د واکمنو عدلي او قضایي مقاماتو د دستور په اساس صورت مومي.

رائځو دې ته چې پولیس به کوم اجرات تر سره کوي؟ د دې لپاره چې دا موضوع روښانه شي، بیا هم قانون ته مراجعه کوو.

په دې اړه د جزایي اجراتو موقت قانون په ۳۱مه ماده کې داسې صراحت لري:

۳۱مه ماده: ۱. د عدلیې پولیسو په واسطه د شخص د نیولو او د هغه د تثبیت وروسته د هغه د نیولو دلایل هغه ته ابلاغ او توضیح کېږي. د عدلیې پولیس مکلف دي چې زیات نه زیات د ۲۴ ساعتونو په موده کې له مظنون څخه د هماغه جرم په استنطاق (ګرویګنې) لاس پورې کړي.

۲ عدلي پولیس مکلف دی چې د استنطاق لپاره هغه څارنوالي ته وسپاري. البته دغه یوه خبره باید دلته یاد کړو چې پولیس باید خپل ټول اجرات د ۷۲ ساعتونو په موده کې تر سره کړي لکه چې مخکې مو په دې هکله د پولیسو د قانون ۲۵مه ماده ذکر کړېده.

همدارنګه د دې څخه وروسته چې د څارنوال اجرات په څه ډول پرمخ ځي دلته ډېر توضیحاتو په تفصیل سره لوستل کېږي خو دلته یوائې د مربوطه موادو شمارې ذکر کوو.

په دې هکله د جزایي اجراتو د موقت قانون ۳۳مه ماده، ۳۴مه ماده، ۳۵مه ماده، ۳۶مه ماده، ۵۳مه ماده، د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د قانون ۳۷مه ماده او ځینې نور مواد څرګندونې لري. څرنګه چې مخکې مونږ د دې خبرې یادونه کړې وه چې د ملي قوانینو او بین المللي محکمې پرته د ځنډه د ده د نیول کېدو او بندي کېدو د قانوني والي په اړه خپل نظر څرګند کړی په داسې حال کې که چېرې د ده بندي کېدل غیر قانوني وي، د هغه د خلاصون او ازادۍ حکم دې صادر کړي.

۵. هر څوک چې په نا قانونه توګه نیول شوی یا بندي شوی وي د خپل زیان (خسارې) د تر لاسه کولو حق لري.

د مدني او سیاسي حقوقو بین المللي میثاق ۱۰مه ماده: الف: تورن کسان پرته له استثنایي حالاتو څخه د محکومو کسانو څخه بېل ساتل کېږي، او دوی د نامحکومو کسانو د وضعې سره سم د ځانګړي نظام تابع دي.

د مدني او سیاسي حقوقو بین المللي میثاق ۱۴مه ماده:

۳. هر شخص حق لري د هر ډول اتهام د تثبیت په بهیر کې چې دهغه پر ضد ولي حد اقل تضمینونو څخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلي برابرۍ سره له لاندینیو حالاتو څخه برخمن شي.

ب: د تورن د ماهیت او علت څخه چې هغه ته نسبت شوی، ژر تر ژره او په تفصیل سره په هغه ژبه کې چې هغه پری پوه شي، باید خبر ورکړای شي.

د دې تر څنګ مونږ ګورو چې دغه موضوع د نړۍ په ټولو قوانینو کې قبوله شوې چې مونږ یې صرف د یو څو هېوادونو د قانوني موادو شمارې دلته ذکر کوو. د مصر د اساسي قانون ۴۱مه ماده، د ایران د اساسي قانون ۳۲ م اصل، د لبنان د اساسي قانون ۱۸مه ماده؛ د مراکش د اساسي قانون ۱۰مه ماده؛ د پاکستان د اساسي قانون ۴مه ماده؛ د پاکستان د اساسي قانون ۹مه او ۱۰مه ماده؛او داسې نور.

د پورته ټولو توضیحاتو څخه دا روښانه کېږي چې هېڅوک باید بی موجبه تر نیونې او توقیف لاندې رانه شي. او که چېرې څوک د قانون په اساس د نیونې او توقیف لاندې رائي، هغه هم باید په ډېر دقیق شکل وي. او بل دا چې هغه ته یې خاص حالات وضعه کړی چې د دغه حالاتو په صورت کې توقیف امکان لري، او که دغه حالات تحقق پیدا نه کړي باید څوک تر توقیف لاندې رانه شي.

پنځم مبحث د سکوت حق:

دغه حق چې د محاکمې د څېړنې په بهیر کې چوپ پاتې شي، د بې ګناهي پر فرضیي ولاړ دی. او پر ګناه د اقرار او په خپل ضد د شاهدۍ ورکولو ته په نه اړ ایستلو د حق یو مهم تضمین دی. د چوپتیا د حق غوره کول چې د خپل ځان د ګرمیدو د منع په نامه هم یادېږي، د عادلانه محاکمې د څرنګوالي جز ګڼل کېږي. دغه حق یوازی په تورن پوری اړه لري. له بلې خوا شاهدان نه شي کولای چې د شهادت له ادا څخه ډډه وکړي. زیاتره حقوقي سیستمونه د احکامو له مخې د محاکمې څخه د مخکې استنطاق په بهیر کې د تورن کس د اعتراف څرګندونې یوازې هغه وخت د هغه ضد کارول کېږي چې د نوموړي له خوا په داوطلبانه توګه وړاندې شي. په واقیعت کې هر هغه څرګندونې چې د تورن څخه په زور اخیستل شوی وي، په محکمه کې د اعتبار وړ نه دی. هغه اعترافات چې د ځوروني د لارې تر لاسه شوې وي دلیلونه لکه د قتل په قضیه کې، د لاش (جسد دمړي) موندل چې درې ډوله اعترافاتو څخه (په زوره اعتراف) ترلاسه شوی وي د تورن په ضد کارول کېږي. او کنه؟ د امریکا حقوقي سیستم (رسمي وني میوه) د اصطلاح په کارولو سره یوه طرحه رامنځته کړه چې دهغه پر بنسټ له دغه شان ترلاسه شوی مېوې څخه هغه اعترافات چې په ناقانونه ډول اخستل شوې وي مجاز نه دی. دغه طرحه په نورو حقوقي سیستمونو کې چې تر یو بریده موضوع د وهلو ټکولو (شکنجه) او داستنطاق دنورو قهرجنو وسیلو پورې اړه لري، هم مراعات کېږي. په هر صورت، پدې هکله د نظر ورته والی نه شته. مګر د مدني او سیاسي حقوقو د میثاق ۱۴مې مادې پدې هکله په خپله یو الزامي تبصره کې ټینګار کوي چې: په قانون کې باید د دې وړاندوینه شوی وایې ، هغه دلیلونه چې د ظالمانه او نا انساني چلند، وهلو او ټکولو(شکنجې) او یا په هر اجباري ډول تر لاسه شوی وي په بشپړه توګه د منلو وړ نه دي. برسیره پر دې که چېرې عدلي مقامات د مظنون یا تورن له سکوت څخه برعکس استنباط وکړي پدې صورت کې هم د شخص د برات ذمې حق متاثره کېږي. د جرم د اثباط دنده د عدلې چارواکو په غاړه ده، او د تورن محکومول د هغه د چوپتیا له مخې برات ذمې د اصل د نقض په توګه شیمرل کیږي. په هیڅ صورت نه شو کولای د تورن چوپتیا د هغه د ګناه ثبوت وګڼو. البته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه تورن چې چوپتیا غوره کوي، د نورو واړو دلپلونو له لارې یې محکوم کړو.

خلاصه دا چې، هر هغه حکم چې د تورن د چوپتیا پر بنسټ د محکومیت د دلیل په توګه پیژندل شوی وي، په ډیرو قضایي سیستمونو کې د سکوت دحق د غوره کولو د اصل د تناقض په توګه شمیرل کیږي. د بې ګناهۍ د حق فرضیه دا غواړي تر څو چې قاضیان مخکې له مخکې قضاوت ونه کړي، دغه حق د نورو رسمي مامورینو په هکله هم صدق کوي، او د هغې معنی دا ده چې عام مقامات په خاصه توګه څارنوالان او عدلي پولیس باید د محکمې د پایلې څخه دمخه تورن د تورن د ګناه او بې ګناهۍ په هکله بیانونه ور نه کړي. د دې معنې دا هم ده چې اړوند څانګې دندې لري تر څو د نورو ټولینزو پیاوړو ګروپونو د خبرو او مطبوعاتو مخه ونیسي، تر څو د ممکنه تټبجو په هکله د هغوی د نظریاتو بیان د یوې قضیې په پایله اغیز ونه لري.

اما که چېرې مقامات، عوام خلک د جنایي څېړنو څخه خبر کړي او د هغې په ترڅ کې د تورن نوم افشاء کړي، او یوازې دومره ووایي چې: یو متهم ونیول شو، یا یې اقرار وکړ. دغه اقرار د بې ګناهۍ د فرضیې څخه سرغړاوې نه شمیرل کیږي، پدې شرط چې ونه وییل شي چې تورن ګنهګار دی. څرنګه چې پدې هکله ډېر زیات توضیحات شته، مونږ نور توضیحات نه وکوو. او په همدغه بحث باندې اکتفا کوو او مونږ پدې هکله دلته د قوانینو اړونده احکامو دلته ذکر کوو.

اړوند حکمونه:

د افغانستان د اساسي قانون ۲۹مه ماده: د انسان تعذیب منع دی، هیڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب نیونې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وي د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي، او یا یې د تعذیب امر وکړي. د انساني کرامت مخالفې جزا ټاکل منع دي.

د افغانستان د اساسي قانون ۳۰مه ماده: له متهم یا بل شخص څخه په زوره تر لاسه شوی څرګندونې، اقرار یا شهادت اعتبار نه لري.

په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وایي چې په بشپړه خوښه یې د عقلي روغتیا په حالت کې یې د باصلاحیته محکمې پر وړاندې کړی وي.

د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون ۵مه ماده: مظنون او تورن حق لري چې سکوت اختیار کړي، او د هر ډول بیان له اظهارولو څخه ډډه وکړي، اګر چې د پولیسو یا قضایي مقاماتو پوښتنې لاندې راشي.

۷. پولیس، څارنوال، او محکمه مکلف دی چې مظنون او تورن ته د نیول کېدو په وخت کې او له استنطاق دمخه د سکوت د حق په ټولو مراحلو کې د مدافع وکیل د ټاکلو د حق، د تفتیشي په وخت کې د حاضریدو حق، د صف درېدلو لارې د مجرمینو د پېژندنې مقررات د اصل خبره په واسطه د کتنو (معایناتو) او محاکمې په هکله څرګند معلومت ورکړي.

د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون ۷مه ماده:- هغه دلایل او شواهد چې د قانون د حکمونو په پام کې نیولو پرته راټول شوي وي داعتبار وړ نه دي. محکمه نه شي کولای د هغو په استناد حکم وکړي.

د محاکمې لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون ۵۳مه ماده:

۳. په قضایي جلسه کې په قضیې غور کول، د لاندې مراتبو په رعایتولو سره صورت مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. په هغه صورت کې چه تورن ونه غواړي خپل د سکوت له حق څخه استفاده وکړی، کولای شي لازم توضیحات وړاندی کړي. تورن او مدافع وکیل کولای شی شاهدان او اهل خبره وپوښتي.

۵. محکمه په ټولو حالاتو کې کولای شي په قضایي جلسو کې له شاهدانو او تورن څخه پوښتنه وکړي او عندالاقتضا هغوی ته د نظریو په مقابله کې امر وکړي.

۶. تورن کولای شي د سکوت د حق پر بنسټ د محکمې پوښتنو ته ځواب ور نه کړي.

د مخدره موادو پر ضد د مبارزې قانون ۵۰مه ماده: د قضایي ضبط مراجع کولای شي د قضا نسبت له اړوندو مراجعو څخه د اجازې په تر لاسه کولو سره په دې ماده کې له درج شوو تعقیبي تخنیکونو څخه ګټه واخلي.

۳. پټ همکاران نه شې کولای د قضایي ضبط د مراجعو څخه د مخه د اجازې اخیستلو پرته د جرمي تحقیقاتو په غرض د مخدره موادو د قاچاق په جرمونو کې ګډون وکړي. هغه پټ همکاران چه د مسئولو مراجعو د لارښود پرضد د سر غړونې مرتکب شي یا په هغوی کې ګډون وکړي د خپل هر ډول ارتکابي جرم پر وړاندې، د قانون د حکمونو مطابق تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

۴. د معلوماتو تر لاسه کول یا جرمونو کې د ګډون کولو په غرض پټو همکارانو ته داجازې ورکول، په لیکلي توګه له قانوني واکمنو مقاماتو څخه صورت مومي او تثبیتېږي.

په دې رابطه چې د پټ همکار نوم افشا کېدل هغه ته د خطر موجب کېږي. یا دا چې د قانوني تحقیقاتو بهیر د خطر سره مخامخ کوي د معقولو دلایلو موجودیت په صورت کې د هویت په افشا کېدو چې اړوند حکم دې پټ وساتل شي او د تحقیقاتو د پای ته رسېدو تر وخته یا د محکمې د وروستي حکم تر صادرېدو پورې دي بل شخص ته افشا نه شي او په تحقیقاتو کې استعمال شوې لارې چارې، وسایل او تخنیکونه هم پټ ساتل کېږي.

۶. پټ همکاران کولای شي چې په محکمه کې شهادت ادا کړي.

۷. هغه شواهدو او مدرکونو چې د پټې لارې په موقته توګه لاسته رائي، د کشف، تحقیق، او د محاکمې په ټولو اجراتو کې د اعتبار وړ دي.

۸. پټ همکاران د هغې خاصې کړنلارې مطابق چې د کورنیو چارو وزارت له خوا وضع کیږي استخدامېږي.

د مدني او سیاسي حقوقو د بین المللي میثاق ۱۴مه ماده: ۳. هر شخص حق لري د تحقیقاتو په بهیر کې هر ډول تور چې دهغه په بنسټ شتون ولري د لاندېنیو حد اقلو تضمینونو څخه په بشپړه برابرۍ سره برخمن کېدای شي:

(ز) مجبور دې نه کړای شي چې تورن په خپل ضد شهادت ورکړي یا په خپل جرم اعتراف وکړي.

غواړم هغه ستونزه چې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د قانون د ۵۰ می مادې په اساس د سکوت د حق دغوره کولو په هکله رامنځ ته کېږي رڼا واچوم.

پټ همکار معمولاً مظنون یا خپل ارتباطي شخص ته په دې هکله چې د قانون د پلي کوونکو ادارو سره کار کوي، او خپل اطلاعات ټولوي خبر نه ورکوي. نو کله چې هغه دوی د سکوت د حق له غوره کولو هم بې برخې ساتي. یا دا چې پټ همکارن شاهدي ورکولی شي، او هم د هغه له خوا لاسته راغلي مدرکونه په ټولو پراونو کې د جزایي دعوې قابل د اعتبار دي، چې په دې توګه مخفي همکار څخه ګټه اخیستنه د سکوت، د حق په هکله له ستونزو څخه خالي نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم مبحث د ترجمان یا ژباړن د لرلو حق:

هر څوک چې د مقاماتو په ژبه نه پوهیږي او په هغه ژبه خبرې نه شی کولای، حق لري چې ژباړن ولري. چې له نیونې وروسته په حقوقي پړاو کې او د اړتیا په صورت کې په وړیا توګه مرسته ورسره وکړي. نو هغه کسان چې توقیف کې دي او لا تراوسه محکمې ته نه دي راوستل شوي دوی حق لري چې د ژباړن د مرستې او د اړتیا په حالت کې په وړیا توګه د حکومت سره له تماس، د دفاعي ترتیب لپاره له حقوقي سلاکارانو سره د اړیکو په ګډون برخمن شي. چې په دې هکله د افغانستان د اساسي قانون ۱۳۵ماده داسې صراحت لري: [که د دعوې لوری په هغه ژبه چې محکمه پرې کېږي و نه پوهیږي، د قضیې پر موادو او اسنادو د اطلاع او په محکمه کې په خپله مورنۍ ژبه د خبر ورکولو حق د ترجمان په وسیله ورته تامینېږي]

چې دغه موضوع د ماشومانو د سرغړونې رسیده ګی قانون هم تائیدوي او په ۲۲ ماده کې داسې صراحت لري.

۲۲ مه ماده: ۱- ماشوم د تحقیق او محاکمې په ټولو پړاوونو کې د مدافع وکیل د لرلو او د ژباړونکي د استخدامولو په هکله اطفال د والدینو یا دهغه د قانوني ممثل د مالې توان د نه لرلو په صورت کې د ماشومانو اختصاصي محاکمه د دولت په لګښت ماشوم ته مدافع وکیل یا ژباړونکی مؤظف کوي.

همدارنګه د جزایي اجراتو موقت قانون په دې هکله توضیحات لري:

د نوموړي قانون په شلمه ماده کې د ژباړونکي موضوع په ډېر صراحت سره ذکر شوې ده.

۲۰ ماده: که چېرې مظنون یا تورن د تحقیقاتو یا د محاکمې د استفادې وړ ژبې سره اشنایي و نه لري یا کوږ او ګونګ وي د هغوي لپاره ترجمان ټاکل کېږي تر څو د هغوی جرم او ادعا څخه چې ورباندې شوي دي خبر شي، او همدارنګه د استنطاق او مقابلې په بهیر کې له هغوی سره مرسته وکړي.

همدارنګه د ترجمان او ژباړونکي موضوع دمدني اوسیاسي حقوقو دنړیوال کمیسون د ۱۴ مادې د درېیمې فقرې په لومړي بند کې هم ذکر شوې ده او دا د عدالت او منطق تقاضا هم ده چې کوم اتهام ته منسوب شوې د هغې څخه باید خبر شي او که چېرې خبر نه شي نو هغه نه شي کولای چې د خپل ځان څخه کافي او مناسبه دفاع وکولای شي او هر وخت چې د ځان څخه د کافي او مناسبې دفاع زمینه برابره نه شي عادلانه محکمه منځ ته نه شي راتللای نو د همدې له مخې مونږ دا وایو چې د ترجمان او ژباړونکي لرل د مظنون او متهم لپاره د ډېرو مهمو او عمد ه حقوقو څخه ګڼل کېږي.

د پورته ذکر شوو حقوقو تر څنګ ځینې نور حقوق هم شتون لري چې د جزایي دعوې په جریان کې باید مراعات شي او مونږ دلته دهغوی نومونه اخلو او توضیحات په راتلونکې برخو کې ورکوو.

نومونه یې په لاندې ډول سره ذکر کوو:

د اتهام او دهغې د دلایلو څخه دخبرېدو حق دتحقیق او محاکمو په مراحلو کې د حضور حق د شاهدانو څخه دپوښتنې کولو حق، دافهام او تفهیم یعنې د نیولو سره سم مظنون باید دنیولو دعلت او موضوع څخه خبر شي دانساني کرامت دساتنې حق، متهم حق لري چې د ټاکلې مودې په داخل کې ورته جلسه ونیول شي تر څو د نوموړي سرنوشت وټاکل شي. تورن حق لري چې نسبتي دوسیه چې ده ته د کوم جرم نسبت شوی د هغې څخه ځان خبر کړي. دا حق لري چې د هغه شاهدانو لست چې د خپل ځان د بې ګناهۍ په هکله د ده سره همکاري کوي محکمې ته وړاندې کړي. محکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید علني وی، محاکمه باید بې طرفه او خپلواکه وي. تورن حق لري چې د محکمې پر حکم اعتراض وکړي او داسی نور زیات حقوق شتون لري چه ان شاالله په راتلونکو برخو کې په خپلو خاصو ځایونو کې تر بحث لاندې ونیول شي.

تر دې ځایه هغه اصول بیان شو چې د جزایي دعوې په ټولو برخو کې باید مراعات شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويمه برخه

د اتلس کلنۍ نه د کم عمر اشخاصو د جزايي دعوې پروسيجر

په دې برخه کې به مونږ په لاندې موضوعاتو باندې بحث کوو.

۱. مقدماتي فصل (عموميات)

۲. دويم فصل کې دارالتاديب ته د ماشومانو د ورپېژندنې طرز

۳. په درېيم فصل به په دارالتاديب کې د ماشومانو د ساتنې طرز او طريقه.

چه هر يو فصل به جدا جدا وړ او فرعي عنوانونو لرونکی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپیم څپرکی

عمومي معلومات

پدې فصل کې د ماشوم پېژندنه، د ماشوم د سن ټاکل، د ماشوم حقوق او د ماشوم جزایي مسؤلیت په ډېر مختصر ډول تر بحث لاندې نیسو.

لمړی مبحث ماشوم (Child):

د کوچنیانو د حقوقو کنوانسیون چې د ملل متحد سازمان له خوا په (۱۹۷۹ ز) کال کې د نومبر په (۲۰مه) تصویب شوی، او افغانستان هم دغه کنوانسیون په (۱۹۹۴ز) کال کې قبول کړی دی. دا موضوع د دې کنوانسیون په لومړۍ ماده کې داسې صراحت لري.

[هر انسان چې د ۱۸ کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړی، عبارت د ماشوم څخه دی، یا داچې قانون بل ډول پیش بیني کړی وي]

همدا راز د اطفالو لور تر سرغړونې د رسیدګۍ قانون د ۴مې مادې په لومړۍ فقره کې ماشوم داسې تعریف کړی دی: [هغه شخص چې د ۱۸ کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړی ماشوم ګڼل کېږي.]

همدارنګه د ماشومانو د حقوقو ټرون په لومړۍ ماده کې داسې صراحت لري: (د موجوده کنوانسیون له مخې د ۱۸ کالو کم عمر ماشومتوب ګڼل کېږي، غېر د هغې څخه چې هغه د ماشومانو له قوانینو سره سم وړاندې له دې بلوغ ته رسېدلی وي.)امام ابوحنیفه (رح) فرمایي چې: [ماشوم هغه شخص دې چې عمر یې د ۱۸ یا ۱۹ کلنۍ ته نه وي رسیدلی.] امام مالک (رح) وایي چې [د بلوغ سن ۱۸ کلني ده.]

دویم مبحث:

د ماشوم جزایي مسئولیت:

د افغانستان اسلامي جمهوریت د کوچنیانو د سرغړونې د رسیدګۍ قانون په اساس کوچنیان د جزایي مسئولیت له مخې په دری برخو تقسیم شوي دي.

چې په دې هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د کوچنیانو د سرغړونې د رسېدګۍ قانون ۴مه ماده داسې صراحت لري.

۴مه ماده لومړۍ فقره:غیر ممیز ماشومان: هغه ماشومان دي چې د ۷ کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړی غیر ممیز ګڼل کېږي.

۴مه ماده دویمه فقره:-هغه ماشوم چې د ۷ کلنۍ عمر یي نه وي پوره کړی دوی ته هیڅ قسم جزایي مسئولیت نه راجع کېږي، او نه پرې جزایي دعوه اقامه کېږي، او یوائې مدني مسئولیت ورته راجع کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ماده درپیمه فقره:-ممیز ماشوم: ممیز ماشوم هغه شخص دی چې د ۷ کلنۍ عمر یې بشپړ کړی او د ۱۲ کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړی.

۴مه ماده څلور مه فقره:-ځوانکی ماشوم: ځوانکی ماشوم هغه شخص ته ویل کېږي چې د ۱۲ کلنۍ عمر یې بشپړ کړی او د ۱۸ کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړی، خو دهمدې قانون په دوهمه فقره کې داسې صراحت موجود دی.

۵مه ماده لومړۍ فقره:-هغه ماشوم چې د ۱۲ کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړی دقانون او اسلامي شریعت د تخلف په صورت کې جزایي مسئولیت ورته نه راجع کېږي.

۵مه ماده دویمه فقره:

که چېرې ارتکاب شوی تخلف د والدینو د غفلت له کبله وي او د مادي زیان سبب شي، والدین یې په جبرانولو مکلف دي د اروپا په ځینو هېوادونو کې د ماشومانو جزایي مسئولیت داسې تقسیم شوی. د بلوغ نه مخکې دوره د ښځو لپاره د ۱۱ نه تر ۱۲ کلنۍ ټاکل شوی، او د هلکانو لپاره د (۱۳ نه تر ۱۴) کلنۍ ټاکل شوې ده. د بلوغ نه وروسته دوره د ښځو لپاره د ۱۶ کلنۍ نه تر ۱۷ کلنۍ پورې ټاکل شوې ده او دنارینوو لپاره د ۱۸ کلنۍ عمر ټاکل شوی دی.

په انګلستان کې ماشومانو ته د جزایي مسئولیت راجع کېدو سن ۱۰ کلنې ټاکل شوې ده، او د سکاندونیاوي جزیره کې د جزایي مسئولیت ۱۶ کلنې ټاکل شوی دی. او په ځینو نورو اروپایي هېوادونو کې لکه یونان، هالینډ، فرانسه، اتریش، المان، او ایټالیا کې د جزایي مسئولیت سن ۱۴ کلنې ټاکل شوې ده.

خو اسلامي علماوو د جزایي مسئولیت لپاره دوه اساسي عناصر شرط ګڼي: یو عبارت دی دادراک او بل یې عبارت دی داختیار څه چې د زیاتو توضیحاتو څخه صرف نظر کوو.

درپیم مبحث د ماشومانو تادیب:

پلار د خپلو وړو ماشومانو چې بلوغ ته نه وي رسېدلي د تادیب حق لري، معلم او مدرس د شاګردانو تادیب حق لري. او نیکه د هغه ماشومانو چې د ولایت لاندې یې وي، د تادیب حق لري. مور د یوي رایې له مخې د پلار په غیاب کې که د خپلو ماشونو وصیه وي د تادیب حق لري، اما په نورو حالاتو کې د راجیح رایې له مخې د تادیب حق نه لري. اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي او هغه دا چې تر کومې اندازې پورې تادیب جواز لري؟

ځواب: هغه اشخاص چې د ماشومانو د تادیب حق لري، دوی نه شي کولای چې څنګه یې زړه وغواړي همغه قسم ماشوم ووهي، بلکې په لاندې ډول یې وهلی شي.

۱. وهل به غیر شدید وي.
۲. د وهلو په اساس باید د وهل شوي ماشوم پوستکې تور یا شین نه شي.
۳. د وهل شوي ماشوم په بدن باندی نښه پاتې نه شي.
۴. د وهل شوي ماشوم هډوکې مات نه شي.
۵. ماشوم د بدن په خطرناکو اعضاوو باندې ونه وهل شي لکه سر، سینه، ګیډه، تناسلي اله او داسې نور.

څلورم مطلب دماشومانو د حقوقو پېژندنه:

مونږ د دې موضوع د ښه وضاحت لپاره ټول ماشومان په دوه برخو ویشو: یو یې هغه ماشومان دي چې په نارمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکل ژوند کوي، او د قانون څخه يې هيڅ ډول تخلف نه وي تر سره کړی. او بل ډول يې هغه ماشومان دي چې د قانون او اسلامي شريعت څخه يې سرغړونه کړې وي. چې نبه پوهېدلو لپاره جدا، جدا تر مطالعې لاندې نيسو.

لومړی مطلب د هغه ماشومانو حقوق چې د قانون څخه يې تخلف نه وي کړی:

په اسلامي شريعت کې حقوق د بشر د تولد او پيدايښت پورې مختصر نه دي بلکې د دې حقوقو لمن دومره پراخه ده چې دځکمې کړې ته دراتګ نه مخکې دځمکې، کړې ته دراتګ په دوران کې، او همدارنګه د مرګ نه وروسته مرحله هم په بر کې نيسي. چې مونږ او تاسی يې په لاندې ډول يوائې نومونه ذکر کوو، او د زياتو توضيحاتو څه يې صرف نظر کوو.

اول: دتولد نه مخکې حقونه دلته ذکر کوو:

د حاملې نبځې لپاره د روژې معاف کېدل، د حاملې نبځې لپاره د حدود تاخيرول، (جنين ديت)

دويم: د تولد څخه وروسته د بشر حقوقو نومونه په لاندې ډول ذکر کوو:

نوم ايښودل، عقيقه، ختنه، او د سر د ويښتانو خريل، د ماشوم د سقط او وژنې څخه ډډه، د حضانت (دځارنې او ساتنې حق) نفقه، لباس، مسکن، سرسايه، مينه او ترحم، تعليم او تربيه، بدني او صحي حقوق، د علاج او تداوی حقوق، د پاکی او نظافت حقوق، د لوبو او تفريح حقوق او داسې نور زيات حقوق شته. ولې زمونږ د بحث موضوع د مظنون متهم او محکوم د حقوقو څخه بحث کول دي نو په همدې اساس دغه ذکر شوی حقوق نه تشريح کوو.

دويم مطلب قانون څخه د سر غړوونکو ماشومانو حقوق:

هغه ماشومان چې قانون څخه يې سر غړونه کړې ده مخکې د دې څخه چې د هغه په حقوقو باندې بحث وکړو، بهتره به دا وي چې په لومړي قدم کې سر غړوونکی او سرغړونه وپيژنو.

سر غړوونکی: هغه چا ته ويل کېږي چې په يو داسې عمل باندې لاس پورې کړي چې شريعت يا قانون د هغه ارتکاب منع کړی وي.

سرغړونه:هر د جزا وړ سلوک چې د دولت اړونده قانون يې تايد کړي، او شخص يې په ارتکاب لاس پورې کړي تخلف يا سرغړونه بلل کېږي. کوچنيان د ټولو هغه تضمينونو مستحق دي کوم چې په عادلانه محاکمه کې د لويانو لپاره وضعه شوي دي. او د دغه تضمينونو برسېره کوچنيان د يو لړ نورو ځانګړو خوندیتوبونو او تضمينونو څخه برخمن دي چې مونږ به په دغه ځای کې دهمدغه اضافي خوندیتوبونو څخه په دې پراګراف کې بحث وکړو.

د ماشومانو د حقونو د کنوانسيون د ۴مې مادې (ب جز): په هر وخت چې په ماشوم باندې ادعا وشي ، د قانون څخه يې سرغړونه کړې ده بايد لاندې تضمينونو د خوندیتوبونو څخه برخمن شي.

۱. تر څو چې د قانون سره سم سرغړوونکي ثابت نه شي بې ګناه دی.

۲. د هغه تور څخه سم د لاسه خبر شي چې پرې لګېدلی وي، او که چېرې يې اړين وي د مور او پلار يا قانوني سر پرست له خوا دا خبر تر لاسه کړي.

۳. د دفاعي ترتيب لپاره لازم او کافي حقوق او مرسته تر لاسه کړي يعنې دفاع حق يې په نبه توګه تامين شي.

۴. د حقوقو مشورو او اعتراض درلودلو د حق :موضوع بايد بې له ځنډه د يو کفايت درلودونکي مستقل او نا پېيلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قضايي مؤسسې او يا مقام لخوا په يوه عادلانه محکمه کې او له قانون سره سم د حقوق پوه د مرستې په ګډون حل شي، مګر دا فکر وشي د کوچني لوړې ګټې په تېره بيا د عمر، ځانګړي شرايط او يا يې پلار، مور او قانوني سرپرست غوښتنه ونه لري، يعنی(د حقوقي مشورو اواعتراض درلودلو حق).

۵. په خپله خوښه د شاهدۍ او اقرار حق: ماشوم بايد اړ نه شي چې شهادت ورکړي، او يا په ګناه اقرار وکړي خپل، مخالف شاهدان و ازموي او يا دا چې بل څوک يې و ازموي يا دهغه څخه پوښتنه وکړي (په خپله خوښه دشاهدۍ او اقرار حق)

۶. د قانونيت اصل د جرم او جزا ترمنځ د تناسب حق: که فکر وشي چې د جزايي قوانينو څخه يې سر غړونه کړې او د فيصلې يا هر تدبير چې پرې تپل شوی دهغې غور او څېړنه د کفايت درلودنکې او مستقلې او ناپېيلی قضايي مؤسسی له خوا د قانون سره سم تر سره شي.

۷. په قضا کې د مورنۍ ژبې نه د استفادې حق: که کوچنی د کارکوونکو په ژبه پوه نه شي او يا پرې خبرې ونه کړای شی بايد چې د وړيا ژباړنې د مرستی څخه برخمن شي.(په قضا کې د مورنۍ ژبې نه د استفادې حق.)

۸. د پټې محاکمې حق: په ټولو قضايي پړاونو کې دې د هغه خصوصي ژوند په بشپړه توګه رعايت شي، او درناوی دې وشي(دپټې محاکمې حق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی

دارالتادیب ته د مختلفو ماشومانو د معرفۍ طرز

د ماشومانو داصلاح او روزنې مؤسسه یوه اصلاحي، تربیوي او تعلیمي موسسه ده، چې معمولاً شکمن، تورن او محکوم ماشومان چې عمرونه یې د ۱۳ کلنۍ څخه تر ۱۸ کلنۍ پورې وي، د سن او جرایمو په نظر کې نیولو سره هلته ساتل کېږي. چې مونږ یې هم د دوه جلا مطلبونو په ترڅ کې تر مطالعې لاندې نیسو.

لومړی مبحث د کوچنیانو داصلاح او روزنې مرکز ته د معرفۍ طرز د کوچنیانو د عمر له حیثه:

لکه چې مخکې مونږ ولوستل چې ماشومان د جزایي مسئولیت له مخې په درې برخو باندې ویشل شوي دي. ۱ غیر ممیز ماشومان، ۲ ممیز ماشومان، ۳ ځوانکي ماشومان

چې مونږ هم د مطالعې د اسانتیا لپاره دا هر یو جلا، جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

لومړی مطلب: د هغه ماشومانو موقف چې د ۱۲ کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړی:

هر هغه ماشومان چې د دولس کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړی او د قانون څخه سر غړونه وکړي او هغه د پولیسو له خوا ونیول شي، نو پولیس ترېنه ابتدایي تحقیق کوي، او په ۲۴ ساعتو کې باید د دغه ماشوم دوسیه مربوطه مرجع ته چې عبارت له څارنوالۍ څخه ده ورسپاري. او هر وخت چې دغه ماشوم څارنوالۍ ته وسپارل شي، دهغه نه وروسته څارنوالي دغه ماشوم رسماً دار التادیب ته سپاري. هر وخت چې ماشوم دوی ته وسپارل شي هغوی دغه ماشوم د عمر د تثبیت لپاره دعدلي طب ډاکترانو ته سپاري. نو هر وخت چه د ډاکترانو له خوا یې سن وټاکل شي او دولس کلنۍ عمر یې نه وي پوره کړی، په دغه وخت کې ماشوم بېرته مربوطه مرجع ته سپارل کېږي او هغوی یې بېرته خپلو والدینو ته حواله کوي. دا ځکه چې په دې هکله د ماشومانو د سرغړونو د رسیده ګۍ قانون په ۵ مه ماده کې داسې صراحت وجود لري:- هغه شخص چې د دولس کالو عمر یې نه وي بشپړ کړی د قانون څخه تخلف په صورت کې جزایي مسئولیت ورته نه راجع کېږي. نو د همدې مادې د حکم له مخې هغه ماشومان چې د دولس کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړی نه نیول کېږي، نه محاکمه کېږي او نه پرې مجازات تطبیق کیږي. نو ځکه یې مونږ د ظن مرحله، داتهام مرحله او د محکومیت مرحله دلته د بحث لاندې نه نیسو.

دوهم مطلب:

دهغه ماشومانو موقف چې د ۱۲ کلنۍ عمر یې بشپړ کړی او د ۱۸ کلنۍ عمر یې نه وی بشپړ کړی:

نوموړي ماشومان که چېرې د قانون څخه تخلف وکړي، د سرغړوني او نیولو څخه وروسته به یا مظنون یا د متهم او یا هم محکوم وي، چې همدغه درې واړه په جلا، جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی پرګراف: مظنون ماشومان:

د اطفالو د سرغړونې د رسیدګۍ قانون په پینځمه ماده کې مظنون داسې تعریف کړی دی.

مظنون:

[شخص هغه وخت مظنون ګڼل کېږي چې د تحقیق په هره مرحله کې د جرم د ارتکاب نسبت هغه ته ورکول کېږي. د قانون نه د تخلف د ارتکاب په هکله د علني شواهدو د ارتکاب په صورت کې پولیس دا واک لري چې ماشوم په لاندې حالاتو کې ونیسي

ا- د ماشوم د تیښتې د امکان په صورت کې

ب- د جرم د شواهدو او مظنون د منځه تللو د خطر په صورت کې

ت- د نوي جرم د تکرار د خطر په صورت کې

د همدغه قانون ۱۱مه ماده داسې حکم کوي:

۱۱مه ماده: لومړۍ فقره: پولیس مکلف دي چې د ماشوم د نیولو او د هغې د ځارنې په هکله په ۲۴ ساعتو کې د ماشوم قانوني ممثل او د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسینو ته خبر ورکړي. که چېرې خبر ورنه کړي، نو په دې صورت کې مکلف دی، د موضوع لیکلې رپوټ د ځنډ دلایلو په وړاندې کولو سره اړوندې ځارنوالۍ ته روښانه کړي. که چېرې پولیس د دلایلو په وړاندی کولو قادر نه وي، موضوع دعدلي تعقیب وړ ګڼل کېږي.

دوهمه فقره: قانوني ممثل کولای شي د ماشوم د نیولو ځخه بې له ځنډ ه د ضمانت په قید سره دهغه د خوشې کیدو غوښتنه وکړي. پولیس او ځارنوال مکلف دي د ۲۴ ساعتو په موده کې د ماشوم دخوشې کېدو دغوښتنې په هکله خپل تصمیم ونیسي او اعلام یې کړي. د تصمیم نه نیولو په صورت کې قانوني ممثل کولای شی لوړ ځارنوال ته شکایت وکړي.

د دې تر څنګ هغه پاڼې د لازمو معلوماتو لرونکې وي دکشف د نېټې ځخه د ۲۴ ساعتو په موده کې د ماشومانو اختصاصي ځارنوالۍ ته یې د تحقیق د بشپړولو لپاره لېږي. د همدغه قانون ۱۳مه ماده دویمه فقره:

۱۳مه ماده دویمه فقره داسې حکم کوي چې که چېرې د محضر داړوندو لازمو معلوماتو لرونکي پاڼې په ۲۴ ساعتو کې بشپړ نشې، د اطفالو اختصاصي ځارنوال واک لري چې د پولیسو د لیکلې غوښتنې وروسته د پاڼو اولازمو معلوماتو سپارلو موده ۴۸ ساعتو ته تمدید کړي. او همدارنګه ځارنوال واک لري چې ماشوم د هغه قانوني ممثل ته وسپاري.

دا عبارت د هغه کړنو ځخه دي چې پولیس او ځارنوال یې د ماشوم په هکله تر سره کوي یعنې دا د مظنون ماشوم حقوق دی چې پورته په مدلل ډول بیان شول.

دوهم پراګراف:

متهم ماشوم:

په دې ځای کې هم د ټولو نه مهمه او لومړنۍ خبره دا ده چې متهم و پېژنو: د محاکماتو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون پنځمه ماده دویمه فقره کې متهم داسې تعریف شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخص هغه وخت متهم (تورن) ګڼل کېږي چې د څارنوالۍ له خوا د هغه په ضد دعوه اقامه شي.

هر وخت چې د پوليس له خوا ماشوم څارنوالۍ ته وسپارل شي، وروسته بيا د څارنوالۍ له خوا ماشوم رسماً د اطفالو د اصلاح او روزنې مرکز ته سپارل کېږي. د دغه اداري له خوا د هغه متن ټاکل کېږي چې يې د سن د ټاکلو لپاره د عدلي طب ډاکترانو ته لېږل کېږي. هر وخت چې د عدلي طب د ډاکټرانو لخوا سن تعين شي او عمر يې د دولس کلنۍ څخه کم وي پدغه وخت کې دغه ماشوم بېرته څارنوالۍ ته سپاري، او د څارنوالۍ له خوا خپلو والدينو ته سپارل کېږي. او که چېرې عمر يې د دولس کلنۍ څخه پورته وټاکل شي نو ماشوم په دارالتاديب (د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکز) کې ساتل کېږي، او د څارنوالۍ له خوا يې په لومړي قدم کې تحقيق بشپړ کېږي، او د تحقيق د تکميل وروسته د دعوې صورت برابرېږي چې په لاندې ډول يې روښانه کوو:

د تحقيق د بشپړولو موده:

دغه موضوع د اطفالو د سرغړونو د رسيده ګۍ قانون په ۱۲مه ماده کې صراحت لري:

۱۲مه ماده لومړۍ فقره: داطفالو اختصاصي څارنوال مکلف دی د دوسيې د رسېدلو نېټې څخه تحقيق د يوې اونۍ په ترڅ کې بشپړ کړي، په هغه موده کې چې څارنوال تحقيق بشپړ نه کړي، څارنوال مکلف دی، د اړوندې محکمې څخه د نورو درې اونيو لپاره د مودې تمديدول وغواړي.

د اطفالو محکمه مکلفه ده د ۲۴ ساعتو په موده کې خپل تصميم د توقيفولو يا نه توقيفولو په هکله ونيسي.

۱۲مه ماده: دويمه فقره:

ماشوم يا د هغه قانوني ممثل يا د هغه مدافع وکيل کولای شي چې په هر وخت کې د محاکمې څخه دمخه، د توقيف د حکم څخه محکمې ته شکايت وکړي.

او څارنوالي مخکې له دې چې دوسيې ته رسېده ګي وکړي بايد لاندې حالات مطالعه کړي:

۱. دماشوم د رواني وضعې په هکله پلټنه او څېړنه.
۲. د ماشوم د ژوند په هکله پلټنه
۳. د ماشوم د خپل فاميل (کورنۍ) سره د رابطې په هکله پلټنه.
۴. د هغه محيط په هکله پلټنه کوم چې ماشوم په کې ژوند کوي.
۵. د جرم علل او عوامل او همدارنګه د جرم دانګيزې په هکله پلټنه.
۶. د ماشوم د ملګرو په هکله پلټنه.
۷. د ماشوم دوالدينو د موجوديت په هکله پلټنه.
۸. د ماشوم د زکاوت او استعداد په هکله پلټنه.

نو څه وخت چې څارنوال د يوې دوسيې په هکله تحقيق کوي نو بايد پورته ذکر شوي حالات ورته معلوم وي، نو په دې صورت کې کولای شي په ښه طريقه تحقيق تکميل او د ماشوم په مقابل کې د دعوې اقامه وکړي.

کله چې څارنوال د دعوې اقامه وکړه، دغه کار لکه چې مخکې ذکر شو په يوه هفته کې يا دا چې د محکمې څخه نورې درې هفتې وخت وغواړي، د دغه مودې په صورت کې بايد نور دوسيه محکمې ته وسپاري. هر وخت چې دوسيه

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکمې ته وسپارله، محکمه به په هغې د غور او فیصلې څخه وروسته یا هغه محکوم او یا عدم محکوم ګڼي.

درېیم پراګرف محکوم ماشومان:

هر وخت چې د څارنوالۍ له خوا د ماشوم په هکله د دعوې صورت برابر شي او محکمې ته واستول شي، نو قاضي او محاکم بیا په دغه موضوع باندې غور او بحث کوي، او په دې هکله تصمیم نیسي. یعنې پرېکړه کوي که چېرې د ماشوم په حجز حکم وکړي نو وایو چې د ماشوم په محکومیت یې حکم وکړه، او یا یې د ماشوم د خوشې کولو حکم وکړ. د دې لپاره چې دغه موضوع روښانه شي، دلته د اطفالو د سرغړونو د رسیدګۍ د قانون احکام رانقلوو:

۳۰مه ماده لومړۍ فقره: د اطفالو اختصاصي محکمه دوسیه د ور رسېدو د نېټې څخه په درې ورځو کې مطالعه کوي. په هغه صورت کې چې په دوسیه کې نیمګړتیاوې ولیدل شي، هغه د تحقیقاتو د بشپړولو او د نیمګړتیاوو د لرې کولو لپاره د اطفالو اختصاصي څارنوالۍ ته مسترد کوي. څارنوال مکلف دی چې د یوې اونۍ په موده کې د دوسیې نیمګړتیاوې لرې کړي او دوسیه بیا اړوندې محکمې ته وسپاري.

۳۳مه ماده: ۱. د اطفالو د اخصتاصي محکمې قاضیان د ماشوم، شاهدانو قانوني ممثل، څارنوال، مدافع وکیل، د ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي مؤسسو کارکوونکي او د اهل خبروو د نظریو د اورېدلو وروسته خپله فیصله د ماشوم په حضور کې ابلاغوي.

۲. که چېرې محکمې ته ثابته شي چې د توقیف لاندې پر علیه تورونه په ځای (وارد) نه دي، محکمه د هغه په ایله کولو باندې حکم کوي. دغه حکم د مدعي علیه او زیانمن د حق العبدي ادعا خنډ نه ګرځي. څارنوال کولای شي د دغه حکم په علیه د استیناف غوښتنه وکړي.

۳. که چېرې د محاکمې په بهیر د بحث وړ موضوعګاني ماشوم روحاً زیانمن کړي، محکمه د ماشوم په غیاب کې د محاکمې بهیر ته ادامه ورکولای شي، په دې شرط چې د محاکمې لنډ بهیر وروسته هغه ته توضیح کړي. هر وخت چې د محاکمې له خوا یو شخص محکوم وپېژندل شي، او عمر یې د ۱۲ او ۱۶ کلونو تر منځ وي مجازات یې په لاندې ډول دي:

۱. د ماشوم د سرغړونو د رسیدګۍ قانون ۳۹مه ماده لمړۍ فقره داسې حکم کوي:

۱. د هغه ماشوم مجازات چې د ۱۲ کلنۍ سن یې بشپړ او د ۱۶ کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړی، دعین ارتکاب شوي جرم د حد اکثر په درېیمي مجازاتو کې چې د ۱۸ کلو څخه زیاتو اشخاصو لپاره اجرایه قانون کې اټکل شوی وی زیاتیدی نه شي.

د ۳۹مې مادې په دویمه فقره کې داسې صراحت وجود لري:

د هغه ماشوم مجازات چې د ۱۶ کلنۍ عمر یې بشپړ کړی او د ۱۸ کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړی د عین جرم د حد اکثره نیمایي $\frac{1}{2}$ له مجازاتو څخه چې زیاتوو اشخاصو لپاره د جزا په قانون کې اټکل شوی دی زیاتېدلی نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم مبحث دجرم د نوعیت له حیثه:

معمولاً د نوعیت له حیثه ټول جرایم په درې برخو تقسیم شوی دی چې د جنایت، جنحې، او قباحت څخه عبارت دی. چې د ښه پوهېدو لپاره هر یو جلا، جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

لومړی مطلب: د جنایت جرم:

د افغانستان د ۱۳۵۵ ل کال د جزا قانون په ۲۴مه ماده کې جنایت داسې تعریفوي: [جنایت هغه جرم دی چې ارتکاب کوونکی یې په اعدام ، دوام لرونکي یا اوږد حبس محکوم شي.]

د جزا قانون ۷۶مه ماده: که چېرې صغیر د داسې جرم ارتکاب کوونکی شي چې جزایي اعدام یا دوام لرونکی حبس وي، محکمه کولای شي چې د ماشوم په هکله د حجز حکم وکړي، په دې شرط چې موده یې د پنځه کالو څخه زیاته نه وي.

د همدی قانون ۸۴مه ماده داسې حکم کوي: که چېرې مراهق د داسې جنایت ارتکاب کوونکی شي چې جزایي اعدام یا دوام لرونکی حبس وي، محکمه کولای شي چې په دار التادیب کې په حجز چې د دوه کالو څخه کم او د پنځه کالو څخه زیات نه وي محکوم کړي.

۲. که د جنایت جزا اوږد حبس وي، په دارالتادیب کې دحجز مودې کمه اندازه د یو کال څخه کمه او د هغی زیاته اندازه د اوږد حبس د نیمایي زیاتې مودې څخه چې د هغې جنایت لپاره ټاکل شوې وي نه شي زیاتېدای.

۳. که د جنایت زیاته اندازه جزا د لسو کالو څخه کمه وي، محکمه کولای شي چې په دار التادیب کې د یو کال څخه په کمه موده کې د حجز یا د نیمایي زیاتې مودې چې د هغه جنایت لپاره ټاکل شوې وي، حکم وکړي.

دا و د جنایت جزا اندازه خو، جزا د محکمې د نهایي حکم وروسته کېږي. او شخص محکوم ګڼل کېږي، که چېرې د محکمې حکم نه وي متهم ګڼل کېږي، چې د متهم په رابطه مونږ او تاسی په تېر درس کې معلومات مطالعه کړه او دلته ترېنه صرف النظر کوو.

دوهم مطلب: د جنحې جرم:

په دې هکله د جزا قانون داسې صراحت لري.

۲۵ مه ماده، ۱۳۵۵ ل کال قانون جنحه داسې تعریف کړی ده: [جنحه هغه جرم دی چې ارتکاب کونکې یې د ۳ میاشتو څخه زیات او تر پنځه کالو پورې یا د ۳۰۰۰۰ نقدی جریمې څخه په زیاتې نقدې جریمې محکوم شي.]

۷۵مه ماده: که چېرې صغیر د جنحې ارتکاب کوونکی شي، محکمه کولای شي چې د هغه په باره کې د لاندې تدبیرونو څخه د یوه نه استفاده وکړي.

۱. د دې قانون د ۷۴ مې مادې د والدینو څه یو ته یا هغه چا ته چې د هغه په نفس د ولایت حق لري تسلیمول، په دې شرط چې ذکر شوې موده د درې کالو څخه زیاته او د شپږو میاشتو څخه کمه نه وي. تسلیمیدونکی شخص به په لیکلي ډول تعهد کوي، چې په راتلونکي وخت کې به د ماشوم ښه تربیه کوي.

۲. په دار التادیب کې به په یو اصلاحي مدرسه کې د شپږو میاشتو څخه تر درې کالو پورې د هغه د حجز حکم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپیم مطلب: قباحت:د جزا قانون ۲۶مه ماده:

قباحت هغه جرم دی چې مرتکب یې د ۲۴ ساعتو څخه تر دری میاشتو پورې یا نقدي جریمه چه د ۳۰۰۰ افغانیو پورې په نقدي جریمه محکومیږي.]

۷۴مه ماده: که صغیر د قباحت ارتکاب کوونکی وګرځي، محکمه کولای شي چې په دې قانون کې د درج شوو جزاګانو په عوض د قضا په مجلس کې توبیخ کړي یا د هغه د تسلیمېدو په باره کې د والدینو څخه یو ته چې د هغه په نفس کې د ولایت حق لري یا یو امین شخص ته چې په راتلونکې وخت کې دهغې د ښې تربیې متعهد شي حکم وکړي یا دا چې دار التادیب یا په خیریه مؤسسو کې یا په هغه مدرسو کې چې دولت له خوا پدې منظور تا سیس کېږي دهغه د حجز حکم صادر کړي.

۸۲مه ماده: که مراهق د قباحت ارتکاب کوونکی وګرځي، محکمه کولای شي چې هغه د دې قانون په ټاکلې جزا محکوم کړي او یا د والدینو څخه یو ته دهغه دتسلیمېدو یا هغه چاته چې دهغه په نفس د ولایت حق لري یا یو امین شخص ته چې په راتلونکي وخت کې هغه د نسبي رویې تعهد وکړي حکم وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم څپرکی

په دارالتادیب کې د مختلفو ماشومانو د ساتنې طرز او طریقه

ماشومان په انساني ټولنه کې مهمه ونډه لري، او باید چې په اخلاقي، جسماني، معنوي او ټولنیزو نیکمرغیو کې برخه واخلي. ځکه د نن ورځې ماشومانو ته پام کول دي چې دغه ماشومان پراخه برخه جوړوي چې د ملاتړ او پاملرنې له پلوه د مختلفو ارګانونو او نهادونو سره تړلي دي.

خو دلته مونږ د سرغړوونکو ماشومانو څخه بحث کوو. چې د مظنون (تورن) او محکوم تر عنوان لاندې یې د ماشومانو داصلاح او روزنې په مرکز کې ولې ساتل کېږي. نو په کار ده چې درسته او سالمه پالنه یې وشي، تر څو هغوی ټولنې ته ښه فعال او سالم غړي په حیث راوګرځي، چې د دغه هدف لپاره دار التادیب وظیفه سرته رسوي.

مونږ باید د دغه موضوع د ښه پوهېدلو لپاره لاندې عنوانونه مطالعه کړو.

اول مبحث: د دارالتادیب جوړښت او تشکیل:

دغه دواړه عنوانونه جدا، جدا مطالعه کوو.

لمړی مطلب: د دارالتادیب جوړښت:

څرنګه چې دغه مراکز داطفالو داصلاح او روزنې د مرکز په نوم باندې یادېږي، نو باید ښه او مناسب اطاقونه ولري، ښه تشنابونه، او حویلۍ ولري. د حرفوي زده کړو لپاره فوق العاده دستګاوې ولري، د لوبو او تفریح لپاره مجهز میدانونه ولري.

دصحت لپاره مجهز کلینیک، مسلکي او باتجربه ډاکتران، د تدریس لپاره مسلکي او با تجربه استادن درسي مواد، همدارنګه د وعظ او نصیحت لپاره جید علما، همدارنګه د اصولو او ضوابطو سره برابر پرسونل، د ټولو معیارونو سره برابر خواړه، او داسې نور باید وجود ولري. چې په دغه موضوعاتو د څېړنې څخه دلته صرف النظر کوو.

دویم مطلب: د دارلتادیب تشکیل:

د تشکیل له حیثه په عمومي شکل د ماشومانو داصلاح او روزنې مرکز د عدلیې وزارت پورې مربوط ارګان دی چې، په هر ولایت کې باید داسې یو مرکز موجود وي چې تشکیل به یې په لاندې ډول وي. عمومي رئیس، اداري مدیر، د تحریراتو مدیر، د قید او قبول مدیر، د خدماتو مدیر، د محاسبې مدیر، دلیلیې مبصرین، فرهنګې امریت، صحي امریت، بلوک محافظ، اجیران لکه اشپز، تحویلدار، جنسي، موټروانان، تایپست او نور. همدارنګه ډاکتران، نرس، مدرسین، واعظین چې دخپلو مربوطو ارګانونو له خوا ورته را معرفي کېږي، چې هر یو خپل خاص وظایف لري چې دلایحې له مخې یې پرمخ وړي خو مونږ یې دلته د مطالعې څخه صرف نظر کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم مبحث: داوسپدو د ځای له حیثه د سهولتونو برابرول:

د حجز لاندې کوچنیان باید دشپې له خوا په جدا توګه او د ورځې لخوا په ډله ییز ډول وساتل شي. او دغه ډله ییزه اوسپدنه باید د کوچنیانو د عمر او جنس له حیثه، او همدارنګه د جرایمو له حیثه طبقه بندي شي، او د ژوندانه مناسب او بهتره لوازمات ورته برابر شي. نو د همدغه هدف لپاره مونږ او تاسې هم باید دغه موضوع په درې جلا، جلا عنوانو کې مطالعه کړو.

لومړی مطلب په خونو کې دعمر او جنس له حیثه طبقه بندي:

د کوچنیانو د اصلاح او روزنې مقرره چې په (۱۳۷۰ ل) کال د غبرګولې په ۱۵ نېټه تصویب شوې ده، په ۱۸ ماده کې داسې صراحت لري.

۱۸مه ماده: د دارالتادیب موسسه مکلفه ده چې د تر حجز لاندې ښځینه صغیرانې او مراهقې بندیانې د نارینه صغیرانو او مراهقو بندیانو څخه په جلا، جلا خونو کې تر اصلاحي تدبیرونو لاندې ونیول شي.

همدارنګه د (۱۳۸۴ ل) کال د ماشومانو د سرغړونو د رسیدګۍ قانون ۱۲مه ماده کې داسې صراحت وجود لري: نیول شوی مظنون ماشوم په یوه خاص ځای کې په موقت ډول تر توقیف لاندې نیول کېږي، دغه اداره مکلفه ده چې دغه د توقیف لاندې ماشومانو لپاره دهغوی د سن، جنس په نظر کې نیولو سره ورته د ټولنیزو، روزنیزو، حرفوي، روحي او روغتیایي خدمتونو ته دلاس رسي زمینه برابره کړي.

د زندانیانو سن، جنسیت، د جرم نوعیت، تابعیت، د مجازاتو موده، جسماني او رواني وضعه، د شخصیت څرنګوالی او د هغوی د استعدادونو په نظر کې نېولو سره طبقه بندې کېږي.[۳] چې د ښه پوهېدو لپاره مونږ او تاسې باید دعمر او جنس له حیثه جلا، جلا تر مطالعې لاندې ونیسو.

اول جز: دعمر له حیثه طبقه بندي:

دعمر له حیثه کوچنیان په درې برخو باندې ویشل شوي دي.

یو هغه دي چې د ۷ کلنۍ عمر یې بشپړ کړی او د ۱۲ کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړي. دویم هغه دي چې د ۱۲ کلنۍ عمر یې بشپړ کړی او د ۱۶ کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړی. او درېیم هغه دي چې د ۱۶ کلنۍ عمر یې بشپړ کړي، اما د ۱۸ کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړي. چې پدغه کوچنیانو کې هغه کوچنیان چې د ۱۲ کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړي دحجز لاندې نه نیول کېږي.

دویم جز: د جنس له حیثه طبقه بندي:

په قوانینو کې د حجز لاندې ماشوم په دوه برخو باندې طبقه بندي شوي دي، چې نارینه او ښځینه بندیان چې مخکې ورته اشاره وشوه چې د دارالتادیب د مقرری ۱۸ مه ماده مونږ مخکې ذکر کړه.

دویم مطلب: په خونو کې د جرایمو له حیثه طبقه بندي:

په فرانسوي اصطلاح کې criminality (مجرم) هغه چاته وایي چې د جنایت یا جنحې جرم یې اجرا کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدارنګه په دار التاديب کې بايد په الکولو، مخدره موادو معتاد ماشوم د محکوميت د مودې له حيثه يعنې د کمې مودې بنديان او د زياتې مودې بنديان، د اخلاقي جرايمو مرتکبين، د اموالو پر ضد د جرايمو مرتکبين، د اشخاصو په ضد د جرايمو مرتکبين، متکرر مجرمين، او داسې نور مجرمين بايد جلا، جلا وساتل شي.

درپيم مطلب: په خونو کې دلوازماتو له حيثه:

په دارالتاديب کې هر ماشوم بايد دشپې لخوا په انفرادي ډول په داسې اطاق کې چې الماری، د خوب لپاره چپرکټ، توشک ،بالښت، رُجايي، کمپله او همدارنګه اطاق بايد په داسې شکل جوړ شوي وي چې فرش ولري او درنا لپاره دشپې لخوا کافي سهولت ولري. بدرفت او د تشناب صحيح سيستم ولري. لازم ديخنی او ګرمی وسايل او سامان الات ولري. همدارنګه د ورځې له خوا په ډله ييز ډول ژوند کوي، چې په دې برخه کې بايد د درس لپاره مناسب ټولګي ولري. د حرفوي زده کړو لپاره عالي او مدني دستګاوې، د ډوډۍ خوراک لپاره پاکه او روښانه طعام خوري (خوړنځای) ولري تر څو ترېنه د حجز لاندې کوچنيان استفاده وکړي.

د دې تر څنګ نور لازم سامان الات چې د ورځني ژوند ضرورت دی بايد برابر شي چې هغه عبارت دي له:

کتابونه، نشرات، او قرطاسيه لکه کاغذ، پاکت، رنګ، قلم، پنسل، پنسل پاک، پنسل تراش، دغابنونو کريم، برس، البته برس بايد غير فلزي وي، صابون، غير فلزي صابون داني، شامپو، جرابې، زېر پراني، لباس، عينکې، نوک تراش چې چاقو و نه ولري، راديو او داسې نور سامان الات بايد ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم څپرکی

په دارالتادیب کې د ساتل شوو ماشومانو شرایط

د دې موضوع د څېړنې څخه مخکې دا لازمي ده چې د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکز د مقررې ځینې مقررات (مواد) چې د دغه عنوان سره مطابقت لري دلته رانقل کړو او د هغې څخه وروسته په شرایطو باندې په تفصیل سره رڼا واچوو.

داطفالو داصلاح او روزنې د مقررې مواد په لاندې ډول دي:

۲۰مه ماده: د حجز لاندې اطفالو د اعاشې، اباتې، او جامو اندازه د عدلي طب د ډاکترانو د نظریې له مخې تثبیتېږي، او د وزیرانو د شورا د تائید نه وروسته اجرا کېږي.

۲۲مه ماده: ۱ فقره: د دارالتادیب مؤسسه مکلفه ده چې د عامې روغتیا د وزرات په مرسته تر حجز لاندې اطفالو د روغتیا ځارنې په خاطر ټاکلې برنامه ترتیب او تطبیق کړي.

۲مه فقره: د لزوم په صورت کې د تر حجز لاندې کوچنیان د موظف طبیب د تجویز سره سم دعامې روغتیا د وزارت روغتونونو ته د تداوۍ یا بستر کېدو لپاره لېږل کېږي.

۳مه فقره: تداوي د دولت لخوا تر سره کېږي.

۲۳مه ماده: د معارف وزارت مکلف دی چې د زده کړې، ښوونې او بدني روزنې لپاره روزونکي او لوازم د دارالتادیب مؤسسې په واک کې ورکړي.

۲۵مه ماده: د کانونو او صنایع وزارت مکلف دی د حرفوي زده کړې لپاره هر قسم امکانات د دارالتادیب سره مرسته وکړي.

۲۸مه ماده: سره میاشت د خوراک، طبي درملو او د جامو مرسته وکړي.

۳۱مه ماده کې د تفریح هواخورۍ، فراغت او فرهنګي فعالیتونو ذکر دې وشي.

۳۲مه ماده: د کوچنیانو د کار په هکله صراحت لري.[۲]

د پورته موادو د توضیحاتو لپاره لاندې موضوعات په جلا، جلا پراګرافونو کې تر مطالعې لاندې نیسو.

لمړۍ مطلب: د خوراک شرایط: دنن ورځې ماشومان د سبا ورځې لویان دي، او د هېواد راتلونکي په جوړونه کې مهمه ونډه لري. دغه ماشومانو ته پام کول د هېواد راتلونکي ته پام کول دي. د ا په دې معنی چې اطفال په دې مراکزو کې د دې لپاره ساتل کېږي چې د ژوندانه ټولو اړخونو ته يې پاملرنه وشي او په راتلونکي کې د يو سالمه انسان په توګه ټولنې ته وړاندې شي. نو د نورو جوړښتونو تر څنګ باید د دوی خوراکي سیستم هم په منظم ډول ترتیب او تنظیم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنګه چې پوهېږو خواړه د هرانسان لپاره ضروري اړتیا ده، په ټېره بیا ماشوم ته دژوند د دوام، ودې او سلامتیا لپاره ډېر مهم عامل په توګه شېمرل کېږي. خواړه د ماشوم په روحي وضعه هم فوق العاده تاثیر لري، او دا ځکه لومړی بنسټ غذا ده چې ماشوم د مور سره مینه پیداکوي او علاقه ښایي چې بیا وروسته دغه اړیکې بدلون مومي او په روحي او ټولنیزو اړیکو باندې بدلېږي. ۴ دغه ماشومانوته په نمبر سره باید درې وخته غذا ورکړل شي، چې عبارت د سهار، غرمې او شپې څخه دي، چې په دغه غذا کې باید کافي مقدار ویټامینونه، منرالونه، پروټینونه، انرژي او نور مواد موجود وي. همدارنګه د هوا د حالاتو مطابق اوبه او چای او نور مشروبات البته غیر الکولي مشروبات د دوی په اختیار کې ورکړل شي. ۲ د دی تر څنګه باید موسمي میوي هم باید دوی ته برابرې کړای شي. په افغانستان کې د دغه درې وختونو غذا په دې ډول ترتیب شوېده:

د سهار د چای لپاره: ۲۵۰ ګرامه دغنمو ډوډۍ، ۶۰ ګرامه بوره، شین چای او شېدې،

د غرمې لپاره:۲۵۰ ګرامه د غنمو ډوډۍ،۱۵۰ ګرامه غوښه، الوګان، وریجې

دشپې لپاره:۲۵۰ ګرامه ډوډۍ البته دغنمو، موسمي سبزیجات، ۸۰ ګرامه میوه.

دا وو د ماشومانو لپاره د غذا او خوراک پروګرام چې ډېر مختصر ډول مو دلته ذکر کړو.

دویم مطلب: د ښوونې او روزنې شرایط:

ماشومان د ذهني او عقلي خاصیت له امله د ټولنې د حساسو ډلو څخه ګڼل کېږي. وروسته د جذباتو، احساساتو، سیاسي نااړولیو، اقتصادي او ټولنیزو اغزو لاندې راځي، او په پایله کې د قانون څخه سرغړاوی کوي. د تحقیق او کشف ارګانونه او محکمو لخوا د ساتنې، اصلاح، او نوې روزنې په موخه د اطفالو داصلاح او روزنې مرکز ته لېږل کېږي، او دا ځکه چې مبادا د دوی دغه قانون ماتوونه دیو هلاکوونکي ټولنیز مرض بڼه غوره کړي، او نورو ماشومانو او دټولنې نورو افرادو ته خپره نه شي.

او ټولنه د فساد په لور روانه نه کړي. له همدې امله دقانون څخه سر غړوونکو ماشومانو ساتنه او بیا د سره روزنه د دولت دټولو څخه مهم او اساسي دنده ده تر څو نومورې ماشومانو په اصلاح او دوباره روزنه کې هر ډول کوششونه ونه سپموي. نو همدا علت دی چې داطفالو داصلاح او روزنې دمؤسسې تر څنګ دمعارف وزارت او حج اوقافو وزارتونو پدې باندې مکلف کړي دي چې قانوني مواد مونږ مخکې ذکر کړ او په دې ځای کې د تکرار څخه صرف نظر کوو.

درپیم مطلب دروغتیا او صحت شرایط:

په دې اړه د بندیانو سره دچلند د اساس اصولو نهم اصل داسې صراحت لري.

دقانون د انفاذ مامورین(دماشومانو داصلاح او روزنې ریاست) مسئولین او هغه کسانو چې تر حجز لاندې ماشومان د روغتیا ساتنې مسئولیت لري که چېرې بعضې کسان علاج او درملنې ته ضرورت ولري نو نومورې مسئولین باید د ډاکترانو د غوښتلو لپاره سمدلاسه اقدام وکړي او دغه روغتیایي خدمتونه او درملنه باید وړیا وي.

حکومتونو ته په کار دي چې توقیف شوو ته غوره روغتیایي خدمتونه چمتو کړي ځکه هغوی نه شي کولای چې په ډاکترانو او درملو لاس بری شي او دوی باید پرته دتوپېره دحقوقي وضعې پر اساس روغیتایي خدمتونه چمتو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم مطلب دتفریح او هوا خورې شرایط:

لکه څرنګه چې تفریح او هوا خوري د ماشومانو لپاره د خاص ارزښت او اهمیت لرونکي دي، چې د ماشومانو د جسمي او ذهني ودې او انکشاف سبب ګرځي، نو په همدې اساس ماشومانو لپاره خامخا باید دتفریح او هوا خورې زمینه برابره شي. ۱ چې د دغې موضوع د ښه پوهېدلو لپاره ښه به دا وي چې د بشر د حقوقو نړیوال سندونه او د افغانستان د تقنیني سندونو له مخې توضیحات ورکړو.

د ماشومانو د حقوقو د کنوانسیون ۳۰مه ماده داسې صراحت لري: ماشومان د تفریح، هواخورې، لوبو او په فرهنګي فعالیتونو کې د ګډون حق لري. د همدې کنوانسیون په ۳۱مه ماده کې هم د ماشومانو لوبې تفریح او هوا خوري ذکر شوې ده.

د کوچنیانو د حقوقو نړیواله اعلامیه چې په ۱۹۵۹ م کال کې دملګرو ملتونو دسازمان د ټولنیزې غونډې په اووم ټوک داسې راغلي دي.

اووم ټوک: کوچنیان باید د لوبو او تفریح ټولو امکاناتو څخه برخمن شي. یعنې دوی ته باید د اختیاري او وړیا تفریح او هواخورې زمینه برابره شي. اوکوچنیان باید داسې لوبو او تفریح او هوا خورې کې برخه واخلي چې د هغه لوړتیا او ټولنیز فرهنګ په بډاینه کې ور سره مرسته وکړي، او دې ته چمتو شي چې د داسې استعداد څښتن شي چه داخلاقو او ټولنیز مسؤلیت په درک سره د ټولنې یو ګټور غړی وګرځي.

دفرانسې د قوانینو له مخې هم باید ماشومانو ته د ازادۍ، هواخورې او تفریح حق ورکړل شي، او حتی دا غوښتنه چې هغوی ته باید په اجباري ډول د ازادې هوا څخه په استفادې او تفریح لکه چې وایي د دارالتادیب په داخل کې په هغه ساعتونو کې چې حرفوي او درسي صنفونو وخت یې نه وي باید په جبري ډول د ازادې هوا څخه استفاده وکړي او تر کومې اندازې چه امکانات موجود وي باید ماشومانو ته دازادې هوا شرایط برابر کړای شي.

همدارنګه د افغانستان دماشومانو داصلاح او روزنې دمرکز مقرره چې په (۱۳۷۰ ل) کال دغبرګولي په ۱۵ مه نېټه تصویب شوی په ۳۵ مې ماده کې داسې صراحت لري:

۳۵ مه ماده: که چېرې د حجز لاندې ماشومانو د دار التادیب د مؤسسې نظم او انظباط او درس په ټولو کې دکتابتون، او د تفریح په وخت کې په ښه توګه تر سره کړي، باید په لاندې ډول تقدیر شي:

۱ شفاهي ستاینه: د ویاړنې په لوحه کې د نوم لیکنې سره د مناسب سوغات ورکول.

او په ۳۶ مه ماده کې برعکس دی که دغه ماشومان د دارالتادیب نظم په نظر کې ونه نیسي په لاندې ډول تادیبېږي.

۱: شفاهي اخطار

۲: د تفریح څخه بې برخې کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳: په موقت ډول تر یوې اونۍ د خپلوانو سره د ملاقات نه بندول.

که پورتنۍ مادې په نظر کې ونیول شي، نو معلومپرې چې دماشومانو تفریح او هواخوري دومره مهمه ګڼل شوې که په منظم ډول تر سره شي تقدیرپرې او که تخلف وکړي بیا برعکس مجازات ورکول کیږي. چې دغه مجازات بیا د لوبو، تفریح او هوا خورۍ لپاره زمینه مساعده شوی او که نه؟

چې په دې رابطه راته محمد نعیم خان دلیلي مدیر داسې وویل:

پوښتنه: محترم مدیر صاحب! تاسې که د دغه کوچنیانو د هوا خورۍ او تفریح په هکله معلومات راکړئ بهتره به وي؟

ځواب: مور یواځې دشپې د ۱۰ بجو څخه وروسته کوټې بندوو، او سهار یې بېرته خوشې کوو. او کله چې مور دوی د کوټو نه را وباسو بیا د صنف د رسمي وخت نه علاوه دوی ټوله ورځ د ازادې هوا څخه استفاده کوي او زمونږ له خوا په دې کې کوم ممانعت نشته.

پنځم مطلب د ملاقات شرایط:

د حجز لاندې کوچنیانو ملاقات د والدینو، خپلوانو، دوستانو سره دهغوی د تسکین او ارامتیا سبب ګرځي، نو په همدې خاطر کم عمره کوچنیانو لپاره دلیدو سهولت (Facility of meeting) For Juvenile دې برابر کړای شي. هر یو کم عمره ماشوم ته باید په اونۍ کې دوه ځله د دې اجازه ورکړای شي چې د والدینو، خپلوانو، دوستانو او هم د خپل وکیل سره لیدنه او ملاقات وکړي او د خپلو معاملاتو په هکله دهغوی سره خبرې وکړي.

۲ په دې اړه دبشري حقوقو د شکنجې دمنع کنوانسیون داسې لارښوونه کړې ده:

توقیف شوي ماشومان دکورنۍ او خپلوانو سره دلیدنې حق لري.

او په دې رابطه د افغانستان د کوچنیانو د سرغړونو د رسیدګۍ قانون د ۴۹مې مادې په اوله فقره کې داسې صراحت لري:

د دارالتادیب مؤسسه باید د تر عجز لاندې کوچنیانو سره دهغوی دکورنیو دغړو او نږدې خپلوانو دلیدنې، کتنې، لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړي. [۳] همدارنګه دکوچنیانو د اصلاح او روزنې مقرره د ۱۶ مې مادې په ۱۱ بند کې داسې صراحت لري: د دارالتادیب مؤسسه باید د تر حجز لاندې کوچنیانو سره د هغوی دکورنیو دغړو او نږدې خپلوانو د لیدنې کتنې برنامې او دارېکو تامینول ترتیب او تنظیم کړي. [۴]

دا چې د دغه ملاقات وخت به څومره وي؟ په کوم وخت کې به وي؟ څومره کسان ملاقات کولای شي؟ او په کوم ځای کې ملاقات کولای نه شي؟

د دغو پوښتنو ځوابونه واقعاً ډیر ضروري او لازمي دي، ولې زمونږ په قوانینو کې دا موضوع روښانه نه ده. او بل دا چې وخت او د درس موضوع حجم زیاتېږي مونږ ترېنه صرف نظر کوو، او که تاسې غواړئ بهتر معلومات تر لاسه کړئ په دې هکله د (Pakistan prisons rules) کتاب مطالعه کړئ.

شپږم مطلب: نظافت او پاکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپالنې د ټولو تشریفاتو څخه وروسته د محجوزینو د اوسېدو او د خوب ځای د هغوی په سرنوشت کې مهم تاثیر لري. یعنې د محجوزینو لپاره د خوب او د اوسېدو ځای د اصلاح او روزنې همدارنګه د نظم او نسق لپاره زیات تاثیر لري. او دا ځکه چې دیوې خوا نه د خوب او اوسېدو ځای د فکر او ندام ځای دې، او له بلې خوا د فساد او اخلاقي انحرافاتو ځای دې. او هر وخت چې دغه ماشومان کافي، استراحت ونه کړي، خوب او ارام ونه لري ستړی او ستومانه وي، د کار نور ټولو اصلاحي او روزنیزو برنامو داجراء لپاره زمینه نه لري. نو په همدې اساس د اوسېدو او خوب ځای باید په داسې ډول جوړ شي چې تازه هوا او روښنایي ولري، دژوندانه د ټولو ضروریاتو او احتیاجاتو دپوره کولو لپاره مجهز او ضروري لوازمو باندې سمبال وي، او په پاکې او نظافت کې یې زیات دقت وشي. په هره میاشت کې یو ځل دحشراتو ضد دوایاني وشیندل شي، او که چېرې د یوې میاشتې څخه مخکې په کې حشرات ولیدل شي باید د یوې میاشتې نه مخکې پکې د حشراتو ضد دوا وشیندل شي. هر کوچنی باید سهار وختي راپاڅېږي اودس او لمونځ وکړي، او د کار د پیل کېدو څخه مخکې خپل اطاق منظم کړي. همدارنګه هر یو محجوز باید حد اقل په اونۍ کې یو ځل غسل وکړي. چې د دې لپاره منظم او مجهز تشناب او د موسم مطابق ګرمي او یخني اوبه، صابون، شامپو، او د ځان وچولو لپاره پاک وسایل موجود وي. د ویښتانو د اصلاح لپاره سلماني موجود وي، د نوکانو د غوڅولو لپاره بی چاقو او تیغ څخه ښکلی ناخونګیر موجود وي. لباس یې پاک او منظم وي. او بله خبره دا ده چې دغه ماشومان باید په ډول ډول لباس اغوستو باندې مجبور نه کړای شي. د دې تر څنګ نور مهم موضوعات هم شته، لکه د مشروطه ازادۍ موضوعات، د ماشومانو د سرپرستۍ موضوع. ولې مونږ په همدې ځای د دغه موضوع مطالعې ته خاتمه ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپیمه برخه

د جزایي دعوې په ټولو پړاوونو کې د ۱۸ کلنۍ نه د زیات عمر لرونکو اشخاصو حقوق

څرنګه چې په تېرو درسونو کې مونږ دا مطالعه وکړه چې یوه جزایي دعوه درې مراحل سرته رسوي چې عبارت دي دمحاکمې څخه وړاندی مرحله، دمحاکمې مرحله، او د محاکمې څخه وروسته مرحله. اوس مونږ ګورو چې دهغه اشخاصو په هکله چې د ۱۸ کلنۍ عمر یې پوره کړی وي هم دغه درې پړاوونه تر سره کوي چې مونږ او تاسې دمطالعې داسانتیا لپاره په درې جلا، جلا فصلونو کې چې هر یو فصل به دنورو مبحثونو او فرعي عنوانونو لرونکي وي تر مطالعې لاندې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوم څپرکی

د محاکمې څخه مخکې مرحله

له دعوې څخه دمخه مرحله کې تر ټولو لومړني اجرات دپولیسو له خوا تر سره کېږي کله ورسته نورو اجراتو ته اړتیا ولیدل شي نو مخ په وړاندې بیول کېږي مګر که اړتیا ورته ولیدل شی نو اجرات په مختصره توګه تر مطالعې لاندې نیسو.

لمړی مبحث: د جرم د کشف مرحله او د پولیسو اجرات:

د پولیسو په هکله عمومي معلومات:

پولیس یو لرغونی ارګان دی، او د مورخینو په اند هغه مهال چې بشر له کلو او بانډو څخه ښارونو ته مخه کړې نوموړی ارګان هم منځ ته راغلی دی.

د پولیسو ارګان له پیدایښت څخه تر اوسه د تاریخ په ښلا ښلو پراوونو کې ښلا ښل بدلونونه طی کړي دي، چې بالاخره د یوې اوږدې مودې له تېرېدو څخه وروسته یې ننی شکل ځانته غوره کړی ده.

نن ورځ پولیس په یوه ټولنه کې خورا مهم ارګان ګڼل کېږي. چې د خپلو وظایفو د پرمخ بېولو په برخه کې د دسپلینو او قواعدو څخه پیروي کوي.

ملګري ملتونه پولیس هغه تشکیل او جوړښت ګڼي چې د صلحې، عمومي نظم، د افرادو او اشخاصو ژوند او مال ساتي، د جرایمو او نورو مربوطاتو د ساتنې د جرایمو کشف او مخنیوي، د مجرمینو دنیونې او دهغوی د جزایي تعقیب وظیفه په غاړه لري. ۱ زمونږ د هېواد د (۱۳۸۲ ل) کال اساسي قانون پولیس نه دی تعریف کړی مګر وظیفه یې ورته مشخصه کړې ده، چې د جرم له کشف څخه عبارت دی. د جرم کشفونکي پولیسو ته جنایي پولیس یا قضایي پولیس وایي.

زمونږ قوانینو په دې اړه پوره دقت نه دی کړی، چې پولیس د کوم وزارت یا ارګان د تشکیل برخه ده. ځکه که د خپل هېواد قوانینو ته مراجعه وکړو نو را ته معلومه به شي چې په دې هکله ابهام موجود دی، چې په لاندی توګه ور څخه یادونه کېږي. که د پولیسو قانون ته مراجعه وکړو نو د نوموړي قانون ۳ او ۴ ماده، پولیس د کورنیو چارو وزارت د تشکیل جز ګڼي. چې په مرکز کې د داخله وزارت تر رهبرۍ لاندې خپلې دندې سرته رسوي، مګر د محبسونو او توقیف ځایونو قانون ۱۸ ماده بیا د محابسو او توقیف ځایونو ساتونکي پولیس دعدلیې وزارت د تشکیل جز ګڼي. له بل پلوه، د جزایي اجراتو موقت قانون ۲۹ ماده بیا عدلي پولیس د څارنوال د اوامرو تابع ګڼي.

نو په دې توګه واضح شوه چې هر قانون پولیس د ښلو ښلو مراجعو مربوط ګڼي، خو که چېرته دې ابهام ته د حل لاره ولټول شي، نو وبه وایو چې په افغانستان کې پولیس په درې ډوله دي.

الف: امني پولیس:- هغه پولیس دی چې د داخله وزارت د مقرراتو تابع دي، او خپل مقررات او هدایات د داخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزارت څخه تر لاسه کوي.

ب عدلي پوليس:- هغه پوليس دی چې د لوی څارنوال د اوامرو تابع او خپل هدايات له همدې مرجع څخه تر لاسه کوي.

جنايي يا قضايي پوليس: په هر صورت د دې ټولو له جملي څخه زمونږ د بحث موضوع : جنايي يا قضايي پوليس دي، چې دجرم دکشف وظيفه په غاړه لري. نو مونږ هم دخپلې موضوع سره دارتباط له وجې د جرم د کشف په برخه کې د دې ارګان دندې په مختصر ډول تر مطالعې لاندې نيسو.

لمړی مطلب- دپوليسو اجرات :

دمحاکمو لپاره دجزايي اجراتو موقت قانون پوليس مکلفوي چې د عدالت د تامينولو په منظور جرايم کشف، شواهد او اثباتيه دلايل راټول، او مظنون تعقيب کړي.

پدې توګه نومورې قانون عدلي پوليسو ته درې وظايف پېښبيني کړي دي چې مونږ يې هرې وظيفې ته په لنډه توګه اشاره کوو.

لمړی جز- د جرم کشف:

کشف په لغت کې ديو شي لوڅولو، پيدا کولو او د يو شي څخه پرده پورته کولو ته وايي. د حقوق جزاپه اصطلاح کې د جرم کشف د جرم د اثارو اوعلايمو تشخيصولو ته وايي.

دا يو واضح حقيقت دی چې اکثره جرايم له خلکو او عدلي ارګانونو څخه په پټه توګه سرته رسېږي، نو په دې ډول حالاتو کې دې ته ضرورت پېښېږي چې داسې اقدامات تر سره شي تر څو نومورې پټ عمل را څرګند شي بناءً که چېرته عمل را څرګند نه شي واقعي ده چې دهغه بعدي تعقيب به ناممکن شي.

د جرم دکشف دندې په افغانستان کې دجزايي اجراءتو موقت قانون ۲۱ مادې مطابق عدلي پوليسو او دولتي کارکوونکو ته سپارل شوي دي. چې د کورني او بهرني امنيت په ضد جرايمو کې عادي افراد هم په دې مکلف شوي دي ترڅو يادو شوو جرايمو سره د مخامخ کېدو په صورت کې راپور ذيصلاح مقاماتو ته ورکړي.

دجرم دکشف دارګانونو دندې:

دجرم دکشف ټول ارګانونه او په ځانګړي توګه پوليس تر ټولو دمخه بايد د جرم د وقوع څخه معلومات تر لاسه کړي، او له هغه څخه وروسته بايد اجرات تر سره کړي. پوليس نظر د جرمونو د کشف، تحقيق او د تطبيق پر قانونيت يې د څارنوالۍ د څارنې د قانون ۷ مادې ته په لاندې طريقو سره يو جرم کشفولای او د هغه څه معلومات تر لاسه کولای شي.

۱ـ د مجني عليه د شکايت په اساس

۲ـ په مطبوعاتو کې د جرم د پېښېدو څخه د خبر ورکولو په اساس

۳ـ د شخص داعتراف په اساس

۴ـ د ټولنيز، سازمانونو، مؤسسو يا د واکمن شخص د خبر تيا په اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ـ دپولیسو له خوا د مستقیمې خبرتیا په اساس لکه په هغه صورت کې چې دوی خپله د جرم اثار او علایم وګوري.

هر کله چې پولیس د پورته اسبابو څخه د یو په سبب د جرم له وقوع څخه خبرتیا تر لاسه کړي، هغه ثبتوي او د هغې په اړه په مختلفو اقداماتو لاس پورې کوي. یعنې په دې حالت کې پولیس نظر وضعې او حالت ته په مختلفو اعمالو لاس پورې کولای شي. چې په دې برخه کې د دوی اجرات د پولیسو د قانون په نهمه ماده کې موندلای شو، لکه ابلاغ او اخطار، دهویت د تثبیتولو په منظور د اشخاصو درول، د ځای په پرېښودو امر، جلب او احضار، مالي سزا، تر ځارنې لاندې داشخاصو نیول، د اشخاصو،شیانو، او کورونو تالاشي، د شیانو تر ساتنې لاندې نیول او داسی نور.

پولیس پورته اقداماتو څخه هر یو یې د حالاتو سره سم په کار اچوي، مګر د دې ټولو اقداماتو څخه کوم مهم اقدام چې د پولیسو له خوا تر سره کېږي هغه د محل له مشاهدې څخه عبارت دی.

تجربو ښودلې ده چې د محل دقیقه مشاهده د دې سبب شوې چې په ډېر کم وخت کې متعلقه موضوع کشف او اصلي مرتکبین یې مشخص شوي دي. ویل کېږي چې د پېښې ځای، د جرم پروخت کشف، او حقیقت ته د رسېدو لپاره دیوې کیلي حیثیت لري.

جنایي پولیس د محل د لیدنې پر وخت دا رتیا په صورت کې د ټولو هغه نښو او مدارکو په راټولولو لاس پورې کوي کوم چې ممکن د واقعې سره تړاو ولري. د ځای نقشه، یا کرو کي اخلي او په اخره کې خپل ټول اجرات په یو ورقه کې لیکي، چې دمحضر په نوم یادېږي.

دپېښې په ځای کې د موجودو اشخاصو داظهاراتو اورېدل او د شیانو ضبطول هغه کارونه دي چې ممکن پولیس یې سرته ورسوي. په دې مرحله کي پولیس د مظنون څخه د استجواب حق نه لري، صرف کولی شي د ګمان (ظن) لاندې شخص هویت او د پېښې په هکله د هغه نظر په محضر کې درج کولای شي، او کولاي شي چې هغه د نظارت لاندې ونیسي۱.

له یادو شوو اجرا اتو وروسته پولیس حد اکثر باید ۷۲ ساعتو په موده کې یو له دغو درېو لاندې ذکرشوو نتایجو ته ورسېږي:

۱- د جرم عدم کشف:

هر کله چې پولیسو ته د پورتنیو اجراتو د سرته رسېدو څخه وروسته معلومه شي چې جرم نه دی پېښ شوی، نو بعدي اجر ات نه ترسره کوي او خپلو اجرا اتو ته دپای ټکی کېږدي.

۲- د جرم کشف:

که چېرته پولیس تشخیص کړي چې جرم واقع شوی، نو بیا دوهمې مرحلې ته داخلېږي چې هغه د اثباتیه مدارکو راجمع کول دي.۲

خو په دواړو حالاتو کې پولیس نظر د جزایي اجراتو موقت قانون ۳۲ مادې ته د خپلو اجراتو راپور باید پرته له ځنډه ابتدائیه څارنوال ته ورکړي. ۳

دوهم جز- د اثباتیه مدارکو راټولول:

هر کله چې پولیسو ته معلومه شي چې جرم واقع شوی نو بیا د اثبات لپاره مدارک او دلایل راټولوي. پولیس د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثباتیه مدارکو او دلایلو د راټولولو لپاره نظر د یاد شوي قانون ۳۲ مادې ته د خپلو اجراتو راپور باید پرته له ځنډه ابتدائیه څارنوال ته ورکړي.۳

۱- د مظنون شخص د استوګنې د ځای، کور او نورو مربوطاتو تلاشي کول.

۲- د شیانو او اسنادو ضبطول.

۳- د نورو اشخاصو او ځایونو لټول او له هغوی څخه عکس اخیستل.

۴. د مربوطه اجراتو د ترسره کولو لپاره متخصصینو او اهل خبره څخه چې مسلکي وړتیا ولري د مرستې غوښتنه۴.

په لومړۍ شماره کې مونږ د نورور تالاشیو ترڅنګ د کور له تلاشۍ څخه هم یادونه وکړه. په دې باره کې باید و وایو چې که جرم مشهود وي نو قضایي ظبط مامور کولای شي بې له دې چې د محکمې اجازه تر لاسه کړي، د مظنون کورته ور ننوځي او هغه تلاشي کړي. د مشهود جرم تعریف مونږ د جزایي اجر اتو د موقت قانون په ۱۳ ماده کې موندلای شو، نوموړې ماده وایي:

مشهود جرم: عبارت له هغه جرم چې ارتکاب په وخت کې لېدل شوی وي یا د مشهود جرم مرتکب هغه شخص دی چې د جرم د ارتکاب په وخت کې په بالفعل ډول ولیدل شي، یا هغه (مرتکب) نه وروسته وتښتی او بلا فاصله د پولیسو، زیانمن شوی شخص یا نورو اشخاصو له خوا تر تعقیب لاندې ونیول شي.۱

د جزایي اجراتو د قانون مطابق وروسته تلاشي کوونکي ارګانونه مکلف دي چې د یوې میاشتې په دننه کې له محکمې څخه د تلاشۍ د صحت اجازه تر لاسه کړي.۲

د اساسي قانون د ۴۸ مادې له مخې له دې حالت نه پرته پولیس په هیڅ حالت کې نه شي کولای په خپل واک د یو چا کور ته ور ننوځي او هغه تالاشي کړي.۳

مګر که چېرته دې ته ضرورت ولېدل شي چې د یو شخص کور تالاشي شي نو دا کار یوائې د کور د خاوند او یا د محکمې په اجازه تو سره کېدلای شي، خو د دې ډول تلاشۍ لپاره دوه شرطونه ضروري دي چې عبارت دې له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: شکلي شرایط:

په دې معنی چې دا شرایط د اجازې د شکلیاتو پورې اړه لري او په لاندې ډول دي.

۱ـ د تالاشۍ اجازه باید په لیکلې ډول اوسي، نو په شفاهي ډول د چا په اجازه د یو شخص کور تالاشي کول قانوني جواز نه لري.

۲ـ د تالاشۍ اجازه باید د جرم د وقوع څخه وروسته واخیستل شي ځکه تالاشۍ یو تحقیقاتي عمل دي هیڅکله د جرم له وقوع څخه د مخه صورت نه شي نیولای.

۳ـ تلاشۍ اجازه باید د جرم د اثبات لپاره مفید او ګټوره اوسي او د حقیقت په تر لاسه کولو کې مؤثریت ولري له دې پرته د چا کور تلاشۍ کول جواز نه لري.

ب مو ضو عي شرایط:

موضوعي شرایط په لاندې توګه دي:

۱- د تالاشي هدف باید مشخص وي. په هغه صورت کې چې د تالاشۍ محل کور وي، نو باید په دقیق ډول تثبیت شوی وي.

۲- په اجازه نامه کې باید د کور د خاوند بشپړ هویت درج شوی وي.۱

د یادونې وړ ده چې په دې مرحله کې د پولیسو ټول اجرات او له دې څخه پرته د نورو ارګانونو ټول اجرات باید ولیکل شي، او باید د اړوند کسانو امضاء ګانې په کې واخیستل شي. که مظنون یا متهم په امضاء قادر نه وي نو ګوته باید ولګوي، او که دا هم ممکن نه وي نو باید کیفیت په ورقه کې درج او وساتل شي. که چېرته دا اجر ات و نه لیکل شي، نو د جزایي اجرا تو د مؤقت قانون د دوهمې مادې له مخې داسې ګڼل کېږي چې په قضیه کې هیڅ قانوني اقدام نه دی شوی او مؤظف مامور مسؤل ګڼل کېږي.۲

دریم جز- د مظنون تعقیب:

د جرم له کشف څخه وروسته پولیس حق لري چې د اثباتیه مدارکو د راجمع کولو په ضمن کې مظنون تعقیب کړي. یعنې هرکله چې پولیس جرم کشف کړي او یو څه اثباتیه مدارک راټول کړي، نو مظنون تعقیبوي، تر څو هغه پیدا او ځارنوالۍ ته یې تسلیم کړي. همدا رنګه که مظنون پیدا شوی هم وي، پولیس د خپلو اجراتو راپور ځارنوالۍ ته ورکوي.

تبصره- د جرایمو د کشف او تحقیق په جریان کې د پولیسو قانوني مکلفیتونه:

د جرمونو سره مبارزه او د قانون څخه د مخالفو اعمالو مخنیوي په بشري ټولنو کې یو مهم امر ګڼل کېږي. مګر دا مبارزه باید داسې مخ په وړاندې لاړه نه شي چې د یو تخلف د مخنیوي یا له منځه وړلو لپاره په سلګونو نورې بې عدالتي او تخلفات منځ ته راوړي. په دې معنی چې د جرایمو سره باید مبارزه وشي اما په داسې ډول نه چې د دې مبارزې په جریان او د هغې پورې مربوطو چارو کې د دې هدف د تحقیق لپاره اړونده ارګانونه او مؤظف اشخاص په خپله د قانون احکام تر پښو لاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه مکلفیتونه علاوه له هغه مکلفیتونو څخه چې په اساسي قانون کې پیشبیني شوي دي ځینې یې د جزایي اجرا تو په قانون کې هم پیشبیني شوي دي، چې اختصار یې په لاندې توګه بیانېږي:

۱ـ د پولیسو له خوا د ټولو جرمي راپورونو، شکایتونو او خبرتیاوو پر خپل وخت ثبتول.

۲ـ د قانوني میعاد په دننه کې اړوندې څارنوالۍ ته د جرم د وقوع څخه راپور ورکول.

۳ـ د جرم پر وخت کشفول.

۴. جنایي پولیس مکلف دي د شخص له نیولو سره سم هغه له منسوب اتهام او د هغه له دلیل څخه خبر کړي.

۵- پولیس مکلف دي چې مظنون او تورن ته له نیول کېدو سره سم او له استنطاقه دمخه د سکوت د حق، په ټولو مراحلو کې د مدافع وکیل د ټاکلو د حق، د تفتیش په وخت کې د حاضرېدو حق، د صف د درېدو په لارې د مجرمینو د پیژندنې مقرارت، د اهل خبرو په واسطه د کتنو او محاکمې په هکله څرګند معلومات ورکړي.

٦- د قانوني مودې په دننه کې د نیول شوي شخص او د قضیې د اوراقو تسلیمول څارنوال ته.

۷. د تحقیق په جریان کې د مظنون او متهم د ټولو قانوني حقوقو رعایت کول لکه برات الذمه حق، د جرائیمو او.....

پورتني مکلفیتونه د پولیسو ټولو کړنو او اجرا تو ته قانونیت وربښي او هغوی له مسؤلیت څخه خوندی ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم مبحث- د پوليسو د اجراتو پای او د تصميم نيول:

اګر چې په بعضې بسيطو قضاياو کې پوليس بې له دې چې د قضيې اوراق څارنوالۍ ته راجع کړي، خپله تصميم نيسي. د مثال په ډول د پوليسو د قانون د ۱۴ مادې په اساس د ترافيکو پوليس کولای شي چې په هغو حالاتو کې چې د فاعل قصور او فعلې پايلې جزِي وي، او له تعقيب سره يې عامه علاقه وجود نه لري نو د اړونده تقنينی سند مطابق د نقدي جزا په ډول د سرغړوونکي مالي تنبيه ته اقدام کړي۱. مګر دا ډول حالات زمونږ د هېواد په قوانينو کې په نادرو مواردو پيښبينۍ شوي دي.

په همدې ډول د دې بل دليل دا هم کېدای شي چې که چېرته څارنوالي د قضايي قوې جز واوسي نو دا به عادلانه نه وي ځکه په دې حالاتو کې به قضايي قوې دعوه هم کوي، او قضاوت به هم کوي.

نو د همدې پورته دلايلو په اساس څارنوالي د قضائيه قوې جز نه، بلکه د اجرائيه قوې جز ګڼل شوې ده، او د سلسله مراتبو له لحاظه هم د رئيس جمهور پورې تړلې ده.۳

دريم مبحث – د څارنوالۍ اجرات:د څارنوالۍ په هکله عمومي توضيحات:

د هېواد د اساسې قانون ۱۳۴ مادې له مخې، د جرمونو تحقيق او په محکمه کې په متهم باندې د دعوې اقامه د قانون د حکمونو په رعايت سره د څارنوالۍ وظيفه ګڼل شوې ده. څارنوالۍ د اجرائيه قوې يو برخه ده او په خپلو اجراتو کې استقلاليت لري.۱

په دې توګه ويلای شو چې، څارنوالي په افغانستان کې د فرانسې په ډول د اجرائيه قوې جز دی، او په عين حال کې په خپلو وظايفو کې خپلواکي هم لري.۲

په عمومي ډول د څارنوالۍ دنده په ټولنه کې د جرمونو تحقيق او د قانونيت د تطبيق څخه نظارت کول دي. څارنوالي د خپلو دندو په ترسره کولو کې خپلواکه او د هيڅ کومې مرجع تر تاثير لاندې نه ده.

دا يوه منطقي خبره هم ده، چې څارنوالي دې د اجرائيه قوې جز اوسي، او د قضائيه قوې پورې اړه و نه لري. که څه هم کارونه يې د قضايوي کارونو سره شباهت لري. او هغه داسې چې قضائيه قوه درې ډوله دعوو ته رسيده ګي کوي، چې عبارت دي له: مدني دعوې، اداري دعوې، او جزايي دعوې څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړی مطلب – مقدماتي تحقیق:

وروسته له هغې چې مظنون او دوسیه دواړه د پولیسو له لوري څارنوالۍ ته حواله شي، نو څارنوال مقدماتي تحقیق پیل کوي. ابتدائیه تحقیق د یو سلسله فعالیتونو مجموعه ده کوم چې د څارنوال له خوا تر سره کېږي، او هدف ورځخه د جرم د دلایلو، د هغوی ارزیابۍ، د جرم انګیزې او د هغې علت پیدا کول دي. د دې تحقیق په پیل کولو کې څارنوال باید پرته له ځنډ څخه د پولیسو د اجراتو تائیدولو، ردولو یا لغوه کولو تصمیم ونیسي یا له هغوی څخه زیاته توضیح وغواړي.

د څارنوال له خوا د دوسیې د تائیدولو څخه وروسته هغه خپل تحقیق سرته رسوي، او دلایل راټولوي، ترڅو د هغې په اساس په متهم باندې په محکمه کې دعوه اقامه کړي. د تحقیق په دغه مرحله کې له مظنون څخه استنطاق صورت نیسي چې مونږ ورته په لاندې توګه اشاره کوو.

دوهم مطلب- د مظنون څخه استنطاق:

د استنطاق په پیل کې څارنوال مظنون ته د هغه حقوق اعلانوي. نوموړي حقوق مونږ په دوهم فصل کې (د متهم په دفاعي حقوقو ناظر اصول) تر عنوان لاندې لوستي دي دلته يې دبيا ليکلو څخه صرف نظر کوو.

له دې څخه وروسته د جزایي اجراتو د مؤقت قانون ۳۴مه ماده څارنوال مکلفوي چې حد اکثرا د ۴۸ ساعتونو په دننه کې له مظنون څخه په استنطاق پیل وکړي.۱

له مظنون څخه استنطاق د تحقیق څارنوال وظیفه ده. د تحقیق څارنوال د خپل تحقیق په اخره کې یو اتهامنامه جوړوي چې په هغې کې د متهم په هکله خپل نظر درج کوي. د اتهامنامې په هکله معلومات مونږ د جرمونو د کشف، تحقیق او تطبیق پر قانونیت یې د څارنوالۍ د څارنې د قانون په ۳۵مه ماده کې موندلای شو. نوموړې ماده وایي: اتهامنامه له دوه برخو څخه جوړه شوې ده چې یو برخه یې تشریحي برخه او بله برخه یې نتیجه ده. په تشریحي برخه کې د جرم ارتکاب ځای، وخت، د جرم کړنې، طریقه، انګیزه یې، د جرم عواقب او څرنګوالی له مخففه او مشدده حالونو سره، د متضرر په هکله معلومات، د جرم داثبات مدارک او د متهم د مسئولیت ډول، د هغې د دفاع دلیلونه او پر هغه باندې مرتبې نتیجې او د نتیجې په برخه کې د متهم د شخصیت په باره کې معلومات، د اتهام ډول او دهغه قانوني حکم چې د غه جرم يې پېش بيني کړي دي درج کېږي.۲

د تحقیق څارنوال اتهامنامه له لاسلیک وروسته بل څارنوال ته، چې د قضایي تعقیب څارنوالي ده ورسپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپیم مطلب- د څارنوالۍ په اجرات کې د متهم د توقیف معیاد:

څارنوال په خپل صلاحیت یو شخص د ۱۵ ورځو لپاره توقیف کولای شي، او که ضرورت پیښ شي نو د نورو ۱۵ ورځو اجازه د محکمې څخه غواړي. یا په بل عبارت: په هغه صورت کې چې د متهم نیول د پولیسو له خوا ترسره شوي وي، او د څارنوال له خوا تائید شوي وي، یا دتوقیف قرار د څارنوال له خوا صادر شوی وي، نو دا قرار تر ۱۵ ورځو پورې د اعتبار وړ دی، او څارنوال باید د همدې مودې په دننه کې خپله صورت دعوه محکمې ته وړاندې کړي. مګر دا چې څارنوال د وخت غوښتنې په اساس نوموړې موده د محکمې له خوا د ۱۵ نورو ورځو لپاره تمدید کړي.

که چېرته د ورستېو ۱۵ ورځو په دننه کې یعنې، اکثر د (۳۰) ورځو په دننه کې څارنوال خپله صورت دعوه محکمې ته وړاندې نه کړي نو متهم خوشی کېږي.۲

څلورم مطلب – د څارنوال امتناع:

د جزایي څېړنې په بهیر کې ځینې داسې حالات رامنځ ته کېږي، چې څارنوال په داسې حالاتو کې نه باید قانوناً او اخلاقاً د قضیې څېړنې ته ادامه ورکړي. یا په بل عبارت په دې ډول حالاتو کې د تحقیق مخ پر وړاندې بېول بې له شکه د جزایي اجراتو او جنایي عدالت په مشروعیت باندې تاثیر غورځوي. د مثال په توګه که چېرته د څېړنې لاندې قضیه کې څارنوال مستقیماً ذي النفعه وي، نو که په دې صورت کې د همدې څارنوال له خوا د تحقیق چاری پرمخ ولاړ شي نو د اجراتو په قانونیت او بې طرفۍ باندې اغیزه درلودلای شي۳. نو په همدې خاطر په دې ډول حالاتو کې قانون څارنوال ته اجازه ورکړي تر څو د قضیې له رسېده ګې څخه ځان وژغوري او یا هم مظنون د هغه څارنوال د رد غوښتنه وکړي. دغه حالات د جزایي اجراتو د مؤقت قانون په لسمه ماده کې پیشبینی شوی چې په لاندې ډول دی:

۱. ابتدائیه څارنوال د موجه د لایلو د شته والي په صورت کې کولای شي د مافوق څارنوال څخه وغواړي تر څو یې د قضیې له تحقیق څخه معذور وشمېري.

۲. مظنون هم حق لري د موجه دلایلو د شته والي په صورت کې په تحقیق کوونکي ابتدائیه څارنوال اعتراض وکړي او د هغي قضیې په اړه د دې څارنوال تحقیقي واک ګوښه کړي، په هغه صورت کې چې د اعتراض کوونکي دلایل د مافوق څارنوال له خوا ومنل شي، نو دغه څارنوال ګوښه او په عوض یې بل څارنوال تعینېږي.

که څه هم د څارنوال د امتناع موارد په قانون کې صراحتاً نه دی پیش بیني شوي، مګر د قانون اجمالي مرور څخه پوهېږو چې دغه موارد په لاندې ډول دي:

۱- په هغه صورت کې چې ارتکاب شوی جرم د څارنوال یا د هغه د خپلوانو په ضد ترسره شوی وي.

۲- په هغه صورت کې چې ارتکاب شوی جرم د څارنوال د قضایي ظبط مامور، شاهد، اهل خبره یا مدافع وکیل په توګه په قضیه کې دخالت کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم مطلب: د تحقیق په جریان کې د څارنوال له خوا لازم الرعایه اصول:

څارنوال د تحقیق په جریان کې د یو لړ قواعدو په تر سره کولو مکلف دی، نوموړی قواعد په لاندې ډول دي:

لمړی جز – د برات الذمې د اصل رعایت:

نه یوائې دا چې د تحقیق په جریان کې څارنوال باید متهم سره د یو ګناهګار شخص په څېر چال چلند و نه کړي او خپل ټول اجرات باید د همدې اصل په رعایتولو سره مخ په وړاندې بوځي، بلکې څارنوال مکلف دی چې د تحقیق په جریان کې خپل ټول اجرات باید د همدې اصل په رعایتولو سره عیار کړي او داسې وګڼي چې ګویا د ده په مقابل کې یو بې ګناه شخص قرار لري. ۳

دوهم جز_ د شکنجې د ممانعت اصل:

د شکنجې تعریف په وړاندنیو ورقو کې ذکر شوی دی، دلته یوائې دومره وایو چې: مظنون او متهم باید د هیڅ ډول جسمي او روحي فشار لاندې رانه وستل شي. ځکه د اساسي قانون ۲۹مه ماده وائي چې: [دانسان تعذیب منع دی او هېڅوک نه شي کولای چې د متهم څخه حتی چې له بل شخص څخه د حقایقو تر لاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یا توقیف لاندې وي یا په جزا محکوم وي د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا یې د تعذیب امر ورکړي.]

په دې توګه ویلای شو که له متهم څخه په زور او شکنجې سره اسناد او مدارک لاس ته راوړل شي، یا اعتراف ته مجبوره شي دا ټول د اعتبار وړ نه دي. په دې اړه د اساسي قانون ۳۰مه ماده دا رنګه صراحت لري: [د متهم یا بل شخص څخه په زوره تر لاسه شوې څرګندونې، اقرار یا شهادت اعتبار نه لري. په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وایي چې په بشپړه خوښه یې د باصلاحیته محکمې په وړاندې کړی وي.]

درېیم جز- د څارنوال د اجراتو د قانونیت اصل:

که څه هم د جزایي اجراتو مؤقت قانون ۳۷مې مادې، څارنوال د جرم د اسبابو او دلایلو په را ټولولو کې ازاد ګڼلي او د خاصو شکایاتو او بندیزونو تابع نه دي؛ ۳ مګر له دې څخه باید داسې نتیجه وانه خیستل شي چې څارنوال د هیڅ ډول بندیزونو تابع نه دی. د څارنوالۍ اجرات په مجموع کې له دوه برخو څخه جوړ شوي دي چې یوه یې قانوني برخه او بله یې تخنیکي برخه ده.

د اجراتو په قانوني برخه کې، څارنوال کاملاً د قانون د احکامو تابع دی. مثلاً څارنوال مکلف دی د استنطاق څخه د مخه مظنون ته دهغه د ټول حقوقو په هکله څرګند معلومات ورکړي. یا دا چې که څارنوال د قانون نصوص تر پښو لاندې کړي، نو د هغه اجرات ټول بې اعتباره دي، او په هغوی استناد هم نه شې کېدای. مګر په تخنیکي برخه کې څارنوال په بندیزونو کې را ګډول د تحقیقاتو په مخ کې خنډونه رامنځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مثال په ډول څارنوال باید په دې مکلف نه شي چې په هره قضیه کې لس پوښتنې مطرح کړي یا دا چې څارنوال باید د پېښې ځای حتماً د ورځې په ۱۲ بجو مشاهده کړي یا د هغه محضر څارنوال یې ترتیبوي حتماً باید له دووه ورقو څخه تجاوز و نه کړي یا داسې نور مثالونه.

که څه هم په دې مواردو کې څارنوال هم باید ټول علمي او منطقي اساسات په پام کې ونیسي مګر په همدې برخه کې کوم خاص قیودات وجود نه لري.۱

پردې برسیره څارنوال د تحقیق په جریان کې یوائې د الزام د دلایلو په جمع کولو مکلف نه دی، بلکې هغه مکلف دی تر څو د متهم په نفع دلایل هم را ټول او په صورت دعوه کې یې ذکر کړي.

څلورم جز_ د تحقیق پای:

د تحقیق په پای کې څارنوال له لاندې دوه اقداماتو څخه د یوه په تر لاسه کولو لاس پورې کوي.

۱- د دوسیې حفظول.

۲- محکمې ته د دوسیې احاله کول چې په هر یو یې لنډه رڼا اچوو.

۱- د دوسیې حفظول:

د جزایي اجراتو د مؤقت قانون د ۳۹مې مادې له مخې که د تحقیقاتو په پایله کې څارنوال تشخیص کړي، چې دوسیه اهمیت نه لري، او باید حفظ شي. نو د څارنوال دغه اقدام د لسو ورځو په دننه کې د مجنی علیه او یا هم دپورتني څارنوال له خوا د اعتراض لاندې راتلای شي. اعتراض محکمې ته وړاندې کېږي محکمه کولای شي د دوسیې له غور څخه وروسته یا د څارنوال تصمیم تائید او یا هم بر عکس له هغه د څارنوالۍ څخه د صورت دعوې غوښتنه وکړي. ۲

د څارنوال له خوا د دوسیې د حفظولو حالات مونږ د جرمونو د کشف، تحقیق او د تطبیق پر قانونیت یې د څارنوالۍ د څارنې قانون په ۳۸مه ماده کې پیدا کولای شو.

نومورې ماده پورتني حالات په لاندې توګه راپه ګوته کوي:

۱- په هغه صورت کې چې جرم نه وي پېښ شوی.

۲- په هغه صورت کې چې ارتکاب شوی عمل د جرمي عنصر لرونکی نه وي.

۳- د مرور زمان په صورت کې.

۴- د عمومي او خصوصي عفوې په صورت کې.

۵- په هغه صورت کې چې شخص د جرم ارتکاب په وخت کې د سن له لحاظه د جزایي مسؤلیت لرونکی نه وي.

٦- د متهم او متضرر تر منځ د مصالحې او روغې جوړې په صورت کې، د هغه احوالو په دننه کې چې په قانون کې پیش بینې شوی وي.

۷- په هغه صورت کې چې د جزایي دعوې تحریک د متضرر شخص د شکایت پورې اړه ولري (لکه د قذف په جرم کې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- د متهم د مړینې په صورت کې.
۹- په هغه صورت کې چې دغه شخص مخکې د عین جرم په اتهام محکمه شوی وي او د محکمې حکم نافذ شوی وي.
۱۰- په هغه صورت کې چې په متهم باندې الزام او اتهام کافي دلایل وجود و نه لري.
۱۱- د جزا د قانون د ۴۷۶ مادې په احوالو کې
۱۲ په هغه مواردو کې چې د فاعل قصور جزي وي او له عدلي تعقیب سره یې عامه علاقه موجوده نه وي ۱

ب: ذیصلاح محکمې ته د قضیې د اوراقو احاله کول:

د جزایي اجراتو د مؤقت قانون د ۳۹مي مادې له مخې هر کله چې د الزام او اتهام لپاره موجِه او کافي دلایل وجود ولري، څارنوال باید ادعانامه محکمې ته وړاندې کړي او له محکمې څخه د شخص د جرمي مسؤلیت د غوره کولو غوښتنه وکړي.۱

صورت دعوه یا ادعانامه د قضایي تعقیب د څارنوال له خوا چمتو کېږي، او په عمومي ډول درې برخې لري: په لمړۍ برخه کې د متهم پیژندنه، د مدعي العموم پیژندنه، د متهم سرنوشت او اداري جریان (نومونې دوسیه یې له کومې مرجع څخه تر لاسه کړې ده) ذکر کېږي.

د صورت دعوې په دوهمه برخه کې، د جرم کیفیت او نوعیت، د جرم ځای او وخت، مخفه او مشدد حالتونه، د متهم په نفع دلایل، داتهام دلایل او اثباتیه مدارک ذکر کېږي.

اثباتیه مدارک د جزایي اجراتو د مؤ قت قانون په ۳۷مه ماده کې پیشبیني شوي ده چې په لاندې ډول دي، او دا دلایل په ترتیب سره له پورته څخه ښکته خواته کمزوري کېږي.

۱- شهود.
۲- د شهودو مقابله
۳- د صف د لارې د مجرمینو پېژندنه (Line up)
۴- د محل تفتیش
۵- تالاشي
۶- ظبط
۷- تخصصي معاینات
۸- استنطاق۱

د صورت دعوه درپیمه برخه د جرم د ماهیت په پام کې نیولو سره د هغه قانون نوم او مواد ذکر کېږي کومو چې مورد نظر جرمي عمل پیشبیني شوې ده، او له ترتیب نیولو وروسته ذیصلاح محکمې ته د یو رسمي مکتوب پواسطه استول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم څپرکی

د محاکمې پرله پسې پراو

د قضایه قوې په هکله عمومي معلومات:

مخکې له دې چې خپلې موضوع ته داخل شو، لازم بولم چې د قضایه قوې په هکله عمومي معلومات وړاندې کړم.

دا یو واضح حقیقت دی چې په یوه ټولنه کې هغه وخت امنیت او ارامي راتلای شي چې هلته عدالت موجود وي، او د بل چا په حق باندې تعرض او تجاوز موجود نه وي. او که چېرته څوک د چا په حق باندې تعرض وکړي یا دا چې څوک داسې عمل اجرا کړي چې له هغې څخه د جامعې نظم او امنیت ته صدمه ورسوي نو داسې خلک باید د خپلو اعمالو په سزا ورسول شي. نو د همدې هدف لپاره په هره ټولنه کې یو داسې ارګان ته ضرورت دی چې عدالت تطبیق کړي او حق د هغه خاوند ته وسپاري. دا ارګان عبارت دی له قضا څخه، چې په ننی نړۍ کې یې د یوې خپلواکې قوې په توګه تبارز کړی دی.

قضائیه قوه په افغانستان کې له سترې محکمې، داستیناف محکمې، او ابتدائیه محکمو څخه ترکیب شوې ده، چې په راس کې یې ستره محکمه د عالي ترین قضایي ارګان په توګه قرار لري. ستره محکمه له ۹ غړو څخه جوړه شوې ده چې غړې یې د رئیس جمهور له لوري د ولسي شورا په تائید سره ټاکل کېږي.

ستره محکمه د محاکمو د تشکیلاتو او واک د قانون د ۱۸مې مادې په استناد د عمومي جزا، عامه امنیت، د مدني او عامه حقوقو، د تجارت[2]، د نظامي منسوبینو وظیفوي جرایمو او د کورنې او بهرني امنیت په ضد د جرایمو دیوانونه لري.

د سترې محکمې دندې په اړه د یاد شوي قانون ۲۴ مه ماده دارنګه صراحت لري[3]:

ستره محکمه د اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو بین الدول معاهدو او بین الدول میثاقونو مطابقت او تفسیر، د قضایي امورو تنظیم په برخه کې ملي شورا ته د قوانینو د طرحې وړاندیز، د قانون په چوکاټ کې او د لوی څارنوال په غوښتنه د محاکمو پر وروستیو پرېکړو تجدید نظر، د محاکمو ترمنځ د تنازعاتو حل کول، د قانون په محوطه کې بهرني دولت څخه د مجرمینو د اعادې په برخه کې د تصمیم نیول او د دلایلو بر رسي کول، بهرني دولت ته د افغانستان د اتباعو د تسلیمولو په برخه کې د دلایلو بررسي کول او د تصمیم نیول او په قضایي امورو کې د محاکمو د استعداتو بررسي او هغوی ته د ځواب وړاندې کولو صلاحیتونه لري[4].

په همدې ډول د یاد شوي قانون ۳۱ او ۳۲ ماده له مخې د هېواد په هر ولایت کې د قانون د احکامو مطابق د استیناف یوه محکمه ایجادېږي چې د استیناف محاکم د عمومي جزا دیوان، د عامه امنیت دیوان، د مدني او شخصي احوالو دیوان، د عامه حقوقو دیوان، د تجارت دیوان او د ماشومانو دیوانونه لري[5].

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدارنګه ددې قانون ۴۰ مه ماده وایي چې: د استیناف محاکم په اړونده قضایي حوزو کې د متعددو ابتدائیه محاکمو لرونکې ده چې عبارت د ولایت د مرکز ابتدائیه محکمې، د ماشومانومحکمې د تجارت ابتدائیه محکمې، د ولسوالۍ ابتدائیه محکمې او د شخصي احوالو د ابتدائیه محکمې څخه دي[6].

د ولایاتو د مراکزو د ابتدائیه محکمو تشکیل د سترې محکمې د تشکیل په څېر دی خو دلته صرف د ترافیکو دیوان اضافه دی. نوموړی هر دیوان خاصو جرایمو او منازعاتو ته رسیده ګې کوي. مګر د دې قانون د ۴۸مې مادې مطابق د ولسوالۍ ابتدائیه محکمه بیا هر ډول جزایي، مدني او شخصي احوالو پورې مربوطه قضایاوو ته رسیده ګې کوي.۷

تبصره- د محاکمو حوزوي او موضوعي صلاحیتونه:

۱- له حوزوي صلاحیتونو څخه هدف عبارت د همغې ساحې څخه دی چې محکمه د هغې په جغرافیایي حدوداتوکې واقع شوی وي.[8]

په دې اړه د جزایي اجراتو د مؤقت قانون ۲۶مه ماده دا رنګه وضاحت لري: د محکمې د حوزوي واک شاخص هغه سیمه ده چې جرم د هغې په جغرافیایي محدوده کې واقع شوي وي.

۲- موضوعي واک: د جرم د نوعیت په نظر کې نیولو سره یوې ځانګړې قضیې ته د رسیده ګۍ له واک څخه عبارت دی چې د یو مضر عمل په اجتماعي وصف کې منعکس کېږي. دا صلاحیت د یو اجتماعي خطر، یا د خاصو اجتماعي اهمیت لرونکو قضایاوو مطابق د کورني او بهرني امنیت په ضد د جرایمو لپاره په محاکمو کې د عامه امنیت دیوان، د مخدره موادو جرایمو د رسیده ګۍ لپاره د مخدره موادو اختصاصي محاکم، د ترافیکي جرایمو لپاره په محاکمو کې د ترافیکو دیوان د عسکري جرایمو لپاره عسکري محاکم، د ماشومانو د جرایمو د رسیده ګۍ لپاره د ماشومانو اختصاصي محاکم او داسې نور ایجاد شوي چې د دې ټولو محاکمو واک حوزوي واک نه بلکې موضوعي واک دی.

لمړي مبحث – د جزایي دعوې پراوونه:

په افغانستان کې جزایي دعوه متعدد پراوونه لري چې مونږ هر پراو ته په بېل بېل عنوان کې اشاره کوو.

لمړی مطلب – د ابتدائیه محکمې مرحله:

د څلورم فصل په وروستیو کې مو دې خبرې ته اشاره وکړه چې د څارنوالۍ د اجراتو د تکمیل نه وروسته دوسیه د یوه رسمي مکتوب له لارې د نوموړي ارګان په سلسله محکمې ته احاله کېږي. هر کله چې دوسیه محکمې ته احاله شي نو د جزایي اجراتو د مؤقت قانون د ۴۲مې ماده له مخې، محکمه مکلفه ده چې پرته له ځنډه هغه ابلاغ پاڼه چې د قضایي جلسې د ورځې او نېټې لرونکې وي د قضایي جلسې نه لږ تر لږ ۵ ورځې وړاندې متهم، مدافع وکیل، څارنوال او مدعي علیه ته واستوي.

که چېرته متهم مفقود وي، د هغه په مفقودیت حکم کوي، مدافع ورته ټاکي او ابلاغ پاڼه د هغه مدافع وکیل ته ورکوي. که چېرته متهم قضایي جلسې ته د حاضریدو څخه ډډه وکړي، نو د پولیسو په واسطه احضاریږي. او که چېرته په محبس کې وي نو ابلاغ پاڼه د محبس د اداري له لارې ورکول کېږي، او له دې وروسته په ټاکل شوي نېټه قضایي جلسه دایرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جلسې له دایریدو څخه د مخه د محکمې منشي باید مخکې له دې نه چې قضایي هیئت د جلسې تالار ته راننوځي، تالار کنټرول او خپل ځان مطمئن کړي چې نوموړی ځای د جلسې لپاره اماده دی، او که نه. که چیرته په قضایي جلسه کې الکترونیکي او تخنیکي وسایلو ته ضرورت وي، نو د دې شیانو موجودیت او فعالوالي او په همدې ترتیب د دعوې د لوریو او نورو هغه کسانو د شتون څخه هم چې په جلسه کې د هغوی ګډون مهم وي او ورته رابلل شوی وي ځان ډاډمن کړي.

وروسته د پورتني چمتو والي څخه د جلسې رئیس ته اطلاع ورکوي تر څو د جلسې تالار ته راننوځي. د جلسې رئیس او غړي د منشي د اعلان څخه وروسته د جلسې تالار ته راننوځي.

د قضایي هیئت په راننوتلو سره په تالار کې موجود کسان د هغوی په احترام ودرېږي. کله چې دقضایي هیت غړي پخپلو ځایونو کښې کښیناستل، ولاړ کسان هم کښیني. له دې څخه وروسته د جلسې رئیس غونډه د لوی خدای (ج) په پاک او سپیڅلي نامه پرانیزي، او په دې توګه قضایي جلسه پیل کېږي.

چې جریان به یې مونږ د څو عناوینو په ضمن توضیح کوو.

لومړی جز- متهم ته د هغه د حقوقو اعلان:

د قضایي جلسې په پیل کې د جلسې رئیس متهم ته د هغه حقوق اعلانوي. دا حقوق حتماً باید متهم ته تفهیم شي، او په عین حال کې د هغه څخه باید د محکمې پرمخ بېولو ډاډ هم تر لاسه شي.

نومورې حقوق مونږ په دوهم فصل کې (یعنې د متهم په دفاعي حقوقو ناظر اصول) تر عنوان لاندې لوستي دي دلته یې د تکرار ضرورت نشته.

دوهم جز- د قضایي جلسې د پرمخ بېولو طرز او قانوني تسلسل:

د جزایي اجراتو د مؤقت قانون ۵۳مه ماده: قضایي جلسه د لاندې مراتبو په نظر کې نېولو سره پرمخ بېول کېږي:

۱- قضایي غور په پیل کې مربوطه محکمه به صورت دعوه لولي.

۲- په هغه صورت کې چې تورن د توقیف لاندې وي محکمه مکلفه ده پرته له ځنډه قضیه تر غور لاندې ونیسي چې ایا توقیف قانوني دی او که نه. په هغه صورت کې چې توقیف غیر قانوني او غیر ضروري تشخیص کړي. د تورن په خلاصولو فیصله صادروي.

۳- ابتدایه څارنوال د قضیې د تحقیق قرار د تحقیق د پایلو په څرګندولو سره په شفاهي توګه وړاندې کوي.

۴- عدلي پولیس چې د تحقیق چارې په غاړه لري د ترسره شوو فعالیتونو شفاهي راپورټ وړاندې کوي.

۵- لومړی شاهد مجني علیه دی وروسته له نورو شاهدانو او اهل خبره و اظهارات اوربدل کېږي.

۶- په هغه صورت کې چې تورن ونه غواړي د خپل سکوت له حد څخه استفاده وکړي کولای شي لازم توضیحات وړاندې کړي.

۷- که چېرې شاهدان له روغتیایي معاذیرو له املې د محکمې په وړاندې حاضر نه شي محکمه کولای شي شاهدي د هغې په استوګنځي کې د هغوی شهادت واوري.

۸- ابتدائیه څارنوال او مدافع وکیل کولای شي چې له تورن څخه پوښتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- محکمه په ټولو حالاتو کې کولای شي قضایي جلسو کې له شاهدانو او تورن څخه پوښتنه وکړي او عند الاقتضاء نظریاتو په تبادله امر وکړي.

درپیم جز- د قضایي جلسې ګډونوال او په قضایي جلسه کې د هغوی نقش.

د جزایي اجراتو د قانون مطابق متهم او دهغه مدافعې وکیل حق لري چې د قضیې د غوره کولو په وخت کې په قضایه جلسه کې حاضر وي. دا حق له استثنایي حالتو پرته په هیڅ صورت کې ځایدای نه شي. پردې سربیره که چېرته محکمه متهم یا د هغه مدافعې وکیل له قانوني جواز پرته د دې حق څخه بې برخې کړي ټولې سرته رسیدلي چارې له اعتباره لوېدلې ګڼل کېږي. محکمه مکلفه ده د قضایي جلسې دایرېدو څخه پینځه ورځې مخکې دې اشخاصو ته کتباً خبر ورکړي. د دې خبرې په تائید د افغانستان اسلامي جمهوریت د قاضیانو لپاره د قضایي چال چلند مقررې یوولسمه ماده دارنګه صراحت لري:

د دعوه کوونکو څخه هر یو حق لري چې په ازادانه ډول په قضایي جلسه کې ګډون وکړي. له همدې املـه قاضي اجازه نه لري چې د نوموړي حق د استعمال پر وخت پر هغوی محدودیتونه وضع کړي. دغه راز قاضي باید امنیتي مسؤلینو ته اجازه ورنکړي تر څو تورن په زولونو او ځنځېر کې تړلی قضایي جلسې ته حاضر کړي. البته په استثنایي حالاتو کې قاضي کولای شي د قضایي جلسې د امنیت د ټینګښت او تورن شخص د تیښتې د مخنیوي په موخه دا ډول مقتضي تدبیرونه تجویز کړي.

څلورم جز- د قضایي جلسې مراحل:

قضایي جلسه په عمومي ډول پینځه مرحلې لري، چې عبارت دي له: تدارکاتي مرحله، تحقیقاتي مرحله، د قضایي مباحثې مرحله، د متهم وروستنۍ خبرې او د حکم د ابلاغ د مرحلې څخه.

په تدارکاتي مرحله کې لیدل کېږي چې د قضایي جلسې د پرمخ بېولو لپاره خو کوم خنډونه وجود نه لري، که چیرې موجود وي باید له مینځه ولاړ شي. همداراز باید ولیدل شي چې ایا رابلل شوي کسان حاضر شویدي که نه، او په دې ډول دا هم باید ولیدل شي چې ایا موجوده قضایي هیئت قضیه بر رسي کولای شي او که نه.

د جلسې په تحقیقاتي برخه کې ټول هغه دلایل او اسناد ارزیابي کېږي کوم چې د لومړي تحقیق په وخت کې راټول شوي یا په قضایي جلسه کې د هغوی څخه یادونه شوې ده. په دې برخه کې عدلي پولیس، اهل خبره، څارنوال یا د نورو اشخاصو خبرې اوربدل کېږي او د هغوی څخه لازمې پوښتنې مطرح کیږي.

بلاخره د قضایي مباحثاتو په برخه کې د دعوې ګډونوال د قضایي تحقیق څخه نتیجه اخلي او د هغې څخه په استفادې سره خپل دلایل او ادعاوې پیاوړې کوي.

د جلسې په پای کې متهم ته وخت ورکول کېږي تر څو وروستۍ خبرې وکړي، د جلسې په پای کې متهم ته د خبرو کولو فرصت ورکول د متهم حق دی، او په هیڅ وجه نشي کېدای له هغې څخه دا حق واخیستل شي، او دا وخت کوم محدودیت هم نه لري، او نه څوک کولای شي پدې وخت کې له متهم څخه پوښتنه وکړي. که چیرته متهم له دې فرصت څخه د قضا د سپکاوي یا داسې چارو په منظور استفاده کوله، کومې چې د موضوع سره تړاو نه لري، نو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جلسې رئیس کولای شي د هغې خبرې پرې کړي او په اخره مرحله کې قضایي هیئت خپله پریکړه صادروي.

پنځم جز- د قضایي جلسې پای:

له پورته مراحلو څخه وروسته د یاد شوي قانون ۵۹مي مادې مطابق د جلسې رئیس د قضیې د غور کولو پای اعلانوي، او د محکمې سالون د حکم د لیکلو په منظور پریږدي. د حکم د لیکلو څخه وروسته بېرته سالون ته راننوځي او حکم لولي د حکم لوستل د هغه د ابلاغ حیثیت لري. په هغه صورت کې چې د جلسې رئیس د حکم دلایل ونه لولي د ۱۵ ورځو په دننه کې نوموړي دلایل د جلسې د محرر له لوري ترتیب کیږي او فیصله صادریږي.

شپږم جز- د محکمې فیصله:

د محکمې فیصله د هغه تصمیم څخه عبارت ده چې محکمه په قضایي جلسه کې د هغې په واسطه متهم ته برائت ورکوي یا یې محکوموي.

۱- د تورن پېژندنه

۲- اړه اتهام نامه کې د شاملو حقایقو او جزیاتو تعریف

۳- د شاملو واقعیتونو او د استناد وړ قانوني حکمونو په اشارې سره د فیصلې د دلایلو لنډ بیان

۴- د حکم نص

وروسته له هغې چې محکمه پریکړه صادره کړي نو که د دعوی‌لوری په هغې قناعت وکړي فیصله قاطع کیږي پرته د اعدام د حکم څخه چې هغه د جمهور رئیس توشیح ته اړتیا لري په نورو ټولو حالاتو کې د محکمې پریکړه باید په هغه صورت کې چې قطعي شي تطبیق شي.

مګر متهم او څارنوال دا حق هم لري چې په فیصله اعتراض وکړي البته یوازې په څو محدودو حالتونو کې د ابتدائیه محکمې فیصله د استناف غوښتنې وړ نه ده، او قطعي ګڼل کیږي. نوموړي حالات په لاندې ډول دي چې د محاکمو د تشکیل او واک قانون په ۵۳مه ماده کې وړاندوینې شویدي او یو څه یې په لاندې ډول دي:

۱- په صادره شوي فیصله باندې د دعوه د اړخونو قناعت

۲- د استیناف غوښتنې د مودې تېرېدل

۳- په هغه صورت کې چې د مدعي لوی ارزښت د سلو زرو افغانیو پورې وي.

۴- تر پنځوسو زرو افغانیو پورې په نقدي مجازاتو حکم او له دې څخه علاوه نور هغه موارد چې په هغه قوانینو کې پیش بیني شوي وي.

له یادو شوو حالتو پرته که چېرته د دعوې لوری د ابتدائیه محکمې په پریکړه اعتراض وکړي نو خپل اعتراض لیک باید د شلو ورځو په دننه کې د همغې محکمې یا داستناف محکمې د تحریراتو دفتر ته وړاندې کړي، چې له دې نه وروسته جزایي دعوه یو بل پړاو ته داخلیږي چې مونږ به نوموړی پړاو د یو جلا عنوان په ترڅ کې په لنډه توګه تر مطالعې لاندې ونیسو.

دوهم مطلب: د استناف محکمې مرحله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته له یاد شوو حالاتو څخه چې په وړاندینې مطلب کې مو ورته اشاره وکړه، په نورو حالاتو کې د ابتدائیه محکمې حکم د دعوې د لوریو له خوا تر اعتراض لاندې راتلای شي. یعنې هرکله چې د ابتدائیه محکمې له خوا په یو جزایي دعوه کې پریکړه صادره شي مګر نومورې پریکړه د دعوې له لوریو څخه د یوې له خوا نه اعتراض لاندې راشي، نو جزایي دعوه یو بل پړاو او مرحلې ته ننوځي چې نومورې مرحله د استیناف د مرحلې څخه عبارت ده.

د جزایي اجراتو د مؤقت قانون د ٦٣ - ٧٠ مادې پورې مطالب همدې موضوع ته ځانګړې شوېده.

ددې قانون د ٦٣مي مادې له مخې محکوم علیه یا څارنوال حق لري چې د ابتدائیه محکمې د پریکړې په خلاف مرافعه طلبي وکړي. دوی باید خپل اعتراض د ابتدائیه محکمې د فیصلې په خلاف د شلو ورځو په دننه کې د حکم صادرونکي محکمې د تحریراتو دفتر یا د اړوندې مرافعې محکمې د تحریراتو دفتر ته واستوي. نومورې موده د جلسې د پای د ورځې څخه محاسبه کېږي. مګر که چېرته د محکمې په خپل حکم کې د حکم د صدور دلایل نه وي ذکر کړي نومورې موده تر هغه وخته محاسبه کېږي کله چې د حکم د صدور دلایل متهم یا دهغه مدافع وکیل ته ابلاغ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم څپرکی

له محاکمې څخه وروسته مرحله

(دمجازاتو دتطبیق مرحله)

هر کله چې دیوې جزایي دعوې پورې مربوطه موضوع کې دیوې محکمې له خوا پربکړه صادره شي نو که نومورې پربکړه دمتهم په برائت صادره شوې اوسي محکوم خوشې کېږي، خو دوسیه خپل اداري جریان طی کوي. او تر ستړې محکمې پورې رسېږي. که چېرته دمحکمې پربکړه د متهم په محکومیت صادره شوی او سي یعنې محکمې متهم مسئول او مجرم ګڼلی وي، نو بیا په هغه باندې دمحکمې فیصله تطبیق کېږي. د محکمو د وروستیو فیصلو د تطبیق موارد زمونږ د جزایي اجراتو د موقت قانون په دولسم فصل کې له ۸۴ مادې څخه تر ۸۹ مادو پورې پیش بیني شوي دي چې مونږ ورته په لاندې توګه اشاره کوو.

کله چې پربکړه نهایي شي نو د نومورې پریکړې تطبیق د جزایي اجراتو دموقت قانون داتمې مادې څلورمې فقرې او همدارنګه د دې قانون د ۸۴مې مادې داحکامو سره سم دابتدائیه څارنوال له دندو څخه ګڼل کیږي. په همدې منظور مرافعه محکمه او ستره محکمه نیول شوي فیصلې له اسنادو او ضبط شوو شیانو سره یو ځای بېرته ابتدائیه څارنوال ته استوي.۲ که چېرته محکوم علیه په توقیف کې نه وي نو ابتدائیه څارنوال د هغه د نېونې امر د محل پولیسو ته صادروي.

که چېرته د محکوم علیه استوګنځی د سیمې د پولیسو د واک له حوزې څخه بهروي، د پولیسو امر، دغه صادرشوی امر د اړوندسیمې پولیسو ته استوي، او همدارنګه څارنوال مستقیماً هم کولای شي د ستور د نومورې سیمې د پولیسو امر ته واستوي.

که چېرته محکوم علیه له مخکې نه په حبس کې وي، یعني په توقیف کې وي نو څارنوال مکلف دی چې دعدلیې وزارت د حکم د تطبیق د غوښتنې څخه هغه خبر کړي. دغه خبرتیا د شخص د پیژندنې اونورو خصوصیاتو ،د قضایي فیصلې اوټاکل شوی جزاپه ذکر کولو مشتمله ده.

که چېرته محکوم علیه د حبس په بدیله جزامحکوم وي، څارنوال واک لري د حبس د بدیل د جزاګانو د تطبیق امر د سیمې د پولیسو امرته صادر کړي. پولیس مکلف دي چې وخت په وخت د محکوم علیه کړنه اوعمل وڅاري، اورپوټ یې اړونده څارنوال ته واستوي.

که چېرته محکوم علیه د محکمې د دستورونو خلاف اعمال اجراکړي، څارنوال موضوع اړونده محکمې ته رسوي. محکمه په دي حالاتوکې کولای شي نیول شوی تصمیم لغوه اود حکم شوي حبس دوام یې په ځاي ودروي.

که چېرته محکوم علیه په نقدي جریمه محکوم شوی وي، څارنوال کولای شي د جریمې د تطبیق دستور د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عدلیې وزارت ته وسپاري. د عدلیې وزارت مستقیماً یا له مالي ادارو څخه د همکارۍ غوښتنې په اساس ذکرشوي پیسې چې د مالیې وزارت ته تسلیمېږي راټولوي.

څارنوال د محکوم علیه شیان او شتمني هلته چې دی موقعیت لري صادروي. په دې امر کې د نومورو شیانو او شتمنۍ نښې، او مشخصاتو د تثبیت لپاره ضروري یاداشتونه شامل دي. د شیانو او شتمنۍ د مصادرې حکم د پولیسو په واسطه تطبیق کېږي. د یادونې وړ ده چې د توقیف موده یا دوروستنې فیصلې څخه دمخه د نیونې یا د مجازاتو د بدیل موده د حبس د مودې څخه کمېږي.

که چېرته د حبس حکم په هغه ښځه باندې صادرشوی وي چې شپږمیاشتنۍ حمل ولري، ابتدایه څارنوال باید د حکم تطبیق د حمل د وضع کیدو پورې وځنډوي. که محکوم علیه په رواني ناروغۍ اخته شي، ابتدائیه څارنوال باید د امرتطبیق د هغه د روغتیا تراعادې پورې وځنډوي. او لارښوونه وکړي ترڅو هغه د معالجې لپاره روغتون ته واستوي. د درملنې موده د حبس له مودې څخه کمېږي.

که چېرته محکوم علیه په صعب العلاجه ناروغۍ اخته شي، او د حبس تطبیق د هغه روغتیا ته زیانمن وي، د موظف طبي کمیسون د وړاندیز په اساس، ابتدائیه څارنوال باید د حکم تطبیق ودروي. که چېرته یې بېرته روغتیا اعاده شي، نو د حبس جزا پرې بې له ځنډه تطبیق کېږي، او د معالجې موده د حبس له مودې څخه نه کمېږي.

همدارنګه که چېرته ښځه او مېړه په یو وخت کې د واحد یا جلا جلا جرمونو د ارتکاب په وجه د یوکال څخه په لږ حبس محکوم شوي وي څارنوال باید د هغوی څخه په یو د حبس حکم و ځنډوي، خو په دی شرط چې خوشې شوی مجرم متکرر نه وي، او د داسي یو ماشوم د سرپرستۍ مسئولیت ور په غاړه وي، چې عمر یې له پنځلس کالو څخه لږ وي. نو په ده بیا هغه وخت جزا تطبیقېږي کله چې د هغه د ماشوم عمر پنځلس کلنۍ ته ورسېږي.

د اعدام د جزا په برخه کې باید ووایو چې، د اساسي قانون د ۱۲۹مي مادې د حکم په اساس، د محاکمو د ټولو قطعي پرېکړو عملي کول واجب دي، مګر د شخص د مرګ په حالت کې د جمهور رئیس منظوري شرط ده.

یعنې دا جزا د جمهور رئیس د منظورۍ وروسته تطبیق کېږي. د تطبیق د طرز او طریقې په هکله د محاکمو لپاره د جزایي اجراتو موقت قانون په دې برخه کې کوم څرګند مواد نه لري. مګر کولای شو دا موضوع لکه د نورو موضوع ګانو په څېر د کومو لپاره چې د جزایي اجراتو موقت قانون احکام نه لري د (۱۳۴۳) لمریز کال د جزایي اجراتو په قانون کې ومومو. نو ځکه مونږ په همدې برخه کې د زیاتو معلوماتو لپاره د جزایي اجراتو قانون احکام او اړونده تعدیلات را اخلو.

دیاد شوي قانون ۴۰۶ څخه تر ۴۱۴ مادې پورې مواد همدې موضوع ته ځانګړې شوې چې مونږ ورته په لنډه توګه اشاره کوو.

د نومورې قانون ۴۰۷ مه ماده وایي چې [په مرګ محکوم شخص دځارنوالۍ په امر په محبس کې ساتل کېږي، او د هغې اقارب کولای شي د حکم د تطبیق څخه دمخه تر یوې ورځې پورې ورسره وګوري، د محبس اداره مکلفه ده چې د حکم د تطبیق څخه دهغه اقارب خبر کړي.

که د محکوم علیه دین د مذهبي واجباتو ایجاب کاوه نو لازمي اسانتیاوې ورته برابرېږي. دا جزا په محبس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دننه یا یو بل پټ ځای کې عملي کېږي. نوموړی جزا د څارنوال، د محبس امر، د محبس داکتر یا یو بل ډاکټر چې د څارنوالۍ له خوا موظف شوی وي په مخ کې تطبیق کېږي. د تنفیذ په وخت کې د حق العبد مدعي او د محکوم علیه مدافع وکیل ته هم د حاضرېدو حق ورکول کېږي.

د تنفیذ په وخت کې د صادر شوي حکم متن او هغه تور چې په محکوم باندې د مرګ د حکم باعث شوی دی، د حکم د تطبیق په ځای کې حاضرینو ته لوستل کېږي. که چېرته محکوم علیه څه ویل غواړي د څارنوالۍ غړي هغه لیکي او په محضر کې درجوي او دهغه دوفات او د وفات کېدو د پېښېدو د وخت په باب د ډاکټر تصدیق اخلي.

په همدې ډول د یادونې وړ ده، چې د مرګ د جزا تنفیذ د عامې د رخصتۍ په ورځو کې جواز نه لري. او په همدې ډول که چېرې په مرګ محکومه یوحامله ښځه وي، په هغې د اعدام جزا تنفیذ د حمل تر زیږیدنې وروسته د دوه میاشتو پورې ځنډېږي. که چېرته محکوم علیه داسې اقارب ونه لري چې دهغه د جسد داخستنې غوښتنه وکړي، نو جسد د شریعت داحکامو مطابق خښېږي، او خښول باید بې له محفل نیونې څخه پای ته ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم څپرکی

دجزايي دعوې سقوط

په ځینو حالاتو کې جزايي دعوه سقوط کوي، یعنې جزايي دعوه په یو شمېر حالاتو کې توقف پیدا کوي او نور ورته جریان نه شي ورکول کېدای. نوموړي حالات د ۱۳۴۳ لمریز کال د جزايي اجراتو په قانون کې درج دي، چې عبارت دي: د متهم له مړینې او مرور زمان څخه، چې هر یوه ته په مختصر ډول اشاره کوو.

۱. دمتهم مړینه:

په ډېرو پخوا زمانو کې متهم چې مړ به شو نو دهغه جسد به تر محاکمې لاندې نیول کېده او دخاصو تشریفاتو په ضمن کې به مجازات کېده. مګر وروسته ورو، ورو، د جرایمو او جزاګانو د شخصي والي د پرنسیپ په منځ ته راتګ سره نوموړي مفکوره له مینځه ولاړه. په دې توګه کله چې به متهم مړ شو نو هغه جسد به تر محاکمې لاندې نه نیول کېده. ځکه له یوی خوا هغه څوک چې محاکمه او مجازات کېږي وجود نه لري، او له بلې خوا هغه اهداف چې د محاکمې او مجازاتو څخه تر لاسه کېږي لاس ته نه رائي.۱

د متهم له مړینې وروسته که چېرته دهغه وارثان تر تعقیب او محاکمې لاندې ونیول شي نو دا عمل د جرایمو او جزا ګانو شخصي والي د پرنسیپ سره په ټکر کې دی، چې نوموړی پرنسیپ د حقوق جزا یو مهم پرنسیپ دی. البته که یو جزایي دعوه دځو تورنانو په مقابل کې مخ په وړاندې بیول کیږي، نو په دې صورت کې دیو تورن په مړینه له نورو څخه جزایي دعوه سقوط نه کوي. ۲

په همدې ډول که چېرته یو متهم دعدلي تقیب په جریان کې وفات شي نو له ده څخه جزایي دعوه سقوط کوي. مګر که چېرته د ده له عمل څخه نور څوک متضرر شوی وي نو هغوی کولای شي د جزا دقانون د ۱۶۹ مې مادې د حکم سره سم د خپلې خسارې د جبران لپاره په یوه مدني محکمه کې دعوه اقامه کړي. ۳

د متهم له مړینې وروسته د جرم او د جزا د سقوط په برخه کې اثار او نتایج رامنځ ته کېږي چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو.

۱ـ که متهم د تعقیب څخه وروسته یا د تحقیق په پای کې وفات شي نو تعقیب اوتحقیق متوقف کېږي او دعوه سقوط کوي.

۲ـ په هغه صورت کې چې موضوع محکمې ته احاله شوی وي مګر محکمې تر اوسه پرېکړه نه وي صادره کړې نو په دې صورت کې محکمه خپله پرېکړه نه صادروي. په همدې ډول که ابتدایه محکمې خپله پرېکړه صادره کړې وي مګر استناف غوښتنه یا فرجام غوښتنه نه وي، هغه هم نه کېږي او دعوه له منځه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳_ که محاکمه د متهم په غیاب کې شوې وي، او په همدې جریان کې متهم وفات شي نو هر کله چې د تحقیق او تعقیب ارګانونه دهغه له مرګ څخه خبر تر لاسه کړي ټول اجرات متوقف کیږي.

۴_ د متهم مړینه د جزایي دعوې د سقوط سبب ګرځي مګر که له جرم څخه کوم حقیقي یا حکمي شخص متضرر شوی وي هغوی کولای شي د خپلی خسارې د جبران لپاره خپله دعوه مخ ته بوځي یعنې مدني دعوه مړینې په صورت کې سقوط نه کوي.

۵_ که محکوم علیه د محکمې د حکم د قاطعیت څخه وروسته وفات شي نو د بدني مجازاتو په استثناه که هغه په نقدي جریمه یا بله مالي جزا محکوم شوی وي نو هغه مادي جزاوي په خپل حال پاتې کیږي.

٦_ که متهم وفات شي نو محکمه کولای شي د هغه اشیاو د مصادرې په هکله حکم صادر کړي، د کومو چې استعمال، ساتل، خرڅول، اخستل او داسې نور په خپل ذات کې جرم وي ۳

لکه څرنګه چې مخکې مو ورته اشاره وکړه د جزایي اجراتو د قانون په اساس، جزایي دعوه د متهم په مړینه سقوط کوي، مګر دجزایي اجراتو د قانون لسمې مادې د حکم له مخې که چېرته د متهم مړینه د دعوې د رسیده ګۍ په وخت کې صورت ونیسي نو دا حکم په هغه شیانو د مصادرې د حکم مانع نه ګرځي د کومو چې جوړول، کارول،ساتل، پلورل،خرڅلاو او بازار ته ویستل یې په خپل ذات کې جرم وي ۴

۲. د وخت تېرېدنه:

له ډېرې پخوا زمانې څخه په ډېرو تاریخي او حقوقي لیکنو کې تر سترګو کیږي چې وروسته دیو شخص میعاد د تېریدو څخه یو جرم ته رسیده ګې نه کېده او په دې ترتیب په مرورزمان دیو چا لپاره دیو حق د سقوط سبب ګرځېدلی وو. ۳

نن ورځ د دې باوجود چې یو شمیر علما د مرور زمان سره مخالفت لري، او هغه د جزا څخه د خلاصون یوه لاره ګڼي، مګر د دنیا په ډېرو هېوادونو کې په ملي سطحه مرورزمان د جزایي دعوې دسقوط یو سبب ګڼل شوی دی. په داسې حال کې چې په نړۍ والو جرایمو کې نومورې اصل نه تطبیق کیږي، یعنې بین المللي جرایم مرورزمان نه لري. ۴

مرور زمان دیوې مشخصې مودې له تېرېدو څخه عبارت دی چې دیوې جزایي دعوې یا د یوې جزا د سقوط سبب ګرځي۱

په دې اړه د کلي اصل دا دې چې جزایي دعوه د مرور زمان په اساس ساقطېږي، که چېرته متهم شخص لکه څرنګه چې پورته ورته اشاره وشوه د عدلي تعقیب په جریان کې وفات شي، نو جزایي دعوه خو متوقفه کیږي، مګر دا حکم په یادو شوو حالاتو کې په اشیاو دمصادرې دحکم مانع نه ګرځي، په داسې حال کې چې په مرور زمان کې بیا داسې نه ده. ۲

د جزایي اجراتو د قانون د یولسمې مادې د حکم له مخې که چېرته جزایي دعوه د جنایت په مواردو کې دپېښې له نېټې څخه تر لسو کالو، دجنحې په مواردو کې تر درېو کالو او د قباحت په مواردو کې تر یوه کاله تعقیب نه شي، نو ساقطېږي مګر داچې قانون یې په خلاف بله نوعه تصریح کړی وي.

او د دې قانون په ۱۳ او ۱۴ مادوکې بیا دارنګه صراحت وجود لري چې: د جزایي دعوې د سقوط موده د تحقیق،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتپدلو، محاکمې او دلیلونو په ټولولو قطع کېږي، مګر شرط په کې دا دی چې دا اجرات دمتهم په مخکې شوی وي، یا ورته رسماً ابلاغ شوی وي. دغه موده د قطع کېدو له ورځې څخه سمدستي بیاشروع کېږي. که چېرې د دعوې د سقوط د مودې جریان څو وارې قطع کیږي نو بیا دقطع کېدو له نېټې څخه شروع کېږي او که چېرته په یو جرمي حادثه کې څو کسان شریک وي یعنې متعدد متهمین موجود وي نو دیو په باب د جزایي دعوې سقوط دنورو څخه هم جزایي دعوه ساقطوي که څه هم د دعوې دسقوط دمودې د قطع کېدو اجرات د دوی په خلاف نه وي شوي. ۴

لمړی جز_ دمرور زمان اثار:

د مرور زمان مهم او غوره اثر د جزا څخه معافیت دی. یعنې محکوم علیه یا تورن نور د قانوني تعقیب لاندې نه شي راتلای، او نه مجازات کېدای شي. له بله پلوه مرور زمان د جزایي محکومیت د ساقطېدو سبب هم ګرځي. یعنې که داسې یو شخص چې یو جرم یې د مرور زمان لاندې راغلی وي، او بیا له هغه وروسته د بل جرم مرتکب وګرځي، نو هغه جرمي سابقه نه لري. یعنې داسې ګڼل کیږي چې ده هېڅ جرم نه دی کړی او دا حالت یې هم یو مشدده حالت او تکرار د جرایمو نه ګڼل کېږي. ۲

دوهم جز-_ د مرور زمان دلایل:

مرور زمان یو شمېر موافقین او یو شمېر مخالفین لري. یعنې یو شمېر حقوق پوهان د مرور زمان په اساس د جزایي دعوې او مجازاتو د سقوط پلوي کوي، او برعکس یو شمېر نور یې مخالفت کوي. هره ډله حقوقپوهان د خپل نظر د اثبات لپاره یو لړ دلایل لري، چې مونږ به په لمړي قدم کې د مرور زمان د موافقینو یو شمېر مهم دلایل او ورپسې به دهغي د مخالفینو یو شمېر مهم دلایل تر مطالعې لاندې ونیسو.

لمړی-_د مرور زمان د موافقینو دلایل:

۱_د فردي او اجتماعي منفعت د نشتوالي له حیثه:

دوی وایي چې: د متهم او مجرم له تعقیب او په هغه د مجازاتو له تطبیق څخه مهم هدف د مجرم اصلاح او تربیه ده. نو د یو شخص داصلاح او تربیې هدف هغه وخت نه تحقق پیداکوي کله چې د جرم له ارتکاب څخه وخت نه وي تېر شوی. هر کله چې د یو جرم له ارتکاب څخه وخت تېر شي نو د هغه ترخې خاطرې د خلکو له ذهنونو څخه وځي، نو په داسې حالت کې د یو شخص نیول او په هغه د جزا تطبیقول غیر له دې نه چې په خلکو کې دغچ اخستنې روحیه را ژوندۍ کړي، بله کومه فایده نه لري. ځکه په دې سره به د خلکو له ذهنونو څه له یاده وتلې خاطرې بېرته راژوندۍ شي. بناً دا د ټولنې او فردي مصلحت خلاف عمل دی او دا مصلحت د دې ایجاب کوي چې د ترخو خاطرو په را یادولو سره یو ځل بیا د خلکو اذهان مختل او په تشویش که وانه چول شي.

۲_د تنبیهي تاثېراتو له حیثه:

دیوې مودې تېرېدو څخه وروسته مجرمین د خپلو اعمالو څخه پښېمانه کېږي، تو به وباسي او په دې ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی اصلاح کېږي. ځکه هغوی تل په دې اندېښنه او ویره کې وي، کـه چېرتـه ونیـول شي نـو حتماً بـه پـرې مجازات تطبیق شي، او کوښښ کوي چې دې ته ورته عمل بیا تر سره نه کړي. نو ځرنګه چې د مجازاتو د تطبیق څخـه یـو مهـم هدف د مجرم اصلاح او تربیه ده، نو په دې حالت کې مجرم په خپله اصلاح او تربیه کېږي ځکه نـو دې تـه ضـرورت نـه شته چې هغه دې بیا تعقیب او مجازات دې پرې تطبیق شي.

۳_ د دلایلو د پیدا کېدو د مشکل والي له حیثه:

یو جرم هغه وخت کېدای شي په اسانۍ سره ثبوت شي کله چې دهغې دارتکاب وخت سره نږدې تعقیب شي. نـو که چېرته له یوې جرمي حادثې څـه وخـت تېـر شـي د جـرم اثـار او علایـم پـه ځېنـو او قـاتو کـې لـه منځـه ځـي، او د هغـې انتساب اصلي مرتکب د ستونزو سره مخامخ کېږي، نو په دې حالت کې بـه ډېـره منطقـي نـه وي چـې د هغـه تعقیـب او تحقیق وشي.

دوهم_دمرور زمان د مخالفینو دلایل:

دمرور زمان مهم مخالفین عبارت له بېکاریا، بنتام او دتحقیقي مکتب دنور و طرفدارانو څه دي. دوی وایي سره د دې چې د وخت تېریدل د اشخاصو له ذهن څخه یو شمېر ترخې خاطرې وباسي، مګر ځېنـې داسې ترخـې خـاطرې شـته چې اثرات یې تر مرګه پورې د خلکو په ذهن کې پاتې کېږي. همـدا راز دوی وایـي چـې د مجـازاتو څخـه ډار یـو معنـوي ضمانت او جزا ده. نو دا چې نوموړي جزا به د یو مجرم په اصلاح او تربیه کې کوم رول لري او که نه، که ویې لري نو پـه څه ډول به یې ولري او هغـوی بـه پـه څـه ډول تنبیـه او اصـلاح کړای شـي، دا خبـره تـر اوسـه پـورې پـه علمـي ډول نـه ده مشخصه شوې، او همدارنګه نوموړي مجازات په یو شمېر حرفوي مجرمینو هېڅ تاثیر نه لـري، ځکـه دا ډول مجـرمین ډېر بې رحمه او کلک زړي دي. نو د دوی په اند د پورته دلایلو له مخې مروز مان باید د جزایي دعوې او د جـزا د سـقوط یوه وسیله ونه ګڼل شي.

په هر صورت، مونږ کولای شو د دوی دلایل په لاندې ډول مختصراً تر مطالعې لاندې ونیسو:

۱_اجتماعي نظم د اخلال له حیثه:

ځرنګه چې د هر جرم له ارتکاب څخه د جامعې نظم له منځه ځي نو له همدې امله دا ډول حقـوق پوهـان وایـي هغـه شخص چې جرم کوي نو هر وخت چې وي باید محاکمه او مجازات شي.

۲_ دجزایي عدالت سره د مخالفت له حیثه:

په حقیقت کې جزا د یو بد کار بدله ده په بدۍ سره. مګر د دې بدۍ اصلي هدف د مجرم اصـلاح او تربیـه ده. نـو که چېرته مجرمین په جزا و نه رسول شي، نو عـدالت بـه پـه ښـه ډول تطبیـق نـه شـي. او دا عمـل د جزایـي عـدالت سـره کاملاً مخالفت لري. په همدې ډول که چېرته مرور زمان ومنو، نو دوی وایي چې دا کار به حرفوي مجرمینو تـه فرصـت په لاس کې ور کړي تر څو د فریب کارانه وسایلو په کار اچولو سره داسې وسایل او امکانات برابر کړي چې هغـوی بـه د جزا څخه معاف شي. لنډه دا چې دوی وایي که چېرته مرور زمـان ومنـو، نـو دا کـار بـه د مجرمینـو پـه مقابـل کـې جامعـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضعیفه کړي، او بالاخره دوی وایي چې د دې مادې قبلول داعتیادي او حرفه اي مجرمینو په برخه کې یو خطرناک امر او په یو داړونکی او تیز پړانګ زړه سوی کول دي. ۱

یوولسم څپرکی

دمجازاتو دتنفیذ تعلیق، مشروطه ازادي او عفوه

په ځینو وختونو کې محکمه متهم ته یو جزا مشخصه کړي مګر دهغې تنفیذ وځنډوي. یا دا چې یوه جزا د تنفیذ په جریان کې د ذیصلاح مقام له لوری وبښل شي. یا هم د جزا په تطبیق کې وروسته له یوې معینې مودې د تېریدو څخه تخفیف او اسانتیا رائي او په هغه شکل چې مخکې تطبیق کیده نوره نه تطبیق کېږي. نو د دې لپاره چې په دې حالاتو ښه پوه شو، نو مونږ هر یو حالت په جلا، جلا عنوان کې د مطالعې لاندې نیسو.

لمړی مبحث: د مجازاتو د تنفیذ د تعلیق حالت:

د مجازاتو د تنفیذ د تعلیق حالت هغه حالت ته ویل کېږي چې د محکمې د حکم د قاطعیت څخه وروسته، هر کله چې په یو مجرم کې د دې حالت شرایط پوره شي، یعنې له یوه طرفه د هغه مجازات ډېر شدید نه وي، او له بله طرفه د مجرم شخصیت، روش، کردار، او اخلاق هم د قناعت وړ وي، او د بعدي جرایمو ارتکاب ترې هم متصور نه وي؛ او هم نوموړی حالت د مجرم داصلاح او تربیې لپاره د قناعت وړ وي، نو محکمه د هغه جزا د تعلیق په حالت کې اعلانوي. د تعلیق په موده کې د مجرم وضع لیدل کېږي. که چېرته د بل جرم مرتکب شي، نو د نوي جرم او پخوانې جرم مجازات یې له منځه نه ځي. که شخص د تعلیق له مودې څخه وروسته، د بل کوم جرم مرتکب وګرځي نو دا حالت یې تکراري جرم نه ګڼل کېږي.

زمونږ دهېواد د ۱۳۵۵ لمریز کال د جزا قانون ۸ فصل دې موضوع ته ځانګړې کړې ده. د دې قانون ۱۶۱مه ماده حکم کوي چې:

په داسې جرمونو کې چې جزا یې تر دوه کلو حبس یا ۲۴ زره افغانیو پورې نقدي جریمه ټاکل شوې وي، محکمه د محکوم داخلاقو، سوابقو، عمر یا نورو حالونو په نظر کې نیولو سره کولای شي د حکم په تعلیق صراحت وکړي، او هغه د تبعي، تکمیلي او امنیتي تدابیرو په جزاګانو کې شامله کړي. محکمه مکلفه ده په خپل حکم کې د مجازاتو د تعلیق سببونه ذکر کړي.

موده یې د دې قانون د ۱۶۲ مې مادې دحکم له مخې درې کاله ده او د حکم دقاطعیت له نېټې څخه محاسبه کېږي.

د دې حالت د لغوه کولو په هکله د یاد شوي قانون ۱۶۳مه ماده دارنګه تصریح کوي:

محکمه کولای شي د تنفیذ د تعلیق حکم په لاندې حالاتو کې له منځه یوسي، لغوه یې کړي او محکوم بېرته محبس ته واستوي.

۱ که چېرته محکوم علیه د تعلیق په موده کې د مماثل جرم یا دهغې څخه دزیات شدید جرم مرتکب وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ که چېرته د تنفيذ د تعليق د مودې په اوږدو کې ثابته شي چې شخص د دې حکم نه پخوا د جنحې يا جنايت په جزا محکوم شوی وي او محکمه له هغې څخه خبره نه وي.

۳ که چېرته محکوم عليه د تعليق د مودې په اوږدو کې د جنايت يا داسې جنحي مرتکب وګرځي چې جزا يې د درې مياشتو له حبس څخه زياته وي او هم له دې چې په دې مجازاتو په همدې موده کې يا د دې مودې له تېرېدو څخه وروسته حکم صادر شي.

دوهم مبحث: مشروطه ازادي:

مشروطه ازادي په دې معنې ده چې مجرم خپله دحبس جزا يو برخه په محبس کې تېروي او ديوې مودې له تېريدو څخه وروسته چې که چېرته هغه لازم شرايط پوره کړی وي نو دپاتې جزا څخه معاف او خوشې کېږي. اما د پاتې حبس په موده کې چې مجرم يې په ازاد محيط کې تېروي په مجرم باندې يو سلسله امنيتي تدابير تطبيق کېږي. مشروطه ازادۍ کې مجرم دامنيتي تدابيرو لاندې قرار لري. هرکله چې په دې موده کې شخص د نوي جرم مرتکب شي، مشروطه ازادي يې قطعه کېږي، او دی دوباره محبس ته استول کېږي، او داول جرم پاتې جزا او د دوهم جرم جزا په مجرم باندې يوځاې تطبيق کېږي. مګر که چېرته يې دا موده په بري سرته ورسوله نو بيا د مجازاتو د تنفيذ تعليق برعکس دهغه پخواني محکوميت له منځه نه ځي، او د بعدي جرايمو دمرتکب کېدو په صورت کې د متکررو مجرمينو په قطار کې حسابېږي، مګر نومورې حالت په مجرمينو باندې بې قيد او شرطه نه تطبيق کېږي بلکه د دې لپاره يو سلسله شرايط وجود لري چې په لاندې ډول دي:

۱ مجرم بايد حتماً يوه موده دحبس په محيط کې تېره کړې وي.

۲ د مجرم روِش او کردرا د حبس په جريان کې د ذيصلاح مقاماتو له خوا د قناعت وړ وي.

مشروطه ازادي دمحکوم عليه د حبس د مودې د پای ته رسېدو څخه دمخه چې تر خاصو شرايطو لاندې قرار لري، دهغه د خلاصولـه تصميم څخه عبارت دی. دغه موده د حبس د مودې معادله ده.

د مشروطه ازادۍ د شرايطو په هکله د ياد شوي قانون ۹۱ مه ماده وايي چې:

مشروطه ازادي هغه شخص ته ورکول کېږي چې د يو يا څو جرمونو په نتيجه کې په حبس محکوم شوی وي، او د حبس يو څه موده يې تېره کړې وي، او په محبس کې داوسېدو په وخت کې سلوک او ناسته پاسته دهغه د ټولنيزو اخلاقو په اصلاح دلالت وکړي. دغه اسانتيا هغه شخص ته ورکول کېږي چې د محکوم لوی حبس د مودې درې پر څلورمه برخه يې بشپړه کړی وي يا لږ تر لږه نهه مياشتې په محبس کې تېرې کړې وي.

درېيم مبحث_ عفوه:

د ټولنې د منافعو په منظور له محکوم عليه څخه دټولې جزا يا د جزا ديوې برخې معافول ياپه هغه کې تخفيف راوستل او يا هم دهغه د محکوميت له منځه وړل عبارت له عفوې څخه دی.

دعفوې ذيصلاح مراجع دهر مملکت په اساسي قوانينو کې تعين کېږي مګر بالعموم دا کار د دولت درياست په مقام پورې اړه لري.

عفوه په دوه ډوله ده، چې يوه يې عمومې عفوه ده او بله يې خصوصي عفوه ده. عمومي عفوه زمونږ دجزا د قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۷۰مه ماده کې دارنګه تعریف شوې ده:

عمومي عفوه د قانون په وسیله صادرېږي چې دهغې په اثر دعوه منقضي کېږي او کوم حکم چې د مجرم په محکومیت صادر شوی وي محوه کېږي.

عمومي عفوه ټولې اصلي، طبعي، تکمیلي جزاګانې او امنیتي تدابیر ساقطوي، او په پخوانیو تنفیذ شوو جزا ګانو کوم تاثیر نه لري. مشروط په دې چې دعفوې قانون دهغې په خلاف تصریح نه وي کړی. همدارنګه که د عفوې قانون د محکوم د لویې جزا د یو جز په باره کې صادر شوی وي دخصوصي عفوې په حکم کې راځي. په همدې ډول عمومي عفوه دغیر حقوقو د اخلال مانع نه ګرځي.

عمومي عفوه بعضې جرمي اعمالو، د جرمي ماهیت د منځه وړلو یا د جزایي تعقیب د محوه کولو په منظور، د منع کولو په منظور د مقننه قوې له تصمیم څخه عبارت دی. یا په بل عبارت عمومي عفوه د قانون په وسیله صادرېږي چې دهغې په اساس یو جرم یا یوه جزا له منځه ځي. برابره خبره ده چې د جرم څخه وروسته وي او که مخکې.

په دې توګه ویلای شو چې عمومي عفوه د ټولنې حق دی، او هرکله چې د ټولنې مصالح د دې تقاضا وکړي چې د مجرمینو تعقیب یا مجازات متوقف شي نو، نوموړی عفوه صادرېږي، چې د دې مصالحو او د هغې د ایجاباتو تشخصیول د پارلمان یا د خلکو د ټاکل شویو نماینده ګانو صلاحیت دی.

خصوصي عفوه یو فردي قاعده ده چې د یو جرمي عمل ټول مجازات له منځه وړي یا په هغه کې تخفیف راولي.

خصوصي عفوه دجمهوري فرمان په وسیله صادرېږي چې د هغه په اساس ټول محکوم بها جزا یا د هغې یوه برخه ساقطېږي او یا تر هغه په خفیه جزا تبدیلېږي کومه چې په قانون کې ټاکل شوې وي.

د افغانستان په اساسي قوانینو کې نوموړی صلاحیت د تاریخ په اوږدو کې د دولت د ریاست مقام ته ورکول شوی دی چې داوسني نافذ شوي اساسي قانون په ۶۴ مه ماده کې د جمهور رئیس واک او اختیارات په ګوته کوي په ۱۸ م جز کې نوموړی صلاحیت رئیس جمهور ته ورکړل شوی دی.

جمهوري ریاست د مقام له لوري دخصوصي عفوې فرمانونه د هېواد او مذهبي او ملي ورځو په ویاړ صادرېږي او په هغه کې دنوموړو فرمانونو د تطبیق لپاره د جمهوري ریاست په فرمان کې کمېسونونه مشخص کېږي او بالعموم د دې کمېسون اعضا هغه اشخاص وي چې د خلکو د حقوقو د حمایت او ساتنې وظیفه په غاړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخذ لپکونه

1- القرانکریم
2- ابرند ابادي، علی حسین نجفي، حمید هاشم، دانش نامه جرم شناسي. (تهران: انتشارت بهشي، کتابخانه ګنج دانش، ۱۳۷۷ هـ ش کال.
3- اسناد بین المللي حقوق بشر، دشکنجې دمنع کنوانسیون، ۱۹۸۷ م کال، نشرات حقوق بشر
4- افراسیابي، محمد اسماعیل، حقوق جزایي عمومي، لومړی ټوک(تهران: انتشارات فردوسي( ) کال..
5- الیکساندر. هلال ګوروپ، (امین مشتاقي او نور، دعادلانه محاکمې دموازینو لارښود. ماکس پلانک انستېتیوت، دالمان د خارجه چارو وزارت په مالي مرسته، ۱۳۸۷ هـ ش کال.)
6- باجوه، افتاب احمد، جبل مینول. (لاهور:ندیم لد بوک هاوس، ۲۰۰۴ م کال)
7- پولیس افغانستان، تعاریف و وظایف. عدالت، دعدلیې وزارت، نشراتي ارګان، اتم کال، ګڼه ( ) ( ) کال
8- حجتي، رضا، مجموعه کامل قوانین و مقررات جزایي(تهران:کتابخانه ګنج دانش، ۱۳۷۴هـ ش کال)
9- حضرتي، غلام حضرت، عبدالحق، دماشوم دحقوقو زده کړه، دبشر دحقوقو خپلواک کمېسون
10- دانش، حفیظ الله، حقوق جزای عمومي لومړی ټوک، (کابل:IDLO ،- - کال)
11- دانش، حفیظ الله، حقوق جزای عمومي، دوهم ټوک، (کابل:IDLO، ( ) کال
12- دانش، حفیظ الله، اصولو محاکمات جزایي. ننګرهار پوهنتون، حقوقو پوهنځی، ۱۳۸۸ هـ ش کال
13- دانش، حفیظ الله، جزا شناسي، (کابل: IDLO، ۱۳۸۸ هـ ش کال)
14- د بښنې نړېوال سازمان، دعادلانه محاکمې لارښود. مترجم، نور مراد (کابل:GTZ موسسه ( ) کال
15- د بشري حقوقو ځانګړي نړېوال سندونه. د بشر د حقوقو خپلواک کمېسون، نشراتي ارګان ( ) کال
16- د بشري حقوقو بین الامریکایي کمېسون (,Dec,6) کال، OEA/ser/.L/V/11,57
17- د عدلیې وزارت، رسمي جریده، اساسي قانون، د قضایي او عدلیې چارو پروژه، USAID ، ۱۳۸۵ هـ ش
18- د عدلیې وزارت، رسمي جریده، مدنی قانون، د قضایي او عدلیې چارو پروژه، USAID ، ۱۳۸۵ هـ ش
19- د عدلیې وزارت، رسمي جریده، دجزایي اجراتو موقت قانون، د قضایي او عدلیې چارو پروژه، USAID ، ۱۳۸۵ هـ ش
20- دعدلیې وزارت، رسمي جریده،دجزا قانون، د قضایي او عدلیې چارو پروژه، USAID ، ۱۳۸۵ هـ ش
21- د عدلیې وزارت، رسمي جریده، داطفالو د سرغړونو د رسېدګۍ قانون،د قضایي او عدلیې چارو پروژه، USAID ، ۱۳۸۵ هـ ش
22- د عدلیې وزارت، رسمي جریده، د محبسونو او توقیف ځایونو قانون، د قضایي او عدلیې چارو پروژه، USAID ، ۱۳۸۵ هـ ش
23- د عدلیې وزارت، رسمي جریده، دمخدره موادو پر ضد د مبارزې قانون، د قضایي او عدلیې چارو پروژه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

USAID ، ۱۳۸۵ هـ ش
24- د عدلیې وزارت، رسمي جریده، دمحاکمو د تشکیلاتو او واکونو قانون، د قضایي او عدلیې چارو پروژه، USAID ، ۱۳۸۵ هـ ش
25- د عدلیې وزارت، رسمي جریده،دپولیسو قانون، د قضایي او عدلیې چارو پروژه، USAID ، ۱۳۸۵ هـ ش
26- د عدلیې وزارت، رسمي جریده،دمدافع وکیلانو د چارو دتنظیم قانون. ، ۱۲۸۶ د لپندۍ میاشت
27- د عدلیې وزارت، رسمي جریده، د دارالتادیب مقرره، ۷۴۴ مه ګڼه، ۱۳۷۰ هـ ش کال.
28- د عدلیې وزارت، رسمي جریده، دجرمونو دکشف تحقیق پر قانونیت یي د څارنوالۍ د څارنې قانون، ۴۲۴ مه ګڼه، ۱۳۵۸ م هـ ش کال
29- رازق، عبدالبصیر، عدالت برای اطفال، حقوق بشر کمپسون، دتعلیمي بخش خپرونه،
30- رسولي، محمد اشرف، اسباب سقوط مجازات، اول جلد، (کابل:دفضل نشراتي ارګان، ۱۳۸۳ هـ ش کال
31- د شکنجې ظالمانه مجازات او انساني ضد چلند پر خلاف ټرون، دملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د ۱۳۸۴ میلادي کال ، د دسمبر د مپاشتې د لسمې نېټې مصوبه(کابل: دافغانستان دعدلیې او قضایي چارو پروژه چاپ، ۱۳۸۷ هـ ش کال.
32- دمدني او سیاسي حقوقو میثاق، د بشر حقوقو خپلواک کمپسون، نشراتي ارګان( ) کال.
33- صحیح البخاري، کتاب المناقب، باب، علامه النبوة، او مشکاة، کتاب البیوع، باب الشرکه والوکاله،
34- طلایي، جاوید، کیفر شناسي. (تهران: انتشارات تیموری ( ) کال
35- عشرتي، عبدالاحد، مدافع و دفاع از متهم (کابل:عدلیي وزارت، شعبه نشرات قوانین و کتب، مطبعه دولتي.
36- علامه، غلام حیدر، در امد بر اصول محاکمات جزای افغانستان. عدالت، دعدلیې وزارت، نشراتي ارګان، نهم کال ( ) ګڼه.
37- عوده، عبدالقادر، داسلام جنایي تشریح او وضعي قوانین، مترجم، عبدالهادي هدایت، لومړی ټوک، کابل، دولتي مطبعه ۱۳۴۷ هـ ش کال.
38- فریدایک، نیومن استیفینګ، د بشري حقوقو په اړه مهمې لارښوونې. (کابل: قلعه فتح الله
39- م، نواک، دملګرو دمدني او سیاسي حقوقو میثاق په اړه تبصره ( ) کال.
40- محمد شفیع، معارف القران، پنځم جلد (پېښور، زیب ارټ پبلشرز، محله جنګي، ۱۵ مه پاړه
41- محمد معین، فرهنګ فارسي معین، انتشارات فرهنګ نما، چاپ اول ( ) کال
42- ماهنامه، حقوق بشر، سال اول، میزان و عقرب ( ) سال ،شماره ( )
43- ماهنامه، حقوق بشر، سال سوم، جوزا ( ) سال ، شماره( )
44- نظامي، عبدالقیوم، محاکمات جزایي، انستېتیوت بین المللي حقوق جنایي ( )
45- واثق، احمد ګل، د ننګرهار د دارالتادیب څېړنه، ۱۳۸۷ هـ ش کال
46- وقار، دل اقا، اسلام او بشري حقوق، ( ) کال
The all Pakistan, legal, decision, (P.C.D) 2000/ September -47
Author, Setitu, reid, Criminal, (criminology, copy right, me graw hill -48
.Companiec Flovid Astate University 2000
Dr. A. Majeed, Mr. M.Masood, Pakistan, prison rules. Kausar brother law book, -49
Edition/2006

(c) ketabton.com: The Digital Library

WWW.PRISONERFROMFRUST.ORG

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم ټوک

د کار او کارګر حقوق

Labors' Rights

نوی سید جمال الدین (افغان) انستټیوت

Institute New Said Jamaluddin "Afghan"

ترتیب کوونکي: پوهنیار محفوظ الله (عارفي)
جلال اباد، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم ټوک

لومړی څپرکی

د کار د حقوقو عمومي پېژندنه

لکه څنګه چې ورته مخکې اشاره وشوه، د کار د حقوقو پېژندنه د نړۍ د حقوقي سیستمونو په نظر کې نیولو سره د دانشمندانو لخوا ډول ډول تعریف شوې ده.

د کار د حقوقو تعریف:

د کار حقوق عبارت د هغو حقوقو څخه دي ، چې د وګړو په انفرادي او جمعي روابطو باندې نظارت کوي ،او د هغوی تر منځ روابط ترتیب او تنظیموي یا په بل عبارت، د کار حقوق د خصوصي حقوقو یوه برخه ده، او د هغو د قواعدو او پرنسیپونو مجموعه ده، چې د کارګر او کار فرما، ترمنځ روابطو باندې حاکمیت لري، او د ترتیب دنده اجرا کوي. یا په بل ډول، د کار حقوق هغه مقررات دي چې د کاریګرانو او کارفرمایا نو په اړیکو باندې حاکم وي. په داسې طریقه چې کارګر به د کارفرما د اوامرو په اساس کار سرته رسوي.

دکار د حقوقو اړوند اصطلاحات:

افغانستان د (۱۳۸۲)کال د اساسي قانون د(۴۸) مادې په رڼا کې د کارکوونکو د حقوقو، وجایبو، امتیازاتو او ټولنیزو تامیناتو پورې اړونده چارې تنظیم شوي، او په همدې منظور (۱۳۸۵)کال د قوس د میاشتې په (۲۷) نیټه د کار قانون په (۱۴) فصلونو او (۱۵۳) مادو کې د جمهور ریس لخوا توشیح او نشر شو.

د کارقانون د دویمې مادې له مخې هغه اصطلاحګانې چې د کار د حقوقو پورې اړونده دي، په لاندې ډول سره توضیح او تشریح کېږي:

(۱)- **اداره**: عبارت له وزارتونو، دولتي او غیر دولتي ادارو، خپلواکو کمیسونونو، تصدي ګانو، خصوصي او ګډو تشبونو او د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې مېشت بهرنیو موسسو څخه دي چې کار کوونکي په کې په تولیدي یا خدماتي کار بوخت وي.

(۲)- **کارکوونکي**: د سړي او نر په ګډون پر مامور او قراردادي کارکوونکو (مامور، کارګراو خدماتي کارکوونکي) باندې مشتمل دي.

(۳)- **مامور**: هغه کارکوونکی دی چې د دغه قانون او اړونده قانون د حکمونو په پام کې نیولو سره د ملکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمتونو د اداري له لارې په دايمي توګه استخدامېږي.

(۴)- **کارګر**: هغه کارکونکی چې د ټاکلې قرارداد په اساس په اداره کې استخدامېږي.

(۵)- **خدماتي** کارکوونکي: هغه اشخاص دي چې د ټاکلي قرارداد په اساس دکار د مرستندويه خدمتونو د ترسره کولو لپاره په اداره کې استخدامېږي.

(٦)- **قراردادي کارکوونکي**: پر قراردادي کارګر، خدماتي کارکوونکي او مامور باندې مشتمل دي ،چې په ټاکلي زماني مقطع کې د ټاکلي کار د ترسره کولو لپاره د قرارداد په ټرلو سره استخدامېږي.

(۷)- **کارفرما**: هغه حقيقي يا حکمي شخص دی ، چې کارکو ونکي د هغه په موا فقه يا منظوري په کار استخدامېږي، او د کارکوونکي اړوند مزد(معاش) او نور حقوق د هغه په واسطه يا منظوري اجرا او ورکول کېږي.

(۸)- **مزد**: له هغو وجوهو څخه عبارت دي، چې دکار د تر سره کولو په مقابل کې کارکوونکي ته ورکول کېږي.

(۹- **د مزد اجزا**: له هغو پولي امتيازاتو څخه عبارت دي، چې په دوامداره توګه د مشخص کار د ترسره کولو په غرض، د اړوندو تقنيني سندونو د حکمونو مطابق، کارکوونکي ته ورکول کېږي.

(۱۰)- **دمزد ضمايم**: له هغه پولي امتيازاتو څخه عبارت دي، چې په زماني ټاکلو مقاطعو کې د مشخص کار د تر سره کولو په غرض د اړوندو تقنيني سندونو د حکمونو مطابق کارکوونکي ته ورکول کېږي.

(۱۱) **ټولنيز تامينات**: هغه وجوهات دي، چې د کارکوونکي او اداري په برخه اخيستنه يادکلاء(۱) اداري په واسطه د کار او تقاعد په دوران کې دکارکوونکي د معيشت دتامينولو په غرض د احوالو سره سم مرسته کېږي.

(۱) اړونده

(۱۲)- **د حاضرۍ دفتر**: هغه ليکلی سند دی، چې د کار په وختونو کې په اداره کې د کارکوونکو موجوديت تثبيتوي، او د کارکوونکي چارو اداره د هغه په تنظيمولو، برابرولو او ساتلو مکلفه ده.

دکارکونکي حاضري د هغې اداري د اړوند امر په واسطه چې د کارکوونکي سجل ارزوي او تائيدوي څارل کېږي.

د افغانستان د (۱۳۸۲)کال اساسي قانون د (۴۸) مادې له مخې:

کار د هر افغان حق دی، د کار ساعتونه ټاکل او بامعاشه رخصتي، د کارګر او کارفرما حقوق، او له هغو سره نورې چارې د قانون له لياري تنظيمېږي. د قانون د حکمونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب ازاد دی.

ټولنيز او ځانګړي کارونه:

سره له دې چې د کارحقوق د حقوقو د نورو څانګو په نسبت يوه نوې رشته ده، خو بيا هم که چيرته د انسان ژوند او فعاليت ته کتنه وشي، نو څرګندېږي چې نومړي رشته د ځمکې پر مخ د انسان د زندګۍ او ژوند سره يوځاي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجوده وه ،او د انسان د عمر په اندازه سابقه لري. دا چې ټول انسانان په نړۍ کې د کار فعالیت درلودونکي دي، نو ځکه اړتیا لیدل کېږي چې د بشر د ژوند د تامین او تضمین لپاره د کار په اړه هم یو لړ قواعد په ټولنه کې باید موجود وي. که چېرې په یوه ټولنه کې یو شخص د بل چا لپاره یو کار یا فعالیت ترسره کړي، او په ټولو کړنو او اموراتو کې د بل شخص د توافق او نظارت لاندې د اجورې په مقابل کې د مورد نظر شخص لپاره کار او فعالیت کوي. د اسې کار د کار د حقوقو د بحث موضوع جوړوي، او زمونږ راتلونکي بحثونه هم همدې موضوع ته اړوند دي په همدې موضوع پورې تړلي وي.

په دې اساس د کارګر او کارفرماترمنځ هغه اړیکې چې د یو قرارداد د لاسلیک په واسطه منځته راځي، او کارګر په کښې تعهدکوي چې خپله کړنه او فعالیت به د مزد او اجورې په مقابل کې د کارفرما د ارادې او نظریې لاندې تر ټاکلي وخته پورې اجرا کوي، نو په دې صورت کې کارګر ته لازمه ده، چې د خپل طاقت او توان مطابق کار ادا کړي ، دا ځکه چې کارګر کارفرما ته مسئولیت لري چې د کار د قرارداد مطابق کار پای ته ورسوي چې بیا په همدې اساس کارګر د مزد مستحق شمېرل کېږي.

په دې شکل سره په ټولنه کې ځینې کارونه دي چې عرفاً او عادتاً شخصي کاروبار (employment Self) کارونه دي، یعنې وګړي په ټولنه کې دا کارونه ځانته ترسره کوي لکه د دهقانۍ او سوداګرۍ چارې چې په خپلواک توګه سره اجراکېږي. نو دا نوعه کارونه د کار د حقوقو د مطالعې لاندې نه دي، او یا هم د دولتي کار کنانو کار چې د مامورینو د قانون او د اداري حقوقو په چوکاټ کې د مطالعې لاندې نیول کېږي.

باید وویل شي، چې د کار په ډګر کې کارګر ته هغه وسایل او لوازم چې کار پرې ترسره کېږي او د هغوی د سلامتیا او د کار د اسانۍ لپاره ضروري دي، باید دکار فرما لخوا ورته تهیه او برابر شي، او هم هغه ستونزې چې د کار د اجرا له امله راپیښې شوې وي د قانون له مخې یې کارفرما، د حل کولو مسوولیت لري او هلې ځلې به کوي چې حل شي. د کارګر او کارفرما ترمنځ د کار قرارداد په نتیجه کې یو لړ حقوقي اثار رامنځته کېږي. یعنې هر کله چې د کار قرارداد په یوازې (انفرادي) شکل سره وي او یا هم په ټولنیز او جمعي شکل سره وي، یو لړ حقوقي اثار او نتایج په لومړي قدم کې د کار قرارداد طرفینو ته او بیا درېیم ګړي اشخاصو ته راجع کېږي. د کار د ټرل شوي قرارداد له مخې کارګر باید د کار د قرارداد د شرایطو په اساس کار په ټاکلي وخت کې پای ته ورسوي، که د کار قرارداد کارفرما د یو انفرادي شخص سره وکړي او یا هم د څو اشخاصو سره په ډله ییز یا جمعي ډول لاسلیک کړي، نو یوازې د کار حقوق د طرفینو او دریم ګړي اشخاصو په حقوقو او وجایبو باندې نظارت او کنټرول تر سره کوي.

دکار د حقوقو موضوع:

دا یو څرګند حقیقت دی چې په هره ټولنه کې ډیر وګړي شتون لري ،چې په خپلواکه توګه سره د بل شخص د ارادې پرته ځیني کارونه اجراکوي، لکه په محاکمو او قضاء کې مدافع وکیلان،طبیبان او یا هم د ځمکو خاوندان چې خپله ځمکه کې کشت اوکر کوي او داسې نور اشخاص چې ازاد شغل او پیشه لري. همدارنګه د صنعتي اتحادیو ګډونوال چې اصولاً دغه وګړي د کار حقوقو په چوکاټ کې د مطالعې او بحث لاندې نه نیول کېږي. بلکه هغه وګړي چې خپله بدني او فکري انرژي او (قوت) ،او د کار نیرو د بل شخص (که هغه حقیقي وي او یا حکمي وي) په واک او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختیار کې ورکړي، داسې کار د کار د حقوق موضوع جوړوي. نو له دې امله ویلی شو چې کارفرما هغه شخص دی چې د کار وسایل او سرمایه (پانګې) درلودونکي دي او کارګرته د مزد په مقابل کې د کار د اجرا کولو دستور ورکوي. نو د دغه ډول کارګرانو او کارفرمایانو اړیکې دکار په ساحه کي د کارد حقوقو د مطالعې او بحث موضوع جوړوي. نو ځکه ویلی شو چې د کار د حقوقو موضوع د فردي اړیکو ترڅنګ د جمعي روابطو څېړل هم دي.

دکار د حقوقو اهداف او موخې:

د افغانستان د کار دقانون د دویمې مادې له مخې د کار د حقوقو موخې دا دي:

۱. د کارکوونکي د کار د اړیکو تثبیتول، تنظیمول او ټینګښت

۲. د کار د مساوي حق تامینول، او د کارکوونکي له حقوقو څخه ساتنه .

۳. د کارکونکو د ژوندانه د مادي، ټولنیزې او فرهنګي سطحې د لوړتیا لپاره د کار او تولید سازمان ورکول او د هغې ښه کول، د کار د لاسته راوړنو وده، د کار له بشري ځواک او سرچینو څخه معقوله ګټه اخیستنه ،د کار او تولید د انضباط ټینګښت د مترقي معاش او مزد او ټولنیزو تامیناتو او د سیستمونو تعمیمول.

۴. د کار او تولید د اداري کارکوونکو او مسئوولینو د حقوقو او ملکفیتونو تثبیتول، د کار د ساتنې او ایمني*1 د تخنیک د شرایطو تامینول، د ملي اقتصاد د ودې او ټینګښت لپاره د مهارتونو او ظرفیتونو پرله پسې لوړول او پرمختیا.

۵. د کار او تولید په ټولو برخو کې د قانونیت تعمیمول او په کار پورې د اړوندو تقنیني سندونو یو شان تطبیقول.

۶. د کار د موندنې د خدمتونو د وړاندي کولو د اسانتیاوو برابرول.

*1 امنیتې

د کار د حقوقو منابع:

د ځینو پوهانو له نظره د کار د حقوقو منابع او سرچینې عبارت دي له داخلي او خارجي منابعو څخه. خو ځینو نورو حقوق پوهانو د کار د حقوقو منابع بیا د اصلي او فرعي سرچینو په توګه پېژندلي دي، چې په لاندې ډول تشریح کېږي:

1: اصلي سرچینې (منابع):

عبارت د هغه سرچینو څخه دي چې د کارګر او کارفرما پر اړیکو نیغ په نیغه (بلا واسطه) تاثیر واردوي او هر یو د طرفینو نه او یا هم درېیم ګړي اشخاصو ته حقوقي اثار تولیدوي او محاکم کولای شي چې نومورو منابعو په استناد فیصله وکړي.

یا دا هغه قواعد او مقررات دي، چې د یو هېواد د کارګر او کارفرما په روابطو باندې حکومت وکړي، او مستقیمه پایله ولري، او نړیوالو مقرراتو او ضوابطو ته راجع نه شي چې دا اصلي منابع په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: اسلامي شريعت: په ټولو اسلامي هېوادونو کې د اسلامي شريعت احکام او دلايل د هر څه نه وړاندې د ټولو بشري منازعاتو حل کوونکي او د حقوقو ساتونکي دي. اسلامي شريعت د کار د ساحې او د کارګر او کارفرما د حقوقو په اړه پوره تفصيلي احکام وړاندې کړي، چې په راتلونکي درسونو کې به يې په تفصيل ولولو.

ب: اساسي قانون:

هغه هېوادونه چې د ليکلي اساسي قوانينو څښتنان دي، نو د هغه هېوادونو اساسي قانون د دولت د ټولو قوانينو په راس کې قرار لري، او د نظام د کلي سياستونو ،اهدافو او د کار او کارګر د حقوقو پورې اړونده موضوعات په اساسي قانون کې د بحث لاندې نيسي.

د کار د حقوقو په هکله لومړي اساسي قانون د مکزيک په هېواد کې منځ ته راغی، چې ۱۹۱۷ کال د فبروري په ۵ نېټه تصويب شوی وه. چې د نومورې قانون په ۱۲۳ ماده کې د کار د حقوقو په هکله يادونه شوېده او داسې موضوعات لکه د ورځې د کارد ساعتونو ټاکل د اونۍ رخصتي، د ماشومانو او ښځو کار، پدې ارتباط د دولت دندې، د مزد او اجورې ټاکل او د اجباري کار ممنوع والی، د تبعيض منع، د کار او شغل انتخاب، انفرادي او ټولنيزو قراردادونو او داسې نورو برخو ته پکې اشارې شوې وې.

په دې ډول سره د لاتيني امريکا اساسي قانون چې په ۱۹۱۹ ميلادي کال کې، د المان د وايمار د اساسي قانون څخه يې الهام اخيستی وو، په کلي توګه سره د کار د حقوقو څخه يادونه کړې وه.

او هم د ۱۹۵۸ کال د فرانسې د پنځمې جمهوري دورې اساسي قانون چې د کال ۱۹۴۶ د څلورمې جمهورې دورې اساسی قانون موده يې تائيده کړې وه، او د دې يادونه پکې شوې وو، چې هيڅوک نه شي کولای چې يو څوک د قومي، نژادي، عقيدوي، سياسي او يا هم د ديني باورونو او عقايدو له مخې متضرر کړي او هر څوک کولای شي، چې د خپل حقه حقوقو او ګټورو فعاليتونو څخه د قانون په رڼا کې دفاع و کړي او ګټه ترې پورته کړي ،او همدارنګه په دې قانون کې ټولنيزو تامينات و او عامه مشارکت ته هم اشاره شوې وه. په همدې ډول سره د هندوستان د هېواد سترې محکمې د ۱۹۸۲ کال د سپتمبر په ۱۸ مه، د يوې لويې پريکړې د اعلان په ترڅ کې ښکاره کړه چې د کار قانون د اساسي قانون د مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي او که چېرې د کار د حقوقو څخه حکمي او يا هم حقيقي اشخاص سرغړونه وکړي، نو د هېواد لويه څارنوالي کولای شي، چې د ټولنې د عمومي مصالحو په منظور قضاياوو ته رسيده ګي وکړي او هم يې ځينې نور موضوعات لکه د اجورې(مزد) اقل حد ټاکل، د مساوي مزد (اجورې) حق ،د کار د پيل د عمر ټاکل، د اجباري کار ممنوعيت او داسې نور و مهمو کاري موضوعاتو په هکله حکمونه صادر کړل.

د ايران د مشروطه شاهي ۱۳۲۴ هجري شمسي کال اساسي قانون ۲۱ ماده وايي، ((انجمن ها و اجتماعاتي که مولد فتنه ديني و دنيوي و مختل نظم نباشد در تمام مملکت ازاد است.))

د ايران د اسلامي جمهوريت د ۱۳۵۸ کال د اساسي قانون په سريزه کې ليکل شوی دی: (برنامه اقتصاد اسلامي، فراهم کردن زمينه مناست برای بروز خلاقيتهای متفاوت انساني و تامين امکانات مساوي و مناسب و ايجاد کار برای همه افراد و رفع نيازهای ضروري جهت استمرار حرکت، تکيه های انسان ها بر عهده حکومت اسلامي قرار داده شده

(c) ketabton.com: The Digital Library

است.))

په دې ډول سره د ایران اسلامي جمهورت ۱۳۵۸ کال اساسي قانون ۲۸ ماده کې راغلي دي. ((هر کس حق دارد که د ارای شغل را که بدان مایل است مخالف اسلام و مصالحه عمومي و حقوق دیگران نسیت برگزیند. دولت موظف است با رعایت نیز جامعه و مشاغل گوناگون برای همه افراد امکان استعمال به کار و شرایط مساوي را برای افراد مشاغل ایجاد نماید.))

د پورتني قانون د ۴۳ مادې دوهمه فقره وایي ((تامین شرایط و امکانات کار برای همه به منظور رسیدن اشغال کامل و قراردادن وسایل کار در اختیار همه کسان که قادر به کار اند، اما وسایل کار نه دارند به شکل تعاوني از راه و رم بیدون بهره یا حراره شروع دیگر که نه به تمرکز و تداول ثروت در دست افراد و ګروهاي خاص منتهي شود و نه دولت را به صورت یک کارفرما بزرګ در اورد، این اقدام باید با رعایت ضرورتهای حاکم به برنامه ریزي عمومي اقتصاد و کشور در هر یک هزار رشد صورت ګیرد.))

فقره سوم، تنظیم برنامه اقتصادي کشور به صورت که شکل، محتوای و ساعات کار چنان باشد که هر فرد علاوه بر تلاش تشغلي، فرصت و توان کافي برای خود سازي معنوي، سیاسي و اجتماعي و شرکت فعال در رهبري کشور، افزایش مهارت و ابتکار داشته باشد.

فقره چهارم: رعایت ازادي انتخاب شکل و عدم اجبار افراد به کار معین و جلوګیري از بهره کشي از کاردیګري.

همدارنګه په ۱۰۴ ماده کې داسې راغلي:.

منظور تامین قسط اسلامي و همکاري در عقبه برنامها و ایجاد هماهنګي در پیشرفت امور در واحدهای تولیدي، صنعتي و کشاوزي، و شوراهای مرکب از نمایندګان، کارګردان، دهقانان و دیګر کارکنان ایران و در واحدهای اموزشي اداري، خدماتي و مانند این ها شورا های مرکب از نمایندګان اعضای این واحدها تشکیل میشود.

د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون ۴۸ ماده وایي:

کار د هر افغان حق دی، د کار د ساعتونو ټاکل، با معاشه رخصتي د کار او کارګر حق، او له هغې سره نورې مربوطې چارې د قانون له لارې تنظمېږي.

د قانون د حکمونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب ازاد دی، په دې توګه د افغانستان شاهي دولت ۱۳۴۳ کال اساسي قانون ۳۰ ماده وایي: (کار د هر افغان حق او پر غاړې فرض دی، چې د کولو وس یې ولري د کار د تنظیم لپاره چې کوم قوانین جوړېږي د هغو یو هدف داسې مرحلي ته رسیدل دي، چې د کارګرانو د بیلا بیلو ډلو حقونه او ښېګڼې پکې خوندي شي، د کار مناسب حالت را پیدا شي او د کارګر او کارفرمایانو تر منځ روابط په عادلانه او پرمختللي ډول تنظیم شي. د کار او کسب غوره کول په هغه شرطونو کې دننه چې قانون ټاکلي ازاد دي.

ج. عادي قوانین:

عادي قوانین د پارلمان د هغو پرېکړو او تصامیمو څخه عبارت دی، چې د هېواد د اساسي قانون په چوکاټ کې وضع شي، نو ځکه دکار حقوق په ځیني هېوادونو کې د مختلفو مسوباتو او تصامیمو په شکل په پراګنده ډول سره وي ،او نور یې بیا د یو واحد قانون (د کار قانون) په شکل سره موجود وي، د هر هېواد پارلمان (ولسي جرګه او مشرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرګه) د تقنین کمیسون له خوا د ډېر دقت او کتنې څخه وروسته قانون تصویبوي او بیا د رئیس جمهور د توشیح وروسته نشر او تنفیذ حیثیت غوره کوي، لکه د افغانستان مدني قانون، د تجارت اصول نامه، د جزا قانون او نور مدني او جزایي شکلي قوانین او هم د کار قانون، د بیمې قانون، د بهرنیو اتباعو د استخدام قانون، بهر ته د افغاني کارګرو اشخاصو د لېږلو قانون او داسې نور قوانین چې د کار د حقوقو په هکله تصویب او توشیح شویدي.

لکه د افغانستان مدني قانون د ۴۹۷ مادې څخه تر ۷۵۷ مادو پورې ټول عقودیي تشریح او توضیح کړي دي.

د مدني قانون د ۴۹۷ مادې له مخې عقد د عقدکوونکو د دواړو خواوو څخه د یوه د ایجاب پورې ارتباط لري او د بلې خوا د قبلول پورې ،خو د قانون د حکمونو په حدود کې او په عقد سره د هر یو عقد کوونکي التزامونه او یوه د بل په وړاندې په حقوقو او وجایبو باندې مرتبېږي.

همدا شان د مدني قانون ۵۰۱ ماده:

عقد د یو ټاکلی کار یا د ټاکلي خدمت د اجرا کولو په غرض صحیح وي، او ۷۵۱ ماده د ځانګړې ارادې په هکله وایي ،د عقد پورې مربوط حکمونه په ځانګړي ارادې تطبیق کېږي ، مګر په هغه حالت کې چې د الزام د پیدا کولو لپاره د دوو مطابقو ارادو د وجود د ضرورت پورې تعلق پیدا کړي.

نومورې قانون ۷۵۲ ماده د ځانګړې ارادې خاوند د خپل کړنې څخه مسئوول شمېري، د ځانګړې ارادې خاوند په هغه حالاتو کې چې قانون پرې حکم کوي، ملزم ګڼل کېږي او په ۷۵۵ ماده کې تر څو چې وعده کوونکي مړ یا مفلس نه شي پخپله وعده ملزم دی. په دې ډول سره د افغانستان ۱۳۳۴ ه ش کال د تجارت قانون له مخې د کار د حقوقو اړوند موضوعات د څېړنې لاندې نیولي دي.

د افغانستان ۱۳۵۵ کال د جزا قانون ۴۸۰ ماده د عقد کوونکي د تقلب او نورو موضوعاتو په هکله ده.

د افغانستان د کار قانون او د ملکي خدماتو د کارکوونکو قانون هم د کار د حقوقو په اړه مفصل بحث لري.

دابنکاره خبره ده چې د کار بدلون د کار د مختلفو برخو او ډولونو موجودیت د کار د ساحې او چاپېریال تفاوت او هم د کار د فن او شغلي اړخونو په نظر کې نیولو سره د پارلمان لخوا ځینې مقررات او تصامیم نیول کېږي چې دا ډول مقررات د اړوندو وزارتونو او اجرایوي ارګانونو د فني او تخصصي اشخاصوپه ګډون د مسودو په شکل سره جوړېږي چې بیا د پارلمان لخوا په تصویب باندې رسېږي.

د ائین نامو او مقرراتو په جوړولو کې د مسلکي او فني اشخاصو ترڅنګ د کار ګرانو او کار فرمایانو نمایندګان ګډون کوي او خپل نظرونه څرګندوي لکه: د ایران د ۱۳۳۷ کال د کار قانون دې ډول مصوباتو مرجع د کار عالي شورا چې مرکبه د دولت، کار ګرو او کارفرمایانو د نماینده ګانو څخه ده دکارګر او کارفرما د منافعو څخه ساتنه کوي.

د- قضایي رویه:- په زیاتو هېوادونو کې د محاکمو رایې او فیصلې او یاهم د نورو کارګري شوراګانو تصامیم د کار پورې اړوند دعواوو ته رسیدګي کوي لکه څرنګه چې د ایران د اسلامي جمهوریت دولت د ۱۳۶۹ کا د کار قانون د نهم فصل له مخې: هرکله چې د هئیت تشخیص(د کار او ټولنیزو چارو وزارت نماینده، د کارګر او کارفرما نماینده ګان) او د شخړو د حل د هئیت لخوا د کارد حقوقو په اړه د عوا حل و فصل نه شي نو بیا محاکمو ته موضوع راجع

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي. پس ویلای شو هغه هېوادونه چې د عرفي حقوقي نظام (common law) څخه پېروي کوي لکه فرانسه چې د عرفي حقوقي نظام څخه د ډېرې پخوا زمانې راهیسې د موضوعاتو په حل و فصل کې استفاده کوي.

خو هغه دولتونه چې د لیکلي قوانینو او حقوقو درلودونکي دي او د قوانینو په سر یو ځانګړی عالي دیوان د نظارت د تطبیق موجود وي لکه د ایران او افغانستان او داسې نورو هېوادونو قضائي رویې ته دومره اهمیت نه ورکوي، ځکه پدې هېوادونو کې ځانګړې اداري او محاکم د کار د حقوقو څخه د راپیداشوو دعواوو حل او فصل ته رسیدګي کوي.

ه. - ټولنیز او دسته جمعي تړونونه: د دې ډول تړونونو څخه هدف د کارګر او کارفرما د نمایندګانو ترمنځ د کار شرایطو ټاکل دي چې دا تړونونه باید د اساسي قانون، عادي قوانینو او مقرراتو او د اجرایه قوې د مصوباتو سره یو شان جوړ شي. یا په بل ډول سره ټولنیز تړونونه د کارګري سازمانونو او د کار فرما د سازمانونو لخوا د کار د شرایطو ټاکل مزد (اجورې) د کار وخت، او داسې نور چې د کار په محیط او چاپیریال کې د اقتصادي کړنو په منظور لاسلیک کېږي.

ټولنیز تړونونه په ټولو هیوادونو کې د کار د حقوقو د یو ډول سرچینو په توګه نه شمېرل کېږي، ځکه هغه حقوقي نظام چه کارګري اتحادیو سازمانونو او صنعتي ګروپونو ته په کې زیات اهمیت ورکول کېږي؛ نو دغه ډول تړونونو ته په کې ډېر ارزښت ورکول کېږي.

نن ورځ په معاصره نړۍ کې د کار د حقوقو پورې مربوطو قواعدو او مقرراتو په جوړولو کې دولتونه د کارګر او کارفرمایانو د سازمانونو او اتحادیو څخه مشورې او مرستې غواړي چې د ډېر اهمیت څخه برخورداره دي.

و- عرفي او عایداتي شغل: د نورو حقوقي رشتو په شان د کار په حقوقو کې عرف او تعاملات د ډېر اهمیت څخه برخورداره دي. عرف او عادات په مجموع کې په ټولو هغو قواعدو باندې اطلاق کېږي چې هدف یې د کار او کارګرو د کار په چاپېریال کې د یو ټاکلي حرفی او شُغل په نظر کې نیولو سره په دوامداره شکل سره پیروي وکړي. د دغه شغل د باور او عقیدې په اساس د عرفي قواعدو اجرا لازم الاتباع ده. نو ځکه نن ورځ محاکم هم د یو استنادي دلیل په توګه حرفوي او شغلی عرفي تعاملاتو ته اهمیت ورکوي په ځانګړي ډول سره د فرانسې او مصر د کار قوانین چې د کارګر د مخکینۍ خبر او اطلاع موجودیت د کار د خروج په اړه، او یا هم په ازمایښتي دوره کې د زده کړې موجودیت او یا هم د اخراج د خساراتو په هکله مواد موجود دي

باید څرګنده شي چې عرف په هغه وخت کې د کار د حقوقو منبع په حیث پیژندل کېږي چې دوه مهم عناصر یعنې مادي او روحي پکې جمع او راټول شوي وي، او شغلي عرفونه هغه وخت اعتبار پیداکوي چې د ډېرې اوږدې مودې راهیسې د کار په ټاکلي ساحه کې په مسمر شکل سره دوام پیدا کړی وي، او دغه روش د وګړو د باور او رعایت سره لازمه جنبه غوره کړې وي. نن ورځ د کار حقوقو هم عرف او عادات د کار د حقوقو د یوی مهمې منبعې په حیث قبوله کړیده چې د قضا او محاکمو د استناد وړ ګرځېدلې ده، او نسبت نورو قواعدو ته زیاتره د اجرا وړ ګرځېدلې ده

II. د کار د حقوقو خارجي (بین المللي) منابع:

د کار د حقوقو بین المللي منابع د کار د قواعدو د ایجاد په اړوند مهم نقش لري چې عبارت دي له دووه یا څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانبه ټړونونه نړیوال ټړونونه ، بین المللي قضایي او اولي.

۱ : دوه یا څو جانبه ټړونونه:

عبارت د هغو ټړونونو څخه دي چې د دوو یا څو دولتونو ترمنځ منعقد شي ،چې همدا ټړونونه کولای شي د کار د حقوقو په برخه کې مهم نقش ادا کړي، او پدې ټړونونو کې وړاندې شوي شرایط کېدای شي د کار د قوانینو یو جز قبول شي.

۲ : بین المللي ټړونونه:

دا قسم ټړونونه معمولاً د کار د نړیوال سازمان لخوا منځ ته راځي او دا د کار د نړیوال سازمان د غړو هېوادونو لخوا په تصویب رسېږي، او بیا یې په عمل کې پیاده کوي، چې دا ټړونونه دبین المللي ټړونونو په نوم یادېږي. چې معمولاً غړي دولتونه یې مکلف دي چې د دې ټړونونو مواد په خپلو قوانینو کي ځای په ځای کړي.

۳ : بین المللي قضایي رویې:

بین المللي قضایي رویې عبارت د هغې روې څخه دی چې د بین المللي عدالت محکمې لخوا د کارپه اړوند په مختلفو برخو کې صادرشوي وي.

نړیوال موازین او معیارونه:

هغه لاملونه چې د هېوادونو په داخل کې د کار د حقوقو د رامنځته کېدو او هم د کار د قانون تصویب ته منجر شو هماغه ملي کارګري انګېزه او نظرونه وو چې د کار نړیوال معیارونو او مسایلو ته یې سرعت ورکړ. ځکه د یوې خوا صنعتي هېوادونه یو د بل سره په صنعتي رقابت کې ښکیل وه، او غوښتل یې چې د کارګرانو د اجتماعي حمایې تمایل ولري، چې په نړیواله سطحه سره نړیوالې کارګري غونډې او اجتماع ګانې جوړې کړې چې تر څو د انترناسیونال او نړیوال ګروپ په حیث د عامه افکارو جلب او توجه ځانته را واړوي. نو د پورتنیو لاملونو په اساس کارګرانو وکولای شول چې په نړیواله سطحه خپل موقف ثابت کړي. د لومړي نړیوال جنګ په پای کې د وارسا د صلح د عهد نامې په ضمن کې د دې یادونه شوې وه، چې بیا په کال ۱۹۱۹ کې کار نړیوال سازمان رامنځته شوه.

د دوهم جهاني جنګ په درشل کې هم د کار بین المللي سازمان خپل فعالیتونو ته دوام ورکړه چې اوس د ملګرو ملتونو د تخصصي سازمان په توګه د کار په ساحه کې د کارګرو او کارفرما د حقوقو د تأمین او تضمین په هکله فعالیتونه کوي. د کار نړیوال سازمان په کال کې یو ځل د یوې میاشتې په اوږدو کې غونډه کوي چې ۱۸۰ هېوادونو نماینده ګان (دولت، کارګرو او کارفرما) په ګډون د مشاورو نماینده ګانو په ټېر د سازمان په غونډو کې شرکت کوي. د کار بین المللي سازمان پرېکړه او تصامیم د حاضرو غړو دوه پر دریو اکثریت سره کېږي او مهمې مقاوله نامې Covention او توصیه نامې پدغه کنفرانس کې په تصویب باندې رسېږي

چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول سره د عضوۀ هېوادونو قوانین او مقررات د تاثیر لاندې راولي ،چې تر اوسه پورې نوموړي سازمان ۱۸۰ مقاوله نامې څخه زیات او ۱۹۰ توصیه نامو څخه زیات په تصویب باندې رسولي دي، د کار بین المللي سازمان د دفتر لخوا د کار د مقرراتو او شرایطو مطابق فني او اموزشي مرستې او کومکونه هېوادونو سره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید وویل شي چې د لومړي جهاني جنګ څخه مخکې د کارد نړیوال سازمان د ایجاد تفکر موجوده و چې د کار د حقوقو په هکله عام الشمول مقررات وضع شول. چې پدې لړ کې متعددو او زیاتو هېوادونو تر منځ نړیوال کنفرانسونه وشول. لومړی نړیوال کنفرانس په ۱۸۹۰ کال د ۱۴ هېوادونو په استازیتوب د اروپا د برلین په ښار کې دایر شو، چې په دې کنفرانس کې د کار د شغل دپاره یې د حد اقل عمر ټاکل او هم په معادنو او ذخایرو کې د کار د شرایطو ټاکل، د ماشومانو او ښځود کار محدودوالی، او د اونۍ د رخصتیو او داسې نورو کاري حقوقو یادونه او پرېکړې تر سره شوې.

په ۱۸۹۷ کال کې په بروکسیل کې او بیا په ۱۹۰۰ کال کې په پاریس کې او بیا په ۱۹۰۱ کال کې د سویس په بال ښار کې او په ۱۹۰۵- ۱۹۰۶ -۱۹۱۳ کلونو کې د سویس مرکز برن کې نړیوال کنفراسونه د کار د حقوقو په هکله تشکیل شول، چې په نوموړو کنفرانسونو کې د کار او کارګر د حمایې او ساتنې لپاره د یو نړیوال انجمن ایجاد او تاسیس شو.

د لومړی نړیوالې جګړې په اوږدو کې امریکایانو او اروپایانو کوښښ وکړ، چې د کار نړیوال سازمان رامنځته کړي چې په اخر کې وړاندیز وشو چې د وارسا د سولی د قرارداد په متن کې دې یو فصل د کار د شرایطو لپاره ځانګړی شي، او د نوموړي قرارداد په ۱۳ م فصل کې د کار د نړیوال سازمان د لومړی جلسی شروع په ۱۹۱۹کال کې په واشنګټن کې وشوه چې د ۲۰ کلونو پورې به دغه ښار د دې سازمان مقر وو. خو د نړیوال جنګ د تهدید له امله دا مرکزیت د کاناډا مونتریال ښار ته انتقال شو، او په ۱۹۴۱ کال د نیویارک ښار ته او ورپسې بیا د فلادلفیا ښار کې کنفرانسونه تشکیل کړل. چې دغه کنفراسونه د کار بین المللي سازمان په تاریخ کې د ځانګړي اهمیت څخه برخورداره دي، ځکه یوه اعلامیه د کار د نړیوال سازمان د اهدافو اړونده او د سازمان د اساسنامې یوه ضمیمه پکې نشر شوه. کله چې په ۱۹۴۵ کال کې د ملګرو ملتونو سازمان تشکیل شو، نو د کار بین المللي سازمان د یو تخصیصي ارګان او سازمان په توګه په فعالیت د ملل متحد په چوکاټ کې شروع کړ. د کار نړیوال سازمان لاندې درې عمده رکنونه لري:

۱ – **مدیره هیئت** : اجرایئوي دفتر کارونه کوي او د دولتونو او کارګرانو او کارفرمایانو نماینده ګان پکې شته.

۲ – د کار د نړیوال سازمان د پریکړو او تصامیمو د اجرا ځانګه

۳ – د کار د نړیوال سازمان کنفرانس: چې دا کنفرانس په هر کال کې یوه غونډه کوي چې د عضو هېوادو څلور نماینده ګان پکې ګډون کوي، چې زیاتره مشهور عضوه هېوادونه د کار د ساحې د کارګرانو او کارفرمایانو د حقوقو او هم د بین المللي کارګري اتحادیو د جوړولو او خپلواکۍ په هکله مقاولې او مصوبات په اکثریت اراوو فیصله کوي.

۱ – مقاوله نامې (Convention) :

مقاوله نامې د کار د بین المللي سازمان هغه مصوبات دي چې د عضوه هېوادونو د دولتونو د نماینده ګانو لخوا لاسلیک شي، او د هېوادونو نماینده ګان مکلف دي، چې دغه مقاولې د ۱۲ میاشتو تر ۱۸ میاشتو پورې د خپل هېواد د پارلمان د لارې په تصویب ورسوي. که چېرې د عضو هېوادونو پارلمان یې تصویب نه کړي، نو د عدم تصویب دلایل او عوامل په روښانه کولو سره د کار بین المللي سازمان دفتر ته خبر ورکوي.

په کلنۍ غونډه کې د هر هېواد د نماینده لخوا د کار د حقوقو په هکله د خپل هېواد ګذارش وړاندې کېږی، او د ځانګړي ټاکل شوي کمیسون لخوا موضوع تر څېړنې لاندې نیول کېږي. که چېرته لازم وګڼل شي ،چې دعوه د منلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړ ده، نو موضوع ته رسیده ګي کېږي، او د عضوي هیواد دولت د مخالف په نامه په لست کې شاملېږي.

۳ – توصیه نامې (Recommendation)

لکه چې د نوم څخه یې معلومېږي دا عبارت د هغو مصوباتو څه دی چې توصیه وي او سفارشي جنبه او اړخ ولري، او د تصویب لپاره د عضوه هېوادو دولتونو پارلمان ته استول کېږي. چې د هر هېواد پارلمان د توصیې نامې د ټول متن او یا هم د یوې برخې د تائید صلاحیت لري. توصیه نامې معمولاً د کار د حقوقو اړونده د نوو او پرمختللي شرایطو او حالاتو د ایښودلو په اړه وي، چې لا تر اوسه پورې عضوه هېوادونو هغه پلی کړي نه دي، او د مقرراتو د اجرا غوښتنه ترې کوي. توصیه نامې د مقولې نامې په پرتله د اجرا له حیثه په ټیټ قدرت لرونکی حیثیت کې واقع دي، نو پدې منظور د دولتونو او ملتونو څخه هیله کوي ،چې په اخلاقي لحاظ سره نومورې توصیه نامې د اجرا لاندې ونیسي، لکه په ۱۹۶۳ کال کې د کار ګرو د اخراج په اړه توصیه نامه صادره شوې او بیا په ۱۹۸۲ کال کې د مقاولې نامې په ډول په تصویب ورسېده یعنې کله چې د ځنې موضوعاتو په اړه هر اړخیز توافق نه وي، نو بیا د هغې د عملي کولو لپاره توصیه نامه په تصویب باندې رسېږي. هر کله چې هېوادونه د کار د حقوقو څخه سرغړونه وکړي، نو د کار بین المللي سازمان د تحقیق او څېړنې د کمیسون د غور څخه وروسته موضوع د نړیوالی محکمې دیوان ته د حل په منظور استول کېږي.

نړیواله قضایې رویه:

بین المللي قضایې رویه د لاهي د نړیوالې محکمې او یا هم د عدالت بین المللي دیوان د هغو اراو، نظریاتو او پریکړو مجموعې څخه عبارت دی، چې د کار د حقوقو په هکله یې صادر کړي وي، چې په نړیواله سطحه د کار د حقوقو د حفظ او نظارت او دعواو د ارجاع په صورت کې د حل و فصل لپاره تر ټولو غوره نړیواله مرجع ده.

باید وویل شي چې د کار د نړیوال سازمان اعلامي، قطعنامې او یاهم د فني او تخصیصي سازمانونو او تخصیصي کمیسونونو او مسلکي اشخاصو نظریات او یا هم د مدني او سیاسي حقوقو او ټولنیزو او اقتصادي کمیسونونو او مسلکي اشخاصو نظریات او اقتصادي فرهنګي حقوقو پورې اړونده کنفرانسونو مواد د کار د حقوقو د مهمو اسنادو او باوري ماخذونو څخه شمېرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوکتورین:

د کارګر او کارفرما او د کار د ساحې او چاپیریال په اړوند او پدې برخه کې د حقوقو په هکله برداشتونه ، د استادانو او څېړونکو ، قاضیانو او نورو ذیدخلو اشخاصو چې د کارګر او کارفرما د حقوقو د طرز تفکر درلودونکی وي ، لیکنو ته وایي چې په غیر مستقیمه توګه د کار د حقوقو په تنوع او تفسیر کې مهم تاثیر لري.

د زده کړې په وخت کې هغه انتقادات او وړاندېزونه چې د کار د حقوقو په هکله د وخت او زمان او د ټولنې د شرایطو مطابق څرګند کړای شي ، د کار د حقوقو د اصلاح ، تکمیل ، تفسیر ، او تعدیل سبب ګرځي. عبارت د دکتورینو څخه دي. د دې په خاطر چې موضوع ښه روښانه شي لومړی باید کارګر وپیژنو چې په لاندې ډول تشریح کېږي.

کارګر : کارګر هغه څوک چې له خصوصي یا عمومي قرارداد ، یا هم د شفاهي یا لیکلي قرارداد په وسیله د کارفرما په وړاندې او د هغه له نظر لاندې کارکوي ، کارګر بلل کېږي. بناءُ څوک چې یوازې کار ا جرا کوي کارګر نه شمېرل کېږي ، بلکې کارګر هغه څوک دی چې د نومورې شرایطو لاندې یو عمل تر سره کوي. او هر کله چې د ذکر شویو شر ایطو څخه یو هم کم وي ، د کارد قانون له مخې کارګر نه شمېرل کیږي ، کار ګران په دوه برخو ویشل کېږي مستقل کارګران ، غیر مستقل کارګران .

مستقل کارګران: هغه کارګران دي چې ازاد او خپل ځان ته کار اجرا کوي

غیر مستقل کارګران :- هغه کارګران دي چې د مزد تر لاسه کولو لپاره کار فرما ته کار اجرا کوي. لکه د کارخانو کارګران. البته دا فرق نه لري چې نومورې کارګران یو معین شخص ته کار کوي ،او که دولت ته. د نړۍ ېپلاېپل مکاتب چې بعضې له دوی نه ځان د کار حامیان بولي ،اکثره د دوې اساسنامې او نظریات د نومورو کارګرانو په هکله دي ،اسلام هم لومړي طبقې ته پاملرنه کړې ،او د دوی لپاره یې عادلانه حقوق ټاکلي دي. البته دا باید ووایو چې داسلام عمومي قوانین یوائې د کارګر دپاره دندې نه دي ذکر کړي ،بلکه ټول موجوده طبقات پکې شامل دي ،چې وروسته به پري بحث وشي .

دکارد حقوقو اړیکې د نوروڅانګو سره :

دکار د حقوقو پوري اړونده قواعدو اومقررات په اړه ، د هغې د ډېر اهمیت په سبب او د کار د حقوقو ایجاد په نتیجه کې حقوق پوهانو مختلف او متفاوت افکار او نظرونه څرګند کړیدي.

ځینې حقوقدانان د کارحقوق دخصوصي حقوقو د شعبې اوڅانګې پورې اړونده شمېري ، او ځینې نور یې بیا په عمومي حقوقو کې راولي ، خو یوه ډله نور حقوق پوهان بیا د کارحقوق داجتماعي حقوقو په چوکاټ کې حسابوي ، د دې لپاره چې ښه پوه شو لومړی د کار د حقوقو اړیکه د خصوصي حقوقو سره مطالعه کوو.

د کارحقوقواړیکه د خصوصي حقوقوسره :

دکارحقوق دخصوصي حقوقود دوو څانګو یعني مدني حقوقو ، او د تجارت د حقوقوسره ډېر نژدې اړیکې لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول: دمدني حقوقوسره دکارد حقوقو رابطه :

دمدني حقوقو څخه د کار د حقوقو په لاسته راوړنو کې ډیره ګټه اخیستل کېږي، او د کار داړوندو قراردادونو دموضوع څخه شمېرل کېږي، اوهم دکارفرما دکارخانې او یا فابریکې دیو خاوند په حیث د حقوقو او د هغې د اثارو څخه ترټولو زیات د امتیاز څښتن دی

افغانستان مدني قانون ۱۴۸۱ ماده :

دکار قرارداد داسې یو عقد دی چې دهغې په موجب د دواړو خواوُ څخه یو، د یو شي په جوړولو یا د یو کار په کولو په موقتي یا غیر موقتي ډول د بلي خوا دپاره د اجورې په بدل کې تعهد کوي. په دې ډول دمدني قانون د ۱۴۸۲ مادې څخه تر ۱۵۲۴ مادو پورې د مدني قانون مواد د خصوصي حقوقو اړیکې دکار د حقوقو سره په ګوته کوي. د کار د حقوقو اړیکې د تجارتي حقوقو سره:

د ۱۳۳۴ کال د تجارت قانون چې په ۱۳۶۷ کال کې دیو لړ تعدیلاتو سره مخامخ شو، د ډېرو معلوماتو لپاره مطالعه کولای شي .

د تجارت قانون د۱۱۶ مادې له مخې:

تجارتي شرکتونه عبارت دڅو کسانو له اشتراک څخه دي ،چې په یوه یا متعددو موضوعاتو کې د تجارتي معاملاتو د اجرا په مقصد پیداکېږي .

د تجارت قانون د ۱۱۷ مادې له مخې تجارتي شرکتونه په لاندې ډول دي :

۱ تضميني شرکتونه (کولکتیفي شرکتونه)

۲ مختلط تضميني شرکتونه (کوماندیت شرکتونه)

۳ محدودالمسولیت شرکتونه (لمیټید شرکتونه)

۴ تعاوني شرکتونه(کوپراتیفي شرکتونه)

۵-سهامي (انونیم) شرکتونه.

په تجارتي شرکتونوکي د کارګرانو د استخدام ډول، د شرکتونو له منځه تلل، او د کارګرانو او کارفرمایانو د حقوقو او امتیازاتو په اړه د تجارت په قانون کې پوره مواد موجود دي .د تجارت اصولنامي د ۱۲۸ مادې له مخې هیڅ یو شریک د خپل کارپه نسبت له شرکت څخه د اُجرت غوښتلو حق نلري، مګر که په مقاوله کې د اُجرت اخستل مقرر شوي وي، نو مانع به ونه لري، چې اُجرت واخلي .

نو ویلي شو چې د کارحقوق د خصوصي حقوقو سره ډېره نژدې اړیکه لري چې د عمومي نظم د حمایې په منظور دکارګر او کارفرما تر منځ د قرارداد له مخې د یو لړ امتیازاتو برخمن کېږي.

دوهم: د کار د حقوقو اړیکې د عمومي حقوقوسره:

په زیاتر هېوادونو کې د کار مقررات، د کارفرما حقوق ،د کار موندنې او هم د کارد حقوقو پورې د اړونده دعواو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختلافاتو نظارت اوکنترول د دولت دعمومي نظم او امنیت د ساتلو په حدودو کي د دولت دنده ده . بي له شکه ورځ په ورځ د دولت مداخله دکار په حقوقو کې په ځانګړي توګه سره په هغو هېوادونو کې چې کارګري اتحادیې او کارګري سازمانونه موجود نه وي، نودولت د کار د حقوقو او بنیادي اصولو دساتنې لپاره د پوره صلاحیتونو څخه برخمن دي.

دریم: د کار د حقوقو رابطه له اقتصاد او سیاست سره:

دولتونه باید اقتصادي اموراتو کې د مداخلې او ګډون څخه وړاندې د کار د ساتلو او نورو اړونده موضوعاتو په حلقه باید یو لړ قواعد او مقرارت وضعه کړي ځکه د کار د مقرراتو څخه فایده اخستنه د اقتصادي موضوع په پلي کولو کې مهم رول لري.

د اقتصاد پوهانو په نظر د کار د قوانینو څخه په اقتصادي سیاست کې پوره ګټه پورته کېږي. مثلاً لکه په ساعتونو د کار د وخت ټاکل، د اونۍ رخصتي، اضافه کاري او د کار د حقوقو اړونده نور مسایل او موضوعات تر بحث لاندې نیسي، چې دا ټول په اقتصاد مستقیمه اغیزه لري. او دا ځکه چې دکار کولو سیرت او قوت د یو هېواد په اقتصادي پرمختګ باندې پوره او مستقیمه اغیزه لري.

دا یو څرګند حقیقت دی چې په بازار کې د اجناسو د نرخونو زیاتوالی د کار ګرانو په مزد او اجوره کې هم زیاتوالی رامنځ ته کوي. نو د دې په خاطر چې جامعه د اقتصادي بحران څخه وژغورل شي دولت باید اقتصادي برنامې طرحه او د لاس لاندې ونیسي ترڅو جامعه سمې خواته سوق او د ګډوډی څخه مخنیوی وشي. بناً ویلای شو چې د کار حقوق د اقتصاد سره نژدې رابطه لري.

د کار حقوق او ټولنیز تامنیات:

پدې ډول سره د افغانستان د ۱۳۸۵ کال قانون د نهم فصل د ۱۰۷ مادې له مخې د کار د روغتیایي او خوندي شرایطو تامینول تر عنوان لاندې لیکلي دي .

اداره د کا ر د روغتیایي او خوندي شرایطو په تامینولو او د کار او تولید په اړه پېښو د مخنیوي لپاره له خوندي وسایلو او تخنیک څخه په کار اخیستلو او د کار له املې د کارکوونکو د حرفوي ناروغیو څخه وقایه کولو په مقصد د روغتیا ساتنې د شرایطو په تامین کولو مکلفه ده. په دې اړه د کار قانون د ۱۰۸ – مادې څخه تر ۱۱۹ مادې پورې د صحي تامیناتو تر عنوان لاندې بشپړ معلومات شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم څپرکی

د کار حقوق په مختلفو نظامونو کې

د کار حقوق په سرمایه داري نظام کې:

د موضوع دښه پوه هېدلو لپاره مونږ کولای شو چې د سرمایه داري رژیم د اصولو څخه یادونه وکړو، او بیا مونږ کولای شو د هغوی د توضیح څخه هدف ته ورسېږو. چې اصول یې په لاندې ډول دي:

۱- ذاتي ملکیت:

د سرمایه داري رژیم لومړی اصل دا دې چې (هر انسان د دې حق لري چې په خپل شخصي ملکیت کې د تولید وسایل وساتي، او هر څوک کولای شي له شخصي ملکیت او یا هم د تولیداتو له وسایلو سره ټراو لرونکي اسباب د ځانه سره وساتي) یعني هر څوک کارګر او هر څوک کولای شي چې کار وکړي او ځانته خپل ملکیت ولري.

۲: د ځاني ګټو محرک (خوځونکي) د پانګوال رژیم دویم اصل دی:

هغه دا چې د تولید کار چا پیل کړي وي هغه خوځونکی او بنسټ ایښودونکی ګڼلی شي، او د عوایدو لاسته راوړلو لپاره یې کارولای شي. یعنې یوائې همدی ترې ګټه تر لاسه کولای شي

۳: د حکومت د نه لاس وهنې کړنلاره:

دا د پانګوال رژیم دریم اصل دی. او هغه دا چې حکومت باید د سوداګرۍ په لارو چارو کې هیڅ ډول لاس وهنه ونکړي. او له کومه خنډه پرته دوی خپل کار ته پریږدي، او بندیزونه پرې ونه لګوي. د حکومت همدې کړنلارې ته (Laissez fair) وایي او دا په اصل کې د فرانسوي ژبې توري دي او غورچاڼ یې دا دې، چې کارګر خپلواک پرېښودل شي تر څو خپلې اقتصادي لارې چارې په ازاده توګه سرته ورسوي. او حکومت دا حق نه لري چې خلکو ته و وایي، چې دا کار کوئ، او دا کار مه کوئ، اویا هم ورته و وایي چې دا ډول سوداګري وکړئ، او دا ډول مه کوئ. له همدې کبله د دغه رژیم مخکښان وایي تر ټولو ښه حکومت هغه دې چې د کار ګرو په کار کې لاس وهنه ونه کړي.

۴- فردي ازادي :

د سرمایه داري رژیم بل اصل دا دی چې انسان باید فردي ازادي او اصالت ولري. یعنې ازاد او مستقل اوسي، او هیڅوک د ده په ملکیت کې مداخله ونه کړي. نو د پورته اصولو په اساس سرمایه داري رژیم د یو لړ انتقادونو سره مخامخ دی چې په لاندې ډول تشریح کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سر مايه داري رژيم انتقادونه::

۱- د ثروت زياتوالی :

د سرمايه داري رژيم يوه نيمګړتيا د ثروت زياتوالی دی. يعنې په سرمايه داري رژيم کې انسان ازاد پريښودل شوی تر څو ثروت پيدا کړي نو هغه څوک چې سرمايدار دی ثروت يې په لاس کې دی، او غريب په خپل حال پاتې کيږي، او سرمايه دار چې هر څه په غريب وغواړي کولای يې شي يعنې دواړه عرضه او تقاضه د سرمايدار په لاس کې وي، پدې اساس د ټولنې يوه طبقه سرمايداره اوبله طبقه غريبه طبقه د ډېرو ستونزو سره ژوند کوي. چې همدلته طبقات رامنځ ته کيږي او دا په داسې حال کې ده چې غريبه طبقه د ځان د ازادۍ لپاره په مبارزه لاس پورې کوي. خو د دې برعکس د اسلام مبارک دين د سرمايداري رژيم بر عکس د اعتدال لاره غوره کړې ده، او په اسلامي اقتصادي نظام کې د دې لپاره چې په ټولنه کې غريبو خلکو سره مرسته او کمک شوی وي، نو بايد مسلمانان يو بل ته ذکات ورکړي.

۲- د زور او جبر دخالت:

په سرمايه داري رژيم کې په کارګرانو باندې زور او ظلم وجود لري. ځکه چې هر څه د سرمايدار په لاس کې وي. په سرمايه داري رژيم کې بازار په ټيکه نيول کيږي، او بل څوک بيا حق نه لري، چې مداخله وکړي. نو په سرمايه داري رژيم کې بازار د يو سرمايه دار يا ثروتمند په لاس کې وي، او عامو خلکو ته د زياتې ګټې موقع نه ورکوي.

۳- اخلاقي انحطاط :

په سرمايه داري رژيم کې اخلاقي انحطاط وجود لري. يعنې سرمايه دار کولای شي چې د مشروع او غير مشروع لارو څخه پيسې تر لاسه کړي، او د دې هدف لپاره د غير مشروع او غير اخلاقي کارونو څخه استفاده کوي. مثال يوه کمپنې يو جنس توليدوي، نو د دې لپاره چې هغه وپلورل شي، نو په هغه باندې د ښځو تصويرونه خپروي ترڅو پدې وسيله هغوی زياته ګټه وکړي.

۴ -د دين الغاء:

په سرمايه داري رژيم کې دين پريښودل شوی، دلته سود ،احتکار او د داسې نورو ناروا لارو څخه د پيسو په لاسته راوړلو کې استفاده کيږي. د دين په اساس سود حرام دی، ځکه چې د سود په صورت کې په مقابل شخص باندې ظلم کيږي، او د اسلام مبارک دين حکم کوي چې تاسو سود و نه کړئ. نو د پورته توضيحاتو څخه دې نتيجې ته رسيږو چې په سرمايداري نظام کې کار ګر ته پوره حقوق نه ورکول کيږي او هغه هروخت د استعمار لاندې وي.

په سوسياليستي اقتصادي نظام کې د کا رګر نقش:

مونږ په سرمايداري رژيم کې ولوستل چې اساس يې خانخاني وه، او ټول واک به د خان او سرمايدار په واک کې وو. چې وروسته خلک په تنګ راغلل او بيا په ۱۸ پيړۍ کې د ټولو ګټو (مثاليت) په نامه يو تحريک جوړ شو ،او څو فيصلې يې وکړې چې په لاندې ډول دي:

۱- په هر ښار کې بايد د کارګرانو لپاره ۴۰۰ يا ۵۰۰ کورنه جوړ شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ټول املاک باید د حکومت په لاس کې وي او فرد پکې مداخله ونه کړي یعنې دولت باید هرڅه په کنټرول کې ولري.

۳- د دولت نه یې غوښتنه وکړه ، چې د ولس لپاره کارخانې او عام المنفعه ځایونه جوړ کړي، ترڅو افراد پکې کار وکړي، او هر چا ته په هره رتبه کې چې و ي مساوي مزد ورکړل شي.

۴ - ښځې باید شاقه کارونه ونه کړي، او په هغو کارخانو کې چې هلته سخت کارونه کېږي سهم وا نخلي .

۵ -ماشومان باید د شاقه او سختو کاورنو نه وژغورل شي چې دا د سوسیالیستي نظر یې لمړۍ دوره وه. د سوسیالیستي نظر یې دوهمه دوره چې هغه د کارل مارکس له خوا مینځ ته راغلې وو. کارل مارکس اصلاً المانې وو، او په ۱۸۱۸ کال کې په المان کې زېږېدلی وو. پلار یې وکیل وو ، او غوښتل یې چې دا هم وکیل شي، خو دا یو متحرک شخص وو او وکالت یې قبول نکړ. هالند ته ولاړ او هلته د سوسیالستي رژیم د جوړولو په هڅه کې شو، مارکس څو مفکورې درلودې:

۱ مالونه باید دولتي شي، یعنې د خلکوڅخه باید مالونه واخستل شي.

۲ د کمونستي مفکورې پلي کول؛

دا دوره هم د سوسیالستي رژیم یو مهمه دوره وه، یعني د ۱۸۱۸ نه۱۸۸۶ کلونو پورې یې ادامه لرله او مارکس خپل نظر عملاً خلکو ته وښوده.

د سوسیالستي نظریې دریمه دوره د لینن دوره وه او د مارکس نه وروسته لینن د مارکس په لاره روان شو. ده هم هڅه وکړه چې سوسیالستي رژیم ته ترقي ورکړي، هماغه وو چې په ۱۹۱۷ کال کې د اکتوبر په ۲۶ نیټه په مسکو کې سوسیالستي انقلاب رامنځته شو، او ډېر خلک یې د دې مفکورې د پلي کیدو لپاره ووژل. لینن هم کوشش وکړ چې د مارکس نظریات عملي کړي چې پدې باندې کامیاب شو. داچې ولې خلکو سوسیالستي نظریې ته لبیک ووایي او قبوله یې کړه، د دې په خاطر چې دوی خلکو ته وعدې کولې چې مونږ عدالت راولو او خانخاني د منځه وړو، او ټولی سرمایې او دارایي به په ټولو یوشان ویشل کېږي. خو په عملي میدان کې هغه شان چې دوی خلکو سره وعدې کړې وي، هغه عملي نه شوې او بالاخره د ناکامی سره مخامخ شول.

په عمومي ډول سوسیالیستي رژیم څلور اصول درلوده چې په لاندې ډول دي:

۱- اجتماعي ملکیت :

ټول ملکیتونه باید له دولت سره وي، او دولت باید د هر چا لپاره د کار زمینه برابره او شخصي ثروت باید هیڅوک ونه لري، او هر څه د ټولنې او دولت تر منځ مشترک وي .

۲- د پلانونو جوړول:

حکومت او دولت وظیفه لري چې د خپلو کارګرانو او د چارو د سمون لپاره پلانونه جو ړ کړي، پدې شکل چې که کوم شي ته ضرورت وي، هغه څنګه ایجاد کړي، څو نفره پکار وا چوي، او ګټه یې څنګه بیرته افرادو ته ورکړي؟ نو د ټولو کارونو پلان باید دولت جوړ کړي که هغه ځمکه وي یا فابریکه وي او یا نورشیان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيزې ګټې:

يعنې ګټې بايد د افرادو سره نه وي. که يو ه فابريکه په نظر کې ونيسو نو په سرمايه داري رژيم کې د هغه عدم مساوات ليدل کېږي. يعنې په سرمايه داري رژيم کې يو نفر سرمايه دار نور هم سر مايدار کېږي، او دارايي يې زياتېږي، خو غريب خلک پکې بربادېږي. اما په سوسيالستي رژيم کې ګټه ټوله د دولت په لاس کې وي، او افراد دومره اخلي چې يې وخوري او پرې ژوندي وي او شخص د ملکيت حق نه لري.

۴- د عوايدو عادلانه ويش:

په سوسيالستي اقتصادي رژيم کې څلورم اصل دا دی کوم عوايد چې لاسته رائي دولت بايد دغه پيسې په خلکو باندې په مساويانه شکل تقسيم کړي. خو د دوی دغه مفکوره هيڅ وخت نه ده عملي شوې، او کارګرانو چې دکوم هدف لپاره قرباني ورکړي وي هغه تر سره نه شو، او د لينن نه به چا چې د حق غوښتنه کوله هغه به يې په دې متهم کړ، چې دا د سرمايدارانو غلام دی او هغه به وژل کيده.

دکار حقوق په اسلامي اقتصادي نظام کې:

اسلامي اقتصادي نظام خپلو پيروانو ته دا حکم کوي، چې کله يو کارګر کارکوي او د ده څخه مالک ته تاوان ورسېږي، نو کارګر په دې مکلف نه دي چې تاوان ورکړي، په دې هکله فقهه دوه نظره لري:

اول: امام ابوحنيفه وايي، چې په مطلق توګه د کارګر څخه بايد تاوان وا خستل شي، مګر په دې شرط ورڅخه تاوان نه اخستل کېږي چې د کارګر تاوان رسولو قصدي نه وي او اراده يې په کې نه وي او دغه تاوان د ځينو نورو حوادثو له مخې رامنځته شوی وي.

دويم: ديني علما وايي چې بايد وکتل شي، که چېرې کارګر د تاوان څخه مخنيوی کولای شوای او ضرر يې دفعه نه کړ، نو په دې وخت کې ورباندې د خسارې جبران شته او که کارګر د دې توان نه درلوده چې ضرر دفعه کړي، نو بيا دلته د تاوان اخستل نشته.

په کارګر باندې د دوو کارونو نه کول:

په دې معنی چې کله يو څوک د کار لپاره مقررېږي نو کارګر مکلف دی، چې خپل معين کار په ښه توګه تر سره کړي، او کافرما حق نه لري چې په کارګر د وعدې اضافه کار وکړي، او همدارنګه کارفرما حق نه لري، چې کارګر د خپل معين کار نه بل کار ته مجبور کړي. مثلاً سلمان فارسې (رض) خپل کورني کار پخپله کاوه. يو چا ورڅخه پوښتنه وکړه، چې ته خو کارګر لرې، هغه وويل چې ما کارګر د معين کار لپاره چېرته لېږلی، او که زه پرې بل کار تر سره کړم نو اضافي کار دی، او دا يو ډول ظلم دی. نو له دې نه معلومېږي چې کارګر په کوم کار وګمارل شو، نو هماغه به پرې کېږي، خو که کارګر پخپله خوښه کوم کار اجرا کوي هغه کې کوم مشکل نشته.

کارګر ته د کار په وخت کې د عبادت اجازه:

کارګر دا حق لري چې د کار په وخت کې عبادت وکړي، که دا د هرې مفکورې او اډيا خاوند وي، حضرت محمد (ص) فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(لا طاعت اللمخلوق في معصيت الله)

يعني مخلوق ته اطاعت نشته چې کله د خالق بې اطاعتي را منځته کېږي.

په اسلامي اقتصادي نظام کې يو کارګر سره نيکي او احسان له مهمو اوامرو څخه دي. د حضرت محمد (ص) په وخت کې درې کسان ول، چې دوی د يو غره په سوري کې بند پاتې شول، او د وتلو لاره نه وه ځکه چې سوری د يو غټې تيږې په واسطه بند شوی وو، بالاخره دوی خپل منځو کې مشوره وکړه، چې هر يو به خپل نيک عمل را ياد کړي، او هر يو به هغه الله (ج) ته وسيله کړي، چې له دې عذاب څخه خلاص شو، يو يې وويل چې الله (ج) زما زاړه او بوډاګان مور او پلار دي او زه بچيان هم لرم، خو ښځه مې مړه شوې، کله به چې زه کار نه راغلم خپله غوا به مې لوشله، او هغه شېدې به مې مور او پلار ته ورکولې، يو ورځ د کار نه ناوخته راغلم او شېدې مې مور او پلار ته يوړې خو هغوی ويده وو په دې وخت کې زما اولادونه هم وږي وو او ژړل يې ،خو زه بيا هم تر هغه وخته پورې چې ويښ شول، د دوی سرته ولاړ وم او بيا شېدې مې ورته ورکړې، او له هغوی وروسته مې بيا بچيانو ته ورکړې. د دې خبرو په ويلو سره يو څه سوري خلاص شو. بل کس وويل چې زما د تره لور وه، او ما ورسره مينه کوله، خو يوه ورځ ما هغې ته وويل چې بايد له ماسره يو ځای شې او ماسره نا مشروع کار وکړې، نو هغې ماته وويل چې ۱۰۰ دينباره راکوې،خو له ماسره پيسې نه وې، نو لاړم او مزدوري مې وکړه، او دا پيسې مې پيدا کړې، او ورته مې ورکړې خو هغې وويل چې د الله (ج) نه و وېرېږه او دا کار مه کوه، نو ماته په هغه وخت کې شرايط برابر وو ،خو ما د الله (ج) د وېرې نه هغه کار ونه کړ، نو د سوري خو له يو څه نوره هم خلاصه شوه، خو دريم کس وويل چې ما يو مزدور درلوده، چې هغه مې په نيمه پيمانه وريجو مزدور کړی وو، کله به چې دهغه وخت پوره شو، نو هغه به ولاړ او مزد يې ماسره د امانت په ډول پاتې کېده، خو ما هغه روپی ورته وساتلې، او ورته مې په کار واچولې، په هغې مې ورته ډېره ګټه وکړه، تر دې پورې چې يو قافله غوايان مې پرې واخيستل خو کله چې هغه مزدور د خپل مزد د اخستلو لپاره راغی نو ما ورته وويل، چې دا قافله د غوايانو در سره يوسه ،خو هغه باور نه کاوه ما ورته ټوله کيسه وکړه او هغه ته مې ټوله قافله ورکړه، نو دې کيسې سره د سوري خوله خلاصه شوه او دوی ترينه بهر را ووتل.

د اعتصاب حق:

په اسلامي اقتصادي نظام کې د کارګر د حقوقو څخه يو بل حق د اعتصاب حق دی. هر کارګر د خپلو مشروع حقوقو د غوښتنې په خاطر داعتصاب حق لري، يعني هغه د کار کولو څخه انکار وکړي، او يا په کې سستي وکړي، څنګه چې په اسلامي نظام کې د اعتصاب حق کارګر ته ورکړل شوی نو اسباب يې هم ورته معلوم کړي دي.

په کوم وخت کې کارګر کولای شي چې اعتصاب وکړي:

اول- د کار په انډول د معاش کموالی:

يو عامل د اعتصاب د اسبابو نه دا دې ،چې کله کارفرما د کارګر سره کار معلوم کړی وي، خو کارفرما په هغه کفايت نه کوي، او نور کار هم ترې غواړي. په دې وخت کې کارګران اعتصاب کولای شي، ځکه د هغوی معاش د کار په تناسب کم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم: د خپل وخت څخه وروسته معاش ورکول:

يعني کوم وعده چې ورسره شوې په هماغه وفا نه کوي او معاش يې ورته پخپل وخت نه ورکوي. په دې وخت کې هم کار ګران د اعتصاب حق لري.

دريم: د ژوند د عامه سهولتونو نه برابرول:

هر کارګر د دې حق لري چې د کار په ساحه کې ورته د ژوند سهولتونه دکارفرما له خوا برابر شي. لکه د کار اړوند وسايل، کلينيک، تشنابونه، مکتب او داسې نور، خو د نه برابرولو په صورت کې اعتصاب کولای شي او د کار فرما څخه د حق غوښتنه کولای شي.

څلورم: جبري کار کول:

کارفرما په کارګر باندې دجبري کار کولو حق نه لري. همدارنګه کارفرما په زور کوم ځای ته دکارګر د لېږلو حق نه لري. يعني داسې ځای ته چې د خپل کور او ماشومانو نه لرې وي اوهم د کارګر خوښه په کې نه وي او کار فرما يې هغه ځای ته ولېږي نو کارګر په دې وخت کې د اعتصاب حق لري.

پنځم: قانوني رخصتي نه ورکول:

هر کارګر حق لري چې د کار په وخت کې د لنډې او يا اوږدې مودې لپاره رخصتي وکړي خو که کارفرما ورته دا حق ور نه کړي نو د اعتصاب حق لري.

شپږم : په معاش کې د معقول اضافه والي غوښتنه:

يعني که د کارګر معاش کم وي، او منطقي اضافه والی پکې را نه شي اعتصاب کولای شي.

اووم- د غير مشروع اشياوو توليد او رواجول:

يو کارفرما غواړي چې غير مشروع اشيا توليد او رواج کړي نو کارګران کولای شي، چې د کارفرما په مقابل کې اعتصاب وکړي چې مور دا نه جوړو لکه شراب.

اتم- د کار په وخت مذهبي مراسمو ته اجازه نه ورکول:

هر کارګر حق لري، چې خپل مذهبي مراسم تر سره کړي لکه لمونځ يا عبادت کول، يا د روژې نيول، نو کارفرما بايد کارګر ته اجازه ورکړي خو که ورته اجازه ور نه کړي اعتصاب کولای شي.

اول: په اسلامي اقتصادي نظام کې د اعتصاب کولو معقوله لاره:

په اسلامي اقتصادي نظام کې يو خوا فرد ته اجازه ورکړ شوې ده چې خپل حق تر لاسه کړي ،خو د بلې خوا ورته ويل شوي، چې د حق په ترلاسه کولو کې په بل چا ظلم ونه کړي نو ځکه د اسلام مبارک دين دا حکم کوي چې:

(لاضرر ولا ضيرار في اسلام) الحديث

يعني په اسلام کې ضرر او د ضرر دفعه په ضرر باندې نشته. د دې لپاره معقوله لاره داده چې مشوره وشي ،او د پيشنهاد په ډول کارفرما ته وويل شي ،او خپل حق دې ورڅخه وغوښتل شي، په دوهم قدم کې بايد د اخطار او تهديد

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شکل وویل شي، لکه که حق را نه کړي نو موږ اعتصاب کوو که دې طریقي هم کار ونه کړ، نو هغوی دې اعتصاب وکړي، او کار دې بند کړي. خو دا اعتصاب په دې ډول نه وي چې عامه منافعو ته ضرر ورسوي، او عامه خلک ترې متضرره شي لکه د کارخانې سوځول، لارې بندول او داسې نور. ځکه دې ته په اسلامي نظام کې فساد ویل شوی دی، او کوم تاوان چې کارخاني ته رسېږي د دې تاوان مسوول کارګران دي.

په اسلامي اقتصادي نظام کې د اعتصاب د پاي ته رسېدو لارې:

په اسلامي اقتصادي نظام کې ا عتصاب په لاندې طریقو سره پاي ته رسېدلی شي.

اول: د طرفینو توافق:

یعنې دکارګر او کارفرما تر منځ توافق وشي او دوی پخپل مینځ کې جوړشي.

دویم: منځکړیتوب:

یعني درېیم څوک پیدا شي ،او د دوی تر منځ مصالحه وکړي.

دریم: محکمې ته مراجعه کول او د محکمې حکم منل:

که چېرته دوی توافق ته ونه رسېدل او درېیم کس هم منځکړیتوب و نه کړای شو نو د اسلامي شریعت د احکامو په اساس فیصله کېږي او ظالم او مظلوم به معلومېږي.

په اسلامي اقتصادي نظام کې دکارفرما حقوق په کارګر باندې:

په اسلامي اقتصادې نظام کې د کارفرما حقوق هم معلوم شوي دي،او د حقوقو او امتیازاتو د لاسته راوړلو حق ورکړل شوي، چې موږ په لنډ ډول د کارفرما حقوق په اسلامي نظام کې مطالعه کوو.

اول: په پوره اخلاص سره د کار سرته رسول:

اسلامې اقتصادي نظام کارګر ته دا امر کوي، چې هغه پخپلو ټولو ورسپارل شوو چارو کې چې د کارفرما سره یې تعهد کړی دی په پوره اخلاص او ایماندارې سره به یې سرته رسوي او چل او فریب به پکې نه کوي.

پیغمبر (ص) فرمایي: غوره کارګر هغه څوک دی، چې کله د یو کار په کولو هغه خپله قانع شي چې دا ما ښه تر سره کړی دی.

پیغمبر (ص) په بل ځای کې فرمایي: غوره کارګر هغه کارګر دی چې هغه ته یو کار وسپارل شي، او هغه یې په ښه شکل سر ته ورسوي. نو د اسلام اقتصادي نظام کارګرته دا امر کوي چې په سپارل شوي کارکې د خپل ځان نه اخلاص او ایمانداري وښایي او دروغ ونه وایي، ځکه چې الله (ج) فرمایي: لعنت الله عل الکازبین

یعني الله (ج) لعنت وایي په هغه چا چې درواغ وایي.

دویم: په وعده شوي وخت د کار تمامول :

کارګر په دې باندې مکلف دی، چې کوم کار ورته د کارفرما له خوا ورکول کېږي په هماغه معین وخت کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترسره کړي، که چېرته دا کار په معلوم وخت کې نه ترسره کېږي، او کارفرما ته زیان رسېږي نو د دې زیان جبران په کارګر دی. خو که چېرته په دې کار کې کوم معقول عذر وي د کارګر لپاره چې په واقعي ډول د کار سرته رسولو لپاره خنډ ګرځېدلی وي، نو په دې صورت کې په کارګر تاوان نشته.

دریم: له کار د وسایلو مراقبت او ساتنه:

د کار په جریان کې کارفرما کارګر ته ټول وسایل برابروي لکه ماشین الات او نوروسایل. نو د دې وسایلو ساتنه او مراقبت به کارګر کوي او کارګر د دې حق نه لري چې د کارفرما وسایل چاته خوشې یا د قرض په شکل ورکړي خو که چېرې دا مخکې له کارفرما سره موافقه شوې وي په هغه کې مخالفت نشته. که چېرې دا مال تلف شي په دې صورت کې چې کارفرما د هغه د ورکولو اجازه نه وي ورکړي نو د زیاتره فقهاو په نظر د دې جبران په کارګر باندې دی.

څلورم: د کارفرما اطاعت:

اسلامي اقتصادي نظام کې کارګر د کارفرما د مشروع غوښتنو او هغو غوښتنو چې پرې توافق شوی وي په عملي کولو مکلف دی، او هیڅ ډول سرغړونه به ترې نه کوي. او که چېرته یې سرته ونه رسوي، او کارفرما ته تاوان ورسېږي او هغه هم د سستۍ او تنبلۍ په صورت کې وي، کارګر په دې مکلف دی چې دخسارې جبران و کړي. خو کارګر په دې مکلف نه دی چې غیر مشروع کارونه او یا هغه کارونه چې پرې توافق نه وي شوی اجرا کړي.

پنځم: د کارفرما د عفت او عزت ساتنه:

معمولاً هغه کارګران چې د خلکو د کور په داخل کې کار کوي هغوی په دې مکلف دي، چې د خپل کارفرما د عزت او عفت ساتنه وکړي، او داسې حرکت اجرا نه کړي چې د هغه د حیا خلاف او بېهوده وي ،او همیش کوښښ وکړي چې د کارفرما د حیا او ناموس ساتنه وکړي. نو بناً هر کارکوونکی باید هڅه وکړي چې د کارفرما د کور په چارپیریال کې د ټولو هغو چارو مخنیوي وکړی چې له املې یې د کارفرما عفت او ناموس ته ضرر رسېږي. که موږ وګورو ، اسلام یوائې دا نه چې کارګر ته د عفت او عزت د ساتنې امر کوي بلکې ټولو مسلمانانو ته دا امر کوي چې حیا وساتي. لکه چې پیغمبر (ص) فرمایلي دي: (الحیا النصف ایمان) یعنې حیا د ایمان نیمایي برخه ده. له دې خبرو داسې معلومېږي چې اسلام نه یوازې کارګر ته د حیا د ساتنې مکلفیت ور په غاړه کړې بلکې د دې تر څنګ کارکوونکي ته هم ځینې حقوق ورکوي چې همدا د عدالت او مساواتو ښکارندینه ده یعنې اسلام کې لومړنې اصل عدالت دی او دټولنې ټول وګړې باید د قانون تر سیوري لاندې په یوه عدالتي نظام کې ژوند وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم څپرکی

د کار د حقوقو اړوند مقررات

دټولنې هره اړیکه اوفعالیت بایدمشروعیت ولري، اومشروعیت هغه مهال رامینځ ته کېږي چې د ټولنې اکثریت وګړي هغه ومني او هغې ته احترام قایل شي. نو د همدې هدف لپاره قوانین ایجادشویدي ترڅو د ټولنې د اشخاصوترمینځ مناسباتوته قانونیت ورکړای شي. په دې لړکې ترټولو لومړی د هر هېواد اساسي قانون قرار لري. زمونږ د هېواد اساسي قانون چې په ۱۲فصلونو او۱۶۲مادو مشتمل دی، په ۱۳۸۲کال کې تصویب شوې دی، د کار د حق په اړه په ۴۸ او۴۹مادو کې داسې څرګندونه کوي:

د کار د حقوقو په ارتباط مقررات په اساسي قانون کې :

د اساسي قانون د(۴۸)مادې د حکم له مخې کار د هرافغان حق دی:

د کار د ساعتونوټاکل ،او با معاشه رخصتي ، د کار او کارګرحقوق او له هغوی سره نورې مربوطي چارې د قانون له لیارې تنظیمېږي. د قانون د حکمونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب ازاد دی. په همدې بنا د اساسي قانون ۴۹ ماده بیا د جبري کار په ارتباط څرګندونې لري چې په لاندې ډول دي :

د جبري کار تحمیل منع دی

دجګړې، افتونو او نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساینه تهدید کړي، فعاله برخه د هر افغان ملي وجیبه ده.

د کار قانون:

د افغانستان د کار قانون د افغانستان د اساسي قانون ۴۸ مادې د حکم اساس په ۱۴ فصلونو او ۱۵۳ مادو کې ۱۳۸۵/۱۰/۲۷ کال تصویب شوې، او د نشر د نیټې څخه نافذ دی.

د کار د قانون څخه مقصد یو شمېر هغه قواعد دي ،چې هغه ځانګړې قانوني روابط تنظیموي، چې په کار پورې تړاو لري، او دغه کار د یو شخص لخوا په مقابل د اجرې د بل شخص لپاره او د هماغه د توصیاتو مطابق او هم د هغه د نظارت لاندې ترسره کېږي.

د دغه تعریف څخه څرګنده شوه، چې د کار لپاره باید یو شمېر شرایط مراعات کړای شي، چې خورا لاړین دي:

لومړی شرط: د کار اړیکه به د قانونې خاصو اشخاصو ترمنځ وي.

پدې اساس سره د کار د قانون څخه هغه اړیکې وځي چې یو شمېر افراد یې د دولت یا حکمي اشخاصو په خاطر تر سره کوي. ځکه دغه اړیکې د اداري قانون تابع دي او د کارګرانو په قوانینو پورې تړاو نه لري. که څه هم دغه قاعده یو لړ استثناءات لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

د دغه قانون څخه دا هم څرګندېږي چې یو شمېر هغه کارونه چې د دولت لپاره په ځانګړیو حالاتو کې تر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي د کار د قاتون تابع دي.

دويم شرط: هغه شخص چې کار تر سره کوي د دغه کار په عوض کې به مزد (اجوره) اخلي. دا رنګه د کار د قانون څخه هغه کارونه هم وځي چې يو شخص يا څو اشخاص يې په وړيا توګه او د تبرع په خاطر ترسره کوي، چې دا بيا د داسې اصولو تابع وي چې د کار د قوانينو سره توپير لري. البته د مزدورې يا اجوری نوعيت ته چې په مقابل د کار کې يې اخلي اعتبار نشته، نه يې اندازې ته اعتبار شته، او نه دې ته اعتبار شته چې دغه شخص دغه کار د کوم عارضي صفت له کبله ترسره کړ، يايې د کسب له کبله تر سره کړ، چې د دې وضاحت وروسته راځي.

دريم شرط: کار به تابع وي. پدې معنې چې د هغه شخص د توجيهاتو مطابق به کار تر سره کوي، د چا لپاره چې دا کار کوي. او يا به يې هم د هغې سلطې، مشرتابه او د مراقبت لاندې ترسره کوي، چې د هغوی لپاره يې کوي. د دې وضاحت داسې دی چې انساني کارونه محدود نه دي. نو که چيرې قانون وپيژندل شي او داسې و انګېرله شي چې دا هماغه قانون دی چې د ټولو انساني کارونو صورتونه تنظيموي نو بيا به دغه فرع د عمل قانون په نورو فروعاتو تېری وکړي، هغه چې هر يو يې پخپل ځای کې د انساني کار چارې په ېلابېلو صورتونو کې تنظيموي.

د دې معنې دا نه ده چې د انساني کارونو هر صورت د قانونو د فروعاتو د مختلفې برخې تابع دي. مګر واقعيت داسې دي چې کارپه دوو بنسټيزو برخو ويشل کېږي، يو يې مستقل کار دی او بل يې تابع کار دی.

هغه کار چې دکار د قانون تابع وي هغې ته تابع کار، او هغه مستقل کار چې د قانون د نورو فروعاتو تابع وي هغې ته مستقل کار وايي. دغه تقسيم ځانګړې غرض لري، ځکه د دواړو اشخاصو ترمنځ چې کومه اړيکه صورت نيسي، چې يو به يې د هغه بل تر مراقبت او اشراف لاندې کار کوي، نو دغه اړيکه په طبيعي لحاظ دهغو اړيکو سره توپير لري، چې يو شخص يې په مستقل ډول کار سرته رسوي د بل تر مراقبت او اشراف لاندې نه وي، ان که دغه کار دهغه لپاره هم کوي، نو هغه کارګر چې په کوم شرکت کې کار کوي يا په کوم تجارتي محل کې کار کوي، او يا زراعت کې کار کوي نو د تابعداری په حالت کې به د شرکت يا تجاري محل او يا د زراعت د څښتن تر څارنې لاندې او د هغو د دلارښوونو مطابق به يې تر سره کوي. دغه تابعداري د داسې قوانينو تابع ده، چې د هغو قواعدو يا قوانينو سره توپير لري،چې د ډاکټر او ناروغ تر منځ موجوده وي، يا د وکيل او موکل ترمنځ وي، ځکه وکيل په چا پورې نه ترلی، بلکې دواړه په مستقله توګه خپل کار سرته رسوي، ان که اجوره يا مزدورې هم اخلي.

دغه استقلال د دواړو (ډاکټر او وکيل (ايډوکيټ)) کار د نورو قواعدو يا قوانينو تابع ګرځوي، چې هغه د کار د قانون سره توپير لري، ځکه د کار څښتن د هغه چا د غوښتنو او د لارښوونو سره هم عمل تر سره کوي، چې د هغو لپاره يې کوي او يا يې هغوی اشراف پر غاړه لري. نو پدې سره د هغو کارونو فرق چې د کار د قانون تابع وي ،دهغو نورو څخه څرګندېږي چې د کار دقانون تابع نه وي.

البته د اقتصاد علماء لازمه نه ګڼي چې ارومرو به کار اقتصادي وده هم د ځان سره لري، بلکې کفايت کوي، چې د کار د قانون تابع وي، يوازې قانوني پيروي کفايت کوي ،که اقتصادې پيروي وي يا نه وي.

مګر شوني چې دغه لزوميت به هغه مهال صورت نه نيسي چې کله اقتصادي پيروي صورت و نه نيسي او دا په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت کې چې کارګر د خپل ژوند اساسي توکي له نورو مواردو څخه چې هغه مزدوري نه وي پوره کوي، که څه هم چې قانوني پیروي به وي په تیره بیا هغه مهال چې کارګر خپل کار د بل چا تر اشراف او مقرراتو لاندې سرته رسوي.

دا هم شوني ده چې یو شخص په مستقله او ازادانه توګه پرته د بل چا د اشراف او څارنې څخه خپل کار مخ ته بوځي، او د خپل ژوند چارې د هماغې مزدورې یا اوجورې څخه حل کړي، په دې صورت کې اقتصادې پیروي صورت نیسي خو قاتونې پیروي بیا نه وي موجوده.

البته مهمه دا ده چې قانونې طرزالعمل صورت ونیسي که اقتصادې طرز العمل وي یا نه وي.

دا هم د یادونې وړ ده چې دکار د قانون په اړوند د تاریخي پیښنو پلټنه او تحقیق دا مونږ ته په ګوته کوي چې د کارګرانو ټینګار د خپلو حقوقو د تامین په اړوند د دې جوګه شو، چې د دوئ لپاره باید ځانګړې قواعد وضع کړای شي، ترڅو یې د روزې او رزق موارد او منابع خوندې شي. خو د کار تابع کول د خاصو قوانینو پورې دا صرف د هغو د کمیت معلومول دي مګر په مستقیمه توګه به دکار اجراء دهغه چا تر اشراف او څارنې لاندې وي چې د هغه لپاره یې ترسره کوي.

پدې بنسټ که چېرې کار د هغه چا تر اشراف یا واکمنۍ او یا هم څارنې لاندې صورت نیسي چې د هغه لپاره یې اجراء کوي، نو پدې صورت کې د کار د قانون په چوکاټ کې داخلېږي، برابره خبره ده. که بیا د دغه کار نوعیت هر ډول وي، که هغه عقلي کار وي، د لاس کار وي، د فکر کار وي دارنګه که د هغه اهمیت هر څومره وي وړوکی وي که غټ، که اداء کوونکی د کار ته کارګر و ویل شي، یا خادم و ویل شي او یا هم مدیر و ویل شي هیڅ کوم اثر نلري.

د کار قانون تاریخي سیر:

د کار کولو مفکوره ډېره وړاندې پیدا شوېده او د انسان له پرمختګ سره یې ترقي وکړه، خو انساني نظریې دغې مفکورې ته په داسې شکل پاملرنه وکړه، چې بېلابېل شکلونه یې اختیار کړل، او هغه د کار په ارزښت او ساحې پورې تړاو لري.

الف : په پخوانیو مدنیتونو کې د کار مفهوم:

پخواني مدنیتونه چې تر اوسه پورې یې یو لړ شواهد موجود دي ، له کومې تشیا څخه نه دی رامنځته شوې، بلکې د یوشمېر انساني ټولنو کارونو په پایله کې را ښکاره شوې ده. د بېلګې په توګه، پخواني مصرې مدنیت څېړونکو ښودلې، چې رسمي مدنیت د کار شروع وکړه او دا ټولو برخو کې شامله وه ، که هغه په بزګرې پورې تړاو لاره چې هغه مهال دا کار د نورو په پرتله اسان وو، او که یې په صنعت پورې تړاو لاره په تیره بیا د ښیښې، سمټو، لرګیو او وریښمو صنعت. مګر د بابل مدنیت بیا خپله پاملرنه ښکاره کړې وه، که څه هم دغه مدنیت یو له هغو لږو مدنیتونو څخه وو چې د کارګر مزدوري او د تولیداتو نرخونه یې معلوم کړي وو، خو د دغو مدنیتونو د کوښښونو سره سره د کار اندازه او مفهوم نه وو معلوم، او نه د هغه قدر او احترام کېده. البته د کار ارزښت او قیمت هغه مهال څرګند شو چې کله اسماني ادیان راغلل او خلکو ته یې د کار ارزښت او قیمت په بشپړه توګه څرګند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب : په منځنیو پیړیو کې د کار مفهوم:

په اروپا کې د فیوډالي نظام په موده کې (چې په زراعت ولاړ وو) او بیا د سرمایه داري نظام پر مهال (چې په صنعت یې اتکاء کوله او له ظلم څخه به په کې کار اخیستل کېده تر دې چې یو شمېر کسان به پرته لدې نه چې دهغوی د ضروریاتو او حالت سره سمون وخوري، او پرته له دې نه چې د هغوئ مزد او وخت د کار سره برابر وي) توظیفېدل، چې دغه کړنې په ټولنیز ژوند ناوړه اغیزه وکړه او ځان سره یې بدې پایلې را وزېږولي.

د یادونې وړ ده چې د تاریخ په اوږدو کې کارګرانو د خپلو حقوقو او مصالحو د خوندې ساتلو پخاطر زیاتې هڅې وکړې، دوی په منځنیو پیړیو کې په انګلستان کې انقلاب پر مخ بوت، او غوښتنه یې کوله چې د دوی مزد باید زیات شي ،او په وضعیت کې بدلون راشي. د دوی یو مشهور قاید، ګول بول ، پخپله مشهوره مقاله کې چې د خلکو تر منځ یې د عدالت غوښتنه کوله وویل: (کله چې ادم او حواء پیدا شول نو چا یې مشري کوله؟)

ډېر ځله کارګرانو د خپلو تقلیدي حقوقو غوښتنه کوله، د بیلګې په توګه د انګلستان کارګرانو یوه ستره شخړه د (تسییګ) حرکت په نوم پیل کړه، چې په پایله کې یې هغه ځمکې چې د عامه املاکو څخه وې خاصو املاکو ته وګرځولې.

په انګلستان کې په 1833م کال کې د هغه هېواد قانون څرګند کړ، هیڅ ماشوم چې عمر یې تر نهو کلونو څخه ټیټ وي نشي کولای چې کار وکړي، او هغه ماشومان چې د 9 او 13 کلونو ترمنځ یې عمرونه وي دهغوی ورځنی کار به د دولسو ساعتونو څخه نه لوړېږي.

په حقیقت کې د کارګرانو حقوقو ، بشري حقوقو ته یو اضافه شي ور وبانبه. نو پدې اساس د کارګرانو د حقوقو مفکوره اتلسمې میلادې پېړۍ ته غزېږي، په کوم وخت کې چې د کارګرانو ټولنه جوړه شوه. او دوی خپل نماینده ګان وټاکل. چې دغه کار دصنعت په ډګر کې یو نوی فصل وو، او کارل مارکس د کارګرانو د حقوقو د غوښتنې تر ټولو زیات دفاع کوونکی وّو. د ده فلسفه او اقتصادي نظریه د کارګرانو په قضایاو راڅرخي. نومورې څرګنده کړه، چې سوسیالستي نظام یو ګټور او داسې نظام دی چې مشري یې کارګران کوي. نو پدې اساس د سوسیالستې مفکورې حرکتونه کوم چې د کارګرانو دحقوقو مدافعین ځانونه بولې د مارکس د نظریاتو څخه متاثر دي. بیا په 1919 کال کې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د کارګرانو د حقوقو څخه د دفاع پخاطر د کار نړیوال سازمان جوړ شو، چې نومورې سازمان بیا د ملګرو ملتونو د سازمان په اداره کې راغی، او دغه سازمان خپله د کارګرانو په حقوقو ټینګار کاوه.

ج : د فرانسې د انقلاب پر مهال د کار مفهوم:

د فرانسې انقلاب له ځان سره یو لړ مبادي راوړي لکه ازادي، مساوات او داسې نور. د دغه انقلاب په لومړۍ ماده کې راغلی چې: ټول خلک ازاد پیداشوي، ازاد به اوسېږي او په ټولو حقوقو کې یو برابر دي.

په څلورمه ماده کې په ازادۍ ټینګار شوی او وایي چې: (ازادي عبارت له هغه قدرت څخه دی چې هر څوک هغه کار سرته ورسوي چې په توان کې پوره وي، په دې شرط چې نورو ته پکښې ضرر ونه رسوي).

د دغې مفکورې څخه د کار د ازادۍ مفکوره را منځته شوه او په اړوند یې د فرانسې انقلاب چټک اجرات تر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ، لکه د طوایفي نظام الغاء، د کار د ازادی تاسیس چې دغه قرار په (1791) کال کې صادر شو، په دې کې راغلي وو: (هر شخص د خپل کار یا دندې په سرته رسولو کې ازاد دی).

د صنعتي انقلاب په پرمختګ، د ماشین الاتو په خپرېدو او د مطلقې ازادی په چوکاټ کې په ډله ایزه توګه بېکاري رامنځ ته شوه، او خلک د سختو اقتصادي او ټولنیزو حاجتونو د فشار لاندې دې ته اړ شول، چې ټولو هغو تاسفي (غمګین) شرایطو ته غاړه کېږدي، چې د شرکتونو څښتنانو به وضع کول، او د خپلو منافعو د تحقق په خاطر به یې پر خلکو خپله باداري چلوله. د دغو کړنو په پایله کې په مزد، مالي او اجتماعي ضمانتونو کې بې کچې ټیټوالی رامنځته شو، د مسلکي کارګرانو د اړیکو استقرار کمزوری او ضعیف شو.

دکارګرانو د ژوند دغه ناورین حالت، بیا د هغوی د علمي او فرهنګي کچې لوړوالي او سیاسي پوهې هغوی دې ته اړ کړل چې په پټه نړیوال مجالس تر سره کړي، ترڅو د خپل حالت د بهبود او د ژوند د مادي وضعې د ښه والي اواز اوچت کړي، او هم د خپلو حقوقو د لاسته راوړلو پخاطر له ټولو وسایلو څخه کار واخلي، که څه هم هغه د جګړې پړاو ته ورسېږي.

په معاصره اقتصادي مفکوره کې د کار مفهوم:

د پورتنیو ناوړه حالاتو او ناسمې وضعې په پایله کې د کارګرانو ترمنځ د تعلیم د خپرېدو روحیه، او د سوسیالستي مذاهبو د انتشار مفکوره را وټوکېده. ځکه اقتصادي مفکوره که هغه سرمایه داري وي او که سوسیالستي پدې متفق ده، چې د تولیداتو بنسټیز مصدر او د شتمنیو او ثروت اساسي لامل کار یا عمل دی، ځکه انسان له همدې څخه ګټه لاسته راوړي. مګر د دې سره سره چې د کار په ارزښت یې اعتراف کاوه بیا یې هم له کارګرانو سره انصاف نه کاوه، هغوی ته یې د کار د ارزښت په پرتله نیم ارزښت هم نه ورکاوه، همدغو کړنو د پانګه وال نظام په ټولنیز ژوندون او ټولنه کې طبقاتي ژوند رامنځ ته کړ، چې یوه طبقه یې مالکه او واکمنه وه، او بله یې مزدوره او بې وزله وه. دا راز سوسیالستي مفکوره هم همدغه ارزښت کار ته ورکوي. خو د پانګه وال نظام څخه په دې کې توپیر لري چې د دغه کار په عوض کې کارګر ته څومره مزد ورکوي، دغه مفکوره پدې اند ده چې کارګر باید په بشپړه توګه د خپل کار د عایداتو څخه استفاده وکړي، او دا پدې اساس چې کارګر د تولیداتو بنسټیز عنصر دی او په سرمایه داري نظام کې چې کومه توزیع کېږي دا په واقعیت کې د کارګر د کوښښ او زیار څخه غلا ده.

مګر که واقعیت ته وګورو نو دغه مفکوره په عملي ډګر کې یو شمېر ستونزې را ولاړوي چې تر ډېره بریده دا د کار په نوعیت، دارنګه په مساویانه توګه د خپل کار څخه استفادې پورې تړاو لري. خو دغه فرموله د یو شمېر هغو کارګرانو حق له تلف سره مخ کوي چې مسلکي وي او د لوړو تولیداتو په تولید کې ځانګړي مهارتونه لري.

د کار د قانون ارزښت:

په دې کې شک نه شته چې د کار قانون خورا زیات ارزښت لري، ځکه د قانون دغه برخه په اقتصادي او ټولنیز ژوند کې زیاته اغېزه لري، نو لدې کبله یې اقتصادي او اجتماعي ارزښت خورا مهم او ژور دی.

په اقتصادي ډګر کې د کار قانون په لوړه کچه رول لوبوي، او اقتصادي ژوند سمې لارې ته توجیه کوي، چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا د اقتصادي ژوندون د تامين او سلامتيا خطرناکه سلاح ده.

د کار د قانون له جوړونې څخه هدف او موخه د عادلانه معاملې ضمانت ورکول، او د ښه ژوند برابرول دي، او دا هغه مهال راتلای شي چې د کار په قانون کې مداخله وشي ترڅو د کارګرانو لپاره مناسبه او عادلانه مزدوري وټاکي، اويا ادنا حد يې دومره وي چې د ضروري توکو د رانيولو جوګه شي، ځکه د ټولنې زياتره برخه همدغه ډله تشکيلوي، نو د دوی په ښه مزدوری سره د استهلاک کچه لوړېږي، چې هغه بيا د اقتصاد په بهبود کې د پام وړ رول لوبوي.

پدې کې هم شک نشته چې پدې ډګر کې د کارګرانو حمايت او د هغوی غوښتنې پوره کول، په اقتصادي پروژو کې زياتوالی راولي، نو د لوړو نرخونو تهديد او بيا د پروژو څښتنان د کارګرانو د خدماتو په تهيه کولو مکلف کول ،او هم د ذخيره کولو او تامين په پروژو کې برخه اخستل ټول داسې کارونه دي ،چې د زياتو مصارفو لامل ګرځي، او هغه بيا په خپل وار د نرخونو په لوړوالي کې اغيزه کوي.

له اجتماعي پلوه د کار قانون د عدالت په تامين او ټولنيز عدالت په خپرولو کې ستر رول لوبوي، ځکه چې د عادلانه رويې او معاملې په ضمانت ورکولو سره د کارګرانو ژوند او حالت د بهبود په خوا حرکت کوي، دهغوی لپاره د مناسبو مزدوريو، طبي سهوليتونو، لازمې رخصتيو، د وېرې او ډار د اسبابو په له مينځه وړلو او د ټولنيزو ستونزو په را کمولو سره په ټولنه کې استقرار منځ ته راځي. ، دارنګه د کار د ساعتونو، اندازه معلومول، د رخصتۍ د ورځو تعين، د کارګرانو فعاليت او نشاط تازه کوي، د هغوی د صحت او روغتيا د ډاډ لامل ګرځي، نو دغه چارې بيا د هغوی په عام او خاص ژوند کې د پام وړ اغيزې را منځته کوي.

د کارګر او کار ترمنځ طبيعي اړيکه: په زياتره قوانينو کې د کار تعريف د کار د اړيکې سره اساسي عنصر ګڼل کېږي، دا پدې اساس چې دغه کار د بل شخص لپاره ترسره کېږي، او کارګر د هغه د اوامرو او تعليماتو تابع وي، د هغه د اشراف او څارنې لاندې کار کوي، او د ګډوډۍ يا ناسم کار په صورت کې سزا ورکوي، نو پدې اساس د بل شخص لپاره د کار اجراء په دوو بنسټيزو عناصرو ولاړ دی. د کار ګر واجبات په دې اساس چې د کار د څښتن تعليمات عملي کړي. د کار څښتن تاديبي واکمنۍ ته د کارګر تسليمېدل دي.

د مصر قانون او د تونس د کار قانون دغه دواړه عناصر د کار په ټرون کې بنسټيز عناصر ګڼلی، چې پدې پورې لاندې پايلې ټرلې دي:

لومړی: د کارګر له خوا د کار اجراء د کار د څښتن لپاره پدې معنی دی چې دا يوه اقتصادي چاره ده، او دغه چاره د اشراف او مراقبت په صورت کې موجوديت نه لري، بلکې تر مادي اړخ پورې ټراو لري چې هغه مزد دی.

دويم: شونې ده چې قانوني اړخ هم ولري ان که د کار ټرون هم نه وي موجود، بلکې دغه اړخ او يا اړيکه د واقعيت څخه رامنځته کېږي، او ياهم له شفاهي ارتباط څخه صورت نيسي، پدې معنې چې د کار اړيکه په شفاهي او کتبي ټرون سره صورت نيسي.

دا چې کارګر د کار د څښتن لپاره عمل تر سره کوي او د هغه د اوامرو اوتعليماتو تابع دي خو د دې عناصرو سره سره د کار څښتن ته درې اساسي حقوق ورکړل شوېدي او هغه په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ارادې حق.
- د اشراف حق.
- د څارنې حق.

نو د کار تړون اړخونه عبارت دي له کارګر، او د کار له څښتن څخه، نو داچې دغه دواړه د کار اساسي اړخونه دي دا د دې غوښتنه کوي چې کارګر څوک دی؟ او دکارځښتن څوک دی؟ د دغه تړون ارکان یا عناصر څه شی دي؟ هغه چې د نورو عقدونو څخه يې جلا کوي:

الف : د کارګر تعریف:

د بیلابیلو قوانینو او تشریحاتو له کبله کارګر ته مختلف نومونه ورکړی شوي دي، کله ورته کارګر ویل کېږي، کله ورته مستخدم ویل کېږي، کله ورته اجیر ویل کېږي، کله ورته خادم ویل کېږي، کله ورته متقاعد ویل کېږي، او کله ورته نور نومونه اخلي.

البته اساسي خبره دا ده چې کارګر به ارومرو طبیعي شخص وي، چې د مصر مدني قانون په خپله دویمه ماده کې کارګر داسې تعریف کړی دي:

(هر هغه نارینه او ښځینه چې د مزد په عوض کې د بل چا لپاره کار کوي، برابره خبره ده که د دوی د کار نوعیت هر قسم وي،خو دکار د څښتن د تعلیماتو سرسم او د هغه تر اشراف لاندې به يې کوي).

مګر د ۱۱/۹۰ قانون چې د فردي کار د اړیکو متضمن دی عامل یا کارګر يې په دویمه ماده کې داسې تعریف کړی دی: (د مزد کارګران د قانون د مفهوم له مخې ټول هغه اشخاص دي چې د اجورې او یو منظم پلان له مخې د بل د حساب پخاطر یا د لاس کار سرته رسوي یا طبیعي کار سرته رسوي او یا معنوي کار سرته رسوي که هغه عام وي یا خاص، دغه شخص ته مستخدم هم ویل کېږي)،

د کار ګر ددغه تعریف څخه دا جوتېږي چې هغه ډلې څرګندې کړو چې ددغه قانون د تطبیق څخه وتلی، البته شوني ده چې دغه استثناء یا د وظیفې په اعتبار وي یا د قانون دحکم په اعتبار وي او یا هم د کار د طبیعت په اعتبار وي.

هغه ډلې چې دکار د قانون څخه استثناء کړی شوې:

که څه هم یو شمېر هېوادونه لکه مصر او فرانسه دوی په زغرده عرضي کارګران استثناء کوي، دا رنګه هغه کارګران چې د کار موده يې د شپږو میاشتو څخه اوچته نه وي هغوی هم استثناء دي، د دې سربیره د عام برخو کارګران هم استثناء دي د 90/11 قانون دریمه ماده کې راغلي دي، هغه مستخدمین یا کارګران چې د کار د قانون تابع نه دي هغوی عبارت دي له لاندې ډلو څخه:

- مدني او عسکري هغه مستخدمین یا کارګران چې د وطن د دفاع لپاره استخدام کړی شوي وي.
- قاضیان.
- عام مامورین او کومک کوونکي متعاقدین چې په عامه پروژو او عامه ادارو د دولت، او ښاروالی کې کار کوي، دارنګه د عامه موسساتو کارکوونکي چې په اداري برخو پورې تړاو لري. قانون ځکه دغه ډلې استثناء کړې ده چې دوی د خاصو تشریعې او تنظیمي احکامو تابع دي او د کار قانون پر دوی نه پلی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی

د کار ګر حقوق

لکه څنګه چې مخکې یاد اوري وشوه، کارګران هم زیات حقوق لري،چې د کارګرانو دغه حقوق په ملي اوبین المللي سطحه پیژندل شوی،تضمین شوی،او د تطبیق وړ دی .

د افغاتستان دکار قانون هم د کارګرانو لپاره لاندې حقوق پیشبیني کړی.

د کار وخت:-

د دې لپاره چې موضوع ښه روښانه شي لومړی باید د کار وخت تعریف کړو .

د کار وخت عبارت د هغې مودې څخه دی چې کار کوونکی خپل فزیکي یا فکري ځواک د کار د ترسره کولو په منظور د اداري په واک کې ور کړي.

د کار د قانون د حکم په اساس د کار وخت د کال په اوږدو کې په اوسط ډول د کار عادي وخت دی چې په اونۍ کې له (40) ساعتونو څخه زیاتېدلی نشي، چې په لاندې ډول د احوالو سره سم کمښت مومی:

1- د 15 څخه تر 18 کلنو تنکیو ځوانانو لپاره په اونۍ کې 35 ساعته.

2-د هغه کار کوونکو لپاره چې د ځمکې لاندې کار کوي،یا درانه او همدارنګه روغتیا ته مضر کارونه کوي په اونۍ کې (30) ساعته.

3- امېدوارو ښځو ته په اونۍ کې 35 ساعته.

4- د استاذانو، معلمانو، روغتیایي موظیفینو او نورو کارکوونکو د کار وخت د کمښت غوښتنه د هغوی د خپلو ځانګړو تقنیني سندونو مطابق تنظیمېږي.

5- د کار او ټولنیزو چارو وزارت کولی شی، د کال د فصلونو او د روژې مبارکې میاشتې د ورځو یا شدیدې ګرمۍ یا یخنۍ په پام کې نیولو سره د کار ساعتونه، په ورځې یا اونۍ کې کم یا زیات کړي ،پدې شرط چې د خپل اصلي حد څخه تجاوز ونکړي.

6- همدارنګه که چېرې د شپې کار په نظر کې ونیسو ،نو د شپې کار نظر ورځې ته یو ساعت کم وي، په همدې شکل د شپې د کار مزد ،اداري او خدماتي کارکوونکو لپاره په یوه ساعت کې د اصلي مزد څخه په سلو کې (15%) اضافه دی ، او د تولیدي کارکوونکو لپاره په یوه ساعت کې داصلي مزد څخه په سلو کې (25%) اضافه ورکول کېږي.

ب : اضافه کاري:

- اضافه کاري د هغه وخت څخه عبارت دی چې کارکوونکی یې له خپل رسمي وخت څخه بهر د اداري د ضرورت او تجویز له مخې تر سره کوي، اضافه کاري حسابېږي چې په لاندې ډول ورکول کېږي.

1- د ځنډ نه منونکو کارونو د تر سره کولو په منظور چې د عامه خدمتونو مستلزم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- د تولیدي او ټولنیزو ناوړو پیښو د مخنیوي او د هغو د عواقبو د لرې کولو په منظور

3- د هغه دستګاه ګانو د ترمیمولو او بیا رغاونې په منظور چې د هغو نه فعالیت د ګڼ شمېر کارکوونکو د کار د ودرېدو (توقف) باعث ګرځي.

4- د ناڅاپي پیښو د لرې کولو په منظور او د اوبو تامین، د تودخی تامین،ترانسپورت ، مخابرات، روغتیایی خدمتونو سرته رسولو کې.

5- د اړوند مسؤل په تشخیص سره د اداري د اړتیا وړ نورو کارونو سرته رسول.

6- د شپني کار، تر ځمکې لاندي کارونه ،او روغتیا ته د مضرو کارونو کارکوونکی، امېدوارې ښځې یا تر دوه کالونو د کم عمر لرونکي ماشوم مور نشي کولی په اضافه کاری کې شامل شي.

ج : د استراحت او رخصتیو حق:-

کار کوونکی په لاندې حالاتو کې له مزد سره د رخصتیو مستحق دی:

الف د لمانځه د اداء کولو او د ډوډۍ د خوړلو لپاره وقفه.

ب:-:- عمومي رخصتي (ملي او مذهبي) ورځې.

کلنۍ رخصتي (تفریحي ، ناروغي او ضروري چې هره برخه یې جدا جدا تشریح کوؤ.

ج:- د لمانځه او ډوډۍ خوړلولپاره د کار وقفه یو ساعت ده او د رسمي کار په وخت کې نه شاملېږي.

د:- عمومي رخصتي:- له مزد سره عمومي رخصتي عبارت له:-

1- د اونی د پای ورځ (جمعه).

2-د کال د لومړۍ ورځي رخصتي (نو روز).

3- د زمري 28 ورځ، د هېواد د خپلواکۍ استرداد.

4- د غوایي 8 ورځ، د افغانستان د اسلامي انقلاب بریالیتوب.

5- د روژې د مبارکې میاشتې لومړۍ ورځ.

6- د کوچني اختر مبارکې و ورځې (3 ورځې).

7- د عرفی او لوی اختر (4 ورځې) .

8- د ربیع الاول دولسمه ورځ، د اسلام د ستر پیغمبر (ص) مولود.

9- د محرم الحرام لسمه ورځ، (د عاشورا ورځ).

10- د سلواغې (26) ، له افغانستان څخه د پخوانې شوروي اتحاد د ځواکونو د ماتې او وتلو ورځ.

11- نورې هغه ورځې چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د دولت د تجویز پر بناء عمومي رخصتي تصویب او اعلان شي.

ج- کلنۍ رخصتي :کلنۍ رخصتي(تفریحي، ناروغي او ضروري) په عمومي رخصتیو کې نه شاملېږي د اړتیا او د کار کوونکی د غوښتنې یا خبرتیا په اساس د اداري یا کار فرما لخوا د اجرا وړ دی،چې کار کوونکی په کال کې د مزد سره د (20) ورځو تفریحي رخصتي مستحق دی خو د غه ماده ځینې استثنات هم لري چی عبارت دي له:-

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف- له 18 کالو څخه د کم سن لرونکی کارکوونکی په کال کې (25) ورځې رخصتي لري.
ب- تر ځمکې لاندې او درندو یا رغتیا ته د مضرو کارونو کار کوونکی په کال کې (30) ورځې رخصتي لري.
ج- د تحصیلي او تعلیمي موسسو هغه استاذان او ښوونکي چې د تعلیمي او تحصیلي رخصتی څخه ګټه اخلی، د تفریحي رخصتی مستحق نه دي.

باید ووایو چې د کار کوونکي تفریحي رخصتي په پرله پسی ډول د (20) ورځو لپاره د اجراء وړ ده، خو که چېرې اداره مبرم ضرورت ولري، د کار کوونکي په موافقه راتلونکي کال ته لېږدول کېږي ،او یا په 6-6 میاشتو کی 10-10 ورځې رخصتي ورکول کېږي. همدارنګه که چېرې کارکوونکی نوی په کار کې شامل شوی وي ، نو په هغه صورت کې د تفریحي رخصتی څخه استفاده کولی شي، چې په همدې اداره کې یې 11 میاشتی وظیفه اجرا کړې وي.

باید ووایو چې د تفریحي رخصتی پر مهال اداره مکلفه ده چې د تفریحي رخصتی په وخت کې د کار کوونکي مزد او نور حقوق پیشکي ورکړي.

ضروري رخصتي:- کار کوونکی په هر کال کې له مزد او نورو حقوقو سره یو ځای د (10) ورځو ضروري رخصت مستحق دی، باید ووایو چې ضروري رخصتي د خبرتیا په لېږلو سره د (3) ورځو لپاره د اجرا وړ ده، او د هغې څخه زیاته د کارکوونکی د غوښتنلیک او د اداري د موافقې په اساس د اجرا وړ ده ، همدارنګه د واده ، پلار، مور، ورور، خور، میړه یا ښځې، اولاد، خسر، خواښی، کاکا، ماما، خاله، عمه، د مړینی او د ماشوم د ولادت په حالتو کې د کارکوونکي ضروري رخصتي د (10) لس ورځو لپاره د خبرتیا په اساس یوځل اجرا کېدلی شي.

د ناروغی رخصتي :- کار کوونکی په یو کال کې د مزد، حقوقو او نورو امتیازونو سره یو ځای د (20) ورځو ناروغی رخصتي مستحق دی، باید ووایو چې د کار کوونکي له مزد سره د ناروغی رخصتي تر (5) ورځو پورې د لیکلې خبرتیا په اساس اجرا کېږي، خو که چېرې د کار کوونکي ناروغي د 5 ورځو څخه زیاته شي ،پدې صورت کې د ډاکټر تصدیق ضرور دی. که چېرې کار کوونکی پداسې ځای کې قرار ولري، چې هلته ډاکټر نه وي، پدې صورت کې د کلي د شورا تصدیق ضرور دی. همدارنګه که چېرې کارکوونکی روغتیایي بیمه کې شامل وي ، پدې صورت کې د بیمې د ډاکټر تصدیق اعتبار لري، او که چېرې د ناروغ ناروغي د شل(20) ورځو څخه زیاته شي، پدې صورت کې د کارکوونکي اضافي ورځې د هغه د نورو قانونی رخصتیو په عوض د محاسبې وړ ده.

ولادي رخصتي:- ښځینه کارکوونکي له مزد سره د نوي (90) ورځو ولادي رخصتی مستحقي دي، چې یو ثلث یې د ولادت څخه مخکښې او دوه ثلثه یې د ولادت څخه وروسته ور کول کېږي. که چېرې کومه ښځه د غیر طبیعي یا غبرګونکی یا له هغه څخه زیات ولادت وکړي، په هغه صورت کې (15) ورځې نوره رخصتي هم ورکول کېږي.

د حج رخصتي:- کارکوونکی د حج د فریضې د اداء کولو یا د متبرکه اماکنو د زیارت لپاره د کار په ټوله دوره کې یوازې (45) ورځی رخصتي لري ، که چېرې کارکوونکی د 45 ورځو څخه زیات وخت تېر کړي ،او د حج او اوقافو د اداري تصدیق ور سره وي ، پدې صورت کې د کارکوونکي اضافه ورځې په تفریحي او یا ضروري رخصتی کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

محاسبه کېږي. دلته سوال مطرح کېږي، چې ایا پورته رخصتي ګاني په ټولو ملي او هغه بین المللي موسسو کې چې په افغانستان کې میشت دي د تطبیق وړ دي؟

باید ووایو چې د کار قانون 58 ماده پدې ارتباط داسې صراحت لري.

په غیر دولتی ادارو ،خصوصی او ګډو تشبوثونو، چې په افغانستان کې میشت دي، بهرني سازمانونه او موسسې پدغه قانون کې ذکر شوي ټولی رخصتی، د رخصتیو شرایط، حالات او د اجراکولو ډول ، د کار کوونکو او اړوندې اداري د توافق تابع دي، چې په قرار داد کې تصریح کېږي.

د- د کار ګر مزد (اجوره):-

مزد د کار د کمیت او کیفیت ، بست، رتبې، درجې ،یا حرفې ، د کار د زده کړې او عملي دورې او د کار په اړوند تقنیني سندونو کې درج شو او د نورو شرایطو په پام کې نیولو سره سنجش کېږي ، او کار کوونکو ته ورکول کېږي.

هغه کار کوونکي چې اصلی رتبه یې ټیټه او د لیاقت له مخې په لوړ بست کې کار کوي ، داسی کارکوونکي ته د بست امتیازو ورکول کېږي، همدارنګه هغه کار کوونکي چې اصلی رتبه یې لوړه او د ځنې ملحوظاتو له مخې په ټیټ بست کې کار کوي ،هغوي ته د اصلي رتبې ټول حقوق او امتیازت ورکول کېږي. همدارنګه باید ووایو چې د کار کوونکو د احوالو سره سم د قرارداد یا تقرر عقد د منظوری له نیټې څخه د مزد مستحق دی.

د اضافه کاري مزد:- د اضافه کاري د یوه ساعت مزد د کار د عادي ساعتونو په نسبت په 100 کې 25% او د رخصتیو په ورځو کې په 100 کې 50% زیات ورکول کېږي، همدارنګه که چېرې کار ودرېږي پدې صورت کې لاندې شرایط د تطبیق وړ دي.

که چېرې د ناڅاپې پیښې په نتیجه کې یا د تخنیکي ، تولیدي ، نامساعدې جوي وضعې له مخې د تولید او په کار کې توقف رامنځ ته شي، د کارکوونکي مزد د موسمی او ورځنې مزد د کارکوونکو په استثنی په لاندې ډول ورکول کېږي.

الف:- تر دوه میاشتو پورې د کار د توقف په صورت کې سل په سلو کې.

ب:- د دوه میاشتو څخه تر څلور میاشتو د توقف په صورت کې په سلو کې 50%.

ج:- د څلور میاشتو له تېرېدو وروسته اداره کولی شي ، کار کوونکی عین اداري یا بلې اداري ته تبدیل کړي، او که چېرې تبدیلي ناشونی وي، بیا یې د کار او ټولنیزو چارو وزارت او د همغه اداري نورو نمانیده ګایو ته ور پیژني، یوه خبره چې دلته ډېره ضروري ده، هغه دا ده چې د کارکوونکي له مزد څخه کسرات جواز نلري خو د قانون په حکم او همدارنګه که چېرې کسرات د زیان جبران وي پدې صورت کې کسرات د 20% څخه زیاتیدلی نشي.

ذ: د کارکوونکو کرایه او سفریه :- کار کوونکي په رسمي کورنیو او بهرنیو سفرونو ، خدمتي تبدیلي، بل ځای ته په احضار یا لېږلو کې د جیب خرڅ او د اوسیدنې د مصارفو په ګډون د کرایې او سفریې مستحق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم څپرکی

د کار د قانون او کار د ټرون ترمنځ توپیر

د قانون یو شمېر مفسېرین پدې اند دي چې د کار قانون عبارت له هغه قانون څخه دی چې د کار د ټرونونو تنظیم راولي، او دا پدې اساس چې زیاتره دکار روابط د کار د ټرونونو څخه منځته راځي. مګر ګڼ شمېر قانون پوهان بیا دغه تحدید نه منې او وایې چې د کار اړیکې تر هغو اړیکو پورې خلاصه نه دی چې د کار د فردي ټرونونو څخه منځ ته راځي، بلکې دا اړیکي ټولنیزو اړیکو ته هم غزېږي، کومې چې د کارګرانو او دکار د خاوندانو ترمنځ صورت نیسي، لکه د ټولیز ټرون یا مشترک ټرون حالت، دارنګه هغو ټرونونو ته هم غزېږي چې د کارګرانو ترمنځ واقع کېږي، لکه د څارنې یا مشترکه کارونو ټرونونه بیا د دې په دننه کې د څارنې تعین او دکار برخې او ساحې ټاکل.

د کار د قانون اختیار:

د کار قانون نوم د ډېرو مباحثاتو او مناقشاتو وروسته تصویب کړای شو، په پیل کې دغه قانون ته د صنعتي قانون یا تشریع نوم ویل کېده او تر اوسه پورې په انګلستان کې ورته دغه نوم اخلي، د دې لامل دا دی، چې د صنعتي انقلاب نهضت د دغه قانون جوړونې ته زیاته پاملرنه کوله، او پدې یې ټینګار کولو چې دا قانون باید مستقل او ګوښې وي، نو په دې اساس صنعتي کارونه د دغه قانون تر ټولو غټ او بډایه ډګر دی، خو د دې سره سره دغه نوم قاصر او نیمګړی دی. دا په داسې حال کې چې د کارونو ډګرونه زیات او پریمانه دي، یوازې په صنعت، تجارت، زراعت او د کور په کارونو پورې محدود نه دي.

بله ستونزه دا ده چې شونې ده دغه د کار قانون نورو برخو ته هم وغزوي، لکه هغه قواعد چې د صنعت تر چارو پورې تړاو لري ،او هغه بیا د کار د قانون څخه بهر دی، د قانون دغې فرعې ته ټولنیز قانون ویل کېږي، ځکه د دې هغه رول له هیڅا څخه پټ ندی کوم چې د ټولنیزو مشکلاتو په حل کې یې لوبوي، او دغه مشکلات د هغو اړیکو څخه رامنځ ته کېږي، چې د کارګرانو د کار څښتنانو تر منځ موجودي وي، چې هغه بیا په ټولنه کې ستړي اغیزې پرېږدي.

پدې دا نیوکه شوې چې هر قانون په واقعیت کې اجتماعي دي، ځکه هر قانون عبارت له یو شمېر هغو قواعدو څخه دي چې په ټولنه کې د خلکو تر منځ اړیکې ټینګوي، نو دا یو عام نوم دی، د کار د قانون په نوم کومه اغېزه نه کوي، او دا د عام قانون هغه فرعه ده چې د کار چارې تنظیموي، دا سر بیره پردې چې یو شمیر تشریعاتو ته اجتماعي تشریعات ویل کېږي، لکه د ټولنیز تامین قوانین، خو د دې ټولو نیوکو سره سره چې د دغه قانون په نوم شوی، بیا هم ټول قانون پوهان پدې متفق دي، چې دغه قانون ته دکار تشریع یا قانون وایي، ترڅو ټولو صنعتي او غیر صنعتي کارونو ته شامل شي، او هم پخپل څنګ کې ټول کارګران او د کار څښتنان را غونډ کړي. د دې سربیره دوی پدې هم متفق دي چې مقصدي شي کار دی هغه چې تابع د قانون دي، نو پدغسې حالت کې بیا دې ته اړتیا نه لیدله کېږي چې کوم ډول نوم ورته واخستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کار ټړون (قرارداد)

په کار کې د استخدام شرایط

د کار قانون د ۱۳ مادي د حکم په اساس، کوم کسان چې دکار کوونکي په توګه مقررېږي باید لاندې شرایط ولري.

۱- دافغانستان تابعیت و لري.

۲- د ۱۸ کلنۍ عمرپوره کول، په ځنې شرایطو کي یعنې په سپکو کارونو کې د ۱۵ کلنۍ عمر او هغه څوک چې کار زده کوي د هغې لپاره د ۱۴ کلنې عمر پوره کول شرط دي. باید یادونه وشي چې دکار د استخدام عمر د ورځې میاشتې په پام کې نیولو سره محاسبه او تثبیت کېږي .

۳- په همدې شکل د کار د استخدام لپاره دروغتیایي سند وړاندې کول،د فراغت د سند وړاندې کول ،او همدارنګه د مامورینو د استخدام مشخصات یا شرایطو په اړوند تقنیني سند وړاندي کول شرط دي.

په همدې ډول د کار د قانون د احکامو مطابق، ټول کارونه به د کارکوونکي اداري یا کارفرما او کارګر تر منځه د قرار داد په کولو سره سرته رسېږي. دموضوع دښه روښانه ولولپاره باید لومړی قرارداد تعریف شي .

الف : د کار د قرارداد تعریف :

د کار قرارداد عبارت دهغې لیکلې موا فقې څخه دی چې د هغې پواسطه کار کوونکی د دندو د لایحې مطابق دکار د دورې د مزد او نورو حقوقو او امتیازونو د تر لاسه کولو په مقابل کي دټاکلې او ناټاکلې مودې لپاره خدمت کوي چه دغه قرارداد یو کال لپاره ادامه پیدا کوي، خوکه چېرې طرفین د قرارداد تمدید او یا پای غوښتنه ونکړي قرارداد په خپل حال پاتي کېږي .

د کار د قرارداد شرطونه په لاندې ډول دي ، چې یو ډول شرایط دطرفینو پورې اړه لري ،او دوهم ډول شرایط یې د ټړون (قرارداد) پورې اړه لري .

دقرارداد پورې مربوط شرایط په لاندې ډول دي:

1- د قرارداد مشروعیت:

2- د قرار داد د موضوع معین والی:

3- دیو کار په ترسره کولو کې د قانوني خنډونو نه موجودیت

4- د حرفي ډول چې کار کوونکي پرې بوختېږي .

5-دکار کوونکي مزد ، حقوق او امتیازونه .

6-د قانون د حکمونو مطابق د کار د وختونو او ساعتونو ټاکل.

7- د دغه قانون د حکمونو مطابق رخصتي ګاني.

8- د قرارداد د ټړلو نیټه

9- د قرارداد د اعتبار موده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید قرارداد په درې نقلونو کې ترتیب شي ،چې یو نقل یې کار کوونکي ته ، دوهم نقل یې د کار او اجتماعي امورو ریاست ته ورکول کېږي ، او دریم نقل یې استخدامونکي اداری سره پاتې کېږي ،په همدې ډول د هغه اشخاصو سره چې عمریې د ۱۸ کلو څخه کم وي ،د کار ټرون د هغوې د قانوني ممثلینو سره تر سره کېږي.

باید یادونه وشي چې د هغو مواردو پرته چې په دغه قانون کې اټکل شویدي ، اداره نشي کولی چې د کار کوونکي له موافقې پرته له ده څخه د هغه کار د اجرا غوښتنه وکړي ، چې په قرارداد کې نه وي ذکر شوی ، په لاندې مواردو کې اداره کولای شي خپل کارګرد قرارداد د موادو پرته په بل ځای کې توظیف کړي:

۱- په عین اداره کې ، د تخصص ،مهارت ،شغل ، دمزد داندازې ،او نورو حقوقو او امتیازاتو مطابق ، دکارد قرار داد په شرایطو کې د بدلون نه پرته.

۲-د تولید د ناڅاپې پېښو او ناوړه پېښو د مخنیوي او لیري کولو ،او د اداري د شتمني د ضایع کېدو د مخنیوي لپاره.

۳- د کار د موقتې درېدو په صورت کې.

د پورته مواردو څخه پرته نور په هیڅ صورت کې اداره نشي کولای خپل کارګر په بل ځای کې توظیف کړي.

همدارنګه باید ووایو چې د افغانستان د کار قانون د حکم له مخې قرارداد په لاندې حالتونو کې تعلیق کېدلای شي:

1- د عسکري خدمت تر سره کول.

2- په ټاکنیزو دندو کې د بوختېدو په صورت کې.

3- د کار د موقتې دریدلو په صورت کې

4-د جرم په تور او تر توقیف او تحیقیق لاندې نیول کېدو په صورت کې .

5- ناڅاپې پېښې.

6- د زده کړې (تعلیم او تحصیل) په حالت کې.

د دې خبرې یادونه ضروري ده ، چې اداره نشی کولی د تعلیق د رفع کېدو وروسته کار ته د کارکوونکي له منلو څخه ډډه وکړي.

ب : د کار د ټرون تعریف او بنسټیز عناصر:

د نړۍ یو شمېر قوانینو د کار د ټرون مفکوره یو غټه او مهمه مفکوره ګڼلې ده ، ځکه چې د کار سره زیات تړاو لري ، او د کار دغه ټرون ته بې شمېره اصطلاحات ورکړی شوېدي لکه د اجارې خدمات ، د خدمت ټرون ، د استخدام ټرون. او همدا راز د دغه ټرون ذې اړخو اطرافو ته هم بېلابېل نومونه ورکړ شوېدي. مګر عمل پردې روان دی چې دکار ټرون او یا اړیکې دوه شیان په بر کې رانغاړي ، کارګر او د کار څښتن. خو د دې دوو اساسي عناصرو څخه بغیر نور ځینې فرعي عناصر هم لر ي چې په لاندې ډول تشریح کېږي:

لومړی: د کار عنصر (د بدن یا فکر هڅې)

دغه التزام به کارګر پخپله شخصي ډول او رضایت سره سرته رسوي ، د هغه کار پر محتوا به پوه وي ،چې د ده د منصب او کار سره تړاو لري ، پدې اساس د کار ګر په نسبت دغه عنصر ته د التزام محل ویل کېږي ، او دکار د څښتن

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نسبت ورته سبب د کار ویل کېږي. البته د دغه عنصر څخه قانوني تصرفات یا نهایي پایلې هغه چې ټپکدار پرې ملتزم دی، استثناء کېږي، دا لدې کبله چې د تبعیت عنصر هدف دی.

دارنګه د کار څښتن مکلف دی چې ټول شرایط او لازمې غوښتنې بشپړې کړي، ترڅو کارګران د شرایطو مطابق په کار وتوانېږي.

دویم: د مزد یا اجورې عناصر (اساسي مزد، تعویضات او بخشش:

دغه عنصر د کار د څښتن په التزام پورې تړاو لري، او د هغه کار په عوض کې چې کارګر یې ترسره کوي. البته د دغه عنصر وضاحت وروسته رائي، خو دومره به ووایو چې اسلامي فقهاو دغه عنصر د کار دتړون لپاره د صحت شرط ګڼلی دی.

درپیم: د وخت یا زمان عنصر:

د دې څخه هغه زمانه یا وخت مطلب دی چې د کار په تړون کې پرې توافق راغلی وي ،او د دواړو لورو له خوا د بشپړې ازادی په ترڅ کې تاید کړای شوی وي. چې د دې سره سره یې د قانون امرانه نصوص هم مراعات کړی وي. د کار ورځنۍ یا اونیزه موده، عامه قاعده دا ده چې د دواړو لورو تر منځ په اړیکه د غیر محدودې مودې او استثنایي صفت سره وي، دارنګه به د ضرورت له مخې د کار محدودیت هم تعینوي.

څلورم: د تبعیت عنصر:

ددې څخه د څارنې، اشراف د کارګر د توجه کولو واکمنې مقصد دی ترڅو کارګر هغه په خپل کار کې مراعات کړي، او کارګر د کار دڅښتن په اطاعت دهغو د اوامرو او تعلیماتو په عملې کولو مکلف دی، همدا لامل دي چې دغه عنصر خورا پراخ دی چې قانوني تبعیت او اقتصادي تبعیت دواړو ته شامل دي.

د کار د تړون او نورو ورته تړونونو ترمنځ توپیر: د کار تړون د نورو ورته هغو تړونونو څخه چې په یو شمېر عناصرو کې ورسره شریک دي ، په یو لړ موضوعي مسایلو کې ورسره توپیر لري ،چې ځینې په لاندې ډول دي:

د کار تړون او د ټپګداری تړون:

دا چې د ټیکداری تړون په ټوله د کار په محور را څرخي، چې دغه کار د هغه مزد په عوض کې ترسره کوي چې هغه بل لوړې ور سره ژمنه کړېده، نو د کار د تړون سره د کار او مزد په عناصرو کې شریک دي، خو د طبیعي رابطې په چارو کې ورسره مخالف دي، ځکه د کار په تړون کې قانوني تبعیت لازمي دي، خو دغه عنصر بیا د ټپکداری په تړون کې لازمي ندي.

د کار تړون او د وکالت تړون:

د دواړو ترمنځ تاریخي بیلتون د مزد یا اجورې په اساس ولاړ دي، ځکه د وکالت تړون د اعتماد او باورتیا تړون

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ، چې پرته د عوض څخه کار صورت نیسي، خو د کار ټرون په مقابل د یوه بل شي کې دي، چې هغه مزد دي. مګر د وخت په تیریدو سره حالاتو تغییر وخوړ او وکالت به هم د مزد یا اجورې په مقابل کې ترسره کیږي. ، نو پدې اساس د اجورې پر بنسټ توپیر اوس قاصر او نیمګړي توپیر دي، لدې کبله لازمه ده چې د طبیعي تصرف پر اساس یې توپیر وشي، نو وکالت قانوني نیابت دي، چې تر قانوني تصرفاتو پورې خاص دي. مګر د کار ټرون بیا پدې را څرخي چې کارګر په دې مکلف دي چې خپل مادي کارونه سرته ورسوي.خو فقه او قضا دواړه پدې متفق دي، چې د دواړو ټرونونو ترمنځ بنسټیز بیلوالي په قانوني تبعیت سره دي.

دکار ټرون او د مشارکت ټرون:

ستونزه هغه مهال رامنځته کیږي چې کله کارګر د کار دځښتن سره په ګټه کې شریک وي. البته د مشارکت په ټرون کې د تبعیت عنصر موجود نه وي او نه د کار په عوض کې اجوره (مزد) وي، نو د کار د ټرون څخه د مسلکي شرایطو په انعقاد او پایلو توپیر مومي، که څه هم چې فقه په یو شمیر حالاتو کې د ګټې او تاوان په تقسیم تاکید کوي، په تیره هغه سزاګانې چې په افلاس ولاړې وي. خو د دې سره سره د مشارکت د ټرون طبیعي بڼه د کار دټرون څخه په اساسي شیانو کې توپیر لري، نو د کار د ټرون او نورو ورته ټرونونو تر منځ توپیرونه د دې غوښتنه کوي چې د کار د ټرون ډګر یا ساحه وڅېړل شي.

د کار د ټرون بیلوالي د نورو ورته ټرونونو څخه په څلورو بنسټیزو عناصرو کې توپیر لري چې د کار ټرون په هماغه عناصرو را څرخي او دا عبارت دي له: کار، موده، مزد او تبعیت څخه.

ج :د قرارداد د فسخه کېدو حالات: دا فغانستان د جمهوري دولت د کار د قانون د احکامو له مخې د

قرارداد د فسخه کیدو لپاره بعضې شرایط ټاکل شوي، چې په لاندې ډول تشریح کیږي:

د کار قرارداد په لاندې حالتوکې فسخه کیږي:

1- د اړخونو په توافق.

2- که چېرې طرفین د یو کال د تېرېدو څخه وروسته د قرار داد د تمدیو غوښتنه و نه کړی.

3- تقاعد.

4- مړینه.

5- هغه معلولیت چې د کار د تر سره کیدو مانع شي.

6- په هغه صورت کې قرارداد فسخه کیږي چې په اداره کې کار د شپږو میاشتو څخه زیات ودریږي.

7-د اداری د انحلال یا د کارکوونکو د کمېدو په صورت کې.

8- په داسې نهایي جزا محکومیدل چې د کار د دوام خنډ وګرځي.

9-د تادیبي مویداتو له تطبیق وروسته بیا سرغړونه .

10- د کار څخه د کار کوونکی ډډه کول.

11- په ازمایښتي دوره کې د قناعت ښونکو پایلو نه تر لاسه کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

12- د سمو (موجه) دلایلو پرته د 20 پرله پسی ورځوغیابت په صورت کې.

د کار د قرار داد د فسخه کېدو خبر:- باید ووایو چی د قرار داد د فسخه کېدو خبر په دوو طریقو صورت مومي چې عبارت دي له:

1- که چېرې د کار قرار داد د نا ټاکلې مودې لپاره وي په دې صورت کی کار کوونکي ته یو میاشت مخکښی خبر ور کول کیږي.

2-که چیري قرار داد د ټاکلی موي لپاره وي پدې صورت کی د مودې په پای ته رسیدو سره قرارداد فسخه کیږي. دا باید یادونه وشي، چی که چېرې د کار کوونکی قرارداد فسخه شي، نو هغې ته د کار موندنې په نامه د خدمت د یو څه مادي امتیازات چې په لاندې ډول دي ورکول کیږي.

1- که چیري کارکوونکی په یوې ادارې کې یو کال کار کړی وي، د یوی میاشتنی مزد د هغه د اجزاو او ضمایمو سره ورکول کیږي.

2- په هغه صورت کې چی کارکوونکی تر پنځو کالو پورې کار کړي وي، پدي صورت کې د دوو میاشتو مزد سره د ضمایمو ورکول کیږي.

3- که چیری کارکوونکی تر لس کالو زیات کار کړی وي ،پدي صورت کې د څلورو میاشتو مزد سره د ضمایمو سره ورکول کیږي.

4- همدارنګه که چېرې د کار کوونکي د کار موده د لس کلونو زیاته وي په دې صورت کی د شپږ میاشتو مزد د هغه د اجزاو او ضمایمو سره ورکول کیږي

د کار د قانون د تطبیق ساحه:

د کار قانون د ۷ مادي د حکم په اساس: هغه اشخاص چې له هېواد څخه بهر په افغاني سیاسي نماینده ګیو او نورو دولتي موسسو کې او یا د هېواد د ننه په خارجې او بین المللي موسسو او سازمانونو کې دنده تر سره کوي، د دغه قانون د حکمونو تابع دي. او همدارنګه د کار قانون دپنځمي مادې د حکم په اساس دغه قانون له ادارې سره د کارکوونکو د ټولو برخو(د کورنیو او بهرنیو په ګډون) د کار عامه اړیکې تنظیموي.

الف: د کار د حقوقو د جبري والي او ارادي والي اړخ:

که چیرته متوجه شو، اصلاً هر قانون په ټولنه کې الزامي او جبري اړخ لري، نو ځکه په قوانیونو کې د امر دستور صورت نیسي ،خو په حقوقي اصطلاح کې د قانون امري والي څخه هدف د قوانینو دبشپړ والي او یا تفسیري والي دي.

هر کله چې مقنن قانون جوړ وي، نو د اهمیت له مخې د قانون پر خلاف اعمال او حرکات غیرې زمي شمیري،نو د تفسیري او تکمیلي قوانینو هدف دا دي ،چې یوه قاعدې نه بلکې هره یوه قاعده څومره چې د طرفینو په ګټه وي په قرارداد کې داخل کړای شي ، نوځکه د کار د حقوقو مقررات دامري والي اړخ لري چې د عمومې ټولنیز نظم په اساس او د ټولنې د ګټو په منظور وضعه کیږي. چې د ا قوانین د عمومې نظم خاصیت درلودونکي دي،چې سیاسي او اقتصادي اړخ لري، او د کارګرانو د حقوقو ساتنه د هغوي د حد اقل د حقوقو ترسره کیدو په منظور د اجرا لاندي نیول کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرې د کار د حقوقو په قرارداد کې د کارګر او کارفرما ترمنځ د کار د شرایطو په هکله یادونه شوي وي او بل نوی قانون تصویب شي نو ایا د نوي قانون مطابق کارګر د زیاتو حقوقومستحق دی او که نه ؟

معلومه خبره ده چې د پخواني قانون په اساس کار ګر د کم امتیاز درلودونکی دی ولې د نوي تصویب شوي قانون په اساس د زیات امتیاز لرونکی دی. د عمومي اجتماعي نظم په منظور د توشیح د نېټې څخه د کار د حقوقو په هکله لازم الاجرا دي.

د افغانستان د ۱۳۵۵ کال د جزا قانون (۵۱۶)ماده حکم کوي

که څوک د خلکو د کار قوه په فریب یا حیلي استعمال یا خرڅه کړي، او یا د یو خارجي خوا سره د هغوي د کار په قوه معامله وکړي د خساړې په جبران علاوه په اوږده حبس محکومیږي. د کار د حقوقو په هکله د جزایي قواعدو او مقرراتو وضعه کول د قواعدو د تطبیق او د جرم د وقوع څخه مخنیوي کول دي، او ځکه چې د کار فرمایانو سر غړونه د کار د حقوقوڅخه ډیره زیاته ده.

په دي ډول سره دافغانستان د ۱۳۵۵ کال مدني قانون ۵۵۱ ماده وایي:

زور عبارت د یو شخص د مجبورولو څخه په نا حقه توګه د داسې کار په کولو چې وربانديې راضي نه وي، که دغه زور مادي وي او یا هم معنوي وي .

دا چې دکار د حقوقو اصلي او اساسي موضوع د ضعیف اړخ یعنې د کارګر د حقوقو ساتنه او د ګټو څخه دفاع کول دي، نو ځکه د کار قوانین جبري اړخ لري، او د عمومي نظم د قوانینو څخه ګڼل کیږي. لکه څرنګه چې مخکې وویل شو چې د عمومي ټولنیز نظم د مفهوم اساسي هدف دکار د مقرارتو په رڼا کې د کارګر د اخلاقو د کموالي مجاز نه شته دی .

خو د ځینو هېوادونو په قوانینو کي د ټولنیز او جمعي او د انفرادي قراردونو په اساس کیدای شي چې کارګرته زیات امتیازات او حقوقوباندې قایل شي .

باید وویل شي چې د کارحقوق کي دوه ډوله قواعد موجود دي چې د عمومي نظم مربوط دي. لومړي هغه قواعد چې په هیڅ ډول سره تخلف او سرغړونه باید تري ونه شي، لکه هغه قواعد چې د شخړو د حل اوفصل کولو په منظور دعواوګ ته درسیدګي صلاحیت لري، چې د عمومي نظم د مطلق قواعدوپه نامه یادیږي او تخلف ورڅخه باید ونه شي .

او بل ډول د عمومي نظم پورې اړونده ټولنیزقواعد دي چې دکار ګرد حقوقو او امتیازاتو لپاره د ښو شرایطوغوښتونکي وي .

په وروستیو وختونو کې پدي هکله دکارګرانو له خوا د زیاتو هلوځلو اومبارزو په اساس دکارګر د حقوقو په هکله ډیره زمي او انعطاف پذیزي د صنعتي هېوادونو له خوا رامنځته شوې، او هم د هېوادونو د مالي او اقتصادي بحرانونو او بدلونونو په نتیجه کي چې د خصوصي جوړونې او یا سکتور خصوصي اصطلاح ور ته نن ورځ مروجه ده ،د کار حقوقو په هکله ډیره انعطاف پذیري شوې ده ، لکه د کارګرانو د استخدام شرایط، د ازادانه شغل ټاکنه، د کار د شرایطو تعین، او د کارګرانو د اخراج موضوع د بحث لاندې نیول شویده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم څپرکی

د کار انضباط

کار کوونکی په اداري کې د کار د انضباط په رعایتولو مکلف دي. په ادارو کې د کار انضباط له لاندې لارو څخه تامینیږي.

الف:- د کار په وړاندې د کار کوونکی د اګاهانه اړیکو او چلند رامینځ ته کول.

ب:- د پوهاوي او اقناع د کړنلارو رعایتول او رواجول.

ج:- د صادقانه کار پر وړاندې د کار کوونکي هڅول.

د:- د سر غړونې په صورت کې د تادیبي مویداتو تطبیقول.

دا چې اداره یا کار فرما او کار کوونکي دواړه د کار د قرار داد طرفونه دي ،نو د دې په خاطر چې په کار کې مشکلات رامنځ ته نه شي، او یو د بل په حقوقو تیری او تجاوز ونه کړي، نو د همدې کار د مخنیوي په خاطر کارفرما او کارګر لاندې مکلفیتونه لري:

1 د اداري مکلفیت:

- اداره په لاندې ډګرونو کې په کار د سالمې سازماندهۍ مکلفه ده .

1-د کار د لاسته راوړلو د بازدهی، د کار کوونکو د معیشت د سطحې د لوړلو لپاره دمساعدوشرایطو رامینځ ته کول.

2- د کار او تولید د انضباط په پام کې نیول.

3- د کار د ساتنې او د کار دایمنی تخنیک د قواعدو په پام کې نیول.

4- د کارکوونکو د غوښتنو او اړتیاوو په وړاندې مسوولانه چلند کول.

5-د کار په اړوند د تقنینی سندونو د حکمونو په پام کې نیول.

2. دکار کوونکي مکلفیت :

کارکوونکي د لاندې چارو په پام کې نیولو باندې مکلف دي:

۱- د دندو د لایحو منل .

۲- رښتوني (صادقانه) او ثمر بښوونکي کار کول.

۳- د کار انظباط رعایت کول.

۴-د لوړ پوړو امرینو د قانونی امرونو او هدایاتو په وخت تطبیقول.

۵- دکار دلاسته راوړنو (بازدهي) د سطحي لوړول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦- د محصول دکیفیت ښه کول .
٧- توليدي او تکنالوژي ضوابط.
٨- د کار په چاپيريال دايمني تخنيک او د روغتيا ساتنې قواعد.
٩- د اداري د منقولو ا وغير منقولو ملکيتونو او شتمنيو ساتنه او له هغو څخه معقوله او اقتصادي ګټه اخيستنه .
١٠- د حرفوي مهارت د سطحي لوړتيا او د هغو معيارونو کارونه چې د مسولو مراجعو په واسطه تثبيتيږي .
١١- د دندې او حرفې د اسرار و ساتنه.
١٢- د نورو کار کوونکو او مراجعينو سره ښه چلند.
١٣- د کار او توليد په ډګر کې د نورو کارکوونکو له مزاحمت څخه ډډه کول.
د پورته ذکر شوو مکليفتونو سره سره کارګران په ټوله نړۍ او افغانستان کې د بعضې کارونو د کولو په نتيجه کښې تشويق کيږي ،او يو څه نقد(مادي او معنوي) امتيازونه ورکول کيږي.
چې د دې جملې څخه د افغانستان د اسلامی جمهوريت د کار قانون هم د هغه کارګرانو لپاره چې د ځانه يې کاري وړتيا ښودلې وي، مادي او معنوي مکافات پيش بيني کړي، چې په لاندې ډول تشريح کيږي.

د کار د قانون له مخې مکافات او مجازات :

په افغانستان کې ټول هغه کارکوونکي پی ډېر ښه کارونه تر سره کوي، د کار ښه لاس ته راوړنی لري يا د توليداتو د کيفيت په ښه کولو کې يې د ځانه وړتيا ښودلې يا يې په اومو موادو کې سپما کړي وي، يا په همدی شکل په اړوندو چارو کې ابتکار او نوښت کړی وي، د احوالو سره سم په لاندې ډول هڅول (تشويق) کيږي.
1- د نقدي يا جنسي مکافاتو ورکول.
2- د ستاينليک ورکول.
3- د تقدير نامې ورکول.
4- د نښان ،مډال يا لقب ورکول.
5- او يا په بعضې نورو سندونو کې پيشبيني شوي مکافات ورکول کيږي.
په همدې شکل هغه کار ګران چې د کار له انضباط څخه سرغړونه کوي، په وړاندې يې لاندي ذکر شوي تاديبي جزاګانی په نظر کې نيول کيږي.
1- توصيه
2-اخطار
3- کسر معاش
4- تبديلي
5- د کارد قرار داد فسخ کول.
دلته بايد يوه خبره واضح شي، چې د کار کوونکي پر ضد تاديبي مويدې د هغې د سر غړونې د توضيح کولو وروسته د قانون سره سم ورکول کيږي ،چې دا کار اداري مسوول سرته رسوي. پدې معنی چې د اداري مسوول مکلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، د تادیبي مویدو د تطبیقولو په وخت کې ، د سرغړونې شدت، او خفت، د سر غړونې احوال، د سرغړونې په وخت کې د کارکوونکي وضع، د کارکوونکي د کار سابقه او سلوک په نظر کې ونیسي. خو که چیرې کار کوونکی تادیبی مویده ناسمه (غیر موجه) و ګڼي د هغې د ناسموالي په هکله د دلایلو یا شواهدو په وړاندی کولو سره کولای شي د اړوندې اداړې د کار د اختلافاتو د حل کمیسون ته شکایت وکړي. که چېرې د اړونده اداړې د کار د اختلافاتو کمیسون موضوع ته رسیده ګی ونه کړي، پدې صورت کې کارګر کولی شي، د دلایلو او شواهدو په وړاندې کولو سره د کار د اختلافاتو مرکزي کمیسون ته مراجعه و کړي، خو که چېرې مرکزي کمیسون هم د موضوع په حل ونه توانیږي، پدې صورت کې موضوع د طرفینو په توافق محکمې ته وړاندې کیږي.

په همدې شکل که چېرې د یوې اداړې کارکوونکي د غیابت له نیټې څخه تر 3 ورځو پورې د موجه عذر پرته خپل معذرت په لیکلي توګه اداړې ته خبر ورنکړي ناسوب ګڼل کیږي او د ناسوبتیا د هرې ورځې په وړاندې معاش د اجزاو او ضمایمو سره یوځای کسر کیږي. همدارنګه که د پورته ذکر شوي شخص اړونده اداړې ته د 20 ورځو په اوږدو کې خپل معذرت وړاندې او د واکمنې اداري مقام قناعت وکړي نو د نومورې کارکوونکي ناسوبتیا معاف او غیابت یې هم ورته د هغه په قانوني رخصتیو کې محاسبه کیږي. یا که چېرې واکمنه اداره د کار کوونکي دلایل موجه ونه ګڼي په دې صورت کې د کارکوونکي په سجل کې درج کیږي او د کار په دوره کې نه حسابیږي.

د کار د روغتیایي او خوندي ساتلو شرایط:

اداره د کار د روغتیایي او خوندي شرایطو په تامینولو ، د کار او تولید په اړه د پیښو د مخنیوي لپاره له خوندي وسایلو او تخنیک څخه په کار اخستلو او د کار له امله د کار کوونکو د حرفوي ناروغیو څخه د وقایه کولو په مقصد د روغتیا ساتنې د شرایطو په تامینولو مکلفه ده. په همدې شکل اداره مکلفه ده، کاري او تولیدي خونې، د کارکوونکو د کار او استوګنې ودانۍ او سیمې د خوندي تخنیک او د چاپیریال د روغتیا ساتنې د معیارونو او قواعدو مطابق ودانۍ او تجهیز کړي. له نویو تولیدي موسسو او له هغو موسسو څخه چې بیا احیا، یا ودانۍ یې نوې کیږي ګټه اخیستنه د تخنیکي مراقبت او د چاپیریال د روغتیا ساتنې د ادارو له موافقې وروسته مجاز دي ،همداسې د یادونې وړ ده چې د ادراي مسول مکلف دی ، د خوندي تخنیک، د تولید د چاپیریال، د روغتیا ساتنې، اطفایې (اور وژنې) د طبي لومړنیو خدمتونو د وړاندې کولو قواعد او د کار د ساتنې نور قواعد په دوامداره توګه کارکوونکو ته ور زده کړي. همداسې کارګر هم مکلف دی چې د کار د ساتنې او خوندي تخنیک قواعد او معیارونه، له وسایلو، د ستګاوو او د کار ساتنې له لایحې څخه د ګټې اخیستنې قواعد په پام کې ونیسي، او د کار د ترسره کولو په وخت کې له انفرادي ساتنیزو (تحفظی) وسایلو څه ګټه واخلي.

په همدې شکل د کار د ځانګړو جامو او تجهیزاتو او ساتنیزو وسایلو تامینول، ساتنه، پاکول، تعقیمول، و وچول ، ترمیمول او د هغه له حتمي استعمال څخه ځارنه د اداړې له مکلیفیتونو څخه دي.

په هغه صورت کې چې د کار له امله د ناوړو پیښو او ناڅاپي ناروغیو د پیښیدو امکان زیات وي او یا پیښ شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اداره د لاندې اسانتیاو په برابرولو مکلفه ده .

1- د طبي لومړنیو مرستو او شرایطو تامینول.

2- روغتیایي مرکزونه ته د ناروغه کارګرانو لیږدول او د هغه درملنه.

3- په هغه صورت کې چې کار کوونکي له ناروغۍ څخه صحت پیدا کړي ،د کارګر بېرته انتقال د هغې د استوګنې سیمې ته .

4- که چېرې د کارکوونکي درملنه د هېواد د ننه شونې نه وي ، اداره مکلفه ده کارکوونکی د تداوي په غرض یوه بهرني هېواد ته واستوي.

5- په هغه صورت کې چې کارکوونکی مریض او د تداوي لاندې وي د هغې ټول مصارف د ادارې له بودیجې څخه تامینیږي.

6- په اخیر کي باید داسی ووایو چی اداره د کار له امله د روغتیایي زیان په جبرانولو مکلفه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم څپرکی

ټولنیز تامینات او د هغه ډولونه

کار کوونکي او په ځینې حالاتو کې د هغوی د کورنۍ غړي د اړوندو تقنیني سندونو مطابق له لاندې ټولنیزو تامینا تو څخه ګټه اخلي:

1- ماکولات.

2- د حمل او نقل لپاره د لیږد وسایل .

3- د سر پناه د تدارک لپاره مرستې.

4-د روغتیایي خدمتونو څخه ګټه اخیستنه.

5- د سن د لوړوالی ، د کار د دورې د بشپړیدو او په کار پورې اړوند معلولیت او ناروغۍ له امله د تقاعد په وخت کې د وروستي میاشتني معاش په اساس له اجزاو او ضمایمو سره د لس (10) میاشتو معاش معادله مرسته.

6- د ولادت په دوران کې مرسته.

7- د تکفین او ښخولو په منظور د وروستۍ میاشتني معاش په اساس له ضمایمو سره د لس (10) میاشتني معاش معادل د متوفي کورنۍ ته مالي مرسته (اکرامیه) ورکول.

8- د عمر د زیاتوالي، ناروغی، معلولیت او نورو حالاتو پر بنسټ چې اړوندو تقنیني سندونو کې اټکل کیږي.

د تقاعد شرایط:

د افغانستان د کار قانون مطابق کار کوونکی د (65) کلنی سن له بشپړولو وروسته متقاعد کیږي. د اداري د ډیرې زیاتې (مبرمې) اړتیا په صورت کې د کارکوونکي په موافقه چې د کار توان ولري د هغوی د کار دوره تر (5) نورو کلنو پوری تمدید یدلای شي. د کار د دورې تمدید د کار کوونکي د ټولو حقوقو او وجیبو لرونکې ده.

په همدې شکل د کار کوونکي د بالفعل کار دوره (40) کاله د ه او د وروستني بست، رتبې یا درجې د مزد مستحق ګڼل کیږي،چې د کار کوونکي سن د تقاعد په وخت کې د هغه د سوانحو د د فتر په کتنې سره تثبتیږي.

د تقاعد ډولونه:

تقاعد د کار قانون د حکم په اساس یو شخص د لاندې طریقو څخه په یوه طریقه تقاعد کیدلی شي.

1- د کار کوونکي د (65) کلنی عمر پوره کیدل

2-د کار کوونکي د بالفعل کار دوره (40) کاله پوره کیدل

3- د غوښتنې په اساس تقاعد :- پدې معنی چې کارکوونکی حق لري، چې د تقاعد اجباري سن ته د رسېدو څخه مخکې خپل تقاعدد وغواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4- که چېرې کار کوونکی د واکمنې محکمې په قطعي حکم له (2) کلونو په کمې مودې د حبس په جزا محکوم شي، کولای شي خپل تقاعد وغواړي.

5- هغه کارکوونکی چې د واکمنې محکمې د حکم په اساس په (2) کلونو یا له هغې څخه زیات د حبس په جزا محکوم شي تقاعد ته سوقیږي.

6- د معلولیت یا مړینې تقاعد:- په کار پورې د اړوند معلولیت یا مړینې په اثر او د حرفوي ناروغۍ یا د هغه له امله مړینه . د معلولیت تثبیت د روغتیایي کمیسون د تصدیق په اساس د خدمت د دورې په پام کې نیولو پرته له تقاعد مخکې د وروستۍ رتبې یا درجې د مزد په 100کې 100 انډول د اجرا وړ دی.

د تقاعد د حقوقو ټاکنه :

که چېرې کارکونکی له څو خواوو نه د څو ډولونو تقاعد د حقوقو مستحق و پیژندل شي، د تقاعد د حقوقو اجرا د هغه په ټاکنې یوازې له یو ډول څخه صورت مومي.

همدارنګه د هغه متقاعد تر تکفل لاندې پاتې کسان چې له څو خواوو د تقاعد د حقوقو مستحق دی، د نوموړي له ټولو حقوقو څخه ګټه اخیستلای شي.

د تقاعد زیاتوالی:

باید یادوونه وشی چې د متقاعدینو د تقاعد حقوق او د متوفي متقاعدینو د پاتې کسانو حقوق د مزد (معاش) د عمومی زیاتیدو سره متناسب زیاتیږي.

په کار ګړې اتحادیه کې د کارګرانو ګډون:

د کارکوونکو او کارفرمایانو اتحادیې، هغه ټولنیز سازمانونه دي ،چې د اړوندو اصنافو په داوطلبانه ګډون د ټولنیزو سازمانونو د قانون له مخې جوړیږي. چې داسې اتحادیې یا سازمانونه د نورو سازمانونو له خوا نه شي تمویل کیدی. همدارنګه باید یادونه وشي چې ټول کارګران په اړوندو اتحادیو کې د شاملیدو حق لري. همدارنګه کار ګران حق لري چې د تولید په پراختیا، د ټولنیزو ، فرهنګی او معیشتي مسایلو په بحث کې پوره ونډه واخلي او د کار د ښه کولو لپاره اداري ته وړاندیزونه وړاندې کړي. په همدې شکل اداره مکلفه ده، چې د کار او تولید په رهبري او پراختیا کې د کارکوونکو د ګډون شرایط برابر کړي او د کارکوونکي وړاندیزونه او انتقادونه په موقع وڅیړي، او له نیول شویو تصمیمونو څخه هغوی خبر کړي. خو اداره نشی کولای پدې معنی چې دولتي، غیر دولتی، ګډې او خصوصي اداري او موسسې د کار او ټولنیزو چارو وزارت له اجازې پرته خپل کار کوونکي په ډله ایزه یا ګروپي توګه له کار څخه ګوښه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه

1- حقوق کار (۱) داکتر سید عزت الله عراقی، تهران، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه (سمت) ۱۳۸۱
2- د کار حقوق ډاکتر مصطفی نیازي د حکمت خپروندیه ټولنه ۱۳۹۰
3- د کار قانون ۱۳۸۶ هـ ش کال.
4- انترنیټ Googl.com
د روسیه او نورو خارجي هېوادونو د کار حقوق او د کار د حقوقو په ارتباط بین المللي نورمونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم ټوک

د معلولیت لرونکو وګړو نړیوال میثاق (ژمنې)

د ملګروملتونو د عمومي غونډې مصوبه

Disables' Rights

نوی سید جمال الدین (افغان) انستټیوت

Institute New Said Jamaluddin "Afghan"

ترتیب او کمپوز: سمیع الحق سمیع

مهتمم: ډاکتر تاج الدین ملت مل

کال: ۱۳۹۰

جلال اباد، ننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم ټوک

د معلولیت لرونکو وګړو نړیوال میثاق (ژمنې)

د ملګروملتونو د عمومي غونډې مصوبه
د دسامبر ۱۳، ۲۰۰۶م کال

د دې میثاق غړي هېوادونه لاندینۍ دندې لري:

ا- د ملګرو ملتونو په منشور کې د اعلام شویو اصولو یادونه، په نړۍ کې د بشري کورنیو د ټولو غړو ذاتي درنښت، ارزښت، مساوي او نه بېلیدونکي حقوق، د ازادۍ، عدالت او سولې د بنسټ په توګه په رسمیت پېژندنه.

2- دې ته چمتو دي چې، د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو په نړیواله اعلامیه او د بشر د حقوقو په نړیوال میثاق کې یې ټولو اصولو ته یې غاړه اېښې ده او منلي یې دي چې، هر څوک له هر ډول تبعیض پرته له پورتنیو بیان شویو حقوقو او ازادیو څخه برخمن کیدای شي.

3- د ټولو بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو د عمومیت، نه بېلېدنې، یو پر بل باندې د تکیې او اړوندتیا بیا څرګندونه او پرته له کوم تبعیض نه، د معلولو کسانو د اړتیاوو او بشپړې وندې ضمانت کوي.

4- د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقوقو ټرون، د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال ټرون، د هر ډول نژادي توپیرونو د له منځه وړلو نړیوال ټرون، د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو ټرون، د ځوروني او نورو وحشي، غیر بشري یا تحقیروونکي چال چلند یا جزا پر وړاندې ټرون، د ماشوم د حقوقو ټرون او د ټولو کډوالو کارګرو او د هغوی د کورنیو د غړو د حقوقو د خوندیتوب د ټرون یادونه.

5- دا منل چې معلولیت یوه زیاتېدونکې پدیده ده چې د فزیکی، رواني، حسي او د چاپېریال خنډونو په پایله کې د ټولنې له نورو کسانو سره په مساوي توګه د هغوی د اغیزمنې برخې د لاس ته راوړلو خنډ ګرځېدلې ده.

6- د هغو اصولو او کړنلارو د لارښوونو اهمیت، کوم چې د عمل په نړیوال پروګرام کې د معلولو کسانو په اړه راغلي او په معیاري قوانینو کې د معلولو کسانو لپاره د وړ فرصتونو د برابرونې په خاطر په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه د معلولو کسانو د فرصتونو د لا زیاتې برابرونې لپاره د کړنلارو، پلانونو، پروګرامونو او اقداماتو د ښه والي، اصولي کولو او ارزونې د اغیزمن کېدو درک کول.

7- د دوام وړ پرمختګ د اړوندو ستراتیژیو د یوې بشپړوونکې برخې په توګه، د معلولو کسانو د پاره په مسایلو باندې ټینګار کول.

8- د هر چا په وړاندې د معلولیت په باب تبعیض درلودل، له ذاتي درنښت او د انسان له بشري ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه سرغړونه ده.

9- د معلولو کسانو په باب د تفاوت د ځانګړتیاوو پېژندنه.

10- د ټولو هغو کسانو په شمول چې، په دې برخه کې د کلکې ننګې او ملاتړ غوښتونکي دي، د معلولو کسانو د بشري حقوقو د ودې او ساتنې د اړتیا پیژندنه.

11- په همدې بېلابېلو وسایلو او مسوولیتونو سربېره چې، د نړۍ په هر ګوټ کې معلول کسان لا اوس هم په ټولنه کې د نورو کسانو په څېر د یو شان ګډون کولو او د هغوی له بشري حقوقو څخه د سرغړونې په برخه کې، له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، اندېښنه ښودل.

12- په هر یو هیواد کې په تېره بیا مخ په وده هېوادونو کې د معلولو کسانو دژوند د شرایطو د ښه والي لپاره د نړیوالو مرستو د اهمیت درک کول.

13- د خورا ارزښتناکو موجود او بالقوې همکاریو درک کول، کوم چې د معلولو کسانو له خوا د هغوی د ټولنو د عمومي هوساینې او تنوع لپاره تر سره شوي دي، د معلولو کسانو د بشپړو بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو څخه د برخمنتیا د ودې او د معیوبو کسانو پوره برخه اخیستنه به د یوې ټولنې په بشري، ټولنیزو او اقتصادي پرمختګ کې د بنسټیزو پرمختګونو او د بې وزلۍ د ریښو په له منځه ایستلو کې د هغوی د خپلوۍ احساس په زیاتېدو سره پای ته ورسېږي.

14- د معلولو کسانو د ټاکنو د حق د ازادۍ په ګډون د هغوی د انفرادي ځانګړتیا او استقلالیت د اهمیت پېژندل.

15- د دې څارنه کول چې، باید معلول کسان د دې چانس ولري چې، د پالیسیو او پروګرامونو په اړه د پرېکړو د نیونې په بهیرونو، په تېره بیا په هغو مسایلوکې چې په دوی پورې اړه لري، په فعاله توګه ګډون وکړي.

16- د هغو ستونزمنو حالاتو له امله چې معلول کسان ور سره مخامخ دي لکه د نژاد، رنګ، جنسیت، ژبې، مذهب، سیاسي یا نورو نظریاتو، ملت، قوم، بومي یا ټولنیز اصل، ملکیت، زېږیدنې، عمر او نور حالات چې د تبعیض له بېلابېلو ډولونو سره لاس او ګرېوان دي،اندېښنه ښودل.

17- د دې په رسمیت پېژندل چې، معلولې ښځې او نجونې د کور په دننه او د کور نه بهر، له زور زیاتي، ژوبلې یا ناوړه کارونې، غفلت یا بې پروا چال چلند، ناوړه چلند یا په کار اچونې، له تر ټولو زیات او ستر خطر سره لاس او ګرېوان دي.

18- د دې منل چې معلول ماشومان باید له ټولو بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو نه، د نورو ماشومانو په څېر په برابره او بشپړه توګه برخمن شي. د دې په اړخ کې د هغو ژمنو یادونه، کوم چې د ماشوم د حقوقو په میثاق کې غړو هېوادونو په غاړه اخیستي وو.

19- له بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو نه د معلولو کسانو د بشپړې برخمن تیا د دودولو، په ټولو هلو ځلو کې د جنسیت د انځورلیدنې د بېلابېلو اړخونو په اړتیا باندې ټینګار کول.

20- د دې واقعیت روښانه کول چې، زیاتره معلول کسان په بې وزلۍ کې ژوند کوي او په دې اړه د کړکېچنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالاتو د اړتیاوو درک، کوم چې په معلولو کسانو باندې د بې وزلۍ منفي اغیزې راښیي.

21- د دې خبرې په پام کې نیول چې، د ملګرو ملتونو په منشور کې د راغلیو هدفونو او اصولو د بشپړ درناوي له مخې، د بشر د حقوقو د اجرا وړ موضوعګانو رعایتول، د معلولو کسانو د بشپړ خوندیتوب لپاره واجب دي، په ځانګړې توګه، د وسله والو نښتو او بهرني اشغال په وخت کې.

22- فزیکي، ټولنیز، اقتصادي او کلتوري چاپېریال، روغتیا، ښوونې او روزنې، اطلاعاتو او معلوماتو ته د لاس رسي د اهمیت په پېژندلو سره، معلولو کسانو ته د دې توان ورښل، ترڅو له ټولو بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو څخه په پراخه توګه برخمن شي.

23- ټینګار په دې چې یو کس د نورو کسانو او ټولنې په وړاندې، کوم چې ښاغلی/ مېرمنې په هغې ټولنې پورې اړه لري مسوولیت لري تر څو د هغو حقوقو د ودې او رعایت لپاره هڅې وکړي، کوم چې د بشر د حقوقو په نړیواله لایحه کې راغلي دي.

24- په دې ټکي پوهول چې کورنۍ د یوې ټولنې طبیعي او بنسټیز ګروپ دی او باید د ټولنې او دولت له خوا خوندي وساتل شي. معلول کسان او د هغوی د کورنۍ غړي باید د اړتیا وړ ساتنه او مرسته تر لاسه کړي، ترڅو کورنیو ته د دې توان ور وبښي چې، معلولین له بشپړو او مساوي حقوقو څخه برخمن شي.

25- په دې خبره پوهول چې، یو پراخ او هر اړخیز نړیوال میثاق به وکولای شي، ترڅو د معلولو کسانو حقوق او شخصیت تشریح او خوندي وساتي. دا کار به د معلولو کسانو د ژورو او ناوړو ټولنیزو حالاتو په کمولو کې ډېره مهمه مرسته وکړي او په مدني، سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري برخو کې به، په مساوي فرصتونو سره په دواړو مخ په وده او هم پرمختیایي هېوادونو کې د هغوی ګډون ته وده ورکړي چې، په لاندې ډول یې پرېکړه کړې ده:

لومړۍ ماده موخه:

د دې میثاق موخه، د ټولو معلولو کسانو لپاره، د ټولو بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو د بشپړې او مساوي برخمن تیا د ودې، خوندیتوب او تامین دی، تر څو د دوی د ذاتي درنښت و درناوي ته وده ورکړي. معلول کسان د هغو کسانو په ګډون چې اوږد مهاله فزیکي، ذهني، دماغي یا شعوري نیمګړتیاوې لري او له بېلابېلو خنډونو سره د متقابل عمل په ترڅ کې، ښایي په ټولنه کې له نورو کسانو سره په مساوي توګه له بشپړې او اغیزمنې برخې اخیستنې څخه بې برخې شي.

دویمه ماده تعریفونه:

په اوسني میثاق کې:

(اړیکې): عبارت دي له ژبو، د متن ښودنه، بریل(د ړندو لیک)، لمس کېدونکې مفاهمه، غټ چاپ، تر لاسه کېدونکي ملټي میډیا (څو ډوله ډله ایزې رسنۍ) لکه د لیک په بڼه، اوازې، ساده ژبه، بشر- لوستونکي، زیاتېدونکي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدیل ډولونه، د خبرو اترو ډول او بڼې، د تر لاسه کېدونکې معلوماتي او مخابراتي ټیکنالوژي په ګډون.

(ژبه): د شفاهي او اشاره اي ژبو په ګډون نورې غیر شفاهي ژبې.

(د معلولیت له مخې تبعیض): د معلولیت له مخې د هر ډول تبعیض، محرومیت او بندیز کوم چې له نورو سره په مساوي توګه په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري، مدني او یا نورو برخو کې له ټولو بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو د پیژندنې، برخمن تیا یا تمرین د کمزوره کولو او لغوه کولو د مقصد یا ترسره کولو لپاره وي.

(عمومي طرح): په دې مانا چې د هغو تولیداتو، چاپیریالونو، پروګرامونو او خدماتو طرح کول، کوم چې د امکان تر وروستي برېده پورې د ټولو خلکو له خوا، پرته د کوم سمون یا ځانګړې طرحې څخه د کارولو وړ وي. (عمومي طرحه) باید د ځانګړو معلولو کسانو د ډلې لپاره چېرې چې اړتیا وي، د مرستندویه سامان الاتو مخنیوي ونکړي.

درېیمه ماده عمومي اصول :

د اوسني میثاق اصول باید په لاندې ډول وي:

الف) د ذاتي عزت درناوی، انفرادي خود مختاري له دې ازادۍ سره چې، یو کس په خپلواکه توګه خپل انتخاب وکړای شي او د کسانو خپلواکي.

ب) د تبعیض له مینځه وړل.

ج) په ټولنه کې بشپړه او اغېزناکه برخه اخیستنه.

د) د معلولینو ترمینځ د تفاوت درناوي او د بشر د تنوع او انسانیت د یوې برخې په توګه د معلولو کسانو منل.

ذ) د فرصتونو برابري.

ر) لاس رسي.

ز) د ښځو او سړو تر منځ برابروالی.

س) د معلولو ماشومانو د استعدادونو او دهغوی د حقوقو درناوی کول، ترڅو خپل هویت وساتلای شي.

څلورمه ماده عمومي مکلفیتونه:

۱-- غړي هېوادونه ټولو معلولو کسانو ته پرته له کوم توپیره د دوی د معلولیت پربنسټ، د ټولو بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو تامین او وده په غاړه اخلي. په همدې ترتیب، غړي هېوادونه لاندیني مسوولیتونه لري:

1) په همدې میثاق کې د راغلیو حقوقو د عملي کولو لپاره د ټولو وړ، تقنیني، اداري او نورو ګامونو منل.

2) باید د ټولو هغو قوانینو، مقرراتو، دودونو او تمرینونو د بدلولو او فسخ کولو لپاره، کوم چې د معلولو کسانو په وړاندې تضاد رامنځته کوي، د قانون جوړوني په ګډون وړ ګامونه پورته کړي.

3) باید د معلولو کسانو د بشري حقوقو ساتنه او وده په ټولو کړنلارو او پروګرامونو کې په پام کې ونیسي.

4) له هر راز لایحو یا تمرینونو سره د بوختیدو لپاره کوم چې له اوسني میثاق سره په ټکر کې وي، ډډه کول او د دې ډاډ تر لاسه کول چې، د حکومتي چارواکواو ټولنو لایحې له اوسني میثاق سره ورته والی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5) د هر چا، موسسې یا خصوصي شرکت له خوا د معلولیت له مخې د تبعیض د له منځه وړلو لپاره د ټولو وړ ګامونو پورته کول.

6) باید د عمومي بیان شویو ژمنو، خدماتو، لوازمو او اسانتیاوو وده او څېړنه په غاړه واخلي، لکه څنګه چې، د همدې میثاق په دویمه ماده کې راغلي، کوم چې باید تر ټولو کم امکان د سمون او تر ټولو لږ امکان د بیې په خاطر، د معلولو کسانو د مشخصو اړتیاوو د پوره کېدو لپاره وغواړي، تر څو د هغوی موجودیت او کارونې ته وده ورکړي او عمومي طرحې ته د معیارونو او لارښوونو په پرمختګ کې ګټورتیا ولري.

7) د معلوماتي او خبرتیایي ټیکنالوژیو، خوځښتي مرستو، سامان الاتو او مرستندویو ټیکنالوژیو په ګډون د نویو ټیکنالوژیو په اړه کوم چې معلولو کسانو ته مناسب وي، د څېړنو او پرمختګ او د تر لاسه کیدو او کارونې د ودې په غاړه اخیستل او هغو ټیکنالوژیو ته لومړیتوب ورکول، د کومو چې داخیستلو توان ولري.

8) معلولو کسانو ته د نویو ټیکنالوژیو په ګډون د خوځښتي مرستو، سامان الاتو او مرستندویه ټیکنالوژیو، همدارنګه د مرستو د نورو ډولونو، ملاتړیزو خدماتو او اسانتیاوو په اړه د تر لاسه کېدونکو معلوماتو وړاندې کول.

9) د هغو حقوقو له مخې کوم چې په همدې میثاق کې راغلي، د مسلکي معلولینو مسلکیانو او کاري کارکوونکو د روزنې وده، ترڅو هغه مرستې او خدمات په ښه توګه سره تر سره کړي، د کومو حقوقو یې چې ضمانت شوی دی.

۲-- د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقوقو پام کې لرلو سره، باید د هېواد هر غړی، دا مسوولیت په غاړه واخلي چې، خپلې موجودې سرچینې په هغو ځایونو کې چې اړتیا وې، اعظمي حد ته د رسولو لپاره ګامونه پورته کړي چې، د نړیوالې همکارۍ په کاري چوکاټ کې په بریالي توګه د دغو حقوقو تحقق وکړي، کوم چې دا به د هغو ژمنو په وړاندې کوم تعصب ونه لري، کوم چې په همدې میثاق کې راغلي او د نړیوال قانون له مخې د فوري اجراء وړ دي.

۳-- د همدې میثاق د عملي کولو لپاره د قانون او کړنلارو د پرمختګ او عملي کېدو په برخه کې او په معلولو کسانو پورې اړوند د پربکړو د نیونې د بهیرونو په مسایلو کې، غړي هېوادونه باید له نړدې له فعالو معلولو کسانو او معلولو ماشومانو او د هغوی له ممثلو موسسو سره سلا او مشوره وکړي.

۴-- په همدې میثاق کې هېڅ شي باید په هغو شرایطو باندې کوم چې د معلولو کسانو د حقوقو د پېژندنې لپاره په لوړه کچه ګټور وي، یا هم ښایي د غړي هېواد یا په نړیوال قانون کې کوم چې په هغه هیواد کې نافذ وي، اغیزه ونکړي. باید د هغو بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو په وړاندې کوم چې د همدې میثاق د غړو هېوادونو لخواپه رسمیت پېژندل شوي، هېڅ ډول بندیز یا فسخ د قانون، میثاقونو، مقرراتو او دودونو له مخې، په دې بهانه چې، همدا کنوانسیون داشان حقوق او ازادي په رسمیت نه پېژني او یا یې هم په ډېره کمه اندازه په رسمیت پېژني، تر سره نشي.

۵-- د دې میثاق شرایط باید د فیدرالي دولتونو ټولو برخو ته، له هر ډول محدودیت او استثنی څخه پرته وغزول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځمه ماده مساوات او نه توپیر:

1. غړي هېوادونه دا مني چې، ټول کسان د قانون په وړاندې یو شان حیثیت لري او د قانون د مساوي خوندیتوب او مساوي ګټې اخیستنې لپاره هېڅ راز توپیر نه ورسره کېږي.
2. غړي هېوادونه باید د معلولیت له مخې د هر ډول توپیر مخنیوی وکړي او باید د معلولو کسانو لپاره په هره برخه کې د تبعیض د منځه وړلو په خاطر د مساوي او اغېزناک قانوني خوندیتوب ضمانت وکړي.
3. د دې لپاره چې د مساواتوکچه لوړه شي او توپیر له منځه یوسو، نو غړي هېوادونه باید د دې کار د تامین لپاره چې معقوله روغه او سمون رامنځته شي، ټول مناسب ګامونه پورته کړي.
4. د معلولو کسانو د عملي مساوي والي د چټکتیا یا تر سره کولو لپاره، د ځانګړو ضروري ګامونو پورته کول باید د همدې میثاق تر شرایطو لاندې تبعیض ونه ګڼل شي.

شپږمه ماده معلولې ښځې

1. غړي هېوادونه دا مني چې، معلولې ښځې او نجونې له ډول ډول توپیرونو سره مخامخ دي او په دغه برخه کې باید له بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو څخه د هغوی د بشپړې او مساوي برخمن تیا د تر سره کېدو لپاره ګامونه پورته کړي.
2. غړي هېوادونه باید د ښځو د بشپړ پرمختګ او پیاوړتیا لپاره له بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو څخه، کوم چې په اوسني میثاق کې راغلي، د تمرین او برخمن تیا د ضمانت کولو د مقصد په خاطر ټول مناسب ګامونه پورته کړي.

اوومه ماده معلول ماشومان:

1. غړي هېوادونه باید له نورو ماشومانو سره په مساوي توګه د معلولو ماشومانو لپاره له ټولو بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو څخه د بشپړې برخمن تیا په خاطر اړین ګامونه پورته کړي.
2. د معلولو ماشومانو په اړه په ټولو کړنو کې، د ماشوم غوره ګټې باید په لومړي سر کې وکتل شي.
3. غړي هېوادونه باید ډاډ تر لاسه کړي چې، معلول ماشومان د دې حق لري چې، خپل نظریات په ازاده توګه په ټولو هغو موضوعګانو باندې، کوم چې دوی ځوروي څرګند کړي، د هغوی نظریاتو ته به هغوی د عمر او بلوغیت له مخې له نورو ماشومانو سره په مساوي توګه پاملرنه وشي او د معلولو کسانو سره به د هغوی د عمر سره سم مرسته وشي، تر څو د هغوی حقوق تحقق وموميي.

اتمه ماده د خلکو د پوهې د کچې لوړول:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-- غړي هېوادونه د دې مسئوولیت لري چې، ژور، اغېزمن او مناسب ګامونه پورته کړي:

ا) د معلولو کسانو د حقوقو او شخصیت د درناوي د ودې لپاره، د معلولو کسانو په اړه د کورنیو په کچه د ټولې ټولنې د پوهې د کچې لوړېدل .

ب) په معلولو کسانو پورې اړوند د جنسیت، عمر او د ژوند د ټولو برخو په ګډون د کلیشه اي، له توپیرونو نه ډکو او تاوانې کړو په وړاندې مبارزه کول.

ت) د معلولو کسانو د وړتیاوو او همکاریو لپاره د عمومي پوهې د کچې وده.

۲- - په همدې ترتیب، تر سره شوې کړنې عبارت دي له:

ا) د اغېزناکې عامه پوهاوۍ د کچې د لوړولو او ساتلو لپاره، ډول ډول کړنلارې په لاره اچول شوي دي:

(i) د معلولو کسانو د حقوقو د درناوي د ځواک روزنه.

(ii) د معلولو کسانو په باب مثبتې پوهې او پراخې ټولنیزې خبرتیا ته وده ورکول.

(iii) د معلولو کسانو د مهارتونو، استحقاقونو او وړتیاوو او په کاري ځایونو او د کارګرانو په بازارونو کې د هغوی د همکاریو پېژندنه او وده ورکول.

ب) له وړکتوب نه د ټولو ماشومانو په ګډون د ښوونیز نظام، په ټولو برخو کې د معلولوکسانو د حقوقو د درناوي د چلند دودول.

ت) د رسنیو د ټولو ارګانونو هڅول، ترڅو د معلولو کسانو د همدې میثاق موخې په خپله خوښه څرګندې کړي.

د) د معلولو کسانو او د هغوی د حقوقو په اړه پوهنیزو او روزنیزو پروګرامونو ته وده ورکول.

نهمه ماده تر لاسه کېدونکي امکانات:

۱- په خپلواکه توګه د ژوند کولو او د ژوند په ټولو اړخونو کې د بشپړې برخې اخیستنې په اړوند، د معلولو کسانو ځواکمنول، غړي هېوادونه باید د دې ګامونو د تر سره کولو لپاره چې معلول کسان له نورو سره په مساوي توګه فزیکي چاپېریال ، ترانسپورت، د معلوماتي او اړیکتیایي ټیکنالوژۍ د سیستم په ګډون معلوماتو او مخابراتو او نورو هغو اسانتیاوو او خدماتو ته، کوم چې په عامه توګه په ښاري او کلیوالي سیمو کې وړاندې کېږي، لاس رسی ولري. دغه کړنې، کوم چې باید لاس رسي ته د خنډونو او بندونو تشخیص او څرنګوالی په کې شامل وي، په ځانګړې توګه، لاندینې ټکي له ځان سره ولري:

ا) د ښوونځیو، هستوګنځیو، روغتیایي مرکزونو او کاري ځایونو په ګډون ودانیو، سړکونو، ترانسپورتیشنونو او نورو کورنیو او باندنیو مرکزونو ته لاس رسي .

ب) د برېښنایزو او بېرنیو خدمتونو په ګډون اطلاعاتو، مخابراتو او نورو خدماتو ته لاس رسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- باید غړي هېوادونه هم د پام وړ ګامونه پورته کړي:

1) عامو ازادو خدماتو او مرکزونو ته د لاس رسي د تر ټولو لږو معیارونو او لارښوونو د عملي کولو پرمختګ، خپرول او څارل .

2) د دې ډاډ تر لاسه کول چې، خصوصي ټولنې کوم چې پرانیستي خدمات وړاندې کوي، باید د معلولو کسانو لپاره د ترلاسه کېدو ټول اړخونه په پام کې ونیسي.

3) اړونده ادارو ته د تر لاسه کېدو د مسایلو په اړه، کوم چې معلول کسان ورسره مخامخ کېږي د روزنیزو پروګرامونو وړاندې کول.

4) په ودانیو او عامه ځایونو کې د بریل(د ږندو لیک) او زیګنالونو برابرول، تر څو په اسانه سره د لوستلو وړ او مفهوم ترې واخیستل شي.

5) د لارښوونو، لوستونکو او د اشاره اي ژبې مسلکي ژباړنې په ګډون د ژوند د بېلابېلو مرستندویه او منځګړیو کړنلارو وړاندې کول، ترڅو عامه دولتي ودانیو او نورو مرکزونو ته لاس رسی اسانه کړي.

6) معلوماتو ته د لاس رسي د ډاډ منتیا لپاره، له معلولو کسانو سره د مرستې او ملاتړ د نورو مناسبو ډولونو وده .

خ) د انټرنېټ په ګډون نویو معلوماتي او اړیکتیایي ټیکنالوژۍ ته د معلولو کسانو د لاس رسي وده.

د) په لومړي ګام کې د ترلاسه کېدونکو معلوماتي او اړیکتیایي ټیکنالوژیو او سیستمونو طرحې، پرمختګ، تولید او وېش ته وده ورکول، چې بیا به دغه ټیکنالوژي او سیستمونه تر ټولو کمې بیې سره د تر لاسه کیدو وړ وي.

لسمه ماده د ژوند کولو حق:

غړي هېوادونه باید دا ومني چې، هر انسان د ژوند کولو ذاتي حق لري او باید له نورو کسانو سره په مساوي توګه د معلولو کسانو د اغېزمنې برخمن تیا لپاره ټول اړین ګامونه پورته کړي.

یوولسمه ماده د خطر او بېړنیو بشري پېښو حالات:

غړي هېوادونه باید د نړیوال بشري قانون او نړیوالو بشري حقوقو د قانون په ګډون له نړیوال قانون سره سم ټولې اړینې کړنې تر سره کړي، تر څو د وسله والو جګړه ییزو حالاتو، بېړنیو بشري پېښو او د طبیعي افتونو د رامنځته کېدو په ګډون، د خطر په حالاتو کې د معلولو کسانو خوندیتوب او امنیت وساتي.

دولسمه ماده د قانون پر وړاندې مساوات ومني :

۱- - غړي هېوادونه باید دا ومني چې، معلول کسان په ټولو برخو کې لکه، دټولنې د نوروکسانو په څېر د قانون په وړاندې کټ مټ حق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- - غړي هېوادونه باید دا وپېژني چې، معلول کسان د ژوند په ټولو اړخونو کې د نورو کسانو سره په مساوي توګه له حقوقي وړتیا څخه برخمن کیداي شي.

۳- - غړي هېوادونه باید وړ ګامونه پورته کړي، تر څو د معلولو کسانو لپاره د هغوی د وړتیاوو د کارولو ملاتړ ته لاس رسی تر سره کړي.

۴- - غړي هېوادونه باید ډاډ تر لاسه کړي چې، ټولې کړنې کوم چې د حقوقي اړتیا په کارولو پورې اړه لري، د نړیوالو بشري حقوقو له قانون سره سم د ناوړې ګټې اخیستنې د مخنیوي لپاره یوه مناسبه او اغېزناکه دفاع یا ساتنه وړاندې کړي. دا شان ساتنې بایدتامین کړي چې، د قانوني وړتیاوو په کارولو پورې اړوند ګامونه د حقونو درناوی کوي، د خلکو د غوښتنو او ترجیحاتو درناوي کوي، د ګټو د لاس ته راوړلو لپاره له مجادلې پرته او بې ځایه نفوذ څخه معلولین مساوي او برابر دي. د دوی په اړوند د یوه وړ، خپلواک او بې پلوه چارواکي یا قضایي ټولنې منظمې کتنې ته اړتیا لیدل کېږي.

ساتنه یا دفاع باید کم ترکمه دومره اندازه وي چې، دا شان کړنې د خلکو په حقوقو او ګټو باندې ښه اغېزه وکړي.

۵- - د دې مادې د شرایطو په پام کې لرلو سره، غړي هېوادونه باید ټول هغه مناسب او اغېزمن ګامونه پورته کړي، کوم چې معلولین خپلو شخصي او ذاتي ملکیت ته مساوي حق پکې ولري، تر څو خپل شخصي مالي چارې کنټرول کړي او د بانک پورونو، ګروپو او د مالي اعتبار نورو ډولونو ته مساوي لاس رسی ولري او باید ډاډ تر لاسه کړي چې، معلول کسان له خپل ملکیت څخه په عمدي او جبري توګه نه دي محروم شوي.

دیارلسمه ماده عدالت ته لاس رسی:

1. غړي هېوادونه باید له نورو کسانو سره په مساوي توګه عدالت ته د معلولینو د لاس رسي د درلودو او په کړنلاریزه توګه د عمر وړ کسانو لپاره د اوسېدو د ځای د برابرولو په ګډون، زمینه برابره کړي، تر څو د یوه مستقیم او غیر مستقیم ګډون کوونکي په څېر او د شاهد په توګه په ټولو قانوني بهیرونو، څېړنیزو او نورو لومړنیو پړاوونو کې خپل اغیزمن رول ترسره کړي.

2. د دې په موخه چې عدالت ته د معلولو کسانو د اغېزناک لاس رسي د تامین لپاره مرسته وکړو، نو غړي هېوادونه باید د پولیسو او د بندي خانو د کارکوونکو په ګډون د قضایې اداړې په برخه کې د کار کونکو لپاره مناسبو روزنیزو ورکشاپونو ته وده ورکړي.

څوارلسمه ماده د شخص ازادي او امنیت:

۱- غړي هېوادونه باید ډاډ تر لاسه کړي چې، معلول کسان له نورو کسانو سره په مساوي توګه له لاندنیو حقوقوڅخه برخمن کیدای شي:

ا) د شخص د ازادی او امنیت له حق څخه برخمن کېدل.

ب) له خپلې ازادۍ څخه په نا قانوني او جبري توګه محروم نه شي، او باید له ازادۍ څخه هر محرومیت له

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون سره سمون ولري. د معلوليت شتون بايد په هيڅ وجه له ازادۍ څخه محروم کېدلو، ته برائت ورنه کړي.

۲- غړي هېوادونه بايد ډاډ تر لاسه کړي، که چېرې معلول کسان په هر ډول چې د حق غوښتنې پر مهال له خپلې ازادي څخه محروم شوي وي، نو هغوی له نورو کسانو سره په مساوي توګه د دې حق لري چې، د بشر د حقوقو د نړيوال قانون له مخې يې ضمانت وشي او د اوسني ميثاق له موخو او اصولو سره سم چلند ورسره وشي.

پنځلسمه ماده له ځوروني، نا انساني يا ناوړه چلند، جزا او سپکاويو څخه خلاصون:

۱- هېڅوک بايد شکنجه يا وحشي، نا انساني يا د فاسد چال چلند يا جزا سره مخامخ نه شي. هېڅوک بايد پرته د هغه يا هغې له ازاده رضايت څخه طبي يا علمي تجربو ته وړاندي نه شي.

۲- غړي هېوادونه بايد له شکنجو يا وحشي، غيرانساني يا فاسد چال چلند يا جزا سره د معلولو کسانو د مخامخ کېدو د مخنيوي په صورت کې ټول اغېزناک قانوني، اداري، قضايي يا نور ګامونه پورته کړي.

شپاړسمه ماده له زېږنباک ګومارلو، زور زياتي او ناوړه ګټې اخيستنې څخه خلاصون:

۱- غړي هېوادونه بايد د کور دننه او د باندې د جنسيت له مخې د ټولو اړخونو په ګډون په کاراچوني، زور زياتي او ناوړې ګټې اخيستنې له ټولو ډولونو څخه د معلولو کسانو د خوندیتوب لپاره ټول مناسب قانوني، اداري، ټولنيز، ښوونيز او نور ګامونه پورته کړي.

۲- همداشان غړي هېوادونه بايد د زېږنباک، زور زياتي او ناوړه ګټې اخيستنې لپاره ټول مناسب ګامونه پورته کړي، د دې ترڅنګ، د معلولو کسانو او د هغوی د کورنيو او خدمت کوونکو په خاطر د جنسيت او عمر د انډوليزو مرستو او ملاتړ په ګډون د دې لپاره چې څنګه په کاراچوني، زور زياتي او ناوړه ګټې اخيستنې په اړه دا چې څنګه يې مخنيوی، تحقق او رپوټ ورکړو د معلوماتو او زده کړو برابرول.

۳- د دې لپاره چې د هر ډول زېږنباک، زور زياتي او ناوړه ګټې اخيستنې د پېښېدو مخه ونيول شي، غړي هېوادونه بايد ډاډ تر لاسه کړي چې، ټولې هغه اسانتياوې او پروګرامونه کوم چې د معلولو کسانو د خدمت کولو لپاره ډيزاين شوي، په اغېزمنه توګه دې د چارواکو له خوا څارل کېږي.

۴- غړي هېوادونه بايد د هغو معلولو کسانو د فزيکي، سايکولوژيکي رغونې، پياوړتيا او ټولنيزې بشپړونې لپاره، ټول هغه مناسب ګامونه پورته کړي، کوم چې د خوندیتوب د خدمتونو د شرايطو په ګډون د هر ډول زېږنباک، زور زياتي يا ناوړه ګټې اخيستنې قرباني شوي وي. دا شان ښه والی او بشپړونه بايد په يوه داسې چاپېريال کې، کوم چې د کس روغتيا، هوساينه، د ځان عزت، شخصيت او خپلواکۍ ته وده ورکړي او د جنسيت او عمر ځانګړې اړتياوې په پام کې ولري، تر سره شي.

۵- غړي هېوادونه بايد د ښځو او ماشومانو په چارو باندې متمرکز اغېزناک قانون او کړنلارې وټاکي، ترڅو ډاډ تر لاسه شي چې، د معلولو کسانو په وړاندې د زېږنباک، زور زياتي او ناوړه ګټې اخيستنې بېلګې تشخيص شوي، پلټل شوي او ان د امکان په صورت کې تعقيب شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوولسمه ماده د فردي شتون نه ساتنه:

هر معلول انسان د دې حق لري چې، د هغه یا د هغې د فزیکي او دماغي شتون ته له نورو سره په مساوي توګه درناوی وشي.

اتلسمه ماده د هستوګنې د ځای او ملیت د بدلون ازادي:

۱- غړي هېوادونه باید د معلولو کسانو د ګرځېدو د ازادۍ حقونه په رسمیت وپېژني. معلولین د دې حق لري چې په ازاده توګه د خپل اوسېدو ځای او ملیت په خپله وټاکي او د لاندنیو کړنو تامینېدل په رسمیت وپیژندل شي:

ا) د دې حق لري چې د ملیت غوښتنه او بدلون وکړای شي او نه باید له خپل ملیت څخه په خپل سر او یا هم د معلولیت په خاطر محروم پاتې شي.

ب) د معلولیت له مخې، د هغوی د ملیت د سندونو او یا هم د پېژندنې نور اسناد د لاسته راوړلو، لرلو او کارولو له مخې محروم نه شي. یا هم د اړوند بهیرونو لکه د کډوالۍ ژوند پېښې، کوم چې ممکن د خوځښت د خپلواکي د حق تامینولو اسانتیا ته اړین وي، محروم نه شي.

ت) هغوی ازاد دي او کولاي شي د خپل هیواد په ګډون هر هېواد پرېږدي.

ث) خپل هېواد ته په جبري توګه او یا هم د معلولیت له مخې باید دوی، خپل د ننوتو له حق څخه بی برخې نه شي.

۲- معیوب ماشومان باید له زېرېدو نه وروسته، سملاسي ثبت شي او د نوم د درلودلو، د ملیت د غوښتلو او د امکان تر حده پورې د پېژندلو او د هغوی د پلار اومور له خوا د څارنې او ساتنې حق ولري.

نولسمه ماده خپلواکه ژوند او ګډون په ټولنه کې:

د همدې میثاق غړي هېوادونه په ټولنه کې له نورو سره په مساوي توګه کې د معلولو کسانو ژوند کول په رسمیت پېژني او د دغه حق او په ټولنه کې د پوره برخې اخیستنې څخه د برخمن تیا لپاره، د لاندنیو حالاتو په پام کې لرلو سره، باید مناسب او اغېزناک ګامونه پورته کړي.

الف) معلول کسان د دې وخت لري چې له نورو سره په مساوي توګه او پرته له دې چې په ځانګړې توګه د خپلې اوسیدنې ځاي او دا چې له چا سره او چېرې ژوند کوي وټاکي او اړ نه شي چې، د ژوند کولو په ځانګړو ترتیباتو کې ژوند وکړي.

ب) د معلولو کسانو د ژوند کولو د ملاتړ او په ټولنه کې د شخصي مرستو د اړتیا په ګډون په کور کې دننه، استوګنې او نورو ټولنیزو ملاتړیزو خدماتو ته د لاس رسي او له ټولنې څخه د بېلېدو د مخنیوي حق لري.

ت) معلول کسان د نورو وګړو په شان مساوي ټولنیز خدمات او اسانتیاوې د تر لاسه کېدو وړ دي او نور وګړي د هغوی اړتیاوو ته ځواب ورکونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلمه ماده شخصي خوځېدنه:

غړي هېوادونه بايد د معلولو کسانو د شخصي خوځېدنې د پراخې خپلواکۍ د تامين لپاره د لاندنيو برخو په ګډون يو لړ اغېزمن ګامونه پورته کړي:

الف) د معلولو کسانو د شخصي خوځېدنې لپاره د هغوی په خوښه او انتخاب سره اسانه او وړ بيې باندې برابرېدل.

ب) معلولو کسانو ته د کيفيت لرونکو خوځښتي مرستو، سامان الاتو، مرستندويه ټيکنالوژيو او د تر لاسه کېدونکو اخيستو وړ بيې په ګډون د ژوند د مرستندويو او منځګړو ډولونو لپاره د لاس رسي اسانه کول.

ت) معلولو کسانو او له دوی سره د متخصصو کار کارکوونکو لپاره د خوځېدو د مهارتونو د روزنې برابرول.

ث) د هغو ټولنو هڅول، کوم چې خوځنده مرستې، سامان الات او مرستندويه ټيکنالوژي توليدوي، ترڅو د معلولو کسانو د خوځښت ټول اړخونه په پام کې ونيسي.

يوويشتمه ماده د عقيدې او بيان ازادي او معلوماتو ته لاس رسي:

بايد غړي هېوادونه د دې لپاره چې معلول کسان وکولای شي، د معلوماتو د پلټنې، ترلاسه کولو، خپرولو او له نورو سره په مساوي توګه له خپلې خوښې سره سم د خبرو اترو د ټولو ډولونو سره سم، لکه څنګه چې د همدې ميثاق په دويمه ماده کې په ګوته شوي، په ګډون سره د خپل فکر او بيان د ازادۍ حق د درلودلو او د لاندنيو موارد د تر سره کولو لپاره هر راز مناسب ګامونه پورته کړي:

الف) هغه معلومات کوم چې عامه خلکو ته وړاندې کېږي، بايد معلولو کسانو ته هم په تر لاسه کېدونکي بڼې او وړ ټيکنالوژۍ سره د معلوليت د بېلابېلو ډولونو لپاره، له مهال ويش سره سم او پرته له کوم اضافي بيې څخه تر سره شي.

ب) د اشاره اي ژبو، برايل(د پرندو ليک)، د زياتو بديلو خبرو اترو د ترلاسه کېدونکو سامان الاتو، د نورو ډولونو او بڼو، په رسمي معاملاتو کې د معلولو کسانو د خپلې خوښې وړ منل او اسانول.

ت) له خصوصي ټولنو نه کوم چې د انټرنېټ په ګډون، له دغو لارو نه عامو خلکو ته خدمت کوي، په ټينګه غوښتنه کوي چې، د معلولو کسانو لپاره په تر لاسه کېدونکي او کارونکي ډول معلومات او خدمات وړاندې کړي.

ث) د انټرنېټ له لارې د معلوماتو د وړاندې کوونکو په ګډون د ډله ييزو رسنيو هڅول، ترڅو د معلولو کسانو لپاره هم د دوی خدمتونه د تر لاسه کېدو وړ واوسي.

ج) د اشاره اي ژبې د کارونې په رسميت پېژندل او وده ورکول.

دوه ويشتمه ماده شخصی حريم ته درناوی:

1. هېڅ يو معلول کس، پرته د اوسېدو يا د ژوند کولو له ځای څخه، نه بايد د هغه له حريم، کورنۍ، کور يا د ليکنې يا بل ډول د خبرو اترو يا د هغه په عزت او شهرت باندې ناقانونه بريدونه په خپل سر يا د بې قانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسوهنې په توګه تر سره شي.

2. معلول کسان د دې حق لري چې، د همدا شان لاسوهنو پر وړاندې قانوني چال چلند وکړي.

3. غړي هېوادونه بايد له نوروکسانو سره په مساوي توګه د معلولو کسانو شخصي، روغتيايي او د پياوړتيايي معلوماتو محرميت خوندي وساتي.

درويشتمه ماده د کور او کورنۍ درناوی:

۱- غړي هېوادونه بايد له نورو کسانو سره په مساوي توګه د معلولو کسانو پر وړاندې د واده، کورنۍ، مورولۍ او پلارولۍ او په خپلوۍ پورې اړوند چارو کې د تبعيض د له منځه وړلو لپاره مناسب او اغېزمن ګامونه پورته کړي، تر څو لاندينې ټکي عملي شي:

الف) د ټولو هغو معلولو کسانو د حق په رسميت پېژندل، کوم چې د واده کولو قانوني عمر ته رسېدلي وي، تر څو نجلۍ او هلک په خپله خوښه، ازاد او بشپړ رضايت سره واده وکړي او کورنۍ رامنځته کړي.

ب) د معلولو کسانو دا حق پېژندل، کوم چې کولای شي، په ازاده او مسوولانه توګه سره د خپلو ماشومانو شپږه او د هغوۍ د زېږېدو د واټن مراعات وکړي او د مناسب عمر د معلوماتو د درلو دلو او د بيا توليد او کورنۍ د تنظيم، زده کړې او د دغو حقوقو د اعاده کولو لپاره د هغوی د پياوړتيا په خاطر ضروري سامان الات تر لاسه کړي.

ت) له نوروکسانو سره په مساوي توګه د ماشومانو په ګډون د معلولينو توليدات، بايد خوندي وساتل شي.

۲- بايدغړي هېوادونه د معلولو کسانو حقونه او مسوولیتونه د ماشومانو او ورته دودونو د ساتنې، قايم والي، امانت او خپلولۍ په اړه، چېرې چې دغه مفکوره په ملي قانون کې وي، وساتي؛ په ټولو قضيو کې د ماشوم تر ټولو ښې ګټې بايد ستړې و اوسي. بايد غړي هېوادونه له معلولو کسانو سره د هغوی د ماشوم د لويولو په مسوولیتونو کې مناسبې مرستې وکړي.

۳- بايد غړي هېوادونه دا وښيي چې، معلول ماشومان د کورنۍ ژوند په اړه مساوي حقوق لري. د دغو حقوقو د پېژندنې په پام کې نيولو سره او د معلولو ماشومانو د پټولو، پرېښودو، بې پروايي او بېلوالي د مخنيوي لپاره، غړي هېوادونه بايد د همدا شان معلولو ماشومانو او د هغوی کورنيو ته لا له پخوا نه د بشپړو معلوماتو، خدماتو او ملاتړ تر سره کول په غاړه واخلي.

۴- بايد غړي هېوادونه ډاډ تر لاسه کړي چې، ماشوم هېڅکله د خپلې خوښې پرخلاف له خپلې مور يا پلار څخه بېل نشي. دا کار يوازې هلته کېداي شي چې، واکمن چارواکي د قضايي څېړنې له مخې د نافذه قانون او کړنلارې سره سم په دې اړه پرېکړه وکړي، چې دا شان بېلوالی د ماشوم د زياتې ګټې په خاطر ضروري وي. بايد په هېڅ وجه ماشوم له خپلې مور او پلار څخه د ماشوم د معلوليت او يا هم د مور يا پلار او يا د دواړو د معلوليت له مخې بېل نشي.

۵- بايدغړي هېوادونه په هغه صورت کې چېرې چې يوه کورنۍ د خپل معلول ماشوم د ساتنې وړتيا ونه لري، بايد ټولې هڅې وکړي، تر څو په پراخه توګه دهغه لپاره مناسبه ساتنه وکړای شي او د هغه د ناکامۍ په صورت کې، په ټولنه کې د يوې کورنۍ په چاپېريال کې دا کار ترسره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورویشتمه ماده ښوونه او روزنه:

۱- غړي هېوادونه له هر راز توپیر پرته د معلولو کسانو د ښوونې او روزنې حق په رسمیت پېژني. د مساوي فرصتونو پر بنسټ د دې حق پېژندلو ته په کتنې سره، باید غړي هېوادونه په ټولو برخو کې یو بشپړ ښوونیز سیستم رامنځته او د ټول عمر د زده کړې لپاره په لاندنیو برخو کې پاملرنه وکړي:

الف) د بشري وړتیا، د عزت د احساس او د ځان د ارزښت بشپړ پرمختګ او د بشري حقوقو، بنسټیزو ازادیو او بشري تنوع لپاره د درناوي پیاوړتیا.

ب) د معلولو کسانو د شخصیت، استعداد او نوښت او همدارنګه د هغوی د ذهني او فزیکي وړتیاوو وده.

ت) معلولو کسانو ته د دې توان وربښل ترڅو په اغیزمنه توګه سره په یوه ازاده ټولنه کې ګډون وکړای شي.

۲- د همدې حق په پېژندلوسره، باید غړي هېوادونه لاندیني ټکي په پام کې وساتي:

الف) معلول کسان له عمومي ښوونیز سیستم، ازادو او اجباري لومړنیو زده کړو یا له منځنیو زده کړو څخه د معلولیت له مخې بې برخې نشي.

ب) په هغه ټولنه کې چې معلول کسان ژوند کوي، کولای شي لومړنیو او منځنیو ښوونیزو سیستمونو ته بشپړ، کیفیت لرونکي او ازاد لاس رسي ولري.

ت) د شخصي اړتیاوو لپاره د اوسپدو د وړ ځایونو برابرول.

ث) معلول کسان په عمومي ښوونیز نظام کې هغه ملاتړ، کوم چې په کار یې وي تر لاسه کولای شي، تر څو دهغوی اغیزمنه ښوونه او روزنه اسانه شي.

ج) فردي اغیزمن ملاتړیز ګامونه باید په داسې چاپېریالونو کې برابر شي، کوم چې اکاډمیک او ټولنیز پرمختګ د بشپړې موخې سره په برابره توګه وروستي برېد ته ورسوي.

۳- بایدغړي هېوادونه معلولو کسانو ته دا وړتیا ورکړي چې، د ژوند او ټولنیز پرمختګ مهارتونه زده کړي، چې په ښوونه او روزنه کې د ټولنې د یوه غړي په توګه د هغوی بشپړ او مساوي ګډون ته لاره اسانه کړي. په همدې ترتیب، بایدغړي هېوادونه په لاندنیو برخو کې دغه مناسب ګامونه پورته کړي:

الف) د برایل(د ړندو لیک)، اختیاري لاسي لیک، پراخېدونکي او اختیاري ډولونه، د خبرو اترو سامان الات او بڼې او د لارښودو او خوځښتي مهارتونو د زده کولو اسانول، چې د غور وړ ملاتړ او د سلا مشورو ورکول اسانه کړي.

ب) د اشاره اي ژبې د زده کولو اسانول او د کڼو د ژب پوهنې د پېژندنې وده.

ت) د دې عملي کول چې د ړندو، کڼو او یا د دواړو هم ړندو او کڼو لپاره په تېره بیا د ماشومانو ښوونه او روزنه د مفاهمې په ډېرو مناسبو ژبو، بڼو او سامان الاتو د شخصي کسانو او د چاپېریالونو لپاره تر سره شي، کوم چې اکاډمیک او ټولنیز پرمختګ وروستي برید ته رسولای شي.

۴- د دې لپاره چې د همدې حق د پېژندلو د ساتنې لپاره مرسته وکړو، باید غړي هېوادونه د ښوونکو او معلولو ښوونکو په ګډون، کوم چې په اشاره اي ژبو او د برایل په لیک ښه پوه دي، د هغو د ټاکنې په برخه کې مناسب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګامونه پورته کړي، تر څو هغه مسلکي کسان او کارکوونکي کوم چې د پوهنې په ټولو برخو کې کار کوي، و روزي. ورته ټرینینګونه به د معیولیت د پوهې او د خبرو اترو، پوهنیزو تکنیکونو او د معلولو کسانو د ملاتړ مناسب سامان الات زیات کړي او اختیاري ډولونه، سامان الات، بڼې او چوکاټونه به سره همغږه کړي.

۵- باید غړي هېوادونه په عملي توګه دا وښیي چې، معلول کسان کولای شي له هر راز توپیر پرته او له نورو کسانو سره په مساویانه توګه عمومي ثانوی تعلیمات، مسلکي زده کړې، د لویانو زده کړې او د ټول عمر لپاره زده کړې وکړي. په همدې توګه، بایدغړي هېوادونه دا ډاډ تر لاسه کړي چې، له معلولو کسانو سره د اوسېدو د ځای وړ مرسته تر سره کړي.

پنځویشتمه ماده روغتیا:

غړي هېوادونه په رسمیت پېژني چې، معلول کسان د معلولیت له مخې پرته له کوم تبعیض څخه د لوړو تر لاسه کېدونکو روغتیایي معیارونو څخه د برخمن تیا حق لري. باید غړي هېوادونه روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي په خاطر، کوم چې د روغتیا اړوند پیاوړتیا په ګډون جندر(جنسیت) حساس دی، ټول مناسب ګامونه پورته کړي. په ټبره بیا باید غړي هېوادونه لاندیني کارونه تر سره کړي:

الف) معلولو کسانو ته لکه د نورو کسانو په څېر د ورته لړ، کیفیت، معیاري، وړیا یا د تر لاسه کېدونکو جنسیتي او د حمل روغتیا د نفوسو له مخې د عامې روغتیا په برخو کې خدمتونو او پروګرامونو وړاندې کول.

ب) د مخکې له مخکې تشخیص او لاس رسی، لکه څنګه چې مناسب وي، د هغو په ګډون د هغو روغتیایي خدمتونو تر سره کول، کوم چې معلول کسان ورته اړتیا لري. په ځانګړې توګه، د هغوی د معلولیت له مخې او هغه خدمتونه کوم چې د ماشومانو او سپین ږېرو په ګډون د هغوی د لا زیات معلولتوب د مخنیوي لپاره ترتیب شوي دي.

ت) د کلیوالي سیمو په ګډون د خلکو نږدې سیمو ته د همدغو روغتیایي خدمتونوتر سره کول.

ث) له روغتیایي مسلکي کسانو څخه غوښتل، تر څو معلولو کسانو ته د ازادي او اګاهانه رضایت له مخې د دواړو تر منځ په ګډون لکه د نورو کسانو په څېر د کټ مټ کیفیت درملنه وکړي. د روزنې له لارې معلولو کسانو ته د بشر د حقوقو، شخصیت، خپلواکۍ او اړتیاوو، عامه او خصوصي روغتیایي مرکزونو لپاره د اخلاقي معیارونو دودول او اعلامول.

ج) د روغتیایي بیمې او ژوند د بیمې په پام کې لرلو سره چېرې چې دا شان بیمې ته د ملي قانون له خوا جواز ورکوي، د معلولو کسانو په وړاندې د تبعیض مخه نیول، کوم چې باید په یوه مناسب او معقول چلند سره تر سره شي.

د) د معلولیت په خاطر د روغتیایي، خوراک او څښاک د تبعیض امیزه بندیزونو، څخه مخنیوی.

شپږویشتمه ماده سمبالول او پیاوړتیا:

۱- بایدغړي هېوادونه د ژور ملاتړ په ګډون اغېزمن او مناسب ګامونه پورته کړي، ترڅو معلولو کسانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې وړتیا وروښيي چې، بشپړه خپلواکي، فزیکي، دماغي، ټولنیزه او مسلکي وړتیا او د ژوند په ټولو اړخونو کې خپله بشپړه برخه تر لاسه کړي اوهغه وساتي. په همدې ترتیب، باید غړي هېوادونه د هر اړخیزې سمبالونې او پیاوړتیا خدمتونه او پروګرامونه جوړ، پیاوړي او پراخ کړي، په تېره بیا د روغتیایي، ګمارنې، پوهنې او ټولنیزو خدمتونو په برخو کې، هغه هم په دې شان چې دغه خدمتونه او پروګرامونو په لاندې ډول وي:

الف) باید هرڅه ژر او په ممکنه پراو کې د انفرادي اړتیا او پیاوړتیا د ډېر انظباط او ارزوني پر بنسټ مخکې وي.

ب) د ټولنې په ټولو اړخونو کې د ګډون او برخې اخیستنې ملاتړ کول، باید په خپله خوښه وي او معیوبو کسانو ته هم د هغوی د نړدې ځایونو لپاره د تر لاسه کېدو وړ وي.

۲- بایدغړي هېوادونه د سمبالونې او د اعتبار د اعادې په خدمتونو کې مسلکي کسانو او کاري کارکوونکو ته د پیلېدونکو او روانو زده کړو په برخه کې وده او انکشاف ورکړي.

۳- باید غړي هېوادونه د معلولوکسانو لپاره د جوړو شویو مرستندویو وسیلو او ټیکنالوژیو د تر لاسه کېدو او کارونې لپاره وده ورکړي، لکه څنګه چې هغه په سمبالونې او د پیاوړتیا د تر لاسه کولو پورې اړه لري.

اوویشتمه ماده کار او ګومارل:

۱- غړي هېوادونه له نورو کسانو سره په مساوي توګه د معلولو کسانو د کار کولو حق په رسمیت پېژني، په دې کې د دې حق هم رائي چې، معلول کسان کولای شي، په ازاده توګه د ژوند کولو لپاره د کارګرو په بازار کې دنده خوښه کړي.

بایدغړي هېوادونه د کار کولو د حق او د هغو کسانو په ګډون کوم چې د استخدام په دوره کې معلول شوي، د حق پېژندني د ساتنې او دودولو په خاطر د قانون پر بنسټ د یو بل په وړاندې مناسب ګامونه پورته کړي:

الف) د ټاکنې د شرایطو په ګډون د ګمارنې، د اجیر نیونې، د ګمارنې د دوام، د مسلک د پرمختګ او د خوندي او روغتیایي کاري شرایطو د ټولو ډولونو د مسایلو په پام کې لرلو سره د معلولیت له مخې د تبعیض مخنیوی.

ب) له نورو کسانو سره په مساوي توګه د معلولو کسانو د کار په خاطر د مساوي ارزښت، باور او کاري روغتیایي شرایطو، له ځورونې څخه د ساتنې او د شکایت د ځای د سمولو په ګډون د عادلانه او غوره کاري شرایطو او د کار په خاطر د مساوي فرصتونو او مساوي حق الزحمو د تامین لپاره د معلولو کسانو د حقوقو خوندي ساتل.

ث) د دې تامینول چې معلول کسان له نورو سره په مساوي توګه کولای شي، د کارګرې اتحادیې حق تر لاسه کړي.

ج) معلولو کسانو ته د دې توان وربښل چې، وکولای شي په اغېزمنه توګه عمومي تخنیکي او مسلکي لارښود پروګرامونه، د کارموندنې خدمتونه، مسلکي او روان تمرینونه تر لاسه کړي.

ح) د کار په مارکېټ کې معلولو کسانو ته د ګمارلو او د مسلک د پرمختګ په خاطر فرصت ورکول او همدارنګه د دندو د پیداکولو، لاس ته راوړلو، ساتلو او تمایل په برخه کې ورسره مرسته کول.

خ) د ازاد کسب او تشبث لپاره فرصتنو ته وده ورکول او د کوپراټیفونو پرمختګ او د شخصي سوداګرۍ پیلول.

د) په دولتي سکتور کې د معلولو کسانو ګمارل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

10) په خصوصي سکټور کې د مناسبو کړنلارو او کړنو له لارې، کوم چې ممکن مثبت عملي پروګرامونه، انګیزې او نور اقدامات شامل وي، د معلولو کسانو استخدام ته وده ورکول.

11) د دې تامینول چې، معلولو کسانو ته د کار په ځای کې وړ د اوسېدو ځای ورکول شوی وي.

12) د کار په مارکېټ کې د معلولو کسانو د کاري تجربي د کارونې وده.

13) د معلولو کسانو د مسلکي او حرفوي پیاوړتیا، د دندې ساتنه او کار ته د بیاورتګ د پروګرامونو وده .

۲- غړي هېوادونه باید ډاډ تر لاسه کړي چې، معلول کسان غلامان نه دي او غلامي نه کوي، بلکې له نورو کسانو سره په مساوي توګه له اجباري یا په زورکار کولوڅخه خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتمه ماده د ژوندانه او ټولنیز خوندیتوب وړ معیارونه:

۱- غړي هېوادونه د معلولو کسانو او د هغوی د کورنیو لپاره د اندازې وړ خوراک، کالیو، کورجوړونې او د ژوند د شرایطو د روانو پرمختګونو په ګډون د وړ معیار ژوند کولو حق په رسمیت پېژني. باید د معلولیت له مخې پرته له کوم تبعیض څخه د همدې حق د پېژندنې د ساتنې او دود ولو لپاره مناسب ګامونه پورته کړي.

۲- ایالتي غړي د معلولو کسانو د ټولنیز ملاتړ حق او د معلولیت له مخې پرته له کوم تبعیض څخه له همدې حق نه برخمن تیا په رسمیت پېژني باید د لاندنیو کړنو په ګډون د همدې حق د تحقق د ساتنې او دود لپاره مناسب ګامونه پورته کړي:

الف) د پاکو اوبو، د مناسبو او د ترلاسه کېدونکو خدماتو، وسایلو او په معلولیت پورې اړونده نورو مرستندویو اړتیاوو لپاره، د معلولو کسانو د مساوي لاس رسي تامینول.

ب) د ټولنیز خوندیتوب او بې وزلۍ د کمښت پروګرامونو ته د معیوبو کسانو په ټېره بیا د معیوبو ښځو او نجونو او سپین ږېرو کسانو د لاس رسي تامینول.

ت) د دولت له خوا د پوره روزنو، مشورو، مالي مرستو او وړیا روغتیایي خدمتونو په ګډون د معلولیت اړوندو لګښتونو په خاطر، له شویو مرستو نه د هغو معلولو کسانو او د هغوی د کورنیو د لاس رسي تامین، کوم چې په بې وزلي حالت کې ژوند تېروي.

ث) د دولتي کورجوړونې پروګرامونو ته د معلولو کسانو د لاس رسي تامینول.

ج) له تقاعدي ګټو او پروګرامونو څخه د معلولو کسانو د لاس رسي تامینول.

نهه ویشتمه ماده په سیاسي او ټولنیز ژوند کې برخه اخیستنه:

غړي هېوادونه باید د معلولو کسانو لپاره د سیاسي حق او له نورو کسانو سره په مساوي توګه د هغو د برخمن تیا د فرصت ضمانت وکړي او باید لاندینۍ کړنې په غاړه واخلي:

الف) د دې تامینول چې معلول کسان د نورو کسانو سره په مساوي توګه کولای شي چې، په سیاسي ژوند کې په اغېزمنه او بشپړه توګه ګډون وکړي، په مستقیمه او ازاده توګه نمایند ګان وټاکي، او د دې په ترڅ کې د معلولو کسانو له خوا د رایې د ورکولو او انتخابېدو او ګډون حق هم لري:

(i) د دې تامینول چې د رایې ورکولو د بهیرونو مرکزونه او د نورو مناسبو لوازم په کار اچول، پوهېدل او په اسانی سره ترلاسه کول.

(ii) په ټولټاکنو او عامه ټول پوښتنو کې پرته له ګوابښ نه د معلولو کسانو د پټو رایو ورکولو او د دفتر په موثره توګه نیول او حکومت په ټولو برخو کې د ټولو دولتي دندو ښه تر سره کول او په ټولټاکنو کې د نوماندېدو د حق خوندي ساتل، چېرې چې مناسب وي، هلته د مرستندویو او نویو ټیکنالوژیو د کارونې اسانول.

(iii) د ټاکونکو په څېر د معلولو کسانو د ارادې د ازادې څرګندونې ضمانت کول او په همدې ترتیب د اړتیا په صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د هغوی په وړاندیز، د هغوی د خپلې خوښې وړ کس ته د رایې ورکولو په خاطر مرسته کول.

ب) په فعاله توګه سره داسې یوه چاپېریال ته وده ورکول، کوم چې معلول کسان وکولای شي، پرته له کوم توپیر څخه او له نورو کسانو سره په مساوي توګه، د دولتي چارو په لاره اچولو کې په اغېزمنه او بشپړه توګه برخه واخلي، او د لاندنیو برخو په شمول د هغوی ګډون په دولتي چارو کې وهڅوي:

(i) د هېواد د سیاسي ژوند په اړه په غیردولتي سازمانونو، ټولنو او د سیاسي ډلو په کړنو او ادارو کې ګډون.

(ii) د معلولو کسانو د سازمانونو جوړول او ورسره یو ځای کېدل، ترڅو معلول کسان په نړیواله، ملي، سیمه ییزه او کورنۍ کچه باندې وروپېژني.

دېرشمه ماده په کلتوري، نوښتګر او سپورتی ژوند کې ګډون:

۱- غړي هېوادونه په کلتوري ژوند کې له نورو کسانو سره د معلولو کسانو د مساویانه ګډون حق په رسمیت پېژني. باید ټول هغه مناسب ګامونه په لاندینیو برخو کې د معلولو کسانو لپاره تر سره کړي:

الف) د امکان په صورت کې کلتوري موادو ته له لاس رسي څخه برخمن تیا.

ب) د امکان په صورت کې ټلویزیوني پروګرامونو، فلمونو، تیاتر او نورو کلتوري کړنو ته له لاس رسي څخه برخمن تیا.

ت) د کلتوري کړنو او خدماتو، لکه تیاتر، موزیمونو، سینماګانو، کتابتونونو او ګرځنده خدماتو له لاس رسي څخه برخمن تیا او د امکان تر حده، د ملي کلتورله ارزښت وړ سیمو له لاس رسي څخه برخمن تیا.

۲- ایالتي غړي باید مناسب ګامونه پورته کړي، ترڅو معلولو کسانو ته د دې وړتیا وروبښي چې، هغوی د خپل نوښت، هنر او فکري استعداد د ودې او په کار اچونې فرصت ولري، نه یوازې د خپلې ګټې لپاره، بلکې د ټولنې د بډایتوب په خاطر.

۳- غړي هېوادونه باید له نړیوال قانون سره سم ټول هغه مناسب ګامونه پورته کړي، ترڅو ډاډ تر لاسه کړي چې، هغه قوانین کوم چې د فکري شتمنیو حقوق ساتي، کلتوري موادو ته د معلولو کسانو د لاس رسي په وړاندې کوم نامعقول یا تبعیضانه خنډ و نه لري.

۴- معلول کسان باید له نورو کسانو سره په مساوي توګه د اشاره اي ژبو او ګونګ کلتور په ګډون د خپلو ځانګړو کلتوري او ژب پوهنې د هویت د پېژندنې او ملاتړ وړ وبلل شي.

۵- باید غړي هېوادونه معلولو کسانو ته له نورو کسانو سره په مساوي توګه په تفریحي او سپورتي فعالیتونو کې د ګډون د توان وربښلو په خاطر، لاندیني مناسب ګامونه پورته کړي:

الف) تر وروستي بریده پورې د عادي سپورتي کړنو په ټولو برخو کې د معلولو کسانو د ګډون هڅونه او دودول.

ب) د دې تامینول چې معلول کسان د معلولو لپاره د ځانګړو سپورتي لوبو او تفریحي کارونو د رامنځته کولو، پرمخ بېولو او ګډون کولو فرصت لري او په همدې ترتیب، مناسبو لارښوونو، روزنو او سرچینو ته له نورو سره د مساوي لاس رسي په خاطر وړاندې کول او هڅول.

ت) د دې زمینه برابرول چې، معلول کسان د سپورتي، تفریحي او ګرځنده ځایونو ته لاس رسي پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ث) د دې تامینول چې معلول ماشومان له نورو ماشومانو سره په مساوي توګه د ښوونځي د لوبو د سیستم په ګډون په نورو لوبو، تفریحي او سپورتي فعالیتونو کې هم ګډون کوي.

ج) د دې فرصت برابرول چې، معلول کسان د هغو کسانو خدمتونو ته کوم چې په تفریح، ګرځندوی، ساعت تیري او سپورتي فعالیتونو کې داخل وي، لاس رسي پیدا کړي.

یودېرشمه ماده ارقام او د اطلاعاتو را ټولونه:

۱- غړي هېوادونه مسوولیت لري چې، د احصائیوي او څېړنیزو اطلاعاتو په ګډون مناسب معلومات را ټول کړي، تر څو دوي ته دا توان ور وبښي چې، کړنلارې په اصولو برابرې او تطبیق کړي، ترڅو اوسني میثاق عملي کړای شي.

الف) د اطلاعاتو د محرمیت د قانون په ګډون، رامنځته شویو قانوني ساتنو ته غاړه اېښودل، تر څو د معلولو کسانو د محرومیت د محرمیت او درناوي ډاډ تر لاسه شي.

ب) په بشپړه توګه د بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو او اخلاقي اصولو منل شویو نړیوالو معیارونو ته غاړه اېښودل او د احصائیو کارونه.

۲- - هغه معلومات کوم چې د همدغې مقالې له مخې را ټول شوي، لکه څنګه چې ارزښت لري، باید تر همدې میثاق لاندې د غړو دولتونو د ژمنو د تطبیق له ارزونې سره د مرستې لپاره وکارول شي. باید هغه خنډونه کوم چې معلول کسان د خپلو حقوقو د تر لاسته کولو په وخت کې ورسره مخامخ کیږي، تشخیص او لیري کړي.

۳-- باید غړي دولتونه د دغو احصائیو د خپرولو لپاره مسوولیت په غاړه واخلي او معلولو کسانو او نورو ته د مرستې وړ وګرځوي.

دودېرشمه ماده نړیوالې مرستې:

۱- غړي هېوادونه د نړیوالې مرستې او د هغې د ودې اهمیت د همدې میثاق د موخو او هدفونو د عملي کولو لپاره ملي هلې ځلې پېژني او په دې اړه د دولتونو او اړوندو نړیوالو او سیمه ییزو موسسو او مدني ټولنو په تېره بیا د معلولو کسانو د موسسو په شراکت سره به وړ او اغیزناک ګامونه پورته کړي. د دې په څنګ کې، دا شان ګامونه باید په لاندینیو برخو کې وي:

الف) د دې تامینول چې د نړیوالو پرمختیایي پروګرامونو په ګډون، نړیواله مرسته، معلولو کسانو ته د حساب سره او د تر لاسه کېدو وړ ده.

ب) د معلوماتو، تجربو، روزنیزو پروګرامونو او غوره تمرینونو د راکړې ورکړې په ګډون د ظرفیت د لوړولو اسانول او ملاتړ کول.

ت) د ساینسي او تخنیکي پوهې لپاره د څېړنې او لاس رسي لپاره د همکاریو اسانول.

ث) هغه شان چې مناسب وي، تر لاسه کېدونکو مرستندویه ټیکنالوژیو ته د لاس رسي او شریکولو لپاره، د لارو چارو د اسانولو په ګډون د تخنیکي او اقتصادي مرستو تر سره کول او له همدې لارې د تیکنالوژیو لېږل.

۲- د همدغې مادې، شرایط د هر غړي دولت ژمنو ته، کوم چې باید خپلې ژمنې د همدې میثاق تر سیورې لاندې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره کړي، کوم زیان و نه رسوي.

درې دېرشمه ماده ملي تطبیق او څارنه:

۱- غړي هېوادونه د خپلو سازمانونو د سیستم له مخې، باید په حکومت کې یو یا زیات مرکزي مرکز د اوسني میثاق د اړوندو موضوعګانو د تطبیق لپاره وټاکي او باید په حکومت کې د انسجام د مېکانېزم د رامنځته کولو یا ټاکلو لپاره ځانګړې پاملرنه وکړي، ترڅو په بېلابېلو سکټورونو او بېلا بېلو برخو کې اړوند عمل اسانه کړي.

۲- باید غړي هېوادونه د هغوی د قانوني او اداري سیستمونو له مخې، په غړي هېواد کې د یو یا ډېرو خپلواکو میکانیزمونو په ګډون داسې یو کاري چوکاټ رامنځته، پیاوړی او وساتي چې، په مناسبه توګه د اوسني میثاق عملي کیدنه، وده، خوندیتوب او څارنه وکړای شي. کله چې داشان مېکانېزم ټاکو یا یې رامنځته کوو، نو باید غړي هېوادونه د بشري حقوقو د حمایې او ودې لپاره د ملي ټولنو د حقوقي حالت او یو ځای والي لپاره اړوند اصول په پام کې ونیسي.

۳- مدني ټولنې په تېره بیا معلول کسان او د هغوی نماینده سازمانونه، باید په بشپړه توګه د څارنې په بهیر کې ګډون ولري.

څلوردېرشمه ماده د معلولو کسانو د حقوقو کمښته:

۱- باید د لاندې نیو هدفونو د تر سره کولو لپاره د معلولو کسانو د حقوقو کمښته وجود ولري (چې دلته دکمښتې په نوم پېژندل کېږي).

۲- باید دغه کمښته د همدې میثاق د نافذېدو پر مهال، له دولسو کارپوهانو څخه جوړه شوې وي. میثاق نه وروسته، د کمښتې د غړو شمېر به شپږ کسه نور هم زیات شي، چې بیا به یې ټول شمېر اتلس کسه وي.

۳- باید د کمښتې غړي په خپل شخصي استعداد سره خدمت وکړي او باید لوړ ثابت مورال ولري او د همدې میثاق تر سیوري لاندې سیمو کې کفایت او تجربه وپېژني. کله چې غړي هېوادونه خپل نوماند کسان ونوموي، نو له دوی څخه په خورا درنښت هیله کېږي چې، د همدې میثاق د څلورمې مادې د درېیم پراګراف شرایطو ته پاملرنه وکړي.

۴- باید د کمښتې غړي د غړو هېوادونو له خوا وټاکل شي، د عادلانه جغرافیاوي وېش، د تمدن د بېلا بېلو ډولونو او سیستمونو د قانوني اصولو نمایندګي وکړي. باید متوازنه جنسي نمایندګي کول او د معلولو کار پوهو کسانو د ګډون لپاره پاملرنه وشي.

۵- باید د کمښتې غړي د پټو رایو له لارې، له هغه لیست څخه کوم چې د غړو هېوادونو له خوا د هغوی له ملتونو څخه د غړو هیوادونو په کنفرانس کې نوماند شوي، تر سره شي. په هغو غونډو کې، کوم چې درپو برخو څخه دوه برخی هېوادونه وکولای شي نصاب پوره کړي، هغه کسان چې کمښتې ته ټاکل کېږي، باید داسې کسان وي چې زیاتره شمېر رایې یې لاسته راوړي وي او د غړو هېوادونو د استازو بشپړ اکثریت خپلې رایې ورته اچولې وي.

۶- باید لومړنۍ ټولټاکنې د همدې میثاق د نافذېدو له نېټې نه تر شپږو میاشتو پورې تر سره شي. د هرې ټولټاکنې نه کم تر کمه څلور میاشتې مخکې باید د ملګروملتونو عمومي منشي له غړو هېوادونو څخه د یوه لیک په ترڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې غوښتنه وکړي چې، خپل نوماند د دوو میاشتو په ترڅ کې وروپېژني. باید عمومي منشي وروسته د الفبا د تورو له مخې د ټولو نوماندو کسانو لیست ترتیب کړي، چې په هغه کې به د هغو غړو هېوادونو نومونه هم راشي، کوم چې خپل کاندیدان یې نومولي او غړو هېوادونو ته به یې د همدې میثاق په خاطر ور وسپاري.

۷- باید د کمېټي غړي د څلور کلنې دورې لپاره وټاکل شي. هغوی یوازې د دوهم ځل ټاکل کېدو حق لري. په هرحال، د شپږو غړو دوره کوم چې په لومړیو ټولټاکنو کې ټاکل شوي وو، د دوو کلونو له بشپړېدو نه وروسته به پای ته ورسېږي. د لومړیو ټولټاکنو نه وروسته سملاسي، د دغو شپږو غړو کسانو نومونه به د همدې مادې د پینځم پراګراف له مخې د غونډې د مشر له خوا د پېچې له مخې وټاکل شي.

۸- د کمېټي د شپږو اضافي غړو ټولټاکنې به د عادي ټولټاکنو پر ځای د همدې مادې له شرایطو سره سم تر سره شي.

۹- که چېرې د کمېټي کوم غړی مړ شي یا استعفاء وړاندې کړي او یا هم اعلان وکړي چې، نوموړی/ د نورو دلایلو له کبله نه شي کولای، خپلې دندې ته دوام ورکړي، نو په دې صورت کې هغه غړی هېواد کوم چې نوموړی کس یې کاندید کړی و، باید بل کارپوه چې په همدې راغلو شرایطو برابر وي، وټاکي. ترڅو د پاتې دورې لپاره خپل کار په مخ بوځي.

۱۰- کمېټه باید د خپلې کړنلارې قوانین رامنځته کړي.

۱۱- باید د ملګرو ملتونو عمومي منشي تر همدې میثاق لاندې د کمېټي د دندو د اغېزمنو اجراتو لپاره لازم کارکوونکي او نورې اسانتیاوې برابرې او باید هغوی لومړۍ ناسته تر سره کړي.

۱۲- د ملګرو ملتونو د عمومي ناستې په تصویب سره به، دکمېټي غړي کوم چې تر دې میثاق لاندې منځته راغلي، وکولای شي، د ملګرو ملتونو له سرچینو نه د هغو ضوابطو او شرایطو له مخې او د کمېټي د مسوولیتونو اهمیت ته په پام کې لرلو سره، کوم چې د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه تصمیم پرې نیسي، معاش تر لاسه کړي.

۱۳- باید د کمېټي غړي د ملګرو ملتونو دکارپوهانو له اسانتیاوو، امتیازاتو او مصئونیتونو څخه، لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو د امتیازاتو او مصئونیتونو د میثاق په اړوندو برخو کې راغلي، برخمن کېدای شي.

پنځه دېرشمه ماده د غړو هېوادونو رپوټ

۱- باید هر غړی هېواد کمیټې ته د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له خواد تر سره شویو ګامونو په اړه یو بشپړ رپوټ وسپاري، ترڅو د همدې میثاق لاندې خپلو ژمنو او د هغو پرمختګونو په اړه، کوم چې تر اوسه پورې په هغه اړوند د غړي هېواد په اړه د همدې کنوانسیون د نافذېدو له وخت نه په تېرو دوو کلونو کې اغیزناک ثابت شي.

۲- تر هغه وروسته، باید غړي هېوادونه له څلوروکلونو نه په کمه موده کې او یا زیات، کله چې کمېټه یې غوښتنه وکړي، وروستي رپوټونه ورکړي.

۳- کمېټه کولای شي، د رپوټونو په اړوند د اجرا وړ تګلارې په هکله باندې پربکړه وکړي.

۴- که چېرې کوم غړي هېواد کمېټې ته لومړنی بشپړ رپوټ وړاندې کړی وي، نو په وروستي رپوټ کې دې بیا هغه معلومات نه ورکوي چې په لومړي رپوټ کې یې ورکړي وو. کمېټې ته د رپوټ برابرولو پر مهال، له غړو هېوادونو څخه هیله کیږي چې، په دې ډول دا کار دې په یوه ازاد او روښانه بهیرکې تر سره کړي او د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

میثاق د څلورمې مادې، درېیم پراګراف ته دې کلکه پاملرنه وکړي.

۵- رپوټونه کولای شي، هغه علتونه او ستونزې کوم چې د همدې میثاق لاندې د ژمنو درجه اغیزمنوي، په ګوته کړي.

شپږدېرشمه ماده د رپوټونو کتنه :

۱- باید هر رپوټ د کمیټې له خوا وکتل شي او داسې اړوند پېښنهادونه او عمومي وړاندیزونه د رپوټ په اړه وکړي چې دغه وړاندیزونه او پیشنهادونه بیا اړوند غړي هیواد ته په مخ کې کېږدي. ښایي غړی هېواد له هر راز معلوماتو سره کوم چې دوی یې ټاکي، کمیټې ته ځواب ورکړي. ښایې کمیټه له غړیو هېوادونو څخه د اوسني میثاق په عملي کولو پورې د اړوندې موضوع په باب، د زیاتو معلوماتو غوښتنه وکړي.

۲- که چېرې غړی هېواد په څرګند ډول د رپوټ په سپارلو کې ځنډ باسي، کمیټه کولای شي، غړي هېواد ته په هغه هېواد کې د همدې میثاق د تطبیق په اړه، په کمیټه کې د موجودو معلوماتو له مخې خبرتیا ورکړي. البته که چېرې اړوند رپوټ د خبرتیا د ورکولو له نیټې نه دری میاشتې وروسته و نه سپارل شي. باید کمیټه دا اړوند غړی هېواد د څېړنې لپاره را وغواړي او باید دا غړی هېواد د اړوند رپورت د نه سپارلو په باره کښې ځواب ورکړی. او په همدې توګه به د دغې مادې د لومړي پراګراف شرایط عملي شي.

۳- باید د ملګرو ملتونو عمومي منشي ټولو غړو هېوادونو ته دا رپوټ ورکړي.

۴- باید غړي هېوادونه خپل رپوټونه په خپل هېواد کې د خلکو لپاره په پراخه توګه د تر لاسه کېدو وړ وګرځوي او د دغه رپوټ په اړه د وړاندې شویو پېښنهادونو او وړاندیزونو لپاره لاس رسی اسانه کړي .

۵- باید کمیټه لکه څنګه چې یې لازمه بولي، اړوند موسسو ته د ملګرو ملتونو او نورو وړ ټولنو بودیجه او پروګرامونه ولېږدوي او له غړو هېوادونو څخه د تخنیکي سلامشورو یا مرستو په اړه د کوم وړاندیز یا شخص داړتیا او پر همدغو اړتیاوو د کمیټې د ملاحظو او وړاندیزونو سره یو ځای په اړه رپوټ ورکړي.

اوه دېرشمه ماده د غړو دولتونو او کمیټې تر منځ همکاري:

۱- باید هر غړي دولت له کمیټې سره همکاري وکړي او د هغې له غړو سره د هغوی د غوښتنو د کار د سرته رسونې په برخه کې مرسته وکړي .

۲- باید کمیټه له غړو دولتونو سره د اړیکو په درلودلو کې، د اوسني میثاق د عملي کېدو لپاره د نړیوالو مرستو په ګډون د ملي وړتیاوو د پیاوړې کېدو د لارو چارو لپاره ځانګړې پاملرنه وکړي.

اته دېرشمه ماده له نورو ټولنو سره د کمیټې اړیکې:

د دې لپاره چې د اوسني میثاق تطبیق په اغیزمنه توګه سرته ورسی او په هغو سیمو کې، کوم چې د اوسني میثاق له خوا تر پوښښ لاندې راغلي نړیوالې مرستې وهڅول شي او باید لاندې کارونه تر سره کړو:

الف) باید د ملګرو ملتونو ارګانونه او اړوند موسسې د دې وړ وبلل شي چې، د همدې میثاق د همدا شان شرایطو د تطبیق په کتنې کې، لکه څنګه چې د هغوی د قیمومیت لازمي ګټې په محدوده کې راغلي، استازیتوب وکړي.

کمیټه کولای شي، اړوندې موسسې او نورې ټولنې کوم چې په هغو برخو کې چې هغوی میثاق د تطبیق په خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر لاس لاندې وي را وبولي، ترڅو دوی ته د کارپوهې مشورې ورکړي. دغه کمېټه کولای شي، چې اړونده موسسې او د ملګرو ملتونو ارګانونه هم را وبولي، ترڅو په هغو سیمو کې چې د هغوی د فعالیتونو تر پوښښ لاندې رائي د همدې میثاق د عملي کېدو په اړه رپوټونه دوی ته ور وسپاري.

ب) کمېټه هغه مهال له خپل قیمومیت څخه تېرېږي چې په لازمه توګه د بشر د حقوقو له خوا د رامنځته شویو ټولنو کوم چې د نړیوالو تړونونو سره سم جوړ شوي و دې ته مشوره ورکړي، په دې فکر سره ترڅو د خپلو لارښوونو، وړاندیزونو او عمومي سپارښتنو د رپوټ ورکولو سازګارتوب تر سره کړي. او د خپلو دندو په تر سره کونې کې له تکرار والي او کاري اصطکاک څخه مخنیوی وکړي.

نهه دېرشمه ماده د کمېټې رپوټ:

کمېټې بایدپه هرو دوو کلونو کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلي، اقتصادي او ټولنیزې شورا ته د خپلو کړنو په اړه رپوټ ورکړي او ښایي د غړو هېوادونو د رپوټونو او تر لاسه شویو معلوماتو د څېړنې له مخې، وړاندیزونه او عمومي سپارښتنې وکړي. دا شان وړاندیزونه او عمومي سپارښتنې ښایي د کمېټې د تبصرو او د غړو هېوادونو له رپوټ سره یو ځای راشي.

څلویښتمه ماده د غړو هېوادونو کنفرانس:

۱- باید غړي هیواد په منظمه توګه د غړو هېوادونو په کنفرانس کې برخه واخلي، ترڅو د همدې میثاق د عملي کېدو په اړه هرې موضوع ته رسېدنه وکړاي شي.

۲- د اوسني میثاق د نافذېدو نه د شپږو میاشتو نه په کم وخت کې باید د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د غړو هېوادونو غونډه وکړي. راتلونکې غونډې باید په هرو دوو کلونو کې د عمومي منشي له خوا وکړای شي یا د غړو هېوادونو د کنفرانس له خوا پرې تصمیم ونیول شي.

یوڅلویښتمه ماده حامي (ساتونکی):

باید د ملګرو ملتونو عمومي منشي د اوسني میثاق حامي واوسي.

دوه څلویښتمه ماده لاسلیک:

باید دغه میثاق د ټولو هېوادونو او د پیوستون د سیمه ییزو موسسو له خوا د ملګرو ملتونو په مرکزي اداره نیویارک کې، د ۲۰۰۷ میلادي کال د مارچ له میاشتې نه وروسته لاسلیک کولو ته چمتو وي.

دری څلویښتمه ماده د منلو سره توافق:

باید دغه میثاق د لاسلیک کوونکو هېوادونو له خوا تصویب شي او باید د رسمي تصدیق لپاره د لاسلیک کوونکو د پیوستون د سیمه ییزو موسسو له خوا په لاسلیک پورې تړلي و اوسي. دا باید د هر یوه هېواد یاپیوستون د سیمه ییزې موسسې کوم چې تر اوسه یې لا دا میثاق نه وي لاسلیک کړی، د لاس رسېدو لپاره پرانیستي واوسي.

څلورڅلویښتمه ماده دپیوستون سیمه ییزې موسسې:

۱- د (بشپړونې سیمه ییزه موسسه) یانې هغه موسسه کوم چې د ورکړل شوې سیمې د خپلواکو او واکمنو هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه جوړه شوې وي، تر څو چې د هغه غړي هېوادونه د هغو موضوعګانو په اړه کوم چې د اوسني میثاق له خوا اداره کېږي د وړتیا لرونکي وي. باید دا شان موسسې د خپل رسمي تصدیق یا لاس رسیدنې په اسنادو کې د اوسني میثاق له خوا د اداره شویو موضوعګانو په اړه د خپلې وړتیا د اندازې اعلان وکړي. باید بیا وروسته، هغوی د خپل، واک په محدوده کې د هر اساسي بدلون د امانت لرنې په اړه خبر ورکړي.

۲- په همدې میثاق کې د غړو هیوادونو ریفرینس بایدپه دا شان موسسو باندې دهغوی د واک په محدوده کې په کار یوړل شي.

۳- د همدې میثاق د ۴۵ مادې د لومړي پراګراف او د ۴۷ مادې د دویم او درېیم پراګراف د موخو سره سم د سیمه ییز پیوستون د موسسې له خوا امانتي اسنادونه باید ملاحظه شي.

۴- د سیمه ییز پیوستون موسسې د خپلو موضوعاتو د واک په محدوده کې کولای شي د غړو هېوادونو په کنفرانس کې خپل د رایې ورکولو، حق وکاروي، البته د هغوی د رایو شمېر باید د هغوی د غړو هېوادونو کوم چې د همدې میثاق غړي دي د شمېر سره برابر وي. په هغه صورت کې چې، د دا شان موسسې کوم غړي هېواد که درای ورکولو حق وکاروي، نو بیا هماغه موسسه نه شي کولای نوموړی حق یو ځل بیا وکاروي او یا هم د دې موضوع برعکس.

پنځه څلوېښتمه ماده نافذېدل:

۱- باید دغه میثاق د تصویب یا غونډې د شلم سندله امانت ورکولو څخه ۳۰ ورځې وروسته نافذ شي.

۲- د هر هیواد یا د سیمه ییز پیوستون موسسه د همدې میثاق د تصدیق کولو، رسمي تائیدولو یا موافقت کولو لپاره د شلم سند، د ورسپارلو نه وروسته، باید په دېرشمه ورځ د نافذېدو وړ واوسي.

شپږم څلوېښتمه ماده ساتنې:

۱- د همدې میثاق له موخو او هدفونو سره د متضاد حالت ساتنې مجاز نه دي.

۲- ساتنې کیداي شي هر مهال بېرته واخیستل شي.

اووه څلوېښتمه ماده :سمونې یا بدلونونه

1. هر یو غړي هېواد کولاي شي، په دغه میثاق کې د اصلاحاتو د راوستو لپاره وړاندیز وکړي او د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته یې وړاندي کړي. باید عمومي منشي هر ډول وړاندیز شوي اصلاحات له غړو هېوادونو سره ، له یوه وړاندیز سره چې ایا هغوی د همدغو وړاندیزونو پر سر د کتنې او پرېکړې کولو لپاره د غړو هېوادونو د کنفرانس پلویان دي او که نه، شریک کړي.

که چېرې له غړو هېوادونو سره د همدې وړاندیز د شریکولو نه څلور میاشتې وروسته، کم تر کمه د غړو هېوادونو درېیمې برخې د همداشان کنفرانس د جوړولو لپاره موافقه درلوده، نو بیا باید عمومي منشي د ملګرو ملتونو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظر لاندې دغه کنفرانس جوړ کړي. که چېرې د غړو هېوادونو له درېو نه دوه برخې اکثریت کوم اصلاحات ومنل، نو بیا به د هغو وړاندې کول او رایې ورکول د عمومي منشي له خوا د ملګروملتونو عمومي اسامبلې ته د تصویب لپاره ورسپارل کېږي او وروسته به ټولو غړو هېوادونو ته د منلو په خاطر ورکول کېږي.

2. تعدیل یا سمون د همدې مادې د لومړي پراګراف له مخې، منل کېدای او تصویبیدای شي او کله چې د غړو هېوادونو د منل شویو او ورکړل شویو اسنادو شمېره د تعدیل د منلو په ورځ دوه پر درې برخې ته ورسیږي، نو بیا په دېرشمه ورځ د نافذېدو وړ وي. وروسته له هغه، باید تعدیل په هر غړي هېوادکې د هغوی د منلو د اسنادو د ورسپارلو نه ۳۰ ورځې وروسته، د نافذېدو وړ واوسي. تعدیل یوازې په هغو غړو هېوادونو باندې د نافذېدو وړ دی، کوم چې دا تعدیل یې منلی وي.
3. د غړو هېوادونو د کنفرانس له خوا د رایو په اتفاق داشان پرېکړه، هغه تعدیل کوم چې د همدې مادې د لومړي پراګراف له مخې کوم چې ۳۴، ۳۸، ۳۹ او ۴۰ مادو سره نږدې تړاو لري منل شوي او تصویب شوي وي، باید د ټولو غړو هېوادونو لپاره وروسته له هغه چې د غړو هېوادونو د منل شویو ورکړل شویو اسنادو شمېر دوه پر درې برخې ته د تعدیل د منلو په ورځ ورسیږي، له هغه وروسته په دېرشمه ورځ د نافذېدو وړ دي.

اته څلوېښتمه ماده فسخ کېدل

غړی هېواد کولای شي چې دغه میثاق د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته په لیکلي ډول د رد اعلان وکړي. د الغاء اعلان باید یو کال وروسته له هغې نیټې نه کوم چې د ملګرو ملتونو عمومي منشي دغه ردونه تر لاسه کړې وي، د اجراء وړ واوسي.

نهه څلوېښتمه ماده تر لاسه کېدو ډولونه

باید د همدې میثاق متن په اسانه ډولونو کې د تر لاسه کېدو وړ واوسي.

پنځوسمه ماده اصلي متنونه

د همدغه میثاق عربي، چینایي، انګریزي، فرانسوي، روسي او هسپانوي متنونه په مساوي توګه یو د بل سره برابردي.

د دې لاسلیک کېدونکي میثاق د بشپړو اختیاراتو د تصدیق لپاره او له همدې میثاق سره د تړاو په خاطر، باید اړوندو حکومتونو دغه میثاق لاسلیک کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عکس

د دی کتاب د مبتکر نور اثار:

د دی کتاب د نظرې او تکمیلولو مبتکر داکتر تاج الدین (ملت مل) دی.

دا کتاب په خپل نوعه کی دوه ځانګړتیاوې لري: یو دا چې دا په نړۍ کې د بشري حقوقو په اړه اولینه داسې یوه مکمله او هر اړخیزه مجموعه ده، چې د پراخه موضوعاتو لرونکې او هره موضوع په کې په بشپړه توګه ذکر شوې ده. دوهمه ځانګړتیا یې دا ده چې داسې یوه پراخه مجموعه د اولین ځل لپاره په پښتو ژبه کې تدوین او تالیف کېږي.

ملت مل د دې کتاب په څېر څو نور داسې علمي اثار هم لري، چې هغه هم په خپل نوعه کې په نړۍ کې یا هم په دی هېواد کې، او یا خو په پښتو ژبه کی اولین اثار دي، چې په لاندې ډول د هغې یو څو نمونې له تاسو سره شریکوو:

۱. (ځوانان او شخصیت جوړېدنه): دا اثر هم دوه ځانګړنې لري: یو دا چې دا کتاب په ځانګړي توګه افغاني ځوانانو ته د دې ټولنې د خاصو شرایطو په اساس لیکل شوی، چې د بې امنۍ او جنګ په حالاتو کې د ځوانانو لاس نیوی وکړي، دوهم دا چې دا کتاب هم د اولین ځل لپاره په پښتو ژبه کې او تالیف او چاپ شوی دی.

۲. (واکسین او واکسینیشن): دا اثر په ۱۳۶۵ کال کې په پېښور کې تالیف او د ای ار سي د مؤسسې له خوا چاپ شو. دې کتاب هم دوه ځانګړتیاوې لرلې. یو دا چې دا کتاب هم په نړۍ کې د واکسینونو په اړه اولینه داسې یوه مکمله او هر اړخیزه مجموعه ده، چې د پراخه موضوعاتو لرونکې او هره موضوع په کې په ډېر تفصیل سره ذکر شوې ده. دوهمه ځانګړتیا یې دا ده چې د واکسینونو په اړه داسې یوه پراخه مجموعه د اولین ځل لپاره په پښتو ژبه کې تالیف او چاپ شوې ده.

۳. (کیمیاوي زهرجن مواد): دا اثر په ۱۳۶۱ کال کې په پېښور کې د مهاجرت په ستومانه شپو ورځو کې لیکوال تالیف او نشر کړ. دا کتاب هم په نړۍ کې د کیمیاوي زهرجنو موادو په اړه اولینه داسې یوه مکمله او هر اړخیزه مجموعه وه، چې د پراخه موضوعاتو لرونکې او هره موضوع پکې په ډېر تفصیل سره ذکر شوې ده. دوهمه ځانګړتیا یې دا وه چې داسې یوه پراخه نوې او بې نمونې مجموعه هم د اولین ځل لپاره په پښتو ژبه کې تالیف او چاپ کړای شوه.

۴- (واده): دا یو اثر دی چې ډېر زر به چاپ شي. دا هم په پښتو ژبه کی لیکل شوی اثر دی چې په ټولنه کې د ځوان نسل په یوه مهم اړخ (واده) باندې بحث کوي، او ځوانان په دې اړه یو شمېر ډېرو مهمو ټکو ته متوجه کوي. پر دې برسېره، ډاکټر ملت مل داسې یو امتحان کشف کړی چې د هغې په واسطه د دوو ځوانانو په منځ کی د واده نه پس توافقات او جنجالونه پېش بیني کولای شئ. هیله ده دا امتحان به د یو شمېر ډېرو ځوانانو سره د کامیابو ودونو په برخه کی مرسته وکړي.

۵- (شینکی): دا یو داسې ناول دی چې په افغانستان باندې د شورویانو د یرغل او د هغې پر وړاندې د افغانانو د وطنپالونکي مقاومت ټول اړخونه او دهغوی کړه وړه تمثیلوي. دا اثر هم ژر د چاپ کېدو په حال کې دی.

اختراعات: د پورتني علمي اثارو برسېره لیکوال څلور داسې نړیوال اختراعات هم لري، چې هغه هر یو په خپل ځای کې د خاص ارزښت وړ دی. د ده دا څلور واړه اختراعات هم په نړیواله سطح د نړیوالو پوهنتونو له خوا په رسمیت پېژندل شوي، او د نړۍ تر ټولو مهم کتابتون د امریکا په (Library of Congress) د ده په نامه ثبت دی. دا اختراعات عبارت دي له:

۱- د اسلامي هجري کلونو لپاره یو دایمي کلیزه ۲- د عیسوي میلادي کلونو لپاره یو دایمي کلیزه

۳- د اسلامي هجري نېټو د بدلولو لپاره په عیسوي میلادي نیټو فارمول

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د عيسوي ميلادي نېټو د بدلولو لپاره په اسلامي هجري نېټو فارمول

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library